مظاهر حق

د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي رحمه الله

تشریح او ترتیب

مولانا عبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

شپږم جلد ٦

[illegible]

۱. حدیث شریف د اعراب سره
۲. تحت اللفظي ترجمه
۳. د حدیث شریف تخریج
۴. د لغاتو حل

مباحث

کتاب العتق
کتاب القصاص
کتاب الحدود
کتاب الامارة والقضاء
کتاب الجهاد

صداقت کتبخانه

[illegible]

مظاهر حق جدید

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

شپږم جلد

٦

تالیف

علامه نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

تزئین اوترتیب

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

ځانګړتیاوي

١: حدیثونه د اعراب سره.
٢: تحت لفظي ترجمه.
٣: د حدیثونو تخریج.
٤: د لغاتو حل .

مباحث

کتاب العتق
کتاب القصاص
کتاب الحدود
کتاب الامارة والقضاء
کتاب الجهاد

صداقت کتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشکٰوة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمه الله

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ: ۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷ / Sadaqat.books@gmail.com

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴** .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوټه سنګي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی. هلمند**: تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه ګدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننګرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق شپږم جلد فهرست

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ الْعِتْقِ

(د غلام او مينزي د ازادولو بيان)

د اسلام له نظره ازادي په اصل کي د يو داسي قوت حکميه نوم دی چي انسان ته د هغه فطري او پيدائشي حق ورکوي چي هغه د مالک کېدو ، سرپرست کېدو او شاهدي ورکولو وړ سي ، د کوم انسان چي دغه فطري او پيدائشي حق مسلوب سي په دې توګه چي هغه د يو چا په غلامۍ کي وي او بيا هغه ته د ازادۍ په صورت کي دا قوت حکميه تر لاسه کيږي نو په هغه کي نه يوازي د مالک کېدو وړتيا ، د سرپرست کېدو وړتيا او د شهادت ورکولو اهليت پيدا کيږي بلکه هغه د دغه قوت حکميه يا د دغه ازادۍ په وجه پر نورو باندي په تصرف کولو او د نورو تصرف د ځان ځخه پر منع کولو باندي قادر سي او هغه د ازاد او خودمختاره انسانانو په صف کي و دريږي .

د ازادولو شرط: د يو غلام يا مينزي د ازادولو لپاره شرط دادی چي ازادکونکی خود مختار، بالغ او عقلمند وي او کوم غلام يا مينزه چي هغه ازادوي د هغه ملک وي.

د ازادۍ ډولونه : د غلام ازادول په ځينو صورتو کي واجب دي لکه کفاره، او په ځينو صورتو کي مستحب او په ځينو صورتو کي ګناه هم ده لکه کله چي دا غالب ګمان وي که چيري دغه غلام ازاد کړل سي نو هغه به دارالحرب ته وتښتي او يا مرتد به سي يا دا بيره وي چي هغه به غلاوي کوي ، او په ځينو صورتو کي د غلام ازادول مباح دي لکه د يو چا د ثواب لپاره غلام ازاد کړل سي ، او په ځينو صورتو کي عبادت دی لکه د يو غلام محض د الله ﷻ د رضا او خوښۍ لپاره ازادول .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غلام او مينزي د ازادولو ثواب

﴿٣٢٢٦﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُسْلِمَةً

أَعْتَقَ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنَ النَّارِ حَتّٰى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ . متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي خپل مسلمان ورور ازاد کړي نو الله جل جلاله د هغه د غلام د هر اندام په بدله کي د هغه د مالک هر اندام د دوږخ څخه ازاد کړي تردې پوري چي د هغه د شرمګاه په بدله کي به د هغه د شرمګاه هم .(بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١١\٥٩٩، رقم: ٦٧١٥، ومسلم ٢\١١٤٧، رقم: ٢٣-١٥٠٩.

تشريح: په مسلمان غلام کي د اسلام قيد ځکه لګول سوی دی چي ددې (ازادولو) ثواب زيات وي، مطلب دادی چي هسي خو د هر غلام ازادول د ثواب سبب دی مګر که يو مسلمان غلام يا مينزه ازاد کړل سي نو د هغه ثواب ډېر زيات دئ . د هر اندام ذکر کولو څخه وروسته د شرمګاه په خاصه توګه ذکر کول ددې لپاره چي هغه د زنا ځای دی او زنا د شرک څخه وروسته تر ټولو لويه ګناه ده نو وضاحت وکړل سو چي الله جل جلاله به د بدن دغه برخي ته هم خلاصون ورپه برخه کړي، ددې سره سم ځيني علماء وايي چي ددې څخه دا خبره معلوميږي چي ازادونکی بايد هغه غلام ازاد کړي چي خصي نه وي او دا غوره دي که ازادونکی سړی وي نو هغه دي غلام ازاد کړي او که ازادونکې ښځه وي نو هغه دي مينزه ازاده کړي .

ګران بيه او خوښ غلام ازادول غوره دي

﴿٣٢٣٨﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي کوم عمل

قَالَ إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ قَالَ قُلْتُ فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ قَالَ أَعْلَاهَا

افضل او بهتر دی ؟ نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: په الله جل جلاله ايمان راوړل او د الله جل جلاله په لاره کي جهاد کول بيا مي پوښتنه ځيني وکړه چي نور څه ؟ نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: غلام

ثَمَنًا وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ قَالَ تُعِينُ صَانِعًا أَوْ تَصْنَعُ

ازادول چي زيات قيمتي وي او د مالک زيات خوښ وي ما عرض وکړ که چيري زه داسي ونکړم نو بيا زه څه وکړم ؟نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: د کارکونکي سره کومک وکړه يا کوم

لِأَخْرَقَ قَالَ فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ قَالَ تَدَعُ النَّاسَ مِنَ الشَّرِّ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ تَصَدَّقُ

بِهَا عَلَى نَفْسِكَ . متفق عليه.

سړی چې د یو شي په جوړولو نه پوهېږي و هغه ته هغه شی جوړول ور زده کړه ما عرض وکړ که ما دا هم ونه کړه، نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: خلکو ته د بدو او شر رسولو څخه ځان وساته دا هم یوه صدقه ده یا یوه نیکي ده چې ته یې د خپل نفس سره کوې. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٤٨١٥، رقم: ٢٥١٨، ومسلم١١ ٨٩، رقم: ١٣٦- ٨٤.

د لغاتو حل: لاخرق؛ اي من ليس في يده صنعة يكتسب بها. (هغه کس چې کسب نه سي کولای).

تشريح: د ایمان غوره کېدل خو ښکاره خبره ده چې د خیر او نیکۍ بنیاد ایمان دي که د ایمان نور نه وي نو بیا هیڅ عمل هم مقبول نه دی که څه هم هغه افضل او غوره عمل وي، او جهاد ځکه غوره عمل دی چې هغه د دین تقویت او د مسلمانانو د غوره والي او عظمت د غلبې سبب دئ.

لمونځ او روژه د نورو حیثیتو او وجوهاتو په وجه د عمل څخه غوره دي نو دلته جهاد او لمونځ ته پر روژې باندې فوقیت ورکول مراد نه دي یا دا چې دلته د جهاد څخه مراد مطلق تکلیف زغمل دي چې د هغه تعلق د جهاد سره هم دی او د نورو طاعتو او عباداتو سره هم، نو پر ماموراتو باندې عمل کول او د منهیات څخه د ځان ساتنې نفساني تکلیف ته جهاد اکبر ویل سوي دي په دغه صورت کې د رسول الله ﷺ د ذکر سوي جواب خلاصه دا کېږي چې تر ټولو غوره عمل ایمان راوړل او د ایمان پر تقاضا عمل کول دي لکه چې ویل سوي دي : قل آمنت باالله ثم استقم،

د کار کونکي مرسته کوه : دلته د کار څخه مراد هر هغه شی دی چې د انسان د معاش ذریعه وي که هغه صنعت او کسب وي یا تجارت وي، ددې خلاصه دا ده چې کوم څوک په خپل یو کسب او کار کې لګیدلی وي او د هغه کسب او کار د هغه او د هغه د کورنۍ ضرورت نه پوره کوي یا هغه سړی د خپل کمزورۍ په وجه خپل کسب او کار نه سي کولای نو ته د هغه کار وکړه چې هغه ستا په مرسته د خپل ژوند اړتیاوې پوره کړي،

خلکو ته دبدۍ رسولو څخه ځان وساته : ددې مطلب دا دی چې یو څوک په بد کار کې مه اخته کوه چا ته په خپل لاس او ژبه سره تکلیف مه رسوه او مه چا ته تاوان رسوه ځکه چې خلکو ته د تاوان رسولو څخه ځان ساتل هم نیکي او خیر دی په خاصه توګه په داسې صورت کې کله چې د بدۍ پر رسولو باندې قدرت حاصل وي. شعر : مراز خیر تو امید نیست شر مرسان.

دلته د عبارت د ظاهري طرز تقاضا داوه چي رسول الله ﷺ داسي فرمايلي واى چي دا يو ښه عادت دى چي د هغه په ذريعه ته د خلكو سره نيكي كوې مګر د خلكو سره نيكي كول په حقيقت كي د خپل ځان سره نيكي كول دي په دې توګه چي د هغه نيكى ګټي هغه ته تر لاسه كيږي ځكه رسول الله ﷺ وفرمايل چي د هغه په ذريعه ته د خپل ځان سره نيكي كوې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غلام په ازادولو كي مرسته كول

﴿۳۲۲۹﴾: عَنِ الْبَرَّاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دى چي يو صحرايي د رسول الله ﷺ په خدمت كي

فَقَالَ عَلِّمْنِيْ عَمَلاً يُّدْخِلُنِيْ الْجَنَّةَ قَالَ لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ لَقَدْ

حاضر سو او عرض يې وكړ ماته يو داسي عمل را وښيه چي د هغه په ذريعه زه و جنت ته داخل سم نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تا خو پوښتنه په ډير مختصر ډول سره وكړه

أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ قَالَ أَوَ لَيْسَا وَاحِدًا ؟ قَالَ لاَ

مګر ډيره مهمه خبره دي و پوښتل ته ځان ازاد كړه او غلام ازاد كړه صحرائي عرض وكړ ايا دا دواړه يوه خبره نه ده ؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: نه !

عِتْقُ النَّسَمَةِ أَنْ تَفَرَّدَ بِعِتْقِهَا وَفَكُّ الرَّقَبَةِ أَنْ تُعِيْنَ فِيْ ثَمَنِهَا وَالْمِنْحَةُ

د ځان ازادول دادي چي پوره غلام ازاد كړې يا يوازي غلام ازاد كړې او د غلام ازادول دادي چي ته د هغه په ازادى كي د هغه سره مرسته او كومك وكړى

اَلْوَكُوْفُ وَالْفَيْءُ عَلٰى ذِيْ الرَّحِمِ الظَّالِمِ فَإِنْ لَّمْ تُطِقْ ذٰلِكَ فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ

او (په جنت كي د شاملېدو والا عمل دادى چي) يو محتاج ته شيدې وركونكي حيوان د شيدو د څښلو لپاره وركړې او د هغه ظالم رشته دار سره چي په تا ظلم كوي مهرباني او احسان كوه كه داسي نسي كولاى نو په وږي باندي خوراک و خوره

وَاسْقِ الظَّمْآنَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ فَإِنْ لَّمْ تُطِقْ ذَالِكَ فَكُفَّ

لِسَانَكَ إِلاَّ مِنْ خَيْرٍ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

او په تړي باندي اوبه و څيښه خلک و ښو ته را بوله او د بدو څخه يې منعه کوه او که دا هم نسي کولای نو بيا د خپلي ژبي حفاظت کوه سېوا د ښو خبرو څخه بده خبره د خولې څخه مه را باسه. (بيهقي په شعب الايمان کي).

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\۶۵، رقم: ۴۳۳۵.

د لغاتو حل: الوكوف: الكثيرة اللبن. (ډېر شيدې کوونکی څاروی)

تشريح: د ځان ازادولو او غلام ته د خلاصون ورکول په دغه دواړو کي چي کوم فرق واضح سوی دی د هغه خلاصه داده چي د ځان ازادول خو دادي چي ته خپل يو غلام ازاد کړې او غلام ته خلاصون ورکول دادي چي ته د يو بل چا غلام ازادولو کو ښښ وکړې، د مثال په توګه زيد خپل غلام ته وويل چي ته ما ته روپۍ راکړه نو ته به ازاد سې اوس د هغه غلام په روپو سره مرسته کول چي هغه روپۍ خپل بادار ته ورکړي او ازاد سي د بل سړي د غلام د ازادولو لپاره هڅه کول دي.

د منحه څخه مراد پسه يا اوښه ده (غوا، ګامېښه هم په دې کي داخل دي) چي يو اړ کس ته د دې لپاره په عارضي توګه ورکړل سي چي دهغه پسه، يا اوښې يا د هغو د وړيو څخه ګټه تر لاسه کړي، وکوف زياتي شيدې ورکونکي څاروي ته وايي.

د ښه خبري څخه پرته خپل ژبه بنده ساته: دا مضمون په يو بل حديث کي داسي فرمايل سوی دی: (من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فليقل خيرا او ليصمت): څوک چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري نو هغه بايد د خپل ژبي څخه د خير خبره وکړي کنه نو پټه خوله دي سي.

ددغه دواړو ارشاداتو مطلب دادی چي پر خپل ژبه باندي پوره واک وساتل سي، د خرابو خبرو د ژبي څخه ايستل نه دي پکار، ژبه چي کله په حرکت کي سي نو د هغه څخه د خير خبره ايستل پکار دي ځکه چي دا يو داسي نکته ده چي په هغه عمل کولو سره ډېري خرابۍ او ديني او دنياوي تاوانو څخه خوندي کيدای سي، علماء کرام وايي چي په دغه دواړو حديثو کي د نيکۍ څخه مراد هغه شی دی چي په هغه کي ثواب وي په دغه صورت کي هغه کلام چي پر هغه د مباح اطلاق کيږي د نيکۍ په شمېر کي نه دي مګر صحيح خبره داده چي د نيکۍ څخه مراد هغه شی دی چي د خرابۍ په مقابله کي وي نو په دغه صورت کي مباح کلام د نيکۍ په شمېر کي راځي.

﴿٣٢٢٠﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ بَنٰى

د حضرت عمرو بن عبسه رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په دې

مَسْجِدًا لِّيُذْكَرَ اللهُ فِيهِ بُنِيَ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ أَعْتَقَ نَفْسًا مُسْلِمَةً

نيت سره يو مسجد اباد کړي چي په هغه کي د الله جل جلاله ذکر وسي نو د هغه لپاره په جنت کي يو ځاى جوړيږي او څوک چي يو مسلمان غلام ازاد کړي

كَانَتْ فِدْيَتَهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِيْ سَبِيلِ اللهِ كَانَتْ لَهُ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه في شرح السنة.

د هغه دا کار به هغه ته د دوږخ څخه نجات ورکړي او څوک چي د الله جل جلاله په لاره (جهاد) کي سپين ږيري سي نو دا سپين ږيروالى به د قيامت په ورځ د هغه لپاره نور وي. (شرح السنه).

تخريج: البغوي في شرح السنة ٩\٣٥٥، رقم: ٢٤٢٠.

تشريح: (رواه في شرح السنه) په دغه الفاظو سره دې ته اشاره سوې ده چي د مشکوة د مصنف دغه حديث د شرح السنة څخه پرته د حديثو په نورو کتابو کي نه سته.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿٣٢٠١﴾: عَنِ الْغَرِيفِ الدَّيْلَمِيِّ قَالَ أَتَيْنَا وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ فَقُلْنَا لَهُ حَدِّثْنَا

د حضرت غريف ابن د يلمي رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ واثله ابن اسقع رضي الله عنه ته ورغلو هغه ته مو وويل: موږ ته يو حديث بيان کړه

حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ فَغَضِبَ وَقَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَقْرَأُ

چي په هغه کي کمي او زياتوالي نه وي (په دې اوربدو سره) واثله رضي الله عنه په قهر سو او ويې ويل: په تاسو کي چي هر څوک قرانکريم وايي

وَمُصْحَفُهُ مُعَلَّقٌ فِي بَيْتِهِ فَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ فَقُلْنَا إِنَّمَا أَرَدْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ

او قران کريم د هغه په کور کي وي مګر بيا هم په هغه کي کمي او زياتوالي راځي موږ ورته

وويل زموږ مطلب دادی چي كوم حديث تا د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي وي

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

نو هغه و موږ ته وو ایه هغه وویل یوه ورځ موږ د نبي كريم ﷺ په خدمت كي د يوه قريب په

صَاحِبٍ لَنَا أَوْجَبَ يَعْنِي النَّارَ بِالْقَتْلِ فَقَالَ أَعْتِقُوا عَنْهُ يُعْتِقْ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ. رواه ابوداؤد والنسائي

معامله كي حاضر سو چي هغه خپل ځان په خپله وژلي وو او د ځان لپاره يې دوږخ واجب كړی وو (د دې قصې په اوريدو سره) نبي كريم ﷺ وفرمايل: د هغه له لوري يو غلام ازاد كړه الله تعالي به د هغه غلام د هر اندام په بدله كي د هغه و اندام ته نجات وركړي. (ابوداؤد نسائي)

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۲۷۳- ۲۷۴، رقم: ۳۹۶۴، النسائي في الكبرى ۳\ ۱۷۲، رقم: ۴۸۹۲.

تشريح: حضرت واثله رضي الله عنه پوه سو چي د غريف رضي الله عنه مراد دادی چي د حديث په تر لاسه كولو سره د رسول الله ﷺ الفاظ بعينه روايت كړل سي ، هغه له دې كبله په غصه سو او ذكر سوی جواب يې وركړ ، مگر حضرت غريف رضي الله عنه د خپلي خبري په وضاحت كولو سره وويل چي زما دا مطلب نه وو كوم چي تاسو وګڼل بلكه زما مراد دادی چي د رسول الله ﷺ حديث داسي بيان كړی چي د هغه په مضمون او مفهوم كي تغير نه وي كه څه هم په الفاظو كي زياتوب او كمي وي.

ددې څخه معلومه سوه چي حديث داسي بيانول چي د هغه مضمون او مفهوم بعينه نقل سي كه څه هم په الفاظو كي اختلاف وي دا جائز دي.

د يو غلام په اړه سفارش كول غوره صدقه ده

﴿۳۲۴۲﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ الشَّفَاعَةُ بِهَا تُفَكُّ الرَّقَبَةُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :بهترينه صدقه سفارش كول دي هغه سفارش چي د هغه په ذريعه ځان ته ازادي يا نجات حاصل سي. (بيهقي په شعب الايمان كي).

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۶\ ۱۲۴، رقم: ۷۶۸۳.

تشریح: مطلب دادی چي په سفارش کولو سره یو غلام ازادول یا یو څوک خپل غلام وژل غواړي یا هغه وهي نو په سفارش کولو سره هغه غلام ساتل غوره صدقه ده.

=========

بَابُ اِعْتَاقِ الْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ وَشِرَى الْقَرِيْبِ وَالْعِتْقِ فِي الْمَرَضِ

(د ګډ غلام ازادولو، د قریب رانیولو او د ناروغۍ په حالت کي د ازادولو بیان)

په دغه باب کي چي د کومو مسئلو او احکامو اړوند حدیثونه نقل کیږي په هغو کي یو دادی که چیري یو غلام مشترک (په ګډه) وي مثلا دوه کسان زید او بکر په ګډه د یوه غلام مالکان وي او په هغوی کي یو شریک خپل برخه غلام ازاد کړي نو دوهم به څه کوي نو په دې باره کي جزوي ازادي یعني د یو غلام نیمه برخه ازاده سي او نیمه برخه یې غلام وي؟ په دې باره کي خپله د حنفیه په نزد مختلف قولونه دي، امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله فرمایي چي جزوي ازادي معتبره ده مګر صاحبین یعني امام ابویوسف او امام امحمد رحمة الله علیهما وایي چي جزوي ازادي معتبره نه ده، دغه قولونه یوازي ددغه مسئلې سره اړوند نه دي بلکه ددې څخه نور مسائل او احکام هم پیدا کیږي چي مخته به ذکر سي.

ددغه باب دوهمه برخه داده چي د هغه غلام په محض رانیولو سره ازادیږي که څه هم هغه سړی یې ازاد کړي یا ازاد یې نه کړي البته په دې باره کي اختلافي قولونه دي چي د قریبانو څخه کوم خلک مراد دي ددې تفصیل به هم مخته راسي.

د باب دریمه برخه داده که یو سړی د ناروغۍ په حالت کي غلام ازاد کړي نو دهغه څه حکم دی ددې په باره کي احکام او مسائل به هم پر خپل ځای د حدیثو د تشریح تر څنګ بیان سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مشترک غلام ازادولو په اړه یو هدایت

﴿۳۲۴۳﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د مشترک غلام

شِرْكاً لَهُ فِي عَبْدٍ وَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ الْعَبْدُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ

خپله برخه ازاده کړي (هغه ته پکار ده) که د هغه سره دومره مال وي چي په هغه سره د غلام پاته برخه رانيولای سي نو غلام دي پوره ازاد کړي نو په انصاف سره دي د غلام قيمت کښېښنودل

فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ.

متفق عليه.

سي او شريکانو ته دي د خپلو حصو قيمت ورکول سي او که دومره مال ور سره نه وي نو يوازي دي خپله برخه ازاده کړي. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥\١٥١، رقم: ٢٥٢٢، ومسلم ٢\١١٣٩، رقم: ١- ١٥٠١.

تشريح: ددغه حديث شريف ظاهري مفهوم پر دې دلالت کوي که چيري د يو غلام د مثال په توګه دوه مالکان وي او په هغوی کي يو شريک خپل برخه ازادول غواړي که چيري هغه ازادونکی د قدرت خاوند نه وي چي دوهم شريک ته د هغه د برخي قيمت ورکړي نو په دغه صورت کي هغه غلام به د هغه سړي دبرخي په اندازه ازاد سي او د دوهم شريک د برخي په اندازه به غلام وي.

د حديث ظاهري مفهوم پر دې دلالت کوي چي ازادي او غلامي متجزي کيدای سي يعني د يو غلام يو برخه ازادېدل او يوه برخه غلام کېدل جائز دي او دوهم شريک پر خپل برخه ازادولو باندي نه سي مجبور کولای او نه د هغه څخه استسعاء (محنت) کيدای سي د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی.

امام ابوحنيفة رحمة الله عليه سره ددې چي د ازادۍ او غلامۍ د متجزي کېدو قائل دي مګر په دغه صورت کي د هغه مذهب دادی که ازادونکی سړی د قدرت خاوند وي نو هغه دي د دوهم سړي برخه رانيسي يا دوهم شريک دي د خپل برخي په اندازه د هغه غلام څخه استسعاء کړي يا هغه شريک دي هم خپله برخه ازاده کړي او که چيري ازادونکی سړی د قدرت خاوند نه وي نو بيا هغه دي خپل شريک ته خپل برخه نه ورکوي بلکه هغه شريک دي يا خو د هغه غلام څخه د استسعاء په ذريعه د خپل برخي قيمت ورکړي يا خپل برخه دي ازاده کړي په دغه صورت کي حق

د ولاء به دواړو ته حاصل وي ، په دې باره کې صاحبین وایي که ازادونکی سړی د قدرت خاوند وي نو د دوهم شریک برخه دې وګرځوي او که چیرې د قدرت خاوند نه وي نو دوهم شریک دې د هغه غلام څخه د استسعاء په ذریعه د خپل برخي قیمت تر لاسه کړي او ازادي دې متجزي نه وي ځکه چې په دغه صورت کې حق ولاء به یوازې ازادونکي ته حاصل وي .

د صاحبینو مستدل حدیث

﴿۳۲۴۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ اعتق كله ان كَانَ لَهُ مَالٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ . متفق عليه

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې په یوه مشترک غلام کې خپله برخه ازاده کړي که د هغه سره دومره مال وو چې د نورو شریکانو د حصو قیمت ورکولای سي نو هغه غلام دې پوره ازاد کړي او که دومره مال ورسره نه وو نو په غلام دې مزدوري وکړي او پاته برخه دې ازاده کړي مګر د غلام څخه دې دومره کار نه اخیستل کیږي چې د هغه د توان څخه وتلی وي . (بخاري او مسلم) .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۳۷، رقم: ۲۵۰۴، ومسلم ۱۲\۱۱۴۰، رقم: ۳- ۱۵۰۳.

د لغاتو حل: شِقصا : ای نصیبا (برخه).

د زکندن پر وخت د خپل ټولو غلامانو په ازادولو سره د وارثانو حق مه تلفوئ

﴿۳۲۴۵﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ

د عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه سړي د مرګ په وخت کې شپږ غلامان ازاد کړل

مَوْتِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرَهُمْ فَدَعَا بِهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د هغه سره د دې څخه پرته نور بل څه نه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه غلامان را وغوښتل او هغوی

فَجَزَّأَهُمْ أَثْلَاثًا ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً وَقَالَ لَهُ قَوْلًا

یې درې حصې کړل وروسته یې د دوی په مینځ کې قرعه (پچه اچونه) وکړه په هغوی کې یې

دوه ازاد کړه او څلور یې غلامان وساتل او د ازاد کونکي لپاره یې سخت الفاظ وفرمایل او

شَدِيدًا رواه مسلم و روى النسائي عنه وذكر لقد هممت ان لا اصلي عليه

بدل وقال له قولا شديدا و في رواية ابي داؤد قال لو شهدته قبل ان يدفن

لم يدفن في مقابر المسلمين .

دنسائي په یوه روایت کي دا الفاظ دي ما اراده کړې وه چي دده په جنازه باندي لمونځ و نکړم او د ابوداؤد په یوه روایت کي دي که زه د هغه د ښخولو په وخت کي وای نو ما د هغه قبر د مسلمانانو د هدیرې څخه ایستلي وای .

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۲۸۸، رقم: ۵٦- ۱٦٦۸، والنسائي ۴\ ٦۴، رقم: ۱۹۵۸.

تشریح: دوه یې ازاد کړل ....: ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ دا حکم نافذ کړ چي د کومو دوو قرعه (پچه) راوتلې ده هغه ازاد دي او پاته څلور به غلامان وي ، ددې څخه دا ثابته سوه که چیري یو سړی د خپل مرض الموت په وخت کي خپل ټول غلامان ازاد کړي نو د هغه د ازادۍ نافذ کېدل به یوازي د هغه د غلامانو په دریمه برخه کي وي ځکه چي په مرض الموت کي د هغه په مال سره د هغه د وارثانو حق متعلق وي همدارنګه وصیت، صدقه، هبه او داسي نورو کي هم دریمه برخه مال کي نافذ کیږي .

زین العرب رحمة الله علیه وایي چي رسول الله ﷺ دا حکم ځکه جاري کړ چي هغه وخت په عامه توګه سره غلامان یو ډول وه چي قیمت یې مساوي وو او امام نووي رحمة الله علیه د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دا قول نقل کړی دی چي په داسي صورت کي به د هر غلام دریمه برخه ازاده ګڼل کیږي او د پاته دوو برخو په اندازه به د هغه څخه خدمت اخیستل کیږي ، رسول الله ﷺ د هغه سړي څخه ځکه د ناخوښۍ اظهار وکړ چي هغه د خپل ټولو شپږو غلامانو په ازادولو سره خپل وارثان بالکل محروم کړي وه چي د رسول الله ﷺ په نزد بد عمل وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه پر وارثانو داسي شفقت وکړ چي د هغه سړي له خوا ازادي یې په دوو غلامانو کي جاري کړل او پاته څلور غلامان یې د هغه د وارثانو حق وګرځوی .

د حدیث شریف څخه معلومه سوه چي مړي ته د هغه پر نامشروع او ظالمانه عمل باندي بد ویل کیدای سي او دا ددغه ارشاد (اذكروا امواتكم بالخير) یعني خپل مړي په نیکۍ سره

يادوئ، ددې خلاف نه دئ، او همدرانګه که چيري يو سړى مړ كيږي او خپل ميراث په زامنو كي وويشي اولوڼي محرومي كړي نو د وخت حكومت دغه فيصله منسوخ كولاى سي او د شريعت سره سم لوڼو ته د هغوى حق وركولاى سي.

د غلام پلار ازادول

﴿٣٢٤٦﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدًا إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو زوى د خپل پلار د احساناتو بدله نسي پوره كولاى خو په هغه صورت كي چي پلار يې د يو چا غلام وي هغه رانيسي او ازاد يې كړي. (مسلم).

تخريج: صحيح مسلم ١١٤٨\١٢، رقم: ٢٥- ١٥١٠.

تشريح: ددغه حديث د ظاهري مفهوم څخه معلوميږي چي پلار يوازي د زوى په رانيولو سره نه ازاديږي بلكه كله چي هغه يې رانيسي او ازاد يې كړي نو بيا ازاديږي، د اصحاب ظواهر دا مذهب دئ مګر د جمهورو علماؤ مذهب دادى چي پلار د خپل زوى په محض ملكيت كي راتلو سره ازاديږي، ددې وضاحت د دوهم فصل په اول حديث كي هم سوى دى او ددغه حديث معنى هم دغه ده، حضرت مظهر رحمه الله وايي چي په (فيعتقه) كي حرف د فاء د سبب لپاره دى او په دغه صورت كي د حديث د آخري برخي ترجمه به دا وي چي كله هغه خپل پلار د يو چا غلام ويني او د هغه ازادولو لپاره يې رانيسي نو د رانيولو څخه وروسته ددې ضرورت نه سته چي زوى پلار ته داسي ووايي چي ما ته ازاد كړې بلكه د هغه په محض رانيولو سره ازاديږي.

د مدبر غلام خرڅول جائز دي كه يا؟

﴿٣٢٤٧﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَبَّرَ مَمْلُوكًا لَهُ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي يوه انصاري خپل يو غلام مدبر (چي زما د مرګ وروسته ته ازاد يې) كړ او د هغه سره د غلام پرته بل څه نه وه

غَيْرُهُ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ

نبي كريم ﷺ د دې څخه خبر سو نو خلكو ته يې وفرمايل: دا غلام زما څخه څوک رانيسي؟

نُعَيْمُ بْنُ النَّحَّامِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ . متفق عليه و في رواية لمسلم فَاشْتَرَاهُ

نعيم بن نحام هغه غلام په اته سوه درهمه باندي رانيوي .(بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي چي نعيم بن عبد الله عدوي

نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَجَاءَ بِهَا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

په اته سوه درهمه هغه غلام رانيوي او اته سوه درهمه يې و نبي كريم ﷺ ته پيش كړې

وَسَلَّمَ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ابْدَأْ بِنَفْسِكَ فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ

نبي كريم ﷺ درهم و هغه سړي ته وركړل د چا چي غلام وو بيا يې ورته وفرمايل : تر ټولو ثخه مخكي دا پيسې په خپل ځان باندي خرڅي كړه او وروسته ځيني خيرات وكړه بيا چي څه

فَلِأَهْلِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ ذِي

پاته سي په خپل كور والايې و خوره او د دې څخه چي هم پاته سي نو

قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهٰكَذَا وَهٰكَذَا يَقُولُ فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ .

په قريبانو يې خرڅ كړه او د دې څخه چي هم يو څه پاته سي نو داسي او داسي يې خرڅي كړه نبي كريم ﷺ راسته او چپه خواته اشاره وكړه .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\ ٦٠٠، رقم: ٦٧١٦. ومسلم ٣\ ١٢٨٩، رقم: ٥٨- ٩٩٧.

تشريح د مدبر معنى داده چي يو څوک خپل غلام ته ووايي چي ته زما د مرګ څخه وروسته ازاد يې. ددغه حديث د ظاهري مفهوم سره سم داسي غلام پلورل د امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما په نزد جائز دئ ، امام ابو حنيفة رحمه الله وايي چي مدبر پردوه ډوله دی يو مدبر مطلق او دوهم مدبر مقيد ، مدبر مطلق هغه غلام دی چي د هغه مالک هغه ته داسي ووايي چي زما د مرګ څخه وروسته ته ازاد يې او مدبر مقيد هغه غلام دی چي د هغه مالک هغه ته داسي ووايي که چيري زه په دغه ناروغۍ کي مړ سوم نو ته ازاد يې، د مدبر مطلق حکم دادی چي داسي غلام ازاديږي مګر پلورل کيږي نه او نه هغه په تحفه کي ورکول کيدای سي ، مګر د هغه څخه خدمت اخيستل جائز دي، همدارنګه که چيري مينزه وي نو د هغې سره جماع کول هم جائز دي او د هغې د خوښۍ څخه پرته نکاح کول هم جائز دي، داسي غلام د خپل مالک د مرګ څخه

وروسته د هغه د دريمي برخي د مال څخه ازاديږي او که د دريمي برخي مال څخه پوره ازاد کېدای نه سي نو بيا د دريمي برخي د مال په اندازه ازاديږي، د مدبر مطلق پر خلاف د مدبر مقيد پلورل جائز دي او كه هغه شرط پوره سي يعني مالک په هغه ناروغۍ کي مړ سي نو بيا څرنګه چي مدبر مطلق د خپل مالک د مرګ څخه وروسته ازاديږي همدارنګه مدبر مقيد هم ازاديږي، امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه د دغه حديث په مفهوم کي دا تاويل کوي چي رسول الله ﷺ کوم مدبر پلورى هغه به مدبر مقيد وو .

د مشکوة شريف په ټولو نسخو کي نعيم ابن نحام ليکلى دى مګر علماء وايي چي دا د کاتب غلطي ده د نعيم بل نوم نحام دى او د دغه دوهم د تسميې وجه داده چي رسول الله ﷺ د هغه په باره کي ويلي وه چي زه په جنت کي داخل سوم نو هلته مي د نعيم آواز واوريدى نو د دې مناسبت سره هغه ته نحام وويل سول .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ذي رحم په ملكيت كي راتلو سره ازاد كيږي

﴿۳۲۴۸﴾: عَنْ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَلَكَ ذَارَحِمٍ مَحْرَمٍ فَهُوَ حُرٌّ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

حسن رضي الله عنه د سمره رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د محرم قرابتدار مالک وي هغه قرابتدار محرم ازاد دى .(يعني څوک چي يو محرم قريب رانيسي يا و هغه ته په هبه او يا وصيت کي ورسيږي د هغه په ملكيت کي د راتلو سره ازاد دى .) (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه) .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ٦٤٦، رقم: ۱۳٦٥، وابوداود ۴\ ۲۵۹، رقم: ۳۹۴۹، وابن ماجه ۲\ ۸۴۳، رقم: ۲۵۲۴.

تشريح: د مثال په توګه د يو چا زوى غلام وي او پلار هغه رانيسي يا پلار غلام وي او زوى يې رانيسي يا ورور غلام وي او بل ورور يې رانيسي نو محض د رانيولو په وجه هغه غلام ازاديږي ذي رحم هغه قريبانو ته وايي چي د ولادت قرابت لري او د هغه تعلق د رحم سره وي ، په ذي رحم کي زوى، پلار، ورور، اکا او داسي نور قريبان شامل دي او محرم هغه قريب ته وايي چي د هغه

سره نکاح جائز نه وي ، ددې څخه معلومه سوه چي د اکا د زوی او داسي نور قریبان په محرم کي شامل نه دي .

علامه نووي رحمة الله عليه وايي چي په دې باره کي د قریب په محض ملکیت راتلو سره ازادیږي که یا؟ په دې باره کي د علماؤ مختلف قولونه دي د اهل ظواهر قول دادی چي په دغه قریبانو کي هیڅوک هم په محض ملکیت سره نه ازادیږي بلکه ازادول ضروري دي ، د دوي دلیل د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دی کوم چي په اول فصل کي تېر سوی دی .

جمهور علماء وايي چي محض په ملکیت کي د راتلو په وجه د اصول د درجې قریبان (لکه پلار، نیکه ...) او د فروع د درجې قریبان (لکه زوی، ملسی...) ازاد کیږي مګر د اصول او فروع څخه پرته د نورو قریبانو په باره کي د جمهورو علماؤ هم مختلف قولونه دي، د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي دا خصوصیت یوازي د اصول او فروع قریبانو ته حاصل دی چي هغه محض د ملکیت په راتلو سره ازادیږي او امام مالک رحمة الله عليه په دغه خصوصیت کي ورور هم شامل کړی دی ، دهغه دوهم قول دادی چي ټول ذي رحم محرم ازادیږي .

او د هغه دریم روایت د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب مطابق دی ، د امام ابوحنیفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي هر قریب چي ذي رحم محرم وي هغه محض په ملکیت کي په راتلو سره ازادیږي .

ام ولد د خپل بادار د وفات وروسته ازادوي

﴿۳۲۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَلَدَتْ أَمَةُ الرَّجُلِ مِنْهُ فَهِيَ مُعْتَقَةٌ عَنْ دُبُرٍ مِّنْهُ أَوْ بَعْدَهُ . رواه الدارمي .

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: د چا مینزه چي د هغه د نطفې څخه بچی راوړي نو هغه د هغه سړي (یعني د خپل مالک) د مرګ وروسته دي ازاده سي . (دارمي)

تخریج: سنن الدارمي ۲\ ۳۳۴، رقم: ۲۵۷۴.

تشریح: مطلب دادی چي کومه مینزه د خپل مالک څخه کوچنی پیدا کړي هغه د مالک د مرګ څخه وروسته ازادیږي هغه د مالک په ژوند کي ازاده نه وي مګر مالک هغه پلورلای نه سي او نه يې چا ته په تحفه کي ورکولای سي ، پر دې مسئله باندي د ټولو علماؤ اجماع او اتفاق دی ، ددې پر خلاف چي کوم روایت نقل سوی دی هغه منسوخ دی، ددې تفصیل به د راتلونکي حدیث په تشریح کي راسي .

﴿۳۲۵۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ نَهَانَا عنه فَانْتَهَيْنَا . رواه ابو داؤد .

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ او ابو بکر رضی اللہ عنہ په زمانه کي هغه منيځي خرڅولې چي د هغې څخه اولاد سوي وو مگر حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خپل خلافت کي د دې څخه منعه کړو او موږ د دې څخه منعه سولو .(ابو داؤد)

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۲۷۰، ۲۷۱، رقم: ۳۹۶۲، وابن ماجه ۲\ ۸۴۵، رقم: ۲۵۲۹.

تشريح: د کوچنيانو د ميندو څخه مراد هغه مينزي دي چي د هغوی څخه د هغوی د مالکانو اولاد سوی وي ، دلته يو اعتراض پيدا کيږي هغه دا چي کله د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ په زمانه کي هغه مينزي وپلورل سوې نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ د دې څخه ولي منع وکړه ، ددې جواب دادئ چي ددې خبري قول احتمال دئ چي د هغه مينځو د پلورلو اجازه د منسوخۍ حکم به د رسول الله ﷺ په زمانه کي عامو خلکو ته نه وي رسيدلی او د هغه مينزو د پلورلو خبر به د رسول الله ﷺ څخه نه وي رسيدلی نو په دغه صورت کي د حضرت جابر رضی اللہ عنہ دغه ارشاد د داسي مينزو د پلورلو د جواز دليل نه سي کيدای ، دليل خو هغه وخت کيدای سي چي رسول الله ﷺ د هغه مينزو د خرڅولو خبر ورکړی وي او رسول الله ﷺ جائز کړی وي .

يو احتمال دا هم دی چي د رسول الله رضی اللہ عنہ په زمانه کي د هغه مينزو د پلورلو واقعه د هغه د اجازې د منسوخۍ څخه مخکي وي، همدارنگه د حضرت ابوبکرصديق رضی اللہ عنہ د زمانې په باره کي هم دا احتمال دی چي د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د خلافت زمانه ډېره لږ وه په هغه کي هم هغه په نورو کارو کي بوخت وو ځکه هغه ته به ددې علم نه وي سوی که چيري خبر سوی وای نو خامخا به يې منع کولای ، د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ څخه وروسته حضرت عمر رضی اللہ عنہ خليفه سو نو هغه خلک ددې څخه منع کړل ځکه چي هغه ته معلومه وه چي رسول الله ﷺ د ام ولد د پلورلو څخه منع فرمايلې وه .

که چيري د ازادۍ پر وخت د غلام سره مال وي نو د بادار د اجازې وروسته د هغه مالک دی

﴿۳۲۵۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ

عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهُ السَّيِّدُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي غلام ازاد کړي او د غلام سره مال وي نو هغه مال د هغه مالک دی مگر که شرط يې کړی بادار يا ازادونکي دی خو دا چي مالک ووايي چي غلام د خپل مال هم مالک دی. (ابوداؤد ابن ماجه).

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۷۰، رقم: ۳۹۶۲، وابن ماجه ۲\۸۴۵، رقم: ۲۵۲۹.

تشريح: څرگنده ده چي هيڅ غلام د هيڅ مال مالک نه وي نو د هغه سره به مال د کومه وي او که چيري د هغه سره مال وي نو د هغه څخه مراد دادی چي هغه غلام به د خپل مالک په اجازه سره مزدوري يا تجارت کړی وي او د هغه په نتيجه کي چي کوم مال ترلاسه سوی وي که چيري هغه مال دغلام سره وي نو د هغه په باره کي هم دا حکم دی چي هغه په اصل کي د هغه غلام د بادار ملکيت دئ ځکه چي غلام او د هغه سره چي څه وي د ټولو مالک د هغه بادار دئ نو دا گمان دي نه کيږي چي غلام د ازاد کېدو په وجه د ملکيت قائم کولو اهل سوی دی نو هغه مال چي د مخکي څخه د هغه سره موجود وو هغه د هغه په ملکيت کي راغلی دی ځکه چي هغه مال خو مخکي هم د هغه د بادار ملکيت وي د غلام به د هغه سره هيڅ کار نه وي، مگر که چيري د هغه بادار د هغه د ازادولو پر وخت دا ووايي چي دغه مال د غلام ملکيت دی نو په دغه صورت کي به هغه مال به د بادار له خوا د هغه غلام لپاره صدقه او تحفه سي او هغه به د ازاد کېدو څخه وروسته د هغه مالک وي.

ازادي په جزوي توگه واقع کيږي که يا؟

﴿۳۲۵۲﴾: وَعَنْ اَبِي الْمَلِيحِ عَنْ اَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ غُلَامٍ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ لَيْسَ لِلّٰهِ شَرِيكٌ فَأَجَازَ عِتْقَهُ . رواه ابوداؤد.

ابو المليح رضي الله عنه د خپله پلاره څخه روايت کوي چي يوه سړي د خپل غلام يوه برخه دده لپاره ازاده کړه د دې ذکر يې و رسول الله ﷺ ته وکړ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خداي تعالي هيڅوک شريک نسته بيا نبي کريم ﷺ حکم وکړ چي غلام دي بالکل ازاد کړل سي. (ابوداؤد).

تخريج سنن ابي داود ۴\۱۵۱، رقم: ۲۹۳۳.

د لغاتو حل شِقصا: اى نصيبا. (برخه، ونډه).

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادئ چي كوم كار د الله ﷻ لپاره وكړل سي او هغه د عبادت څخه وي نو په هغه كي دي خپل برخه نه گدوي، د يو غلام څيني برخه ازادول او څيني غلام ساتل مناسب نه دي.

د حديث د آخري الفاظو څخه دا ثابتيږي چي ازادي او غلامي متجزي نه وي مگر امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د متجزي قائل دئ ځكه د هغه په نزد د دغه الفاظ معنى داده چي رسول الله ﷺ د هغه غلام د ازادولو حكم وكړ په دې توگه چي د هغه مالک ته يې ترغيب وركړ چي هغه غلام ټول ازاد كړه.

د مشروط ازادۍ يو واقعه

﴿۳۲۵۳﴾: وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ

د حضرت سفينه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د بي بي ام سلمه (رض) په ملكيت كي وم (يوه ورځ) هغې ماته وويل زه تا په دې شرط ازادوم چي

عَلَيْكَ أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتَ فَقُلْتُ وَإِنْ لَمْ

تر څو پوري ژوندی يې د رسول الله ﷺ څخه به نه جلا كيږي (خدمت به يې كوي) ما وويل كه

تَشْتَرِطِي عَلَيَّ مَا فَارَقْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَا عِشْتُ فَأَعْتَقَتْنِي وَاشْتَرَطَتْ عَلَيَّ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

پر ما شرط نه ايږدې هم به د نبي كريم ﷺ څخه جلا نسم نو ام سلمه رض زه ازاد كړم او د نبي كريم ﷺ د خدمت شرط يې پر ما ولگوی. (ابن ماجه ابو داؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۵۰، رقم: ۳۹۲۲، وابن ماجه ۲\۸۴۴، رقم: ۲۵۲۶.

تشريح: سفينه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو مگر څيني حضرات وايي چي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها غلام وو چي د رسول الله ﷺ زوجه مباركه وه او بيا بي بي ام سلمه رض هغه په ذكر سوو شرطو سره ازاد كړی، د سفينه اصل نوم مهران يا رومان يا رباح وو، د هغه كنيت ابوعبدالرحمن يا ابوالبختري وو، سفينه د هغه لقب وو او په دغه نامه زيات مشهور وو، د دغه لقب اېښودو وجه دا وه چي د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو خدمت به يې كوی او كله چي به غزاوو ته تلل نو د خلكو سامان به يې پر خپل شا باندي په اچولو سره وړی.

سفينه كښتۍ ته وايي لكه څرنګه چي كښتۍ د بار وړلو لپاره وي همدارنګه هغه به هم د خلكو بار پورته كوى ، په دې اعتبار سره د هغه لقب سفينه سو ، نقل سوي دي چي يو وار حضرت سفينه رضي الله عنه د اسلامي لښكر سره ملګرى وو چي هغه د قافلې څخه جلا سو او په ځنګل كي لار ځيني وركه سوه ، هغه د لاري په لټون كي سرګردانه وو چي ناڅاپه يو زمرى را ښكاره سو او د هغه مخته راغلى ، د زمري په ليدو سره هغه ورته وويل اې ابوالحارث زه سفينه يم د رسول الله ﷺ ازاد سوى غلام يم ، ددې په اورېدو سره زمري لكۍ ښورول شروع كړل او بيا د هغه مخته سو او هغه يې خپل منزل ته ورسوى .

مكاتبت كله ختميږي

﴿٣٢٥٤﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ دِرْهَمٌ . رواه ابوداؤد

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مكاتب غلام باندي ترڅو پوري چي يو درهم هم پاته وي هغه غلام دى . (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داود ٤\٢٤٢، رقم: ٣٩٢٦.

تشريح: مكاتب هغه غلام ته وايي چي د هغه مالک دا ليكلي وركړي وي چي كله ته دومره روپۍ راكړې نو ازاد به سې، په دې باره كي ويل سوي دي چي مالک د هغه ازادۍ لپاره څومره روپۍ ټاكلي وي ترڅو چي هغه مالک ته پوره ادا نه كړي هغه به مكاتب وي كه په هغه روپو كي يوه هم پاته وي نو هغه به ازاد نه وي ، داسي نه كيږي چي هغه څومره روپۍ مالک ته وركړي په هغه حساب سره به د هغه هغومره برخه ازاديږي او څومره روپۍ چي پاته وي د هغه حساب سره به هغه غلام وي .

د مكاتب غلام څخه پرده

﴿٣٢٥٥﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ عِنْدَ مُكَاتَبِ إِحْدَاكُنَّ وَفَاءٌ فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي داسي يو مكاتب غلام وي چي دومره مال ولري چي د هغه په بدله كي (د خپلي ازادي قيمت)ادا كړي

نو د هغه مالكي ته پكار ده چي د هغه څخه ستر او پرده كوي. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه).

تخريج: سنن الترمذي ٣\ ٥٦٢، رقم: ١٢٦١، وابوداود ٤\ ٢٤٤، رقم: ٣٩٢٨، وابن ماجه ٢\ ٨٤٢، رقم: ٢٥٢٠.

تشريح: مطلب دادی چي تر څو پوري مكاتب د كتابت پوره بدل ادا نه كړي نو غلام او محرم دی او د هغه څخه پرده كول ضروري نه دي مگر كله چي د هغه سره دومره مال وي چي په هغه سره د خپل ټول كتابت ادا كولای سي نو گويا هغه په حقيقت كي خپل بدل كتابت ادا كړی دی.

په دې باره كي صحيح خبره داده چي رسول الله ﷺ دا حكم په خاصه توگه د خپلو بيبيانو مباركانو لپاره وو او د بيبيانو مباركانو پرده هم د نورو ښځو په نسبت زياته سخته وه.

د مكاتب له خوا د بدل كتابت د جزوي اداينې مسئله

﴿٣٢٥٦﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَاتَبَ عَبْدَهُ عَلَى مِائَةِ أُوقِيَّةٍ فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشْرَةَ أَوَاقٍ أَوْ

ﷺ وفرمايل: چاچي خپل غلام سل اوقيه مكاتب جوړ كړ او په هغه يوازي لس اوقيه پاته وي

قَالَ عَشَرَةَ دَنَانِيرَ ثُمَّ عَجَزَ فَهُوَ رَقِيقٌ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة

او يا يې وويل چي لس اشرفۍ او نيوي يې ادا كړي وي او د هغه څخه وروسته د قيمت د ادا كولو څخه عاجزه سو نو هغه غلام دي (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

تخريج: سنن الترمذي ٣\ ٥٦١، رقم: ١٢٦٠، وابوداود ٤\ ٢٤٤، رقم: ٣٩٢٧، وابن ماجه ٢\ ٨٤٢، رقم: ٢٥١٩.

تشريح: ابن مالك رحمه الله وايي چي دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي مكاتب د خپل بدل كتابت د يو برخي د ادا كولو څخه عاجز كېدل د ټول بدل كتابت د ادا كولو څخه عاجز كېدل دي نو په داسي صورت كي مالک ته د هغه د كتابت فسخ كولو حق دی او د فسخ كتابت څخه وروسته به هغه غلام وي او د حديث د الفاظو (فهو رقيق) څخه دا ثابتيږي چي هغه مكاتب د خپل بدل كتابت كومه برخه چي مالک ته وركړې وه هغه به د هغه مالک ملكيت وي.

﴿٣٢٥٧﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَصَابَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي يوه مكاتب ته د

الْمُكَاتَبُ حَدًّا أَوْ مِيرَاثًا وَرِثَ بِحِسَابِ مَا عَتَقَ مِنْهُ. رواه ابوداؤد والترمذي

خپل قریب وینه بهېدل حاصل سي یا هغه د چا د مال وارث سي نو هغه ته به یوازي د ومره مال ورکول کیږي څومره چي هغه په ازادیږي. (ابوداؤد ترمذي)

و في رواية له قال يؤدي المكاتب بحصة ما ادى دية حر ومابقي دية عبد وضعفه.

او د ترمذي په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي حضرت ویلي دي چي دیت به ورکول کیږي مکاتب ته په حصه د هغه چي ادا کړی وي دیت د اصیل او هغه چي باقي دیت وي د مریي. (ترمذي و دې حدیث ته ضعیف ویلي دي).

تخريج: سنن ابي داود ٤\٧٠٦-٧٠٧، رقم: ٤٥٨٢، والترمذي ٣\٥٦٠، رقم: ١٢٥٩.

تشريح: د دیت یا مېراث وړ سي: ددې مطلب دادی که چیري یو مکاتب د دیت یا مېراث حقدار سي د هغه دیت یا مېراث څخه به هغه ته په دومره اندازه تر لاسه کیږي په څومره چي هغه ازاد سوی دی د مثال په توګه زید د یو سړي غلام و او د هغه مالک هغه مکاتب کړی او زید اوس د خپل بدل کتابت څخه نیمه برخه خپل مالک ته ورکړې ده چي د هغه پلار مړ سو کوم چي ازاد سړی وو مګر هغه د خپل دغه مکاتب زوی یعني زید څخه پرته بل څوک وارث نه وو نو په دغه صورت کي به زید د خپل پلار د وراثت څخه یوازي د نیمي برخي حقدار وي، او یا دوهم صورت به دا وي چي هغه مکاتب د خپل بدل کتابت څخه نیمه برخه خپل مالک ته ادا کړې وه چي هغه قتل کړ په دغه صورت کي به قاتل د هغه مکاتب د نیمي ازادۍ برخي دیت د هغه وارثانو ته ورکوي او د هغه د نیمي برخي غلام دیت چي د هغه د قیمت نیمه برخه ده د هغه مالک ته ورکوي د مثال په توګه بکر خپل غلام زید د زرو روپو په بدل کي مکاتب کړ، او زید د غلام کېدو په حیثیت سره د سلو روپو د قیمت وو او د مکاتب کېدو څخه وروسته زید خپل مالک ته د خپل بدل کتابت تاکل سوي زر روپو څخه پنځه سوه روپۍ ادا کړی وې چي یو سړي هغه ووژی نو په دغه صورت کي به قاتل د زید وارثانو ته پنځه سوه روپۍ ورکوي چي د هغه د ازادۍ د قیمت نیمه برخه ده او د هغه مالک ته به پنځوس روپۍ ورکوي چي د هغه د اصل قیمت نیمه برخه ده.

ددغه حديث څخه دا ثابتيږي چي مكاتب د خپل بدل كتابت څخه كوم مقدار چي مالک ته وركړى وي د هغه په اندازه به هغه ازاد سي او كوم مقدار چي يې ادا كړى نه دى د هغه په اندازه به غلام وي ، په دغه حديث باندي يوازي امام نخعي رحمه الله عمل كړى دى مگر جمهور علماء وايي چي نه يوازي دا چي دا حديث ضعيف دى چي د يو مذهب بنياد نه سي كيداى بلكه دا د هغه دواړو صحيحو حديثو معارض هم دى كوم چي تر دې مخكي نقل سوي چي د هغه څخه په صراحت دا ثابتيږي چي د مكاتب پر ذمه تر څو د بدل كتابت يوه برخه هم پاته وي نو هغه به غلام وي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د مالي عبادت ثواب مړي ته رسيږي

﴿۳۲۵۸﴾: عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عُمْرَةَ الْاَنْصَارِيِّ اَنَّ اُمَّهٗ اَرَادَتْ اَنْ تُعْتِقَ

د حضرت عبدالرحمن بن ابى عمره انصاري رضي الله عنه څخه روايت دى چي زما مور د يوه غلام د ازادلو اراده وكړه

فَاَخَّرَتْ ذَالِكَ اِلٰى اَنْ تُصْبِحَ فَمَاتَتْ قَالَ عَبْدُالرَّحْمٰنِ فَقُلْتُ لِلْقَاسِمِ بْنِ

او په ازادولو كي يې ځنډ وكړ تر صبا پوري تر دې پوري چي مړه سوه ما (د هغې د مرگ څخه

مُحَمَّدٍ اَيَنْفَعُهَا اَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا فَقَالَ الْقَاسِمُ اتى سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ رَسُولَ اللّٰهِ

وروسته) د قاسم بن محمد څخه پوښتنه وكړه كه زه د خپلي مور له طرفه (غلام) ازاد كړم نو ايا هغې ته به يو څه فائده ورسيږي ؟ قاسم وويل يو وار حضرت سعد بن عباده د رسول الله صلى الله عليه وسلم په

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال إِنَّ أُمِّي هَلَكَتْ فَهَلْ يَنْفَعُهَا أَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ . رواه مالك

خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ زما مور مړه سوې ده كه زه د هغې له طرفه څوک ازاد كړم نو هغې ته به څه گټه ورسيږي ؟ نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو ! (يعني نفعه به ورته وكړي) . مالک

تخريج: الموطا ۲\۷۷۹، رقم: ۱۳. بلفظ فيه اختلاف يسير.

تشريح: حضرت قاسم ابن محمد رحمه الله د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ملسى وو، په مدينه

منوره کي چي کوم اووه فقهاء مشهور وو په هغو کي يو دی هم وو .

گټه به ور ته ورسيږي: ددې مطلب دادی چي ته د هغې له خوا يو غلام ازاد کړې نو ثواب به يې ستا مور ته ورسيږي د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي د مالي عبادت ثواب مړي ته رسيږي البته د بدني عبادت ثواب په رسيدو کي اختلاف دی مګر صحيح قول دادی چي د بدني عبادت ثواب هم رسيږي .

﴿۳۲۵۹﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فِي نَوْمٍ نَامَهُ فَأَعْتَقَتْ عَنْهُ عَائِشَةُ اخته رِقَابًا كَثِيرَةً . رواه مالك .

د حضرت يحيي بن سعيد رحمه الله څخه روايت دی چي عبدالرحمن ناڅاپه په خوب خوب کي مړ سو د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه خور حضرت عائشې رض ډېر غلامان ازاد کړل . (مالک)

تخريج: الموطا ۲\۷۷۹، رقم: ۱۴.

تشريح: بي بي عائشې رضي الله عنها ډير غلامان او مينزي ازاد کړي دي ، ددې سبب يا خو دا وو چي پر حضرت عبدالرحمن باندي په يو وجه د غلامانو ازادول واجب وه چي په خپل ژوند کي په هغه عمل ونه کړل سو نو بي بي عايشې رضي الله عنها خپله د هغه له خوا غلامان ازاد کړل يا دا چي په ځينو حالاتو کي ناڅاپه مرګ ښه نه ګڼل ګرځکند دي چي په دغه صورت کي بي بي عائشه رضي الله عنها ډېره غمجنه سوه ځکه هغې ډېر غلامان ازاد کړل چي په دغه صورت کي تاوان دفع سي .

په غير مشروط توګه د غلام رانيونکی د هغه غلام د مال حقدار نه دی

﴿۳۲۶۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرَى عَبْدًا فَلَمْ يَشْتَرِطْ مَالَهُ فَلَا شَيْءَ لَهُ . رواه الدارمي .

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي يو غلام رانيسي او د هغه د مال شرط و نه کړي نو رانيونکي ته د هغه غلام د مال هيڅ برخه نسته .(دارمي)

تخريج: سنن الدارمي: ۲\۳۳۰. رقم: ۲۵۶۱.

تشريح: مطلب دادی چي کوم کس يو غلام رانيوی او د رانيولو په معامله کي هغه مال شامل نه کړ کوم چي د غلام سره دی نو هغه ددې مال حقدار نه جوړيږي ځکه هغه مال په اصل کي د مالک په ملکيت کي دی د کوم څخه چي يې هغه غلام رانيولی دی .

بَابُ الْاَيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ

(د قسمو او نذرو بیان)

د قسمو درې ډولونه دي ۱: غموس، ۲: لغو، ۳: منعقده.

يمين غموس هغه قسم ته وايي چې پر تېره يا اوسنۍ خبره باندي قسم وکړل سي مثلا داسي وويل سي چې قسم په خدای ما دا کار کړی وو حال دا چې هغه کار يې نه وو کړی يا داسي وويل سي چې قسم په خدای ما دا کار نه وو کړی حال دا چې هغه کار يې کړی وو ، همدارنګه زيد ووايي چې قسم په خدای د خالد پر ذمه زما زر روپۍ دي ، يا قسم په خدای زما پر ذمه د خالد زر روپۍ نه سته حال دا چې په حقيقت کي د خالد پر ذمه د هغه زر روپۍ نه سته يا د هغه پر ذمه د خالد زر روپۍ وي ، د يمين غموس حکم دادی چې په داسي ډول د درواغو قسم اخيستونکی ګناه کار دی مګر پر هغه باندي کفاره واجب نه ده البته توبه او بخښنه ضروري ده .

لغو : لغو هغه قسم ته وايي چې پر تېر يا اوسنۍ خبره باندي قسم وکړل سي او قسم کونکي ته دا ګمان وي چې هغه خبره داسي ده لکه څرنګه چې زه وايم مګر په حقيقت کي هغه خبره داسي نه وي لکه څرنګه چې دی وايي د مثال په توګه يو سړی داسي ووايي چې و الله دا کار ما نه دی کړی حال دا چې هغه سړي دا کار کړی وي مګر هغه ته دا ګمان وي چې ما هغه کار نه دی کړی يا هغه سړی د ليري څخه يو سړی ويني او ووايي قسم په خدای دا زيد دی حال دا چې هغه زيد نه وي بلکه خالد وي مګر دا قسم د هغه سړي د ګمان کولو سره کړی وي چې هغه زيد دی ، ددغه قسم حکم دادی چې د داسي قسم اخيستونکی په باره کي دا اميد دی چې د هغه څخه به مؤاخذه نه کيږي .

منعقده : منعقده قسم هغه قسم ته وايي چې د راتلونکي کار د کولو يا نه کولو په باره کي وکړل سي ، ددې حکم دادی که چيري د قسم خلاف وکړل سي نو ګناه واجبيږي د مثال په توګه زيد داسي ووايي چې قسم په خدای زه به خالد ته سبا سل روپۍ ورکوم ، اوس که چيري هغه سبا خالد ته سل روپۍ ور نه کړي نو پر هغه باندي د قسم د ماتولو کفاره واجبيږي، د منعقده قسم ځيني صورتونه داسي دي چې په هغه کي قسم پوره کول واجب وي لکه د فرض کولو يا د ګناه پرېښودلو قسم وکړل سي مثلا داسي وويل سي چې قسم په خدای زه به د ماپښين لمونځ کوم يا قسم په خدای زه به زنا کول پرېږدم نو په دغه صورتو کي قسم پوره کول واجب دي .

او په ځينو صورتو کي داسي دي چي په هغه کي قسم ماتول واجب دي لکه يو ناپوه سړی د ګناه پر کولو يا پر واجب باندي د عمل نه کولو قسم وکړي نو د هغه قسم ماتول واجب دي ، همدارنګه د منعقده قسم په ځينو صورتو کي ماتول واجب نه دي مګر غوره دی لکه يو څوک چي ووايي قسم په خدای زه به د هيڅ مسلمان سره ملاقات نه کوم نو دا قسم نه پوره کول غوره دي ، ددې څخه پرته په نورو صورتو کي د قسم د ساتني سره سم قسم پوره کول غوره دي .
د کفارې په باره کي دا بايد په ذهن کي وي چي د منعقده قسم پر ماتولو باندي په هر صورت کي کفاره واجبيږي که په قصد سره يې کړی وی او که قسم اخيستونکی پر قسم کولو باندي مجبور سوی وي .

د قسم کفاره

د قسم ماتولو کفاره داده چي غلام ازاد کړل سي يا لس مسکينانو ته خوراک ورکړل سي ، په دغه دواړو صورتو کي هغه شرطونه او احکام مخته ابنبودل پکار دي کوم چي د ظهار په کفاره کي د غلام ازادلو يا مسکينانو ته د خوراک ورکولو په باره کي نقل سوي دي او يا دي لسو مسکينانو ته د اغوستلو جامې ورکړل سي او هر يوه ته دي داسي جامې ورکړل سي چي په هغه سره د بدن اکثره برخه پټه سي ، که يوازي پرتوګ ورکړل سي نو دا به کافي نه وي ، او که چيري يو سړی په دغه درو سره صورتو کي پر يوه هم قادر نه وي يعني نه غلام ازادولای سي او نه لس مسکينانو ته خوراک ورکولای سي او نه لسو مسکينانو ته جامې ورکولای سي نو بيا دي هغه پر له پسې درې ورځي روژې ونيسي ، د قسم ماتولو څخه مخکي کفاره ورکول جائز نه دي ، د کافر په قسم کي کفاره نه واجبيږي که څه هم هغه د اسلام په حالت کي مات کړی وي همدارنګه د کوچني، بېده سړي او ليوني قسم نه صحيح کيږي ځکه نو پر هغوی د قسم ماتولو کفاره هم نه واجبيږي .

د قسم نور ډولونه او مسائل

په عربي ژبه کي د قسم لپاره درې حرفونه دي ۱ : و ، ۲ : ب، ۳ : ت، د مثال په توګه داسي وويل سي : والله، باالله، تاالله، ددغه درو سره مفهوم دادی چي زه په الله ﷻ سره قسم اخلم ، د عربي ژبه د طرز سره سم ډېر واره دغه حرفونه مقدر وي يعني په الفاظو کي ددغه حروفو ذکر نه وي مګر په حقيقت کي ددې معنی مراد وي که داسي وويل سي چي : الله افعله نو ددې معنی به دا وي چي : والله افعله .

قسم د الله په اسم ذات (الله ﷻ) سره يا د هغه په نورو نومونو کي په يو بل نامه سره مثلا رحمن، رحيم، حق او داسي نورو سره کول کيږي او په دغه نومو کي نيت ضروري نه وي مگر په داسي نومو سره قسم اخيستل چي د الله تعالی څخه پرته د نورو لپاره هم استعماليږي لکه عليم ، حکيم او داسي نور نو په هغه کي د نيت ضرورت سته همدارنگه د الله تعالی په هغه صفاتو سره قسم خوړل هم صحيح دي کوم چي په عامه توگه سره د قسم کولو لپاره رواج وي لکه د الله ﷻ په عزت او جلال سره قسم ، د الله ﷻ په عظمت او قدرت سره قسم ، مگر په هغه صفاتو سره قسم کول ضروري نه دی چي په هغه د قسم کولو عام رواج نه وي لکه رحمت، علم، رضا، غضب...

د الله ﷻ څخه پرته د بل چا په نامه قسم کول جائز نه دي لکه په پلار، نيکه، قرآن، انبياء، ملائکو، کعبه، لمونځ، روژه، په ځان، په زمزم، او په نورو تولو شعائرو باندي همدارنگه ځيني خلک داسي قسم اخلي چي په خپل ځواني دي مي قسم وي يا په خپل سر دي مي قسم وي ، يا ستا په ځان دي مي قسم وي يا په خپل اولاد دي مي قسم وي دا ټول ناجائز دي مگر که چيري يو څوک داسي قسم وکړي او بيا د هغه خلاف وکړي نو د قسم ماتولو کفاره به ادا کوي.

په عربي ژبه کي (لعمر الله) قسم دی همدارنگه (قسم په خدای) هم قسم دی او د عهد الله ، ميثاق الله او اشهد دا ټول هم قسمونه دي.

همدارنگه داسي ويل چي پر ما نذر دی، پر ما يمين دی يا پر ما باندي عهد دی که څه هم د دې اضافت الله ﷻ ته ونه کړي نو دا هم قسمونه دي ، همدارنگه که يو سړی ووايي که زه فلانی کار وکړم نو کافر به سم يا يهودي به سم يا عيسائي به سم ، يا داسي ووايي که زه فلانی کار وکړم نو زه په د الله ﷻ څخه بري سم نو په داسي ويلو سره هم قسم کيږي د دې په خلاف کولو سره د قسم ماتولو حکم ثابتيږي مگر د خپل وينا مطابق هغه کافر، يهودي يا عيسائي نه کيږي که څه هم د هغه کار تعلق د تېري زمانې سره وي يا د راتلونکي زمانې سره وي په شرط د دې چي هغه ته دا علم وي چي داسي ويل قسم دی مگر که چيري د داسي ويلو پر وخت د هغه قسم مقصد نه وي بلکه په حقيقت کي د کفر تصوريې وي نو بيا په دغه صورت کي په دې وجه چي هغه کفر اختيار کړی دی کافر کيږي.

که چيري داسي وويل سي چي فلانی سړی دا کار وکړي نو پر هغه دي د الله ﷻ غضب وي يا پر هغه دي د الله ﷻ لعنت وي يا داسي وويل سي که فلانی سړی دا کار وکړي نو هغه زناکونکی دی يا غل دی يا شرابي دي نو دې ته قسم نه ويل کيږي ، همدارنگه حقا او وحق الله

هم قسم نه دی مګر په دې کې د امام ابو یوسف رحمة الله علیه اختلاف دی .

همدارنګه داسې ویل چې زه په خدای قسم کوم یا د ښځې د طلاق قسم کوم دا هم قسم نه دی ، که چیرې یو څوک خپل مملوکه شی پر ځان باندې حرام کړې نو هغه شی نه پر حرامیږي مګر د هغه په استعمال سره کفاره واجبیږي ، د مثال په توګه یو سړی داسې ووایي چې ما دوډۍ پر ځان حرامه کړې ده نو په داسې ویلو سره پر هغه دوډۍ نه حرامیږي مګر که چیرې هغه دوډۍ وخوري نو د قسم کفاره به پر لازم وي .

که یو سړی داسې ووایي چې ټول حلال شیان پر ما حرام دي نو د دې اطلاق به د خوراک او څښاک پر ټولو شیانو وي یعني که چیرې هغه یو حلال شی وخوري نو پر هغه به د قسم کفاره واجب وي او پر دې فتوا ده چې په داسې ویلو سره ښځه هم پر طلاقه کیږي که څه هم هغه د دې نیت نه وي کړی ، همدارنګه داسې ویل چې حلال شی پر ما حرام دی یا داسې ویل چې په خپل راسته لاس سره کوم شی را اخلم هغه پر ما حرام دی نو د دې هم دا حکم دی .

که یو سړی د قسم سره لفظ د انشاء الله هم ووایي نو هغه به حانث (قسم ماتونکی) نه وي یعني هغه بالکل قسم نه دی کړی ځکه نو د هغه په خلاف کولو سره کفاره هم نه واجبیږي .

دا د قسمو په باره کې څه تفصیل وو اوس د باب د دوهمې برخې اړوند هم یو څو خبرې په ذهن کې راولئ .

نذر او د هغه احکام

نذر د یو شي پر ځان منلو ته ویل کیږي یعني یو داسې شی پر ځان واجبول چې هغه واجب نه وي ، د مثال په توګه یو سړی داسې ووایي چې اې الله ! که زما دغه فلانی کار وسو نو زه به پنځه روژې نیسم ،

ځینې علماء وایي چې د ټولو علماؤ پر دې اجماع او اتفاق دی چې نذر منل صحیح دی او د هغه نذر پوره کول واجب دي په شرط د دې چې هغه نذر د ګناه یو کار نه وي او که چیرې د هغه نذر تعلق د ګناه د یو شي سره وي نو د امام شافعي رحمة الله علیه او جمهورو علماؤ په نزد هغه نذر صحیح نه دی او امام اعظم ابو حنیفة او امام احمد رحمة الله علیهما وایي نه یوازې دا چې هغه نذر به صحیح نه وي بلکه پر داسې نذر منونکي به د قسم کفاره واجب وي ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دئ :

لا نذر في معصية وكفارته كفاره يمين : د معصیت (ګناه) د نذر هیڅ اعتبار نه سته مګر پر هغه باندې د قسم کفاره واجبیږي .

په ملتقی کي لیکلي دي چي کوم څوک مطلق نذر ومني یعني هغه نذر یې په یو شرط سره معلق نه کړ د مثال په توګه داسي ووایي چي زه به د الله ﷻ د رضا لپاره روژې نیسم یا داسي نذر ومني چي په یو شرط سره متعلق وي او هغه شرط هم داسي وي چي د هغه پوره کولو خواهش او اراده وي د مثال په توګه داسي ووایي چي زه روغ سم نو روژې به نیسم او بیا هغه شرط پوره سي یعني هغه روغ سي نو په دغه دواړو صورتو کي د هغه نذر پوره ضروري دي او که چیري هغه خپل نذر په یو داسي شرط سره متعلق کړ چي د هغه د پوره کولو خواهش نه وي مثلا داسي ووایي که زه زنا وکړم نو پر ما باندي به د یوه غلام ازادول واجب وي نو په دغه صورت کي هغه اختیار دی که غواړي د قسم کفاره دي ورکړي او که غواړي نو هغه نذر دي پوره کړي.

د نذر په باره کي نور مسائل او احکام د فقهي په کتابو کي او فتاوی عالمګیري کي په تفصیل سره ذکر سوي دي هلته یې کتلای سئ، البته دلته د نذر په باره کي یو لویه او ارزښتناکه خبره ذکر کیږي او هغه دا چي د الله ﷻ څخه پرته د بل چا نذر منل جائز نه دي نه د نبي، نه د ملائکي، نه د ولي او نه د بل چا، د مثال په توګه داسي ووېل سي که زما فلانی کار وسو نو د فلاني بزرګ یا پیر پر قبر به څادر هوار کړم یا که زما فلانی کار وسو نو د فلاني لپاره به روژه ونیسم، همدارنګه د غیر الله نذر منل لویه ګناه ده، په دې باره کي د حضرت مولانا محمد اسحاق رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب مائة مسائل کي د معتبر او مستند کتابو په حوالو سره ګټوري خبري لیکلي دي چي د هغو دلته نقل ضروري دي:

مولانا صاحب وایي چي داسي نذر منل که الله ﷻ زما فلانی حاجت پوره کړي نو زه به د فلانی بزرګ یا پیر پر مزار باندي دومره روپۍ یا خوراک نذر کړم دا صحیح نه دی ځکه چي د الله ﷻ په نذر منلو کي څو شرطونه دي که هغه موجود سي نو نذر صحیح کیږي او که هغه شرطونه نه پوره کیږي نو بیا هغه نذر نه صحیح کیږي یو شرط خو دادی چي کوم شی د خپل طرف څخه نذر ومنل سي هغه باید داسي وي چي د هغه جنس په شرعي توګه واجب وي لکه لمونځ، روژه او داسي نور، ځکه که یو سړی د ناروغ د عیادت کولو نذر ومني یعني داسي ووایي که زما فلانی کار وسو نو زه به د فلاني فلاني ناروغ عیادت کوم نو دهغه نذر صحیح نه دی ځکه چي د ناروغ عیادت داسي جنس نه دی چي شرعا واجب دی.

دریم شرط دادی چي کوم شی نذر ومنل سي هغه في الحال یا ثاني الحال پر هغه واجب نه وي لکه لمونځ، روژه او داسي نور.

څو م شرط دادی چي کوم شی نذر ومنل سي هغه د يو گناه شی نه وي ، ددغه شرطونو په نظر کي نيولو سره دا ثابته سوه چي داسي نذر منل چي د فلاني بزرگ پر قبر به دومره روپۍ يا دومره خوراک نذر کوم صحيح نه دی ځکه چي يو ځای ته روپۍ يا خوراک رسول عبادت نه دی مگر که چيري داسي نذر ومنل سي که الله تعالی زما فلانی حاجت پوره کړ نو زه به د فلاني بزرگ د قبر خادمانو او مسکينانو ته خوراک ورکوم نو دا نذر به صحيح وي او ددې پوره کول به لازم وي مگر د نذر پوره کولو لپاره د هغه قبر دخادمانو او فقيرانو په ميځ کي تخصيص کول ضروري نه دی په کوم يو خادم او مسکين چي خوراک وخوړل سي نذر به پوره سي او که داسي ووايي که زما فلانی حاجت پوره سي نو زه به د فلاني بزرگ په نامه يا د فلاني بزرگ لپاره دومره روپۍ يا خوراک ورکړم دا ناجائز دي داسي نذر نه يوازي دا چي باطل او لغو دی بلکه د داسي نذر روپۍ او خوراک استعمالول هم حرام دی دا مسئله په بحر الرائق کي په تفصيل سره بيان سوې ده :

واما النذر الذي ينذره اكثر العوام على ما هو مشاهد كان يكون الانسان غائب او مريض او له حاجة ضرورية فياتي في بعض مزارات الصلحاء فيجعل ستره علي راسه ويقول يا سيدي فلان ان رد غائبي او عو في مريضي او قضيت حاجتي فلک من الذهب كذا او من الفضة كذا او من الطعام كذا او من الماء كذا او من القمع كذا او من الزيت كذا فهذه النذر باطل بالاجماع لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لايجوز لانه عبادة والعبادة لايكون لمخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لا يملک ومنها ان ظن ان الميت يتصرف في الامور دون الله فاعتقاده به ذالک كفر . اللهم الا ان يقال يا الله اني نذرت لک ان شفيت مريضي او رددت غائبي او قضيت حاجتي ان اطعم الفقراء الذين بباب السيدة نفيسة او الفقراء الذين بباب الامام الشافعي او الامام ابي الليث او اشترى حصيرا لمساجدهم او زيتا بوقودها او دراهم لمن يقوم بشعائرها الى غيرذالک مما يكون فيه النفع للفقراء والنذر لله عزوجل وذكر الشيخ انما هو لبيان محل تصرف النذر لمستحقيه القانطين برباطه او مسجده او جامعه فيجوز بهذا الاعتبار اذا مصرف النذر الفقراء وقد وجد المصرف ولايجوز ان يصرف ذالک لغني غير محتاج ولا لشريف النسب لانه لايحل له الاخذ ما لم يكن محتاج ولا لذي منصب لاجل منصبه ما لم يكن فقيرا ولا لذي علم لاجل علمه ما لم يكن فقيرا و لم يثبت في الشرع جواز التصرف للاغنياء للاجماع على حرمة النذر للمخلوق ولا ينعقد ولا يشتغل الذمة به وانه حرام بل سحت فلا يجوز لخادم الشيخ اخذه ولا اكله ولا التصرف فيه بوجه من الوجوه الا ان يكون فقيرا وله

عيال فقراء عاجزون عن الكسب وهم مضطر فياخذونه على سبيل الصدقة المبتداة واخذه ايضا مكروه ما لم يقصد به الناذر التقرب الى الله تعالى وصرفه الى الفقراء ويقطع النظر عن نذر الشيخ فاذا علمت هذا فما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت وغيرها وينقل الى ضرائح الاولياء تقربا اليهم فحرام باجماع المسلمين مالم يقصد و بصرفها الفقراء الاحياء قولا واحدا وكذا في النهر والدر.

ژباړه : او هغه نذر کوم چي اکثر عام خلک يې کوي چي داسي نذر مني که د يو چا قريب ورک سي يا ناروغ سي يا د هغه ضروري مراد وي نو هغه د يو بزرګ مزار ته ولاړ سي او د هغه پرده پر سر باندي په اچولو سره يا د قبر د څادر په نيولو سره داسي وايي چي اې زما فلانی پيره ! که زما قريب کوم چي ورک سوی دی بېرته راسي يا هغه ناروغ ته روغتيا تر لاسه سي يا زما فلانی مراد پوره سي نو زه به ستا پر نامه دومره زر يا دومره خوراک نذر کړم يا دومره اوبه به نذر کړم يا دومره شمع يا زيتون تېل به نذر کړم نو داسي نذر منل د ټولو علماؤ په نزد باطل دی او د هغه د باطل کېدو څو سببونه دي او د غير الله نذر جائز نه دی ځکه چي نذر په اصل کي عبادت دی او د مخلوق عبادت جائز نه دی او دوهم دا چي د چا په نامه نذر منل سوی وي هغه يو بې روحه دی او بې روحه مالک نه وي ، دريم دا که چيري دداسي نذر منلو په وخت کي يې دا ګمان کړی وي چي د الله تعالى څخه پرته دغه مړی هم د بندګانو په معامله کي تصرف کوي نو داسي عقيده درلودل کفر دينو هغه ته دي الله تعالى هدايت وکړي چي د داسي نذر منلو پر ځای داسي نذر ومنل سي چي اې الله ! زه ستا نذر منم که ته زما ناروغ ته روغتيا ورکړې يا زما ورک سوی قريب بېرته راولې يا زما فلانی مراد پوره کړې نو زه به د مثال په توګه هغه فقيرانو او خادمانو ته خوراک ورکوم کوم چي د بي بي نفيسه په دربار کي وي يا هغه فقيرانو او خادمانو ته به خوراک ورکوم کوم چي د امام شافعي يا امام ابو الليث پر دروازه دي يا زه به د هغه مسجدونو لپاره پوړني يا د هغه مسجدونو د رڼا لپاره تېل ورکوم يا زه به هغه خلکو ته روپۍ ورکړم چي ددغه بزرګانو د مسجدونو شعائر قائم ساتي يا د دوی څخه پرته د يو داسي شی ذکر وکړي چي په هغه کي د فقيرانو او مسکينانو ګټه وي نو په داسي نذر منلو کي نذر په اصل کي د الله تعالى لپاره وي او د بزرګ ذکر کول محض د نذر د مصرف بيانولو لپاره وي او هغه مصرف د نذر هغه مستحق دی چي د هغه بزرګانو د دربار يا د هغوی په مسجدو کي اوسيږي ، نو داسي نذر منل صحيح دی ځکه چي د نذر مصرف فقيران دي او هغه مصرف دلته تر لاسه سو او د نذر شی په غير محتاج باندي مصرف کول جائز نه دي او نه يو شريف النفس ته ورکول جائز دي ځکه چي

کله هغه محتاج نه وي نو د هغه لپاره د نذر سوي شي اخيستل صحيح نه دي او نه يو منصب والا ته ورکول جائز دي چي د هغه منصب په وجه هغه محتاج نه وي او نه اهل علم ته ورکول جائز دي چي د هغه علم په وجه هغه مستحق نه وي او په شريعت کي د نذر سوي شي د مصرف کولو جواز ثابت نه دی او پر دې باندي د علماؤ اجماع او اتفاق دی چي د مخلوق نذر منل حرام دی.

او که چيري يو څوک د يو مخلوق نذر ومني نو هغه نذر نه صحيح کيږي او نه د هغه نذر پوره کول پر هغه واجب دي او هغه نذر نه يوازي حرام بلکه د رشوت په حکم کي داخل دی او په هغه کي تصرف کول هم جائز نه دی مگر که چيري يو خادم محتاج وي او د خپلو کوچنيانو کفيل وي کوم چي د گټي کولو څخه معذور وي او هغوی د اضطرار په حالت کي وي نو هغوی ته د هغه نذر مال د صدقې په توگه اخيستل جائز دي مگر په دې صورت کي هم تر هغه وخته پوري اخيستل مکروه دي تر څو چي د نذر کونکي نيت د هغه بزرگ د نذر څخه قطع نذر پر تقرب الی الله او فقيرانو باندي د مصرف کولو نه وي ، کله چي تاسو ته د دغه تفصيل معلوم سو نو د اولياء الله د تقرب په نيت چي کومي روپۍ ، شمع ، تېل او داسي نور شيان د هغوی پر قبرونو نذر کيږي هغه د ټولو مسلمانانو په نزد په اتفاق سره حرام دي تر څو چي نذر کونکی هغه پر فقيرانو باندي د نذر کولو نيت ونه کړي . په النهر الفائق او الدر المختار کي هم داسي نقل سوي دي .

د مولانا محمد اسحاق رحمة الله عليه د نقل سوي منقولاتو څخه پرته په دې باره کي د مولانا رشيد الدين خان مرحوم صاحب د يو سوال چي کوم جواب ليکل سوی دی هغه هم د دې وړ دی چي د سوال سره دلته نقل کړل سي .

سوال : هغه خوراک چي د بزرگانو د نذر په توگه منل کيږي د هغه خوړل او داسي نذر منل او د هغه پوره کول جائز دي که يا ؟ که جائز دي نو څرنگه ؟ او ځيني نذرونه د حاجت په شرط پوره کېدل منل کيږي او ځيني نذرونه بېله شرطه منل کيږي په دغه دواړو کي فرق سته که يا ؟

جواب: په شريعت کي د نذر مفهوم دادی چي پر خپل ځان باندي د يو غير واجب شي واجبول ، دا په جامع الرموز کي ليکلي دي چي :

النذر ايجاب على النفس ما ليس عليها بالقبول : يعني د يو داسي شي پر ځان باندي واجبولو ته نذر وايي چي په هغه عمل کول د هغه لپاره ضروري نه وي .

امام رازي په تفسير کبير کي د دغه آيت کريمه (او نذرتم من نذر) په تفسير کي فرمايي چي:

النذر ما الزمه الانسان على نفسه: يعني نذر دادی چي انسان يې پر خپل ځان لازم کړي .

د نذر په لنډه توگه وضاحت دادی مگر زيات تفصيل يې د فقه او اصولو په کتابو کي ذکر

سوی دی.

نیاز د فارسي ژبي لفظ دی او ددغه لفظ څو معناوي دي چي په هغو کي یوه معنی دا هم ده: تحفه درویشان وکذا في البرهان القاطع، ددغه دواړو لفظو یعني نذر او نیاز دغه لغوي او اصطلاحي معنی په ذهن کي راوستلو سره د هغو شرعي حکم منل پکار دي چي نذر د الله تعالی څخه پرته د بل چا لپاره جائز نه دی او که یو څوک د غیر الله نذر و مني نو هغه به صحیح نه وي او داسي نذر اخیستل یا خوړل ناروا دی دا خو د نذر حکم دی او پاته سوه د نیاز معامله نو څرنګه چي معلومه سوه چي د نیاز لفظ معنی د تحفه درویشان ده که یو څوک د یو ژوندي بزرګ په خدمت کي یو شی د نیاز په توګه او د تحفې په توګه وړاندي کړي نو هغه جائز دی او هغه بزرګ ته د هغه شي خوړل یا استعمالول جائز دي همدارنګه که د یو مړه سوي بزرګ نیاز یعني فاتحه، ایصال ثواب وکړل سي نو دا نیاز هم جائز دي مګر د هغه نیاز د شي د خوړلو په باره کي تفصیل دی او هغه دا که چیري نیاز ورکونکی وفات سوي بزرګ ته د صدقې د مال ثواب د ثواب رسولو په نیت کړی وي نو د هغه شي خوړل یوازي فقیرانو ته جائز دي او شتمنو خلکو ته جائز نه دی او که چیري نیاز ورکونکی د عام مسلمانانو په حق کي د اجابت ماکولي ثواب هغه بزرګ ته د رسولو په نیت کړی وي نو په دغه صورت کي هغه شي خوړل هر چا ته جائز دی که هغه فقیر وي یا شتمن وي، خلاصه دا چي د یو بزرګ د تقرب تر لاسه کولو په نیت یاد حاجت تر سره کېدو په شرط سره د هغه بزرګ چي کوم نذر منل کیږي هغه د پورتنیو منقولاتو په رڼا کي ناجائز دی او د هغه نذر د شي خوړل یا استعمال ناروا دی مګر د کوم نذر تعلق چي نه د یو بزرګ د تقرب تر لاسه کولو په نیت وي او نه د یو حاجت تر سره کېدو په شرط وي بلکه مخکي هغه شی د الله تعالی د رضا او د هغه د خوښي تر لاسه کولو لپاره صدقه کیږي او بیا د هغه ثواب هغه بزرګ ته رسول کیږي نو د هغه شي خوړل او استعمال شتمنو خلکو ته جائز نه دی په شرط ددې چي نذر منونکي د هغه بزرګ د صدقه ماکولي ثواب رسولو نیت کړی وي او که چیري نذر منونکي د هغه بزرګ د اباحت ماکولي ثواب رسولو په نیت کړی وي نو د هغه شي خوړل او استعمال د شتمنو خلکو لپاره هم جائز دی او د فقیرانو لپاره هم جائز دی، ددغه تفصیل څخه معلومه سوه چي د نیاز هم داسي مسئله ده چي د بزرګانو نیاز که محض د ایصال ثواب په توګه وي نو جائز دی او د هغوی تقرب یاد هغوی د رضا تر لاسه کولو په نیت سره یو شی د هغوی په نامه پر څان باندي واجبول جائز نه دي که څه هم د هغه شي پر څان واجبول د یو حاجت د تر سره کېدو سره معلق وي او که د هغه څخه پرته وي ځکه چي دا نذر دی او نذر د الله ﷻ څخه پرته د بل چا لپاره

جائز نه دی نو واضحه سوه چي د حاجت تر سره کېدو سره په معلق کولو سره او یا د دې څخه پرته د یو شي پر ځان د الله ﷻ څخه پرته د بل چا په نامه واجبول په دواړو صورتو کي ناجائز دي مګر د بزرګانو نیاز په دې معنی جائز دی چي د هغه څخه د یو بزرګ تقرب یا د حاجت تر سره کېدو نیت نه وي بلکه د هغه مقصد محض د الله تعالی د رضا معمول او د هغه ثواب د هغه بزرګ ته رسول وي او نیاز کړی شي د ذکر سوي تفصیل سره سم خوړل او استعمال جائز دی.

په دلیل الضالین کي لیکلي دي چي نذر یوازي د الله ﷻ لپاره وي د بل چا لپاره نه وي که چیري یو څوک په نبیانو کي یا په ولیانو کي د یو ولي نذر ومني نو پر هغه هیڅ نه واجبیږي یعني هغه نذر پوره پر هغه سړي لازم نه دي او که چیري هغه سړی د هغه نذر شی په دې نیت سره یو چا ته ورکړي نو هغه سړی ته د هغه شي اخستل جائز نه دي که چیري هغه د خوراک یو شی وي نو د هغه خوړل حلال نه دي او که هغه شی یو ذبح سوی ځاروی وي نو هغه د مردار په حکم کي دی بلکه که چیري خلک هغه په بسم الله کولو سره وخوري نو ټول به کافران سي مګر که چیري یو سړی د الله تعالی لپاره نذر ومني او بیا هغه نذر کړی شی په خلکو وخوري او د هغه ثواب یو مړي ته وبخښي نو دا جائز دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿٣٢٦١﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَكْثَرَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْلِفُ لَا وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به اکثره وخت داسي قسم کوی: لا و مقلب القلوب (نه ده داسي قسم دی زما د زړونو په ګرځونکي). (بخاري)

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ١٣\٥١٣، رقم: ٧٣٩١.

تشریح: دا حدیث د دې دلیل دی چي د الله تعالی د صفاتو څخه په یوه صفت قسم خوړل جائز دي.

په غیر الله سره د قسم اخیستو منع

﴿٣٢٦٢﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يَنْهٰكُمْ أَنْ تَحْلِفُوْا بِاٰبَائِكُمْ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللّٰهِ أَوْ لِيَصْمُتْ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : الله جل جلاله تاسي د دې څخه منعه کوي چي تاسي په خپلو پلرو باندي قسم اخلئ که قسم ضروري وي نو یوازي يې په خداي تعالي اخلئ که نه نو چپ خوله سئ . (بخاري)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۳۰، رقم: ٦٦٤٦، ومسلم ۳\۱۲٦٦، رقم: ۳-۱٦٤٦.

تشريح: د پلار قسم کولو څخه منع د مثال په توګه ده اصل مقصد دا لاربنوونه کول دي چي د الله تعالی څخه پرته د بل چا قسم مه اخلئ په خاصه توګه د پلار ذکر کولو وجه داده چي د خلکو عادت وي چي هغوی د پلار قسم ډېر اخلي او د عبدالله د قسم کولو د منع وجه داده چي د الله تعالی د کمال عظمت او جلالت په سبب قسم د هغه د ذات سره مختص دی ځکه غير الله د الله جل جلاله مشابه کول نه دي پکار ، د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په باره کي نقل سوي دي چي هغه به فرمایل که زه سل واره د الله تعالی قسم واخلم او بيا يې مات کړم نو دا د هغه څخه غوره ګڼم چي د غير الله قسم واخلم او هغه پوره کړم مګر کوم چي د الله تعالی د پاک ذات سوال دی نو هغه ته بنايي چي هغه د خپل عظمت او جلالت د اظهار لپاره په خپل مخلوق کي څوک چي وغواړي قسم واخلي.

په دغه حديث کي يو اشکال پیدا کيږي چي يو وارد رسول الله ﷺ څخه داسي نقل سوي دي چي (افلح وابيه) يعني رسول الله ﷺ د پلار قسم وکړی، حال دا چي دغه حديث د هغه حديث خلاف دی، ددې جواب دادی چي د رسول الله ﷺ د پلار قسم کول د دغه منعي څخه مخکي واقع سوی دي په دغه صورت کي په دواړو حديثو کي اختلاف نه پاته کيږي يا دا چي رسول الله ﷺ په قصد سره قسم نه وو کړی بلکه د قسم دغه الفاظ د پخواني عادت په وجه د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه وتلي وه .

﴿۳۲٦۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِي وَلَا بِآبَائِكُمْ . رواه مسلم .

د حضرت عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چي تاسو مه په بتانو او مه په پلرو قسم اخلئ . (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۳٦۸، رقم: ٦-۱٦٤۸.

د لغاتو حل: الطواغي: جمع طاغية: والمراد الاصنام: (بتان).

تشريح: د جاهليت په زمانه كي به په عامه توګه د بتانو او پلرونو قسمونه كېدل، د اسلام منلو څخه وروسته رسول الله ﷺ خلک ددې څخه منع كړل چي په دې باره كي احتياط وكړي او د پخواني عادت په وجه دا ډول قسمونه دي نه كوي.

﴿۳۲۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى فَلْيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي قسم واخلي او په خپل قسم كي داسي ووايي چي په لات او عزى دي مي قسم وي نو هغه ته پكار ده چي: لااله الا الله دي ووايي (يعني توبه دي وكاږي چي هغه په بتانو قسم واخيستي) او څوک چي و خپل يو دوست ته ووايي چي راځه چي خمار وكړو نو هغه ته پكار ده چي صدقه يا خيرات وكړي. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۳۶، رقم: ٦٦۵۰، ومسلم ۱۳\۱۲٦۷، رقم: ۵- ۱٦۴۷.

تشريح: هغه دي لا اله الاالله ووايي: ددې مطلب دادی چي هغه دي الله تعالى ته توبه او استغفار وكړي، ددغه حكم دوې معناوي وي ۱: يو خو دا چي د لات او عزى نوم د يو نوي مسلمان د ژبي څخه په سهوه سره وځي نو د هغه د كفارې په توګه دي هغه كلمه ووايي ځكه چي الله تعالى فرمايي: (فان الحسنات يذهبن السيئات): بېشكه نيكۍ بدۍ له منځه وړي. نو په دغه صورت كي به د غفلت او سهوه څخه توبه وسي، ۲: دوهمه معنى داده كه چيري د هغوى د ژبي څخه د لات او عزى نوم د هغه بتانو د تعظيم په قصد سره وتلی وي نو دا صراحتا ارتداد او كفر دی نو ددې لپاره ضروري دي چي هغه د ايمان د تجديد لپاره كلمه ووايي نو په دغه صورت كي به د معصيت څخه توبه وي.

صدقه او خيرات دي وكړي: ددې مطلب دادی چي هغه خپل ملګري ته د خمار په دعوت وركولو سره د يو لوی بدۍ ترغيب وركړی دی او د هغه د كفارې په توګه هغه دي د خپل مال څخه يو څه برخه د الله جل جلاله په لاره كي مصرف كړي، ځيني حضرات وايي چي هغه د كوم مال په ذريعه د خمار كولو اراده كړې وي هغه مال دي صدقه او خيرات كړي، ددې څخه معلومه سوه

چي کله د محض د خمار کولو د ارادې کفاره داده چي صدقه او خيرات دي وکړي نو که يو څوک په حقيقت کي خمار وکړي نو د هغه به څه حشر وي.

د اسلام خلاف د بل مذهب د قسم اخيستو مسئله

﴿۳۲۶۵﴾: وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ثابت بن ضحاک ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ حَلَفَ عَلٰى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَذْرٌ

څوک چي د اسلام په خلاف په يوه بل مذهب باندي قسم وکړي او هغه دروا غجن وي نو هغه داسي دی لکه چي وواييي (مثلا هغه قسم وکړ که زه دا کار وکړم نو يهودي او يا نصراني به يم يا د اسلام څخه به بېزاره يم او وروسته د قسم کولو هغه کار وکړي او خپل قسم دروا غ کړي نو هغه هغسي دی يعني يهوډي نصراني او د اسلام څخه بېزاره دی)

فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ

څوک چي د يوه شي مالک نه وي نو د هغه شي نذر نه صحيح کيږي او څوک چي خپل ځان په خپله ووژني نو په کوم اله سره چي يې ځان وژلی وي نو د هغې الې په وسيله به تر قيامته پوري عذاب ورکول کيږي او څوک چي

لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهُوَ كَقَتْلِهِ وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللّٰهُ إِلَّا قِلَّةً. متفق عليه

په يوه مسلمان باندي لعنت وواييي د هغه ګناه داسي ده لکه چي هغه يې قتل کړ او څوک چي په يوه مسلمان باندي د کفر فتوی ولګوي د هغه ګناه همداسي ده لکه چي هغه يې قتل کړ او څوک چي د مال د حاصلولو په وجه د دروا غو دعوې وکړي نو الله جل جلاله به د هغه مال کم کړي. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\ ٤٦٤، رقم: ٦٠٤٧، ومسلم ١\ ١٠٤، رقم: ١٧٦–١١٠.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي د مثال په توګه يو سړی داسي قسم وکړي که زه فلانی کار وکړم نو يهودي يا نصراني به يم يا د اسلام څخه، يا د پيغمبر او يا د قرآن څخه

بېزاره یم او بیا د هغه خلاف وکړي یعني قسم دروا غ کړي په دې توګه چي کله هغه وکړ کوم چي د هغه د نه کولو قسم يې کړی وو نو هغه هم هغسي يهودي او نصراني سو يا د اسلام يا پيغمبر او یا قرآن څخه بېزار سو ځکه چي قسم په اصل کي د هغه کار نه کولو لپاره دی چي د هغه لپاره يې قسم کړی دی نو د قسم ريښتيا کېدل خو دادي چي قسم کوونکی هغه کار ونه کړي او که چيري هغه کار وکړي نو په خپل قسم کي به دروا غجن وي او اوس چي هغه دروا غجن سو نو هم هغسي به وي لکه څرنګه چي هغه ويلي دي.

د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي چي داسي قسم کونکی محض د قسم کولو په وجه د هغه قسم ماتولو څخه وروسته کافر کيږي ځکه چي په داسي قسم کولو سره د يو صريح حرام کار ارتکاب کوي او بيا هغه قسم په دروا غ کولو سره کفر په رضا او شوق اختيا روي مګر دا هم احتمال دی چي ددغه ارشاد مراد دا بيانول نه وي چي داسي قسم کونکی په حقيقت کي يهودي وغيره کيږي بلکه ددې څخه مراد د تهديد په توګه دا ظاهروي چي هغه سړی د يهوديانو په ډول د عذاب وړ کيږي ، ددې مثال د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی چي (من ترک الصلوة فقد کفر) يعني چا چي لمونځ پرېښودی هغه کافر سو، ددغه ارشاد مطلب هم دادی چي لمونځ پرېښودونکی د کافرانو په ډول د عذاب وړ کيږي ، اوس پاته سوه دا خبره چي داسي قسم کول که څه هم حرام دی مګر که چيري يو څوک داسي قسم وکړي نو ايا په شرعي توګه سره هغه ته قسم ويل کيږي او ايا ددغه قسم په ماتولو سره کفاره واجبيږي که يا ؟ په دې باره کي د علماؤ مختلف قولونه دي ، د امام ابوحنيفة او ځيني علماؤ قول دادی چي دا قسم دی او که چيري دا قسم مات کړل سي نو پر هغه به کفاره واجب وي، د دوی دليل په هدايه او نورو کتابو کي نقل سوي دی ، امام مالک او امام شافعي رحمة الله عليهما فرمايي چي په داسي ويلو باندي د قسم اطلاق نه کيږي يعني په شرعي توګه سره دې ته قسم نه سي ويل کيدای او کله چي دا قسم نه دی نو ددې د ماتولو کفاره هم نه واجبيږي مګر داسي ويونکی به سخت ګناه کار وي که څه هم هغه خپل خبره پوره کړي يا ماته يې کړي.

په درمختار کي ليکلي دي چي صحيح خبره داده چي داسي قسم کونکی د هغه پر خلاف د عمل کولو په صورت کي نه کافر کيږي که څه هم د هغه تعلق د تېري زمانې سره وي يا د راتلونکي زمانې سره وي په شرط ددې چي د داسي ويلو په باره کي هغه د قسم عقيده ولري مګر که چيري هغه دداسي قسم کولو څخه لاعلمه وي او په دغه عقيده سره دغه الفاظ ادا کړي چي داسي ويونکی د خپل خبري د دروا غ کېدو په صورت کي کافر کيږي نو خامخا ددغه خبري تعلق د

تېرې زمانې سره وي يا په راتلونکې زمانه کې د يو شرط په پوره کولو سره وي په هغه دواړو صورتو کې کفر په خپل رضا او شوق سره د اختيارولو په وجه کافر کيږي.

او پر هيڅ انسان باندې د هغه شي نذر پوره کول واجب نه دي کوم چې د هغه مالک نه وي، دديې مطلب دادی چې د مثال په توګه يو سړی داسي ووايي که زما فلانی قريب روغ سو نو زه به فلانی غلام ازاد کړم حال دا چې هغه غلام په حقيقت کې د هغه په ملکيت کې نه وي نو په دې کې هغه نذر پوره کول واجب نه دی که څه هم ددې څخه وروسته هغه غلام د هغه په ملکيت کې راسي مګر که چيرې هغه ازادي په ملکيت سره مشروط کړل يعني داسې يې وويل که زما فلانی قريب روغ سو او فلانی غلام زما په ملکيت کې راغلی يا فلانی غلام ما رانيوی نو زه به هغه ازاد کړم نو په دغه صورت کې هغه غلام په ملکيت کې د راتلو څخه وروسته يا د رانيولو څخه وروسته د هغه نذر سره سم به ازاد کړل سي چې کله د هغه په مال کې زياتوب وسي دا د اکثرو په اعتبار د دعوې د علت او سبب ته اشاره ده چې اکثر خلک محض په خپل مال کې د زياتوب په وجه د درواغو دعوې کوي ددغه الفاظو مراد دا قيد لګول دي که يو سړی په خپل مال کې دا زياتوب د مقصد څخه پرته د درواغو دعوه وکړي او د هغه په حق کې مذکوره ثمره (يعني د الله تعالی له خوا د هغه په مال کې د کمي کېدو څخه مرتب کيږي) د درواغو دعوې مذکوره ثمره محض د مال سره تعلق نه لري بلکه دا ثمره د هغه خلکو په حق کې مرتب کيږي چې د خپل حال او فضائل په باره کې محض په دې مقصد سره درواغ وايي چې د عامو انسانانو په نظر کې د هغه عزت او مرتبه زياته سي لکه څرنګه چې په نامه د صوفيانو او شتمنو خلکو طريقه ده.

که چيرې په قسم ماتولو کې خير وي نو هغه قسم ماتول پکار دي

﴿٣٢٦٦﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم په خدای چې زه په

إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ. متفق عليه.

يو شی قسم واخلم او هغه شی بهتر وي نو زه به خپل قسم مات کړم او د قسم کفاره به ورکړم او د هغه څخه په بهتر شی باندې به عمل وکړم. (بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٦٠١ - ٦٠٢، رقم: ٦٧١٨، ومسلم ٣\١٢٦٩، رقم: ٧- ١٦٤٩.

تشريح: مطلب دادی که زه د يو کار په باره کي قسم وکړم چي هغه کار به نه کوم مګر بيا پوه سم چي هغه کار کول غوره دی نو په قسم ماتولو سره کفاره به ادا کړم او هغه کار به وکړم، د دغه مسئلې مثالونه به د راتلونکي حديث په تشريح کي بيان سي.

﴿٣٢٦٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و ماته وفرمايل:

وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ

اې عبدالرحمن بن سمره! ته د يوه ځاي مشري په خپل خواهش سره مه حاصلوه ځکه که ستا په خواهش سره مشري درته حاصله سوه

مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُوتِيتَهَا عن غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا وَإِذَا حَلَفْتَ

نو ته به د هغه د بوج پورته کونکي يې او که په بې خواهشه درته مشري درکول سي نو په هغه به ستا کومک کيږي او کله چي ته په يو شی باندي قسم وکړې

عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ. و في رواية فأت الذي هو خير و كفر عن يمينك. متفق عليه.

او د قسم خلاف کار بهتر خيال وي نو د خپل قسم کفاره ورکړه او هغه ښه کار په ځان کي راوله او په يو بل روايت کي داسي دي چي په هغه ښه کار باندي عمل وکړه او د خپل قسم کفاره ورکړه. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\١٢٣، رقم: ٧١٤٦، ومسلم ٣\١٢٧٣، رقم: ١٩- ١٦٥٢.

تشريح: د مشرتوب خواهش مه کوه: د دې مطلب دادی چي سرداري او مشرتوب يو معمولي شی نه دی بلکه يو ډېر سخت او مشکل کار دی د هغه فرضونه او د حقونو ادا کول د هر سړي د وس کار نه دی بلکه کوم خلک چي د دغه بار پورته کولو وړتيا لري نو د نفس په حرص کي په اخته کېدو سره د مشرتوب او سردارۍ خواهش مه کوه ځکه که چيري ته په خپل غوښتنه سره

مشرتوب او سرداري تر لاسه کړي نو بيا به ته هغې ته حواله کړل سې په دې معنی چې د هغه د فرضو په ادا کولو کي به د الله تعالی له خوا ستا مرسته نه کيږي او د هغه نتيجه به دا وي چې هر ځلور خوا و ته به شر او فساد وي او ته به د مخلوق په نظر کي ډېر په بې عزتی. سره د هغه مطلب نا اهل وګرځول سې مګر که چيري بېله غوښتني ته د سرداری او مشرتوب مرتبې ته ورسيږي نو په هغه صورت کي به د الله تعالی له خوا ستا مرسته کيږي چې د هغه نتيجه به دا وي چې ستا د ټولو کارو انتظام به صحيح وي او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د مخلوق په نظر کي به ستا ډېر زيات عزت وي او هغه کار کوه کوم چي غوره وي: ددې مطلب دادی که چيري ته د يو ګناه پر کار باندي قسم وکړې مثلاً داسي وواېې چي قسم په خدای زه به لمونځ نه کوم، يا قسم په خدای زه به فلانی سړي وژنم، يا قسم په خدای زه به د خپل پلار سره خبري نه کوم نو په دغه صورت کي هغه قسم ماتول واجب دي او د قسم ماتولو کفاره به ادا کوي او که چيري پر يو داسي کار باندي قسم وکړل سي چي د هغه خلاف کول تر هغه غوره وي مثلاً داسي وويل سي چي قسم په خدای زه به د خپل ښځي سره تر يوه مياشت پوري کوروالي نه کوم يا دا ډول پر يو بل کار باندي قسم وکړل سي نو په دغه صورت کي به د هغه قسم ماتول غوره وي، په دې باره کي زيات تفصيل د باب په شروع کي تېر سوی دی.

دلته چي کوم روايتونه نقل سوي دي په هغه دواړو روايتو کي فرق دادی چي د اول روايت څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي د قسم ماتولو څخه مخکي کفاره ادا کول پکار دي حال دا چي د دوهم روايت څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي کفاره د قسم څخه مخکي ادا کول جائز دي مګر د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په نزد دا جواز په دې تفصيل سره دی که چيري د کفارې ادا کول د روژې په صورت کي وي نو د قسم ماتولو څخه مخکي کفاره ادا کول جائز نه دي او که چيري د کفارې ادا کول د غلام ازادولو يا مسکينانو ته د خوراک ورکولو يا د جامې ورکولو په صورت کي وي نو بيا د قسم ماتولو څخه مخکي د کفارې ادا کول به جائز وي.

د امام ابو حنيفة رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ مذهب دادی چي د قسم ماتولو څخه مخکي د کفارې ادا کول په هيڅ صورت کي جائز نه دي، هغه فرمايي چي د کومو حديثو څخه د کفارې تقدم معلوميږي په هغه کي واو محض د جمع لپاره دی ددې څخه د تقديم او تاخير مفهوم مراد نه دی او نه حقيقتاً هغه حديثونه پر تقديم او تاخير باندي دلالت کوي.

﴿۳۲۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ

عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَفْعَلْ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي په يوه خبره باندي قسم واخلي او بيا د قسم خلاف هغه کار ښه وبولي نو هغه کار دي وکړي او د قسم کفاره دي ادا کړي . (مسلم) .

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۲۷۲، رقم: ۱۲- ۱۶۵۰.

﴿۳۲۶۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَاللَّهِ لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتِي افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْهِ . متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په خداي دي مي قسم وي چي ستاسو قسم د خپل کور په اړه وي اصرار يا ضد کول (دا قسم) د خدای تعالی په نزد د دې څخه زياته ګناه لري څومره چي قسم ماتول او د هغې کفاره ورکول چي الله جل جلاله پر فرض کړې وي . (بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۱۷، رقم: ۶۶۲۵، ومسلم ۳\۱۲۷۶، رقم: ۲۶- ۱۶۵۵.

د لغاتو حل: يلج: ای يصر ويقيم: ټينګار کوي.

تشريح: مطلب دادی که چيري په قسم ماتولو کي په ظاهره کي د الله تعالی د نامه د عزت او حرمت سپکاوی وي او قسم ماتونکی هم هغه دخپل خيال سره سم ګناه ګڼي مګر د هغه قسم پر پوره کولو باندي ټينګار کول چي د کورنی د حق تلفی باعث وي د زياتي ګناه خبره ده ، ددې حديث مقصد دا واضح کول دي چي د قسم پر خلاف د محل د خير ظاهرېدو په صورت کي قسم ماتول او د هغه کفاره ادا کول لازم دي .

د يو تنازعې په صورت کي د قسم ورکونکي د نيت اعتبار دی

﴿۳۲۷۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا قسم هغه وخت صحيح

كيږي چي قسم د ركونكي تا ريښتنى وګڼي . (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۲۷۴، رقم: ۲۰- ۱۶۵۳.

تشريح: مطلب دا دى چي د قسم د ريښتوني ثابت كېدو په باره كي د هغه سړي د نيت او ارادې اعتبار وي چا چي تا ته قسم دركړى وي په هغه كي د قسم كونكي نه د نيت اعتبار وي او نه به د هغه د تاويل اعتبار كيږي مګر ددې حكم تعلق د تنازعې په صورت كي هغه دى كله چي د قسم وركونكي يو حق او غوښتنه پر قسم كونكي باندي وي او د قسم كونكي په تاويل سره د هغه حق ساقط كيږي دا داسي ده لكه د يو محكمې په صورت كي چي قاضي مدعا عليه ته قسم وركوي نو په دې كي به د قاضي د نيت اعتبار وي مګر كه چيري د چا د حق تلفى يو معامله نه وي يا يو څوک قسم وركونكى نه وي نو بيا په توريه كي څه پروا نه سته په خاصه توګه كله چي د توريه په وه د چا ګټه وي لكه حضرت ابراهيم عليه السلام چي خپل بي بي ساره رضي الله عنها د ظالمانو د ظلم څخه د ساتني لپاره داظاهره كړه چي دا زما خور ده ، بي بي ساره رضي الله عنها ته د خور په ويلو سره د حضرت ابراهيم عليه السلام مراد دا وو چي دا زما ديني خور ده .

﴿۳۲۷۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَمِينُ عَلَى نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ. رواه مسلم

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم د قسم وركونكي په نيت باندي مبني دى . (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم: ۳\ ۱۲۷۴، رقم: ۲۱- ۱۶۵۳.

پر لغوه قسم باندي مؤاخذه نه سته

﴿۳۲۷۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دى چي دا ايت : لايؤخذكم .... فى ايمانكم . (الله جل جلاله ستاسو په (پالتو) قسمونو باندي مؤاخذه نه كوي)

أَيْمَانِكُمْ ﴾ فِي قَوْلِ الرَّجُلِ لَا وَاللَّهِ وَبَلَى وَاللَّهِ . رواه البخاري و في شرح السنة لفظ المصابيح وقال رفعه بعضهم عن عائشة.

دا د هغو خلكو په باره كي نازل سوې دی چي په هره خبره به يې قسم اخيستئ قسم په خداي ما دا كار نه دي كړی او قسم په خداي چي دا كار ما ندي كړی (يعني د هغو خلكو تكيه كلام دا الفاظ وو او خپل قسم يې مقصد نه وو). (بخاري) او په شرح السنه كي د مصابيحو دا الفاظ دي : چي ځينو راويانو دا حديث د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه مرفوع نقل كړې دی .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٥٤٧، رقم: ٦٦٦٣، شرح السنة ١٠\١١. رقم: ٢٤٣٤.

تشريح: د عربو دا عادت وو چي هغوی به په خپلو كي د خبرو كولو پر وخت پر هره خبره دا ويل چي لا والله يا بلی والله ، د دغه الفاظو څخه د هغوی مقصد قسم كول نه وو بلكه په خپله خبره كي زور پيدا كولو لپاره يا د تكيه كلام په توګه به هغوی دغه الفاظ ويل ، په دغه صورت كي قسم نه واقع كيږي او دې ته لغو قسم وايي، امام شافعي رحمه الله په دې عمل كړی دی د هغه په نزد لغو قسم هغه قسم ته وايي چي بېله قصد په ماضي يا مستقبل زمانه كي د ژبي څخه ووځي ، د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله په نزد لغو قسم هغه قسم ته وايي چي پر يو داسي خبري باندي وكړل سي چي د هغه په باره كي د قسم كونكي ګمان دا وي چي هغه صحيح ده مګر په حقيقت كي هغه صحيح نه وي د دې تفصيل د باب په شروع كي بيان سوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غير الله د قسم منع

﴿٣٢٧٣﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ وَلَا بِالْأَنْدَادِ وَلَا تَحْلِفُوا بِاللّٰهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ . رواه ابوداؤد والنسائي .

: حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : تاسو په خپلو پلرو باندي قسمونه مه اخلئ او نه په ميندو او نه په بتانو او په خداي تعالي باندي هم قسم مه اخلئ تر څو پوري چي تاسو په خپلو خبرو كي رېښتني نه ياست . (ابو داؤد نسائي)

تخريج: سنن ابي داود ٣\٥٦٩، رقم: ٣٢٤٨، والنسائي ٧\٥، رقم: ٣٧٦٩.

لغاتو حل: الانداد : اى الاصنام. (بتان).

﴿٣٢٧٤﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْ أَشْرَكَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چاچي د الله جل جلاله څخه ماسېوا په بل شی باندي قسم واخيستی هغه شرک وکړ. (ترمذي)

تخريج: سنن الترمذي ٤\٩٣، رقم: ١٥٣٥.

تشريح: مطلب دادی چي کوم څوک د غير الله قسم د هغه په تعظيم او عقيدې سره وکړي هغه شرک جلي يا شرک خفي وکړ ځکه چي په داسي کولو سره په هغه تعظيم کي غير الله شريک کړ چي يوازي د الله تعالی لپاره خاص دی.

په عامه توګه د خلکو عادت دادی چي هغوی د خپل يو قريب په ډېره مينه کي دا ډول قسم اخلي لکه چي داسي ووايي چي په زوی دي مي قسم وي يا د هغه په ځان دي مي قسم دي دا هم د ګناه څخه خالي نه دی که څه هم پر دې باندي د شرک حکم نه جاري کيږي مګر که د پخواني عادت په وجه که چيري د يو چا د ژبي څخه بېله قصده د مثال په توګه داسي ووتل چي په خپل پلار دي مي قسم وي يا په خپل زوی دي مي قسم وي ما دا کار نه دی کړی نو پر دې باندي د ګناه او شرک اطلاق نه کيږي.

﴿٣٢٧٥﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ فَلَيْسَ مِنَّا. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچي د امانت قسم واخيستی (يعني د الله جل جلاله د نوم اخيستو څخه بغير يې يوازي د امانت قسم واخيستی) هغه زموږ څخه نه دی. (ابوداؤد نسائي).

تخريج: سنن ابي داود ٣\٥٧١، رقم: ٣٢٥٣.

تشريح: د دغه ارشاد مبارک خلاصه داده چي کوم څوک الله تعالی د اضافت کولو څخه پرته محض د امانت قسم وکړي د هغه شمېر به زموږ په پيروانو کي نه وي ځکه چي دا د اهل کتابو عادت دی او د غير الله په قسم کي دي، ځيني حضرات وايي چي په دغه ارشاد کي د امانت څخه مراد فرضونه دي يعني د رسول الله ﷺ مقصد د لمانځه او حج په ډول د فرضو قسم کولو

څخه منع كوي ، په هر حال په دواړو صورتو كي د ټولو علماؤ په نزد دا ډول قسم په ماتولو سره كفاره نه واجبيږي او كه چيري په امانت الله يعني د الله تعالى په امانت سره قسم وكړي نو دا كثرو علماؤ په نزد په دې كي هم كفاره واجب نه ده مگر امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله دا مني چي په دې وجه چي امين د الله تعالى يو نوم دى ځكه نو دهغه په نزد په دې كي كفاره واجب ده ، يا دا هم ويل كيږي چي د امانت الله څخه مراد كلمه توحيد ده .

د اسلام څخه د بېزارۍ د قسم مسئله

﴿۳۲۷۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :څوك چي دا ووايي چي زه د اسلام څخه بېزاره يم (يعني دا ووايي كه زه داسي كار وكړم نو د اسلام څخه بېزاره يم)

مِنَ الْإِسْلَامِ فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَإِنْ كَانَ صَادِقًا فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْإِسْلَامِ سَالِمًا . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

بيا هغه درواغجن وي (يعني هغسي كار يې وكړ)نو بيا هغه هغسي دى (يعني واقعي د اسلام څخه بېزاره دى)او كه هغه ريښتني وي نو هغه په پوره توگه سره د اسلام و لور ته نه را ځي .
(ابوداؤد نسائي ابن ماجه)

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۵۷۴، رقم: ۳۲۵۸، والنسائي ۷\ ۶، رقم: ۳۷۷۲، وابن ماجه ۱\ ۶۷۹، رقم: ۲۱۰۰.

تشريح: مطلب دادى كه چيري يو سړى داسي قسم وكړي كه ما فلانى كار كړى وي نو زه د اسلام څخه بېزاره يم نو كه چيري هغه په خپل خبرهٔ كي درواغجن وي يعني په حقيقت كي هغه كار كړى دى نو هغه د اسلام څخه بېزاره سو ، يا دغه ارشاد د قسم كولو د سخت منع ظاهرولو لپاره د مبالغې په توگه فرمايل سوى دى كه چيري هغه سړى په خپله خبره كي ريښتونى وي يعني په حقيقت كي هغه كار نه دى كړى نو په هغه صورت كي هم د هغه داسي ويل د گناه څخه خالي نه دي ځكه چي د داسي قسم كولو څخه مسلمانان منع سوي دي .

شيخ عبدالحق محدث رحمه الله په دغه روايت كي ذكر سوى قسم پر منعقده قسم باندي محمول كړى دى لكه څرنگه چي د حضرت ثابت رضي الله عنه په روايت كي ذكر سوى قسم هم پر منعقده قسم باندي محمول سوى دى ، ددې وضاحت د حضرت ثابت رضي الله عنه د روايت په تشريح كي تېر

سوی دی مګر ملا علي قاري رحمه الله دا پر غموس قسم باندي محمول کوي ، ددغه کتاب د مؤلف په نزد دواړه قسمونه پر منعقده باندي هم محمول کیدای سي او پر غموس باندي هم.

رسول الله ﷺ په ځینو ځایو کي څرنګه قسم اخیستی

﴿٣٢٧٧﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ. رواه ابوداؤد.

د ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به چي کله په قسم کولو کي زور وکړ نو داسي به یې ویل: قسم په هغه ذات چي د هغه په لاس کي د ابو القاسم روح دی. (ابوداؤد)

تخریج: سنن ابي داود ٣\٥٧٧، رقم: ٣٢٦٤.

تشریح: ابو القاسم د رسول الله ﷺ کنیت دی، د رسول الله ﷺ د قسم په دغه الفاظو کي د تاکید او سختی په دغه معنی کي دی چي دغه الفاظ د الله تعالی د قدرت او د رسول الله ﷺ د کامل عبودیت او د نفس مبارک مسخر او مطیع کېدو باندي دلالت کوي.

﴿٣٢٧٨﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَتْ يَمِينُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَلَفَ لَا وَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ قسم به داسي وو یا (یعني دا خبره نه ده) زه د خدای تعالي څخه بخښنه غواړم. (ابوداؤد ابن ماجه)

تخریج: سنن ابي داود ٣\٥٧٧، رقم: ٣٢٦٥، وابن ماجه ١\٦٧٧، رقم: ٢٠٩٣.

تشریح: دغه الفاظو ته قسم ویل ځکه دي چي دغه الفاظ د خپل معنی او مفهوم په اعتبار د قسم مشابه دي ځکه چي ددغه الفاظو معنی ده که دا خبره ددې پر خلاف وي نو زه د الله جل جلاله څخه بخښنه غواړم او ظاهره ده چي داسي ویل د خپل خبري ټینګول او مؤکد کول دي نو دا د قسم په حکم کي سو.

د قسم سره د ان شاء الله ویلو مسئله

﴿٣٢٧٩﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي قسم واخیستی نو

عَلَى يَمِينٍ فَقَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي ، و ذكر الترمذي جماعة وقفوه على ابن عمر .

د هغه سره يې انشاء الله هم وويل (نو د هغه قسم په خلاف كولو سره) په هغه څه ګناه نسته .(ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي) په ترمذي کي د يوه جماعت ذکر وکړ چا چي دا په ابن عمر رضي الله عنه باندي موقوفه کړي دی .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۹۱، رقم: ۱۵۳۱، وابوداود ۲\۵۷۵، رقم: ۳۲۶۱، والنسائي ۷\۲۵، رقم: ۳۸۳۰، وابن ماجه ۱\۶۸۰، رقم: ۲۱۰۵، والدارمي ۲\۲۴۲، رقم: ۲۳۴۲.

تشريح: د حنث معنی د ګناه او قسم ماتولو ده ، قسم ماتونکي ته حانث ويل کيږي، د حديث خلاصه داده چي د کوم قسم په الفاظو سره لفظ د ان شاء الله تعالى وويل سي نو هغه منعقده قسم نه وي او کله چي هغه منعقده قسم نه وي نو د هغه په ماتولو سره کفاره هم نه واجبيږي همدارنګه د ټولو عقدو او معاملاتو هم دا حکم دی ، که چيري د عقد د الفاظو سره انشاء الله متصل وي نو هغه به عقد او معامله منعقده نه وي ، د اکثرو علماؤ او امام ابو حنيفة رحمه الله دا مذهب دی، مګر د حضرت ابن عباس رضي الله عنه قول دا وو چي د ان شاء الله تعالى په متصل کيدو سره هم دغه حکم دی . په دې باره کي د متصل او منفصل حد دادی چي د قسم د الفاظو څخه وروسته په بله خبره کي د بوختيا څخه پرته ان شاء الله تعالى وواييي نو دا متصل دی او که چيري د قسم څخه وروسته په بله خبره کي بوخت سي او بيا ان شاء الله وواييي نو دا منفصل دي ځيني علماء د متصل حد بل څه هم بيان کړی دی چي د هغه تفصيل په مرقاة کي تر لاسه کيدای سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

غير مناسب قسم مات کړئ او د هغه کفاره ادا کړئ

﴿۳۲۸۰﴾: عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ

د حضرت ابو الاحوص عوف بن مالک رضي الله عنه څخه هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي هغه وايي ما عرض وکړ يا رسول الله!

أَرَأَيْتَ ابْنَ عَمٍّ لِي أَتَيْتُهُ أَسْأَلُهُ فَلَا يُعْطِينِي وَلَا يَصِلُنِي ثُمَّ يَحْتَاجُ إِلَيَّ

تاسو ماته په دې معامله کي څه حکم راکوي چي کله ما ته ضرورت سي زه خپل د اکا زوی ته د څه غوښتلو لپاره ورځم نو هغه ضرورتًا ما ته څه نه راکوي او نه زما سره په خپله ښه چلن کوي بیا چي و هغه ته ضرورت پېښ سي

فَيَأْتِينِي فَيَسْأَلُنِي وَقَدْ حَلَفْتُ أَنْ لَا أُعْطِيَهُ وَلَا أَصِلَهُ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الَّذِي

نو هغه ماته راځي زما څخه یې غواړي او ما په دې خبره باندي قسم اخیستي دی چي زه به هیڅ نه ورکوم او نه به د هغه سره هیڅ ډول ښه چلن کوم نبي کریم ﷺ حکم وکړ هغه کار کوه

هُوَ خَيْرٌ وَأُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِي . رواه النسائي وابن ماجة و في رواية قال قلت يا

چي بهتر وي (یعني د هغه ضرورت پوره کړه او د هغه سره ښه چلن هم وکړه) او د خپل قسم کفاره ورکړه .(نسائي ابن ماجه) د ابن ماجه په روایت کي دا الفاظ دي مالک و نبي کریم ﷺ

رسول الله يأتيني ابن عمي فأحلف ان لا اعطيه ولا اصله قال كفر عن يمينك

ته عرض وکړ یا رسول الله! زما د اکا زوی زما څخه د یو څه د غوښتو لپاره راځي او زه قسم اخلم چي ده ته به څه نه ورکوم او نه به د هغه سره هیڅ ډول ښه چلن کوم نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ته د غلط قسم د قسم په اخیستلو سره کفاره ورکړه .

تخريج: سنن النسائي ٧\١١. رقم: ٣٧٨٨، وسنن ابن ماجه ١\ ٦٨١، رقم: ٢١٠٩.

==========

بَابُ فِي النُّذُوْرِ (د نذرو بیان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نذر ممانعت

﴿٣٢٨١﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنُ عُمَرَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْذِرُوا فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ

الْبَخِيلِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو نذر په خپلو ځانو باندي مه ايږدئ ځکه چي نذر د تقدير څخه هيڅ شی نسي ليري کولای البته په دې سره د بخيل انسان څخه يو اندازه مال خرڅيږي . (بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۹۹، رقم: ۶۶۰۹، ومسلم ۳\۱۲۶۱، رقم: ۵- ۱۶۴۰.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو په ذريعه د الله جل جلاله په لاره د خپل مال مصرف کولو په باره کي د سخي او بخيل په مينځ کي يو ډېر باريک فرق ښوول سوی دی چي د سخي شان داوي چي هغه خپل بېله واسطې نذر د الله جل جلاله په لاره کي خپل مال مصرف کوي مگر بخيل ته ددې توفيق نه وي که هغه مال مصرف کړي نو د هغه لپاره د نذر واسطه جوړوي او دا وايي که زما فلانی کار وسو نو زه به د الله جل جلاله په نامه دومره مال مصرف کوم ، همدارنگه سخي د ايثار (قرباني) وصف اختياروي او بخيل د غرض لار اختياروي .

ددغه حديث په وجه ځيني علماء نذر منل مکروه گرځولی دي مگر قاضي رحمه الله ددغه حديث په وضاحت کولو سره فرمايلي دي چي په عامه توگه سره د خلکو عادت دی چي هغوی نذر د يو گټي د ترلاسه کولو او د يو حاجت او ضرورت د پوره کولو لپاره معلق کوي ، رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل ځکه چي دا د بخيلانو کار دی سخي چي کله د الله تعالی تقرب او د هغه رضا ترلاسه کوي نو هغه په دې کي تلوار کوي او سمدستي خپل مال د الله جل جلاله په لار کي مصرف کوي مگر ددې پر خلاف د بخيل دا حال وي چي د هغه زړه دا نه زغمي چي په خپل لاس سره خپل مال يو چا ته ورکوي مگر که د هغه يو مقصد وي نو هغه خپل مال مصرف کوي يا خو هغه خپل د حاجت پوره کولو څخه وروسته د الله جل جلاله په نامه خپل مال راباسي يا د الله جل جلاله په لار کي د خپل مال را ايستل د يو گټي د ترلاسه کولو يا د يو ضرر د دفع کولو لپاره کوي يعني دا نذر مني که زما فلانی کار وسو يا ما ته فلانی تاوان ونه رسيدی نو زه به خپل دومره مال د الله جل جلاله په لار کي مصرف کړم او ظاهره ده چي په دې خبري سره د تقدير فيصله نه بدليږي نو په دغه صورت کي هم هغه ته د مال مصرف کولو نوبت نه راځي مگر کله چي د هغه نذر د تقدير د فيصلې موافق سي نو هغه نذر هغه بخيل سړی د خپل هغه مال په مصرف کولو باندي مجبور کوي چي د هغه د مصرف کولو اراده يې نه درلودل .

ځيني حضرات وايي چي په دغه حديث کي د نذر څخه د منع کولو مقصد دادی چي د نذر

منلو ئخه وروسته د هغه په پوره كېدو كي سستي ونه كړل سي ځكه چي كله نذر ومنل سي نو د هغه نذر پوره كول د هغه پر ذمه واجب سي نو دد غه واجب په ادا كولو كي زنډ مناسب نه دی او د ځينو علماؤ په نزد دلته د نذر د منع ئخه دا مراد دی چي په دې عقيده او خيال سره نذر منل چي الله تعالی كوم كار مقدر كړی نه دی هغه به په نذر سره وسي نو د نذر ئخه منع كول په دې اعتبار نه دی چي مطلق د نذر ئخه منع كول مقصد دي .

د كوم نذر په پوره كولو كي چي گناه وي هغه مه پوره كوئ

﴿٣٢٨٢﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِهِ . رواه البخاري.

د بي بي عائشې ﷺ ئخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ئوك چي د الله ﷻ د اطاعت نذر و مني هغه ته پكار ده چي خپل نذر پوره كړي او د الله ﷻ اطاعت وكړي او ئوك چي د الله ﷻ د نافرماني نذر وكړي نو هغه دي خپل نذر نه پوره كوي او د الله ﷻ نافرماني دي نه كوي . (بخاري)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٥٨١، رقم: ٦٦٩٦.

﴿٣٢٨٣﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصين ﷺ ئخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ . رواه مسلم و في رواية لا نذر في معصية الله .

د گناه د نذر پوره كول جائز نه دی او نه د هغه شي نذر پوره كول جائز دی چي په وس او توان كي يې نه وي ..(مسلم) او په يوه روايت كي دا الفاظ دي د خداي تعالي د نافرماني نذر پوره كول جائز نه دی .

تخريج صحيح مسلم ٣\١٢٦٣، رقم: ٨- ١٦٤١.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دا دی كه چيري يو ئوك د يو گناه كولو نذر ومني مثلا داسي ووايي كه چيري زما فلانی حاجت پوره سو نو زه به د غزلو پروگرام جوړوم يا داسي

ووايي چي زه به د الله تعالی د رضا لپاره د قوالۍ پروګرام پر ځای واجبوم نو داسي نذر پوره کول جائز نه دی او نه په دغه صورت کي د نذر نه پوره کولو کفاره واجبیږي ، د امام شافعي او امام مالک رحمة الله علیهما قول هم دادی حال دا چي په دغه صورت کي د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په نزد د قسم کفاره واجبیږي .

د حدیث د دوهمي برخي مطلب دادی چي د یو داسي شي نذر منل چي هغه په خپل ملکیت کي نه وي نو د هغه نذر پوره کول جائز نه دي مثلاً که چیري یو څوک د یو بل چا غلام یا د بل چا د یو شي په باره کي دا نذر ومني چي زه د الله تعالی په لاره کي هغه غلام ازادوم یا د الله تعالی لپاره هغه شی پر ځان واجبوم نو په دغه صورت کي د هغه نذر د نه صحیح کېدو په وجه هغه غلام ازادول یا هغه شی د الله تعالی لپاره ورکول د هغه پر ذمه لازمیږي .

د نذر کفاره

﴿۳۲۸۴﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ . رواه مسلم .

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د نذر کفاره هم د قسم کفاره ده . (مسلم)

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۲۶۵، رقم: ۱۳– ۱۶۴۵.

تشریح: که یو څوک د یو شي د نامه اخیستلو څخه پرته نذر ومني د مثال په توګه داسي ووايي چي زه نذر کوم نو پر هغه کفاره واجبیږي او که چیري هغه په نذر کي بېله تاکلو د روژو نیت وکړي نو پر هغه دري روژې واجبیږي او که چیري په نذر کي د صدقې نیت وکړي نو د صدقه فطر په اندازه لسو مسکینانو ته خوراک ورکول پر هغه واجبیږي .

په نذر کي چي د کومو شیانو پوره کولو امکان نه وي د هغه نه پوره کولو اجازه

﴿۳۲۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ إِذَا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ویله نو یو سړی یې ولاړ

هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوا أَبُو إِسْرَائِيلَ نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ وَلَا

ولیدی د هغه د حالت پوښتنه یې وکړه خلکو عرض وکړ د ده نوم ابو اسرائیل دی ده نذر منلی

دی چي ولاړ به وي کښېني به نه او نه به

يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُروه فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ. رواه البخاري.

د شي سايې ته کښېني او نه به د چا سره خبري کوي او همېشه به روژې نيسي نبي کريم ﷺ وفرمايل: ده ته ووايا ست چي خبري دي کوي سايې ته دي کښېني او روژه دي پوره کړي. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۸٦، رقم: ٦۷۰۴.

تشريح: هغه سړي چي د کومو خبرو نذر کړی وو په هغه کي پر کومه خبره چي عمل کول د هغه لپاره ممکن وه د هغه پوره کولو حکم يې ورکړ او په کومو خبرو چي عمل کول په يو وجه ممکن نه وه د هغه د نه پوره کولو حکم يې ورکړ، رسول الله ﷺ هغه ته حکم ورکړ چي روژې پوره کړي يعني د خپل نذر سره سم دي روژې ونيسي ځکه چي د طاعت او عبادت نذر کول لازم دی او د همېشه روژو نيول د هغه سړي لپاره يو غوره عمل دی چي پر دې باندي هغه قادر وي مګر واضحه دي وي چي په دغه صورت کي هغه پنځه روژې مستثنی دي کوم چي په شريعت کي منع دي که چيري هغه ددغه پنځو روژو نيت هم وکړي نو د هغه روژو ماتول پر هغه واجب دي، د حنفيه په نزد د روژو ماتولو کفاره پر هغه واجبېږي.

په کومو خبرو چي عمل کول ممکن نه وه په هغو کي يو خو دا خبره په شرعي توګه ناممکن ده چي يو سړی دي بالکل خبري نه کوي ځکه چي په ځينو وختو کي خبري کول واجب دي لکه په لمانځه کي قرائت، د سلام جواب ورکول او په داسي وخت کي د خبرو پرېښودل ګناه ده، رسول الله ﷺ هغه ته د خبرو کولو حکم وکړ همدارنګه بالکل نه کښېنستل او سپړلی ته نه راتلل د انسان د وس څخه وتلې خبره ده ځکه رسول الله ﷺ هغه ته د ناستي او سپړلی ته د تللو حکم وکړ

﴿۳۲۸٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ فَقَالَ مَا بَالُ هَذَا قَالُوا نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ الى بيت الله قَالَ إِنَّ اللَّهَ عَنْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سپين ږيري وليدی چي د خپلو دوو زامنو په اوږو يې لاس نيولي وو تګ يې کوی نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه د ده څه حال دی ؟

خلكو عرض وكړ ده نذر منلی دی چي بيت الله ته به پياده ځي نبي كريم ﷺ وفرمايل: دده د خپل ځان په دې تكليف اچولو كي د خداي تعالي څه پروا نسته د دې څخه وروسته يې و هغه

تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ . متفق عليه و في رواية لمسلم عن ابي هريرة قال اركب ايها الشيخ فان الله غني عنك وعن نذرك .

سپين ږيري ته حكم وكړ چي سپور سي. (بخاري او مسلم)او په مسلم كي د ابو هريره رضی الله عنه څخه دا الفاظ نقل سوي دي نبي كريم ﷺ و هغه سپين ږيري ته وفرمايل: اې سپين ږيرې! سپور سه ځكه چي الله جل جلاله ستا او ستا د نذر څخه بې پروا دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۷۸، رقم: ۱۸۶۵، ومسلم ۳\۱۲۶۳، رقم: ۹- ۱۶۴۲.

تشريح: هغه سړي د خپل سپين ږيرتوب او كمزورتيا په وجه پر پښو د تلو څخه عاجز او معذور وو ځكه رسول الله ﷺ هغه ته پر سپرلۍ د تللو حكم وركړ.

امام شافعي رحمه الله په ظاهري مفهوم باندي په عمل كولو سره وايي چي د داسي نذر په صورت كي پر سپرلۍ باندي د تلو په وجه پر نذر كونكي باندي څه نه واجبيږي مگر امام ابو حنيفة رحمه الله وايي چي پر هغه باندي د څاروي ذبح كول واجبيږي ځكه داسي يو شی پر ځان لازمولو څخه وروسته د هغه د پوره كولو څخه عاجز كېدل دي د امام شافعي رحمه الله دوهم قول هم دادی.

مظهر رحمه الله وايي كه چيري يو سړی داسي نذر ومني چي زه به پر پښو بيت الله شريفي ته ځم نو د هغه په باره كي د علماؤ اختلافي قولونه دي، امام شافعي رحمه الله وايي كه چيري يو سړی بيت الله شريفي ته پر پښو باندي د تلو توان ولري نو هغه دي پر پښو ولاړ سي او كه چيري ددې توان ونه لري نو د كفارې په توگه دي څاروی ذبح كړي او پر سپرلۍ دي سفر وكړي، امام ابو حنيفة رحمه الله وايي كه يو سړی پر پښو باندي د تلو توان لري كه يې نه لري په هر صورت كي د سپرلۍ په ذريعه دي سفر وكړي او څاروی دي ذبح كړي.

حنفي علماء وايي كه چيري يو سړی داسي ووايي چي زه به پر پښو باندي بيت الله شريفي ته تلل لازم كړم نو پر هغه حج يا عمره واجبيږي اوس كه چيري هغه د خپل نيت سره سم په دغه دواړو كي كوم يو چي غواړي پوره دي يې كړي يعني كه چيري هغه د ويلو په وخت كي د حج نيت كړی وي نو حج دي وكړي او كه چيري هغه د عمرې نيت كړی وي نو عمره دي وكړي، او كه

چيري داسي ووايي چي زه به پر پښنو حرم ته ځم يا پر پښنو باندي مسجد حرام ته ځم نو دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد پر هغه هيڅ هم نه واجبيږي مګر د صاحبينو په نزد پر هغه حج يا عمره واجبيږي او كه چيري داسي ووايي چي زه بيت الله شريفي ته تلل پر ځان لازموم نو په دغه صورت كي په اتفاق سره مسئله داده چي د هيڅ شي اعتبار به نه وي يعني پر هغه به نه حج واجب وي او نه عمره.

كه چيري يو څوك پر پښنو باندي د حج كولو نذر وكړي نو پر هغه واجب ده چي هغه د كور څخه پر پښنو روان سي او تر څو چي د طواف زيارت څخه فارغ نه سي هيڅ سپرلۍ دي نه استعمالوي او كه چيري پر پښنو باندي عمرې ته دتلو نذر وكړي نو تر څو چي سر ونه خريي سپرلۍ ته دي نه خيژي او كه چيري نذر كونكى د يو عذر په وجه يا بېله عذره پوره لار يا نيمه لار پر سپرلۍ ولاړى نو څاروى ذبح كول باندي واجبيږي او كه چيري د نيمي څخه كمه لار يې استعمال كړې وي نو د هغه په اندازه د يوه پسه قيمت صدقه كول واجبيږي.

د نذر اېښودونكي پر وارثانو باندي نذر پوره كول واجب دى كه يا؟

﴿۳۲۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ اسْتَفْتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي سعد بن عباده د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه د هغه نذر

وَسَلَّمَ فِي نَذْرٍ كَانَ عَلَى أُمِّهِ فَتُوُفِّيَتْ قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ فَأَفْتَاهُ أَنْ يَقْضِيَهُ عَنْهَا. متفق عليه.

مسئله و پوښتله كوم چي د هغه مور منلى وو او هغه د دې نذر د پوره كولو څخه وړاندي مړه سوې وه نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ته د هغې نذر د هغې له طرفه څخه پوره كړه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۸۳، رقم: ٦٦٩٨، ومسلم ۱۳\۱۲٦۰، رقم: ۱- ۱٦۳۸.

تشريح: د حضرت سعد رضي الله عنه د مور د نذر په باره كي د علماؤ مختلف قولونه دي، ځيني حضرات وايي چي هغې مطلق نذر كړى وو، ځيني وايي چي هغې د روژې نذر كړى وو، او ځيني حضرات وايي چي د هغې نذر د غلام د ازادولو وه او ځيني وايي چي هغې د صدقې نذر كړى وو، مګر صحيح خبره داده چي هغې مالي نذر كړى وو يا د هغې نذر مبهم وو، ددې تائيد د دار قطني د روايت د هغه الفاظو څخه كيږي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت سعد رضي الله عنه ته وفرمايل چي د هغې له خوا په خلكو اوبه وڅښه.

كه يو چا نذر منلی وي او د هغه نذر پوره كولو څخه مخكي مړ سي نو په دې باره كي د جمهورو علماؤ مذهب دادی چي د هغه سړي پر وارث باندي د هغه نذر پوره كول واجب نه دی كله چي نذر غير مالي وي ، او همدارنګه كه چيري نذر مالي وي او د هغه مړي تركه نه وي نو په دغه صورت كي هم د هغه پر وارث باندي د هغه نذر پوره كول واجب نه دي البته مستحب دي مګر د علماء ظواهر د دغه حديث د ظاهري مفهوم په وجه وايي چي پر وارث باندي د هغه نذر پوره كول واجب دي د جمهورو علماؤ دليل دادی كه چيري هغه نذر خپل وارث پر ځان باندي نه وي واجب كړی چي د هغه پوره كول پر هغه واجب وي او كوم چي د دغه روايت تعلق دی نو اول خو دا حديث پر وجوب باندي دلالت نه كوي دوهم دا هم كيدای سي چي د حضرت سعد رضي الله عنه مور مېراث پرې اينبی وي او د هغه مېراث څخه د هغه د نذر پوره كولو حكم وركړل سوی وي يا دا چي محضي د استحباب په توګه دا حكم وركړل سوی وي .

د خپل ټول مال خيراتولو څخه منع

﴿۳۲۸۸﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ

د حضرت كعب بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما عرض وكړ يا رسول الله! زما د تمام او

أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول

كمال توبه دا ده چي د خپل ټوله مال څخه لاس پر سر سم او د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره يې خيرات كړم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل :

الله صلى الله عليه وسلم أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ فَإِنِّي أُمْسِكُ

ستا لپاره بهتره داده چي يو څه مال را وګرځوه ما عرض وكړ زه د خيبر خپله برخه را ګرځوم .

سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ . متفق عليه و هذا طرف من حديث مطول .

(بخاري او مسلم) او داده د يو لوی حديث يوه برخه ده .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۵۷۲، رقم: ٦٦٩٠، ومسلم ۱۴\ ۲۱۲۷، رقم: ۵۳- ۲۷٦٩.

تشريح: كله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک غزا ته تشريف يووړ نو درې صحابه كرام ۱: حضرت كعب ابن مالک رضي الله عنه، ۲: حضرت مراره ابن ربيع رضي الله عنه، ۳: او حضرت هلال ابن اميه رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ولاړل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چي كله بېرته راغلی نو د دغه درو صحابه كرامو څخه ناراضه

سو او خلک یې هم د دوی سره د خبرو کولو څخه منع کړل، له دې کبله دوی ډېر پریشانه سوه او د خپل کوتاهۍ څخه د پښیماني دعاء، زاري او استغفار یې شروع کړي او څو ورځي وروسته د هغوی توبه قبوله سوه او د هغوی په باره کي دغه آیت کریمه (وعلی الثلاثة الذین خلفوا) نازل سو، په دغه وخت کي حضرت ابن مالک رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته وویل چي زه د دغه معافۍ په شکرانه کي او د خپل توبې د پوره کولو لپاره دا غواړم چي زما سره څه مال دی هغه ټول صدقه او خیرات کړم، ځکه نو دا حکم ورکړل سو چي څه یو څه مال د ځان سره وساتئ، په ظاهره د دغه حکم مقصد دا وو چي د دوه پر درې برخي مال د ځان سره اېښودو سره دریمه برخه صدقه کړئ او رسول الله ﷺ د ټول مال د صدقه کولو څخه منع کړ چي داسي نه هغه ته د ژوند د اړتیاوو لپاره د مال ضرورت وي او په دغه صورت کي د صبر او توکل لمن د هغه د لاس څخه ووځي، ددې څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به په داسي معاملاتو کي د هر سړي مرتبه او مقام په فکر کي ساتلو سره یو حکم ورکوی، یوې خوا ته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا واقعه ده چي هغه یې د خپل ټول مال او سامان په راوړلو سره د رسول الله ﷺ په قدمونو کي کېښېښودی او هر څه یې د الله جل جلاله په لاره کي صدقه کړل نو رسول الله ﷺ هغه ددې څخه منع نه کړ ځکه چي د صدیق اکبر رضی الله عنه مثال بالکل بېل وو هغه چي د صبر او توکل پر کومي لوړي درجې باندي فائز وو د هغه په وجه د دغه معمولي تصور هم نسو کیدای چي هغه به په یو وخت کي او د سختۍ په وخت کي د صبر او توکل لمن پرېږدي.

د کتاب مصنف دغه حدیث په دې باب کي ځکه نقل کړی دی چي د حضرت کعب رضی الله عنه ذکر سوی قول د نذر مشابه دی په دې توګه چي حضرت کعب رضی الله عنه پر خپل ځان باندي یو داسي شی لازم کړ چي د یو مخصوص صورت حال په وجه پر هغه واجب نه وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

د ګناه نذر پوره کول جائز نه دي

﴿۳۲۸۹﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْرَ فِيْ مَعْصِيَةٍ وَكَفَّارَتُه كَفَّارَةُ الْيَمِيْنِ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي

د بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خداي تعالی څخه د نافرماني نذر پوره کول جائز نه دی او د نذر کفاره د قسم کفاره ده. (ابوداؤد ترمذي نسائي)

تخریج: سنن ابي داود ۳\۵۹۵، رقم: ۳۲۹۲، والترمذي ۴\۸۷، رقم: ۱۵۲۴، والنسائي ۷\۲٦، رقم: ۳۸۳۴.

تشریح: د ګناه د نذر په باره کي په تفصيل سره بحث په تېرو مخونو کي سوی دی، دا حديث په دې مسئله کي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د مذهب دليل دی او د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب پر خلاف دی.

د غير معين نذر کفاره

﴿۳۲۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا فِي مَعْصِيَةٍ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيقُهُ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا أَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة و قفه بعضهم على ابن عباس.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: څوک چي د يوه غير معين شي نذر و مني د هغه کفاره د قسم کفاره ده او څوک چي د يوې ګناه نذر و مني د هغه کفاره د قسم کفاره ده او څوک چي د يو داسي شی نذر و مني چي د هغه پوره کول د هغه په طاقت کي نه وي نو د هغه کفاره هم د قسم کفاره ده او څوک چي د يو داسي شي نذر و مني چي هغه پوره کولای سي نو هغه دي پوره کړي. (ابوداؤد ابن ماجه) او ځينو دا په حضرت ابن عباس رضي الله عنه باندي موقوفه کړې دی.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۶۱۴، رقم: ۳۳۲۲، وابن ماجه ۱\۶۸۷، رقم: ۲۱۲۸.

يوازي جائز نذر پوره کوئ

﴿۳۲۹۱﴾: وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ قَالَ نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ فَأَتَى رسول الله صلی الله علیه وسلم فاخبره فقال

د حضرت ثابت بن ضحاک رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي يوه سړي پر ځان دا نذر منلي وو د بوانه په (چي مکې ته نژدې واقع دی) ځای کي به اوښ حلالوي وروسته هغه سړی د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر سو او د خپل نذر منلو څخه يې خبر کړ رسول الله

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ

ﷺ (د اصحابو كرامو څخه) پوښتنه وکړه ايا په بوانه کې د جاهليت په وخت کې څه بتان وه

يُعْبَدُ قَالُوا لَا قَالَ فَهَلْ كَانَ فِيهَا عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ قَالُوا لَا فَقَالَ رَسُولُ

چې د هغو عبادت کېدی يا هلته څه مېله د اختر لګېدله؟ اصحابو كرامو عرض وكړ هيڅ هم نه وه نو نبي كريم ﷺ و هغه سړي ته حكم وركړ چې

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْفِ بِنَذْرِكَ فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللّٰهِ وَلَا

فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ . رواه ابوداؤد .

خپل نذر پوره کړه د خداي تعالى د نافرمانئ نذر البته د پوره کولو قابل نه دی او په انسان باندې د هغه شي نذر پوره کول هم جائز نه دي چې د هغه په وس او توان کې نه وي . (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ٣\٦٠٧، رقم: ٣٣١٣.

د لغاتو حل: بُوانة: هضبة من وراء ينبع.

تشريح: د هغه ځای په باره کې د رسول الله ﷺ د پوښتنه کولو مقصد دا وو که چيرې هلته د جاهليت په زمانه کې يو بُت وي چې د هغه عبادت کيدی يا هلته د کفارو ګډون وي چې هلته به هغوی په غزلو، رقصونه کې بوخت وي نو په دغه صورت کې به يې هغه سړي ته د خپل نذر پوره کولو اجازه نه وي ورکړې چې په داسي کولو سره د کفارو سره مشابهت نه وي مګر کله چې رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چې هلته په دغه دواړو کې يو شی هم نه سته نو رسول الله ﷺ هغه سړي ته د نذر پوره کولو حکم ورکړ.

د دريا وهلو نذر پوره کولو حکم

﴿٣٢٩٢﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چې يوې ښځې عرض وکړ يا رسول الله!

اللّٰهِ إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ قَالَ أَوْفِي بِنَذْرِكِ . رواه ابوداؤد و

ما نذر منلی دی چي کوم وخت تاسو د جهاد څخه بيرته راسئ نو زه به ستاسو و مخته دريې وهم نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : خپل نذر پوره کړه .(ابوداؤد) او

زاد رزين قالت و نذرت ان اذبح بمكان كذا و كذا مكان يذبح فيه اهل

د رزين په دې روايت کي دا الفاظ زيات دي چي هغې ښځي دا هم وويله چي ما دا نذر منلي دی چي زه به فلاني فلاني ځاي باندي چي د جاهليت په زمانه کي هلته قرباني کېدله ذبح کوم

الجاهلية فقال هل كان بذالك المكان وثن من اوثان الجاهلية يعبد قالت لا قال هل كان فيه عيد من اعيادهم قالت لا قال اوفي بنذرك .

نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چي ايا د جاهليت په زمانه کي په دغو ځايونو کي بتان وه چي د هغوی عبادت کېدی ؟ښځي عرض وکړ يا ! نبي کريم ﷺ بيا پوښتنه وکړه ايا د جاهليت په زمانه کي هلته د اختر مېله لګېدله ؟ هغې ښځي عرض وکړ يا ! نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : خپل نذر پوره کړه .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٦٠٦، رقم: ٣٣١٢.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي دريه وهل مباح دي ، کوم حضرات چي دا وايي چي يوازي د هغه شي نذر کول پکار دي کوم چي د نيکۍ د ډول څخه وي نو هغوی د دغه حديث په باره کي دا وضاحت کوي چي که څه هم د دريه وهل طاعت نه دی بلکه مباح دی مګر هغه ښځي د رسول الله ﷺ سره د خپل عقيدې او ميني په وجه دا نذر منلی وو چي کله رسول الله ﷺ د جهاد څخه په خير او عافيت راسي نو زه به دريه وهم نو په دې اعتبار سره د هغې دريه وهل د طاعت څخه سو .

د دريمي برخي مال څخه زيات صدقه کولو څخه منع

﴿٣٢٩٣﴾: وَعَنْ أَبِي لُبَابَةَ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِيْ أَنْ

د ابو لبابه رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه و رسول الله ﷺ ته عرض وکړ زما کامله توبه داده چي

أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِ الَّتِيْ أَصَبْتُ فِيْهَا الذَّنْبَ وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِيْ كُلِّهِ صَدَقَةً قَالَ يُجْزِئُ عَنْكَ الثُّلُثُ . رواه رزين

زه د خپل قوم کور پرېږدم چي هلته زما څخه ګناه سوې ده او خپل ټول مال خيرات کړم نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دريمه برخه مال خيراتول ستا لپاره کافي ده. (رزين)

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د حضرت ابولبابه رضي الله عنه واقعه د اسلامي تاريخ يوه عجيبه، پند لرونکې او بې مثاله واقعه ده، ددغه واقعې تفصيل دادی چي کله نبي کريم ﷺ دا پيغام قبول کړ او ابولبابه رضي الله عنه يې هغوی ته واستوی، کله چي بنو قريضه ابولبابه وليدی نو د هغوی ښځې، نارينه، کوچنيان، سپين ږيري او ټول خلک د هغه په مخکي په ژړا او زاري سول، د هغوی ددغه حالت په ليدو سره د ابولبابه زړه ډېر نرم سو، بيا هغوی د ابولبابه رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه که موږ د محمد ﷺ حکم ومنو او خپل ځان ورته حواله کړو نو زموږ سره به څه چلن کوي، ددې په جواب کي ابولبابه رضي الله عنه پر غاړه باندي د لاس په اېښودو سره څرګنده کړه چي تاسو به ذبح کړي، ابولبابه رضي الله عنه وايي چي کله ما دا خبره وکړه نو د هغه ځای څخه مي قدم پورته کړی نه وو چي زه خبردار سوم او پر دې خبره باندي سخت پښېمانه سوم چي تا د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ په باره کي خيانت وکړ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله او د هغه د رسول په امانت (يعني پيغام او احکامو) کي خيانت مه کوئ او مه په خپلو امانتو کي خيانت کوئ.

څرنګه چي د پښېمانۍ احساس د ابولبابه رضي الله عنه پر زړه او شعور باندي تالنده اېله کړه او هغه بې تابه سو او د ليونيانو په ډول مسجد نبوي ته ورسيدی او خپل ځان يې د مسجد د ستني سره وتړی او دا اعلان يې وکړ چي تر څو پوري زه توبه ونه کړم او الله جل جلاله زما توبه قبوله نه کړي پر ما خوراک او څښاک حرام دي، کله چي به د لمانځه وخت راغلی نو هغه به خلاص کړل سو بيا کله چي هغه به لمونځ وکړ نو د هغه لاسونه به يې وتړل خلک به هغه ته راتلل او د خلاصولو لپاره به يې ورته وويل مګر هغه به انکار کوی او ويل به يې چي تر څو پوري رسول الله ﷺ خپله تشريف را وړلو سره ما خلاص نه کړي زه به ددغه ځای څخه نه لېري کيږم، پر له پسې اووه ورځي هغه د ستني سره همداسي تړلی ولاړ وو تر دې چي په بې هوښه کېدو سره ولويدی، په پای کي الله جل جلاله د هغه توبه قبوله کړه، خلکو هغه ته وويل چي الله جل جلاله ستا توبه قبوله کړه اوس ته خپل ځان خلاصه کړه هغه وويل قسم په خدای تر څو چي رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره ما

خلاص نه کړي زه به هیڅکله هم ځان خلاص نه کړم نو رسول الله ﷺ تشریف راوړ او په خپل مبارک لاسو سره یې هغه خلاص کړ، په دغه وخت کي ابولبابه ﷛ رسول الله ﷺ ته وویل چي د خپل توبې د محسوس کولو لپاره زه دا محسوس کوم چي ما ته د خپل مال او سامان څخه ځان خلاصول پکار دي نو اول خو زه خپل پلرنی کور پرېږدم کوم چي په ابن قریظه قبیلې کي واقع دی او دوهم زه هغه ټول مال او سامان د الله ﷻ په لاره کي خېراتوم.

د کور پرېښودو لپاره ابولبابه ﷛ ځکه وویل چي د هغه ځای څخه لیري سي چیري چي شیطان پر هغه باندي په غلبه تر لاسه کولو سره په هغه گناه وکړه او د هغه گناه ظاهري سبب د بنو قریظه سره د همدردۍ جذبه وه او د هغه اظهار چي د هغه کورنۍ، مال او سامان ټول د بنو قریظه په قبضه کي وو، د کور پرېښودو په باره کي رسول الله ﷺ هغه ته څه حکم ورکړ په دغه حدیث کي ددې هیڅ ذکر نه سته په ظاهره دا مفهوم کیږئ چي د ابولبابه ﷛ کور پرېښودل د طاعت څخه وو ځکه رسول الله ﷺ هغه جائز کړی البته د صدقې په باره کي رسول الله ﷺ دا حکم ورکړ چي د ټول مال خېرات کولو ضرورت نه سته بلکه د خپل ټول مال دریمه برخه خیرات کولو سره مقصد تر سره کیږي.

د یو خاص ځای لمونځ کولو نذر ...

﴿۳۲۹۴﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ رَجُلًا قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

د حضرت جابر بن عبد الله ﷛ څخه روایت دی چي د مکې د فتحي په ورځ یوه سړي عرض وکړ یا رسول الله!

إِنِّي نَذَرْتُ لِلّٰهِ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَكَّةَ أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ

ما خدای تعالي ته دا نذر منلی دی چي کله الله ﷻ د مکې فتحه را نصیب کړي نو زه به په بیت المقدس کي دوه رکعته لمونځ کوم

قَالَ صَلِّ هَاهُنَا ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ صَلِّ هَاهُنَا ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ شَأْنُكَ إِذًا. رواه ابوداؤد و الدارمي

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: دلته لمونځ وکړه (یعني په مسجد حرام کي) هغه بیا عرض وکړ نبي کریم ﷺ بیا داسي ورته وفرمایل: چي په دې ځای باندي لمونځ وکړه د دریم وار په

پوښتني باندي نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : اوس دي چي كوم ځای زړه غواړي هلته لمونځ وکړه . (ابوداؤد دارمي) .

تخريج سنن ابي داود ٣\٦٠٢، رقم: ٣٣٠٥، والدارمي ٢\٢٤١، رقم: ٢٢٣٩.

تشريح په شرح السنه کي ليکلي دي که چيري يو څوک په مسجد نبوي کي د لمانځه کولو نذر وکړي او بيا هغه لمونځ په مسجد حرام کي وکړي نو د هغه نذر به پوره سي مگر که چيري هغه لمونځ په مسجد اقصی يعني بيت المقدس کي وکړي نو د هغه نذر به پوره نه سي همدارنګه که چيري يو څوک په مسجد اقصی کي د لمانځه کولو نذر وکړي او بيا هغه په مسجد حرام يا مسجد نبوي کي لمونځ وکړي نو د هغه نذر به پوره سي يعني ددې مطلب دادی که چيري يو ځای د لمانځه کولو نذر وکړل سي او هغه لمونځ په بل ځای کي وکړل سي چي هغه ځای تر دغه ځای زيات د فضيلت حامل وي نو نذر به پوره سي مگر حنفي علماء وايي چي په دې باره کي زموږ مطلب دادی که چيري يو سړی په يو ځای کي د لمانځه کولو نذر وکړي او بيا هغه لمونځ په يو بل ځای کي وکړ چي د هغه ځای څخه د هغه لمانځه فضيلت کم وي نو بيا هم نذر پوره کيږي .

که نذر ناممکن وي نو د هغه کفاره ...

﴿٣٢٩٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د عقبه بن عامر رضي الله عنه خور پر ځان باندي دا نذر منلی وو چي هغه به پياده حج کوي

وَأَنَّهَا لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ

مگر د دې توان او طاقت يې نه درلود (په دې اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا د خور د پياده تلو څخه الله جل جلاله بې پروا دی

أُخْتِكَ فَلْتَرْكَبْ وَلْتُهْدِ بَدَنَةً . رواه ابوداؤد والدارمي ، و في رواية لابي داؤد

هغې له پکار ده چي سپره ولاړه سي او قرباني دي وکړي .(ابوداؤد دارمي) او دابوداؤد په

فامرها النبي صلى الله عليه وسلم ان تركب و تهدي هديا ، و في رواية له

يوه روايت كي داالفاظ دي چي نبي كريم ﷺ د عقبه خور ته دا حكم وكړ چي سپره ولاړه سه او يو حيوان حلال كړه او په يو بل روايت كي د ابوداؤد دادي چي

فقال النبي صلى الله عليه وسلم ان الله لا تصنع بشقاء اختك شيئا فلتركب ولتحج و تكفر يمينها .

نبي كريم ﷺ وفرمايل: خداي تعالي ستا د خورد دې مشقت او تكليف هيڅ ثواب نه وركوي هغې له پكار ده چي سپره حج ته ولاړه سي او د خپل قسم كفاره ادا كړي .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٥٩٨، رقم: ٣٢٩٧، والدارمي ٢\٢٤٠، رقم: ٢٣٣٥.

تشريح: هدي هغه ښاروي ته وايي چي د ذبح كولو لپاره حرم ته استول سوى وي، د هدي كم از كم درجه پسه دى او لوړه درجه يې اوښ يا غوا ده ، په دغه حديث كي چي د بدنه (اوښ يا غوا) د ذبح كولو كوم حكم وركړل سوى دى هغه د استحباب په توكه دى، قاضي رحمه الله وايي چي پر پښو حج ته تلل د طاعت ښخه دى ځكه نو ددغه نذر پوره واجب دي او په دې سره هر هغه عمل لاحق كيږي چي د هغه ترک كول جائز نه دي مگر دا چي يو سړى د هغه د ادا كولو ښخه عاجز وي او د ترک كولو په صورت كي فديه واجبيږي اوس په دې باره كي اختلاف دى چي د كفارې په توګه كوم ښاروى ذبح كول واجبيږي؟ د حضرت علي رضي الله عنه قول د دغه حديث سره سم بدنه (اوښ ياغوا) واجبيږي. ځيني حضرات وايي چي څرنګه د ميقات ښخه په تجاوز كولو سره پسه واجبيږي همدارنګه په دغه صورت كي هم پسه واجبيږي ، هغوى په دغه حديث كي د اوښ يا غوا ذبح كولو حكم پر استحباب محمول كړى دى ، دا قول د امام مالک رحمه الله هم دى بلكه صحيح خبره داده چي د امام شافعي رحمه الله قول هم دادى .

او د خپل قسم كفاره دي ادا كړي: په دې باره كي صحيح خبره داده چي په دغه حكم كي كفاره نه مراد كيږي كفاره جنايت او هغه هدي ده يا روژه ده چي د كفارې قائم مقام ده چي د هغه ذكر هم په مخكني حديث كي سوى دى ، د كفارې په باره كي دا تاويل ځكه كيږي چي دغه روايت په دې باره كي منقول د نورو روايتو مطابق سي ، خلاصه دا چي دلته د قسم د كفارې ښخه هغه كفاره مراد نه ده چي د قسم ماتولو په صورت كي ادا كيږي .

﴿٣٢٩٦﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ مَالِكٍ أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبد الله بن مالک ﷺ څخه روایت دی چي عقبه بن عامر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أُخْتٍ لَهُ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ حَافِيَةً غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ فَقَالَ مُرُوهَا

پوښتنه وکړه چي د هغه خور دا نذر منلی دی چي هغه به سرتور سر پښې (پیاده) حج کوي نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل:

فَلْتَخْتَمِرْ وَلْتَرْكَبْ وَلْتَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. رواه ابوداؤد والترمذي و النسائي وابن ماجة والدارمي.

هغې ته ووایه چي سر پټ کړي او سپره ولاړه سي او (د نذر په کفاره کي) درې روژې دي و نیسي. (ابوداؤد ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي).

تخریج: سنن ابي داود ٣\٥٩٦، رقم: ٣٢٩٣، والترمذي ١٤\ ٩٨-٩٩، رقم: ١٥٤٤، والنسائي ١٧\ ٢٠، رقم: ٣٨١٥، وابن ماجه ١\ ٦٨٩، رقم: ٢١٣٤، والدارمي ٢\ ٢٣٩، رقم: ٢٣٣٤.

د لغاتو حل: غير مُختمِرة: ای غير مغطية راسها بخمارها (لوڅ سرې).

تشریح: د سر پټولو حکم ځکه ورکړل سو چي د ښځي سر او وېښتان ستر دی یعني د ښځي د بدن دا هغه برخي دي چي د هغو پټول پر هغې واجب دي او د ښکاره کول یې گناه ده، او پر سپرلۍ باندي د ناستي حکم ځکه ورکړل سو چي هغه پر پښو باندي د تللو څخه عاجزه وه او ددې په وجه هغه په سخت تکلیف کي اخته وه.

په ذکر سوي حدیث کي د هدي ذکر دی ځکه دلته هغه دي درې روژې ونیسي: ددې مطلب به دا وي که چیري هغه د هدي څخه عاجزه وي نو درې روژې دي ونیسي یا د روژو نیولو لپاره ځکه ورته وفرمایل سول چي د قسم د کفارې چي څو قسمونه دي په هغو کي یو دا هم دی که یو سړی د کفارې د قسمونو څخه عاجزه وي نو هغه دي درې روژې ونیسي او س ددغه درو روژو په باره کي دا تفصیل دي که چیري درې روژې د قسم د کفارې په توګه ونیسي نو درې روژې پرله پسې نیول واجب دي ددې څخه په نورو صورتو کي اختیار دی څرنګه چي غواړي روژې دي ونیسي.

د ناجائز نذر کفاره ورکول واجب ده

﴿٣٢٩٧﴾: وَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا

د حضرت سعید بن مسیب رضی الله عنه څخه روایت دی چي دوو انصاري ورونو ته د یو چا میراث و

مِيرَاثٌ فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ فَقَالَ إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْقِسْمَةِ

رسیدی نو په هغوی کي یو بل ته د میراث د تقسیم خواهش ښرګند کړ دویم ورته وویل که ته ماته د تقسیم خواهش ښرګند کړې

فَكُلُّ مَالٍ لِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ إِنَّ الْكَعْبَةَ غَنِيَّةٌ عَنْ مَالِكَ كَفِّرْ

نو زما ټول مال به په کعبه کي خرڅ کړل سي (یعني هغه دا الفاظ د نذر په ډول سره وویل) حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته وویل کعبې ته ستا د مال هیڅ ضرورت نسته ته د خپل نذر کفاره ورکړه

عَنْ يَمِينِكَ وَكَلِّمْ أَخَاكَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ لَا يَمِينَ عَلَيْكَ

او که ستا ورور تا ته د دویم وار د وراثت د تقسیم پوښتنه وکړه نو په دې معامله کي ته د هغه سره خبري اتري وکړه ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي د خدای تعالی په

وَلَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ الرَّبِّ وَفِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ وَفِيمَا لَا تَمْلِكُ. رواه ابوداؤد.

نافرماني کي او قطع رحمي کي نذر پوره کول نسته او د کوم شي چي انسان مالک نه وي نو دهغه نذر پوره کول جائز نه دي بلکه د دې ډول د نذرونو کفاره دي ورکړي او نذر دي نه پوره کوي. (ابوداؤد).

تخریج: سنن ابي داود ۳\۵۸۱، رقم: ۳۲۷۲.

د لغاتو حل: رِتاج: ای مصالحها او زینتها.

تشریح: د تاج الکعبه لفظي معنی د کعبې دروازه ده ځکه چي تاج لوی دروازې (کپټ) ته وايي مګر د تاج الکعبه څخه د کعبې دروازه مراد نه ده بلکه په خپله کعبه مراد ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

جائز او ناجائز نذر

﴿۳۲۹۸﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

: حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي

يَقُولُ النَّذْرُ نَذْرَانِ فَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي طَاعَةٍ فَذٰلِكَ لِلّٰهِ فِيهِ الْوَفَاءُ وَمن كَانَ

چي فرمايل يې: نذر پر دوه قسمه دي : (١)- يو هغه نذر چي د خداي تعالى د بندګۍ او اطاعت لپاره و منل سي نو د دې پوره كول ضروري دی ځكه چي دا خاص و الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دی . (

نَذَرَ فِي مَعْصِيَةٍ فَذٰلِكَ لِلشَّيْطَانِ وَلَا وَفَاءَ فِيهِ وَيُكَفِّره ما يكفر الْيَمِينَ .رواه النسائي

٢)- او دويم نذر هغه دي چي د خداي تعالى د نافرمانۍ او ګناه لپاره ومنل سي دا نذر د شيطان لپاره دی او د دې پوره كول جائز نه ده . او د دې ډول نذر كفاره د قسم كفاره ده . نسائي

تخريج: سنن النسائي ٧\٢٧- ٢٩، رقم: ٣٨٤٥.

د خپل ځان قربانولو نذر

﴿٣٢٩٩﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ قَالَ إِنَّ رَجُلاً نَذَرَ أَنْ يَّنْحَرَ نَفْسَهُ إِنْ

د حضرت محمد بن منتشر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه سړي دا نذر و منی چي كه خداى

نَجَاهُ اللّٰهُ مِنْ عَدُوِّهِ فَسَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَهُ سَلْ مَسْرُوْقًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ

تعالىٰ هغه د دښمن د لاسه څخه خلاص كړ نو خپل ځان به قربان(حلال ذبح) كړي (كوم وخت چي الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه د دښمن څخه وژغوري)نو هغه د خپل نذر په هكله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه هغه ورته وويل د مسروق څخه پوښتنه وكړه نو هغه د مسروق څخه پوښتنه

لَهُ لَا تَنْحَرْ نَفْسَكَ فَإِنَّكَ إِنْ كُنْتَ مُؤْمِنًا قَتَلْتَ نَفْسًا مُّؤْمِنَةً وَإِنْ كُنْتَ كَافِرًا

وكړه نو هغه ورته وويل خپل ځان مه حلالوه كه ته مؤمن يې نو د مؤمن نفس به ووژنې او كه

تَعَجَّلْتَ إِلَى النَّارِ وَاشْتَرِ كَبْشًا فَاذْبَحْهُ لِلْمَسَاكِيْنِ فَإِنَّ إِسْحَاقَ خَيْرٌ مِّنْكَ

كافر يې نو اور (يعني جهنم ته) به ورسيږې خو ته يو پسه واخله او د مسكينانو لپاره يې حلال كړه ځكه چي ستا څخه د يوه غوره (هستي) اسحق عليه السلام په بدل كي هم

وَفُدِيَ بِكَبْشٍ فَأَخْبَرَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ هٰكَذَا كُنْتُ أَرَدْتُ أَنْ أُفْتِيَكَ . رزين

يو پسه حلال سوې وو هغه سړي د دې جواب څخه ابن عباس اګاه کړ نو هغه ورته وويل ما هم د داسي فتوی د ورکولو اراده درلوده. (رزين).

تخريج: رواه رزين.

تشريح: حضرت مسروق ابن اجرع رحمه الله د سترو تابعينو څخه دی د هغه علمي فضيلت او فقهي حيثيت په خپل زمانه کي يو امتيازي شان درلودی د عامر ابن شرجيل قول دی چي هيڅ يو ښځي د مسروق په ډول زوی نه دی راوړی، هغه د رسول الله ﷺ د وفات څخه مخکي اسلام قبول کړی وو مګر د رسول الله ﷺ په دربار کي د حاضرتوب د سعادت څخه محروم پاته سوی وو هغه د څلورو خلفاؤ او بي بي عائشې رضي الله عنها څخه علم حاصل کړی دی ځکه هغه سړي چي کله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه مسئله وپوښتل نو هغه د خپل علم سربېره هغه سړي ته د حضرت مسروق رحمه الله څخه د مسئلې د پوښتنه کولو لپاره وويل ځکه چيري چي د حضرت مسروق رحمه الله د فضيلت اظهار کيږئ هلته د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د احتياط او د هغه پر کامل صبر او ديانت باندي هم رڼا لويږي.

په حديث کي چي د کوم سړي ذکر سوی دی هغه ته د دښمن د لاس څخه مړ کېدل ډېر سخت معلومېدل نو هغه غوښتنه وکړه چي اې پروردګاره! پر اصل مرګ پر ما باندي سخت نه دی او نه زه د خپل ژوند د خاتمې څخه بېرېږم زه خپل ځان تا ته سپارم او خپل ځان ستا په نامه قربانوم مګر د دښمنانو د لاس څخه مړ کېدل پر ما ډېر سخت دي ځکه که ته ما ته خلاصون راکړې نو زه به خپل ځان ستا په نامه قربان کړم دا خو د هغه جذبه او د هغه يو طبعي خواهش وو مګر هغه په دې پوه نه سو چي د خپل ځان هلاکول تر دې ډېر زيات سخت او حرام دي نو حضرت مسروق رحمه الله د هغه په وړاندي دا مسئله په ډېر نرم انداز کي واضح کړل که ته مسلمان يې او خپل ځان وژنې نو داسي به ته دا حقيقت د يو مسلمان د قتلولو مرتکب وګرځې او دا دي تا ته معلومه وي چي مؤمن نفس د وژونکي په باره کي ددغه آيت کريمه (ولاتقتلوا انفسکم ومن يقتل مؤمنامتعمدا...) سره سم د دوږخ د دائمي عذاب وعيد بيان سوی دی او که ته کافر يې نو په دغه صورت کي خپل ځان وژل به ددې مترادف وي چي ته دوږخ ته په تلو کي تلوار کوې ځکه که ته ژوندی پاته سې نو څه عجيبه نه ده چي الله تعالی تا په هدايت سره ونازوي او ته د اسلام په قبلولو سره دائمي خلاصون تر لاسه کړې، په هر حال په هيڅ صورت کي هم نسته د خپل ځان وژل نه يوازي دا چي نامشروع دي بلکه غير معقول هم دي.

د حديث دا جمله (حضرت اسحاق علیہ السلام تر تا غوره ووچي د هغه بدله يو پسه ګرځول سوی وو) د ځينو علماؤ قول دادی چي حضرت ابراهيم علیہ السلام کوم خوب ليدلی وو چي خپل زوی ذبح کړه نو هغه زوی حضرت اسحاق علیہ السلام وو مګر په دې باره کي مختار او مشهور قول دادی چي حضرت ابراهيم علیہ السلام ته په خوب کي د کوم زوی د ذبح کولو حکم ورکړل سوی وو هغه حضرت اسماعيل علیہ السلام وو.

جلال الدين سيوطي رحمۃ اللہ علیہ وضاحت کړی دی چي په دغه واقعه کي اهل کتابو د سخت تحريف او تکذيب څخه کار اخيستی دی په پخوانيو آسماني کتابو کي اصل نوم اسماعيل وو چي اهل کتابو په حذف کولو سره اسحاق کړی.

په درمختار کي ليکلي دي که يو سړی د خپل زوی د ذبح کولو نذر ومني نو د حضرت ابراهيم علیہ السلام د واقعې په موافقت کي پر هغه باندي پسه ذبح کول واجبيږي مګر امام ابويوسف او امام شافعي رحمة الله عليهما وايي چي داسي نذر کول لغو دی او همدارنګه د خپل ځان او د خپل غلام د ذبح کولو نذر هم لغو دی مګر امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چي په دغه صورت کي د يوه پسه ذبح کول واجبيږي او که چيري يو څوک د خپل پلار يا نيکه يا د خپل مور د ذبح کولو نذر ومني نو د ټولو علماؤ په نزد د هغه نذر به لغو وي.

===========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم

كِتَــابُ الْقِصَاصِ

(د قصاص بيان)

د شريعت په اصطلاح كي د قصاص مفهوم د قاتل ځان اخيستل دي يعني چا چي يو سړی په ناحقه قتل كړی وي هغه د مقتول په بدله كي قتلول، دغه لفظ د قص او قصص څخه جوړ سوی دی او د دې لغوي معنی ده په يو چا پسي تر شا تلل، د مقتول ولي په قاتل پسې لګيدلی وي چي هغه د مقتول په بدله كي قتل كړي ځكه د قاتل ځان اخيستلو ته قصاص ويل كيږي، د قصاصات معنی د مساوات هم ده، پر قصاص باندي ددغه معنی اطلاق داسي كيږي چي كله قاتل د مقتول په بدله كي قتل كړل سي مګر د مقتولي ولي او قاتل يا مقتول او قاتل برابر سي ځكه چي په قصاص كي د قاتل سره هغه چلن كيږي كوم چي قاتل د مقتول سره كړي وو.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مسلمان دويني حرمت

﴿٣٣٠٠﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دیٰ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ إِلَّا بِإِحْدَى

كوم مسلمان چي د دې شاهدي وركړي چي د الله جل جلاله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته او زه (محمد ﷺ) د الله جل جلاله رسول يم نو د هغه وينه تويول جائز نه ده خو

ثَلَاثٍ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي وَالْمَارِقُ لدينه التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ. متفق عليه.

په دې درو خبرو باندي د هغه وينه تويول جائز ده: (١)- يو خو نفس په نفس سره (٢)- د واده لرونكي ازاد او مكلف مسلمان زنا كول. (٣)- چي خپل مذهب (اسلام) يې پرې ايښي وي او

د خپل جماعت څخه جلا سوی وي (يعني د مرتد قتلول هم جائز دی). (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٠١. رقم: ٦٨٧٨، ومسلم ٣\١٣٠٢، رقم: ٢٥-١٦٧٦.

تشريح: دغه جمله: څوک چي ددې شاهدي ورکړي چي د الله جل جلاله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نه سته او بېشکه زه د الله تعالی رسول یم، دا په اصل کي د مسلم لفظ وضاحت او بيان او د هغه د مؤکد کولو لپاره فرمايل سوي دي او په دې کي دې ته اشاره ده چي محض کلمه شهادت ويل د ويني بيولو ناجائز کېدو لپاره کافي دي، ددې مطلب دا دی که يو سړی محض په ژبه سره د الله تعالی د الوهيت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت شاهدي ورکړي نو د هغه ناحق وينه بيول هم داسي ناجائز دي لکه څرنګه چي د بل مسلمان.

د حديث خلاصه داده چي د مسلمان وينه تويول بالکل جائز نه دي مګر دا چي په دغه درو شيانو کي يو شی رامنځته سي اول خو دا که يو سړی خپل مسلمان ورور په ناحقه قتل کړي نو د هغه په بدل کي د اصولو سره سم دي هغه قتل کړل سي، دوهم دا که چيري يو واده سوی سړی چي مکلف، مسلمان او ازاد وي زنا کونکی سي نو هغه دي سنګسار کړل سي او دريم دا چي کوم مسلمان د دين څخه ووځي يعني مرتد سي نو د هغه قتلول هم جائز دي.

د خپل جماعت پرېښودونکی دا مارق صفت مؤکده دی يعني کوم څوک چي په قول او فعل يا په عقيدې سره مرتد سي چي هغه اسلام پرېږدي او په دې وجه د مسلمانانو د قوم څخه بيلوالی اختيار کړي نو د هغه قتلول واجب دي په شرط ددې چي هغه د خپل ارتداد څخه توبه ونه کړي، په حديث کي داسي سړی د مسلمان په ډله کي ذکر کول د هغه د اول حالت په اعتبار مجازا دي او دا خبره دي په ذهن کي وي که يوه ښځه مرتده سي نو د حنفيه مذهب سره سم هغه ښځه نه قتل کيږي.

په ناحقه قاتل د الله جل جلاله د رحمت څخه لیري وي

﴿٣٣٠١﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَزَالَ الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: تر څو پوري چي يو مسلمان د ناجائزي ويني (قتل) مرتکب سوي نه وي تر هغه وخته پوري هغه د دين د خپرېدو او نشرېدلو په لټه کي وي (يعني د خداي تعالی د رحمت اميد لرونکي وي). (بخاري)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٨٧، رقم: ٦٨٦٢.

تشريح: هسي خو هره بدي د انسان د يني او اخلاقي ژوند لپاره د زوال باعث او د الله تعالی د غضب سبب وي مګر دلته د قتل په خاصه توګه بدي واضح کړل سوې ده چي يو مسلمان د بل مسلمان په وينه سره په ناحقه لاس رنګ نه کړي پر هغه د الله تعالی د رحمت لاس وي او هغه د الله تعالی د رحمت او اميد او د هغه د بخښني او مغفرت سايه په خپل لمن کي اخيستي وي مګر کله چي يو سړی په ناحقه سره د مسلمان په وينو لاس رنګ کړي نو پر هغه تنګي مسلط سي او د هغه خلکو په ډله کي داخل سي کوم چي د الله تعالی د رحمت څخه نا اميد او محروم وي.

د قيامت په ورځ تر ټولو مخکي د قتل په اړه پوښتنه کيږي

﴿٣٣٠٢﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ مَا يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ يوم القيامة فِي الدِّمَاءِ. متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ چي الله جل جلاله د ټولو وړاندي د انسانانو د معاملاتو حکم اوري هغه به د ويني معاملات وي. (بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٨٧، رقم: ٦٨٨٤، ومسلم ٣\١٣٠٤، رقم: ٢٨- ١٦٧٨.

تشريح: مطلب دادی چي د قيامت په ورځ به د بندګانو د حقوقو څخه چي د کومي محکمې تر ټولو مخکي فيصله کيږي هغه به د انسان وينه بيول وي او د الله تعالی د حقوقو څخه چي د کوم شي په باره کي تر ټولو مخکي پوښتنه کيږي هغه به لمونځ وي، صحيح خبره داده چي د منهياتو څخه د کوم شي په باره کي چي تر ټولو مخکي فيصله کيږئ هغه به د ويني تويول وي او په ماموراتو کي چي د کوم شي په باره کي تر ټولو مخکي پوښتنه کيږي هغه به لمونځ وي.

چا چي کلمه وويل هغه معصوم الدم سو

﴿٣٣٠٣﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ

د مقداد بن اسود رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه عرض وکړ يا رسول الله! که زه مقابله وکړم

رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فاقتتلنا فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَ

د يو کافر سره او زموږ د دواړو په مينځ کي مقابله سي او هغه کافر زما يو لاس ووهی او

مِنِّي بِشَجَرَةٍ فَقَالَ أَسْلَمْتُ لِلّٰهِ وفي رواية فَلَمَّا اَهْوَيْتُ لِاَقْتُلَهُ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

وتښتي تر يوې ونې پورې او دا ووايې چې زه د الله ﷻ لپاره مسلمان سوم او په يوه روايت كې دا الفاظ دي كوم وخت چې زه د هغه د قتلولو اراده وكړم هغه ووايې چې لا اله الا الله

اَقْتُلُهُ بَعْدَ اَنْ قَالَهَا قال لَا تَقْتُلْهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَطَعَ اِحْدٰى يَدِي

نو ايا د دې الفاظو د ويلو څخه وروسته زه هغه قتل كړم؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مه وژنه، ما عرض وكړ يا رسول الله! هغه خو زما يو لاس پرېكړى دى

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ

نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مه قتلوه كه ته هغه قتل كړې نو د هغه به هغه درجه وي چې د

قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ . متفق عليه

هغه د قتلولو څخه وړاندې ستا وه او ستا درجه به هغه سې چې د دې كلمې د ويلو څخه وړاندې د هغه وه. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٨٧، رقم: ٦٨٦٥، ومسلم ١\٩٥، رقم: ١٥٥ – ٩٥.

تشريح: مطلب دادى كه چيرې تا د دغه كلمې د ويلو څخه وروسته قتل كړل نو څرنګه چې ته د هغه د قتلولو څخه مخكې معصوم الدم وې اوس هغه د اسلام راوړلو په وجه معصوم الدم سو او څرنګه چې هغه د اسلام د كلمې د ويلو څخه مخكې غير معصوم الدم وو اوس ته د هغه د قتلولو په وجه غير معصوم الدم سوې، ددې وضاحت دادى چې د اسلام د كلمې د ويلو څخه مخكې د هغه سړي د كافر كېدو په وجه قتلول صحيح وه مګر اوس د هغه د مسلمان كېدو څخه وروسته د هغه د قتلولو په وجه ستا قتلول به صحيح وي.

﴿٣٣٠٢﴾: وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ موږ د جګړې لپاره

اِلٰى اُنَاسٍ مِّنْ جُهَيْنَةَ فَأَتَيْتُ عَلٰى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَذَهَبْتُ اُطْعِنُهُ فَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا

د جهينې د قبيلې لپاره ولېږلو زه د يوه سړي سره په مقابله سوم او په هغه مې د نېزې ګزار كوى

چي هغه لا اله الا الله وويل

اللّٰهُ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ فَجِئْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ

ما هغه په نېزه وواهه او قتل مي کړ بيا د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او واقعه مي ورته بيان کړه نبي کريم ﷺ راته وفرمايل:

اَقَتَلْتَهُ وَقَدْ شَهِدَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا فَعَلَ ذَالِكَ تَعَوُّذًا

کله چي يې لا اله الا الله وويل نو بيا تا هغه ولي قتل کړ؟ ما عرض وکړ يا رسول الله! هغه خو د خپل ځان د ژغورلو لپاره کلمه وويل

قَالَ فهلا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ متفق عليه وَ فِيْ رِوَايَةٍ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا د هغه زړه څيرلي وو؟ (يعني تا ته خو د باطن حالت معلوم نه وو څرګند ته دي ولي نه وکتل؟) (بخاري او مسلم) او د جندب بن عبد الله

الْبَجَلِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

اِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَهُ مِرَارًا. رواه مسلم.

په روايت کي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي د قيامت په ورځ د ی د لا اله الا الله په جګړه راسي نو هغه وخت به ته څه جواب ورکوې څو واره نبي کريم ﷺ دا الفاظ وفرمايل. مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٩١- ١٩٢، رقم: ٦٨٧٢، ومسلم١\٩٦، رقم: ١٥٨- ٩٦.

تشريح: نو تا د هغه زړه په څېرلو سره ولي ونه کتي: رسول الله ﷺ دغه ارشاد د هغه سړي د باطن سره سم وفرمايه که ته د هغه سړي په باطن باندي خبرېدای سوې نو تا به د هغه زړه څېرلی وای او دا به دي معلومه کړې وای چي ايا هغه سړی محض د خپل ځان د هلاکت څخه د ساتني لپاره کلمه ويلې وه يا په حقيقت کي هغه کلمه د زړه په صدق او اخلاص سره ويلې وه مګر ظاهره ده چي تا د هغه د زړه په څېرلو سره د هغه باطن نه سو ليدای او نه په سمدستي توګه د هغه د باطن حال په يو بلي ذريعې سره تا ته معلوميدای سو ځکه نو معقوله خبره داوه چي تا د هغه پر ظاهر حکم کړی وای يعني د هغه د کلمې ويلو په وجه به دي هغه مؤمن ګڼلی وای او د هغه د قتل څخه به منع سوی وای، بلي خوا ته حضرت اسامه رضي الله عنه دا ګمان وکړ چي په داسي حالت کي

كله چي زما نيزه د مرګ په جوړېدو سره د هغه سر ته رسيدلې وه او س د هغه د ايمان قبلول ګټور نه دي ځکه نو هغه سرې يې ختم کړ ، يعني دا د هغه اجتهاد وو ، رسول الله ﷺ هغه ته څرګنده کړه چي ستا څخه په اجتهاد کي خطا سوې ده مګر پر هغه باندي ديت لازم نه دی ځکه چي مجتهد د خپل اجتهاد په خطا کي معذور وي مګر ددې لپاره رسول الله ﷺ په هر حال د خپل ناخوښي اظهار وکړی چي د هغه اصل حيثيت او حقيقت ظاهرېدو پوري پر تا باندي توقف لازم وو مګر تا په توقف نه کولو سره په خپل اجتهاد باندي عمل وکړ.

د معاهد د قتل څخه منع

﴿٣٣٠٥﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ خريفا . رواه البخاري.

ځوک چي يو معاهد قتل کړي (يعني هغه کافر چي د جګړې نه کولو عهد ورسره سوې وي) هغه به د جنت بوی پيدا نه کړي او د جنت بوی د څلوېښتو کلو د لاري پوري رسيږي . (بخاري) .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٦٩، رقم: ٣١٦٦،

تشريح معاهد هغه کافر ته وايي چي هغه د وخت د پاچا سره د جنګ او جګړې نه کولو عهد کړی وي که هغه ذمي وي يا غير ذمي وي.

په دغه روايت کي دا فرمايل سوي دي چي د جنت بوی د څلوېښتو کالو د لاري څخه راځي حال دا چي په يو بل روايت کي د اوويا کالو او په يو بل روايت کي د سلو کالو او په مؤطا کي د پنځه سوه کالو او په فردوس کي د زرو کالو الفاظ دي ، په ظاهره دا معلوميږي چي په دغه روايتو کي دغه فرق او اختلاف په اصل کي د اشخاصو او اعمالو د مختلف کېدو او د درجو او تفاوت په وجه دی نو د حشر په ميدان کي به ځينو خلکو ته د جنت بوی د زرو کلو د لاري څخه او ځينو خلکو ته د پنځه سوه کلو د لاري څخه راځي او ځينو خلک به د څلوېښتو کالو د مسافت په اندازه بوی راتلل محسوس کوي ، په هر حال ددغه ټولو ذکر سوو شمېرو څخه تحديد مراد نه دی بلکه د مسافت اوږدوالی مراد دی او د جنت د بوی نه تر لاسه کېدو څخه دا مراد نه دی چي

هغه سړي به د همېشه لپاره د جنت د بوی څخه محروم وي بلکه مراد دادی چي په اولني پړاو کي کله چي مقربين او علماء د جنت بوی تر لاسه کوي هغه سړي به هغه وخت د جنت د بوی څخه محروم وي ، ځيني علماء وايي چي ددغه ارشاد څخه مراد د معاهد د قتلولو سخته بدي بيانول او د وژونکي پر خلاف په سختو الفاظو کي د تنبيه او خبرداري اظهار کول دي .

د ځان وژني په اړه وعيد

﴿۳۳۰٦﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَدَّى

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړي چي خپل ځان د

مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ يَتَرَدَّى فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا

غره څخه را وغورځوي او ځان ووژني نو هغه به په دوږخ کي غورځول کيږي همېشه او د

أَبَدًا وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ

همېشه لپاره به په دوږخ کي وي او چا چي د زهرو په خوړلو سره ساه ورکړه نو زهر به يې په لاس کي وي څښنبي به يې په اور د دوږخ کي

خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ

هميشه او هميشه به په دوږخ کي وي او چا چي د اوسپني په ذريعه سره ځان قتل کړ نو اوسپنه به دده په لاس کي وي

يتوجاء بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا . متفق عليه .

په خپل نس به يې منډي په اور د دوږخ کي هميشه او دی به هميشه په دوږخ کي وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٢٤٧، رقم: ٥٧٧٨، ومسلم ١\١٠٣، رقم: ١٧٥ - ١٠٩.

د لغاتو حل: تحسى : اى من شرب. (و يې څښنبل). يتوجا : الطعن بالسكين.

تشريح: لفظ د مخلدا او ابدا د خالدا د تاکيد لپاره دي ، د حديث خلاصه داده چي په دغه دنيا کي کوم څوک د يو شي په ذريعه ځان وژنه وکړي په آخرت کي به هغه همېشه د هغه شی په عذاب کي اخته کيږي مګر دلته د همېشه څخه مراد دادی چي کوم خلک ځان وژنه حلال ګڼي او ځان ووژني نو هغوی به د همېشه لپاره په عذاب کي اخته وي او ياد همېشه څخه مراد دادی

چي ځان وژونکی به تر زیات وخت پوري په عذاب کي اخته وي.

﴿٣٣٠٧﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَّذِي يَخْنُقُ نَفْسَهُ يَخْنُقُهَا فِي النَّارِ وَالَّذِي يَطْعُنُهَا يَطْعُنُهَا فِي النَّارِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ځوک چي خپله غاړه په خفه کولو سره خپل ځان قتل کړي نو هغه به په دوږخ کي هم خپله غاړه خفه کونکی او ځوک چي ځان په نېزې سره ووژني نو هغه به په دوږخ کي هم ځان په نېزو سره وهي. (بخاري).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٣\٢٢٧، رقم: ١٣٦٥.

﴿٣٣٠٨﴾: وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جندب بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ فَمَا

تر تاسو وړاندي خلکو کي یو سړی وو د هغه لاس زخمي سوی وو هغه (د زخم تکلیف برداشت نه کړ) په چاړه سره خپل لاس پرې کړ

رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ فَحَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ. متفق عليه.

د هغه وینه بنده نه سوه او مړ سو خداي تعالي وفرمایل: زما بنده د خپل ځان په هلاکولو کي تلوار وکړ ما په هغه باندي جنت حرام کړ. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٩٦، رقم: ٣٤٦٣، ومسلم ١\١٠٧، رقم: ١٨١- ١١٣.

تشريح: ما پر هغه جنت حرام کړ: دا پر دې باندي محمول دی چي هغه ځان وژنه حلاله ګڼلې وه او د یو حرام شي په باره کي د حلال عقیده درلودل صریحا کفر دی ځکه پر هغه د جنت داخلېدل حرام کړل سو یا د دې څخه مراد دادی چي تر څو پوري هغه دوږخ ته په تلو سره د خپلو کړنو سزا

ونه ځکي نو هغه به په اول پړاو کي په خلاصون تر لاسه کونکو خلکو کي جنت ته د تلو څخه محروم کړل سي .

د ځان وژل حرام دي

ځان وژنه يعني خپل ځان په هلاکت کي اچول د دنيا په هيڅ يو مهذب قانون کي جائز نه دي ، د الله ﷻ را ليږل سوی قانون هم دې ته بد ويلي دي او د انسان جوړ کړی قانون هم د تعزير وړ جرم ګرځوي ، ددې تعلق په اصل کي ددې خبري سره دی چي د انسان ظاهر هم او د هغه باطن هم ايا هغه خپله د هغه مالک دی ياد هغه ظاهر او باطن هر څه د بل ملکيت دی دا بالکل بديهي خبره ده چي انسان په خپله د خپل وجود مالک نه دی بلکه د هغه وجود په دغه دنيا کي يوازي د يو امانت په توګه دی خپله د هغه لپاره هم او د دنيا والاوو لپاره هم او د هغه مالک حقيقي هغه پاک ذات دی چي هغه يې په تخليق سره نازولی دی او په دغه دنيا کي يې پيدا کړی دی ، نو ايا دا په هغه امانت کي خيانت نه دی چي انسان خپل وجود ته تاوان ورسوي ؟ ايا دا جرم نه دی چي يو بنده خپل ځان هلاک کړي کوم چي د هغه ظاهر او باطن ټول د پروردګار ملکيت دی ، يقينا دا يو ډېر لوی جرم دی او ډېره لويه ګناه ده ځکه چي خپل ځان هلاکول په حقيقت کي د غير په ملکيت کي تصرف کول دي او هيڅ يو بنده ته دا اختيار نه سته چي د پروردګار په ملکيت کي تصرف وکړي ځکه نو شريعت ځان وژنه حرامه ګرځولې ده او ګناه کبيره يې ورته ويلي دي او ددې کونکی يې د دردناک عذاب څخه بيرولی دی .

د ځان وژني په اړه يوه واقعه

(۳۳۰۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ الطُّفَيْلَ بْنَ عَمْرٍو الدَّوْسِيَّ لَمَّا هَاجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چي طفيل بن عمرو دوسي کله رسول الله ﷺ هجرت وکړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ هَاجَرَ إِلَيْهِ وَهَاجَرَ مَعَهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ فَمَرِضَ

مدينې منورې ته نو ده هم هجرت ورسره وکړ نو او د هغه د قوم يوه سړي هم هجرت وکړ او د طفيل ملګري په مدينه کي ناروغه سو

فَجَزِعَ فَأَخَذَ مَشَاقِصَ لَهُ فَقَطَعَ بِهَا بَرَاجِمَهُ فَشَخَبَتْ يَدَاهُ حَتَّى مَاتَ فَرَآهُ

او تکليف يې برداشت نکړ هغه د نېزې په تېره ثوکه باندي د خپلو ګوتو بندونه پرې کړه (يعني

هغه ته د ګوتو د بندو ناروغي وه) د دواړو لاسونو وينه يې ونه دريدل او مړ سو

الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فِي مَنَامِهِ وَهَيْئَتُهُ حَسَنَةٌ وَرَآهُ مُغَطِّيًا يَدَيْهِ فَقَالَ لَهُ مَا

بيا طفيل بن عمرو رضي الله عنه هغه په خوب كي وليدى د هغه كيفيت ښه وو البته خپل دواړه لاسونه يې پټ كړي وه طفيل بن عمرو رضي الله عنه پوښتنه ځيني وكړه

صَنَعَ بِكَ رَبُّكَ فَقَالَ غَفَرَ لِي بِهِجْرَتِي إِلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا

ستا رب ستا سره څه معامله وكړه ؟ هغه وويل خداي تعالى زه ځكه وبخښلمه چي ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم خوا ته هجرت كړى وو بيا طفيل بن عمرو رضي الله عنه ور څخه پوښتنه وكړه

لِي أَرَاكَ مُغَطِّيًا يَدَيْكَ قَالَ قِيلَ لِي لَنْ نُصْلِحَ مِنْكَ مَا أَفْسَدْتَ فَقَصَّهَا

تا خپل دواړه لاسونه ولي پټ كړى دي ؟ هغه وويل ما ته خداي تعالي وفرمايل: كوم چي تا په خپله خراب كړى دى موږ هغه نه صحيح كوو د خوب دا واقعه چي

الطُّفَيْلُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم اللَّهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِرْ .

رواه مسلم .

طفيل بن عمرو رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته بيان كړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يا الله! د هغه دواړه لاسونه هم ورو بخښې . (مسلم) .

تخريج: صحيح مسلم ۱\۱۰۸–۱۰۹، رقم: ۱۸۴– ۱۱۶.

د لغاتو حل: مشاقص: جمع مشقص وهو السكين(چاړه). راجمه : هي العقد التي في ظهور الاصابع (د ګوتو بندونه). فشخبت: اى سالت (وبهېدل).

تشريح: ددې څخه معلومه سوه چي د خپل هيواد څخه په هجرت كولو سره نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د ورتلو دا بركت وو چي د مهاجر بخښنه په برخه كيږي او كه چيري به يو مهاجر په يو ګناه كي اخته كيدى نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د استغفار په وجه به د هغه بخښنه كېدل، د صحيح حديثو څخه ثابته ده چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات څخه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د روضې مباركي زيات د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند مبارك كي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بدني زيارت په ډول دى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند مبارك كي د رسول الله صلى الله عليه وسلم زيارت كونكو ته د الله تعالى د رحمت او مغفرت چي كوم

برکت حاصلیدی د رسول الله ﷺ د روضې مبارکي زیارت کونکو ته هم ددغه ستر نعمت امید درلودل پکار دي.

ددغه حدیث څخه دا معلومه سوه چي د کبیره ګناه کول د کفر سبب نه دی او نه د ددوزخ د دائمي عذاب سبب دی، د اهل سنت والجماعت دا مذهب دی چي د ګناه کبیره مرتکب د خپل کړو سزا تر لاسه کولو وروسته به په جنت کي داخل کړل سي.

د مقتول وارثانو ته د قصاص او دیت دواړو څخه د یوه اخیستلو اختیار

﴿۳۳۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابو شریح کعبی ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

ثم انتم يَا خُزَاعَةَ قَدْ قَتَلْتُمْ هٰذَا الْقَتِيْلَ مِنْ هُذَيْلٍ وَاَنَا وَاللّٰهِ عَاقِلُهُ مَنْ

ای خزاعه بیا! تاسو دا مقتول چي د هذیل د قبیلې څخه دی قتل کړی دی او زه قسم په خداي د دې څخه وروسته چي کوم قتل وسي

قَتَلَ بَعْدَهُ قَتِيْلاً فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيرَتَيْنِ اِنْ اَحَبُّوْا قَتَلُوْا وَاِنْ اَحَبُّوْا اَخَذُوْا

د هغه وینه تو یونکي یم اوس د مقتول وارثانو ته د دو خبرو څخه د یوې خبري اختیار دی که هغوی غواړئ نو قاتل دي قتل کړي او که غواړي نو د هغه د وینو تاوان دي واخلي.

الْعَقْلَ. رواه الترمذي والشافعي و في شرح السنة باسناده و صرح بانه ليس في الصحيحين عن ابي شريح وقال و اخرجاه من رواية الي هريرة يعني بمعناه.

(ترمذي شافعي) په شرح السنه کي لیکلي دي چي دا حدیث په بخاري او مسلم کي نسته او د ابو هریره ﷛ څخه چي کوم حدیث په بخاري او مسلم کي منقول دی د هغه دا الفاظ نه دي بلکه هغه د دې هم معنی دي.

تخريج سنن الترمذي ٤\ ١٤- ١٥، رقم: ١٤٠٦، وترتيب مسند الامام الشافعي ٢\ ٩٩، رقم: ٣٢٨، والبغوي في شرح السنة: ٧\ ٣٠١، رقم: ٢٠٠٤.

تشریح: د حدیث حقیقي مفهوم دادی چي د جاهلیت په زمانه کي د هذیل قبیلې د خزاعه قبیلې یو سړی وژلی وو نو د خزاعه قبیلې خلکو د خپل مقتول په بدله کي د هذیل قبیلې یو سړی قتل کړ، رسول الله ﷺ د هغه دواړو قبیلو په مینځ کي د پیښېدونکي فتنې د دفع کولو لپاره د هذیل قبیلې د هغه مقتول دیت ورکړ لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ وفرمایل: او زه قسم په خدای ددغه دیت ورکولو ذمه داریم، بیا رسول الله ﷺ ددې څخه وروسته دا شرعي قانون بیان کړ که یو څوک یو سړی په ناحقه مړ کړي نو د مقتول د وارثانو دا حق دی چي هغوی قتل کړي یا د قاتل څخه دیت واخلي، د امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهما دا مذهب دی او په دې اعتبار سره دغه ارشاد د دواړو د مذهب دلیل دی مګر امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه وایي چي د مقتول وارثانو ته به د قاتل څخه د دیت اخیستلو حق په هغه صورت کي وي کله چي قاتل خپله هم په دې راضي سي که چیري قاتل پر دیت ورکولو باندي راضي نه وي نو د مقتول وارثانو ته یوازي دا حق دی چي هغوی قاتل قتل کړي، ویل کیږي چي د امام شافعي رحمة الله علیه هم دا قول دی، ددغه حضراتو په نزد ددغه ارشاد تاویل دادی چي د مقتول وارثانو ته اختیار دی چي هغوی قاتل قتل کړي یا د هغه څخه دیت واخلي.

حال دا چي د هغوی څخه هم داسي منقول دي: ددې په ذریعه د مصنف مشکوة. د مصابیح پر امام بغوي رحمة الله علیه باندي اعتراض کړی دی چي په بخاري او مسلم کي دا حدیث بالمعنی خو مذکور دی مګر په اصل صورت کي یعني دلته په مذکوره الفاظو سره نه خو ابوشریح او نه د ابو هریره رضي الله عنه څخه منقول دي لکه څرنګه چي بغوي رحمة الله علیه ویلي دي چي دا روایت په بخاري او مسلم کي نه سته او بیا دغه روایت دلته په اول فصل کي ولي نقل کړی دی ځکه چي په اول فصل کي خو هغه حدیثونه نقل کیږي کوم چي په بخاري او مسلم کي مذکور دي.

د ښځي د خاوند قاتل قتل کیدای سي

﴿۳۳۱۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ يَهُودِيًّا رَضَّ رَأْسَ جَارِيَةٍ بَيْنَ حَجَرَيْنِ فَقِيلَ لَهَا مَنْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه یهودي د یوې انجلۍ سر پر کاڼو کښېښودی او په بل کاڼي سره یې سر وواهه د انجلۍ څخه پوښتنه وسول

فَعَلَ بِكِ هذا أَفُلَانٌ أَوْ فُلَانٌ حَتَّى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا فَجِيءَ بِهِ

چي دا کار چا در سره وکړ؟ فلاني سړی او که فلاني نو کله چي د یهودي نوم د هغې په وړاندي

واخیستل سو نو هغې د سر په اشاره سره

باليهودي فَاعْتَرَفَ فَأَمَرَ بِهِ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ. متفق عليه.

هغه يهودي وښودى يهودي د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر كړل سو هغه د خپل جرم اعتراف وكړ نو د نبي كريم ﷺ په حكم د هغه سر هم په كاڼو سره چيت كړل سو .بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢١٣، رقم: ٦٨٨٤، ومسلم ٣\١٢٩٩، رقم: ١٥- ١٦٧٢.

تشريح: په ظاهره دا مفهوم اخيستل كيږئ چي څرنګه يهودي د هغه انجلۍ سره د دوو ډبرو په مينځ كي چيچلى وو همدارنګه د هغه يهودي سر هم د دوو ډبرو په مينځ كي چيچل سوى وي دا حديث د دې خبري دليل دى كه يوه ښځه يو سړى قتل كړي نو د مقتول سړي په بدله كي هغه ښځه قتل كيداى سي همدارنګه د مقتولي ښځي په بدله كي د هغه قاتل سړي هم قتل كيداى سي د اكثرو علماؤ دا قول دى او دا حديث پر دې هم دلالت كوي چي په داسي درنې ډبري سره ځوک هلاكول چي د هغه په وهلو سره په عامه توګه هلاكت واقع كيږي د قصاص سبب دى اكثرو علماؤ او درو امامانو دا قول دى مګر د امام ابوحنيفة رحمه الله مذهب دادى كه د ډبري په وهلو سره هلاكت واقع سي نو د هغه په وجه قصاص نه لازميږي هغوى وايي چي كله د هغه يهودي څخه د قصاص اخيستلو سوال دى نو د هغه تعلق د سياست او د وخت د مصالحت سره وو.

څوک چي څه كوي هغسي سزا به وركول كيږي

﴿۳۳۱۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَسَرَتْ الرُّبَيِّعُ وَهِيَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي د انس عمه ربيع د يوې انصاري انجلۍ د مخ غاښ ور

مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَتَوْا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ أَنَسُ

مات كړ د هغې قريبان د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سول رسول الله ﷺ د قصاص (د بدل اخيستلو) حكم وركړ د انس بن مالک اكا انس بن نضر رضي الله عنه عرض وكړ

بْنُ النَّضْرِ عَمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لَا وَاللهِ لَا تُكْسَرُ سِنُّهَا يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ

يا رسول الله! قسم په خداي چي د هغې غاښ به نه ماتوي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَنَسُ كِتَابُ اللّٰهِ الْقِصَاصُ فَرَضِيَ الْقَوْمُ

اې انس! د خداي تعالى په كتاب كي قصاص دى نو هغه خلک و ديت ته تيار سوه او ديت يې

وَقَبِلُوا الْأَرْشَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ. متفق عليه.

قبول كړ رسول الله ﷺ وفرمايل: د خداي تعالى ځيني بندګان داسي دي كه هغوى په يو څه باندي قسم واخلي نو خداي تعالي د هغوى قسم پوره كوي. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٨\ ٢٧٤، رقم: ٤٦١١، ومسلم ٣\ ١٣٠٢، رقم: ٢٤- ١٦٧٥.

تشريح: بي بي ربيع رضي الله عنها، انس رضي الله عنه او مالک رضي الله عنه درې سره خور او وروڼه وه د دوى د پلار نوم نصر وو د مالک د زوى نوم هم انس وو يعني اكا او وراره دواړه په يوه نامه سره نوميدل په دغه حديث كي چي د كومي بي بي ربيع رضي الله عنها ذكر دى هغه د يوه انس يعني د حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه خاله وه او د دوهم انس يعني حضرت انس بن نصر رضي الله عنه خور ده.

د حضرت انس ابن نضر رضي الله عنه دغه وينا چي رسول الله ﷺ داسي به نه كيږي دا د رسول الله ﷺ د حكم مخالفت او د رسول الله ﷺ د فيصلې د نه منلو څخه د انكار په توګه نه وو بلكه ددې په وجه د الله تعالى د فضل او كرم پر توقع او اميد باندي وو چي هغه به مدعيان راضي كړي او د هغوى په زړه كي به دا واچوي چي هغوى به قصاص معاف كړي نو الله تعالى د هغه اميد او توقع پوره كول او د انجلۍ كورنۍ د ديت په قبلولو سره قصاص معاف كړ ځكه رسول الله ﷺ د حضرت انس رضي الله عنه په باره كي دغه د صفت كلمې وفرمايلې چي حضرت انس ابن نضر رضي الله عنه د الله تعالى د هغه خاصو بندګانو څخه دى كه هغه پر يو خبره قسم واخلي نو الله تعالى هغه نه حانث كوي بلكه د هغه خبره پوره كوي او قسم يې رښتيا كوي.

اې انس! د الله تعالى حكم د بدلې اخيستلو دى په دغه ارشاد سره رسول الله ﷺ د الله تعالى فرمان: (وكتبنا عليهم فيها ان النفس بالنفس.... والسن بالسن) ته اشاره وفرمايل.

ددغه حديث څخه يوه خبره دا معلومه سوه چي پر يو خبره باندي قسم اخيستل جائز دي چي د هغه د واقع كېدو قسم كوونكي ته ګمان وي، دوهمه خبره دا معلومه سوه چي د يو سړي په مخكي د هغه تعريف او صفت اظهار كول جائز دي په شرط ددې چي د هغه په وجه د هغه سړي

په فتنه او فساد کي د اخته کېدو بېره نه وي او دريمه برخه دا ثابته سوه چي قصاص معافول مستحب دي.

د کافر په قتل کي مسلمان قتل کيداى سي که يا؟

﴿٣٣١٣﴾: وَعَنْ اَبِيْ جُحَيْفَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَلِيًّا هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ لَيْسَ فِي

د حضرت ابو جُحيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي ستا سره داسي شی سته چي هغه

الْقُرْآنِ فَقَالَ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا فِي الْقُرْآنِ إِلَّا

په قرانکريم کي نه وي؟ حضرت علي رضي الله عنه وويل په هغه ذات دي مي قسم وي چي غله يې پيدا کړه او ساه يې وجود ته ورکړه زما سره د قرانکريم څخه پرته بل هيڅ شی نسته هو!

فَهْمًا يُعْطَى رَجُلٌ فِي كِتَابِهِ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ قُلْتُ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ قَالَ

چي خداي تعالي انسان ته ورکوي چي په هغه سره هغه په قران پوهيږي او هغه شی چي موږ سره په کاغذ ليکلي دی ابو جُحيفه رضي الله عنه پوښتنه وکړه چي په دې کي څه ليکلي دي؟

الْعَقْلُ وَفِكَاكُ الْأَسِيرِ وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ . رواه البخاري و ذكر حديث ابن مسعود لا تقتل نفس ظلما في كتاب العلم.

حضرت علي رضي الله عنه جواب ورکړ (د قتل) بدل اخيستل قيدي پرېښودل او دا چي د کافر په بدله کي مسلمان نسي قتلولای د ابن مسعود رضي الله عنه حديث: لاتقتل الخ ... په ((کتاب العلم)) کي بيان سوې دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٤٦، رقم: ٦٩٠٣.

تشريح: مګر د قرآن کريم هغه پوهه چي يو انسان ته ورکول کيږي: ددې مطلب دادی چي الله تعالی ماته هغه فهم راکړی دی چي په هغه سره زه د قرآن کريم د معنی او احکامو استنباط کوم د هغه په اجمال او اشاراتو خبرېږم او ددغه فهم په ذريعه زما رسيدل هغه پټو علومو او باطني اسرارو ته کيږي کوم چي علماء راسخين او اربابو باندي منکشف کيږي.

زموږ سره داسي شيان دي چي پر کاغذ ليکل سوي دي، ددې څخه هغه ليکنه مراد ده چي

په هغه کي حضرت علي رضي الله عنه د ديت وغيره يو څو احکام او مسائل په ليکلو سره د خپل توري په تيکي کي ايښي وو، علماء کرام وايي چي په هغه ليکنه کي د ذکر سوو درو شيانو څخه پرته د نورو ډېرو شيانو احکام او مسائل ليکلي وه کوم چي دلته ذکر سول ځکه چي په دغه باب کي يوازي د قصاص او ديت ذکر کول مقصد دي البته بندي د ځيني نوعيت په اعتبار قريب القتل دی په دې مناسب سره هغه هم ذکر کړل سو.

د کافر په بدله کي مسلمان نه سي قتل کيدای : د ډېرو صحابه کرامو، تابعينو، تبع التابعين او درې سره امامانو مذهب دادی که يو مسلمان يو کافر ووژني نو د مقتول کافر په بدله کي قاتل مسلمان نه سي وژل کيدای که څه هم هغه مقتول کافر ذمي وي يا حربي وي مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او د اکثرو علماؤ دا مذهب دی که هغه مقتول کافر ذمي وي نو د هغه په بدله کي به قاتل مسلمان قتل کيدای سي، کوم حديث چي د دوی د مذهب دليل دی هغه په مرقات کي مذکور دی.

حضرت ابو حجيفه رضي الله عنه چي د حضرت علي رضي الله عنه څخه کومه پوښتنه وکړه د هغه بنياد دا وو چي شيعه د هغوی وجود په مختلف صورتو کي په هغه زمانه کي وو هغوی به ويل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلي کورنۍ خاصو افرادو او په خاصه توګه حضرت علي رضي الله عنه ته د علم وحي يو داسي اسرار او نکات ښوولي دي چي د دوی څخه پرته بل چا ته نه دي ښودل سوي يا ابو حجيفه رضي الله عنه دا پوښتنه ځکه وکړه چي د حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کي هيڅ سړی هم په علم او تحقيق کي د حضرت علي رضي الله عنه سيال نه وو د هغه دغه غير معمولي علمي خصوصيت او غوره والي ټول خلک حيران کړي وه چي آخر دوی ته دومره علم د کوم ځای څخه راغلی په هر حال حضرت علي رضي الله عنه په قسم کولو سره وويل چي يو داسي خبره نه سته چي رسول الله صلى الله عليه وسلم زما دي زما لمن د علم او حکمت څخه تر ټولو خلکو زياته ډکه کړي وي يا د نورو خلکو څخه پرته زه يې په خاصه توګه سره په تبليغ او ارشاد سره نازولی يم بلکه زما سره هم هغه قرآن دی کوم چي د نورو خلکو سره دی تر دې زيات زما سره هيڅ نه سته يا هغه ليکل دي چي په هغه کي د يو څو شيانو احکام ليکلي دي او هغه زما سره خوندي دي مګر په ما کي او په نورو خلکو کي چي کوم علمي فرق دی د هغه بنياد د فهم او استعداد سره دی چي الله تعالی په خپل فضل او کرم سره ما ته د قرآن کريم کومه پوهه راکړې ده د هغه په ذريعه زه د قرآن کريم علوم او معاني پوره مفهوم تر لاسه کوم او بيا د هغه څخه احکام او مسائل را باسم او دا پر ما باندي منحصر نه دي بلکه الله تعالی چي کوم چا ته دغه پوهه او فضيلت ورکړی دی پر هغه د قرآن کريم د حکمت او علومو لاري

منكشف كيږي .

خلاصه دا چې د ټولو علومو او معانيو بنياد قرآن كريم دی ځكه د الله تعالى په توفيق او تائيد سره چې كوم چا ته هم د قرآن كريم فهم حاصل سو پر هغه د ټولو علومو او حكمتو دروازې خلاصه سوې دا بېله خبره ده چې الله تعالى په دغه نعمت سره څوک ونازوي ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه به فرمايل چې په قرآن كريم كي ټول علوم دي مگر د خلكو فهم د قرآن علومو ته د رسيدو څخه قاصر دی .

او د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه حديث چې په ظلم سره د چا ځان دي نه اخيستل كيږئ په كتاب العلم كي نقل سوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مسلمان د ويني اهميت

﴿٣٣١٤﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَزَوَالُ

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د خداي تعالى په

الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ . رواه الترمذي والنسائي و وقفه بعضهم وهو الاصح . رواه ابن ماجة عن البراء بن عازب .

نيزد د مسلمان د قتل په مقابله كي د دنيا زوال اسان دی . (ترمذي نسائي) ځينو دا حديث موقوف كړی دی دا صحيح دی ابن ماجه د براء بن عازب څخه روايت كړ .

تخريج: سنن الترمذي ٤/١٠، رقم: ١٣٩٥، والنسائي ٧/٨٢، رقم: ٣٩٩٨.

تشريح: الله تعالى د دنيا شيان، ځمكه، آسمانونه او ټول شيان د مسلمانانو لپاره پيدا كړي دي چې هغوی د پروردگار عبادت وكړي او د شيانو په لېدو سره د الله تعالى پر قدرت يقين ولري كوم څوک چې يو مسلمان د هغه لپاره دا دنيا پيدا سوې ده قتل كړي نو هغه ټوله دنيا قتل كړه د دغه نكتې ته د قرآن كريم دغه آيت كريمه اشاره كوي :

مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا

ژباړه : څوک چې په ناحقه قتل وكړي (يعني بېله ددې څخه چې د ځان بدله واخلي) په ځمكه كي د فتنې او فساد خپرولو سزا دي وركړل سي هغه لكه ټول خلک چې قتل كړل .

﴿٣٣١٥﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّاَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه او حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

قَالَ لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَأَهْلَ الْأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

که د اسمان والا او د مځکي والا دواړه د يو مسلمان په قتل کي شريک سي نو الله جل جلاله به دا ټول د دوږخ په اور کي نسکوره کړي. (په ترمذي کي دا حديث غريب ګڼل سوې دی)

تخريج: سنن الترمذي ١١\١٤، رقم: ١٣٩٨.

تشريح: ځيني تشريح کونکي وايي چي لفظ د اكبهم فعل لازم دی او لفظ د كبهم فعل متعدي دی دلته د يو راوي څخه سهوه سوې ده چي هغه د لكبهم پر ځای لا كبهم نقل کړی دی مګر ملا علي قاري رحمه الله عليه ليکلي دي چي لفظ د اكبه په قاموس کي لازمي او متعدي دواړو ته نقل سوی دی په دې اعتبار مناسبه خبره داده چي ثقه او عادل راويانو ته د خطا او سهوې نسبت کولو څخه اولی او احوط دادی چي ځيني بلکه اکثر اهل لغت ته د خطا نسبت وکړل سي، په هر حال دلته لفظ د اكبهم مفهول دی ځکه نو دلته دا تحقيق وړاندي کړل سو مګر په جامع صغير کي د دغه روايت الفاظ داسي منقول دي: لكبهم الله عزوجل في النار.

د قيامت په ورځ د مقتول استغاثه

﴿٣٣١٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَجِيْءُ الْمَقْتُوْلُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به مقتول

بِالْقَاتِلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ وَأَوْدَاجُهُ تَشْخَبُ دَمًا يَقُوْلُ يَا

قاتل راولي چي د قاتل تندی او سر به د مقتول په لاس کي وي او د مقتول د رګونو څخه به وينه بهيږي مقتول به الله جل جلاله مخاطب کړي ورته وبه وايي اې

رَبِّ قَتَلَنِي حَتّٰى يُدْنِيَهُ مِنَ الْعَرْشِ. رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة.

پروردګاره! دې سړي زه قتل کړی يم تر دې پوري چي مقتول به قاتل عرش الهي ته نژدې ور

ولي. (ترمذي نسائي ابن ماجه).

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٢٢٤، رقم: ٣٠٢٩، والنسائي ٧\ ٨٧، رقم: ٤٠٠٥، وابن ماجه ٢\ ٨٧٤، رقم: ٢٦٢١.

تشريح: په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي مقتول به د قيامت په ورځ خپل پوره حق غواړي، او دا هم اشاره ده چي الله تعالی به په خپل عدل او انصاف سره مقتول راضي او مطمئن کړي.

د خپل مظلوميت په ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه تقرير

﴿٣٣١٧﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَشْرَفَ

د حضرت ابو امامه بن سهل بن حنيف رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په

يَوْمَ الدَّارِ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورځ د دار کي د خپل د کور پر بام باندي و دریدی او ټولو يې مخاطب کړه ورته يې وويل اې خلکو! زه تاسو ته د خدای تعالی په قسم درکولو سره وايم ايا تاسو د دې خبري څخه خبر نه

قَالَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ أَوْ كفر

ياست چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فرمايلي دي د هيڅ يوه مسلمان وينه بهېدل جائز نه دي تر څو پوري چي يوه په دا درو خبرو کي وجود پيدا نه کړي: (١)-يعني تر نکاح کولو وروسته زنا کول. (٢)- کافر کېدل

بَعْدَ إِسْلَامٍ أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حَقٍّ فَقُتِلَ بِهِ فَوَاللَّهِ مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا

د اسلام د راوړلو څخه وروسته. (٣)- يو څوک په ناحقه باندي قتلول. (د دې خبرو په بدله) کي به مسلمان وژل کيږي (او د دې څخه پرته په هيڅ بل ډول سره د مسلمان وينه تويول جائز نه ده.) قسم په خدای چي ما نه د جاهليت په زمانه کي زنا کړېده او نه

فِي إِسْلَامٍ وَلَا ارْتَدَدْتُ مُنْذُ بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا قَتَلْتُ

په اسلام کي او کله چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بيعت کړی دی د هغې ورځي څخه تر او سه پوري په اسلام باندي قائم يم او مرتد سوی نه يم او د کوم مسلمان وينه چي الله جل جلاله حرامه کړېده ما د

النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ فَبِمَ تَقْتُلُونَنِي. رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة

وللدارمي لفظ الحديث .

هغه وينه نه ده توی کړې نو بيا په څه وجه باندې تاسو زما قتلول غواړئ .(ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي) .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۴۰۰، رقم: ۲۱۵۸، والنسائي ۷\ ۹۱- ۹۲، رقم: ۴۰۱۹، وابن ماجه ۲\ ۸۴۷، رقم: ۲۵۳۳، والدارمي ۲\ ۲۲۵، رقم: ۲۲۹۷.

تشريح: يوم الدار : يعني د كور ورځ ددې څخه هغه ورځ مراد ده چې په هغه كې د دريم خليفه راشد حضرت عثمان غني رضي الله عنه په مخالفت كونكو كې پورتنۍ جملې وفرمايلې .

د نكاح څخه وروسته زنا كول : ددې مطلب دادی چې كوم څوک د واده كولو سربېره زنا وكړي نو د هغه سنگسارول جائز دي ، محصن هغه سړي ته وايي چې مسلمان وي ، ازاد وي، مكلف وي او په صحيح نكاح سره د خپل ښځې سره يې جماع كړې وي .

او د حديث الفاظ د درامي دي: ددې مطلب دادی چې په روايت كې د حضرت عثمان رضي الله عنه كومه واقعه ذكر سوې ده يعني (اشرف يوم الدار ...) دغه الفاظ دارمي نه دي نقل كړي بلكه د هغه په روايت كې يوازې د اصل حديث الفاظ (لا يحل دم امرء مسلم ...) دي .

قاتل د خير د توفيق څخه محروم وي

﴿۳۳۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ . رواه ابوداؤد

د ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان بنده همېشه د نيكي و لور ته په تيزي سره روان دی تر څو پورې چې د ناجائز ويني مرتكب سوې نه وي او كله چې هغه د حرامي ويني ارتكاب وكړي نو ستړي سي . (او د نيكۍ ولور ته نه مخته كيږي). (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۴۶۳، رقم: ۴۲۷۰.

د لغاتو حل: مُعنِقا : اى مسرعا في طاعته ، منبسطا في عمله. (تلوار كوونكي په طاعت كي).

تشريح: مطلب دادی چې مؤمن تر څو پورې په ناحقه وينه سره خپل لاس رنگ نه كړي د الله تعالى له خوا هغه ته د نيكۍ كولو او د خير طرف ته د سبقت كولو توفيق وركول كيږي كله چې هغه يو ناحق وينه توی كړي نو هغه د هغه گناه په وجه د نيكۍ او خير تر لاسه كولو څخه منع سي

يعني دا د ناحق ويني تويولو گناه ده چي د قاتل زړه تور سي او هغه د خير او نيکی د توفيق څخه محروم سي که څه هم د ټولو گناهو دا عذاب دی مگر دا گناه د نورو ټولو گناهو په نسبت زياته سخته ده.

ناحقه قتل نه معاف کېدونکي جرم دی

﴿٣٣١٩﴾: وَعَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللّٰهُ أَنْ يَغْفِرَهُ إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا أَوْ مُؤْمِنٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله ته اميد دی چي هره گناه معاف کړي خو د هغه سړي گناه نه معافوي چي د شرک په حالت کي مړ سي يا يو مسلمان قتل کړي په قصد. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۴\٤٦٣، رقم: ۴۲۷۰.

تشريح: په څرګنده دغه حديث شريف څخه دا معلوميږي چي څرنګه د شرک گناه د معافی وړ نه ده همدارنګه د قتل عمد گناه بخښنه نه کيږي مگر د اهل سنت والجماعت مذهب دا دی چي د قتل گناه به تر اوږده وخته پوري په سخت عذاب کي د اخته کېدو څخه وروسته وبخښل سي د هغوی دليل د دغه آيت کريمه دی:

إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاء

ژباړه: بېشکه الله تعالی گناه نه بخښي د شرک څخه پرته نور ګناهونه چي هغه يې وغواړي بخښي يې.

کوم چي د دغه حديث د ظاهري مفهوم سوال دی نو دا د قتل سخت عذاب او د هغه د سختي سزا پر اظهار باندي محمول دی يا د دې څخه دا مراد دی چي کوم څوک د مسلمان قتل حلال وګڼي او يو مسلمان قتل کړي نو هغه به نه بخښل کيږي د دې څخه پرته د لفظ متعمدا دا معنی هم کېدای سي چي کوم څوک د يو مؤمن د قتل قصد په دې وجه وکړي چي هغه مؤمن دی نو د هغه سړي بخښنه به نه کيږي.

پر پلار باندي د اولاد قصاص نه سته

﴿٣٣٢٠﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ

يُقَامُ الْحُدُوْدُ فِي الْمَسَاجِدِ وَلَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسجدو کي شرعي حدود نسي قائمېدلای او پلار د اولاد (د قتل) په بدله کي قصاص نه سي اخيستلای. (ترمذي دارمي).

تخريج: سنن الترمذي ١٢/٤، رقم: ١٤٠١، والدارمي ٢٥٠/١٢، رقم: ٢٣٥٧.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي د زنا، غلا او داسي نورو جرمونو حدود (يعني شرعي سزاوي) دي په مسجدو کي نه جاري کيږي همدرانګه قصاص هم په دغه حکم کي داخل دی چي هيڅ قاتل دي د قصاص په توګه په مسجد کي نه قتل کيږي ځکه چي مسجدونه د فرض لمانځه لپاره دي يا د فرض لمنځو د توابعو لپاره دي لکه نفل لمنځونه، ذکر، د ديني علم زده کړه او داسي نور.

د حديث د دوهمي برخي مطلب دادی که چيري پلار خپل اولاد قتل کړي نو هغه دي د مقتول په بدله کي نه قتل کيږي، په دې باره کي فقهي تفصيل دادی که چيري زوی خپل مور يا پلار قتل کړي نو پر دې د ټولو علماؤ اتفاق دی چي زوی د قصاص په توګه قتل کيږي مګر که چيري مور يا پلار زوی قتل کړي نو په دې کي د علماؤ اختلاف دی، امام ابو حنيفة رحمه الله، امام شافعي او امام محمد رحمة الله عليهم وايي چي پلار دي د قصاص په توګه قتل کړل سي مګر امام مالک رحمه الله وايي که چيري پلار خپل زوی په ذبح کولو سره وژلی وي نو په دغه صورت کي پلار د قصاص په توګه قتل کيدای سي او که چيري هغه زوی په توري سره مړ کړی وي نو بيا هغه دي د قصاص په توګه نه قتل کيږي، دا خبره دي په ذهن کي وي چي په دې باره کي د مور حکم هم دادی کوم چي د پلار حکم دی او نيکه او انا هم د مور او پلار په حکم کي داخل دي.

پلار او زامن د يو بل په جرم کي د مؤاخذې قابل نه دي

﴿٣٣٢١﴾: وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِيْ

د حضرت ابو رمثه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي

فَقَالَ مَنْ هٰذَا الَّذِيْ مَعَكَ؟ قَالَ اِبْنِيْ اِشْهَدْ بِهِ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِيْ عَلَيْكَ

حاضر سوم نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه دا ستا سره څوک دی؟ زما پلار عرض وکړ دا زما زوی

دی تاسو د دې څخه خبر سئ نبي کريم ﷺ وفرمايل: خبر سئ ! چې د ده د ګناه مواخذه (پوښتنه) به ستا څخه کيږي

وَلاَ تَجْنِيْ عَلَيْهِ . رواه أبو داود والنسائي وزاد في شرح السنة فِيْ أَوَّلِهِ قَالَ

او ستا د ګناه پوښتنه به د ده څخه نه کيږي .(ابوداؤد نسائي) او د ((شرح السنه)) کي د دې

دَخَلْتُ مَعَ أَبِيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأٰى أَبِي الَّذِيْ بِظَهْرِ

حديث په پيل کي دا الفاظ زيات دي چي ابو رمثه رضی الله عنه وويل زه د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم زما پلار د نبي کريم ﷺ په شا باندي د نبوت مهر وليدي

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعْنِيْ أُعَالِجُ الَّذِيْ بِظَهْرِكَ فَإِنِّيْ طَبِيْبٌ فَقَالَ أَنْتَ رَفِيْقٌ وَاللهُ الطَّبِيْبُ .

نو عرض يې وکړ ماته اجازه راکړه چي ستا په شا مبارکه چي څه دي زه د هغې علاج وکړم زه طبيب يم نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ته رفيق (يعني په مريض باندي مهربانه) يې او خداي تعالي طبيب دی .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۶۳۵، رقم: ۴۴۹۵، والنسائي ۸\ ۵۳، رقم: ۴۸۲۲.

تشريح: ستا شاهد وي: د دې مطلب دا دی چي تاسو پر دې باندي شاهد اوسئ چي دا زوی زما صلبي زوی دی او د هغه د شاهد کولو څخه مقصد دا وو که زما څخه يو جرم لکه قتل وغيره وسي نو زما د دغه زوی څخه به مؤاخذه کيږي لکه څرنګه چي د جاهليت په زمانه کي رواج وو چي پلار او زوی به د يو بل په جرم کي نيول کېدل مګر رسول الله ﷺ په خپل دغه ارشاد سره (تا د خپل ګناه په وجه مبتلا کوي....) په ذريعه د ابو رمثه رضی الله عنه پلار ته دا واضحه کړه که چيري ستا زوی يو جرم وکړي نو د هغه په وجه به ته نه نيول کيږي او نه د ده د ګناه په وجه په آخرت کي ستا څخه پوښتنه کيږي همدا رنګه که ستا څخه يو جرم او ګناه وسي نو په دنيا او آخرت کي ستا د زوی څخه هيڅ مؤاخذه نه کيږي دا يوازي د جاهليت د زمانې رواج وو چي پلار او زوی به د يو بل په ګناه نيول کېدل دا يو غير منصفانه عمل وو چي اوس ختم سوی دی ځکه چي زه طبيب يم : د دغه جملې په ذريعه د ابو رمثه رضی الله عنه پلار د طب او پوهي دعوه وکړه د هغه دا خبره چي د هغه

ځخه د هغه ناپوهي او بي ادبۍ ظاهره کېدل رسول الله ﷺ ډېره ناخوښه کړه نو ورته یې وفرمايل چي ته خو رفيق يې په دې معنی چي ستا کار ځومره دی چي کله ته ناروغ ووينې نو د هغه ظاهري حالت په لېدو سره دواء ورکوې د هغه د روغتيا په دوران کي د هغه سره د نرمۍ او مهربانۍ رويه اختيار کړه او کوم شی چي د هغه لپاره په ظاهره تاوان وي د هغه د ليري کولو هڅه کوه ددې ځخه پرته نور ستا په وس کي څه دي ايا شفاء ستا په لاس کي ده ايا د ناروغۍ حقيقت ته ستا د علم او فن رسيدل کيږي هيڅ کله نه طبيب خو الله تعالی دی د ناروغۍ په حقيقت هم هغه پوهيږي او د دواء حقيقت هم د هغه په لاس کي دی چي په بقاء سره موصوف دی د هغه پاک ذات ځخه پرته لوی تر لوی طاقت هم شفاء نه سي ورکولای .

د زوی ځخه د پلار قصاص اخيستل کيږي

﴿٣٣٢٢﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار ځخه او هغه د خپل پلار ځخه روايت کوي چي د سراقه بن مالک رضي الله عنه

قَالَ حَضْرَتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقِيدُ الْأَبَ مِنِ ابْنِهِ وَلَا يُقِيدُ الِابْنَ مِنْ أَبِيهِ . رواه الترمذي فضعفه .

بيان دی چي زه هغه وخت د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم چي نبي کريم ﷺ د زوی ځخه د هغه د پلار قصاص (بدل) واخيستئ او رسول الله ﷺ به د پلار ځخه د زوی قصاص نه اخيستئ . (ترمذي)

تخريج: سنن الترمذي ١١/٤، رقم: ١٣٩٩.

تشريح: که چيري زوی خپل پلار مړ کړي نو د پلار په قصاص کي به زوی قتل کيږي مگر که چيري پلار خپل زوی قتل کړي نو پلار به د زوی په قصاص کي نه قتل کيږي بلکه د هغه ځخه به د زوی ديت اخيستل کيږي .

د غلام په قصاص کي ازاد سړی قتل کيدای سي که يا؟

﴿٣٣٢٣﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حسن د سمره رضي الله عنه ځخه روايت کي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي وزاد النسائي في رواية آخرى و من خصى عبده خصيناه.

څوک چي خپل غلام قتل کړي موږ به د هغه په بدله کي هغه قتلوو او څوک چي د خپل غلام اندامونه پرېکړي نو موږ به د هغه اعضاء ورپرېکوو. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي) او په نسائي کي دا الفاظ زيات ليکل سوي دي او څوک چي خپل غلام خصي کړي نو موږ به هغه خصي کړو.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۸-۱۹، رقم: ۱۴۱۴، وابوداود ۴\۶۵۲، رقم: ۴۵۱۵، وابن ماجه ۲\۸۸۸، رقم: ۲۶۶۴، والدارمي ۲\۲۵۰، رقم: ۲۳۵۸، والنسائي ۸\۲۰-۲۱، رقم: ۴۷۳۶.

د لغاتو حل: جدع: اى قطع اطرافه.

تشريح: کوم څوک چي خپل غلام قتل کړي: دا رسول الله ﷺ د جزاء د سختئ او خبرداري په توګه وفرمايل چي خلک د خپلو غلامانو د وژلو څخه منع سي دا داسي ده لکه څرنګه چي يو سړی د خپل سخت منع او خبرداري سربېره هم کله چي په څلورم يا پنځم کال شراب وڅښل نو رسول الله ﷺ وفرمايل دی قتل کړی مګر کله چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي راوستل سو نو رسول الله ﷺ هغه قتل نه کړ، ځيني حضرت وايي چي په دغه حديث کي د غلام څخه مراد هغه سړی دی چي کله غلام پاته سوی وي او بيا ازاد سوی وي که څه هم داسي سړي ته غلام نه سي ويل کيدای مګر د هغه د پخواني حال په اعتبار هغه دلته په غلام سره تعبير کړل سو.

ځيني علماء وايي چي دا حديث د دغه آيت کريمه (الحر بالحر و العبد بالعبد...) په ذريعه منسوخ دی، په دې باره کي د فقهي مسئلې تعلق دادی چي د امام ابوحينفة رحمة الله عليه په مذهب که چيري يو سړی د بل سړي غلام قتل کړي نو د هغه غلام په بدله کي قتل کيدای سي مګر که چيري هغه خپل غلام قتل کړي نو د هغه غلام په بدله کي به نه قتل کيږي، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه څخه پرته د درو سره امامانو مذهب دادی چي د آيت کريمه (الحر بالحر...) په سبب د يو ازاد سړي څخه د خپل غلام په بدله کي دي قتل کړل سي او نه دي د بل چا په بدله کي، د ابراهيم نخعي رحمة الله عليه او سفيان ثوري رحمة الله عليه قول دادی چي د مقتول غلام په بدله کي دي قاتل ازاد کړل سي که څه هم هغه مقتول د هغه خپل غلام وي يا د بل چا غلام وي.

او څوک چي اندامونه پرې کړي...: په شرح السنه کي ليکلي دي چي د ټولو علماؤ پر دې

اتفاق دی که یو ازاد سړی د یو غلام اندامونه پرې کړي نو دهغه په بدله کي د هغه ازاد سړي اندامونه نه پرې کيږي ، د علماء د اتفاق څخه دا ثابته سوه چي د رسول الله ﷺ ارشاد (موږ به د هغه اندامونه پرېکړو) دغه ارشاد يا خو د زجر او خبرداري په توګه دی او يا منسوخ دی .

قاتل دي د مقتول وارثانو ته حواله کړل سي

﴿٣٣٢٤﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ فَإِنْ

الله ﷺ وفرمايل: څوک چي قصدا يو بل کس قتل کړي نو قاتل دي د مقتول وارثانو ته حواله

شَاءُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ وَهِيَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً

کيږي او که خوښه يې وي د هغوی قتل دي يې کړي او که خوښه يې وي د هغه ديت دي ځيني واخلي او د قتل ديت سل اوښي دي چي په هغه کي ديرش اوښي هغه اوښي شاملي دي چي د درو کلو وي او په څلورم کال کي داخلي سوي وي او ديرش اوښي به د څلورو کلو وي او په پنځم کال کي به شاملي سوي وي

وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً وَمَا صَالَحُوا عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُمْ . رواه الترمذي .

او څلوېښت اوښي به حملداره وي . د مقتول وارثانو ته اختيار دي که يې خوښه وي ديت ځيني واخلي او يا دي صله ورسره وکړي هر څو چي يې ځيني واخيستلې هغه د دوی دي . (ترمذي).

تخريج: سنن الترمذي ٦١٤، رقم: ١٣٨٧.

د لغاتو حل: الحقة: هی من الابل ما دخلت في الرابعة. (هغه اوښه چي په څلورم کال کي وي).

تشريح: په ديت کي د امام شافعي او امام محمد رحمة الله عليهما مذهب دادی ، مګر امام ابو حنيفة او امام ابو يوسف رحمة الله عليهما وايي چي په ديت کي کوم سل اوښان مشروع دي هغه بايد داسي وي چي پنځه ويشت بنت لبون، پنځه ويشت خفه ، پنځه ويشت جذعه او پنځه ويشت مخاض وي، د دوی دليل د حضرت سائب رضي الله عنه ابن يزيد دا حديث دی چي رسول الله ﷺ په ديت کي د څلورمه ول اوښانو ورکولو حکم ورکړ ، او که چيري دا حديث ثابت وي نو صحابه

کرامو به د اختلاف کولو پر ځای په اتفاق سره په دغه حدیث عمل کولای.

په قصاص او دیت کي ټول مسلمانان برابر دي

﴿۳۳۲۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ټول مسلمانان (که هغه کوچني وي که لوي که عالم وي او که جاهل) قصاص او دیت کي برابر دي

دِمَاؤُهُمْ يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ

او که معمولي مسلمان په یوه معمولي شی باندي عهد وکړي نو هغه عهد به پوره کوي او که

سِوَاهُمْ أَلَا لَا يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ. رواه ابوداؤد والنسائي ورواه ابن ماجة عن ابن عباس.

یو چا د لیري څخه د یو شی معاهده کړې وي نو هغه دي نه ماتوي او ټول مسلمانان د کافرانو په ځای باندي د یوه لاس حکم لري اګاه سئ! چي د هیڅ کافر په قتل کي دي مسلمان نه قتل کیږي نه هغه سړیچي په خپل عهد و ضمان (ضامن) کي دي تر څو پوري چي هغه عهد ضمان کي وي. (ابوداؤد نسائي) او په ابن ماجه کي دا حدیث د ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړې دی.

تخریج: سنن ابي داود ۴\٦٦٦، رقم: ۴۵۳۰، والنسائي ۸\۲۴، رقم: ۴۷۴۵.

تشریح: ټول مسلمانان برابر دي: ددې مطلب دادی چي په قصاص او دیت اخیستلو او ورکولو کي ټول مسلمان یو ډول دي، شریف او رزیل، کوچني او لوی، عالم او جاهل، امیر او غریب، په سړي او ښځه کي هیڅ فرق نه سته، داسي نه ده چي لوی درجې والا به د کوچني درجې والا کي نه سي قتل کیدای یا د لوی ذات والا د دیت اندازه به پوره ورکول کیږي او د کوچني ذات والا د دیت مقدار دي کم ورکړل سي لکه څرنګه چي د جاهلیت په زمانه کي رواج وو کله چي به یو حیثیت والا سړي کم حیثیت والا سړی قتل کړی نو په قصاص کي به یې هغه نه قتلوی بلکه د هغه په عوض کي به یې د هغه د قبیلې هغه څو کسان قتلول کوم چي به غوره وه.

او یو ادنی مسلمان هم امان ورکولای سي: ددې مطلب دادی که چیري په مسلمانانو کي یو ادنی کس لکه غلام یا ښځه یو کافر ته امان ورکړي نو د ټولو مسلمانانو لپاره ضروري ده

چي هغه كافر ته امان وركړي او د هغه د سر او مال د ساتني چي كوم عهد د هغه مسلمان له خوا سوی دی هغه مات نه كړي.

او ليري مسلمان هم حق لري : ددغه جملې دوه مطلبه دي يو خو دادی كه يو داسي مسلمان چي د دارالحرب څخه ليري وي يو كافر ته امان وركړی وي نو د هغه مسلمان لپاره چي دارالحرب ته نژدې دی دا جائز نه دی چي د هغه مسلمان عهد مات كړي ، دوهمه معنی يې داده چي هر كله د مسلمانانو لښكر په دارالحرب كي داخل سي او د مسلمانانو امير يو ډله بلې خوا ته واستوي او بيا هغه ډله د غنيمت د مال په اخيستلو سره بېرته راسي نو هغه د غنيمت مال به يوازي د هغه ډلي حق نه وي بلكه هغه به په ټول لښكر كي وېشل كيږي.

تر څو چي هغه په عهد او ضمان كي دی: مطلب دادی چي كوم كافر د محصول په ادا كولو سره د اسلامي هيواد اوسيدونكي سي او اسلامي پاچا د هغه د ځان او مال د ساتني عهد او ضمان كړی وي نو تر څو چي هغه ذمي دی او د خپل ذمي كېدو خلاف يو كار نه وكړي مسلمان دی هغه نه قتلوي بلكه د هغه ساتنه دي خپل ذمه داري وګڼي، ددې څخه معلومه سوه چي په اسلامي قانون كي د حكومت په نظر كي د يو ذمي د ديت هم هغه قيمت دی كوم چي د يو مسلمان د ديت دی نو يو مسلمان كه چيري يو ذمي په ناحقه قتل كړي نو د هغه په قصاص كي د هغه قاتل مسلمان قتلول پكار دي لكه څرنګه چي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دی.

د حديث ددغه جملې (د كافر په بدله كي دي مسلمان نه قتل كيږي) ددې څخه دا مفهوم هم واضح سو چي دلته د كافر څخه مراد حربي كافر دی ذمي مراد نه دی، خلاصه دا چي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد هيڅ مسلمان دي د حربي كافر په قصاص كي نه قتل كيږي مګر د ذمي په قصاص كي دي قتل كړل سي او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد هيڅ مسلمان دي د يو كافر په قصاص كي نه قتل كيږي كه څه هم هغه كافر حربي وي يا ذمي وي.

د مقتول يا ژوبل سوي د وارثانو حق

﴿۳۳۲۶﴾: وَعَنْ شُرَيْحِ الْخُزَاعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو شريح خزاعي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا واورېدل چي

يَقُوْلُ مَنْ أُصِيْبَ بِدَمٍ أَوْ خَبَلٍ وَالْخَبَلُ الْجُرْحَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ بَيْنَ إِحْدَى

ويل يې څوک چي د خپل عزيز په ناحقه قتل كي مبتلا وي يا د يو زخم په مصيبت كي (يعني د

يو چا دوست وژل سوي وي) نو هغه

ثَلَاثٍ فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوا عَلٰى يَدَيْهِ بَيْنَ أَنْ يَّقْتَصَّ أَوْ يَعْفُوَ أَوْ يَأْخُذَ

په دې درو خبرو كي يوه خبره اختيارولای سي كه چيري هغه د دغه درو خبرو څخه زيات د
څلورمي خبري ته تير سي نو لاسونه يې و نيسئ. (۱)- يا خو د هغه بدل وا خلي. (۲)-يا
معاف دي يې كړي. (۳)-يا دي ديت قبول كړي

الْعَقْلَ فَإِنْ أَخَذَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ عَدَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهُ النَّارُ خَالِدًا فِيهَا
مُخَلَّدًا أَبَدًا. رواه الدارمي

بيا كه په دې خبرو كي يوه خبره قبول كړي او د هغه څخه وروسته زياتي وكړي يعني د بل شي
مطالبه وكړي نو دهغه لپاره د دوږخ اور دى چي په هغه كي به همېشه وي. (دارمي).

تخريج: سنن الدارمي ٢\٢٤٧، رقم: ٢٣٥١.

تشريح: (خالدا فيها تلخدا)، په دغه جمله كي د تاكيد څخه وروسته د تاكيد په توګه د سخت زجر او خبرداري او سخت وعيد د اظهار لپاره دى، په دوږخ كي د همېشه اوسيدو په باره كي چي كوم وضاحت په اول فصل كي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت كي تېر سوى دى هغه وضاحت دلته هم په نظر كي ساتل پكار دي.

د قتل خطا حكم

﴿٣٣٢٧﴾: وَعَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنْ قُتِلَ فِي

حضرت طاؤس رضي الله عنه د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوك چي

عِمِّيَّةٍ فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بِحِجَارَةٍ او جلد أَوْ بِالسِّيَاطِ أَوْ ضَرْبٍ بِعَصًا فَهُوَ

بې دريغه (بې ځايه لكه په ړندو ستركو په بې فكري) مثلا د كاڼو په جګړه كي يا د لرګو كي مړ
سي (او د قاتل درک نه وي نو دا قتل قتل خطا دى)

خَطَأٌ وَعَقْلُهُ عَقْلُ الْخَطَإِ وَمَنْ قُتِلَ عَمْدًا فَهُوَ قَوَدٌ وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ

او د دې وينه تويونه د قتل د خطا وينه تويونه ده او څوک چي قصدا وو ژل سي نو دا قتل

قصاص واجبوي او څوک چي په قصاص اخيستلو کي خنډ وي

لَعْنَةُ اللّٰهِ وَغَضَبُهُ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ . رواه ابوداؤد والنسائي.

نو پر هغه باندي د الله جَلَّ جَلَالُهُ لعنت او غضب الهي دی د هغه نه فرض قبليږي او نه نفل. ابوداؤد نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ٦٧٦، رقم: ۴۵۳۹، والنسائي ۸\ ۳۹-۴۰، رقم: ۴۷۸۹.

د لغاتو حل: عمية: الضلالة وقيل الفتنة وقيل الامر الذي لايستبين وجهه ولايعرف امره. (گمراهي...). صَرف: اى نفل او توبة. (نفل يا توبه.) عدل: اى فرض او فدية. (فرض يا فديه.)

تشريح: د خلکو په مينځ کي په ډبرو ويشتلو کي: ددې مطلب دادی چي د مثال په توګه زيد په يو داسي ځای کي راګېر سو چيري چي دوو مخالفي ډلي په خپل مينځ کي جنګېدلې او ډ دواړو خواوو څخه پر يو بل باندي ډبرې ويشتل کېدی او ناڅاپه يو ډبره پر زيد ولګېده او هغه مړ سو، يعني که چيري يو سړی د ډبري په ويشتلو سره مړ سي بلکه داسي به ووايو چي دلته د ډبري ذکر محض اتفاقي دی مراد دادی چي د يو دروند شي په وهلو سره مړ سي نو دا قتل قصاص نه واجبوي بلکه په دې کي ديت واجب دی او ديت هم هغه چي په قتل خطا کي واجب وي، د فقهاء په اصطلاح کي دغه قتل ته شبه عمد ويل کيږي، د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد د شبه عمد تعريف دادی: هغه قتل چي په يو غير داغ دار شي سره واقع سوی وي که څه هم هغه شی داسي وي چي په هغه کي اکثر هلاکت واقع کيږي مګر د صاحبينو او امام شافعي په نزد د شبه عمد تعريف دادی چي هغه قتل چي په اراده د قتل په يو داسي شي سره سوی وي چي په هغه سره اکثره وخت قتل نه واقع کيږي او کوم قتل چي په يو داسي شي سره وي چي په هغه سره اکثر هلاکت واقع کيږي په قتل عمد کي به داخل وي، په ذکر سوي حديث کي ذکر سوي شيان يعني ډبري او لرګي، د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله په نزد پر خپل مطلق معنی باندي محمول دی که څه هم هغه سپک وي يا دروند وي، حال دا چي د صاحبينو او امام شافعي رحمه الله په نزد دغه شيان پر سپک کېدو باندي محمول دي، يعني خلاصه دا سوه چي کوم قتل په دروند شي سره وي په هغه کي د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله په نزد قصاص واجب نه دی او د صاحبينو او امام شافعي په نزد د ذکر سوي تفصيل اعتبار به کيږي.

کوم څوک چي په قصاص اخيستو کي حائل وي: ددې مطلب دادی چي کوم څوک د مقتول د وارثانو څخه د قصاص په اخيستلو کي خنډ کيږي د هغه په باره کي د زجر د سختوالي په توګه دا وعيد فرمايل سوی دی چي پر هغه د اللّٰه تعالی لعنت او غضب نازليږي يعني هغه د

الله تعالی د ناراضګۍ سبب ګرځي .

د قتل ډولونه

د فقهاؤ په نزد د قتل پنځه ډولونه دي :

۱. قتل عمد .
۲. قتل شبه عمد .
۳. قتل خطاء .
۴. قتل جاري مجری خطاء .
۵. قتل بسبب .

۱: قتل عمد دادی چې مقتول په یو داسې شي سره ووژل سي چې اندامونه جلا کړي که هغه د وسلې د ډول څخه وي یا ډبره، لرګۍ او داسي نور شیان وي، او ماده ئې د اور شعله وي ، د صاحبینو په نزد د قتل عمد تعریف دادی چې مقتول بېله د قتل د ارادې په یو داسي شي سره ووژل سي چې په هغه سره په عامه توګه انسان هلاکیږي د قتل عمد کونکی سخت ګناه کار دی او ددغه قتل سزا قصاص دی مګر دا چې د مقتول وارثان هغه معاف کړي یا د دیت په اخیستلو باندي راضي سي په دې کي کفاره نه واجبیږي .

۲: قتل شبه عمد دادی چې مقتول د ذکر سوو شیانو څخه پرته په یو بل شي سره په قصد وهل سوی وي د قتل په دغه صورت کي هم قاتل ګناه کار دی ګرچه په دې کي د قصاص پر ځای پر قاتل باندي دیت مغلظه واجبیږي (دیت مغلظه څلور ډوله سل اوښانو ته وایي) مګر که چیري هلاکت واقع وي نو قصاص واجبیږي مګر که چیري د هغه په وجه د مړ کېدو پر ځای د وهل سوي کس یو اندام پرې سوی وي نو د وهونکي به هم هغه اندام پرې کیږي .

۳: د قتل خطاء دوه ډولونه دي یو خو دا چې د خطاء تعلق د قصد سره وي د مثال په توګه یو شی د ښکار په ګمان نښه کړل سي مګر هغه سړی وي یا یو سړی د یو حربي په ګمان سره هغه قتل کړي مګر هغه مسلمان وي ، دوهم دا چې د خطاء تعلق د فعل سره وي د مثال په توګه پر یو خاص نښه باندي غشی یا مرمۍ ولي مګر غشی یا مرمۍ په خطاء سره پر یو سړي ولګیږي .

۴: قتل جاري مجری خطاء : ددې صورت دادی چې د مثال په توګه یو سړی په خوب کي پر بل سړي را وغورځیدی او هغه یې هلاک کړی ، په قتل خطاء او جاري مجری خطاء کي کفاره لازمیږي او پر عاقل باندي دیت واجبیږي، او په دغه صورتو کي ګناه هم ده .

۵: قتل تسبیب دادی چي د مثال په توګه یو سړی د بل سړي په مځکه کي د هغه د اجازې څخه پرته څاه وکاږي یا یو ډبره یا بل شی کښیږدي او یو بل دریم سړی په هغه څاه کي ولویږي یا د هغه ډبري سره په مښلېدو مړ سي نو په دغه صورت کي پر عاقل باندي دیت واجبیږي او کفاره نه لازمیږي ، دا خبره دي په ذهن کي وي چي دقتل په اولو څلورو ډولو یعني عمد، شبه عمد، قتل خطاء او جاري مجری خطاء کي قاتل د مقتول د مېراث څخه نه محروم کیږي او په پنځم ډول یعني قتل تسبیب کي قاتل د مېراث څخه محروم کیږي .

د دیت اخیستلو وروسته قتل جائز نه دئ

﴿۳۳۲۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أُعْفِيَ مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِهِ الدِّيَةَ . رواه بوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه به هغه سړی عفوه نه کړم (د قصاص اخیستلو څخه ماسوا پرې نه ږدم) چي هغه د خپل مقتول وینه تویول اخیستي وي او وروسته یې مړ کړي .(ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۶۴۶، رقم: ۴۵۰۷.

د زخمي کوونکي د معافولو اجر

﴿۳۳۲۹﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي

يَقُولُ مَا مِنْ رَجُلٍ يُصَابُ بِشَيْءٍ فِي جَسَدِهِ فَيَتَصَدَّقُ بِهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ بِهِ دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِهِ خَطِيئَةً . رواه الترمذي وابن ماجة.

فرمایل : څوک چي زخمي سوی وي او د بدل اخیستلو په ځای هغه کس معاف کړي چا چي دی زخمي کړی دی نو الله جل جلاله به د هغه درجه ورلوړه کړي او د هغه ګناه به ورمعاف کړي . (ترمذي ابن ماجه) .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۸–۹، رقم: ۱۳۹۳، وابن ماجه ۲\۸۹۸، رقم: ۲۶۹۳.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

په قتل کي شریک ټولو ته سزا

﴿۳۳۳۰﴾: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَتَلَ نَفَرًا خَمْسَةً أَوْ

د حضرت سعید بن مسیب رضي الله عنه څخه روایت دی چي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د یوه سړي په قتل کي پنځه یا

سَبْعَةً بِرَجُلٍ وَاحِدٍ قَتَلُوهُ قَتْلَ غِيلَةٍ وَقَالَ عُمَرُ لَوْ تَمَالَأَ عَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَ لَقَتَلْتُهُمْ جَمِيعًا. رواه مالك و روى البخاري عن ابن عمر نحوه.

اووه کسان قتل کړی وه دا ټول د هغه کس په قتل کي سره شریکان وه او د قتلولو څخه یې وروسته وویل که په دې سړي باندي د صنعا ټولو خلکو حمله کړې وای یا د قاتلانو مرسته یې کړې وای نو ما به د صنعا ټول خلک قتل کړي وای. (مالک) په بخاري کي دا حدیث د ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل کړی دي.

تخریج: مالک في الموطا ۲\۸۷۱، رقم: ۱۳.

تشریح: صنعاء د یمن یو مشهور ښار دی چي نن سبا د یمن پلازمینه هم دی، حضرت عمر رضي الله عنه د صنعاء ذکر ځکه وکړ چي کوم قاتلان هغه قتل کړي وه په قصاص کي هغوی ټول د صنعاء اوسیدونکي وه یا دا چي د عربو په نزد د یو شي د زیاتوب ظاهرولو لپاره په خپل کلام کي صنعاء د قتل په توګه استعمالېدل، دا حدیث ددې دلیل دی چي د یو سړي په قتل کي چي څو مره کسان شریک وي نو په قصاص کي هغوی ټول قتلول پکار دي.

د قیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نیولی الله تعالی ته فریاد کوي

﴿۳۳۳۱﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ حَدَّثَنِي فُلَانٌ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جندب رضي الله عنه څخه روایت دی چي ماته فلاني سړي بیان کړې دی. چي رسول الله صلی الله علیه وسلم

قَالَ يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِقَاتِلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ سَلْ هَذَا فِيمَ قَتَلَنِي

وفرمایل: د قیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نیولی را ولي او الله جل جلاله ته به عرض وکړي دده

ثخه پو ښته وسي چي ولي يې زه قتل کړی وم؟

فَيَقُولُ قَتَلْتُهُ عَلَى مُلْكِ فُلَانٍ قَالَ جُنْدَبٌ فَاتَّقِهَا . رواه النسائي .

قاتل به وو ايي چي دی مي د فلاني باچا په سلطنت كي (د هغه په كومك سره) قتل کړې وو د جندب رضی الله عنه بيان دي چي ته د دې ثخه ځان وساته . (نسائي) .

تخريج: سنن النسائي ١٧\٨٤، رقم: ٣٩٩٨.

تشريح: په ظاهره د مقتول سوال او د قاتل په جواب كي مطابقت نه معلوميږي ځكه چي مقتول خو د قتل سبب پوښتلی وو نه دا چي د قتل دځای په باره كي يې پوښتنه کړې وه ، په دې باره كي شارحين وايي چي د قاتل جمله (ما هغه د فلاني سړي په پاچاهي كي قتل کړی وو) ددې ثخه مراد داديچي ما د فلاني حاكم يا پاچا په زمانه كي د هغه په مرسته سره يا د هغه په اشاره سره دی قتل کړی وو مگر دا معنى به په هغه صورت كي وي كله چي په روايت كي لفظ د مُلك د ميم په پېښ سره وي او كه چيري دغه لفظ د ميم په زېر سره وي يعني مِلك وي نو بيا به دا معنى مراد وي چي ما هغه د جگړې په دوران كي قتل کړی دی چي زما او دده په مينځ كي دفلاني سړي د مثال په توگه د زيد په كاروبار كي سوې وه ، په دې اعتبار د قاتل ذكر سوې جمله به د واقعې د بيان لپاره وي .

د جندب رضی الله عنه قول (ته د دې ثخه ځان وساته) ددې ثخه مراد مخاطب د قتل ثخه او په قتل كي د مرسته كولو ثخه او د جگړې او فساد نه كولو ثخه چي په عامه توگه سره د قتل سبب كيږي منع كول دي ، طيبي رحمة الله عليه وايي چي حضرت جندب رضی الله عنه يو پاچا ته په نصيحت كولو سره دا حديث بيان کړی وو او د ذكر سوې جملې مخاطب هغه پاچا وو ځكه د جندب رضی الله عنه مطلب دا وو چي پاچا دي د يو ظالم مرسته نه كوي .

د قاتل مرسته كونكي ته وعيد

﴿٣٣٣٢﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعَانَ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه ثخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ثوک چي د مؤمن په قتل

عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ لَقِيَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ . رواه ابن ماجة .

كي په نيمه كلمه سره كومك وكړي (مثلا د قتل ويلو په ځاى قت ووايي) نو الله ﷻ به د هغه سره په دا سي حال كي ملاقات وكړي چي د دواړو سترګو په مينځ كي به يې ليكلي وي چي دا كس د خداي تعالى د رحمت څخه نا اميده دى . (ابن ماجه) .

تخريج: سنن ابن ماجه ٢\ ٨٧۴، رقم: ٢٦٢٠.

تشريح: د مسلمان وژل د ګناه د سختوالي له كبله د كفر مشابه دى، په دې اعتبار سره دغه جمله (دد الله ﷻ د رحمت څخه نا اميده دى) دا د كفر كنايه ده ځكه چي د آيت كريمه (لاييئس من روح الله الا القوم الكافرون) بېشكه د الله ﷻ د رحمت څخه كافران نااميده كيږي، ددې په موجب د الله تعالى د رحمت څخه نااميدي يوازي د كافرانو لپاره ده .

ددغه جملې خلاصه داده چي داسي سړى به د قيامت په ورځ د ذكر سوې علامې په ذريعه د مخلوقاتو په مينځ كي رسوا وي مګر دا خبره دې په ذهن كي وي چي د حديث مفهوم يا خو د داسي سړي په باره كي پر سخت وعيد باندي محمول دى يا د هغه محمول هغه سړى دى كوم چي په قتل كي مرسته كول حلال ګڼي او مرسته كوي .

د قاتل مرسته كوونكى دې بندي كړل سي

﴿٣٣٣٣﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِذَا أَمْسَكَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ وَقَتَلَهُ الْآخِرُ يُقْتَلُ الَّذِيْ قَتَلَ وَيُحْبَسُ الَّذِيْ أَمْسَكَ . رواه الدار قطني

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي څوک د يو چا لپاره ونيسي او بل يې قتل كړي نو قاتل دې د هغه په بدل كي قتل سي او كومک كونكي دې بندي كړل سي . (دار قطني) .

تخريج: سنن الدار قطني ٣\ ١۴٠، رقم: ١٧٦.

تشريح: لكه څرنګه چي يو ښځه يو سړى ونيسي او د هغې سره بل سړى زنا وكړي نو پر نيونكي باندي حد نه جاري كيږي همدارنګه د مقتول نيونكي څخه هم قصاص نه سي اخيستل كيداى بلكه هغه به د تعزير په توګه بندي كيږي او د بند وخت به د حاكم او قاضي پر رايه وي هغه چي څومره وخت مناسب وګڼي د بند سزا دې وركړي ، دا د ځينو شارحينو تصريح ده مګر دا بايد په خيال كي وي چي د مقتول نېول په اصل كي د هغه د قتل مرسته كول وي او د نورو حديثو په رڼا كي د قتل د مرسته كونكي سزا هم قصاص دى په دې اعتبار سره ويل كيداى سي

چي دا حديث منسوخ دی .

شمني رحمة الله عليه په ملتقی کي دا مسئله ليکلې ده که چيري يو څوک يو سړی دزمري يا لېوه مخته وغورځوي او هغه زمری يا درنده هغه سړی مړ کړي نو په دغه صورت کي به پر غورځونکی باندي قصاص نه واجبيږي او نه به ديت واجب وي بلکه د هغه لپاره به دا سزا وي چي تر څو پوري هغه توبه ونه کاږي هغه دي بندي کړل سي او داسي دي مړ کړل سي چي د هغه بدن درد کول شروع کړي .

==========

بَابُ الدِّيَاتِ

(د قتل په بدله کي د تاوان بيان)

د ديت معنی او ډولونه : ديات د ديت جمع ده او معنی يې د مالي بدلې ده، يعني ديت هغه مال ته وايي چي د يو انسان په ختمولو يا د يو انسان د بدن د اندام د ناقص (زخمي) کولو په بدله کي ورکول کيږي، په عنوان کي د جمع لفظ يعني ديات د ديت د ډولو په اعتبار راوړل سوی دی ددې څخه دا مقصد دی چي د ديت مختلف ډولونه دي د مثال په توګه يو ديت دا وي چي د يو انسان د وژلو په بدله کي ورکول کيږي او يو ديت دا وي چي د اندام د نقصان په بدله کي ورکول کيږي ، د نوعيت او حيثيت په اعتبار هم ديت پر دوه ډوله دي يوه ته مغلظه وايي او بل ته مخففه وايي .

ديت مغلظه دادی چي څلور ډوله سل اوښان وي يعني پنځه ويشت بنت مخاض (چي د يوه کال په تېرېدو سره په دوهم کال کي وي) او پنځه ويشت بنت لبون (چي دوه کلن وي او په دريم کال کي وي) پنځه ويشت حقه (چي درې کلن وي او په څلورم کال کي وي) او پنځه ويشت جزعه (چي څلور کلن وي او په پنځم کال کي وي) دا تفصيل د امام اعظم ابو حنيفة او امام ابويوسف رحمة الله عليهما په نزد دی ، د امام شافعي او امام محمد رحمة الله عليهما په نزد ديت مغلظه دادی چي درې ډوله سل اوښي وي يعني دېرش حقه ، دېرش جذعه او څلوېښت مثنه (چي پنځه کلن وي او په شپږم کال کي داخل وي) او ټولي حاملې وي ، ديت مغلظه پر هغه چا باندي واجب دی چي قتل خطاء يا قتل جاري مجری خطاء يا د قتل تسبيب قتل يې کړی وي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ګوتي پرې کېدو ديت

﴿۳۳۳۴﴾: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ يَعْنِي الْخِنْصَرَ وَالْإِبْهَامَ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خچې ګوته او بټه ګوته دواړي سره برابري دي (يعني په بدله کي دواړه سره مساوي دي). (بخاري)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۲۲۵، رقم: ٦٨٩٥.

تشريح: که يو سړی د يو چا د دواړو لاسو يا دواړو پښو ټولي ګوتي پرې کړي نو هغه يو انسان د هغه د منفعت (کټي تر لاسه کولو) د يو ډيري لوی ذريعې څخه محروم کړ ځکه نو پر هغه باندي پوره ديت واجبيږي په دې اعتبار د هري ګوتي پر پرې کولو باندي د پوره ديت لسمه برخه ورکول واجبيږي په دې باره کي ويل سوي دي چي د بټي ګوتي او غچې ګوتي ديت برابر دی که څه هم په بټي ګوتي کي دوه بندونه او په کچې ګوته درې بندونه دي مګر په منفعت کي دواړي ګوتي مساوي دي لکه څرنګه چي په راسته لاس او چپه لاس کي فرق نه سته، او کله چي په هره ګوته کي د پوره ديت لسمه برخه واجبيږي او د ګوتي د هر بند په ديت کي به د هغه حساب اعتبار وي کوم چي د ګوتي د هر بند په ديت کي د لسمي برخي دريمه برخه به ورکول کيږي او د بټي ګوتي د هر بند په ديت کي به د لسمي برخي نيم دينار ورکول کيږي ځکه چي په بټه ګوته کي دوه بندونه دي او په نورو ګوتو کي درې درې بندونه دي.

د حاملې ښځي ديت

﴿۳۳۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنِينِ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د بني لحيان د يوې ښځي د نس څخه

امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لَحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قَضَى

د مړ کوچني په غورځېدو چي په جګړه کي په نس باندي د لګېدو څخه غورځېدلي وو د غلام يا مينزي د ((غُره)) (د ويني تويوني شلمه برخه ده) په ورکولو باندي حکم وکړ بيا د هغې ښځي

لَهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ فَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا وَالْعَقْلَ عَلَى عَصَبَتِهَا . متفق عليه.

په مرګ چي په هغې د ((غُره)) د ورکولو حکم نبي کريم ﷺ ور کړی وو د ا حکم نبي کريم ﷺ وکړ چي د هغې ميراث د هغې زامنو او خاوند لپاره دی او وينه تويونه د هغې د عصبه (د پلار لخوا خپلوان چي په ميراث کي وارثان وي) وارثانو باندي ده . (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٥٢، رقم: ٦٩٠٩، ومسلم ٣\١٣٠٩، رقم: ٣٥– ١٦٨١.

تشريح: واقعه داسي وه چي دوو ښځو په خپلو کي جګړه وکړه او په هغوی کي يوې بله په ډبره وويشتل چي هغه ښځه حامله وه ، ډبره د هغې پر نس ولګيدی چي د هغې په نس کي ماشوم د ډبري د وېشتلو په وجه مړ سو او د هغه په ديت کي د ډبري وېشتونکي پر کورنۍ باندي يوه غره يعني يوه مينزه يا يو غلام واجب کړل سو او که چيري هغه کوچنی د ژوندی پيدا کېدو وروسته مړ سوی وي يا هغه کوچنی پيدا سوی وي او د هغه ښځه وروسته يې هغه په ډبري ويشتلې وي او په ويشتلو سره هغه مړ سوی وي نو په دغه صورت کي به پوره ديت واجب کيدای.

غُرّه هغه سپين والي ته وايي کوم چي د آس پر تندي باندي وي او سپين رنګه غلام يا مينزي ته هم غره ويل کيږي مګر دلته مراد مطلق غلام يا مينزه ده ، د فقهاؤ په نزد د غره څخه د ديت شلمه برخه يعني پنځه سوه درهمه مراد دي .

او د هغې ديت د هغې پر عصبه دی : دلته د عصبه څخه مراد کورنۍ ده ، په دغه جملې سره دا واضح کول مراد دي چي که څه هم د هغې پر کورنۍ باندي ديت واجبيږي مګر هغه کورنۍ د هغې د مېراث وارث کيدای نه سي ځکه چي د يو چا د ديت په ذمه دار کېدو سره د هغه د مېراث حقدار کېدل نه لازميږي ځکه د هغه مېراث به هغه خلکو ته رسيږي کوم چي د هغه شرعي وارثان وي . اوس پاته سوه دا خبره چي دلته په وارثانو کي يوازي د زامنو او خاوند خاصوالی ولي سوی دی ؟ په ظاهره خو دا معلوميږي چي دلته د کومي ښځي ذکر سوی دی د هغې وارثان به يوازي دغه خلک موجود وه ځکه نو د هغو ذکر وکړل سو کنه نو مقصد خو دادی چي مېراث هر هغه وارث ته ورکول کيږي کوم چي موجود وي لکه څرنګه چي د راتلونکي حديث څخه څرګنديږي .

په ډبره سره قتل دیت واجبوي

﴿۲۳۳٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ اقْتَتَلَتْ امْرَأَتَانِ مِنْ هُذَيْلٍ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي د هذيل د قبيلې دوې ښځې په خپلو کي سره و جنګېدې يوې بلې سره

بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا فَقَضٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ دِيَةَ

په کاڼو و ويشتلې چي په هغوی کي يوه مړه سوه او کوم بچی چي يې په نس کي وو هغه هم مړ سو رسول الله ﷺ په دې معامله کي دا حکم وکړ چي د ښځي د کوچني بدله د غلام يا مينزه

جَنِيْنِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ وَلِيْدَةٌ وَقَضٰى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ عَلٰى عَاقِلَتِهَا وَ وَرَّثَهَا وَلَدَهَا

وَمَنْ مَّعَهُمْ. متفق عليه.

((غُره)) ده او د ښځي د قتل بدله د دې ښځي پر عاقلو د قوم باندي ده چاچي دا قتل کړې ده او د دې د ويني تويونه نبي کريم ﷺ د هغې زامن او نور خلک وارثان جوړ کړه چي د زامنو سره يې وه. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۲۵۲، رقم: ٦۹۱۰، ومسلم ۳\ ۱۳۰۹، رقم: ۳٦- ۱٦۸۱.

تشريح: په ښکاره خو دا معلوميږي چي په اول حديث کي کومه واقعه تېره سوې ده هغه د بلې ښځي واقعه وه او په دغه حديث کي چي کومه واقعه ذکر سوې ده دا د بلې ښځي واقعه ده، په اول حديث کي خو دا ذکر وو چي په ډبرې ويشتلو سره ښځه مړه سوې وه او په هغه حديث کي د هغه ښځي د وفات څخه وروسته چي کوم احکام نافذ سوي وه د هغو ذکر کول مقصد وو او په دغه حديث کي د هغه ښځي ذکر سوی دی کوم چي د ډبرې په ويشتلو سره مړه سوه او ورسره د هغې په نس کي کوچنی هم مړ سوی وو دلته د هغې حکم بيان سوی دی.

دا حديث د دې دليل دی چي د ډبرې په ذريعه د يو چا هلاکول نه د ديت سبب دی او نه د قصاص سبب دی او دا د قتل عمد د ډول څخه نه دی بلکه د شبه عمد د ډول څخه دی لکه څرنګه چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی مګر په دې باره کي د دغه حديث د نورو امامانو د مذهب خلاف دی ځکه چي هغوی په حديث کي د ذکر سوې ډبره پر کوچنۍ ډبره محمول کړې ده.

﴿٣٣٣٧﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا ضَرَّتَيْنِ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا

د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چې دوو بنو يو د بله په کانو سره وويشتل يا يې

الْأُخْرَى بِحَجَرٍ أَوْ عَمُودِ فُسْطَاطٍ فَأَلْقَتْ جَنِينَهَا فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د خيمو په لرګيو سره ووهل چې په دې وجه د يوې د نس کوچنی و غورځېدی نو رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ غُرَّةً عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ وَجَعَلَهُ عَلَى عَصَبَةِ الْمَرْأَةِ هذه رواية

د کوچني په بدله کي غلام يا مينزه ((غره)) تجويز کړه او هغه بدله يې د ښځي په وارث باندي واجب کړه (دا د ترمذي روايت وو)

الترمذي و في رواية مسلم قَالَ ضَرَبَتْ امْرَأَةٌ ضَرَّتَهَا بِعَمُودِ فُسْطَاطٍ وَهِيَ

او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي مغيره ووېل يوې ښځي خپله اميدواره بن د خېمې په لرګي ووهل په هغه سره هغه مړه سوه

حُبْلَى فَقَتَلَتْهَا قَالَ وَإِحْدَاهُمَا لِحْيَانِيَّةٌ قَالَ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ دِيَةَ الْمَقْتُولَةِ عَلَى عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ وَغُرَّةً لِمَا فِي بَطْنِهَا.

او د هغې د نس کوچنی هم مړ سو په هغوی کي يوه ښځه د بني لحيان د قبيلې څخه وه رسول الله ﷺ د مقتولې وينه تويونه د قاتلې په وارثانو باندي واجب کړه او د کوچني په بدله کي د غلام يا مينزه (غره) يې و ټاکله . (غُره) : په اصل کي هغه سپين والي ته ويل کيږي چي د آس په تندي کي وي او اطلاق يې پر مريي او مينزه باندي هم کيږي او پر نورو شيانو باندي هم .

تخريج: سنن الترمذي ١٧\٤، رقم: ١٤١١. ومسلم ١٣١٠\٣، رقم: ٣٧- ١٦٨٢.

د لغاتو حل: فُسطاط : ضرب من الابنية في السفر دون السرادق، قال النووي رحمه الله هذا محمول على انه عود صغير . (کوچنی لرګی).

تشريح: دا حديث هم د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله د مذهب دليل دی ، د خيمې په ستن (مېل) سره په عامه توګه انسان هلاکيدای سي مګر ددې سربېره هغه ښځه د قتل عمد کونکې ونه ګرځول سوه بلکه د شبه عمد کونکې وګرځول سوه، امام شافعي رحمه الله وايي چي دلته د دېري او

ستن څخه مراد کوچنۍ ډبره او لرګی دی چې په هغه سره په عامه توګه د انسان د قتل اراده نه وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي . (دوهم فصل)

د خطا قتل او شبه عمد دیت

﴿٣٣٣٨﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَإِ شِبْهِ الْعَمْدِ مَا كَانَ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ مِنْهَا

قتل خطا (چې د قتل عمد مشابه دی) که په چلاخو او لکړه سره واقع سي نو د ويني تو يونکي سل اوښان دي چې په هغوی کي

أَرْبَعُونَ فِي بُطُونِهَا أَوْلَادُهَا. رواه النسائي وابن ماجة والدارمي و رواه ابوداؤد عنه وعن ابن عمر و في شرح السنة لفظ المصابيح عن ابن عمر .

څلوېښت بلاربي اوښې هم وي .(نسائي ابن ماجه دارمي)او د ابو داؤد او ابن عمر څخه هم دغسي روايت کړې او په شرح السنة کي لفظ مصابيح د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی .

تخريج: سنن النسائي ٨\٤٢، رقم: ٤٨١٣، وابن ماجه ٢\٨٧٨، رقم: ٢٦٢٨، والدارمي ٢\٢٥٩، رقم: ٢٣٨٣.

تشريح: دغه روايت د مصابيح په الفاظو داسي دی چې (الا ان في قتل العمد الخطاء بالسوط والعصاء مائة من الابل مغلظة منها اربعون خلفة في بطونها اولادها): خبردار اوسئ ! قتل عمد خطاء چې د چلاخي او لرګي په ذريعه واقع سوی وي د هغه ديت سل اوښان ديت مغلظه دی چې په هغه کي څلوېښت اوښې بايد داسي وي چې د هغو په نس کي بچيان وي ، يعني په دغه روايت کي د قتل عمد خطاء څخه مراد قتل خطا شبه عمد دی چې په لوړ حديث کي ذکر سوی دی .

په دې باره کي بايد دا په فکر کي وي چې د قتل په کولو کي يا خو د عمد دخل وي يا د شبه عمد او يا د خطاء محض، د قتل عمد څخه مراد دادی چې يو سړی په قصد سره يو څوک په هلاکونکي شي سره هلاک کړي چې د بدن اندامونه يې جلا کړي يا ټيري سي ، او د شبه عمد مفهوم دادی چې يو سړی په قصد سره په يو داسي شي هلاک کړل سي چې هغه د وسلې د ډول

څخه نه وي که څه هم په عامه توګه په هغه شي سره انسان هلاکیدای سي یا نه سي هلاکیدای ، او قتل خطاء دادی چي یو څوک په سهوه سره هلاک کړل سي ، د دغه درو ډولو ذکر په مخکنیو مخونو کي تېر سوی دی او دا د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه د مذهب سره سم دی، هغه په دغه حدیث کي ذکر سوی لرګی پر مطلق معنی باندي محمول کوي که هغه سپک وي یا درونډ وي ، او نور امامان وايي چي په داسي درونډ شي سره قتل کول چي په هغه سره په عامه توګه انسان قتل کیږي د قتل عمد په حکم کي دی ځکه نو هغوی لرګی پر سپک باندي محمول کړی دی یعني د هغه په نزد دلته هغه سپک لرګی مراد اخیستی دی چي په هغه سره په عامه توګه انسان نه هلاکیږي .

په ځینو روایتو کي د دیت سره د مغلظه لفظ هم نقل سوی دی لکه څرنګه چي په ذکر سوي د مصابیح په روایت کي دغه لفظ موجود دی ، په قتل شبه عمد کي د دیت تغلیظ د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه، امام اعظم ابوحنيفة، امام ابویوسف او امام احمد رحمة الله علیهم په نزد دادی چي څلور ډوله سل اوښان واجب دي چي د هغه تفصیل د باب په شروع کي بیان سوی دی مګر په قتل خطاء کي په اتفاق سره دیت مغلظه نه واجبیږي بلکه په دې کي پنځه ډوله اوښان واجبیږي یعني شل ابن مخاض، شل بنت مخاض ، شل بنت لبون، شل حقه او شل جذعه .

د دیت مغلظه د تفصیل په باره کي دغه حدیث د امام شافعي او امام محمد رحمة الله علیهما د مذهب دلیل دی مګر د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه له خوا دا ویل کیږي چي دا حدیث معارض دی کوم چي ابن مسعود او سائب رضي الله عنهما څخه روایت دی نو موږ پر متعین باندي عمل کړی دی .

د مختلفو اندامو دیت

﴿٣٣٣٩﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ

ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم د خپل پلاره څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي چي

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى أَهْلِ الْيَمَنِ وَكَانَ فِي كِتَابِهِ أَنَّ مَنْ

رسول الله صلى الله عليه وسلم د یمن د اوسېدونکو په نامه یو خط ولیکي په هغه کي دا الفاظ هم وه ((څوک

اعْتَبَطَ مُؤْمِنًا قَتْلًا فَإِنَّهُ قَوَدٌ إِلَّا أَنْ يَرْضَى أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ وَفيه ان الرجل

چي قصدا یو مسلمان قتل کړي نو دا د هغه د لاسونو د فعل قصاص دی په شرط د دې چي د

مقتول وارث په وينه توينه باندي راضي سي)) او په دې خط کي دا الفاظ هم وه چي د سړي

يقتل بالمراة وفيه فِي النَّفْسِ الدِّيَةَ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وعلى اهل الذهب الف

قتل کيږي د ښځي په بدله کي او دا هم ليکل سوي وه چي د نفس وينه تويونه (يعني وژل) سل اوښان دي او پر خاوندانو د سرو زرو باندي زر

دينار وَفِي الْأَنْفِ إِذَا أُوعِبَ جَدْعُهُ الدِّيَةُ مائة من الابل وَفِي الاسنان الدِّيَةُ

ديناره دي او په پزه کي چي ټوله پرېکړل سي ديت سل اوښان دي او د ټولو غاښونو وينه تويونه پوره وينه تويونه سل اوښان دي

وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الْبَيْضَتَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ وَفِي الصُّلْبِ الدِّيَةُ

او د شونډانو په پرېکولو باندي هم کامله وينه تويونه ده سل اوښان دي، او د خصي کولو کي هم پوره وينه تويونه (ديت) ده او ذکر پوره ديت دی او په پشت (د ملا ماتول) پوره ديت دی

وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الرِّجْلِ الْوَاحِدَةِ نِصْفُ الدِّيَةِ وَفِي الْمَأْمُومَةِ ثُلُثُ

او د سترګو د ړندولو هم پوره ديت دی او په يوه پښه پرېکولو يا ماتولو نيم ديت دی او د سر په پوستکي پرېکولو او زخمي کولو باندي دريمه برخه

الدِّيَةِ وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي الْمُنَقِّلَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي كُلِّ

ديت دی او د نس په زخمي کولو باندي دريمه برخه ديت دی او کوم زخم چي د هډوکي د خپل ځای څخه ليري سي مات سي و نو پنځلس اوښان واجبوي

أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي السِّنِّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ.

او د لاس او پښو د هري ګوتي د پرېکولو معاوضه لس اوښان دي او د هر غاښ معاوضه پنځه اوښان دي. نسائي او دارمي.

رواه النسائي والدارمي و في رواية مالك وَ فِي الْعَيْنَيْنِ خَمْسُونَ وَفِي الْيَدِ خَمْسُونَ وَفِي الرِّجْلِ خَمْسُونَ وَفِي الْمُوضِحَةِ خَمْسٌ.

او په روایت د مالک کي راغلي دي چي په سترګه کي پنځوس اوښان دي او په لاس کي پنځوس اوښان دي او په یوه پښه کي پنځوس دي او په زخم چي هډوکی ښکاره سي پنځوس اوښان دي. . (نسائي دارمي.

تخریج: سنن النسائي ۸\ ۵۷- ۵۸، رقم: ۴۷۹۸، والدارمي ۲\ ۲۵۳، رقم: ۲۳۶۶، ومالک في الموطا ۲\ ۸۴۹، رقم: ۱.

د لغاتو حل: اعتبط: ای قتل بلاجنایة (بې ګناه وژل). المامومة: ای التي تصل الی جلدة فوق الدماغ. (د دماغ سرپېره پوست). الجائفة: ای التي تصل الی جوف الراس او البطن او الظهر او الجفن. (دپوست دننه برخه). المُنقلة: وهي التي تنقل العظم بعد الشجة ای تحوله من موضعه. المُوضِحة: ای الجراحة التي ترفع اللحم من العظم. (هغه زخم چي خوښه د هډوکي څخه بېله سي).

تشریح: د نفس دیت سل اوښان دي : ددې مطلب دادی که چیري د قتل عمد په صورت کي د مقتول وارثان په قصاص کي قتلول نه غواړي بلکه هغه په دیت اخیستلو باندي راضي سي نو دیت واجبېږي مګر د قتل شبه عمد او قتل خطاء په کولو سره د قصاص سزا نه ورکول کیږي بلکه پر هغه باندي یوازي دیت واجب دی ، دیت د اوښانو په ذریعه هم ادا کیدای سي او د چا سره چي سره زر وي نو هغه دي زر دیناره او د چا سره چي سپین زر وي نو هغه لس زره درهمه ادا کولای سي مګر دلته پر قیاس باندي په اکتفاء کولو سر د سپینو زرو ذکر نه دی سوی ددې مطلب دا نه دی د اوښانو او سرو زرو څخه پرته د سپینو زرو په ذریعه دیت ورکول کیږي نو هغه به مقبول نه وي بلکه مراد دادی چي د مقتول وارثانو او د قاتل په مینځ کي پر کوم شي چي اتفاق سي هغه به د دیت په توګه اخیستل او ورکول کیږي، د چا سره چي اوښان دي او هغه اوښان ورکول غواړي نو د هغه څخه دي اوښان واخیستل سي او څوک چي زر ورکول غواړي نو د هغه څخه دي زر واخیستل سي ، په دې باره کي د فقهي مسئله داده چي د دریم او دینار په باره کي د علماؤ اختلاف دی چي ایا په دیت کي درهم او دینار قبلېدای سي که یا ؟ ، د امام ابوحنیفة او امام احمد رحمة الله علیهما په نزد که چیري د ورکونکي سره اوښان وي مګر د هغه د زرو په صورت کي دیت ادا کول غواړي نو هغه زر اخیستل جائز دي مګر امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چي د اوښان په موجودتیا کي د زر و په ورکولو سره دي د اوښانو څخه انکار نه کیږي مګر که چیري دواړه طرفه راضي وي نو بیا پروا نه سته .

او د دواړو سترګو د ایستلو دیت هم پوره دیت دی، معلومه دي وي چي د بدن د اندامو د پرېکولو یا د تاوان رسولو د دیت په باره کي اصل قانون دادی که چیري د بدن د اندامو جنس

منفعت بالکل ختم کړل سي یا هغه ښکلا بالکل له منځه ولاړه سي کوم چې د انساني بدن مقصد دی نو په داسي صورت کي پوره دیت واجبیږي ځکه چي دا یو ډول ځاني تاوان دی چي هغه ته د انساني عظمت په وجه د پوره تاوان درجه ورکول کیږي ، تر دې زیات اصل دا دی چي رسول الله ﷺ هغه خاص اندامو چي د هغه په تاوان سره د انسان په ښکلا او جمال کي فرق راځي او د سړي د تخلیق عظمت مجروح کوي لکه پزه، ژبه، سترګي او داسي نور نو د هغه د پوره دیت ورکولو حکم یې فرمایلی دی بیا د دغه اصل څخه د نورو ډېرو فرعي مسئلو استنباط هم کیږي .

نقل سوي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه پر یو داسي سړي باندي څلور دیتونه واجب کړي وه چي هغه یو سړي ته یو زخم رسولی وو مګر د هغه یوه زخم په وجه د هغه عقل ، د هغه اورېدل ، د هغه لیدل او د هغه وینا یعني څلور سره حواس زائل سوي وه او دا مسئله ده که چیري یو سړی د یو چا ږیره وکاږي او بیا هغه را نه سي نو د هغه په وجه پر ږیره کښونکی باندي دیت لازمیږي ځکه چي هغه په خپل دغه کار سره د انسان د مخ ښکلا ختم کړه ، همدارنګه د سر د وېښتانو هم دغه مسئله ده .

﴿۳۳۴۰﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَوَاضِحِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْاِبِلِ وَالْاَسْنَانِ خَمْسًا

رسول الله ﷺ حکم وکړ د هغه زخم دیت چي په هغه کي هډوکي دباندي راوو ځي پنځه اوښان دي او د هر یوه غاښ پنځه

خَمْسًا مِنَ الْاِبِلِ . رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي و روى الترمذي وابن ماجة الفصل الاول.

پنځه اوښان دي .(ابوداؤد نسائي دارمي)او د ترمذي او ابن ماجه یوازي مخکنۍ جمله روایت کړې ده .

تخریج: سنن ابي داود ۴\ ۶۹۵، رقم: ۴۵۶۶، والنسائي ۸\ ۵۷، رقم: ۴۸۵۲، والدارمي ۲\ ۲۵۵، رقم: ۲۳۷۲، والترمذي ۴\ ۷، رقم: ۱۳۹۰، وابن ماجه ۲\ ۸۸۶، رقم: ۲۶۵۵.

تشریح: که چیري دا سوال پیدا سي چي د ټولو غاښونو دیت سل اوښان دي نو بیا د یوه غاښ دیت پنځه اوښان ولي دي ؟ دا ځکه چي د ټولو غاښونو شمېر دوه دېرش یا اته ویشت دی او په دې اعتبار سره د یوه غاښ دیت خو درې اوښان کېدل پکار دي ؟ ددې جواب دادی چي دا ضروري نه ده چي شارع څومره احکام نافذ کړي وي عقل دي د هغه ټولو ادراک وکړلای سي ډېر احکام داسي دي چي په هغه کي د عقل دخل نه سته همدا رنګه دا مسئله هم داسي ده چي د شارع حکم ورکول کافي او د واجب العمل کېدو معقوله وجه ده مګر د دیت په باره کي ځیني صورتونه داسي دي چي د شارع د حکم مطابق هم دي او عقلي هم دي لکه د سترګو دیت چي د دواړو سترګو دیت پوره دی او د یوې سترګي دیت نیم دی ، خلاصه دا چي د هر حکم او هري مسئلې بنیاد یوازي د شارع حکم دی کوم حکم چي یې ورکړی دی په هغه عمل کول د عقل تر ټولو لویه تقاضا کېدل پکار دي .

په دیت کي ګوتي برابري دي

﴿۳۳۴۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ سَوَاء . رواه ابوداؤد والترمذي .

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د لاسونو او د پښو ګوتي ټولي برابري ګرځولي دي . . (ابوداؤد ترمذي)

تخریج: سنن ابي داود ۴\۶۹۱،رقم: ۴۵۶۱، والترمذي ۵\۸،رقم: ۱۴۳۹۱.

﴿۳۳۴۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ وَالْأَسْنَانُ سَوَاءٌ الثَّنِيَّةُ وَالضِّرْسُ سَوَاءٌ هٰذِهٖ وَهٰذِهٖ سَوَاءٌ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ټولي ګوتي په دیت کي سره مساوي دي او مخامخ او نور غاښونه برابر دي او کوچنۍ ګوته او بټه ګوته سره برابري دي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۶۹۰،رقم: ۴۵۵۹.

د ذمي كافر ديت نيم دى

﴿۳۳۴۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللهِ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار ه څخه او هغه د خپل نيكه څخه روايت كوي چي د مكې د فتحي په كال رسول الله ﷺ خطبه وويل

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ ثُمَّ قَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لاَ حِلْفَ فِي الإِسْلاَمِ

بيا يې و حاضرينو ته وفرمايل: اې خلكو !(كوم حلف چي د جاهليت په زمانه كي وو يعني د يو بل د وارث كېدو په معاهده كي يا نور) په اسلام كي هغه عهد نسته

وَمَا كَانَ مِنْ حِلْفٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّ الإِسْلاَمَ لاَ يَزِيْدُه إِلاَّ شِدَّةَ الْمُؤْمِنُوْنَ

مگر د جاهليت هغه عهد (چي په هغه كي د مظلوم مدد او د قريبانو سره چلن او د حقوقو د حفاظت معاهدې وې) اسلام هغه په ټينگه سره قائمي ساتلي دي

يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ يُجِيْرُ عَلَيْهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ يَرُدُّ

ټول مسلمانان د يوه لاس حكم لري د هغو خلكو په مقابله كي چي د دوى څخه پرته يعني د كفارو وغيره يو معمولي مسلمان د ټولو مسلمانانو د لوري پناه وركولاى سي او رد كولاى يې سي په هغوى كي هغه مسلمان چي ډېر له ليري ځاي او سېدونكي دي او د مسلمانانو لښكري

سَرَايَاهُمْ عَلَى قَعِيْدَتِهِمْ لاَ يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ دِيَةُ الْكَافِرِ نِصْفُ دِيَةِ الْمُسْلِمِ

په هغه خلكو كي ناست دي گرځي هيڅ مسلمان د هيڅ كافر په بدله كي نسي قتلېداى او د كافر د قتل ديت د مسلمان د ديت نيمائي دى د زكوة څاروى ځان ته را غوښتل جائز نه دى او د

لاَ جَلَبَ وَلاَ جَنَبَ وَلاَ يُؤْخَذُ صَدَقَاتِهِمْ إِلاَّ فِيْ دُوْرِهِمْ . وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ دِيَةُ الْمُعَاهِدِ نِصْفُ دِيَةِ الْحُرِّ . رواه أبو داؤد .

څاروى ډېر ليري بېول هم جائز نه دى او د څارويو زكات دى د هغوى د كورو ته په ورتلو سره واخيستل سي او په يوه روايت كي دي چي د معاهد ديت د ازاد د ديت نيمائى دى . ابوداؤد

تخريج: ابوداود ۱۴\۶۷۰، رقم: ۱۵۹۱، واحمد في المسند ۱۲\۱۸۰.

تشريح: لا حلف في الاسلام : د حلف معنى ده عقد كول، د جاهليت په زمانه كي دا رواج وو چي خلكو به په خپل مينځ كي د يو بل سره عهد كوى چي موږ به د يو بل وارثان يو ، د جګړې په وخت كي به د يو بل مرسته كوو او كه چيري په يو معامله كي پر يو كس باندي تاوان واجب سي نو دوهم به د هغه تاوان وركوي ، رسول الله ﷺ د خپل ارشاد (لا حلف في الاسلام) په ذريعه دغه عهد منع كړ ځكه چي دا يو غير منصفانه او غير معقول رواج دى په اسلام كي ددې هيڅ ځاى نه سته مګر د جاهليت په زمانه كي د عهد د دغه صورت موجود وو چي خلكو داسي ددې لپاره كول چي د مظلومو او خپلوانو سره يې ښه چلن كوى او د انساني حقوقو ساتنه او تائيد يې كوى دغه عهد او قول څرنګه چي په ټولنيزه ښه د يو بل سره همدردي او مينه كولو يو غوره صورت دى ځكه نو رسول الله ﷺ د (ما كان من حلف ...) په ذريعه په اسلام كي دا جائز وګرځوى.

يرد سراياهم على قعيدتهم : دا په اصل كي د اولي جملې (ويرد عليهم واقصاهم) بيان او وضاحت دى ، ددغه عبارت تشريح د كتاب القصاص په دوهم فصل كي د حضرت علي ﷛ د روايت په ځنګ كي سوې ده همدارنګه د (لا يقتل مؤمن بكافر) وضاحت هم ددغه حديث په تشريح كي سوى دى.

د كافر ديت د مسلمان د ديت نيمايي دى : دا د امام مالك ؒ د مذهب دليل دى ، د امام شافعي ؒ او د يوه قول سره سم د امام احمد ؒ مذهب هم دادى چي د كافر ديت د مسلمان د ديت دريمه برخه دى، د امام اعظم ابوحنيفة ؒ مذهب دادى چي د كافر ديت د مسلمان په ډول پوره ديت دى ، ښكاره دي وي چي دا ټول بحث د ذمي كافر په باره كي دى او د حربي كافر ديت بالكل نه سته.

په هدايه كي يو حديث نقل سوى دى چي هر ذمي چي د هغه سره د اسلامي امارت معاهده سوې وي تر څو چي هغه معاهد وي د هغه ديت به زر ديناره وي ، د دغه حديث نقل كولو څخه وروسته وضاحت سوى دى چي د حضرت ابوبكر، عمر او عثمان رضي الله عنهم عمل هم ددغه حديث سره سم راغلى دى مګر كله چي د امير معاويه ﷛ زمانه راغله نو ديت نيم كړل سو ، په هدايه كي د حضرت علي ﷛ دا قول هم نقل سوى دى چي ذمي ددې لپاره جذيه وركوي چي د هغه وينه زموږ د ويني په ډول او د هغه مال زموږ د مال په ډول خوندي او مامون وي ، يعني صاحب د هدايې ددغه قولونو د نقل كولو څخه وروسته دا ثابته كړې ده چي د ذمي ديت هم د

مسلمان ددیت په ډول پوره دی ، هغه دا لیکلي دي چي د نورو صحابه کرامو څخه ددې پر خلاف چي کوم څه نقل سوي دي هغه ددغه مشهور او مستند آثارو او قولونو معارض کیدای نه سي.

لا جلب ولا جنب : ددې په باره کي په کتاب الزکوة کي په تفصیل سره بیان سوی دی، دلته په اجمالي توګه په دې پوه سئ چي د جلب معنی داده چي کله زکوة تر لاسه کونکی د څارویو اخیستلو لپاره ولاړ سي نو هغه دي په یو داسي ځای کي قیام وکړي چي د څارویو د مالکانو ځایونه لیري وي او هغوی ته دي حکم ورکړي چي د خپل څارویو سره هغه ته حاضر سي، د جنب معنی داده چي د څارویو مالک دي د خپل څارویو په اخیستلو سره د زکوة تر لاسه کونکي د هستوګن ځای څخه لیري ولاړ سي او هغه ته دي ووایي چي هغه ته په رسیدو سره د زکوة څاروي دي تر لاسه کړي ، رسول الله ﷺ ددغه دواړو څخه منع وفرمایل ځکه چي په اول صورت کي د څارویو مالکانو ته تکلیف وي او په دوهم صورت کي زکوة تر لاسه کونکی ته تکلیف وي

لا یؤخذ صدقاتهم : دا په اصل کي د اولي جملې (لا جلب ولا جنب) د وضاحت او تاکید په توګه فرمایل سوي دي.

د قتل خطا دیت

﴿٣٣٤٤﴾: وَعَنْ خِشْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دِيَةِ الْخَطَإِ عِشْرِينَ بِنْتَ مَخَاضٍ وَعِشْرِينَ بَنِي مَخَاضٍ ذُكُورًا وَعِشْرِينَ بِنْتَ لَبُونٍ وَعِشْرِينَ جَذَعَةً وَعِشْرِينَ حِقَّةً. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والصحيح انه موقوف على ابن مسعود و خشق مجهول

خشف بن مالک د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کوي چي د خطاء د قتل دیت رسول الله ﷺ سل اوښان ټاکلي دي چي په هغو کي شل اوښي دوه کلني او شل اوښان دوه کلن او شل اوښي درې کلني او شل اوښي پنځه کلني او شل اوښي څلور کلني . (ترمذي ابو داؤد نسائي) او صحیح خبره داده چي دا حدیث په ابن مسعود رضي الله عنه باندي موقوفه دی او خشف یو داسي نامعلومه راوي دی

لا يعرف الا بهذا الحديث و روى في شرح السنة ان النبي ﷺ ودى قتيل

چي پرته د دې حديث څخه په بل حديث كي تعارف نسته او په شرح السنه كي دا روايت دي چي نبي كريم ﷺ د هغه سړي ديت چي

خيبر بمائة من ابل الصدقة و ليس في اسنان ابل الصدقة ابن مخاض انما فيها ابن لبون.

په خيبر كي په قتل رسېدلي وو سل اوښان د زكوة د اوښانو څخه وركړل او په هغو اوښانو كي يو كلن اوښ نه وو بلكه دوه كلن اوښان وه.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\ ۵، رقم: ۱۳۸۶، و ابوداود ۱۴\ ۶۸۰، رقم: ۴۵۴۵، والنسائي ۱۸\ ۴۳، رقم: ۴۸۱۶، شرح السنة ۱۰\ ۱۸۶، رقم: ۲۵۳۱.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د قتل خطاء په ديت كي چي كوم سل اوښان وركړل سي هغه بايد پنځه ډوله وي، په دې باره كي څه اختلاف نه سته مگر د هغه په وېش كي اختلاف سته، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په مذهب كي هغه سل اوښان بايد داسي وركړل سي لكه څرنگه چي په حديث كي ذكر سوي دي مگر د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب كي يوازي دومره فرق دى چي شل ابن مخاض (د يوه كال اوښانو) پر ځاى شل ابن لبون (د دوو كالو اوښان) دي، په دې اعتبار د غه حديث د امام شافعي رحمة الله عليه خلاف او د اما ابو حنيفة رحمة الله عليه دليل دى، د شوافع له خوا په دغه حديث كي چي څه ويل سوي دي د هغه جواب ملا علي قاري رحمة الله عليه په ډېر ښه ډول وركړى دى، د علم خاوندان يې د هغه په كتاب مرقاة كي كتلاى سي، د هغه جواب د خلاصې په توگه دا په ذهن كي راولئ چي رسول الله ﷺ ذكر سوي سړي ته چي كوم ديت وركړى وو هغه د وجوب يا د حكم په توگه نه وو بلكه رسول الله ﷺ محض د احسان په توگه ديت وركړى وو.

د بغوي رحمة الله عليه څخه چي كوم روايت نقل سوى دى د هغه مقصد د اول روايت ترديد دى چي په هغه كي د ابن مخاض اثبات دى او د بغوي رحمة الله عليه په روايت كي د ابن لبون اثبات دى يعني دا د امام شافعي رحمة الله عليه دليل دى، ملا علي قاري رحمة الله عليه د دې جواب هم په ډېر ښه ډول ليكلى دى.

د ديت بنياد پر اوښ دى

﴿۳۴۴۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل نيکه څخه روايت کوي چي د ديت د

عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ ثَمَانِيَةَ آلَافِ

اوښانو قيمت د رسول الله ﷺ په زمانه کي اته سوه ديناره يا اته زره درهمه وو

دِرْهَمٍ وَدِيَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ يَوْمَئِذٍ النِّصْفُ مِنْ دِيَةِ الْمُسْلِمِينَ قَالَ فَكَانَ كَذٰلِكَ

او د اهل کتابو ديت په هغه زمانه کي د مسلمانانو د ديت نيمائي وو د عمرو بن شعيب رضي الله عنه د

حَتّٰى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ فَقَامَ خَطِيبًا فَقَالَ أَلَا إِنَّ الْإِبِلَ قَدْ غَلَتْ قَالَ فَفَرَضَهَا

نيکه بيان دی چي د حضرت عمر رضي الله عنه تر خليفه کېدو پوري په دې عمل کيدی حضرت عمر رضي الله عنه

په خليفه کېدو سره وفرمايل: د اوښ قيمت ګران سوی دی د راوي بيان دی چي حضرت

عُمَرُ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفَ دِينَارٍ وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا وَعَلَى أَهْلِ

عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي په سره زر اېښودونکو باندي ديت زر ديناره مقرر کړل او په غني

سپينو زرو په خاوندانو باندي دولس زره درهمه

الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ

او په غوايانو والاؤ باندي يې دوه سوه غوايان او په پسو والاؤ باندي يې دوه زره پسونه او په

جامو والاؤ باندي يې دوه سوه جوړې اېښي وې.

قَالَ وَتَرَكَ دِيَةَ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرْفَعْهَا فِيمَا رَفَعَ مِنَ الدِّيَةِ. رواه ابوداؤد.

د راوي بيان دی چي حضرت عمر رضي الله عنه د ذميانو ديت هغه مقرر کړ کوم چي نبي کريم ﷺ ټاکلی

وو. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ١٤\٦٧٩، رقم: ٤٥٤٢.

تشريح: ځيني حضرات وايي چي دا حديث ددې دليل دی چي د ديت بنياد پر اوښانو دی، په ديت کي د سرو زرو او سپينو زرو چي کوم مقدار بيان سوی دی دا په هغه زمانه کي د سلو اوښان د قيمت په حساب سره لګول سوی دی ځکه د قول جديد مطابق د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چي د قيمت د اختلاف په اعتبار په دغه دواړو مقدارو کي فرق کيدای سي.

ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي د جامې د جوړې څخه مراد يو لونګ او يو څادر دی.

په دې کي څه زيات وب ونه کړ ... : په دې باره کي علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي کله د مسلمانانو ديت دوولس زره درهمه وتاکل سو او د ذمي ديت هغه پاته سو کوم چي مخکي وو يعني څلور زره درهمه نو په دې اعتبار سره د يو ذمي ديت د يو مسلمان د ديت دريمه برخه سو. ددې څخه شوافع او د هغه پيروان استدلال کوي چي د ذمي ديت د مسلمان د ديت دريمه برخه دی حال دا چي د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په مذهب کي د ذمي ديت هغه دی کوم چي د يو مسلمان ديت دی.

شمني رحمة الله عليه ويلي دي چي په دې باره کي فقهي مسئله داده او په دې باندي عمل دی چي د سرو زرو ديت زر ديناره، د سپينو زرو ديت لس زره درهمه او د اوښانو ديت سل اوښان دي مګر امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي د سپينو زرو ديت دوولس زره درهمه دی.

د امام شافعي رحمة الله عليه مستدل حديث

﴿۳۳۴٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ جَعَلَ الدِّيَةَ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم دوولس زره درهمه ديت مقرر کړی وو. (ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي)

تخريج: سنن الترمذي ۴\٦، رقم: ۱۳۸۸، وابوداود ۴\٦٨١. رقم: ۴۵۴٦. والنسائي ۸\۴۴.

ديت د مقتول د وارثانو حق دی

﴿۳۳۴۷﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل نيکه څخه روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به

يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَإِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ عَدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ وَيُقَوِّمُهَا

د قتل خطا ديت په اخستونکو څلور سوه ديناره يا د دې مساوي قيمت سپين زر مقررو له

عَلَى أَثْمَانِ الْإِبِلِ فَإِذَا غَلَتْ رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا وَإِذَا هَاجَتْ رُخْصًا نَقَصَ مِنْ

دا دیت به د اوښانو د قیمت موافق مقرر کېدی بیا چي د اوښانو قیمت به زیات سو نو د دیت قیمت به هم اضافه سو او چي د اوښانو قیمت به کم سو نو د دیت قیمت به هم کم سو

قِيمَتِهَا وَبَلَغَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ أَرْبَعِ مِائَةِ

او د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د دیت رقم د څلور سوه دینارو څخه بیا

دِينَارٍ إِلَى ثَمَانِ مِائَةِ دِينَارٍ وَعَدْلُهَا مِنَ الْوَرِقِ ثَمَانِيَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ قَالَ وَقَضَى

تر اتو سوو دینارو پوري رسېدلی وو او د دې سره مساوي د سپینو زرو رقم تر اتو زرو پوري د

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاةِ

راوي بیان دی چي رسول الله ﷺ په غواؤ والاؤ باندي دوه سوه غواوي او په پسو والاؤ باندي

أَلْفَيْ شَاةٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَقْلَ مِيرَاثٌ بَيْنَ وَرَثَةِ

دوه زره پسونه مقرر کړي وه رسول الله ﷺ وفرمایل: دیت د مقتول دوارثانو میراث دی او

الْقَتِيلِ وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ

عَصَبَتِهَا وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلَ شَيْئًا. رواه ابوداؤد والنسائي.

رسول الله ﷺ حکم وفرمایې چي دیت دي د هغه عصبه تر مینځ تقسیم کړل سي او قاتل د هیڅ شی وارث نه دی (یعني د مقتول د مال څخه) (ابوداؤد نسائي).

تخریج: سنن ابي داود ۴\۶۹۱، رقم: ۴۵۶۴، والنسائي ۸\۴۲، رقم: ۴۹۰۱.

تشریح: علامه طیبي رحمة الله علیه وایي چي دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د دیت بنیاد پر اوښانو دی یعني دیت په اصل کي د اوښانو په صورت کي او د هغه په ذکر سوي شمېر کي واجب دی لکه څرنګه چي د قول جدید سره سم د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دی.

د ښځي دیت د هغې پر عصباتو دی: ددې مطلب دادی که چیري یو ښځه یو څوک قتل کړي نو د هغې دیت به د هغې پر عصباتو یعني د هغې پر مرسته کونکو او کورنۍ باندي وي لکه څرنګه چي د سړي په باره کي حکم دی، یعني دلته دا واضح کول مقصد دي چي په دې باره کي ښځه د غلام په ډول نه ده لکه څرنګه چي د غلام دیت خپله پر هغه واجب دی د هغه پر

عصباتو واجب نه دی همدارنګه د ښځي ديت خپله پر هغې واجب نه دی بلکه د هغې پر عصباتو واجب دی.

په قتل شبه عمد کي د مرګ سزا نه سي ورکول کيدای

﴿۳۳۴۸﴾: وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُهُ. رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل نيکه څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د قتل شبه عمد ديت تر قتل عمد سخت دی مګر د شبه عمد قاتل قتلولای نسي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۶۹۴، رقم: ۴۵۶۵.

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دادی که چيري يو سړی يو څوک په طريقه د شبه عمد قتل کړي نو هغه دي په قصاص کي نه قتل کيږي، دا خبره دد غه شبهې ليري کولو لپاره فرمايل سوې ده چي د حديث د اولي جملې سره سم د قتل شبه عمد کونکی د قتل عمد د کونکي مشابه سو نو پکار ده چي څرنګه د قتل عمد کونکي ته د مرګ سزا ورکول کيږي همدارنګه د شبه عمد کونکي ته به هم د مرګ سزا ورکول وي نو دغه شبه ليري کړل سوه چي دد غه مشابهت دا مطلب بالکل نه دی چي هغه دي په قصاص کي قتل کړل سي.

د زخمي سوي سترګي ديت

﴿۳۳۴۹﴾: وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ لِمَكَانِهَا بِثُلُثِ الدِّيَةِ. رواه ابوداؤد والنسائي

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل نيکه څخه روايت کوي چي د کومي سترګي رڼا د چا د وهلو په وجه ضائع سي او هغه سترګه په خپل ځای باندي قائمه وي نو د هغې ديت رسول الله ﷺ يوه پر دريمه برخه مقرر کړی دی. (ابوداؤد نسائي).

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۶۹۴، رقم: ۴۵۶۷، والنسائي ۸\ ۵۵، رقم: ۴۸۴۰.

تشريح: مطلب دادی چي د چا سترګه زخمي کړل سي او د هغه په وجه د سترګي ديد ولاړ سي مګر سترګه د خپل ځای څخه وتلې نه وي او د هغه د مخ په ښکلا کي خلل واقع سوې نه وي نو

پر زخم کونکي باندي د ديت دريمه برخه واجب دي او دا مخکي تېر سوي دي چي د دوارو سترګو د تلف کېدو په صورت کي پوره ديت واجب دی او که چيري يوه سترګه ضائع سي نو نيم ديت واجب دی.

ددغه حديث شريف څخه دا ثابتيږي چي په ذکر سوي صورت کي د زخمي سوي سترګي ديت دريمه برخه دی او د ځينو علماؤ مذهب هم دادی مګر ځيني علماء په دغه صورت کي د عدل حکومت واجب ګرځوي ځکه چي هغوی وايي چي د زخم کولو دا هغه صورت دی چي په هغه کي منفعت بالکليه زائل سوی نه دی نو ددغه ديت هم د هغه سړي کېدل پکار دي کوم چي وهل سوی دی او د هغه د وهلو په وجه (نه خو دهغه يو اندام تلف سوی دی او نه يو زخم ورته رسيدلی دی) بلکه د هغه د بدن رنګ تور سوی وي.

حکومت د ديت په باره کي يو اصطلاحي لفظ دی، ددې مفهوم دادی چي د مثال په توګه کوم څوک چي زخمي سوی دی که چيري هغه غلام وي نو د هغه د زخم په وجه د هغه په قيمت کي کمي واقع کيږي نو په هغه اندازه به د هغه سړي ديت پر زخمي کونکي واجب وي او ځيني علماء وايي چي دغه حديث پر حکومت باندي محمول دی يعني رسول الله ﷺ دلته چي د ديت د دريمي برخي حکم فرمايلی دی هغه د حکومت په طريقه دی نه د قاعدې په توګه.

توربشتي رحمه الله ددغه حديث په باره کي چي کوم بحث کړی دی هغه پر دې دلالت کوي چي ددغه حديث په صحت کي کلام دی.

د نس د کوچني ديت

﴿۳۳۵۰﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنَ عَمْرٍو عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَضٰى

حضرت محمد بن عمرو رضي الله عنه د ابو سلمه رضي الله عنه څخه او هغه د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چي

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ أَوْ فَرَسٍ أَوْ

رسول الله ﷺ د نس د کوچني په بدله کي مينزه يا غلام يا اس يا قچره يې مقرر کړې ده. (د غره څخه مراد بهترينه مينزه غلام يا آس يا

بَغْلٍ. رواه ابوداؤد وقال روى هذا الحديث حماد بن سلمة وخالد الواسطي عن محمد بن عمرو ولم يذكر او فرس او بغل. رواه ابوداؤد والنسائي.

غاتره ده).(ابوداؤد) دا حدیث د حماد بن سلمه او خالد واسطي د محمد بن عمر څخه روایت کړی دی . (ابوداؤد نسائي).

تخریج: سنن ابي داود ۱۴\۷۰۵، رقم: ۴۶۷۹.

تشریح: علامه نووي رحمه الله وایي چي غره یو د پر ښکلي شي ته وایي مګر په دې باره کي د دغه لفظ اطلاق پر انسان باندي په دې اعتبار کيږي چي الله تعالی انسان په ښکلي صورت کي پیدا کړی دی .

د ځینو علماؤ قول دی چي په دغه حدیث کي د غره په مفهوم کي فرس او بغل داخلول د راوي خپل وهم دی ځکه چي د غره اطلاق یوازي پر هغه انسان باندي کيږي چي هغه د یو چا مملوک وي یعني غلام یا مینزه وي .

که ناپوه ډاکټر د مرګ سبب سي نو هغه به ضامن وي

﴿۳۳۵۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَطَبَّبَ وَلَا يُعْلَمُ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ . رواه ابوداؤد والنسائي

عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي خپل ځان طبیب (ډاکټر) ښائي او د هغه طبیب کېدل معلوم نه وي نو هغه د طیب په فن کي مهارت نه لري (د هغه د لاسه چي چاته تاوان و رسیږي)نو هغه به (د دې نقصان)ضامن وي . (ابوداؤد نسائي).

تخریج: سنن ابي داود ۱۴\۷۱۰، رقم: ۴۵۸۶، والنسائي ۸\۵۲، رقم: ۴۸۳۰.

تشریح: مطلب دادی که چیري یو څوک د علم طب د فن څخه خبر نه وي او هغه د یو ناروغ درمنله وکړي او درملنه که د لاس په ذریعه وي لکه وینه کښل، عملیات کول او داسي نور وي او هغه ناروغ مړ سي نو په اتفاق سره د هغه دیت به د هغه پر عاقله واجب وي مګر هغه به په قصاص کي نه قتل کيږي ځکه چي په هر حال خپله د هغه ناروغ د اجازې او رضا سره به هغه د هغه علاج کړی وي .

د دیت د معافولو یو واقعه

﴿۳۳۵۲﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ غُلَامًا لِأُنَاسٍ فُقَرَاءَ قَطَعَ أُذُنَ غُلَامٍ

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي د مسكينو خلكو يو هلك د شتمنو

لِأُنَاسٍ أَغْنِيَاءَ فَأَتَى أَهْلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّا أُنَاسٌ فُقَرَاءُ فَلَمْ يَجْعَلْ عَلَيْهِ شَيْئًا. رواه ابوداؤد والنسائي.

خلكو د يوه هلك غوږ پرېكړ د مفسلو خلكو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او عرض يې وكړ موږ خو) يوه غريبه ډله يو نبي كريم ﷺ هغوی معاف كړه او په هغوی يې هيڅ مقرر نه كړه. (ابوداؤد نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۷۱۲، رقم: ۴۵۹۰، والنسائي ۸\۲۵، رقم: ۴۷۵۱.

تشريح كه د يو هلك څخه يو جنايت (يعني يو ډول تاوان يا تكليف رسيدل) وسي نو د صحيح اعتبار د فقدان په وجه هغه جنايت د خطاء په حكم كي دی او د هغه تاوان به د هلك پر كورنۍ واجب وي ځكه كه چيري يو هلك يو سړی قتل كړي نو هغه په قصاص كي نه سي قتل كيدای، په حديث كي چي كومه واقعه بيان سوې ده په هغه كي د قاعدې په اعتبار د هلك پر كورنۍ باندي تاوان واجب كيدل پكار دي مګر كه چيري د هلك كورنۍ غريب او مفلس وي او غريب او مفلس د تاوان متحمل كيدای نه سي ځكه رسول الله ﷺ د غوږ پرېكونكي هلك پر كورنۍ باندي ديت واجب نه كړ.

د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا ښكاره ګنديږي چي كوم هلك غوږ پرې كړی وو هغه ازاد وو ځكه كه چيري هغه غلام وای نو د هغه جنايت او ديت به په خپله د هغه د ذات سره متعلق كيدی او د هغه د مالكانو فقير او مفلس كيدل به د هغه وجوب د هغه د ذات څخه نه ختمولای.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قتل شبه عمد او قتل خطا ديت

﴿۳۳۵۳﴾: عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ دِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ أَثْلَاثٌ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثٌ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی د قتل شبه عمد ديت درې ډوله او بنان دي درو ديرش او بني چي څلورم كال يې پيل سوی وي او

وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ ثَنِيَّةً إِلَى بَازِلِ عَامِهَا كُلُّهَا خَلِفَاتٌ وفي رواية

د درو دیرشو او ښو چي پنځم کال يې پيل سوی وي او څلور دیرش اوښي چي شپږم کال يې پيل سوی وي د اتو کلو پوري چي نهم کال يې پيل سوی وي او دا ټولي به بلاربي وي په یوه بل روایت

قَالَ فِي الْخَطَإِ أَرْبَاعًا خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً وَخَمْسٌ

کي داسي دي چي د قتل خطا څلور ډوله اوښان دي پنځه ویشت دریږ کلني پنځه ویشت څلور کلني

وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ. رواه ابوداؤد.

پنځه ویشت دوه کلني او پنځه ویشت یو کلني او دا به ټولي اوښي وي. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۴\۶۸۵، رقم: ۴۵۵۱.

﴿۳۳۵۴﴾: وَعَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَضَى عُمَرُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ ثَلَاثِينَ حِقَّةً وَثَلَاثِينَ جَذَعَةً وَأَرْبَعِينَ خَلِفَةً مَا بَيْنَ ثَنِيَّةٍ إِلَى بَازِلِ عَامِهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت مجاهد رحمه الله څخه روایت دی چي حضرت عمر رضي الله عنه د شبه عمد په قتل کي دېرش اوښۍ دري کلني او دېرش اوښۍ څلور کلني او څلوېښت اوښي به بلاربي پوره پنځه کلني یا پوره د اتو کلو مقرري کړي وي. (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داود ۴\۶۸۵، رقم: ۴۵۵۰.

د نس د کوچني دیت

﴿۳۳۵۵﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى

د حضرت سعید بن مسیب رحمه الله څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم

فِي الْجَنِينِ يُقْتَلُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ فَقَالَ الَّذِي قُضِيَ عَلَيْهِ

د حاملي ښځي د کوچني د دیت چي د هغې په نس کي وي غلام یا مينزه مقرره کړې ده پر کوم سړي چي دا تاوان مقرر سوی وو هغه عرض وکړ چي د هغې د کوچني تاوان

كَيْفَ أَغْرَمُ مَا لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذٰلِكَ بَطَلَ فَقَالَ

څنګه ادا کړم چې هغه نه شي خوړلی او نه يې چنبلی وو ؟ نه يې خبره کړې ده او نه يې اواز ایستلی دی او د دې د ول قتل خو ساقط کیږي (یعني په دې باندې هیڅ تاوان نسته)

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هٰذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ . رواه مالك والنسائي مرسلا ورواه ابوداؤد عنه عن ابي هريرة متصلا .

رسول الله ﷺ وفرمایل: د دې څخه پرته زه څه ووایم چې دا سړی خو د کاهنانو ورور دی .(مالک نسائي مرسلا ابو داؤد دا حدیث د ابو هریره رضي الله عنه څخه متصلا روایت کړی دی).

تخريج: مالک في الموطا ٢\٨٥٥، رقم: ٦ والنسائي ٨\٤٩، رقم: ٤٨٢٠.

د لغاتو حل: ولا استهل: معناه ما صاح و ما رفع صوته. (هغه چې ږغ و کړي). بُطل: اى هدر. ساقط سو.

تشريح: کاهن هغه سړي ته وايي چې د غيبو د پوهېدو دعوه کوي او خلکو ته د غيب خبري ښيي او هغه د خلکو د دوکه کولو لپاره د درواغو خبري بيانوي ، په حديث کي د ذکر سوي سړي هم خپل غلط خيال په ډېر مسجع الفاظو سره وړاندي کړی وو ځکه رسول الله ﷺ په دغه مناسبت سره هغه ته د کاهنانو ورور وويل مگر کوم چې حقيقت دی نو مطلق مسجع او مقفی عبارتونه په خپله مذموم (بد) نه دي بلکه د انسان د کلام د فصاحت او بلاغت او قابليت عکس وي ، خپله د رسول الله ﷺ د بيان انداز او کلام به ډېر مسجع او مقفی الفاظو سره مزين وو په خاصه توګه کومي دعاوي چې د رسول الله ﷺ څخه نقل سوي دي د هغه د الفاظو جامعيت د مسجع او مقفی عبارتونو غوره مثال دی لکه دغه دعاء : (اللهم اني اعوذبک من علم لا ينفع وقلب لا يخشع...) اې الله ! زه ستا پناه غواړم د هغه علم څخه چې نافع نه وي او د هغه زړه څخه چې بېرېدونکی نه وي، خلاصه دا چې هغه مسجع عبارت مذموم دی کوم چې په تکلف سره د ژبي او قلم څخه ادا سي او د هغه مقصد باطل ته رواج ورکول وي لکه څرنګه چې ذکر سوي سړي وويل.

شمني رحمه الله وايي چې په حديث کي د ذکر سوې مسئلې په باره کي فقهي مذهب دا دی که يو سړی يوه حامله ښځه په نس کي ووهي او د هغه په وجه د هغې د نس کوچنی په مړ کېدو سره راووځي نو د هغه په ديت کي غره يعني پنځه سوه درهمه د قتل کونکي پر کورنۍ واجب دي ، هغه وايي چې زموږ علماء د غره څخه مراد پنځه سوه درهم اخيستي دي او دا ځکه چې په اکثره روايتو کي د غره وضاحت دا سوی دی او که چيري حامله ښځه په نس کي په وهلو سره ژوندی کوچنی يې پيدا سي او بيا مړ سي نو په دغه صورت کي پوره ديت واجبيږي .

بَابُ مَا لاَ يُضْمَنُ مِنَ الْجِنَايَاتِ

(د كومو شيانو تاوان چي واجب نه وي د هغو بيان)

جنايات د جنايت جمع ده او معنى يې د قصور (كوتاهي) كول، جرم كول ، تر دې مخكي هغه بابونه تېر سوي دي چي په هغو كي د جناياتو سزاوي ، تاوان او د قصاص وغيره په باره كي حديثونه تېر سوي دي ، ددغه باب مقصد د جناياتو هغه صورتونه بيانول دي چي په هغه كي معاوضه او تاوان واجب نه وي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حيوان وهلو، په كان كي ښخېدلو او په څاه كي لوېدلو تاوان نه سته

﴿۳۳۵۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ . متفق عليه .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حيوانانو زخمي كول (يعني چي يو حيوان پر بل حيوان يا انسان باندي حمله وكړي) معاف دي د كان زخمي كېدل معاف دي او په څاه كي د لويدو څخه مړكيدل او يا په څاه كي د كښېنستلو هلاک كېدل معاف دي .مطلب دا چي يو سړی په خپله مځكه كي څاه وكاږي او بل څوک پكښي ولوېږي نو د څاه پر مالک تاوان نسته . (بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۲۵۴، رقم: ۶۹۱۲، ومسلم ۳\ ۱۳۳۴، رقم: ۴۵- ۱۷۱۰.

د لغاتو حل: جُبار: اى هدر (ساقط دی).

تشريح: كه يو حيوان يو سړی تر پښو لاندي كړي يا په ښكر او لكۍ سره يو څوک ووهي يا په خوله سره په چيچلو يې زخمي كړي او په هغه سره سړی مړ سي يا حيوان يو شي ته تاوان ورسوي او ضائع يې كړي نو د هغه هيڅ تاوان نه سته په شرط ددې چي د هغه حيوان سره يو څوک نه وي مګر كه چيري د حيوان سره يو څوک كتونكی وي يا پر هغه حيوان باندي يو څوک سپور وي او هغه حيوان يو شی ضائع كړي نو په دغه صورت كي د هغه حيوان سره چي كوم سړی وي پر هغه تاوان واجب دی دا د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی .

په دې باره کي د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی که چيري حيوان د ورځي يو شی ضائع کړي نو د هغه پر مالک به هيڅ تاوان واجب نه وي مګر که چيري يو حيوان د شپې يو شی ته تاوان ورسوي نو په دغه صورت کي به د حيوان پر مالک باندي تاوان واجب وي ځکه چي د شپې د حيوان ساتنه د هغه پر مالک لازم ده او د ورځي د خپل کښت، باغ او نورو شيانو ساتنه د هغو پر مالکانو لازم ده.

په هدايه کي ليکلي دي چي (د حيوان يو شي ته د تاوان رسولو په صورت کي) د حيوان پر شړونکي به د هغه شي تاوان واجب دي کوم چي د حيوان د لاس او پښو په ذريعه ضائع سوی وي او کوم څوک چي حيوان نيولی وي نو هغه به د هغه شي د تاوان ذمه دار دي کوم چي د حيوان د پښو په ذريعه نه بلکه يوازي د لاسو په ذريعه تاوان سوی وي او که چيري يو داسي حيوان يو شی ضائع کړي چي پر هغه باندي يو څوک سپور وي نو پر هغه سپور باندي د هغه شي تاوان واجب دی کوم چي د هغه حيوان د لاس، پښو يا سر په ذريعه ضائع سوی وي او که چيري تاوان کونکی يو داسي حيوان وي چي د هغه سره د هغه شړونکی يا ساتونکی هم وي او پر هغه سپور هم وي نو د هغه تاوان به پر دواړو واجب وي.

په کان کي لوېدل معاف دي: ددې مطلب دادی که چيري يو سړی يو کان ته ورسي يا پر هغه سرېبره ودرېږي او بيا هغه کان ونړېږي چي د هغه په وجه هغه سړی هلاک سي نو پر هغه سړي باندي هيڅ تاوان واجب نه دی چا چي کان کښلی دی، يا يو مزدور يې د کان کښلو لپاره په مزدوري ولګوی او ناڅاپه هغه په کان کي ولويدی او مړ سو نو د کان پر مالک باندي هيڅ تاوان واجب نه دی، دا حکم يوازي د کان سره خاص نه دی بلکه دغه حکم د اجارې او مزدورۍ په نورو صورتو کي هم دی حال دا چي اول نوعيت يوازي د هغه صورت سره متعلق دی کوم چي د حديث د آخري برخي (والبر جبار) يعني په څاه کي لوېدل معاف دي، مطابق وي، په څاه کي لوېدل معاف دي: ددې مطلب دادی چي د مثال په توګه يو سړی په خپل مځکه يا په يو بل مباح ځای کي څاه وکاږي او بيا په هغه کي يو سړی ولوېږي او مړ سي نو پر څاه کښونکي باندي هيڅ تاوان واجب نه دی.

په مدافعت کي تاوان نه سته

﴿٣٣٥٧﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت يعلي بن اميه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره و جګړې ته ولاړم په

جَيْشَ الْعُسْرَةِ وَكَانَ لِي أَجِيرٌ فَقَاتَلَ إِنْسَانًا فَعَضَّ أَحَدُهُمَا يَدَ الْآخَرِ فَانْتَزَعَ

جيش عسره (د تبوک په غزا کي) زما يو نوکر وو هغه د يوه سړي سره جګړه وکړه او دواړو د يو بل لاس و چيچل په هغوی کي چي يوه د بل د خولې څخه خپل لاس را کش کړ

الْمَعْضُوضُ يَدَهُ مِنْ فِيِّ الْعَاضِّ فَانْدَرَ ثَنِيَّتَهُ فَسَقَطَتْ فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ

نو د هغه غاښ وغورځېدی بيا نبي کريم ﷺ ته راغی چي د هغې معاوضه ځيني واخلي نبي ﷺ

فَأَهْدَرَ ثَنِيَّتَهُ وَقَالَ أَيَدَعُ يَدَهُ فِي فِيكَ تَقْضَمُهَا كَالْفَحْلِ. متفق عليه.

د هغه غاښ ساقط کړ او ورته وه يې فرمايل: ايا هغه خپل لاس ستا په خوله کي پرېښي وو؟ چي تا د اوښ په شان هغه چيچلي وو. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٤\٤٤٣، رقم: ٢٢٦٥، ومسلم ٣\١٣٠١، رقم: ٢٣- ١٦٧٤.

د لغاتو حل: الفحل: ای من الابل (اوښ).

تشريح: ايا هغه سړي خپل لاس ستا په خوله کي پرې ايښی دی ....: د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه د غاښونو د تاوان نه واجب کولو ته اشاره کړې ده چي د کوم چا په ذريعه ستا غاښونه وتلي دي هغه دي پر مدافعتي کاروايي باندي مجبور وي چي هغه په اصل کي د خپل لاس د ساتني لپاره ستا د خولې څخه را وايستی، په شرح السنه کي ليکلي دي چي همدارنګه که چيري يو سړی د يو ښځي سره بدکاري کول غواړي او هغه ښځه د خپل عزت ساتني لپاره پر هغه سړي حمله وکړي چي د هغه په نتيجه کي هغه سړی هلاک سي نو په دې وجه پر هغه ښځه باندي هيڅ نه واجبيږي، نقل سوي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه ته دا مقدمه راغلل چي يوې انجلۍ لرګي راوړل چي يو سړی په هغې پسې سو او د هغې سره يې بدکاري کول وغوښتل انجلۍ د خپل عزت په خطره کي ليدو سره يو ډبره پورنه کړه او هغه سړی يې په وويشتی چي هغه مړ سو، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه په باره کي دا فيصله وکه چي دا قتل په حقيقت کي د الله تعالی له خوا سوی دی (چي په دغه سزا ورکولو سره يې د يو پاک لمني انجلۍ عزت وساتی) قسم په خدای د هغه هيڅ ديت به نه ورکول کيږي، د امام شافعي رحمه الله هم دا قول دی.

همدارنګه که چيري يو سړی د يو چا مال لوټ کولو، ويني تويولو او د هغه د کورنۍ تباه کولو اراده وکړي نو د هغه دفاع کول جائز دي، اول خو په دې پوه سئ چي داسي سړی د انسانيت سره

د هغه د ارادې او فعل څخه د منع کولو کوښښ دي وکړل سي مگر که هغه د قتل د ارادې څخه نه
نه کیږي او هغه د شر څخه د خوندي کېدو لپاره هغه ووژل سي نو د هغه قتل به معاف وي.

د خپل مال ساتونکی که مړ سي نو شهید دئ

﴿۳۳۵۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ. متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي څوک چي د خپل مال په حفاظت کي قتل سي هغه شهید دی. (بخاري او مسلم)

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۲۳، رقم: ۲۴۸۰، ومسلم ۱\۱۲۴، رقم: ۲۲۶–۱۴۰.

تشریح: مطلب دادی که چیري یو سړی د خپل مال او سامان ساتنه کوي او یو څوک هغه قتل کړي نو هغه شهید دی دا حکم د هغه سړي په باره کي هم دی کوم چي د خپل کورنۍ په ساتنه کي ووژل سي.

﴿۳۳۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه سړي عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! که یو څوک

رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي قَالَ فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي قَالَ قَاتِلْهُ

زما مال په غلا سره (یا په زور سره) واخلي نو زه څه وکړم؟ هغه ته مال پرېږدم او که څه؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: چي خپل مال و هغه ته مه پرېږده (مه ورکوه) هغه عرض وکړ

قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي قَالَ فَأَنْتَ شَهِيدٌ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ قَالَ هُوَ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

که هغه زما سره جګړه کوله؟ (نو بیا زه څه وکړم؟) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ته هم ورسره جګړه وکړه عرض یې وکړ که چیري هغه ما قتل کړي؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ته شهید یې عرض یې وکړ که زه هغه قتل کړم؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: نو هغه به په دوږخ کي دا خلیږي (او پر تا باندي هیڅ ګناه نسته). (مسلم).

تخريج: صحيح مسلم ١\ ١٢٤، رقم: ٢٢٥- ١٤٠.

تشريح: دغه حديث شريف مسلمانانو ته د خپل ځان، مال او عزت د ساتنې لپاره د حمله كونكي سره په ميړانه د مقابلې كولو تلقين كوي او د الله تعالى د نامه اخيستونكو شعور ته دا احساس وركول دي چې د مسلمانانو حال داسې نه دى چې هغه د يو داسې سړي په مقابله كې د بې زړه توب او بزدلۍ ثبوت وركړي كوم چې د هغه مال لوټول غواړي او د هغه ژوند تباه كولو پسې لګيدلى وي بلكه يو مسلمان ته چې د ايمان او يقين او اعتماد على الله طاقت حاصل وي د هغه تقاضا داده چې د هغه حمله كونكي او فساد كونكي په پوره ميړانه سره مقابله وكړي او د ذلت پر ژوند باندې د عزت مرګ ته په ترجيح وركولو سره د شهادت مرتبه تر لاسه كړي او يا هغه حمله كونكى او فساد كونكي په ختمولو سره جهنم ته واستوي، دا حديث ددې دليل دى كه چيرې قاتل او فساد كونكى مسلمان هم وي نو د هغه شخه دفاع كول او هغه په خپل دفاع كې وژل مباح دي.

كور ته ننوتونكى زخمي كول معاف دي

﴿٣٣٦٠﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ لَوِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِكَ أَحَدٌ وَلَمْ تَأْذَنْ لَهُ خَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ. متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه شخه روايت دى چې ما د رسول الله ﷺ شخه اوريدلي دي كه چيرې يوه سړي چې تا اجازه نه وي وركړې ستا په كور كې داخل سي او ته يې په يوه لرګي ووهې او د هغه شخه يې ستركه وچاؤ دي نو پر تا باندې هيڅ ګناه نسته. (بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\ ٢١٦، رقم: ٦٨٨٨، ومسلم ٣\ ١٦٩٩، رقم: ٤٤- ٢١٥٨.

تشريح: امام شافعي رحمه الله ددغه حديث په ظاهري مفهوم باندې په عمل كولو سره پر داسې سړي باندې د ستركو تاوان ساقط كړى دى حال دا چې امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايي چې پر هغه به تاوان واجب وي، هغه د غه حديث پر مبالغه او سخت خبرداري باندې محمول كړى دى.

﴿٣٣٦١﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِيْ جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى

د سهل بن سعد رضي الله عنه شخه روايت دى چې يوه سړي د رسول الله ﷺ د دروازې په سوري كې وكتل

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و مع رسول الله صلى الله عليه وسلم مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ

د رسول الله ﷺ په لاس كي هغه وخت د شا د ګرولو يوه اله وه چي په هغه سره يې سر مبارک ګروی

فَقَالَ لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُنِيْ لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ إِنَّمَا جُعِلَ الاِسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ . متفق عليه.

نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه ما ته معلومه وای چي ته قصدا ما ته ګورې نو ما به په دې آلې باندي ستا په سترګو ګزار كړې وای د اجازت اخيستلو حكم خو د سترګو لپاره دی (چي هغه چيري پر غير محرمي باندي ونه لګيږي). (بخاي او مسلم).

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٤٣، رقم: ٦٩٠١، ومسلم ٣\١٦٩٨، رقم: ٤٠- ٢١٥٦.

د لغاتو حل مِدری: شئ يعمل من خشب او حديد على شكل من اسنان المشط يسوي به الشعر.

تشريح ددې څخه ثابته سوه چي څرنګه چي بېله اجازې د يو چا په كور كي داخلېدل بد دي همدارنګه بېله اجازې د يو چا كور ته كتل هم بد دي ، علامه طيبي رحمه الله وايي چي په دغه حديث كي دې ته اشاره ده كه يو سړی بېله قصده د يو چا په كور كي وګوري د مثال په توګه د يو چا د كور مخته په تېرېدو سره د هغه نظر كور ته ولاړ سي نو په دې سره څه بد ي نه سته.

ډبري غورځول منع دي

﴿٣٣٦٢﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ أَنَّهُ رَاى رَجُلاً يَخْذِفُ فَقَالَ لاَ تَخْذِفْ

د حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه يو سړی وليد چي ډبري يې ويشتلې هغه ورته وويل چي ډبري مه غورځوه

فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ وَقَالَ إِنَّهُ لاَ يُصَادُ بِهِ

ځكه چي رسول الله ﷺ د ډبرو ويشتلو څخه منعه كړې ده او ارشاد يې فرمايلې دی چي په

صَيْدٌ وَلاَ يُنْكَأُ بِهِ اعَدُوٌ وَلٰكِنَّهَا قَدْ تُكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ. متفق عليه.

داسي ډبرو ويشتلو باندي نه خو ښكار كولای سي او نه دښمن زخمي كولای سي بلكه په داسي ويشتلو باندي غاښ ماتيږي او سترګه چووي. (بخاري او مسلم)

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٩\٦٠٧، رقم: ٥٤٧٩، ومسلم ٣\١٥٤٧، رقم: ٥٤- ١٩٥٤.

تشریح: ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي رسول الله ﷺ د بېله قصده ويشتلو څخه ځکه منع فرمايلې ده چي په دې کي يو حکمت او ګټه نه سته البته د فتنې او فساد او جګړې پيدا کېدو بيره خامخا وي دا حکم د هر داسي عمل په باره کي دی په کوم کي چي دا خبره موجود وي.

په ټولنه او بازار کي اسلحه په احتياط سره ساتئ

﴿۳۳۶۳﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَّ

د حضرت ابوموسى رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي څوک

أَحَدُكُمْ فِي مَسْجِدِنَا أَوْ فِي سُوقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا شَيْءٌ. متفق عليه.

زموږ و مسجدو ته راځي او په بازارو کي تيرېږي او د هغه سره غشي وي نو توبري د غشو دي ونيسي د دې لپاره چي يوه مسلمان ته ضرر و نه رسيږي. (بخاري او مسلم).

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۴، رقم: ۷۰۷۵، ومسلم ۱۴\۲۰۱۹، رقم: ۱۲۴- ۲۶۱۵.

تشریح: مطلب دادی چي مسجدونه، بازارونه او داسي ټول ځايونه چيري چي مسلمان جمع وي هلته وسله په ډېر احتياط سره ساتل پکار دي که غشي وي يا بله وسله وي لکه ټوپک، توپنچه، توره، نېزه او داسي نور شيان، داسي نه وي چي په غلطۍ سره يو مسلمان د يو چا په وسله زخمي نه سي.

په وسلې سره اشاره منع ده

﴿۳۳۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُشِيرُ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اشاره دي نه کوي

أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي لَعَلَّ الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ فَيَقَعُ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ. متفق عليه.

په تاسو کي دي يو څوک د يوه مسلمان ورور په خوا په اسلحه باندي ځکه چي هغه ته نه ده معلومه شايد شيطان د هغه د لاس څخه اسلحه را وکاږي او په هغه بل باندي ولګيږي او بيا

هغه د هغه په سبب د دوږخ و كندي ته ولويږي . (بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\٢٣، رقم: ٧٠٧٢، ومسلم ٤\٢٠٢٠، رقم: ١٢٦- ٢٦١٧.

تشريح: شيطان په دا هڅه كي وي چي يو مسلمان دو كه سي او هغه په ګناه كي اخته كړي ځكه و فرمايل سول چي يو مسلمان وروړ ته په وسله سره اشاره مه كوئ داسي نه چي شيطان پر تاسو باندي اثر وكړي او هغه وسله په اشاره كولو سره پر هغه مسلمان ولګيږي او د هغه په وجه تاسو د دوږخ وړ وګرځئ .

﴿٢٣٦٥﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَشَارَ اِلٰى اَخِيْهِ بِحَدِيْدَةٍ فَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتّٰى يَضَعَهَا وَاِنْ كَانَ اَخَاهُ لِاَبِيْهِ وَاُمِّهِ . رواه البخاري .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د يوه مسلمان وروړ ولور ته په اوسپنه سره اشاره وكړي نو ملائكي پر هغه لعنت وايي تر هغه وخته پوري چي هغه اوسپنه نه وي ايښي اګر كه هغه اشاره كونكي د هغه حقيقي وروړ وي . (بخاري) .

تخريج: لم نجده عند البخاري بل هو عند مسلم بلفظه ٤\٢٠٢٠، رقم: ١٢٥- ٢٦١٦.

تشريح: مطلب دا دی كه چيري يو سړی خپل سكه وروړ ته په اوسپنه سره اشاره وكړي بلكه په مسخرو سره يې وكړي مګر ددې سربېره ملائكي پر هغه لعنت وايي، ددغه ارشاد مطلب يو مسلمان ته په وسله سره اشاره يا د اوسپني د پورته كولو څخه منع د مبالغې په توګه بيانول دي.

﴿٢٣٦٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا . رواه البخاري و زاد مسلم وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه او حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي پر موږ باندي اسلحه پورته كړي (كه د مقابلې لپاره وي او كه د مسخرو لپاره) هغه زموږ څخه نه دی . (بخاري)او د مسلم په روايت كي دا الفاظ زيات دي څوک چي موږ ته فريب راكوي هغه زموږ څخه نه دی .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\٢٣، رقم: ٧٠٧٠، ومسلم ١\٩٩، رقم: ١٦٤- ١٠١.

﴿٣٣٦٧﴾: وَعَنْ سَلْمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَلَّ عَلَيْنَا السَّيْفَ فَلَيْسَ مِنَّا . رواه مسلم .

د حضرت سلمه بن اکوع ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي پر موږ توره را وکاږي هغه زموږ څخه نه دی . (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم ۱\۹۸، رقم: ۱۶۲- ۹۹.

په دنيا کي يو چا ته سخت عذاب ورکونکی به په اخرت کي خپله په عذاب کي وي

﴿٣٣٦٨﴾: وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ اَنَّ هِشَامِ بْنِ حَكِيمٍ مَرَّ بِالشَّامِ

حضرت هشام بن عروه ﷛ د خپل پلار ه څخه روايت کوي چي هشام بن حکيم په شام کي ډېر

عَلَى أُنَاسٍ مِنَ الْاَنْبَاطِ وَقَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ وَصُبَّ عَلَى رُءُوسِهِمُ الزَّيْتُ

نبطيان وليدل چي هغوي لمر ته درول سوي وه او پر سرونو يې تېل (زيتون) اچول سوي وه

فَقَالَ مَا هٰذَا قِيلَ يُعَذَّبُونَ فِي الْخَرَاجِ فَقَالَ هشام اشهد لسمعت رَسُولَ

هشام بن حکيم ﷛ ور څخه پوښتنه وکړه چي دا څه دي ؟ نو ورته يې وويل د محصول يا خراج د نه ادا کولو په وجه دا سزا ورکول کيږي هشام وويل زه شاهدي ادا کوم چي ما د رسول الله ﷺ

اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ الناس فِي الدُّنْيَا . رواه مسلم

څخه دا اورېدلي دي چي الله ﷻ به هغه خلکو ته سخته سزا ورکړي کوم چي په دنيا کي و خلکو ته عذاب ورکوي . (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۱۸، رقم: ۱۱۸- ۲۶۱۳.

تشريح: يعني څوک چي يو مسلمان په دنيا کي په ناحقه په عذاب کي اخته کړي د مثال په توګه د لمر په ګرمۍ کي په درولو سره هغه پر هغه تاوده تېل يا بل شی اچوي نو الله تعالى به په آخرت کي هغه سړی د هغه شي په عذاب اخته کړي .

د ظلم کوونکي پای

﴿۳۳٦۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْشِكُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که ستا عمر زيات سو نو

إِنْ طَالَتْ بِكَ مُدَّةٌ أَنْ تَرَى قَوْمًا فِي أَيْدِيهِمْ مِثْلُ أَذْنَابِ الْبَقَرِ يَغْدُونَ فِي

ژر به يوه تهولي ووينې چي د هغوی په لاس کي د غوايانو د لکۍ په شان يو شی وي (يعني چلاخي) هغوی به په هغو چلاخو باندي خلک بېروي او وهي به يې او د ظالمانو به درباني

غَضَبِ اللّٰهِ وَيَرُوحُونَ فِي سَخَطِ اللّٰهِ. وفي رواية في لعنة الله. رواه مسلم.

کوي دا خلک به د الله جل جلاله په غضب کي سهار کوي او د خداي تعالى په غصه کي به ماښام کوي (يعني سهار او ماښام به د خداي تعالى لعنت ور باندي وي) او په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي چي دا خلک به د خداي تعالى په لعنت کي وي. (مسلم).

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۹۳، رقم: ۵۳- ۲۸۵۷.

تشريح: د هغه خلکو څخه مراد هغه خلک دي چي د يو ظالم او جابر مرسته کونکی وي يا د هغه پر دروازه ولاړ وي او د هغوی مخته او شاته ولاړ وي او بيا د هغه ظالم په مرسته خلک بيروي، غريبان وهي او کمزورو ته ښکنځل کوي او د غريبو شريفو خلکو عزت تر پښو لاندي کوي او د ليوني سپي په ډول هر څوک داړي.

د ناروا فيشن کونکو ښځو لپاره وعيد

﴿۳۳۷۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوزخيان دوه ډوله دي

النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ

چي هغوی ته زه نه ګورم يو خو هغه خلک دي چي د هغوی سره د غوايانو د لکۍ په شان چلاخي وي چي په هغه سره خلک وهي او بل هغه ښځي چي

كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ

په ظاهره يې كالي اغوستي وي مگر په حقيقت كي ښكاريږي (يعني ډيري نازكي جامې يې اغوستي وي) او د خلكو په زړونو كي خواهش پيدا كونكي ښځي او د نارينهؤ و لور ته خواهش لرونكي ښځي (يعني ډيري په فيشن سره او سېډونكي ښځي) د هغوى سر (يعني د سر وربښتان به يې داسي پورته وي لكه د نجدي اوښ بوک) داسي ښځي به نه جنت ته ځي

الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَتوجدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا . رواه مسلم

نه به د هغه بوي ويني حال دا چي بوى د جنت د ډېر ليري ځخه پيدا كيږي او د جنت بوى به ور ځخه دومره دومره ليري وي (تر ډېره مسافته پوري). (مسلم).

تخريج صحيح مسلم ۴\ ۲۱۹۲، رقم: ۵۲- ۲۱۲۸.

د لغاتو حل: البُخت: البُختى من الجمال والانثى بختية جمعه بخت وبخاتي، جمال طوال الاعناق اى يعظمنها ويكبرنها بلف عصابع ونحوها. مرقات.

تشريح: مگر په حقيقت كي به لوڅ وي: دلته هغه ښځو ته اشاره ده چي دومره نازكي جامې اغوندي چي د هغوى بدن معلوميږي يا داسي جامې اغوندي چي د بدن يو برخه يې پټه او يو برخه يې بالكل خلاصه وي لكه ځرنگه چي نن سبا رواج دى يا په پوړني سره د خپل نس او سينې پټولو پر ځاى هغه په غاړه كي اچوي يا پر شا يې اچوي، په دغه ټولو صورتو كي په ظاهره خو ښځي جامې اغوستي وي مگر په حقيقت كي هغه لوڅه وي.

د دغه جملې ځخه هغه ټولو صورتو ته اشاره كيداى سي چي په دنيا كي ډول ډول جامې اغوندي مگر د تقوا او عمل صالح د جامو ځخه محرومي وي چي د تقوا او نېک عمل په وجه په آخرت كي د جنت د جامو وړ سي.

مميلات او مائلات: ددې ځخه مراد هغه ښځي دي چي د خپل سينگار او ښكلا په ذريعه خلک ځان ته مائل كوي او خپله هم خلكو ته مائلي وي، يا د مميلات ځخه مراد هغه ښځي دي چي خپل پوړني د خپلو سرو ځخه ليري كوي چي خلک د هغوى مخونه ويني، د مائلات ځخه مراد هغه ښځي دي چي په ناز او نواز سره گرځي تر ځو خلک پر عاشق سي.

د هغوى سرونه به د بختي اوښانو د بوک په ډول وي: ددې ځخه مراد هغه ښځي دي چي د سر وېښتان پيچلي تړي او ځرنگه چي د بختي اوښانو بوكونه د لوړوالي په وجه آخوا دېخوا ښوري همدارنگه د هغوى د سرونو وېښتان هم آخو دېخوا ښوري په دغه حديث كي د ښځو د يو خاص ډلي ښوونه سوې ده چي د هغه وجود د رسول الله ﷺ په زمانه كي نه وو بلكه دا د رسول الله ﷺ

معجزه ده چي رسول الله ﷺ په راتلونكې زمانه كي د دغه ډول ښځو د پيدا كېدو خبر وركړ .

نه به په جنت كي داخليږي : دا د ښځو په باره كي فرمايل سوي دي د خلكو په باره كي دا سي خبره محض د اختصار په وجه نه ده فرمايل سوې د قاضي عياض رحمه الله د وينا مطابق د دغه جملې مطلب دا نه دى چي داسي ښځي به هيڅكله په جنت كي نه داخليږي بلكه مطلب دادى چي كله نيكي ښځي په جنت كي داخليږي او د جنت بوى تر لاسه كوي نو هغه وخت به داسي ښځي په جنت كي نه داخليږي او نه به د جنت بوى تر لاسه كوي مګر د خپل سزا تر سره كېدو وروسته به دوى هم د جنت په سعادت سره ونازول سي يا دا چي دا خبره د هغه ښځو لپاره فرمايل سوې ده چي څوك د غه شيان په حلال ګڼلو سره وكړي او دا هم ويل كيداى سي چي د دغه جملې څخه سخت زجر او خبرداري مراد دى .

څوك پر مخ باندي مه وهئ

﴿۳۳۷۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ فَإِنَّ اللَّهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ . متفق عليه .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي په تا سو كي يو څوك و هل كوي نو په مخ دي يې نه وهي ځكه چي الله جل جلاله انسان په خپل شكل و صورت پيدا كړى دى . (بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۸۲، رقم: ۲۵۵۹، ومسلم ۴\۲۰۱۷، رقم: ۱۱۵- ۲۶۱۲.

تشريح: آدم عليه السلام يې په خپل صورت كي پيدا كړى دى : د دې مطلب دا دى چي الله تعالى آدم عليه السلام په خپل صفت پيدا كړ او هغه يې د خپل صفاتو جلاليه او جماليه مظهر وګرځوى ، يا دا مراد دى چي آدم عليه السلام يې پر هغه خاص صورت باندي پيدا كړي چي الله تعالى يوازي د انسانانو لپاره اختراع او پيدا كړى دى په دې اعتبار سره په خپل صورت د پيدا كولو اضافت ، انساني شرف او اكرام ظاهرولو لپاره دي لكه څرنګه چي په (نفخت فيه من روحي) كي الله تعالى د روح اضافت ځان ته په فرمايلو سره د روح انساني عظمت او فضيلت ظاهر كړى دى او ځينو دا ويلي دي چي د صورته ضمير په اصل كي آدم عليه السلام ته راجع دى يعني آدم عليه السلام يې په هغه صورت كي پيدا كړ كوم چي د آدم عليه السلام سره مخصوص دى چي د ټولو مخلوقاتو څخه ممتاز دى او پر خصائص او كرامات باندي مشتمل دى .

همدا رنګه د حدیث خلاصه به دا وي چي الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو باندي شرف ورکړی دی او د هغه په ټولو اندامو کي يې مخ اشرف او مکرم او د انساني صورت د کمال ظهور محل دی نو انسان پر مخ وهلو څخه ځان ساتل پکار دي، علماء کرام وايي چي دا حکم د استحباب په توګه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

پر دي کور ته ننوتل او کتل

﴿٣٣٧٢﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَشَفَ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي پورته کړي

سِتْرًا فَأَدْخَلَ بَصَرَهُ فِي الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ فَقَدْ أَتَى

د کور پرده مخکي تر دې چي هغه ته د پردې پورته کولو یا وکور ته د راتلو اجازه ورکړل سي او د هغه کور ښځي ووینې نو هغه

حَدًّا لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ لَوْ أَنَّهُ حِينَ أَدْخَلَ بَصَرَهُ اسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ فَفَقَأَ

پر خپل ځان باندي شرعي حد واجب کړ د هغه دغسي راتلل او کتل روا نه دي او که هغه په کور کي په کتلو سره وکتل او د کور سړي د هغه و مخته راغی او هغه سړي يې پر سترګه وواهه

عَيْنَيْهِ مَا عَيَّرْتُ عَلَيْهِ وَإِنْ مَرَّ الرَّجُلُ عَلَى بَابٍ لَا سِتْرَ لَهُ غَيْرِ مُغْلَقٍ فَنَظَرَ

او ړوند يې کړی نو زه به سزا نه ورکوم او که يو څوک د يو چا د دروازې و مخ ته تيريږي چي پر

فَلَا خَطِيئَةَ عَلَيْهِ إِنَّمَا الْخَطِيئَةُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

هغه باندي پرده نه وي او د هغه نظر د کور په وګړو باندي ولګيږي نو په هغه باندي هيڅ ګناه نسته قصور د کوروالاؤ دی. (ترمذي دا حدیث غریب ګڼلي دی).

تخريج سنن الترمذي ٥\٦٠، رقم: ٢٧٠٧.

تشريح: د هغه لپاره دا هيڅکله جائز نه ده ...الخ: دا استيناف دی چي علت ته متضمن دی يعني دغه جمله يو بل عبارت شروع کوي چي د هغه مقصد د اول عبارت د مفهوم علت بيانول دي. دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي پر کورنی باندي واجب دي چي د خپل سرای دروازه بنده وساتي يا پر دروازه باندي پرده واچوي.

بېله تيکي توره ګرځول منع دي

﴿۳۳۷۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولًا. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي توره د تيکي څخه را کښل او بل چاته ورکول رسول الله ﷺ د دې څخه منعه کړېده. (ترمذي ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داود ۳\۷۰، رقم: ۲۵۸۸، والترمذي ۴\۴۰۳، رقم: ۲۱۶۳.

تشريح: د بې پوښه توري ساتلو څخه ځکه منع فرمايل سوې ده چي داسي نه هغه د لاس څخه په خلاصېدو سره پر يو چا ولګيږي يا خلک د هغه په لاس کي د لوڅي توري په لېدو سره په بيره کي نه سي.

د تسمې په دوو ګوتو نيول

﴿۳۳۷۴﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ. رواه ابوداؤد.

حضرت حسن رضي الله عنه د سمره رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د تسمې په دوو ګوتو کي نيولو سره د څيرلو څخه منع فرمايلې ده (ځکه چي کيدای سي په دې سره ګوتو ته تاوان ورسيږي). ابوداؤد،

تخريج: سنن ابي داود ۳\۷۱، رقم: ۲۵۸۹.

تشريح: د دغه منع سبب دا دی چي په داسي ډول د تسمې په څېرلو سره ګوتي زخمي نه سي، دا حديث او د دې څخه مخکي حديث په دواړو کي ذکر سوې منعه تنزيهي ده او د شفقت او همدردی له مخي ده.

د خپل دين، ځان، مال او اولاد ساتونکي شهيد دي

﴿٣٣٧٥﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

د حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ

د دين په ساتنه کي ووژل سي شهيد دئ، او څوک چي د خپل ځان په ساتنه کي ووژل سي هغه هم شهيد دئ او څوک چي ووژل سي

مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د خپل مال په ساتنه کي هغه هم شهيد دئ او څوک چي د خپل کورنۍ په ساتنه کي ووژل سي هغه هم شهيد دئ . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن الترمذي ٤\ ٢٢، رقم: ١٤٢١، وابوداود ٥\ ١٢٨، رقم: ٤٧٧٢، والنسائي ٧\ ١١٥، رقم: ٤٠٨٦.

تشريح: د دين په ساتنه کي د وژلو مطلب دادی چي د مثال په توګه د يو مسلمان په مخکي يو کافر يا مبتدع د هغه د دين سپکاوی او حقارت وکړي او هغه مسلمان د هغه سره په جګړه سي او ووژل سي نو هغه ته به د شهادت درجه تر لاسه کيږي .

د اکثرو علماؤ مذهب دادی چي د مثال په توګه يو سړی د زيد د مال د لوټ کولو اراده وکړي يا د هغه وژل وغواړي يا د هغه کورنۍ ته يو ډول تاوان رسولو قصد وکړي نو زيد ته پکار دي چي هغه د داسي خرابي اراده لرونکي مدافعت وکړي يعني اول خو دي هغه په ښه نرم انداز کي د هغه خرابي ارادې څخه د منع کولو هڅه وکړي مګر که چيري هغه د جنګ څخه او د خپلي خرابي ارادې څخه نه منع کيږي نو زيد هغه قتل کړي نو پر زيد باندي د تاوان په توګه هيڅ شی واجب نه دی او که چيري زيد قتل کړل سو نو هغه به د شهيد درجه تر لاسه کړي .

پر مسلمان د توره راکښونکي وعيد

﴿٣٣٧٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوږخ اووه

أَبْوَابٍ بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي أَوْ قَالَ عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ . رواه

دروازې دي په هغو کي يوه دروازه هغه ده چي په هغه کي به هغه څوک داخليږي چي زما پر امت توره راوکاږي (يا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل څوک چي د محمد ﷺ پر امت توره

الترمذي و قال هذا حديث غريب و حديث ابي هريرة الرجل جبار ذكر في باب الغضب.

راوکاږي) . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ ، د ابو هريرة حديث (الرجل جبار) په باب الغضب کي بيان سوی دی .

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٢٧٧، رقم: ٣١٢٣.

======

بَابُ الْقَسَامَةِ (د قسم اخيستلو بيان)

قِسامت د ق په زور سره د قسم په معنی کي دی يعني قسم کول ، او په شرعي اصطلاح کي د قسامت مفهوم دادی که د يو ابادي سيمي نژدې يو څوک قتل کړل سي او د قاتل معلومات نه کيږئ نو د وخت حکومت دي د دغه پيښي پلټنه وکړي که چيري د قاتل معلومات وسي نو ښه خبره ده او که نه نو بيا دي د هغه سيمي د پنځوسو کسانو څخه قسم واخيستل سي داسي چي په هغوی کي دي هر سړی دا قسم وکړي چي قسم په خدای ما نه دی قتل کړی او نه دده د قاتل په باره کي زه خبر يم ، دا د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی ، ددې بنياد دغه مشهور حديث دی چي (البينة على المدعي واليمين على من انكر) چي ددغه باب په دريم فصل کي د حضرت رافع ابن خديج رضي الله عنه څخه نقل سوی روايت هم پر دې دلالت کوي .

د امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما په نزد د قسامت مفهوم دادی چي په کومه سيمه کي يا يو سيمي ته نژدې يو مړی پيدا کړل سي که چيري د هغه سيمي د اوسيدونکو او مقتول په مينځ کي يو دښمني سوې وي يا يو داسي نښه تر لاسه سي چي په هغه سره دا گمان غالب وي چي ددغه سيمي خلکو دا سړی قتل کړی دی لکه په هغه سيمه کي د مړي پيدا کېدل ، نو د مقتول وارثانو څخه دي قسم واخيستل سي يعني هغوی ته دي وويل سي چي هغوی دا

قسم وکړي چي قسم په خدای تاسو چي ددغه سيمي خلکو دا قتل کړی دی که يا؟ که د مقتول وارثان د قسم کولو څخه انکار وکړي نو بيا د هغه خلکو څخه قسم واخيستل سي پر چا چي د قتل شک وي، ددغه باب اول حديث چي د حضرت رافع ﷺ څخه نقل سوی دی هغه هم پر دې دلالت کوي.

په قسامت کي قصاص واجب نه دی که څه هم د قتل عمد دعوا وي بلکه په دې کي ديت واجب دی که څه هم د قتل عمد دعوا وي يا د قتل خطاء دعوه وي مگر امام مالک رحمة الله عليه وايي که چيري د قتل عمد دعوه وي نو بيا د قصاص حکم نافذول پکار دي او د امام شافعي رحمة الله عليه پخواني قول هم دادی.

د قسامت په باره کي بايد دا خبره په ذهن کي چي د قسامت دغه طريقه د جاهليت په زمانه کي هم رواج وه، رسول الله ﷺ دا طريقه جاري وساتل او ددې سره سم يې په انصارو کي د هغه مقتول فيصله وکړه کوم چي د هغه قتل هغوی د خيبر پر يهوديانو دعوه کړې وه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په قسامت کي د مدعی څخه قسم واخيستل سي که د مدعی عليه څخه

﴿٣٣٧٧﴾: عَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ وَّ سَهْلِ بْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ اَنَّهُمَا حَدَّثَا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ

د حضرت رافع بن خديج او سهل بن ابي حثمه څخه روايت دئ چي عبدالله

بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُوْدٍ أَتَيَا خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللّٰهِ

بن سهل او محيصه ابن مسعود خيبر ته راغلل او دواړه د خرماوو په درختو کي د يو بل څخه بيل سول، عبدالله بن سهل يو چا ووژئ،

بْنُ سَهْلٍ فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَهْلٍ وَحُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُوْدٍ إِلَى

د سهل زوی عبدالرحمن او د ابن مسعود زامن حويصه او محيصه د

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمُوْا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمْ فَبَدَأَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ

نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او د مقتول په اړه يې خبري پيل کړې تر ټولو وړاندي عبدالرحمن خبري پيل کړې چي

وَكَانَ أَصْغَرَ الْقَوْمِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ كَبِّرْ الْكُبْرَ قَالَ يَحْيَى بن سعيد يَعْنِي

تر ټولو کوچنی وو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل د مشر د مشرۍ خيال وساته (يعني لومړی مشر ته د خبرو کولو موقع ورکړه) ددې حديث يو راوي يحيى بن سعيد وايي

لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْأَكْبَرُ فَتَكَلَّمُوا فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَتَسْتَحِقُّونَ قَتِيلَكُمْ أَوْ قَالَ

د رسول الله ﷺ مراد ددې څخه دا وو چې په تاسو کې دې مشر خبرې وکړي، نو هغوی خبرې اترې وکړې، نبي کريم ﷺ دا وفرمايل: تاسو به د خپل مقتول يا د خپل ملګری د خون بها هغه

صَاحِبَكُمْ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمْرٌ لَمْ نَرَهُ قَالَ

وخت وړلای سئ هر کله چې په تاسو کې پنځوس کسان قسم وکړي، هغوی عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ ته ددې پېښې هيڅ علم نسته، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ فِي أَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ

نو پنځوس يهوديان به قسم اخلي، نو هغوی به ستاسو د دعوې څخه خلاص سي، هغوی عرض وکړ اې د الله رسوله! هغوی خو کافران دي،

فَفَدَاهم رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مِنْ قِبَلِهِ وفي رواية تَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا

ددې وروسته رسول الله ﷺ د خپل ځان څخه هغوی ته خون بها ورکړه او په يوه روايت کې د االفاظ دي چې نبي کريم ﷺ دا وفرمايل تاسو پنځوس قسمونه واخلئ

وَتَسْتَحِقُّونَ قاتلكم او صَاحِبَكُمْ فَوَدَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د خپل مقتول د تاوان به بيا مستحق سئ، ددې وروسته رسول الله ﷺ

مِنْ عِنْدِهِ بِمِائَةِ نَاقَةٍ. متفق عليه. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

د خپل ځان څخه سل اوښې په ديت کې ورکړې. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٣٥-٥٣٦، رقم: ٦١٤٢، ومسلم ٣\١٢٩٢، رقم: ٢-١٦٦٩

تشريح: کوم څوک چې تر ټولو مشر وي هغه د دغه خبرو ذمه دار وي: ددې څخه دا خبره ثابته

سوه چي كوم څوك په عمر كي تر ټولو لوى وي د هغه اكرام او احترام ضروري دي او د خبرو شروع د هغه له خوا كېدل پكار دي.

دا حديث پر دې هم دلالت كوي چي په حدودو كي وكالت جائز دى او پر دې هم دلالت كوي چي د حاضر وكالت هم جائز دي كله چي مقتول ولي د هغه سكه ورور يعني عبدالرحمن ابن سهل ﷺ موجود وو او حويصه (رض) او محيصه (رض) د هغه د اكا زامن وو ، د دغه حديث څخه دا مفهول اخيستل كيږي چي د قسامت مخكي دي د مدعى څخه قسم واخيستل سي حال دا چي حنفي مذهب دا دى چي مخكي دي مدعا عليه څخه قسم واخيستل سي.

په دې باب كي دويم فصل نسته

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قسم پيل د مدعى عليه څخه كېدل پكار دي

﴿٣٣٧٨﴾: عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولًا بِخَيْبَرَ

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د انصارو يو سړى په خيبر كي ووژل سو

فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لَكُمْ

د هغه وارثان د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سول او پېښه يې بيان كړه، رسول الله ﷺ

شَاهِدَانِ يَشْهَدَانِ عَلَى قَاتِلِ صَاحِبِكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ أَحَدٌ

پوښتنه وكړه ايا ستاسو دوه شاهدان سته چي ستاسو د مقتول په اړه شاهدي وركړي ، هغوى عرض وكړ اې د الله رسوله ! هلته هيڅ

مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَإِنَّمَا هُمْ يَهُودُ وَقَدْ يَجْتَرِئُونَ عَلَى أَعْظَمَ مِنْ هَذَا قَالَ

مسلمان موجود نه وو پاته سول يهود نو هغوى د دې څخه پر زيات جرئت لري ، رسول الله ﷺ

فَاخْتَارُوا مِنْهُمْ خَمْسِينَ فَاسْتَحْلَفُوهُمْ فَأَبَوْا فَوَدَاهُ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ. رواه ابوداؤد.

وفرمايل ښه ده تاسو په يهوديانو کي پنځوس کسه وټاکئ او د هغوی څخه قسم واخلئ، هغوی ددې څخه انکار وکړ نو رسول الله ﷺ د مقتول ديت د خپل لوري ورکړ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\\۱۱۴ ۶۶۱، رقم: ۴۵۲۴.

تشريح: ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي چي ددغه حديث ظاهري مفهوم د حنفيه ددغه مذهب واضح دليل دی چي په قسامت کي د مدعا عليه څخه قسم اخيستل کيږي. ملا علي قاري رحمة الله عليه په دغه ځای کي د ټولو امامانو د مذهبو نقل کولو څخه وروسته د حنفيه مذهب دلائل په ډېره ښه طريقه سره بيان کړي دي.

======

بَابُ قَتْلِ اَهْلِ الرِّدَّةِ وَالسُّعَاةِ بِالْفَسَادِ

(د مرتد او فاسدو خلکو دوژلو بيان)

مرتد چا ته وايي؟ مرتد هغه سړي ته وايي چي د اسلام د دين څخه مخ واړوي يعني د ايمان او اسلام د نور څخه په وتلو سره د کفر او شرک په تيارو کي داخل سي.

د مُرتد په باره کي حکم: کله چي يو مسلمان (نعوذبالله) د اسلام څخه ووځي که چيري هغه د اسلام په باره کي يو شک او شبه ښکاره کړي نو د هغه شک او شبهې دفع دي وکړل سي که څه هم د اسلام دعوت ورکول او د هغه شک او شبه ليري کول واجب نه دي بلکه مستحب دي ځکه چي د اسلام دعوت هغه ته مخکي رسيدلی دی اوس هغه ته د نوي دعوت ضرورت نه سته او مستحب دادي چي داسي سړی د درو ورځو لپاره بندي کړل سي که چيري په دغه درو ورځو کي هغه توبه وکړي او بيرته اسلام ته راسي نو صحيح ده کنه نو هغه دي قتل کړل سي ځکه چي اسلام د مرتد سزا قتل ټاکلې ده، ځينو علماؤ ليکلي دي که چيري هغه وخت وغواړي نو وخت دي ورکړل سي کنه نو د وخت ورکولو ضرورت نه سته مګر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د وخت پر حکومت باندي د درو ورځو وخت ورکول واجب دي که څه هم د الله تعالی د ارشاد (اقتلوا المشرکين) يعني مشرکان قتل کړئ، او د رسول الله ﷺ د ارشاد (من بدل دينه فاقتلوه) يعني چا چي خپل دين بدل کړ هغه قتل کړئ ددې څخه ثابتيږي چي مرتد ته وخت ورکول واجب نه دي.

فساد کوونکی څوک دی؟ د عنوان د دوهم جز تعلق د فساد کونکي سره دی، په عامه توګه فساد کونکی هغه خلکو ته وايي چي په مځکه کي فتنه، فساد او لوټ مار کوي او د قتل او ظلم

په ذريعه د خلكو امن او سكون له منځه وړي مګر دلته په خاصه توګه قطاع الطريق يعني لار وهونكي مراد دى چي د هغه سزا هم قتل ده لكه څرنګه چي د الله تعالى ارشاد دئ :

إِنَّمَا جَزَاء الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ

ژباړه : كوم كسان چي د الله (ﷻ) او د هغه د رسول (ﷺ) سره جنګ كوي او په مځكه كي فساد پيدا كوي نو دهغوى سزا داده چي هغوى دي قتل كړل سي.

د مرتد په باره كي يو څو مسائل او احكام : نن سبا زموږ ورځنى ژوند د لويو لويو اعتدالو ښكار دى، نه خو موږ پر خپل ژبه واک لرو او نه د خپل عقيدې او نظريې په دائره كي په پوره توګه اوسيږو او زموږ افعال او اعمال د احتياط پابند دي ، نتيجه داده چي داسي ډيري خبري زموږ د ژبو څخه وځي چي موږ يې په ظاهره بالكل بې وهمه ګڼو مګر په حقيقت كي هغه خبري موږ د كفر دائرې ته رسوي.

همدارنګه داسي ډېر اعمال او كارونه زموږ څخه كيږي چي موږ يې معمولي ګڼو مګر هغه زموږ لپاره د آخرت د سخت تاوان سبب جوړيږي نو ضروري ده چي په دې باره كي يو څه وړاندي كړل سي :

د فتاوى عالمګيري په يو باب كي د مُرتد احكام او مسائل په ډېر تفصيل سره بيان سوي دي دغه پوره باب د يو څو نادر الوجود مسائلو څخه يو څو مسئلې دلته نقل كيږي ، دلته چي كومي مسئلې ذكر كيږي د هغو پېژندل د هر مسلمان لپاره ضروري دي چي د مرتد په باره كي د احكامو او مسائلو په پېژندو سره دا معلومه سي چي هغه كوم الفاظ دي چي په ژبه سره په ادا كېدو باندي سړى كفر ته رسوي يا هغه كوم عقائد او اعمال دي چي د هغه په كولو سره سړى كفر ته رسيږي.

مرتد په عامه اصطلاح كي هغه سړي ته وايي چي د اسلام د دين څخه وګرځي سره ددې چي د ايمان څخه وروسته د كفر كلمه په ژبه ادا كول د مرتد كېدو ركن دى او د مرتد حكم د صحيح كېدو لپاره د عقل كېدل شرط دى پر ليوني او بې عقل كوچني باندي د مرتد حكم لګول صحيح نه دى او پر كوم سړي چي د ليونتوب كيفيت په ځانګړې توګه خپور وي نو پر هغه باندي د مرتد حكم په هغه صورت كي لګيداى سي كله چي هغه د خپل صحيح دماغ په حالت كي مرتد سي كه چيري هغه د ليونتوب په كيفيت كي مرتد سي نو پر هغه باندي د مرتد حكم نه سي كيداى همدارنګه پر هغه سړي باندي هم د مرتد حكم لګول صحيح نه دى كوم چي هر وخت د نشې په حالت كي وي او دهغه عقل خراب سوى وي.

د مرتد د حكم جاري كېدو لپاره بالغ كېدل شرط نه دي يعني دا ضروري نه ده چي يو څوک په بلوغ كي مرتد سي نو هغه دي مرتد وګرځول سي بلكه پر نابالغ باندي هم د مرتد حكم كيداى سي همدارنګه نارينه توب هم د مرتد د حكم لپاره شرط نه دى بلكه ښځه كه چيري مرتده سي نو پر هغې باندي هم د مرتد حكم كيږي.

د مرتد د حكم كولو لپاره رضا او رغبت شرط دى پر هغه سړي باندي د مرتد حكم نه سي كيداى كوم چي پر مرتد كېدو باندي مجبور سوى وي.

كوم سړي ته چي د برسام (د سينې د پاړسوب) ناروغي وي او پر هغه داسي حال راسي چي په هغه سره د هغه عقل ولاړ سي او هغه بې سوچه خبري كول شروع كړي او بيا په دغه حالت كي هغه مرتد سي نو پر هغه باندي هم د مرتد حكم نه سي كيداى همدارنګه كوم سړى چي ليونى وي يا وسواسي وي يا مغلوب العقل وي نو پر هغه باندي هم د مرتد حكم نه سي كيداى.

لكه څرنګه چي د باب په شروع كي بيان سوى دي چي كوم سړى مرتد سي هغه ته دي د اسلام دعوت وركړل سي كه چيري هغه ته يو شک او شبه وي نو هغه دي ليري كړل سي او بيا كه چيري هغه په اسلام كي داخلېدل غواړي نو كلمه شهادت دي ووايي او د اسلام څخه پرته د نورو ټولو مذهبو څخه دي بيزاري اظهار كړي او كه چيري د هغه مذهب څخه د بيزارۍ اظهار وكړي د كوم لپاره چي هغه د اسلام دين پرې ايښى وو نو دا هم كافي ده، كه چيري يو سړى د مرتد كېدو څخه وروسته بېرته اسلام ته راسي او بيا كفر ته ولاړ سي او همدارنګه درې واره وكړي او هر وار د وخت د حكومت څخه وخت وغواړي مګر د وخت پاچا هغه ته تر درو ورځو پوري وخت وركړي مګر كه چيري هغه په څلورم وار كفر ته ولاړ سي او وخت وغواړي نو اوس په څلورم وار دي هغه ته وخت نه وركول كيږي بلكه په آخري وار كه چيري هغه په اسلام كي داخل سي نو صحيح ده كنه نو قتل دي كړل سي.

كه يو عاقل هلک مرتد سي نو د هغه مرتد كېدل د امام اعظم ابو حنيفة او امام محمد رحمة الله عليهما په نزد معتبر دي او هغه دي په اسلام كي پر داخلېدو باندي مجبور كړل سي مګر قتل كيږي دي نه، دا حكم د هغه هلک دى چي هغه په دې پوهيږي چي اسلام د خلاصون ذريعه ده او هغه په ښه او بد كي او په خواږه او ترخه كي فرق كولاى سي، د ځينو حضراتو په نزد دلته هغه هلک مراد دى چي عمر يې اووه كالو ته رسيدلى وي.

كه چيري يوه ښځه مرتده سي نو هغه دي نه قتل كيږي بلكه تر څو پوري چي هغه مسلمانه نه سي هغه دي بندي كړل سي او هره دريمه ورځ دي د خبرداري په توګه وهل كيږي تر څو د خپل

ارتداد ځخه په توبه كولو سره په اسلام كي داخله سي مگر كه چيري يو سړي مرتده ښځه قتل كړل نو پر قاتل باندي هيڅ واجب نه دي.

كه چيري يو مينزه مرتده سي نو د هغې مالک دي هغه پر اسلام راوړلو باندي داسي مجبوره كړي چي هغه دي په خپل كور كي بندي كړي او د هغې ځخه د خدمت اخيستلو سره سره دي يو بل كار هم هغې ته حواله كړي مگر مالک دي د هغې سره كوروالي نه كوي.

د عاقلي انجلۍ هغه حكم دى كوم چي د بالغي انجلۍ حكم دى همدارنگه خنثى (نرښځى) هم د هغه ښځي په حكم كي دى، كه چيري ازاده ښځه مرتده سي نو هغه تر هغه وخته پوري د مينزي په توگه نه سي نيول كيداى تر ځو چي هغه په دارالاسلام كي وي مگر كه چيري هغه دارالحرب ته ولاړه سي او بيا د هغه ځاى ځخه د اسلامي لښكر په بنديانو كي راسي نو هغه مينزه كيداى سي.

د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او نورو امامانو يو قول دادى چي مرتده په دارالاسلام كي هم د مينزي په توگه نيول كيداى سي، ځيني علماء وايي كه چيري پر دغه قول باندي د هغه ښځي په باره كي فتوا وركړل سي كوم چي خاوند والا وي نو څه پروا نه سته بلكه مناسب دادي چي د ښځي خاوند د هغه وخت ځخه د هغې د مينزي جوړولو خواست وكړي يا كه چيري د هغې خاوند د هغې مصرف وي نو د وخت پاچا دي هغه ښځه خاوند ته تحفه كړي.

په دغه صورت كي به خاوند د هغه ښځي د بندي كولو او د اسلام راوړلو لپاره هغه د سزا په توگه د وهلو ذمه دار وي.

كله چي يو مرتد د خپل ارتداد ځخه انكار وكړي نو د الله تعالى د وحدانيت او د حضرت محمد ﷺ د رسالت او د دين اسلام د حقانيت اقرار وكړي نو دا د هغه له خوا د توبې مظهر دى او په دغه صورت كي به هغه مسلمان گڼل كيږي.

كله چي يو سړى مرتد كيږي نو د هغه د مال ځخه د هغه ملكيت زائل كيږي مگر د ملكيت زائل كېدل موقوف دي كه چيري هغه سړي ته دتوبې توفيق ور په برخه سو او هغه بيا مسلمان سي نو د هغه ملكيت هغه بيرته وركول كيږي او كه چيري هغه د ارتداد په حالت كي مړ سي يا قتل كړل سي نو د هغه هغه مال چي د اسلام په حالت كي يې گټلى وي د هغه مسلمان وارثان به يې حقدار وي او هغوى ته به د هغه مال هغه برخه وركول كيږي كوم چي د اسلام په زمانه كي د هغه د پور وغيره ادا كولو ځخه وروسته پاته سي او كوم مال چي هغه د ارتداد په حالت كي گټلى وي نو هغه به د پور د ادا كولو ځخه وروسته غنيمت گڼل كيږي دا د امام اعظم ابو حنيفة

رحمة الله عليه قول دى آو د صاحبينو يعني امام ابو يوسف او امام محمد رحمة الله عليهما په نزد د مرتد ملكيت نه زائل كيږي.

د مرتد د مېراث اخيستونكي په باره كي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مختلف قولونه دلته بيانيږي، امام محمد رحمة الله عليه د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه څخه نقل كړي دي او دا قول زيات صحيح دي چي كله مرتد مړ سي يا قتل كړل سي يا دارالحرب ته د تښتېدو څخه وروسته د هغه مسلمانه ښځه هم د هغه د مال وارثه وي په شرط ددې چي هغه وخت (يعني د مرتد د وفات يا قتل كېدو په وخت كي) هغه ښځه په عده كي وي ځكه چي هغه مرتد د خپل ارتداد په ذريعه خپل ښځي ته د خپل مېراث وركولو څخه تېښته اختيار كړې وي نو د هغه ارتداد د مرض الموت په ډول سو لكه څرنګه چي يو سړى خپل ښځي ته د خپل مرض الموت په حالت كي طلاق مغلظه وركړي نو شريعت ددې سره سم چي د هغې خاوند هغه د خپل مېراث څخه محرومه كول غواړي ځكه شريعت د هغه ښځي د هغه مېراث حقداره ده، كه چيري يو ښځه مرتده سي نو د هغې د مرګ څخه وروسته د هغې خاوند د هغې د مال حقدار نه وي مګر كه چيري ښځه د ناروغۍ په حالت كي مرتده سي او بيا مړه سي نو د هغې خاوند به د هغې ميراث تر لاسه كوي همدارنګه ټول قريبان به د هغې د ټول مال وارث وي تر دې چي هغې د ارتداد په حالت كي كوم مال جمع كړى وي هغه به هم د هغې وارثانو ته وركول كيږي.

كه يو سړى مرتد سي او دارالحرب ته ولاړ سي يا د وخت پاچا هغه دار الحرب ته د تلو حكم وكړي نو د هغه مدبر غلام به ازاد سي او د هغه ام ولد به هم ازاده سي او د هغه چي كوم مال وركول وي هغه به سمدستي وركول وي او هغه چي په اسلام كي كوم مال پيدا كړى دى هغه به ټول د هغه مسلمان وارثانو ته وركول كيږي او كه چيري يو مرتد د اسلام په زمانه كي يو وصيت كړى وي نو د مبسوط وغيره په ظاهري روايت سره سم به هغه وصيت باطل وي يعني د هغه وصيت به نه پر ځاى كيږي كه څه هم د هغه وصيت تعلق د يو قريب سره وي يا د پردي سره وي.

تر څو چي مرتد په دارالاسلام كي وي نو تر هغه وخته دي قاضي د هغه په باره كي په ذكر سوو حكمو كي يو حكم نه جاري كوي.

كوم څوک چي مرتد سي نو په معاملاتو او عقوداتو كي د هغه د تصرف څلور ډولونه دي:

اول تصرف دادى چي د ټولو په نزد په سمدستي توګه جاري كيږي لكه هغه ته يو شى په تحفه كي وركړل سي او هغه تحفه قبوله كړي يا هغه خپل مينزه ام ولد وګرځوي يا د هغه مينزه يو كوچنى راوړي او هغه مرتد د هغه كوچني د نسبت دعوى وكړي يعني دا ووايي چي دا زما

کوچنی دی نو د هغه کوچني نسبت به د هغه سره ثابت سي او هغه کوچنی به د هغه د نورو وارثانو په ډول د هغه د میراث حقدار وي او هغه مینزه چي د هغې څخه یې کوچنی پیدا سوی دی د هغه مرتد ام ولد به وي او د مرتد له خوا منل سوې شفعه به قبوله کړل سي همدارنګه که چیري مرتد خپل پر ماذون غلام بانديي حجر نافذ کړي نو د هغه اعتبار به کیږي.

دوهم تصرف هغه دی کوم چي په اتفاق سره باطلیږي یعني د شریعت په نظر کي د هغه هیڅ اعتبار نه وي لکه نکاح کول که څه هم هغه مسلمانه وي یا مرتده وي یا ذمیه، حره او یا مملوکه وي همدارنګه د مرتد ذبیحه (حلال سوی څاروی) هم حرام دی او که چیري هغه په ښکار نیولی وي که څه هم ښکار یې د سپي په ذریعه نیولی وي یا د باز په ذریعه او یا د ټوپک، غشي او بل شي په ذریعه یې وژلی وي نو هغه به هم حرام وي.

دریم تصرف هغه دی کوم چي د ټولو په نزد موقوف دی لکه شرکت مفاوضت، که چیري یو مرتد د یو مسلمان سره شرکت مفاوضت وکړي نو د هغه حکم به موقوف وي که چیري هغه مرتد مسلمان سو نو هغه شرکت مفاوضه به هم نافذ سي او که چیري هغه د ارتداد په حالت کي مړ سي یا قتل کړل سي یا دارالحرب ته ولاړ سي نو په دغه صورت کي به شرکت مفاوضه د شروع څخه په شرکت عنان کي بدل سي، دا د صاحبینو مذهب دی مګر د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله عليه په نزد د مرتد شرکت مفاوضت نه باطلیږي.

څلورم تصرف هغه دی کوم چي د هغه په موقوف کېدو کي د علماؤ اختلاف دی لکه رانیول، پلورل، معاملات، اجاره کول، غلام ازادول، مدبر کول یا مکاتب کول، وصیت کول، قبض او داسي نور، د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله عليه قول دادی چي په دغه ټولو معاملاتو کي د مرتد تصرف موقوف دی که چیري هغه اسلام قبول کړي نو نافذ کیږي او که مړ سي یا قتل کړل سي نو دغه ټول تصرفات باطل کیږي.

د ارتداد په دوران کي د مکاتب ټول تصرفات نافذ کیږي همدارنګه که چیري یو سړی خپل مرتد غلام یا مینزه خرڅ کړي نو د هغه بیع جائزده.

که یو مرتد د خپل ارتداد څخه په توبه کولو سره دارالاسلام ته بېرته راسي او دغه راتلل د قاضي له خوا د هغه دارالحرب ته د تللو د حکم څخه مخکي وي نو د هغه د مال او سامان په باره کي د هغه د مرتد کېدو حکم باطل دی او هغه داسي دی لکه چي مسلمان وو او نه د هغه ام ولد ازادیږي او نه د هغه مدبر ازادیږي او که چیري د هغه راتلل د قاضي د حکم څخه وروسته وي نو هغه چي د خپلو وارثانو سره خپل کوم تر لاسه کړي هغه دي ځیني واخلي او کوم مال او سامان

چي د هغه وارثانو د بيع، تحفې ، عتاق وغيره په ذريعه د خپل ملکيت څخه ايستلې وي د هغه د غوښتنې حق هغه ته نه سته او نه د خپلو وارثانو څخه د داسي مال د بدلې اخيستلو حق سته.

کوم څوک چي د خپل مور او پلار په پيروی کي مسلمان وي يعني هغه کوچنی وي او د خپل مسلمان مور او پلار په وجه د مسلمان په حکم کي وي او بيا په ارتداد سره بالغ سو که څه هم د قياس غوښتنه داده چي هغه دي قتل کړل سي مګر په دې باره کي د استحسان له مخي حکم دادی چي هغه دي نه قتل کيږي ځکه چي د بلوغ څخه مخکي هغه بالذات مسلمان نه وو بلکه د خپل مور او پلار په اتباع کي د مسلمان په حکم کي وو همدارنګه حکم د هغه سړي په باره کي هم دی کوم چي په کم عمر کي مسلمان سوی وي مګر کله چي بالغ سي نو مرتد سي، که يو څوک په زور سره د اسلام په قبلولو مجبور سوی وي او بيا هغه د اسلام څخه وګرځيږي نو هغه دي هم د استحسان له مخي نه قتل کيږي مګر په دغه ټولو صورتو کي حکم دادی چي هغه دي د اسلام پر قبلولو باندي مجبور کړل سي او که چيري د اسلام قبلولو څخه مخکي يو چا قتل کړی نو پر قتل کونکي باندي هيڅ واجب نه دي.

لقيط هغه کوچني ته وايي چي په يو ځای کي پيدا کړل سي، که چيري په دارالاسلام کي پيدا کړل سي نو د هغه د مسلمان کېدو حکم دي وکړل سي او که چيري د کفر په حالت کي بالغ سي نو هغه دي د اسلام په راوړلو باندي مجبور کړل سي مګر قتل کيدای نه سي.

تر دې ځايه د مرتد په باره کي يو څو احکام او مسائل وه اوس يو څو نوري خبري بيانول ضروري دي چي د هغه کونکی کافر کيږي ، په دې کي ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د ايمان او اسلام سره دی او ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د الله ﷻ د ذات او صفاتو سره دی ، ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د علم او علماؤ سره دی، ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د حلال او حرام سره دی ، ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د قيامت او داسي نورو شيانو سره دی او ځيني خبري هغه دي چي د هغو تعلق د کفر د تلقين کولو سره دی، دا يوه اوږده لړۍ ده ځکه نو دغه خبري يعني د کفر موجبات په ترتيب د بېل بېل عنوان تر لاندي بيانيږي :

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د ايمان او اسلام سره دی : د ايمان او اسلام په باره کي هغه خبري چي د هغو کونکي کافر کيږي دا دي :

١. که يو څوک داسي ووايي چي ما ته معلومه نه ده چي زما اسلام صحيح دی که يا نو دا يوه لويه غلطي ده مګر که چيري د دغه خبري مقصد د خپل شک نفي کول وي نو بيا لويه خطاء نه ده.

۲. کوم څوک چي په خپل ایمان او اسلام کي شک وکړي او داسي ووایي چي آه مؤمن یم انشاء الله، نو هغه کافر کیږي مګر که چیري دا تاویل وکړي چي ما ته معلومه نه ده چي زه به د دغه دنیا څخه په ایمان سره ولاړ سم که یا ؟ نو په دغه صورت کي هغه نه کافر کیږي .

۳. کوم څوک چي داسي ووایي چي قرآن کریم مخلوق دی نو هغه کافر دی .

۴. کوم څوک چي دا عقیده ولري چي ایمان او کفر یو دی نو هغه کافر دی .

۵. کوم څوک چي پر ایمان باندي راضي او مطمئن نه وي نو هغه کافر دی .

٦. کوم څوک د خپل نفس پر کفر راضي سي نو هغه کافر دی .

۷. کوم څوک چي د خپل ځان څخه پرته د بل چا په کفر راضي سي نو د هغه په باره کي د علماؤ اختلاف دی او فتوا پر دې ده که چیري یو سړی د خپل ځان څخه پرته د بل چا په کفر د دې لپاره راضي سي چي کافر د همېشه لپاره په عذاب کي اخته وي نو هغه کافر نه دی او که چیري هغه د بل چا په کفر د دې لپاره راضي سي چي هغه د الله تعالی په حق کي د هغه شي اظهار وکړي کوم چي د هغه د صفاتو لائق نه وي نو هغه کافر کیږي .

۸. کوم څوک چي دا ووایي چي زه د اسلام صفت نه پیژنم نو هغه کافر سو، شمس الائمه حلواني رحمة الله علیه دغه مسئله په ډېر سخت انداز کي بیان کړې ده ، هغه وایي چي داسي ویونکی یو داسي سړی دی چي د هغه نه دین سته ، نه لمونځ سته ، نه روژه سته ، نه طاعت سته ، نه عبادت سته او نه نکاح سته، او د هغه اولاد د هغه د زنا په نتیجه کي پیدا کیدونکي اولاد دی .

۹. یو مسلمان د یو عیسائي انجلۍ سره نکاح وکړي چي د هغې مور او پلار هم عیسائي وي او بیا هغه په دغه حال کي لویه سوه چي هغه یو مذهب او دین نه پیژني یعني نه خو هغه دین په زړه سره پیژني او نه یې په ژبه سره بیانولای سي او هغه لیونۍ هم نه وي نو په دغه صورت کي د هغې او خاوند په مینځ کي جلاوالی راوستل کیږي .

۱۰. همدارنګه که چیري د یو مسلماني انجلۍ سره نکاح وکړي او بیا کله چي هغه د عقل په حالت کي بالغه سي نو هغه نه په زړه سره اسلام پیژني او نه یې په ژبه سره ادا کولای سي او هغه لیونۍ هم نه وي نو په دغه صورت کي به هم د هغې او خاوند په مینځ کي جلاوالی راوستل کیږي .

۱۱. که د یو ښځي څخه پوښتنه وسي چي توحید څه شي دی او هغه په جواب کي ووایي چي ما ته نه ده معلومه نو که چیري په دغه جواب سره د هغې مطلب دا وي چي زما د توحید کلمه

په ياد نه ده نو په دې کې د هغې څه تاوان نه دی مګر که چيرې د هغې د جواب څخه مراد دا وي چې زه د الله تعالى وحدانيت نه پيژنم نو په دغه صورت کې هغه مؤمنه نه ده او د هغې نکاح به ماته وي .

١٢. که يو سړی په داسې حالت کې مړ سي چې هغه په دې نه پوهيدی چې زما خالق څوک دی، د هغه د کور څخه پرته د الله تعالى سره يو بل کور هم سته او دا چې ظلم حرام دی نو هغه مؤمن نه دی .

١٣. يو سړی ګناه کوي او وايي چې د ګناه په ذريعه د خپل اسلام ظاهرول پکار دي نو هغه کافر دی.

١۴. يو څوک بل چا ته ووايي چې زه مسلمان يم نو هغه په جواب کې وويل چې پر تا دې هم لعنت وي او ستا پر مسلماني دې هم لعنت وي نو هغه کافر سو .

١۵. يو عيسائي اسلام قبول کړی او د دې څخه وروسته د هغه عيسائي پلار مړ سو او هغه وو ايي چې کاش ! زه دا وخت مسلمان نه وای نو د خپل پلار مال به مي تر لاسه کړی وای نو هغه کافر سو .

١٦. يو عيسائي يو مسلمان ته راسي او هغه ته ووايي چې ما ته د اسلام دعوت راکړه چې زه ستا په لاس اسلام قبول کړم ، هغه مسلمان په جواب کې ورته ووايي چې ته فلاني عالم ته ورسه چې هغه تا ته د اسلام دعوت درکړي او ته د هغه په لاس اسلام قبول کړه، د داسې ويونکي په باره کې د علماؤ اختلاف دی ، ابو جعفر رحمة الله عليه وايي چې داسې ويونکي کافر نه دی .

١٧. يو کافر اسلام قبول کړي نو يو مسلمان هغه ته ووايي چې تا ته په خپل دين کې کومه خرابي معلومه سوه چې تا اسلام قبول کړی نو داسې ويونکی کافر کيږي .

د کفر هغه موجبات چې د هغو تعلق د الله ﷻ د ذات او صفاتو سره دی :

١. هغه سړی کافر کيږي چې الله تعالى ته د يو داسې وصف نسبت وکړي کوم چې د هغه د شان وړ نه وي يا د هغه د پاکو نومو څخه يو نوم يا د هغه د احکامو څخه د يو حکم سپکاوی وکړي يا د هغه د وعد او وعيد څخه انکار وکړي يا څوک د هغه شريک، زوی يا ښځه وګرځوي ، يا هغه ته د جهل يا عجز يا بلې خرابۍ نسبت وکړي نو داسې سړی هم کافر کيږي.

٢. که يو څوک داسې ووايي که الله تعالى ما ته د دغه کار يا خبرې حکم راکړي نو بيا به هم زه هغه کار و نه کړم نو هغه سړی هم کافر کيږي .

۳. په قرآن کریم کي الله تعالی ته د ید (لاس) او وجه (مخ) نسبت سوی دی ایا په یو بله ژبه کي د دغه شیانو اطلاق جائز دی که یا؟ په دې باره کي ځیني علماء وایي چي جائز دی په شرط د دې چي د دغه شیانو څخه د هغه حقیقي مفهوم یعني اندامونه مراد نه وي، اکثر علماء کرام وایي چي دا جائز نه دي او همدا معتمد علیه قول دی.

۴. که یو سړی داسي ووایي چي فلانی سړی زما تر سترګو داسي دی لکه د الله تعالی تر سترګو یهودي نو د جمهورو علماؤ په نزد هغه سړی کافر کیږي ځکه چي هغه الله تعالی د سترګي اصل معنی یعني د یو انساني اندام نسبت کړی دی مګر ځیني حضرات وایي که چیري د دغه جملې ویونکي مراد د هغه سړي د افعالو خرابۍ بیانول مقصد وي نو نه کافر کیږي.

۵. یو سړی وفات سي او بل سړی ووایي چي خدای ﷻ ته داسي کول نه وه پکار نو دا کفر دی.

٦. یو سړی خپل دښمن ته ووایي چي زه د الله ﷻ په حکم سره ستا سره دا معامله کوم او دښمن په جواب کي ووایي چي زه د الله ﷻ حکم نه منم یا دا ووایي چي په دغه ځای کي د الله ﷻ حکم نه چلیږي، یا داسي ووایي چي په دې ځای کي هیڅ حکم نه سته یا داسي ووایي چي د الله ﷻ د حکم کولو ور نه دی دغه ټولي جملې کفر لازموي، د حاکم عبدالرحمن رحمة الله عليه څخه د هغه سړي په باره کي پوښتنه وسوه کوم چي داسي ووایي چي زه فلانی کار د رواج سره سم کوم د الله ﷻ په حکم سره یې نه کوم نو ایا دا سړی کافر کیږي؟ هغه ورته وویل که د جملې څخه د هغه مراد د حق فساد او د شریعت پرېښودل او د رواج پیروي وي او د هغه مقصد د الله ﷻ د حکم رد کول نه وي نو هغه نه کافر کیږي.

۷. که یو څوک د داسي سړي په باره کي چي هغه هیڅکله نه ناروغ کیږي داسي ووایي چي الله ﷻ دغه سړی هېر کړی دی یا داسي ووایي چي دغه سړی د هغه خلکو څخه دی چي الله تعالی هیر کړي دي نو دا کفر دی.

۸. که یو سړی یو چا ته ووایي چي ستا د ژبي څخه خدای ﷻ هم خلاص نه دی نو زه به څرنګه در څخه خلاص سم نو هغه کافر کیږي.

۹. یو سړی خپل ښځي ته ووایي چي ته د الله ﷻ څخه هم ما ته زیاته محبوبه یې نو هغه سړی کافر کیږي.

۱۰. همدارنګه داسي ویل چي فلانی سړی په خراب تقدیر کي راګیر سوی دی دا لویه غلطي ده

۱۱. د الله ﷻ د مکان (ځای) ثابتول کفر دی، که یو سړی داسي ووايي چي د الله ﷻ څخه هيڅ ځای خالي نه دی نو هغه کافر کيږي.
۱۲. که یو څوک داسي ووايي چي الله ﷻ په آسمان کي دی نو که چيري دا خبره ددې مقصد لپاره کړې وي چي د هغه مقصد د هغه شي حکايت کول وي کوم چي په ظاهري توګه سره منقول دی نو نه کافر کيږي او که چيري د هغه مقصد الله ﷻ ته د مکان نسبت کول وي نو بيا کافر کيږي، د اکثرو علماؤ که چيري د هغه هيڅ نيت نه وي نو کافر کيږي،
۱۳. همدارنګه که یو څوک ووايي چي الله ﷻ د انصاف لپاره کښينستی يا د انصاف لپاره ودريدی ځکه چي په دغه جمله کي الله تعالی ته د فوق او تحت نسبت سوی دی.
۱۴. همدارنګه داسي ويل هم کفر دی چي زما حامي او مرستيال پر آسمان باندي الله ﷻ دی او په مځکه کي فلانی سړی دی.
۱۵. د اکثرو علماؤ په نږد داسي ويل هم کفر دی چي الله ﷻ تر آسمان لاندي ګوري يا يوازي داسي ووايي چي الله ﷻ د آسمان څخه ګوري يا داسي ووايي چي الله ﷻ د عرش څخه ګوري.
۱٦. کوم څوک چي الله ﷻ ته د ظلم نسبت وکړي نو هغه کافر سو.
۱۷. که یو څوک داسي ووايي چي اې الله! دا ظلم مه خوښوه نو د ځينو علماؤ په نزد هغه کافر کيږي.
۱۸. همدارنګه که یو سړی بل سړي ته داسي ووايي که د قيامت په ورځ الله تعالی انصاف وکړ نو زما سره به تر تا انصاف وکړي نو هغه کافر کيږي، مګر که چيري د که لفظ پر ځای کوم وخت وويل سي نو نه کافر کيږي.
۱۹. که یو څوک داسي ووايي که الله تعالی د قيامت په ورځ په حق او عدل سره حکم وکړ نو زه به ستا څخه خپل حق واخلم نو په داسي ويلو سره هم سړی کافر کيږي.
۲۰. که یو څوک داسي ووايي چي اې الله! کله چي يو ظالم ظلم کوي نو د هغه ظلم مه قبلوې که تا د هغه ظلم قبول کړی نو زه يې نه قبلوم نو داسي ويل هم کفر دی ځکه چي هغه سړي داسي وايي چي اې الله! که ته د هغه په ظلم راضي يې نو زه په راضي نه يم.
۲۱. يو څوک يو چا ته ووايي چي درواغ مه وايه، هغه سړی په جواب کي ووايي چي درواغ د څه لپاره دي؟ د ويلو لپاره خو دي نو داسي ويل هم کفر دی.

۲۲.يو چا ته وويل سي چي د الله ﷻ رضا وغواړه ، هغه ووايي چي زما نه ده پكار ، يا يو څوك ووايي كه الله ﷻ ما په جنت كي داخل كړي نو برباد به يې كړم ، يا يو چا ته وويل سي چي د الله تعالى نافرماني مه كوه ځكه كه ته نافرماني وكړې نو الله تعالى به تا په دوږخ كي داخل كړي ، هغه ووايي چي زه درواغ نه پرېږدم ، يا يو چا ته وويل سي چي زيات خوراک مه كوه ځكه چي الله تعالى به دي صحيح نه ساتي هغه ووايي چي زه خو به يې خورم كه څه هم دښمن مي ساتي يا دوست مي ساتي نو دا ټولي جملې كفر لازموي .

۲۳. همدارنگه كه يو چا ته وويل سي چي زيات مه خانده ، يا زيات مه بېده كيږه او هغه په جواب كي ووايي چي زه به دومره خورم ، دومره به بېده كيږي او دومره به خاندم څومره چي زه غواړم نو دا كفر دى .

۲۴.كه يو چا ته وويل سي چي گناه مه كوه ځكه چي د الله تعالى عذاب ډېر سخت دى او هغه ووايي چي زه به عذاب په يوه لاس كي پورته كړم نو دا كفر دى .

۲۵.كه يو چا ته داسي وويل سي چي خپل مور او پلار مه تنگوه او هغه ووايي چي پر ما باندي د هغوى حق نه سته نو دا كه څه هم كفر نه دى مگر د سختي گناه خبره ده .

۲٦.كه يو سړي ابليس لعين ته ووايي چي اې ابليسه ! ته زما فلانى كار وكړه زه به ستا خبره ومنم او خپل پلار به تنگ كړم او ته چي د كوم شى څخه منع كوې د هغه څخه به منع سم نو دا كفر دى .

۲۷.كه يو څوك يو چا ته ووايي كه الله ﷻ دغه دواړه جهانه نه جوړولاى نو ما به ستا څخه خپل اخيستى واى نو دا كفر دى .

۲۸.يو سړى يو درواغ خبره وكړي او يو اوريدونكى ووايي چي زما خداى دي ستا درواغ ريښتيا كړي يا داسي ووايي چي خداى دي ستا په درواغو كي بركت واچوي نو دا خبره كفر ته نژدې ده .

۲۹.همدارنگه يو سړى درواغ ووايي او اوريدونكي ورته ووايي چي خداى دي ستا په درواغو كي بركت واچوي نو دا كفر دى .

۳۰.يو سړى يو چا ته ووايي چي فلانى سړى ستا سره سم نه چليږي او هغه په جواب كي ورته ووايي چي دده سره خو خداى هم سم نه چليږي نو داسي ويونكى كافر دى .

۳۱.كه يو څوک ووايي چي د الله تعالى زړ خوښ دي هغه ما ته زړ را نه كړل نو هغه كافر كيږي په شرط د دې چي د ويلو څخه د هغه مقصد الله تعالى د بخل نسبت كول وي مگر كه چيري هغه داسي وويل چي الله تعالى زړ خوښوي نو دا كفر نه دى .

۳۲.یو څوک یو چا ته ووایي چي انشاء الله تعالی ته دا کار وکړه ، هغه په جواب کي ورته ووايي چي زه د انشاء الله تعالی څخه پرته دا کار کوم نو دا کفر دی .

۳۳. یو مظلوم ووايي چي زما سره څه کیږي هغه د الهي تقدیر مطابق دي، ظالم ددې په اوریدو سره ووایي چي زه چي څه کوم د تقدیر څخه پرته يې کوم نو دا کفر دی.

۳۴. که یو څوک داسي ووايي چي اې خدایه ! پر ما باندي د رحمت کولو څخه منع مه کوه نو دا د کفریه الفاظو څخه دی .

۳۵.ښځه او خاوند په خپل مینځ کي یو خبره کوي، د ښځي له خوا چي خبري اوږدې سي و خاوند ورته ووايي چي د خدای ﷻ څخه وبېرېږه او تقوا اختیار کړه، ښځه په جواب کي ووايي چي زه د الله ﷻ څخه نه بېرېږم نو په داسي ویلو سره ښځه مرتده کیږي او د دواړو په مینځ کي جلاوالی واقع کیږي په شرط ددې چي خاوند خپل ښځه د هغې پر صریح معصیت ترټلې وي او هغه يې د خدای ﷻ څخه بېرولې وي او د هغه په جواب کي ښځي ذکر سوې جمله ویلې وي مګر که چیري خاوند خپل ښځه د هغې په یو داسي خبره ترټلې وي چي په هغه کي د الله تعالی څخه د بېرېدو موقع نه وي یعني ښځي یو ګناه نه وي کړې نو په دغه صورت کي هغه نه کافره کیږي البته که چیري په دغه صورت کي هم ددغه جملې څخه د ښځي مقصد د خوف خدا او تقوا سپکاوی وي نو د دواړو په مینځ کي جلاوالی واقع کیږي.

۳۶.یو څوک د یو چا د وهلو اراده وکړي او هغه ته ووایي چي ایا ته د خدای ﷻ څخه نه بیریږي؟ هغه ورته ووايي چي یا نو دا کفر نه دی ځکه چي هغه ته دا حق حاصل دی چي هغه ووايي چي د خدای ﷻ څخه د بېرېدو سوال په هغه شي کي پیدا کیږي کوم چي هغه زه وکړم.

۳۷. یو څوک ګناه کوي او بل څوک يې وترټي او ورته ووايي چي ایا ته د خدای ﷻ څخه نه بیریږي ؟ نو هغه په جواب کي ورته ووايي چي یا نو هغه کافر کیږي ځکه چي دلته د هیڅ یو تاویل ځای نه سته .

۳۸. همدارنګه یو سړي ته وویل سي چي ایا ته د خدای ﷻ څخه نه بېریږې او هغه د غصې په حالت کي جواب ورکړي چي یا نو هغه کافر کیږي .

۳۹.که یو څوک د الله ﷻ حکم یا د پیغمبر ﷺ شریعت خوښ نه کړي د مثال په توګه زید بکر ته ووايي چي الله ﷻ څلور ښځي حلالي ګرځولي دي او زید ووایي چي زه دا حکم نه خوښوم نو دا کفر دی .

۴۰.که چیري یو سړی ووایي چي یوازي د خدای ﷻ وجود کېدل پکار دي د بل شي وجود کېدل نه دي پکار نو هغه کافر کیږي.

۴۱.که یو سړی ووایي چي زما په حق کي ټولي نیکۍ خدای ﷻ پیدا کړي دي او د بدۍ خالق زه یم نو هغه کافر کیږي.

۴۲.یو چا ته وویل سي چي ته د خپل ښځي په واک کي نه راغلې او هغه په جواب کي ووایي چي د ښځو په واک کي خدای ﷻ هم نه راځي نو زه به څرنګه راسم دا کفر دی.

۴۳. که یو څوک یو چا ته ووایي چي د خدای ﷻ له خوا وینم او ستا له خوا وینم یعني کوم شی چي ما ته تر لاسه سوی دی هغه د خدای ﷻ له خوا دی او ستا له خوا دی یا داسي ووایي چي زه د خدای ﷻ څخه امید لرم او ستا څخه امید لرم نو دا بده خبره ده مګر که چیري داسي ووایي چي زه د خدای ﷻ له خوا وینم او د هغه ظاهري سبب تا ګڼم نو دا یو ښه خبره ده.

۴۴. یو څوک د خپل یو مخالف څخه پر یو خبره باندي قسم کول وغواړي او هغه مخالف ورته ووایي چي زه په خدای ﷻ قسم کوم مګر قسم ورکونکی ورته ووایي چي زه په خدای ﷻ قسم نه کوم بلکه د طلاق یا عتاق قسم کول غواړم نو د ځینو علماؤ په نزد کافر کیږي مګر د اکثرو علماؤ په نزد نه کافر کیږي او دا قول زیات صحیح دی.

۴۵. که یو څوک یو چا ته ووایي چي خدای ﷻ پوهیږي چي زه تا همېشه په دعاء کي یادوم نو د هغه د کفر په باره کي د مشائخو اختلاف دی.

۴۶. که یو څوک د مسخرو او خندا په توګه په فارسي کي ووایي چي (من خدایم) یعني زه خدای یم نو هغه کافر کیږي.

۴۷. یو سړی خپل ښځي ته ووایي چي ته د همسایه د حق پروا نه کوې ښځه ورته ووایي چي یا، خاوند ورته ووایي ته د خپل خاوند د حق پروا نه کوې ښځه ورته ووایي یا، بیا خاوند ورته ووایي ته د خدای ﷻ د حق پروا نه لرې؟ نو ددې په جواب کي هم هغه ووایي چي یا نو په دې سره هغه کافره کیږي.

۴۸. که یو څوک د خپل ناروغۍ څخه په پرېشانه کېدو سره یا د رزق د تنګوالي په وجه ووایي چي خدای ﷻ زه ولي پیدا کړی یم او د دنیا د خوندو او راحتو څخه یې محروم کړی یم نو د هغه په باره کي ځیني علماء وایي چي هغه نه کافر کیږي مګر د هغه داسي ویل یوه لویه غلطي ده.

۴۹. یو څوک یو چا ته ووایي چي تا کومي بدی کړي دي د هغه په وجه به الله تعالی تا په عذاب کي اخته کړي او هغه په جواب کي ووایي چي ایا خدای ﷻ ته تا کلی یې چي خدای به هغه کوي څه چي ته وایې نو هغه کافر کیږي.

۵۰. که یو څوک ووایي چي خدای ﷻ د دوږخ جوړولو څخه پرته نور څه کولای سي نو هغه کافر کیږي.

۵۱. یو مفلس سړی د مفلسی په حالت کي ووایي چي فلانی سړی هم د الله ﷻ بنده دی او هغه ته دومره نعمتونه ورکړل سوي دي او زه د الله ﷻ بنده یم چي په دومره تکلیف او غم کي اخته یم ایا دا انصاف دی نو په داسي ویلو سره هغه کافر سو ، همدارنګه یو سړی ته وویل سي چي د خدای ﷻ څخه وبېرېږه هغه په جواب کي ورته ووایي چي خدای ﷻ چیري دی نو هغه هم کافر کیږي.

۵۲. که یو څوک ووایي چي پیغمبر په خپل قبر کي نه سته یا داسي ووایي چي د خدای ﷻ علم قدیم نه دی یا داسي ووایي چي د معدوم علم الله ﷻ ته نه سته نو هغه کافر کیږي.

۵۳. که د یو چا نوم عبدالله وي او بل څوک د هغه په بللو سره د لفظ الله څخه وروسته د کاف اضافه وکړي نو هغه کافر کیږي په شرط ددې چي بلونکی عالم وي. همدارنګه که چیري یو عالم سړی د خالق لفظ په قصد سره تصغیر وکړي نو هغه هم کافر سو.

۵۴. که یو څوک ووایي چي خدای ﷻ دي ستا په پر زړه رحم وکړي زما پر زړه نه نو هغه کافر سو په شرط ددې چي هغه دا خبره د رحمت الهي څخه د بې نیازی په وجه کړې وي او که چیري د هغه مطلب دا وي چي زما ثابت باثبات الله دی نو هغه به کافر نه وي.

۵۵. که یو څوک داسي قسم وکړي چي په خدای قسم او ستا په پاکه خاوره قسم نو هغه کافر کیږي مګر که چیري داسي قسم وکړي چي قسم په خدای او ستا په سر قسم نو په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی.

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د انبیاؤ علیهم السلام سره دی:

۱. کوم څوک چي په نبیانو کي د یوه نبي اقرار هم ونه کړي یا په رسولانو کي د یوه رسول پر سنت باندي د ناراضګی یا عدم اعتقاد او اطمینان اظهار وکړي نو هغه کافر کیږي،

۲. د ابن مقاتل رحمة الله علیه څخه د هغه سړي په باره کي پوښتنه وسوه چي هغه د خضر علیه السلام یا حضرت ذي الکفل علیه السلام د نبوت څخه انکار وکړي نو هغه وفرمایل چي د یو داسي نبي د نبوت څخه انکار کول چي د هغه پر نبوت باندي د امت د خلکو اتفاق نه وي تاواني نه دی.

۳. که یو سړی وو وایي چي ما د الله تعالی پر ټولو نبیانو ایمان راوړی دی او ما ته معلومه نه ده چي آدم علیه السلام نبي وو که یا ؟ نو هغه کافر سو .

۴. د حضرت جعفر رحمة الله علیه څخه د هغه سړي په باره کي پوښتنه وسوه کوم چي نبیانو ته د فواحش نسبت وکړي لکه یو نبي ته د زنا د ارادې نسبت کول یا داسي بله خبره کول لکه څرنګه چي په حشویه (یوه باطله ډله) د حضرت یوسف رحمة الله علیه په باره کي دا ډول اظهار کوي ، نو حضرت جعفر رحمة الله علیه وویل چي داسي سړی کافر دی ځکه چي دا د نبیانو په حق کي بد ویل دي او د هغوی د سپکاوي مترادف دی .

۵. ابو ذر رضي الله عنه وایي چي کوم څوک داسي وو وایي چي هره نافرماني کفر دی او بیا دا وو وایي چي نبیانو نافرماني وکړه نو هغه کافر دی .

٦. که یو څوک داسي وو وایي چي نبیانو هیڅکله نافرماني نه ده کړې نه د نبوت په حالت کي او نه د نبوت څخه مخکي نو هغه هم کافر دی ځکه چي هغه په دغه خبره کولو سره د قرآن کریم د آیات (عصی ربه...) تردید وکړ .

۷. د ځینو علماؤ څخه نقل سوي دي چي کوم څوک په دې پوه نه سي چي محمد ﷺ خاتم النبیین دی نو هغه مسلمان نه دی ، کوم څوک چي په خپل زړه کي د یو نبي په باره کي بغض ولري نو هغه کافر دی .

۸. که چیري یو سړی داسي وو وایي چي فلانی که د الله جل جلاله رسول وای نو ما به ایمان پر راوړی وای نو هغه هم کافر کیږي لکه څرنګه چي داسي ویونکی کافر کیږي که الله تعالی هم ما ته د فلاني کار حکم راکړی وای نو ما به نه وای کړی .

۹. که یو څوک داسي وو وایي چي نبیانو څه فرمایلي دي که هغه ریښتیا او حقیقت وي نو موږ به خلاصون تر لاسه کړو نو هغه کافر سو .

۱۰. که یو سړی وو وایي چي زه د الله جل جلاله رسول یم یا په فارسي کي وو وایي (من پیغمبرم) یعني زه پیغمبر یم او ددې څخه د هغه مراد هم دا وي چي زه د الله جل جلاله پیغام رسونکی یم نو هغه کافر کیږي او کله چي هغه دا خبره وکړي او یو بل سړی د هغه څخه معجزه طلب کړي نو د ځینو علماؤ په نزد د هغه معجزې غوښتونکی هم کافر کیږي حال دا چي متاخرین علماء وایي که چیري د معجزه غوښتونکی مقصد د هغه سړي ذلیل کول وي او د هغه عاجز کول وي نو هغه نه کافر کیږي .

١١. كه يو څوک د رسول الله ﷺ وېښته مبارک ته کوچنی وېښته ووايي نو هغه د ځينو علماؤ په نزد کافر کيږي او د ځينو علماؤ په نزد نه کافر کيږي مګر که چيري هغه دا خبره د سپکاوي په توګه کړې وي نو د هغوی په نزد هم کافر کيږي.

١٢. که يو سړی ووايي چي زه نه پوهېږم چي محمد ﷺ انسان وو يا جن نو هغه کافر کيږي.

١٣. که يو څوک داسي ووايي چي فلانی سړی پيغمبر دی نو زه به د هغه څخه خپل حق اخلم نو هغه کافر نه دی او که چيري داسي ووايي چي محمد ﷺ دروېشک (يعني يو کوچنی فقير) وو يا داسي ووايي چي د پيغمبر ﷺ جامې بدبويه او خرابي وې نو د ځينو علماؤ په نزد هغه بېله يو قيده کافر کيږي حال دا چي ځيني علماء وايي چي هغه په هغه صورت کافر کيږي کله چي هغه دا خبره د سپکاوي په توګه وکړي.

١٤. که يو څوک يو داسي چا ته ښکنځل وکړي چي د هغه نوم محمد يا احمد وي يا د هغه کنيت ابو القاسم وي او هغه داسي مخاطب کړي چي اې د زناکونکي اولاده نو هغه کافر سو په شرط ددې چي د هغه مقصد هر هغه سړي ته ښکنځل کوي د چا چي نوم محمد يا احمد او ياد هغه کنيت ابو القاسم وي او په داسي ويلو سره د رسول الله ﷺ ذات مبارک هم مقصد وي.

١٥. په دې ويلو سره څوک نه کافر کيږي چي هره ګناه کبيره ده مګر د انبياؤ ګناه صغيره دي.

١٦. که چيري يو څوک داسي ووايي چي هر بد کار چي په قصد سره وکړل سي هغه کبيره ګناه ده او د هغه کار کونکی فاسق دی او بيا دهغه سره دا هم ووايي چي د انبياؤ ګناهونه په قصد سره دي نو هغه کافر سو ځکه چي هغه د نبيانو په شان کي بدويل وکړل مګر که چيري هغه داسي ووايي چي د نبيانو ګناهونه په قصد نه دي نو هغه نه کافر کيږي.

١٧. کوم رافضي چي د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما په شان کي بد ويل وکړي او نعوذبالله پر هغوی لعنت ووايي نو هغه کافر دی مګر که چيري حضرت علي رضی الله عنه ته پر حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه فضيلت ورکړي نو هغه کافر نه دی مګر هغه ته به مبتدع ويل کيږي، معتزله هم مبتدع دي مګر که چيري هغه داسي ووايي چي د الله تعالی دېدار محال دی نو هغه کافر کيږي.

١٨. پر بي بي عائشې رضی الله عنها باندي د زنا تهمت لګونکی د الله جل جلاله سره کفر کونکی دی مګر که څوک د رسول الله ﷺ پر نورو بيبيانو باندي د زنا تهمت ولګوي نو هغه نه کافر کيږي مګر د لعنت مستحق کيږي.

۱۹. که یو څوک داسي ووايي چي حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ صحابه نه وه نو هغه نه کافر کیږي مګر د لعنت مستحق دی.
۲۰. د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د امامت او خلافت څخه انکار کونکي د ځینو علماؤ په نزد کافر کیږي او د ځینو علماؤ په نزد نه کافر کیږي بلکه مبتدع به وي مګر صحیح قول دا دی چي هغه کافر کیږي.
۲۱. همدارنګه د حضرت عمر فاروق ﷛ د خلافت څخه انکار کونکی هم د صحیح قول سره سم کافر کیږي.
۲۲. کوم خلک چي حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت طلحه، حضرت زبیر او بي بي عائشې رضي الله عنهم ته نعوذ بالله کافر وايي نو هغوی ته خپله کافر ویل کیږي.
۲۳. همدارنګه د زیدیه ډلي ټولو خلکو ته کافر ویل واجب دي ځکه چي هغوی دغه باطله عقیده لري چي نعوذ بالله په یو عجمي هیواد کي به د یو نبي ظهور کیږي چي زموږ د نبي کریم ﷺ دین به منسوخ کړي او زموږ د رسول الله ﷺ رسالت به کالعدم کړي.
۲۴. هغه روافضو ته هم کافر ویل واجب دي چي د تناسخ ارواح ویونکي دي او داسي وايي چي مړ کېدونکی دوهم وار بېرته دنیا ته راځي او په امامانو کي د الله تعالی روح حلول کړی دی د امام باطن ظهور به کیږي تر څو چي د هغه امام باطن ظهور نه وي نو امر او نهي معطل دي او دا چي جبرائیل ﷤ په وحي راوړلو کي غلطي کړې ده ځکه چي هغه ته د حضرت محمد ﷺ پر ځای حضرت علي ﷛ ته وحي راوړل پکار وه، دغه ډله د اسلامي ملت څخه وتلې ده او کوم احکام چي د مرتد په باره کي دی هغه د دغه ډلي پر خلکو باندي هم نافذ کیږي.
۲۵. کوم څوک چي د رسول الله ﷺ په شان کي پر بد ویلو باندي مجبور کړل سي نو د هغه درې صورتونه دي: ۱: که هغه دا اقرار وکړي چي زما په زړه کي د رسول الله ﷺ د بدی هیڅ خطره هم نه ده تېره سوې بلکه ما په خپل ژبه سره یوازي هغه الفاظ ادا کړل چي د هغه پر ادا کولو باندي مجبور کړل سوی وم او د هغه مثال د هغه چا په ډول دی چي هغه په خپل ژبه سره د کفر د کلمې پر ادا کولو باندي مجبور کړل سوی وی او هغه د کفر کلمې په ژبه سره ادا کړي وي مګر دهغه زړه پر ایمان باندي ثابت او مطمئن وي، ۲: که چیري هغه اقرار وکړي چي کله زه محمد ﷺ ته پر بد ویلو باندي مجبور کړل سوم نو زما په زړه کي د هغه عیسائي خیال راغلی چي د هغه نوم محمد وو کله چي ما په خپل ژبه سره د محمد ﷺ په

باره کي بد الفاظ وويل نو زما مراد هغه عيسائي وو نو په دغه صورت کي به هم هغه نه کافر کيږي، ٣: که چيري هغه دا اقرار وکړي چي کله د محمد ﷺ په باره کي زه پر بد ويلو باندي مجبور کړل سوم نو زما په زړه کي د هغه عيسائي هم خيال راغلی چي د هغه نوم محمد دی مګر ما په خپل ژه سره چي کوم بد الفاظ وويل هغه د عيسائي په باره کي نه وه بلکه د محمد ﷺ په باره کي وه نو په دغه صورت کي هغه کافر کيږي د قانون په لحاظ هم او د الله ﷻ په نزد هم.

٢٦. کوم څوک چي داسي ووايي چي محمد ﷺ مجنون وو هغه کافر دی مګر که چيري داسي ووايي چي محمد ﷺ بې هوشه سوی وو نو کافر نه دی.

٢٧. که يو څوک ووايي که چيري حضرت آدم عليه السلام په جنت کي غنم نه وای خوړلی نو موږ به بدبخته نه وای نو هغه کافر کيږي.

٢٨. کوم څوک چي د متواتر حديثو څخه انکار وکړي نو هغه کافر کيږي.

٢٩. کوم څوک چي د مشهور حديث څخه انکار وکړي نو هغه د ځينو علماؤ په نزد ګمراه سو.

٣٠. چا چي د خبر واحد څخه انکار وکړ هغه نه کافر کيږي مګر د هغه د نه قبلولو په وجه ګناه کار کيږي.

٣١. که يو څوک د يو نبي په باره کي د خپل دغه خواهش اظهار وکړي که چيري هغه نبي نه وای نو د هغه په باره کي علماء وايي که چيري د هغه مراد دا وي چي د هغه نبي کېدل به د حکمت څخه خارج نه وای نو هغه نه کافر کيږي او که چيري د هغه مراد د هغه نبي سپکاوی او د خپل بغض اظهار وي نو هغه کافر کيږي.

٣٢. يو څوک د چا په مخکي ووايي چي رسول الله ﷺ فلانی شی د مثال په توګه کدو ډېر خوښوی، که چيري اورېدونکی په جواب کي ووايي چي زه يې نه خوښوم نو دا کفر دی، د امام ابويوسف رحمة الله عليه څخه هم داسي منقول دي مګر ځيني متاخرين علماء وايي که چيري هغه دا خبره چي زه يې نه خوښوم د سپکاوي په توګه ويلې وي نو هغه کافر دی کنه نو کافر نه دی.

٣٣. که يو څوک داسي ووايي چي حضرت آدم عليه السلام جامې جوړي کړي وې ځکه نو موږ د جامو جوړونکي اولاده يو نو دا کفر دی،

٣٤. يو څوک ووايي چي رسول الله ﷺ به کله خوراک کوی نو خپل درې ګوتي به يې څټلې، او اورېدونکي داسي ووايي چي دا خو ښه کار نه دی نو هغه کافر سو.

۳۵. كه يو څوک داسي ووايي چي د صحرايانو عجيبه رواج دی کله چي خوراک کوي نو لاسونه نه پريولي ، كه چيري هغه دغه خبره د رسول الله ﷺ د سپکاوي لپاره کړې وي نو هغه كافر سو .

۳٦. كه چيري يو څوک ووايي چي برېتونه کوچني کول او د لنگوټې شمله تر غاړې لاندي زړول څرنگه رواج دی ، كه چيري هغه دا خبره د رسول الله ﷺ پر سنت باندي د طنز کولو په توگه ويلې وي نو هغه كافر سو .

۳۷. يو څوک يو خبره وكړي او بل سړی هغه ته ووايي چي درواغ وايې كه څه هم ټوله خبره پيغمبرانه ده ددې په ويلو سره هغه كافر كيږي .

۳۸. همدارنگه كه يو څوک داسي ووايي چي زه دا خبره نه منم كه څه هم د هغه خبره پيغمبرانه ده نو په دې سره هم كفر لازميږي .

۳۹. يو څوک د خپل غلام د وهلو اراده وكړي او هغه ته يو بل څوک ووايي چي دی مه وهه ، هغه ووايي چي محمد ﷺ هم راته وايي نو بيا به يې هم پرې نه ږدم نو پر هغه باندي كفر لازميږي .

۴۰. يو څوک حديثونه وايي چي د هغه په اورېدو سره يو سړی ووايي چي (همه روز خلشها خواند) يعني هره ورځ گډې وډې وايي نو كه څه هم ددې نسبت رسول الله ﷺ ته ونه كړي بلكه د هغه ويونكي ته نسبت وكړي نو بيا هم هغه كافر كيږي په شرط ددې چي د هغه تعلق د دين او شريعت د احكامو سره وي او كه چيري هغه داسي حديث وي چي د هغه تعلق د دين او شريعت سره نه وي نو په دې سره كفر نه لازميږي او د هغه قول پر دې محمول كړل سي چي هغه د هغه ويل نه خوښوي .

۴۱. كه يو څوک ووايي چي (بحرمت جوانک عربي) او د دغه جملې څخه د هغه مراد رسول الله ﷺ وي نو هغه كافر كيږي . (جوانک هغه هلک ته وايي چي ږيره يې نه وي راغلې) .

۴۲. كه يو څوک ووايي چي نبي كريم ﷺ يو وخت پيغمبر وو او يو وخت داسي وو چي هغه پيغمبر نه وو ، يا داسي ووايي چي زه نه پوهيږم چي رسول الله ﷺ په قبر كي مؤمن دی كه كافر نو په داسي ويلو سره هغه كافر كيږي .

۴۳. كه يو څوک خپل ښځي ته ووايي چي خلاف خبره مه كوه او هغه ښځه ورته ووايي چي پيغمبرانو خلاف ويلي دي نو د هغې داسي ويل كفر دی هغه بايد توبه وكړي او دنوي سره نكاح وكړي .

۴۴. یو څوک یو چا ته ووایي چې ما ته ستا لېدل د ملک الموت لېدل معلومیږي نو د هغه داسي ویل ډېره لویه غلطي ده او د هغه په کفر کي د مشائخو اختلاف دی ځیني وایي چې هغه کافر کیږي او اکثر علماء وایي چې په داسي ویلو سره هغه نه کافر کیږي .

۴۵. په فتاوی قاضي خان کي لیکلي دي چې ځیني علماء وایي که چیري هغه د غه جمله د ملک الموت سره د عداوت له کبله ووایي نو هغه کافر کیږي او که چیري د مرګ د ناخوښي په وجه یې ویلي وي نو بیا نه کافر کیږي او که چیري داسي ووایي چې د فلاني مخ د ملک الموت په ډول دښمن ګڼم نو د اکثرو مشائخو وینا ده چې له دې کبله هغه کافر کیږي ،

۴۶. که یو څوک ووایي چې زه د فلاني شاهدي نه اورم که څه هم هغه جبرائیل او میکائیل علیهما السلام وي نو په دغه صورت کي هغه کافر کیږي .

۴۷. که یو چا په ملائکو کي پر یو ملائکي باندي عیب ووایه نو هغه کافر کیږي .

۴۸. که یو څوک داسي ووایي چې زه ملائکه یم نو په داسي ویلو سره هغه نه کافر کیږي .

۴۹. که یو څوک ووایي چې زه نبي یم نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

۵۰. یو سړی د یو ښځي سره د بل چا د موجودتیا پرته نکاح وکړي او هغه ووایي چې ما الله ﷻ او رسول ﷺ شاهدان کړي دي یا داسي ووایي چې د الله ﷻ د غه ملائکه مي شاهده کړل نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

۵۱. که یو څوک داسي ووایي چې راسته او چپه خوا والا ملائکي مي شاهداني کړې نو په داسي ویلو سره هغه نه کافر کیږي .

د کفر هغه موجبات چې د هغو تعلق د قرآن کریم سره دی :

۱. که یو څوک ووایي چې قرآن مخلوق دی نو هغه کافر کیږي .

۲. که یو څوک د قرآن کریم د یو آیت څخه انکار وکړي یا په هغه پوري مسخرې وکړي یا عیب پر ووایي نو په دغه ټولو صورتو کي هغه کافر کیږي .

۳. که یو څوک د دریا یا سورنا سره قرآن کریم ووایي نو هغه کفر وکړ .

۴. یو څوک قرآن کریم وایي او بل سړی د هغه په اورېدو سره ووایي چې دا د څه طوفان اواز دی نو د هغه دا ویل کفر دی .

۵. که یو څوک ووایي چې ما ډېر قرآن کریم ووایه مګر زما ګناه معاف نه سوه نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

٦. یو څوک یو چا ته ووایي چي د تا د قل هو الله پوست را وایستی یا داسي ووایي چي تا د الم نشرح گرېوان ونیوی ، یا هغه سړي ته چي پر یو ناروغ یې سورة یاسین وایه ووایي چي یاسین د مړي په خوله کي مه اېږده ، یا داسي ووایي چي تر انا اعطیناک الکوثر زیات کوتاه، یا یو څوک قرآن کریم وایي او د هغه یو کلمه نه په یاد کېدل نو هغه ته ووایي چي (والتفت الساق بالساق) یا یو چا ته ډکه پیاله راوړي او ورته ووایي (کاسا دهاقا) یا یو چا ته د مسخرو په توگه ووایي چي (فکانت سرابا) یا د ناپ او تللو په وخت کي د مسخرو په توگه ووایي چي (واذا کالوهم او وزنوهم یخسرون) یا یو چا ته داسي ووایي چي تا د الم نشرح لنگوټه تړلې ده او د هغه مراد دا وي چي تا د علم اظهار کړی دی ، یا یو څوک خلک راجمع کړي او هغه ووایي چي (فجمعناهم جمیعا) یا داسي ووایي چي (وحشرناهم فلم نغادر منهم احدا) یا یو چا ته ووایي چي ته (والنازعات نزعا) ولي وایې د نون په پېښ سره او او په زور ورکولو سره او مراد د هغه طنز کول وي ، یا یو پک سړي ته ووایي چي زه خو تا ته ځکه لوی وایم چي الله تعالی فرمایلي دي (کل بل ران)، یا یو چا ته وویل سي چي لمانځه ته ولاړ سه یا د جماعت لمانځه ته ولاړ سه او هغه په جواب کي ورته ووایي چي زه یوازي لمونځ کوم د الله تعالی قول دی (ان الصلوة تنهی) نو په دغه ټول صورتو کي کافر کیږي .

٧. یو څوک یو چا ته ووایي چي تا خپل کور داسي پاک کړی دی لکه والسماء والطارق نو ځیني عالمان وایي چي په داسي ویلو سره هغه نه کافر کیږي ، امام ابوبکر اسحاق رحمۃ اللہ علیہ وایي که چیري ددې ویونکی جاهل وي نو نه کافر کیږي او که عالم وي نو کافر کیږي .

٨. که چیري یو څوک ووایي چي (قائما صفاصفا) سوی دی نو په دغه جملې کي لویه خطره ده چي هغه به کافر سي .

٩. کله چي یو څوک ووایي چي قرآن عجمي دی نو هغه کافر سو او که چیري داسي ووایي چي په قرآن کریم کي یوه کلمه عجمي ده نو هغه ته په کافر ویلو کي تلوار نه دی پکار ، دا دفکر خبره ده .

١٠. یو څوک یو چا ته ووایي چي قرآن کریم ولي نه وایې او هغه په جواب کي ورته ووایي چي زه د قرآن کریم څخه بېزاره یم نو هغه کافر کیږي .

١١. د یو چا د قرآن کریم یو داسي سورت په یاد دی چي ډېر یې وایي بل سړی هغه ویونکي ته ووایي چي تا دا سورت کمزوری لیدلی دی نو هغه په داسي ویلو سره کافر کیږي .

۱۲. که یو څوک قرآن کریم په عجمي ژبه مثلا فارسي کي نظم کړی نو هغه دي قتل کړل سي ځکه چي هغه کافر سو .

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د لمانځه، روژې او زکوة سره دی :

۱. یو څوک یو ناروغ مسلمان ته ووایي چي ته لمونځ وکړه، هغه په جواب کي ووایي چي قسم په خدای زه به هیڅکله لمونځ ونه کړم او بیا یې هیڅکله لمونځ ونه کړ تر دې چي مړ سو نو هغه ته به کافر ویل کیږي او که چیري یوازي داسي ووایي چي زه لمونځ نه کوم نو د هغه په داسي ویلو کي څلور احتماله دي ۱: یو خو دا چي لمونځ نه کوي ځکه چي کړی یې دی، ۲: دوهم دا چي لمونځ نه کوي یعني ستا په حکم سره یې نه کوي ځکه چي تر تا غوره څوک سته چي هغه حکم کړی دی، ۳: دریم دا چي نه یې کوي یعني د بې باکۍ او فسق په توګه ووایي، په دغه درو سره صورتو کي هغه نه کافر کیږي، ۴: څلورم دا چي لمونځ نه کوي په دې وجه چي پر ما لمونځ واجب نه دی او نه ما ته د دې حکم راکړل سوی دی په دغه څلورم صورت کي هغه کافر کیږي، او که چیري هغه په جواب کي یوازي دا ووایي چي زه لمونځ نه کوم نو هغه په دغه وجهو سره نه کافر کیږي .

۲. یو چا ته وویل سي چي لمونځ وکړه او هغه په جواب کي ووایي چي زه لیونی یم چي لمونځ وکړم او پر خپل ځان باندي تکلیف راولم، یا داسي ووایي چي زما لپاره نور خلک لمونځ کوي، یا داسي ووایي تا چي لمونځ وکړی نو څه ګټه دي تر لاسه کړه یا داسي ووایي چي زه لمونځ ولي وکړم زما مور او پلار خو مړه سوي دي، یا داسي ووایي چي لمونځ کول او نه کول دواړه برابر دي، یا داسي ووایي چي دومره لمونځونه مي کړي دي چي زړه مي په موړ سوی دی، یا داسي ووایي چي لمونځ خو داسي شی نه دی چي پاته سي خرابیږي نو دا ټول جوابونه کفریه دي .

۳. یو څوک یو چا ته ووایي چي راځه د فلاني کار لپاره لمونځ وکړو، هغه ورته ووایي چي ما ډېر لمونځونه کړي دي او هیڅ حاجت مي پوره سوی نه دی او هغه دا خبره د طنز او سپکاوی په توګه وکړي نو په دې سره هغه کافر کیږي .

۴. یو فاسق سړی یو مسلمان ته په مخاطب کولو سره ووایي چي راځئ مسلماني وګورو او د دې څخه وروسته هغه د فسق مجلس ته اشاره وکړي نو هغه کافر کیږي .

۵. که یو څوک ووایي چي بې لمانځي کېدل څومره غوره دي نو هغه په داسي ویلو سره کافر کیږي .

٦. يو څوک يو چا ته ووايي چي لمونځ وکړه چي د بندګۍ په خوږوالي پوه سي يا په فارسي کي ووايي چي نماز بخوان تا حلاوت نماز بيابي او ددې په جواب کي هغه ووايي تو مکن که حلاوت بې نمازي به بيني ، يعني ته لمونځ مه کوه چي د بې لمانځۍ خوند محسوس کړل سي نو په داسي ويلو سره هغه کافر کيږي .

٧. يو څوک غلام ته ووايي چي لمونځ وکړه ، هغه ووايي چي زه لمونځ نه کوم ځکه چي ددې ثمره زما بادار ته رسيږي نو هغه په داسي ويلو سره کافر کيږي .

٨. يو څوک يو چا ته ووايي چي لمونځ وکړه او هغه په جواب کي ورته ووايي الله تعالی زما په مال کي تاوان وکړی نو زه د هغه په حق کي تاوان کوم نو دا جواب هم کفر دی.

٩. يو سړی يوازي د روژې په مياشت کي لمونځ کوي او بيا وروسته يې نه کوي او وايي چي دا ډېر دی يا داسي وايي چي دا به ډېر زيات وي ځکه چي د روژې د مياشتي هر لمونځ د اويا لمونځو برابر دی نو هغه په داسي ويلو سره کافر کيږي .

١٠. که يو څوک په قصد سره د قبلې څخه پرته بلې خوا ته په مخ کولو سره لمونځ وکړي مګر په اتفاقي توګه د هغه خوا څخه قبله ووتل نو امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه وايي چي هغه کافر سو او په دې باندي فقيه ابو لليث رحمة الله عليه عمل کړی دی .

١١. که يو څوک په قصد سره بې اودسه لمونځ وکړي يا په ناپاکو جامو کي په قصد سره لمونځ وکړي نو هغه کافر سو .

١٢. يو سړي ته قبله معلومه نه ده نو هغه فکر وکړ چي قبله کومي خوا ته ده زړه يې دا ومنل چي دې خوا ته قبله ده مګر بيا هغه ددغه خوا په پرېښودو سره بلي خوا ته لمونځ وکړ نو امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه د داسي سړي په باره کي وايي چي زه د هغه په حق کي د کفر بېره لرم ځکه چي هغه د قبلې څخه مخ واړوی او د نورو مشائخو د هغه په کفر کي اختلاف دی ، شمس الائمه حلواني رحمة الله عليه وايي چي کله هغه د قبلې په پرېښودو سره د سپکاوي په توګه بلي خوا ته لمونځ وکړی نو ظاهره ده چي هغه کافر کيږي، او که چيري په داسي صورت کي په يو وجه اخته سو د مثال په توګه د نورو خلکو سره يې لمونځ کوی چي هغه بې اودسه سول او د شرم په وجه هغه فکر وکړ چي ظاهر نه سي نو د پټولو لپاره يې بې اودسه لمونځ وکړ يا دښمن نژدې وو او په ولاړه يې په داسي حالت کي لمونځ وکړ چي هغه ځای پاک نه وو نو ځيني مشائخ وايي چي په دغه صورت کي هغه نه کافر کيږي ځکه چي هغه داسي کول د سپکاوي په توګه نه دي کړي مګر که چيري د يو ضرورت يا حياء په وجه په داسي

صورت کي اخته سي نو هغه ته پکار دي چي په خپل قيام (ولاړه) سره هغه د لمانځه د قيام اراده ونه کړي او کله چي د هغوی سره رکوع ته ځي نو د رکوع قصد دي نه کوي او نه دي د رکوع تسبيح وايي ، په ناپاکو جامو کي په لمانځه کولو سره ځيني علماء وايي چي هغه کافر کيږي .

۱۳. يو څوک ووايي چي لمونځ فرض دی مگر رکوع او سجده فرض نه ده نو په داسي ويلو سره هغه نه کافر کيږي ځکه چي په دې کي د دغه تاويل گنجائش دی چي د لمانځه څخه د هغه مراد د جنازې لمونځ وي چي په هغه کي رکوع او سجدې فرض نه دي .

۱۴. که يو څوک د رکوع او سجدې د فرض کېدو څخه انکار وکړي نو هغه کافر کيږي ځکه چي هغه د اجماع او تواتر رد وکړی .

۱۵. يو څوک ووايي که چيري کعبه شريفه قبله نه وای او ددې پر ځای بيت المقدس قبله وای نو بيا به هم ما کعبې شريفي ته په مخ کولو سره لمونځ کولای او بيت المقدس ته به مي په مخ کولو سره لمونځ نه کولای يا داسي ووايي که فلانی قبله وای نو ما به هغه خوا ته مخ کولای يا داسي ووايي که فلاني خوا ته قبله وای نو هغه خوا ته به مي مخ نه کولای يا داسي ووايي چي قبلې دوې دي يوه کعبه او بله بيت المقدس نو په دغه ټولو صورتو کي هغه کافر کيږي .

۱٦. ابراهيم بن يوسف رحمة الله عليه ويلي دي که يو چا د ځان ښوونې لپاره لمونځ وکړ نو هغه ته ثواب نه ورکول کيږي بلکه د هغه په عمل نامه کي گناه ليکل کيږي او ځينو ويلي دي چي په دې سره کافر کيږي او ځيني وايي چي په دغه صورت کي نه گناه سته او نه ثواب سته او د هغه چا په ډول دی کوم چي لمونځ يې نه وي کړی .

۱۷. يو څوک يو کافر ته راسي او د يوه يا دوو وختو لمونځ يې و نه کړ که چيري هغه لمونځ د کافر د تعظيم په وجه پرې ايښی وي نو کافر کيږي او د قضائي لمنځو قضا ور باندي نه سته او که چيري د فسق په وجه يې لمونځ نه وي کړی نو نه کافر کيږي او هغه قضاء لمونځونه به راگرځوي .

۱۸. يو څوک په دارالاسلام کي اسلام قبول کړي او د يوې مياشتي څخه وروسته د هغه څخه د پنځه وختو د لمانځه په باره کي پوښتنه وسي او هغه په جواب کي ووايي چي ما ته معلوم نه دي چي هغه پر ما فرض دي نو په دې سره هغه کافر کيږي مگر که چيري هغه په نورو مسلمانانو کي او سيږي نو بيانه کافر کيږي .

۱۹. که یو ثوک مؤذن ته د اذان کولو پر وخت ووایي چي تا درواغ وویل نو هغه کافر کیږي.
۲۰. یو سړی د اذان په اورېدو سره د انکار په توګه ووایي چي دا څه شور او شر دی نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي او که چیري د اذان په اورېدو سره هغه داسي ووایي چي زه یې نه ادا کوم نو په داسي ویلو سره هم کافر کیږي، ځیني علماء وایي چي مطلق په دغه جواب سره نه کافر کیږي.
۲۱. که یو ثوک ووایي چي کاش د روژې میاشت نه وای نو په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی او صحیح قول دادی چي دا قول پر نیت موقوف دی که چیري هغه یې په دې نیت سره ووایي چي د رمضان حقوق هغه ادا کولای نه سي نو نه کافر کیږي.
۲۲. که یو ثوک د رمضان د میاشتي د راتلو پر وخت داسي ووایي چي درنه میاشت یا دروند مېلمه راغلی نو هغه کافر کیږي.
۲۳. کله چي د رجب میاشت راسي نو یو ثوک ووایي چي ددې څخه وروسته به په خرابۍ کي اخته سو که چیري هغه دا د محترمو میاشتو لپاره د سپکاوي په توګه ویلي وي نو کافر کیږي او که چیري پر نفس باندي د بار ظاهرولو لپاره یې ویلي وي نو بیا نه کافر کیږي.
۲۴. یو ثوک ووایي چي د رمضان میاشت دي ژر تېره سي نو ځیني علماء وایي چي په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي او ځیني وایي چي نه کافر کیږي.
۲۵. که یو ثوک ووایي چي دومره روژې په تر ثو پوري وي زما زړه په موړ سو نو د هغه داسي ویل کفر دی.
۲۶. همدارنګه یو ثوک ووایي چي الله تعالی د اطاعت لپاره عذاب جوړ کړی که چیري ددغه جملې تاویل وکړي نو نه کافر کیږي. یا داسي ووایي که الله تعالی د اطاعت فرض کړی نه وای نو زموږ لپاره به غوره وای که چیري ددغه جملې یو ثوک تاویل وکړي نو کافر کیږي.
۲۷. که یو ثوک ووایي چي لمونځ زما وړ نه دی یا حلال زما لپاره مناسب نه دي یا داسي ووایي چي لمونځ د څه لپاره وکړم ښځه او کوچنیان خو زه لرم، یا داسي ووایي چي ما لمونځ په سرتاخ کي اېښی دی نو په دغه ټولو صورتو کي کافر کیږي.

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د علم او علماؤ سره دی:

۱. که یو ثوک بېله یو ظاهري سببه د یو عالم سره بغض ولري نو په دې سره د کافر کېدو بېره ده.
۲. که یو ثوک په خپلو کي د صلح کونکي په باره کي ووایي چي دده دلیل زما لپاره داسي دی لکه د خنزیر دلیل نو د هغه د کافر هم بېره ده.

۳. همدارنګه که یو څوک بېله سببه یو عالم ته بد ووايي نو هغه هم کافر کيږي .
۴. که یو څوک ووايي چي ستا د علم په مقعد (د شا شرمګاه) کي د خره ذکر (د مخ شرمګاه) او د هغه علم څخه د هغه مراد د دين علم وي نو هغه هم کافر کيږي .
۵. یو جاهل سړی د يني علم تر لاسه کونکي ته داسي ووايي چي ته دا څه زده کوې دا ټول قصې او داستانونه دي يا داسي ووايي چي دا ټول دوکه دي يا داسي ووايي چي زه د علم د حيلې څخه منکريم نو دا ټولي جملې کفريه دي .
٦. یو سړي پر لوړ ځای کښيني او بيا خلک د هغه څخه د مسخرو په توګه مسئلې پوښتل شروع کړي او بيا هغه مسخرې کوي او ټول ور باندي خاندي نو هغوی ټول د دغه فعل په وجه کافر کيږي .
۷. یو څوک داسي ووايي چي زما د علم د مجلس سره څه کار دی ، يا داسي ووايي چي کوم څوک د دغه شيانو په ادا کولو قدرت لري ؟ کوم چي علماء وايي نو هغه کافر کيږي .
۸. که یو څوک ووايي چي په علم په کاسه کي نه سو ساتلای يعني د غه علم د خوراک په پياله کي د ساتلو وړ نه دی يا داسي ووايي چي علم څه کوم زما زر پکار دي نو په داسي ويلو سره هغه کافر کيږي .
۹. که یو څوک ووايي چي زما په خپل کورنۍ کي دومره بوخت يم چي د علم مجلس ته نه سم رسېدلای او په دې سره د هغه مقصد د علم سپکاوی وي نو د هغه د کفر بېره ده .
۱۰. یو فقيه عالم د علم تذکره کوي يا يو صحيح حديث يې بيان کړي او يو بل چا په اورېدو سره ووايي چي دا هيڅ نه دي او هغه يې رد کړ ، يا داسي ووايي چي دا خبره څه پکار راځي موږ ته خو روپۍ پکار دي نن سبا د روپو عظمت دی علم په څه کار راځي نو دا کفر دی .
۱۱. که یو څوک ووايي چي تر پوهي غوره فساد کول دي نو دا کفر دی .
۱۲. یو ښځه چي د هغې خاوند عالم وي داسي ووايي چي پر عالم خاوند دي لعنت وي نو هغه کافره کيږي .
۱۳. که یو څوک ووايي چي د عالمانو فعل د کافرانو په ډول دی نو په داسي ويلو سره هغه وخت کافر کيږي .
۱۴. د يو چا د يو عالم سره پر يو خبره جګړه سوه او هغه عالم هغه ته شرعي وجه بيان کړه نو د دې په اورېدو سره هغه سړی ووايي چي دا د عالمانو چم مه کوه دلته هيڅ نه چليږي نو د داسي سړي د کفر بېره ده .

۱۵.كه يو څوک يو عالم ته ووايي چې اې پوهه! يا اې علويک!، نو په داسې ويلو سره هغه نه کافر کيږي كه چيري د هغه نيت د دين سپکاوی نه وي.

۱٦.يوه واقعه نقل سوې ده چې يو عالم خپل يو كتاب د يو دوكاندار په دوكان كي كښېښودی او په يو كار پسي ولاړی، بيا كله چې هغه دعالم د دوكان سره تېرېدی نو دوكاندار هغه ته ووايل چي ستا څخه اره هېره سوه، عالم ورته وويل ستا په دوكان كي زما كتاب دی اره نه سته ، دوكاندار ورته وويل نجار په اره سره لرګي پرې كوي او ته په كتاب سره د خلكو غاړي پرې كوي ، عالم و شيخ امام ابوبكر بن فضل رحمه الله ته ددغه واقعې شكايت وكړ نو د هغه سړي د قتل حكم يې وكړ.

۱۷.يو سړی خپل ښځي ته په غصه سو او ورته يې وويل چي ته د خدای جل جلاله اطاعت كوه او د ګناه څخه يې منع كړه ، ښځي په جواب كي وويل چي زه الله جل جلاله او علم څه پېژنم ما خپل ځان په دوږخ كي اچولی دی نو هغه په دې سره كافره سوه.

۱۸.يو چا ته وويل سي چي د علم زده كونكی د ملائكو پر وزرو ځي ، هغه وويل دا درواغ دي نو هغه كافر كيږي.

۱۹. كه يو څوک ووايي چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله قياس صحيح نه دی نو هغه كافر كيږي ځكه چي هغه مطلق د قياس د صحت څخه انكار وكړ.

۲۰. كه يو څوک خپل دښمن ته ووايي چي زما سره شريعت ته ولاړ سه او هغه ورته ووايي چي يو عسكر راوله نو زه به در سره ولاړ سم بېله زوره نه سم تللای نو په داسي ويلو سره هغه كافر كيږي ځكه چي هغه د شريعت مقابله وكړه ، او كه چيري هغه داسي ووايي چي زما سره قاضي ته ولاړ سه او هغه په جواب كي داسي ورته ووايي نو نه كافر كيږي ، او كه چيري هغه داسي ووايي چي زما سره به‌شريعت او حيله ګټور نه وي يا داسي ووايي چي زما لپاره د خرما حلوا ده شريعت څه كوم نو دا ټول صورتونه د كفر دي، او كه چيري داسي ووايي چي كله تا زر اخيستل نو هغه وخت شريعت او قاضي چيري وو نو په داسي ويلو سره هم هغه كافر كيږي ، په متاخرينو كي علماؤ كي ځيني وايي كه چيري هغه د قاضي څخه د ښار قاضي مراد اخيستی وي نو نه كافر كيږي.

۲۱. يو چا ته وويل سي چي په دې باره كي د شريعت حكم دادی او هغه په جواب كي ووايي چي زه په رواج باندي عمل كوم په شريعت باندي عمل نه كوم نو په دې ويلو سره د ځينو په نزد كافر كيږي.

۲۲. یو سړی خپل ښځي ته ووايي چي ته څه وايې او د شريعت حکم څه دی او ښځي په لوړ آواز سره ورته وويل چي اينک شرع را نو هغه کافره کيږي او د هغې نکاح ماتيږي .
۲۳. يو څوک د خپل مخالف په وړاندي د امامانو فتوا وړاندي کړي او هغه فتوا رد کړي او ووايي چي دا د فتوا انبار تا ولي راوړی دی ، ځينو ويلي دي چي هغه کافر کيږي ځکه چي هغه د شريعت حکم رد کړ . همدارنګه که چيري هغه د فتوا په باره کي هيڅ ونه وايي مګر په اخيستلو سره يې پر مځکه وغورځول او دا يې وويل چي دا څه شريعت دی نو په داسي کولو سره هم هغه کافر کيږي .
۲۴. يو سړی د يو عالم څخه د خپل ښځي په باره کي د طلاق مسئله وپوښتي او هغه په جواب کي ورته ووايي چي ستا ښځه طلاقه سوه ، پوښتنه کونکی ورته ووايي چي زه طلاق نه پيژنم نو د هغه په داسي ويلو سره هغه کافر کيږي .
۲۵. د دوو کسانو په مينځ کي جګړه وسوه او په هغو کي يوه دوهم ته د علماؤ فتوا راوړه مګر هغه وويل چي داسي نه ده لکه څرنګه چي فتوا سوې ده يا داسي ووايي چي زه په دې عمل نه کوم نو هغه ته به د سزا په توګه سزا ورکول کيږي .

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د حلال، فاسق، فاجر او نورو خبرو سره دی :

۱. څوک چي د حلال د حرام کېدو يا د حرام د حلال کېدو عقيده ولري نو هغه کافر کيږي مګر که يو څوک حرام ته حلال له دې کبله ووايي چي دا رواج سي يا د جهالت په وجه داسي ووايي نو هغه کافر نه دی مګر دا هغه په صورت کي دی چي هغه حرام حرام بعينه وي او د هغه د حلال کېدو يقين ولري نو بيا کافر دی او که چيري حرام حرام لغيره وي او هغه ته حلال ووايي نو نه کافر کيږي مګر د هغه حرام بعينه په حلال ګڼلو کي به کافر وي کله چي د هغه بعينه حرمت په دليل قطعي سره ثابت دي مګر که چيري د حرام بعينه حرمت د خبر احاد په ذريعه ثابت وي نو د هغه د حلال کېدو په عقيده کي به کافر نه وي .
۲. يو چا ته وويل سي چي يو حلال دي زيات خوښ دی که دوه حرامه او هغه ووايي چي دواړه نو په دې باره کي د کفر ببره ده .
۳. همدارنګه هغه وخت د کفر ببره ده چي کله داسي ووايي چي موږ ته مال پکار دی که هغه حلال وي که حرام وي . او که چيري داسي ووايي چي تر څو پوري زه حرام پيدا کوم حلال نه خورم نو په داسي ويلو سره نه کافر کيږي .

۴. که یو سړی حرام مال یو فقیر ته د ثواب په نیت ورکړي او د ثواب امید ولري نو هغه کافر کیږي ، که چیرې فقیر ته دا معلومه وي چي دا مال حرام دی او ددې سربېره هغه مال واخلي او ورکونکي ته دعاء وکړي او هغه ورکونکی آمین ووایي نو هغه کافر کیږي .

۵. یو سړی ته وویل سي چي حلال مال خوره ، هغه ووایي چي زما حرام مال خوښ دی نو هغه کافر کیږي ، او که چیرې ددې په جواب کي داسي ووایي چي په دغه دنیا کي یو حلال خوړونکی پیدا کړه چي زه سجده ورته وکړم نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

٦. د یو فاسق زوی شراب وڅښي نو بیا د هغه قریبان راسي او پر هغه روپۍ وپاشي نو هغوی ټول کافران سول او که چیرې داسي ورته ووایي چي مبارک دي سه نو په دې سره هم کافر کیږي .

۷. که یو څوک ووایي چي د شرابو حرمت د قرآن کریم څخه ثابت نه دی نو هغه کافر کیږي .

۸. یو چا شراب څښونکي ته وویل چي چي د قرآن کریم څخه د شرابو حرمت ثابت دی نو ته ولي شراب څښې توبه ولي نه کوې نو شراب څښونکي په جواب کي وویل چي ایا د مور د شېدو څخه هم صبر کیدای سي نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي په دې وجه چي یا خو دا استفهام دی یا په شرابو او شیدو کي برابروالی ظاهرول دي .

۹. که یو څوک د حیض په حالت کي د خپل ښځي سره جماع (کوروالي) کول حلال وګڼي نو هغه کافر کیږي .

۱۰. که یو څوک د خپل ښځي سره لواطت کول جائز وګڼي نو هغه هم کافر کیږي ، په نوارد کي د امام محمد رحمة الله علیه څخه روایت دی چي په دغه دواړو صورتو کي نه کافر کیږي او دا صحیح ګرځول سوي دي .

۱۱. یو سړي شراب وڅښل او بیا یې وویل کوم څوک چي زموږ سره په دغه کیف کي شریک دي اصل خوشحالي د هغه ده او کوم څوک چي زموږ سره په دغه کیف کي ناراضه دی نو هغه په تاوان کي دی نو هغه کافر سو . همدارنګه که چیرې هغه په شراب څښلو کي بوخت وي نو هغه ووایي چي مسلمان کېدل ښکاره کوم یا مسلمان کېدل ظاهرېږي نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

۱۲. که یو بدکار او شرابي داسي ووایي که د شرابو یو څاڅکی ولویږي نو جبرائیل علیه السلام به یې په خپلو پښو سره راپورته کړي نو په دې سره هغه کافر کیږي .

۱۳.یو فاسق ته یو چا وویل چي ته هره ورځ داسي سهار کوې چي الله تعالی او مخلوق ته تکلیف ورکوې هغه ووايي چي ښه کوم نو هغه کافر کیږي.

۱۴.کوم څوک د حرام خوراک خوړولو پر وخت بسم الله ووايي نو امام مشتملي رحمة الله علیه وايي چي هغه کافر کیږي او همدارنګه که چیري هغه د حرام خوراک څخه د فارغه کېدو وروسته الحمدلله ووايي نو د ځینو متاخرینو رایه داده چي په دغه صورت کي هغه نه کافر کیږي.

۱۵.یو سړی د شرابو پیاله پورته کړي او په بسم الله ویلو سره یې وڅښني نو هغه په اتفاق سره کافر سو همدارنګه هغه سړی هم کافر کیږي چي د زنا کولو پر وخت بسم الله ووايي یا د خمار کولو پر وخت بسم الله ووايي.

۱٦.دوه کسان جګړه سره وکړي او په هغوی کي یو ووايي چي لا حول ولاقوة الا باالله، او بل سړی ووايي چي زه لاحول څه په وکړم یا په لاحول سره لوږه نه ختمیږي یا داسي ووايي چي لاحول د ډوډۍ ځای نه سي نیولای نو په دغه ټولو صورتو کي هغه کافر کیږي.

۱۷.همدارنګه که یو سړی سبحان الله ووايي او بل سړی هغه ته ووايي چي تا د سبحان الله نور ختم کړ یا داسي ووايي چي تا د هغه پوست وکښی نو هغه کافر کیږي.

۱۸.که یو چا ته وویل سي چي لااله الاالله ووایه او هغه ووايي چي زه یې نه وایم ځیني مشائخ وايي چي دا کفر دی او ځینو ویلي دي که چیري د هغه مراد دا وي چي ستا په حکم سره یې نه وایم نو نه کافر کیږي او ځینو ویلي دي چي مطلقا کافر کیږي او که چیري په جواب کي هغه ووايي چي تا د کلمې په ویلو سره څه تر لاسه کړي دي چي زه یې هم ووایم نو کافر کیږي.

۱۹.یو پاچا ته ترچې راغلی او د هغه پر ترچي باندي یو څوک ووايي چي یرحمک الله، بل سړی یرحمک الله ویونکي ته ووايي چي د پاچا لپاره داسي مه وایه نو داسي ویونکی کافر کیږي.

د کفر هغه موجبات چي د هغو تعلق د قیامت د ورځي او د قیامت سره متعلق شیانو سره دی:

۱. که یو څوک د جنت، دوږخ، مېزان، پل صراط او عمل نامې څخه انکار وکړي نو هغه کافر کیږي.

۲. همدارنګه که یو څوک د مرګ څخه وروسته د بیا ژوندي کېدو څخه انکار وکړي نو هغه هم کافر دی.

۳. که یو څوک ووایي چي زه نه پوهیږم چي یهود او نصارا په قیامت کي کله راپاڅي نو هغوی به د اور په عذاب کي اخته کړل سي که یا نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي.

۴. که یو څوک په جنت کي د داخلېدو څخه وروسته د الله تعالی د دېدار څخه انکار وکړي نو هغه هم کافر کیږي یا د مرګ څخه وروسته د قبر د عذاب څخه انکار وکړي یا د انسان د حشر او نشر څخه انکار وکړي مګر د انسان څخه پرته د نور مخلوق د حشر څخه انکار کونکی نه کافر کیږي همدارنګه هغه څوک هم نه کافر کیږي کوم چي داسي ووایي چي د عذاب او ثواب تعلق یوازي د روح سره خاص دی.

۵. یو څوک بل چا ته ووایي چي ګناه مه کوه ځکه چي یو بله ورځ هم سته، او هغه په جواب کي ووایي چي د هغه دنیا چا ته خبر دی نو هغه کافر کیږي.

٦. د یو سړي د یو چا پر ذمه پور وي او هغه ته ووایي که زما پور دلته نه راکوې نو په قیامت کي به یې در څخه اخلم، هغه سړی په جواب کي ووایي چي هو قیامت به راځي، که چیري هغه دغه الفاظ د قیامت د توهین په اراده وویل نو هغه کافر کیږي.

۷. یو سړی پر یو چا باندي ظلم وکړي او مظلوم ووایي چي د قیامت ورځ راتلونکې ده د هغه ورځي څخه وېرېږه، ظالم په جواب کي ووایي چي فلانی خر به په قیامت کي وي نو په دې سره هغه کافر کیږي.

۸. یو سړی خپل پوروړي ته ووایي چي زما پور په دنیا کي راکړه په قیامت کي به روپۍ نه وي او هغه ورته ووایي چي ښه دی لس روپۍ نوري راکړه او هغه په دنیا کي زما څخه مه اخله نو په دې سره هغه کافر کیږي.

۹. که یو څوک ووایي چي زما د حشر سره څه کر دی یا داسي ووایي چي زه د قیامت څخه نه بېرېږم نو هغه کافر کیږي.

۱۰. یو څوک خپل دښمن ته ووایي چي زه به خپل حق ستا څخه په قیامت کي اخلم او هغه ورته ووایي چي په هغه ورځ به په رش کي ما چیري پیدا کړې، د مشائخو د هغه په کفر کي اختلاف دی، فقیه ابو اللیث رحمه الله وایي چي په دې سره هغه نه کافر کیږي.

۱۱. یو څوک ووایي چي په دغه دنیا کي ښه او سېدل پکار دي په هغه دنیا کي چي څه وي هغه به وي نو په دې سره هغه کافر کیږي.

۱۲. یو چا ته وویل سي چي ته د آخرت په وجه د دنیا څخه تېښته کوه او هغه ورته ووایي چي د نقد په پرېښودو سره پر پور باندي څوک باور کوي نو هغه کافر کیږي.

۱۳. یو څوک ووایي چې څوک په دغه دنیا کي بې عقله وي هغه به په هغه دنیا کي کي د هغه سړي په ډول وي چې د هغه کڅوړه ښیري وي یعني بېکاره وي ، امام ابوبکر محمد بن الفضل رحمة الله علیه وایي که چیري په دې سره د هغه مقصد مسخرې او طنز وي نو دا د کفر سبب دی .

۱۴. که یو څوک ووایي چې زه په ستا سره دوږخ ته ځم مګر د ننه نه سم تللای نو هغه کافر کیږي.

۱۵. که یو څوک ووایي چې تر څو پوري ته د رضوان جنت لپاره یو شی نه یو سې نو تر هغه وخته به د جنت دروازه در ته خلاصه نه سي نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي .

۱٦. یو څوک د نیکۍ حکم کونکي ته ووایي چې دا څه شور مو جوړ کړی دی ، که چیري دغه جمله یې د انکار او رد په توګه ویلې وي نو د هغه د کافر کېدو بېره ده .

۱۷. یو څوک یو سړي ته ووایي چې د فلاني سړي کور ته په ورتلو سره د نیکۍ حکم ورکړه ، هغه په جواب کي ووایي چې هغه زما سره څه کړي دي یا زما هغه ته د تکلیف ورکولو څه وجه ده یا داسي ووایي چې زه ځیني جلا یم د دغه پالتو کار سره مي څه تعلق دی نو دا ټول کفریه الفاظ دی .

۱۸. یو څوک د یو سړي سره د تعزیت کولو په وخت کي ووایي څه چې د هغه د ځان څخه نه کم سوه هغه پر تا زیاتي و سول نو په دې سره هم د کفر بېره ده یا داسي ووایي چې پر تا باندي زیاتوب سوی دی نو دا جهالت او غلطي ده ، یا داسي ووایي چې د فلاني په کمېدو سره ستا پر ځان راغلل نو دا هم د جهالت دی او که چیري داسي ووایي چې هغه مړ سو مګر خپل ځان یې تا ته وسپاری نو هغه کافر کیږي .

۱۹. یو سړی ناروغ وي او بیا ښه سي ، بل سړی هغه ته ووایي چې فلانی خر یې بیا را واستوی نو دا هم کفر دی .

۲۰. یو سړی ناروغ سي او د هغه ناروغي زیاته او اوږده سي ، ناروغ په ستومانه کېدو سره الله جل جلاله ته ووایي چې یا د اسلام په حالت کي مرګ راکړې یا د کفر په حالت کي نو دا هم د کفر سبب دی .

۲۱. یو سړی په ډول ډول مصیبتو کي اخته سو او په دې سره د بېرېدو سره هغه وویل اې الله ! تا زما مال هم واخیستی ، زما اولاد دي هم واخیستی او داسي داسي دي وکړل نو زما سره دا څه کوې او ته زما څخه څه غواړې یا داسي نور جملې ووایي نو هغه کافر کیږي .

د کفر هغه موجبات چې د هغو تعلق د تلقين، کفر او ارتداد سره دی :

١. کله چي يو سړی يو چا ته د کفر د کلمې تلقين وکړي نو هغه کافر کيږي که څه هم د مسخرو په توګه وي ·

٢. که يو څوک د يو چا ښځي ته ووايي چي مرتده سه او په داسي کولو سره د خپل خاوند څخه جلاوالی اختيار کړه ، د امام اعظم ابوحنيفة او امام ابويوسف رحمة الله عليهما څخه روايت دي که يو څوک يو چا ته حکم وکړي چي کافر سه نو حکم ورکونکی کافر کيږي که څه هم هغه کافر سي يا نه سي ، امام ابوالليث رحمه الله وايي کله چي يو سړی يو چا ته د کفر د کلمې تعليم ورکوي نو هغه کافر کيږي همدارنګه که يو سړی يا ښځي ته د مرتد کېدو حکم ورکړي نو هغه هم کافر کيږي ·

٣. امام محمد رحمه الله وايي که يو سړی مجبور کړل سي چي د کفر کلمه په ژبه ووايي کنه نو د هغه سره به داسي وکړل سي يعني د ځان يا د يو اندام د ضائع کېدو خبر ورکړي او هغه د بيري څخه د کفر کلمه په ژبه سره ووايي نو اوس دد ې څو صورتونه دي که چيري هغه د کفر کلمه په ژبه داسي کړي چي د هغه زړه پر ايمان مطمئن وي او په زړه کي يې د کفر خواهش نه وي بلکه يوازي په ژبه سره د کفر کلمه ادا سوې وي نو په دغه صورت کي به هغه نه کافر کيږي او که چيري په ژبه سره د کفر کلمه ويونکی ووايي چي ما دا فکر کړی وو چي په خپل باره کي د پخوانۍ زمانې د کفر د درواغ خبرو کولو سره به خلاصون تر لاسه کړم ما د راتلونکي کفر اراده نه وه کړې نو په دغه صورت کي د قانون په توګه د هغه د کفر فيصله ورکول کيدای او قاضي به د هغه او د هغه د ښځي په مينځ کي جلاوالی راولي او که چيري هغه ووايي چي د کفر کلمې ويلو پر وخت زما په زړه کي دا خبره وي چي په تېره زمانه کي د کفر درواغ خبر ورکړم مګر په پخوانۍ زمانه کي د درواغ کفر زما اراده نه وه کړې بلکه په راتلونکي کي مي اراده وکړه نو په دغه صورت کي به د خدای جل جلاله په نزد هم کافر کيږي او د دنيا په حکم کي به هم کافر کيږي ·

٤. يو سړی مجبور کړل سي چي هغه صليب ته په مخ کولو سره لمونځ وکړي نو دد ې درې صورتونه دي ١ : که چيري هغه دا ووايي چي د زور په وجه مي صليب ته لمونځ کړی دی مګر په زړه کي مي دد غه عقيدې وهم هم نه دی تېر سوی نو هغه نه کافر کيږي نه د قضا په توګه او د الله جل جلاله په نزد ، ٢ : که چيري هغه ووايي چي زما په زړه کي دا خبره تېره سوه چي د الله تعالی لپاره لمونځ کوم د صليب لپاره يې نه کوم نو په دغه صورت کي هم هغه نه کافر

کیږي ، ۳: که چیري هغه ووایي چي زما په زړه کي دا خبره وه چي زه د الله تعالی لپاره لمونځ وکړم مگر ما هغه پرېښودل او د صلیب لپاره مي لمونځ وکړ نو په دغه صورت کي به هغه د قضاء په توگه هم کافر وي او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد به هم کافر وي .

۵. یو مسلمان ته وویل سي چي پاچا ته سجده وکړه کنه نو قتل به سې ، نو غوره دادي چي سجده ونه کړي .

٦. که یو سړی د کفر کلمه په قصد سره د ژبي څخه وباسي مگر د کفر عقیده یې پیدا نه سوه نو ځیني خلک وایي چي هغه نه کافر کیږي او ځیني خلک وایي چي هغه کافر کیږي او دا صحیح قول دی .

۷. یو سړی د کفر کلمه په ژبه سره ادا کړي مگر هغه ته دا معلومه نه ده چي دا د کفر کلمه ده مگر هغه دا په خپل اختیار سره ویلې وي نو د ټولو علماؤ په نزد هغه کافر کیږي او د جهالت عذر نه منل کیږي او ځیني وایي چي هغه نه کافر کیږي .

۸. مسخرې کونکی چي د کفر کلمه د سپکاوي په توگه ووایي نو هغه د ټولو په نزد کافر کیږي که څه هم د هغه عقیده د هغه پر خلاف وي .

۹. د یو سړي د ژبي څخه د کفر کلمه په غلطۍ سره جاري سوه په داسي توگه چي هغه بل څه ویل غوښتل مگر د کفر کلمه یې پر ژبه راغلل نو هغه نه کافر کیږي .

۱۰. د مجوسیانو د خولۍ پر سر کولو سره مسلمان کافر کیږي البته د گرمۍ یا یخ څخه د ساتني لپاره که داسي وکړي نو نه کافر کیږي .

۱۱. د زنار په اغوستلو سره مسلمان کافر کیږي مگر په جگړه کي د جاسوسۍ لپاره که داسي وکړي نو نه کافر کیږي .

۱۲. یو څوک ووایي چي ته څه کوې تر دې غوره کفر کونکی دی که په دې سره د هغه نیت د کفر ښه گڼل وي نو هغه کافر کیږي او ځیني علماء لکه فقیه ابو اللیث رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وایي چي یو ازي په دغه جملې سره سړی کافر کیږي که څه هم د هغه نیت هر څه وي ،

۱۳. مجوسیان چي د نوروز په ورځ څه کوي که یو مسلمان د هغه په موافقت کي د هغه سره ولاړ سي نو کافر کیږي همدارنگه که هغه د نوروز په ورځ داسي یو شی راواخلي چي مخکي یې نه رانیوی او دغه رانیول د نوروز د تعظیم لپاره وي نو کافر کیږي . د خوراک ، څښناک او د ژوند د اړتیاوو د یو شي په رانیولو سره نه کافر کیږي ، په دغه ورځ که یو مسلمان مشرکانو ته د دغه ورځي د تعظیم لپاره یو تحفه واستوي که څه هم هغه معمولي شی وي نو

هغه کافر کیږي مګر که چیري د هغوی د کوچنیانو په سرخریلو کي د دعوت قبول کړي نو په دې سره نه کافر کیږي.

۱۴. د کفارو خبري او معاملې ښه ګڼونکی کافر کیږي د مثال په توګه داسي ووايي چي د خوراک پر وخت د مجوسیانو مذهب غوره دی چي هغه وخت خبري نه کوي یا د مجوسیانو په نزد دا ښه دي چي د حیض په حالت کي د ښځي سره ناسته او ولاړه هم ونه کړل سي په دې ویلو سره سړی کافر کیږي.

۱۵. که د یو چا د عزت په وجه د هغه د جامو اغوستلو پر وخت ذبح وکړي نو هغه کافر کیږي او دا ذبیحه مرداره ده او د هغه خوړل جائز نه دي همداړنګه د غیر الله د عظمت د اظهار لپاره د یو حیوان ذبح کول یا د غازیانو او حاجیانو د راتللو پر وخت د هغوی د عظمت لپاره داسي کول د کفر سبب دی.

۱٦. کوم حیوان چي د یو پیر یا پیري په نامه پرېښودل سي او په نوم ورکولو سره هغه ته شهرت ورکړل سي لکه څرنګه چي جاهل او بې عقیدې خلک یو حیوان پرېږدي او وایي چي دا پسه د شیخ سدو په نامه دی یا دغه غوا د احمد کبیر ده یا دا چرګ د فلاني صاحب دی یا د غیر الله د نامه د عظمت او تقرب لپاره داسي وکړي نو دا ټول د کفر خبري دي.

۱۷. همداړنګه د بزرګانو پر قبر یا د دریاب پر غاړه د حیوان ذبح کول او د یو پیري نذر ورکول دا ټول داسي کارونه دي چي د هغه په وجه سړی کافر کیږي او داسي ذبیحه د مردار په حکم کي ده چي د هغه خوړل صحیح نه دي په داسي صورت کي د ځاروي د ذبح کولو پر وخت که بسم الله ووایي یا نه یې ووایي په دواړو صورتو کي هغه حرام دي ځکه چي د غیر الله په نامه ذبح سوی دی نو د بسم الله په ویلو سره هیڅ ګټه نه تر لاسه کیږي، همداړنګه الاشباه والنظائر په تنوین الابصار، درمختار، منح الغفار، فتاوی عالمګیري او مطالب المؤمنین کي ذکر سوي دي. په ځینو کتابو کي دا هم صراحت سوی دی چي د غیر الله په نامه د پرېښودل سوي حیوان ذبح کونکی هم کافر دی او دا ذبیحه حرامه ده، په علماؤ کي ابوحمص کبیر ابودفاق، عبدالله کاتب، عبدالواحد، ابوالحسن نووي او داسي نورو مشهورو علماؤ دا لیکلي دي او دې ته یې صحیح ویلي دي، په تفسیر نیشاپوري کي لیکلي دي چي د ټولو علماؤ پر دغه مسئله اتفاق دی چي کوم مسلمان یو ځاروی د الله تعالی څخه پرته د بل د تقرب او تعظیم لپاره ذبح کړي نو هغه مرتد دی او د هغه د ذبح سوي ځاروي هغه حکم دی کوم چي د یو مرتد د ذبح سوي ځاروي حکم دی، په صحیح

حديث کي راغلي دي چي هغه سړی ملعون دی کوم چي د غير الله د تعظيم لپاره څاروی ذبح کړي لکه څرنګه چي د حديث په مشهور کتاب مشکوة شريف کي دي او شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمة الله عليه په خپل کتاب تفسير عزيزي کي ددغه آيت کريمه (وما اهل لغير الله) کي ليکلي دي چي هغه څاروي چي د غير الله په نامه سره شهرت ورکړل سوی دی هغه د خنزير څخه هم بد دی او مردار دی ، کوم کسان چي په دې باره کي نور تفصيل کتل غواړي نو هغوی دي تفسير عزيزي مطالعه کړي انشاء الله تعالی د هغه په مطالعه سره به دا مسئله واضحه سي.

۱۸. يو ښځه پر خپل ملا باندي د رسۍ په تړلو سره ووايي چي دا زنار دی نو هغه کافره سوه.

۱۹. يو سړی داسي ووايي چي د خيانت کولو څخه کفر غوره دی نو اکثر علماء وايي چي په داسي ويلو سره هغه کافر سو او پر دې باندي د ابو القاسم صغار فتوا ده.

۲۰. يو سړي يو ښځه ووهل او هغه ښځي ورته وويل چي ته مسلمان نه يې، سړي ددې په اوريدو سره وويل چي هو زه مسلمان نه يم نو د هغه په داسي ويلو سره هغه کافر کيږي.

۲۱. يو سړي ته وويل سي چي ايا ته مسلمان نه يې ؟ هغه ووايي چي يا نو دا هم کفر دی.

۲۲. يو ښځه خپل خاوند ته ووايي چي په تا کي ديني حميت او اسلامي غيرت نه سته ته دا خوښوې چي زه د پردي خلکو سره خلوت وکړم ، خاوند په جواب کي ووايي چي هو په ما کي ديني حميت او اسلامي غيرت نه سته نو په داسي ويلو سره هغه کافر کيږي.

۲۳. يو سړي خپل ښځي ته داسي ووايي چي اې يهوديې! يا اې مجوسيې! يا اې کافرې!، ښځه ددې په اوريدو سره ووايي چي زه هم داسي يم يا هغه ووايي چي داسي يم نو ته ما ته طلاق راکړه يا داسي ووايي که داسي نه وي نو ستا سره به څرنګه اوسيږم ، يا داسي ووايي که داسي نه وي نو ستا سره به مي مينه نه کولای، يا تا به زه نه ساتلای، نو په داسي ويلو هغه ښځه کافره کيږي او که چيري ددې په جواب کي هغه ووايي که زه داسي يم نو ما مه ساته نو په دې سره هغه نه کافره کيږي.

۲۴. که چيري يو ښځه خپل خاوند ته ووايي چي اې کافره! اي يهودي! او خاوند د هغه په جواب کي ووايي چي زه داسي يم يا داسي ووايي که داسي نه وي نو ته به مي نه ساتلای نو هغه په داسي ويلو سره کافر سو او که چيري هغه ووايي چي زه داسي يم نو ته زما سره مه اوسه نو په دغه صورت کي هغه نه کافر کيږي.

۲۵.که یو څوک پردي سړي ته ووایي چې اې کافره!، یا اې یهودي! او هغه ووایي چې زه همداسي یم زما سره ته مه اوسیږه، یا هغه داسي ووایي که داسي نه وي نو ستا سره به نه اوسیدلای یا داسي یو بله جمله ووایي نو هغه کافر کیږي.
۲٦.یو سړي د یو کار اراده وکړه او د هغه ښځي ورته وویل که ته دا کار وکړې نو کافر به سې خاوند هغه کار وکړ او د ښځي خبري ته یې توجه ونه کړه نو هغه خاوند نه کافر کیږي.
۲۷.که یو پردی سړي یو مسلمان ته ووایي چې اې کافره ! یا پردۍ ښځي ته ووایي چې اې کافري! او مخاطب سړی او ښځه په جواب کي هیڅ ونه وایي یا یو خاوند خپل ښځي ته ووایي چې اې کافري! او ښځي په جواب کي هیڅ ونه ویل یا ښځي خپل خاوند ته وویل چې اې کافره! خاوند هیڅ جواب ور نه کړي نو په دغه صورت کي د ابوبکر اعمش بلخي رحمة الله علیه قول دی چې ویونکی کافر دی او نور د بلخ علماء وایي چې هغه نه کافر کیږي او صحیح جواب دادی که د ویونکي اراده یوازي بد ویل وي نو هغه نه کافر کیږي او که هغه دا عقیده هم ولري چې دا مسلمان کافر دی او بیا هغه ته په کافر سره ووایي نو هغه ددې په وجه کافر کیږي.
۲۸.که یو ښځه خپل زوی ته ووایي چې کافر زویه! نو دا د کفر سبب نه دی او ځینو ویلي دي چې دا کفر دی همدارنګه یو سړی خپل زوی ته ووایي چې اې کافره! نو هغه هم نه کافر کیږي او که یو څوک خپل حیوان ته ووایي چې اې کافره! نو په دې سره هم نه کافر کیږي.
۲۹.که یو څوک یو مسلمان ته ووایي چې اې کافره! ، یا اې یهودي، یا اې مجوسي! او هغه مسلمان په جواب کي لبیک ووایي نو هغه کافر کیږي او که داسي ووایي چې زه بېرېدم چې کافر نه سم نو په دې سره نه کافر کیږي،
۳۰.که یو څوک یو چا ته ووایي چې زه تا دومره په تکلیف کړم چې زما زړه وغوښتل چې کافر سم نو هغه کافر کیږي.
۳۱.که یو څوک ووایي چې دا زمانه د مسلمان پاته کېدو نه ده بلکه دا زمانه د کافر کېدو ده، نو ځینو ویلي دي چې په دې سره کافر کیږي او صاحب محیط لیکلي دي چې زما په نزد صحیح دادی چې نه کافر کیږي.
۳۲.یو مجوسي او یو مسلمان په یوه ځای کي وي، یو سړی مجوسي ته اواز وکړي چې اې مجوسي! اوس که چیري مسلمان په دې ګنلو سره جواب ورکړي چې ما ته وایې نو هغه نه کافر کیږي په شرط ددې چې هغه دواړه د بلونکي په یو کار کي بوخت وي او که چیري

دواړه په یوه کار کي بوخت نه وي بلکه دواړه په جلا جلا کارو کي بوخت وي نو پر هغه باندي د کفر بېره ده.

٣٣. که یو مسلمان ووایي چي زه ملحد یم نو هغه کافر کیږي او که چیري داسي ووایي چي ما ته معلومه نه ده چي په دغه جملې سره سړی کافر کیږي نو هغه به ددې په وجه معذور نه ګڼل کیږي.

٣۴. یو سړی یو جمله په خوله سره ووایي چي خلکو هغه د کفر کلمه وګڼل حالانکه په حقیقت کي هغه د کفر کلمه نه وه مګر هغه ته خلکو وویل چي ته کافر سوې او ستا او ستا د ښځي په مینځ کي به جلاوالی واقع کیږي او ددې په جواب کي که چیري هغه ووایي چي کافر شده ګیر وزن طلاق شده ګیر، نو کافر کیږي او د هغه او د هغه د ښځي په مینځ کي جلاوالی واقع کیږي.

٣۵. که یو سړی ووایي چي زه فرعون یم، یا داسي ووایي چي زه ابلیس یم نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي.

٣٦. یو سړی یو بدکاره سړي ته نصیحت کوي او د توبې ترغیب ورکوي مګر هغه په جواب کي ووایي چي (از پس این همه کلاه مغان بر سر نهم) نو په داسي ویلو سره هغه کافر کیږي.

٣٧. یوه ښځه خپل خاوند ته ووایي چي ستا سره او سیدل تر کافر کېدو غوره دي نو هغه کافره سوه.

٣٨. یوه ښځه ووایي که چیري زه دا کار وکړم نو کافره به یم، ابوبکر محمد بن الفضل رحمة الله علیه وایي چي په داسي ویلو سره هغه کافره کیږي او د هغې نکاح ماته سوه، د قاضي علي السعدي رحمة الله علیه وینا ده چي دا جمله تعلیق او یمین دی کفر نه دی.

٣٩. یوه ښځه خپل خاوند ته ووایي ته به ددې وروسته پر ما ظلم کوې یا داسي ووایي چي که ته ما فلانی شي نه راوړې نو زه به کافره سم نو هغه سمدستي په داسي ویلو سره کافره سوه.

۴٠. یو سړی د مثال په توګه ووایي چي زه مجوسي وم مګر مسلمان سوم او دا د حکایت په توګه ووایي د عقیدې په توګه یې ونه وایي نو په دې سره هغه نه کافر کیږي.

۴١. یو سړی یو مسلمان ته ووایي چي الله تعالی دي ستا څخه ایمان واخلي او هغه په جواب کي ووایي چي آمین نو هغوی دواړه کافران کیږي.

۴۲.یو سړي یو چا ته تکلیف ورکړ او هغه ورته وویل چي ما ته تکلیف مه راکوه زه مسلمان یم ، تکلیف ورکونکي ورته وویل که مسلمان یې که کافر ، نو تکلیف ورکونکی کافر کیږي ،
یا داسي ووایي که ته کافر سې نو زما څه تاوان دی نو په داسي ویلو سره هم کافر کیږي .

۴۳.یو کافر اسلام قبول کړی او خلکو هغه تحفې ورکړې ، یو مسلمان د هغه په لیدو سره وویل چي کاشکي زه هم کافر وای او بیا مسلمان سوی وای نو خلکو به ما ته هم تحفې راکړي وای ، یا هغه دا خبره په ژبه ونه کړه مګر په زړه کي یې دا خواهش وکړ نو هغه کافر سو .

۴۴. یو سړی خواهش وکړ چي کاش شراب حرام نه وای نو په دې سره نه کافر کیږي .

۴۵. که یو سړی خواهش وکړي چي کاش الله تعالی ظلم او زنا کول حرام کړي نه وای یا ناحقه قتل یې حرام کړی نه وای نو هغه کافر کیږي ځکه چي دا دواړه هغه شیان دي چي هیڅکله حلال نه وه یعني په اول صورت کي د داسي شي خواهش وو چي محال نه دی او په دوهم صورت کي یې د داسي شي خواهش وکړ چي محال دی .

۴۶. همدارنګه یو څوک خواهش وکړي چي کاش د ورور او خور په مینځ کي نکاح حرامه نه وای نو په دې سره هغه کافر کیږي ځکه چي دا په شروع کي حلال وو نو محال ورته نه سي ویل کیدای ، خلاصه دا چي کوم شی یو وخت حلال وي او وروسته حرام سوی وي نو د هغه د حلال کېدو خواهش کول د کفر سبب نه دی.

۴۷. یو مسلمان د یو ښکلي عیسائي ښځي په لیدو سره خواهش وکړي چي کاش زه عیسائي وای او د هغې سره مي واده کړی وای نو هغه کافر کیږي .

۴۸. یو سړي یو چا ته وویل چي پر حق خبره زما مرسته کوه او هغه ورته وویل چي مرسته پر حق هم کیږي او پر ناحق هم کیږي مګر ستا مرسته به کوم نو هغه کافر کیږي .

۴۹.که یو څوک ووایي چي ما دغه درخته پیدا کړې ده نو هغه په دې ویلو سره نه کافر کیږي ځکه چي د هغه مراد به د درختي لګول وي مګر که یو څوک حقیقتا پیدا کول مراد واخلي نو هغه کافر کیږي .

۵۰.یو سړي ووایي تر څو چي فلانی سړی موجود وي یا داسي ووایي چي تر څو زما بازو موجود وي زما رزق نه کمیږي، ځینو مشائخو ویلي دي چي په دې سره هغه کافر کیږي او ځینو علماؤ ویلي دي چي پر هغه د کفر بېره ده ،

۵۱.که یو څوک ووایي چي تصوف بدبختي ده نو دا ډېره بده خبره ده .

۵۲. یو څوک د سپوږمۍ شاوخوا دائره ووینی او دعوه وکړي چې باران به کیږي او په داسې ویلو سره هغه د غیب ویلو دعوه وکړي نو هغه کافر کیږي .

۵۳. یو نجومي یو چا ته وویل چې ستا ښځه حامله ده او هغه پر دې عقیده وکړه نو هغه کافر سو .

۵۴. یو سړی د ګوګو کوتري اواز واوري او بیا یو چا ته ووایي چې ته به ناروغ سې او مړ به سې یا یو مصیبت به در باندي راسي نو په دې کي د مشائخو اختلاف دی .

۵۵. یو چا ناجائز خبره وکړه او بل سړي هغه ته وویل چې دا ته څه وایې په داسې ویلو سره به ته کافر سې او هغه ورته ووایي چې زه څه وکړم چې کافر کیږم کافر دي سم نو په داسې ویلو سره هغه کافر کیږي .

۵٦. یو سړی د قرآن کریم په ویلو کي د ضاد پر ځای زاء ووایي یا د اصحاب الجنة پر ځای اصحاب النار ووایي نو د داسې سړي امامت جائز نه دی .او که یو څوک یې په قصد سره ووایي نو کافر کیږي .

۵۷. که یو څوک ووایي چې قسم دي ستا په ژوند وي یا زما په ژوندی یا داسې بل قسم وکړي نو پر هغه د کفر بېره ده .

۵۸. یو سړی ووایي چې رزق خو الله تعالی ورکوي مګر هغه د بنده څخه حرکت غواړي ځینو ویلي دي چې دا شرک دی .

۵۹. یو سړی ووایي چې زه د عذاب او ثواب څخه خلاص یم نو ویل کیږي چې په دې سره هغه کافر کیږي .

٦۰. که یو څوک ووایي چې فلاني سړی څه وایي زه به یې کوم که څه هم هغه کفر وي نو په دې سره هغه کافر کیږي .

٦۱. که یو څوک ووایي چې زه د مسلمانۍ څخه بېزاره یم نو هغه کافر کیږي .

٦۲. د مامون رشید د زمانې یوه واقعه نقل سوې ده چې د وخت خلیفه د یو فقیه څخه د هغه سړي په باره کي پوښتنه وکړه چې د جامې اوبدونکی قتل کړي نو پر دغه قاتل باندي څه واجب دي ، فقیه ورته وویل چې تغاریب واجب دی ، مامون حکم وکړ چې فقیه دي ووهل سي نو هغه ووهل سو تر دې چې هغه مړ سو ، بیا مامون وویل چې ما دا حکم ددې لپاره ورکړی وو چې هغه د شریعت سپکاوی وکړی او د شریعت سپکاوی کول کفر دی .

٦۳. که یو چا توره کمبله اغوستې وي او یو بل چا د هغه په لېدو سره ورته مدثر وویل نو دا کفر دی .

٦۴. که یو څوک ظالم پاچا ته عادل ووایي نو هغه کافر کیږي او ځینو ویلي دي چي هغه نه کافر کیږي.

٦٥. که یو څوک یو ظالم پاچا ته ووایي اې خدا! نو هغه کافر کیږي او که ووایي چي اې بارخدا! نو اکثر مشائخ وایي چي په دې سره نه کافر کیږي.

٦٦. د یو عالم څخه چي صغار نومیږي د هغه خطبو په باره کي پوښتنه وسوه چي د جمعې په ورځ پر منبر ویل کیږي او سلطان ته د العادل الاعظم یا شهنشاه اعظم یا مالک رقاب الامم، یا سلطان ارض الله، یا مالک بلاد الله، یا معین خلیفة الله په لقب سره یادوي نو ایا د پاچا په خطبه کي په دغه الفاظو سره یادول جائز دي که یا ؟ هغه په جواب کي وویل چي دا جائز نه دي ځکه چي په دې کي اکثر الفاظ د کفر دی او ځیني معصیت او ځیني کذاب دی او د شهنشاه لفظ د اعظم د لفظ څخه پرته د الله تعالی د سماؤ لپاره خاص دی په هغه سره د بندګانو صفت کول جائز نه دی او د مالک رقاب الامم جمله د پاچا لپاره دروغ دي همدارنګه پاچا ته سلطان ارض الله یا په داسي بل لقب سره یادول هم دروغ دي.

٦٧. امام ابو منصور ویلي دي که یو څوک د چا په مخکي مځکه مچ کړي یا د هغه په مخکي کښته سي یا خپل سر کښته کړي نو هغه نه کافر کیږي ځکه چي د هغه مقصد د هغه تعظیم او تکریم دی عبادت نه دی او نورو مشائخو ویلي دي چي د ظالم په مخکي کښته کېدل لویه ګناه ده او ځینو عالمانو ویلي دي چي په دې سره هغه مطلق کافر کیږي. او ځینو ویلي دي چي په دې کي تفصیل دی که چیري د عبادت اراده یې وي نو کافر کیږي او که د تعظیم اراده یې وي نو نه کافر کیږي مګر د هغه دغه فعل به حرام وي او که یو اراده یې نه وي نو د اکثرو په نزد کافر کیږي، مځکه مچول د سجدې کولو په ډول دي مګر پر مځکه باندي د تندي ایښودلو څخه کم جرم دی،

٦٨. که یو څوک دا عقیده ولري چي خراج د پاچا ملکیت دی نو دا کفر دی.

٦٩. که یو څوک د چا سره بد کړي او هغه ووایي چي دا ټول ستا راوړل سوی مصیبت دی د خدای ﷻ په دې کي دخل نه سته نو دا هم کفر دی.

٧٠. که یو څوک د پاچا د خوښي او مبارکۍ لپاره قرباني وکړي نو هغه کافر کیږي او قرباني به د مردار په حکم کي وي او د هغه خوړل به صحیح نه وي.

٧١. چیري چي دا دهندوانو رواج وي چي پر یو چا باندي غمي دانې راوخیژي نو ښځه د یو ډبري نوم دانه کښیږدي او د هغه په عبادت کولو سره د دانو څخه شفاء غواړي او دا عقیده

لري چي په دې سره هغه ښه کیږي دا د کفر سبب دی او هغه ښځه کافره کیږئ او که چیري
هغې خاوند هم په دې راضي وي نو هغه هم کافر کیږي ۰

۷۲. همدارنګه د دریاب غاړي ته په تللو سره د اوبو عبادت کول او هلته پسه وغیره ذبح کول مشرکانو رواج دی او د کفر سبب دی او هغه پسه د مردار په حکم کي دی او د هغه غوښې خوړل حرام دي ۰

۷۳. همدارنګه په کور کي د عکسونو جوړول او اېښودل او د هغو عبادت کول یا کوچني د پیدا کېدو پر وخت نقشه جوړول او پر هغه تېل اچول او بیا د هغه عبادت کول داسي نور ډېر کارونه کول د مشرکانو رواج دی او د کفر سبب دی ۰

۷۴. که یو څوک ووایي چي نن سبا خیانت ونه کړم او درواغ ونه وایم نو ګزاره نه کیږي داسي ووایي چي تر څو پوري په رانیولو او پلورلو کي درواغ ونه وایې نو ډوډی به پیدا نه کړې ، یا یو څوک یو چا ته ووایي چي ته ولي خیانت کوې ، یا ورته ووایي چي ته ولي درواغ وایې او هغه په جواب کي ورته ووایي چي ددې څخه پرته بله چاره نه سته نو به داسي ویلو سره هغه کافر کیږي ۰

۷۵. که یو څوک یو چا ته ووایي چي ته درواغ مه وایه او هغه په جواب کي ورته ووایي چي دا خبره خو تر کلمې زیاته صحیح ده نو هغه کافر کیږي ۰

۷۶. که یو څوک په غصه سي او بل څوک د هغه په غصه کي لېدو سره ووایي چي تر غصې خو کفر غوره دی نو هغه کافر کیږي ۰

۷۷. که یو څوک یو ناجائزه خبره وکړي او بل سړی ورته ووایي چي دا ته څه وایې په دې سره کافر کیږې او هغه په جواب کي ورته ووایي که زه کافر کیږم نو ته به څه کوې نو هغه ددې په ویلو سره کافر کیږي ۰

۷۸. د یو چا په زړه کي د یو داسي شي خطره راغلل چي هغه د کفر سبب وه که چیري هغه په دغه حالت کي هغه پر ژبه راوړي او بده یې وګڼل نو دا د ایمان نښه ده او که د کفر په اراده هغه پر ژبه راوړي نو هغه وخت به کافر سي ۰

۷۹. که یو سړی په خوښي سره د کفر کلمه پر ژبه راوړي مګر د هغه زړه پر ایمان باندي قایم وي نو هغه کافر کیږي او د الله جل جلاله په نزد به مؤمن نه وي ۰

که یو څوک داسي خبره وکړي چي د هغه په کفر کېدو کي اختلاف وي نو ویونکي ته پکار دي چي توبه وکړي او د نکاح تجدید وکړي ۰

کوم څوک چي په هېره سره داسي الفاظ د ژبه څخه وباسي چي هغه د کفر سبب نه وي نو هغه علی حاله مؤمن دی او هغه ته به د توبې حکم ورکول کیږي مګر د نکاح د تجدید حکم به نه ورکول کیږي.

که یو څوک داسي خبره وکړي یا داسي کار وکړي چي د هغه یو څو صورتونه د کفر وي او یو صورت یې داسي وي چي کفر نه لازمیږي نو پر مفتي باندي لازم دي چي د هغه پر عدم کفر باندي رجحان وکړي مګر که چیري هغه سړی په صراحت سره هغه صورت اختیار کړی وي کوم چي د کفر سبب دی نو هغه وخت به تاویل ګټور نه وي مګر که چیري د ویونکي په نیت کي هغه صورت وي چي په هغه سره سړی نه کافر کیږي نو هغه مسلمان دی او که چیري هغه صورت اختیار کړي چي د کفر سبب دی نو د هیڅ مفتي فتوا د هغه لپاره کار نه ورکوي او هغه ته به د توبې حکم ورکول کیږي چي توبه وکړي او د هغه خبري څخه رجوع وکړي او د خپل ښځي سره بیا نکاح وکړي.

د مسلمان لپاره دا مناسب دي چي هغه سهار او ماښام لاندیني دعاء ووایي، انشاء الله تعالی د کفر او شرک څخه به په هر صورت کي خوندي وي ځکه چي رسول الله ﷺ داسي فرمایلي دي، هغه دعاء دا ده:

اللهم اني اعوذبک من ان اشرک بک شیئا وانا اعلم واستغفرک لما لا اعلم.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مرتد سزا قتل دی

﴿٣٣٧٩﴾: عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ أُتِيَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِزَنَادِقَةٍ فَأَحْرَقَهُمْ فَبَلَغَ

د حضرت عکرمة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي حضرت علي رضي الله عنه ته یو څو زندیقان (مجوسیان، آتش پرست او نور ملحد او مرتد) راوستل سول نو هغه په اور کي وسوځول،

ذٰلِكَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَوْ كُنْتُ أَنَا لَمْ أُحْرِقْهُمْ لِنَهْيِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

دا خبره چي ابن عباس رضي الله عنه ته ورسیدل نو هغه وویل: که زه وای نو هغوی به مي په اور کي نه وای سوځلي ځکه چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللهِ وَلَقَتَلْتُهُمْ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ . رواه البخاري .

تاسو داسي عذاب مه ورکوئ کوم چي د الله تعالی سره مخصوص وي ما به هغوی قتل کړي وای ځرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي څوک خپل اسلام مذهب بدل کړي نو هغه قتل کړئ . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٦٧، رقم: ٦٩٢٢.

تشريح: زنديق د مجوسيانو د يو قوم نوم دی چي د زردشت مجوسي د اختراع کړي کتاب (زند) پيروان دي ، مګر په عامه اصطلاح کي هر ملحد ته زنديق ويل کيږي ، دلته هم د زنديق څخه هر ملحد في الدين مراد دی چي د اسلام په پرېښودو سره مرتد سوی وي ، ځيني علماء وايي چي په دغه روايت کي کومو خلکو ته زنديق ويل سوي دي هغه په اصل کي د عبدالله ابن سبا د قوم څخه وه چي د اسلام په حدودو کي د فتنې او فساد کولو او د امت د ګمراه کولو لپاره يې خپل ځان مسلمان ظاهروی او د حضرت علي ﷜ په باره کي يې د خدايي دعوه کول ، حضرت علي ﷜ د هغوی ددغه عظيمي فتنې ختمولو لپاره ټول ونيول او د هغوی څخه يې غوښتنه وکړه چي ټول توبه وکړئ او ددغه فتنې د خپرولو څخه منع سئ مګر کله چي هغوی انکار وکړ نو حضرت علي ﷜ يوه کنده وکنېل او په هغه کي يې اور بل کړی او هغه ټول يې په دغه کنده کي وغورځول .

نقل سوي دي چي کله د ابن عباس ﷜ ذکر سوی قول حضرت علي ﷜ ته ورسيدی نو هغه وفرمايل چي بېشکه ابن عباس ﷜ ريښتيا ويلي دي ، ددې څخه معلومه سوه چي حضرت علي ﷜ په دغه مسئله کي پر خپل اجتهاد باندي عمل وکړ او ددې لپاره يې هغوی ټول وسوځل چي يوازي دا خلک نه بلکه نور خلک هم ددغه فتنې څخه منع سي .

چا ته د اور سوځلو سزا مه ورکوئ

﴿٣٣٨٠﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللهُ . رواه البخاري

د حضرت عبدالله ابن عباس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اور عذاب يوازي د الله تعالی سره خاص دئ (د بل چا لپاره د اور عذاب ورکول جائز نه دي) بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١١٥، رقم: ٢٩٥٤.

د خوارجو نښاني

﴿٣٣٨١﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَيَخْرُجُ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: ډير ژر په آخره زمانه کي به داسي يو قوم پيدا سي

قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَحْدَاثُ الْأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الْأَحْلَامِ يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ

چي د نوعمرا و کم عقل کېدو سربيره به د غوره خلکو په ډول خبري کوي د هغوی ايمان به د

قَوْلِ الْبَرِيَّةِ لَا يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ

هغوی د حلق څخه وړاندي نه ځي د مذهب څخه به هغوی داسي وزي څرنګه چي د ليندۍ څخه

السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ فَإِنَّ فِي قَتْلِهِمْ أَجْرًا لِمَنْ قَتَلَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

غشي وځي، په تاسو کي چي څوک د هغه قوم سره يو ځای سئ هغه دي قتل کړي د دې په قتلولو کي به هغه سړي ته د قيامت په ورځ ثواب ور کول کيږي څوک چي هغه قتل کړي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٢٨٣، رقم: ٦٩٣٠، ومسلم ٢\٧٤٦، رقم: ١٥٤- ١٠٦٦.

د لغاتو حل الاحلام: اى ضعفاء العقول (كم عقله). البرية: اى الخليقة. (زور).

تشريح خلکو ته به يې نيکي خبري بيانولې ، ددې څخه مراد دادی چي ذکر سوي خلک به هغه غوره اقوال او ښه خبري بيانوي کوم چي په عامه توګه د الله تعالی د نيکو بندګانو پر ژبو جاري وي يعني د قرآن کريم آيت، مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د مشکوة شريف په نسخو کي (من خير قول البرية) دی يعني د خير تعلق د قول سره دی ، دلته ددې مطابق ترجمه او مطلب بيان سوی دی حال دا چي په مصابيح کي (من قول خير البرية) يعني په دې کي د خير تعلق د برية سره دی د هغه مطلب به دا وي چي هغه خلک به د غوره انسان اقوال بيانوي نو په دغه صورت کي به د قرآن کريم د آيت پر ځای د رسول الله ﷺ حديثونه مراد دي . مګر علماء کرام

وايي چي د جملې زيات مناسب ترکيب هغه دی کوم چي دلته په مشکوة کي نقل سوی دی ځکه چي په حديثو کي د خوارج په باره کي نقل سوي دي چي د قرآن کريم آيت وايي او هغه ته به په خپل غلط عقيدې او نظريې باندي استدلال کول او د هغه آيات به غلط تاويل کوي.

لکه څرنګه چي غشي د ښکار د منځ څخه وځي: ددې مطلب دادی چي څرنګه يو غشی د ښکار د مينځ څخه وځي او هغه په ښکار کي په ژر پيوست کېدو سره سمدستي د وتلو په وجه هغه غشی د ښکار په وينو وغيره لړل سوی نه وي همدارنګه هغه خلک به هم د د وخت د امام او علماء حق د اطاعت څخه وځي ، طيبي رحمة الله عليه وايي چي ددغه مثال مراد د هغه خلکو ددين په دائره کي داخلېدل او بيا ددين د دائرې څخه وتل او د غشي په ډول چي په ښکار کي په پيوست کېدو سره وځي او لړل کيږي نه پر دغه خلکو به ددين د يو خبري اثر نه کېدل ظاهر دي او د هغه منشاء د هغه خوارج ښودل دي کوم چي د وخت د امام او د اسلامي حکومت پيروان نه وي او پر خلکو باندي وسله پورته کوي ، په شروع کي ددغه خوارجو ظهور د حضرت علي رضي الله عنه په خدمت کي وسو چي حضرت علي رضي الله عنه د هغوی څخه اکثره ووژل.

د خوراجو په باره کي د علماؤ فيصله

خطابي رحمة الله عليه وايي چي د امت د علماؤ پر دې اتفاق دی چي د خوارجو ډله د ګمراهۍ سربېره د مسلمانانو د ډلو څخه يوه ډله ده ، د هغوی سره نکاح کول هم جائز دي او د هغوی ذبيحه خوړل هم صحيح دي او د هغوی شاهدي هم معتبره ده ، نقل سوي دي چي د حضرت علي رضي الله عنه څخه ددغه خلکو په باره کي پوښتنه وسول چي ايا دا خلک کافران دي ؟ هغه وفرمايل چي هغوی خو د کفر څخه را تښتيدلي دي (نو هغوی ته کافران څنګه ويل کيدای سي) ، ددې څخه وروسته پوښتنه ځيني وسول چي ايا هغوی منافقان دي ؟ هغه وفرمايل منافق خو الله تعالی ډېر لږ يادوي حال دا چي خوارج سهار او مابنام الله تعالی يادوي ، بيا پوښتنه ځيني وسول چي هغوی څوک دي ؟ حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل : هغوی (په مسلمانانو کي) د يو ډلي خلک دي ، فتنې او ګمراهي هغوی راګير کړي دي نو هغوی رانده او کاڼه سوي دي ، لکه څرنګه چي وښوول سول چي خوارج د مسلمانانو د يو ډلي نوم دی چي په ګمراهۍ کي اخته دي ، ددغه ډلي بنيادي عقيده داده چي بندګان يوازي په لوی ګناهو سره نه بلکه په کوچني ګناهو سره هم کافر کيږي.

د خوارج په اړه د رسول الله ﷺ پیشګوئي

﴿۳۳۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُونُ أُمَّتِي فِرْقَتَانِ فَتَخْرُجُ مِنْ بَيْنِهِمَا مَارِقَةٌ يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما د امت به دوې ډلي سي د هغو دواړو ډلو په منځ کي به یوه بله ډله راووزي د هغو په قتل به هغه سړی واک تر لاسه کوي کوم چي په هغه ډلو کي حق ته زیات نژدې وي . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم ۲\۷۴۶، رقم: ۱۵۱- ۱۰۶۴.

تشریح: د دوو ډلو څخه مراد یو د حضرت علي رضي الله عنه د حامیانو ډله ده او دوهمه د حضرت معاویه رضي الله عنه د حامیانو ډله ده ، ددغه دواړو ډلو په مینځ کي چي کوم دریمه ډله پیداسي هغه ته خوارج وویل سول ، د خوارجو د فنا کولو او د هغوی د فتنې او فساد د فع کولو ته حضرت علي رضي الله عنه متوجه سو ځکه چي هغه وخت د حضرت علي رضي الله عنه شخصیت حق ته زیات نژدې او تر ټولو لوی مصداق وو .

د مسلمان قتل کفر ته نژدې دی

﴿۳۳۸۳﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ لَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ . متفق علیه.

د حضرت جریر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي وفرمایل: زما وروسته مه کافران کیږئ چي په تاسو کي ځیني د ځیسو غاړي وهي (چي دا کار د کفارو دئ). بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۶، رقم: ۷۰۸۰، ومسلم ۱\۸۱. رقم: ۱۱۸- ۶۵.

تشریح: په تاسو کي یو د بل غاړه وهل شروع کړي : دا ستیناف دي یعني یوه جلا جمله ده چي ددې منع د کفر په ذریعه مه پسي ګرځي لپاره وضاحت او بیان دي یعني پوښتنه کونکي پوښتنه وکړه چي د کفر په ذریعه وروسته ګرځېدل څنګه ممکن دي نو په جواب کي وفرمایل سول چي د

مسلمانانو په خپلو کي د يو بل غاړه وهل يعني دا يو داسي عمل دی چي د کافرانو د عمل مشابه دي يا دا عمل يې کفر ته نژدې ورسوی.

﴿٣٣٨٤﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا الْتَقَى

د حضرت ابوبکرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي يو ځای سي

الْمُسْلِمَانِ حَمَلَ أَحَدُهُمَا عَلَى أَخِيهِ السِّلَاحَ فَهُمَا فِيْ جُرُفِ جَهَنَّمَ فَإِذَا قَتَلَ

دوه مسلمانان په داسي حال کي چي پر يو بل يې سلاح راکښلې وي نو هغوی دواړه د دوږخ پر غاړه دي بيا که په هغوی کي يو بل ووژني

أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ دَخَلَاهَا جَمِيعًا وفي رواية إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا

نو دواړه به دوږخ ته ځي، د ابوبکرة رضي الله عنه يو بل روايت دئ چي هر کله دوه مسلمانان توري

فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هٰذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ. متفق عليه.

راوکاږي او يو بل ته مخامخ سي نو قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته ځي، ما عرض وکړ چي د قاتل دوږخ ته تلل خو څرګند دي مګر مقتول به په کومه وجه دوږخ ته ځي، رسول الله ﷺ وفرمايل: مقتول خو هم د خپل مقابل د وژلو حريص وو. (له دې کبله به هغه هم دوږخ ته ځي.) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٩٢، رقم: ٦٨٧٥، ومسلم ١٤\٢٢١٣، رقم: ١٤- ٢٨٨٨.

تشريح: دا دواړه به دوږخ ته يو ځای غورځول کيږي، په دې باره کي علماؤ ليکلي دي چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي په هغه دواړو کي يو هم پر حق نه وي مګر که چيري په هغوی کي يو پر حق وي نو د دوږخ په اور کي به هغه يو غورځول کيږي کوم چي پر ناحقه وي مګر دا هم په هغه صورت کي دی کله چي په اشتباه او تاويل سره قتل نه وي سوی او هغه هم د خپل ملګري پر قتل اماده وي، ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي دغه ارشاد ددې دليل دی چي د يو کار کول محض پر تياري کولو باندي هم مؤاخذه کيږي په ذکر سوي صورت کي هم دا نوعيت دی چي هغوی دواړه د يو بل پر قتل اماده او د يو بل د سر وهونکي وه مګر که چيري د مقتول

محض دفاع اراده وي او د هغه په نيت کي د دوهم د قتل خواهش او اراده نه وي نو د هغه څخه به مؤاخذه نه کيږي ځکه چي شريعت د دفاعي کاروايي اجازه ورکړې ده.

د مرتد سزا

﴿۳۳۸۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د عکل د قبيلي څو کسان د رسول الله ﷺ په خدمت کي

فَأَسْلَمُوا فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ الصَّدَقَةِ فَيَشْرَبُوا مِنْ

حاضر سول او اسلام يې قبول کړ، مګر د مديني هوا د هغوی موافق نه وه، رسول الله ﷺ هغوی ته حکم وکړ چي هغوی د زکوة د اوښانو د اوسيدو ځای ته ولاړ سي او د هغو د بولو او شيدو

أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَفَعَلُوا فَصَحُّوا فَارْتَدُّوا وَقَتَلُوا رُعَاتَهَا وَاسْتَاقُوا الْإِبِلَ

څخه دي چښل کوي، هغوی داسي وکړل او ښه سول، بيا هغوی د دين اسلام څخه واوښتل مرتد سول او قتل يې کړل ساربانان د هغه اوښانو او روان يې کړل اوښان

فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ ثُمَّ لَمْ

نو رسول الله ﷺ په هغو پسي سپاره وليږل هغوی يې نيولي راوستل او په دغه جرم کي يې د هغوی لاسونه او پښې پرې کړې او سترګي يې ځيني وکښلې، بيا

يَحْسِمْهُمْ حَتّٰى مَاتُوا. و في رواية فسمروا اعينهم و في رواية امر بمسامير

د هغوی لاسو او پښو ته د وينو بندولو لپاره په ګرمو تيلو کي داغ ورنه کړل سو تر څو چي هغوی مړه سوه، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د هغوی په سترګو کي ګرم سيخونه

فاحميت فكحلهم بها وطرحهم بالحرة يستسقون فما يسقون حتى ما توا. متفق عليه.

ومنډل سول، او په يوه روايت کي داسي دي چي نبي کريم ﷺ د سيخونو د ګرمولو حکم ورکړ او کله چي هغه ګرم کړل سول نو هغوی د هغوی په سترګو کي وګرځول سول او بيا هغوی د مديني په سنګستان کي وغورځول سول او هغوی به اوبه غوښتلې او اوبه به نه ورکول کېدلې

تر څو چي مړه سول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۱۰۹، رقم: ۶۸۰۳، ومسلم ۳\۱۲۹۶، رقم: ۹- ۱۶۷۱.

د لغاتو حل: فاجتووا: في الاجتواء اى كرهوا هواء المدينة وماءها (هوا او اوبه نه لګېدل).

تشريح: د هغه اوښانو بولي او شيدې دي وڅښي: ددغه ارشاد څخه امام محمد رحمة الله عليه دا استدلال کړی دی چي د کومو حيوانانو غوښه حلاله وي د هغو بولي هم (د علاج په توګه) پاکي دي دا قول د امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهما هم دی مګر د امام اعظم ابوحنيفة او امام ابويوسف رحمة الله عليهما په نزد د هغه حيوانانو بولي ناپاکي دي د هغوی له خوا ددغه ارشاد تاويل داسي کيږي چي د هغه ناروغۍ د نوعيت په اعتبار رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه دا معلومه سوې وه چي د هغوی د ناروغي درملنه يوازي د اوښ بولي دي ځکه نو رسول الله ﷺ په خاصه توګه هغه خلکو ته حکم ورکړ، امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه وايي چي څرنګه د اوښ بولي څيښل د درملني څخه پرته حلالي نه دي همدارنګه د دواء په توګه څيښل هم حلال نه دي ځکه چي پر دې باندي هيڅوک متفق نه دی چي په بولو کي د يو ناروغۍ شفاء ده مګر د امام ابويوسف رحمة الله عليه په نزد د يو ناروغۍ د درملني لپاره څيښل حلال دي.

ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي سره ددې چي رسول الله ﷺ د مثله څخه منع فرمايلې ده مګر رسول الله ﷺ هغه خلکو ته دا سزا ورکړه ددې وجه يا خو داده چي هغه خلکو د اوښانو د شپانو سره دا چلن کړی وو ځکه نو رسول الله ﷺ د قصاص په توګه د هغه خلکو سره هم داسي معامله وکړه، او يا دا وجه ده چي هغه مفسدانو يو ډېر لوی جرم کړی وو يعني مرتد سوي هم وه او شپانه يې هم قتل کړي وه او غلا يې هم کړې وه چي ټول اوښان يې د ځان سره بوتلل او د وخت امام ته دا حق حاصل دی چي د داسي جرم په صورت کي د زجر او تنبيه په توګه مجرم ته ډول ډول سزاوي ورکړي، ځکه نو رسول الله ﷺ ددې سره سم د هغه خلکو سره هم داسي معامله وکړه.

علامه نووي رحمة الله عليه وايي چي ددغه حديث د معنی او مقصد په باره کي د علماؤ اختلاف دی، ځيني حضرات وايي چي په دغه حديث کي کومه واقعه نقل سوې ده دا واقعه د هغه آيت کريمه د نازلېدو څخه مخکي دي په کوم کي چي د شرعي سزاوو او غلو لپاره په سزا کي صريح احکام بيان سوي همدارنګه رسول الله ﷺ چي د مثله کومه منع فرمايلې ده هغه هم ددغه واقعې څخه وروسته حکم دی، په دې اعتبار سره دا حديث منسوخ دی مګر د نورو حضراتو قول دادی چي دا حديث منسوخ نه دی بلکه په دغه وخت کي هغه آيت نازل سوی دی چي په هغه کي د لار

وهونکو د سزا بیان سوی دی چي هغوی دي قتل کړل سي یا پانسی دي کړل سي یا د هغوی یو لاس او یوه پښه دي پرې کړل سي مگر رسول الله ﷺ چي دغه خلکو ته کومه سزا ورکړل هغه د قصاص په توگه وه چي هغوی د اوښانو د شپانو سره کومه معامله کړې وه د هغوی سره هم هغه معامله وکړل سول.

اوس پاته سوه دا خبره چي په آخر وخت کي به هغه مفسدانو ته آرام ولي نه ورکړل سو، نو په دې باره کي د ځینو علماؤ وینا ده چي دا هم د قصاص په توگه وو چي هغه مفسدانو هم د اوښانو کتونکي همدارنگه بېله اوبو ورکولو په تکلیف سره وژلي وه نو د هغوی سره هم داسي وکړل سول چي هغوی اوبه غوښتلې مگر اوبه ور نه کړل سوې مگر ځیني حضرات وایي چي هغوی ته د اوبو نه ورکولو حکم رسول الله ﷺ نه وو کړی بلکه خلکو هغه مفسدانو ته د نفرت او غصې د اظهار په توگه د خپل طرف څخه هغوی ته اوبه نه وې ورکړي، په دې باره کي مسئله داده چي د علماؤ پر دې اتفاق دی چي څوک د مرگ د سزا وړ وگرځول سي او د هغه قتلول واجب سي که چیري هغه اوبه وغواړي نو د اوبو ورکولو څخه دي انکار نه کیږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مثله ممانعت

﴿۳۳۸۶﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنَ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنْ الْمُثْلَةِ. رواه ابوداؤد و رواه النسائي عن انس

د حضرت عمران بن حصين رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به موږ ته د صدقې او خیرات ورکولو شوق راکوئ او د مثله (لاسونه، پښې یا بل اندام پرې کولو) څخه به یې منع کولو. ابوداؤد او نسائي د حضرت انس څخه روایت کړی دئ.

تخریج: سنن ابي داود ۳/ ۱۲۰، رقم: ۲۶۶۷.

تشریح: د بدن یو اندام لکه پزه، غوږ، سترگه، یا بل اندام پرې کولو ته مثله وایي، د مثله څخه منع د ځینو حضراتو په نزد حرام دی یعني مکروه تحریمي دي او د ځینو حضراتو په نزد مکروه تنزیهي دي مگر صحیح قول د تحریم دی، تر دې مخکي په حدیث شریف کي دا خبره ښوول سوې ده چي د رسول الله ﷺ له خوا د هغه مفسدانو د اندامو پرېکول د قصاص په توگه وو.

د حیوانانو سره د رسول الله ﷺ د رحمت جذبه

﴿٣٣٨٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ

عبدالرحمن بن عبدالله د خپل پلار څخه روایت کوي چي په یوه سفر کي موږ د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ

سره وو، رسول الله ﷺ پر یوه موقع د قضاء حاجت لپاره تشریف ویوړ، موږ یوه سره مرغی ولیدل چي د هغې سره دوه بچیان وه،

فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تُفَرِّشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

موږ د هغې بچیان ونیول، هغه مرغی راغلل خپل وزریې پر مځکه خپاره کړل او نس یې د مځکي سره ولګوئ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ تشریف راوړ

وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ

او وه یې فرمایل ددې بچیان چا ونیول او په مصیبت یې اخته کړل، ددې بچیان بیرته ورکړئ، بیا رسول الله ﷺ د میږیانو غارونه ولیدل

حَرَّقْنَاهَا قَالَ مَنْ حَرَّقَ هَذِهِ قُلْنَا نَحْنُ قَالَ إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ. رواه ابوداؤد

چي موږ هغه سوځلي وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا میږیان چا سوځلي دي؟ موږ عرض وکړ موږ سوځلي دي، رسول الله ﷺ راته وفرمایل: دا مناسب نه دي چي څوک یو چا ته د اور عذاب ورکړي، د اور عذاب ورکونکی یوازي الله تعالی دی چي رب د اور دی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ١٣\١٢٥، رقم: ٢٦٧٥.

د لغاتو حل: حُمرة: طائر صغیر کالعصفور. (یو کوچنی مرغه).

تشریح: حُمّره د یو مرغه نوم دی چي د چوغکي په دول کوچنی او سور رنګ یې دی، د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د اور په ذریعه چا ته عذاب ورکول یوازي الله ﷻ ته ښایي او دا تر ټولو لوی عذاب دی ځکه نو هیڅ انسان ته دا حق حاصل نه دی چي هغه یو څوک په اور کي وسوځي.

د حيوانانو سره د رسول الله ﷺ د رحمت جذبه

﴿٣٣٨٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ

عبد الرحمن بن عبد الله د خپل پلار څخه روايت کوي چي په يوه سفر کي موږ د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ

سره وو، رسول الله ﷺ پر يوه موقع د قضاء حاجت لپاره تشريف ويوړ، موږ يوه سره مرغۍ وليدل چي د هغې سره دوه بچيان وه،

فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تُفَرِّشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

موږ د هغې بچيان ونيول، هغه مرغۍ راغلل خپل وزريې پر مځکه خپاره کړل او نس يې د مځکي سره ولګوئ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ تشريف راوړ

وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ

او وه يې فرمايل ددې بچيان چا ونيول او په مصيبت يې اخته کړل، ددې بچيان بيرته ورکړئ، بيا رسول الله ﷺ د ميږيانو غارونه وليدل

حَرَّقْنَاهَا قَالَ مَنْ حَرَّقَ هَذِهِ قُلْنَا نَحْنُ قَالَ إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ. رواه ابوداؤد

چي موږ هغه سوځلي وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا ميږيان چا سوځلي دي؟ موږ عرض وکړ موږ سوځلي دي، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: دا مناسب نه دي چي څوک يو چا ته د اور عذاب ورکړي، د اور عذاب ورکونکي يوازي الله تعالى دى چي رب د اور دى. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٢٥، رقم: ٢٦٧٥.

د لغاتو حل: حُمرة: طائر صغير كالعصفور. (يو کوچنی مرغه).

تشريح: حُمّره د يو مرغه نوم دی چي د چوغکي په ډول کوچنی او سور رنګ يې دی، د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د اور په ذريعه چا ته عذاب ورکول يوازي الله ﷻ ته ښايي او دا تر ټولو لوی عذاب دی ځکه نو هيڅ انسان ته دا حق حاصل نه دی چي هغه يو څوک په اور کي وسوځي.

د میږو نو په باره کي مسئله داده که چیري میږي په تکلیف رسولو کي شروع وکړي یعني په خپه یو څوک وچیچي نو د هغه وژل پکار دي کنه نو وژل یې مناسب نه دي، همدارنګه د میږو نو سوری په اور سوځل هم منع دي او د میږیانو په اوبو کي اچول مکروه دي، که چیري یو میږی یې وچیچي نو یوازي د هغه میږي وژل پکار دي د نورو میږیانو وژل پکار نه دي.

د یوې باطلي ډلي په اړه پیشګوئي

(٣٣٨٨): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابو سعید خدري او انس بن مالک رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي اخْتِلَافٌ وَفُرْقَةٌ قَوْمٌ يُحْسِنُونَ الْقِيلَ

وفرمایل: زما په امت کي به اختلاف او فرقه والی پیدا سي، په هغوی کي به یوه داسي ډله وي چي خبري به ښه کوي

وَيُسِيئُونَ الْفِعْلَ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ

مګر عمل به یې بد وي، هغوی به قرآن وایي مګر قرآن به د هغوی د حلق څخه نه کښته کیږي (یعني د قرآن د ویلو هیڅ اثر به نه وي) هغوی به د مذهب (اسلام) څخه داسي ووزي

مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ لَا يَرْجِعُونَ حَتَّى يَرْتَدَّ السهم عَلَى فُوقِهِ هُمْ شَرُّ

لکه څرنګه چي غشی د لیندۍ څخه وزي، هغوی به د مذهب په لوري تر هغه وخته رانسي تر څو پوري چي غشی د خپل لیندۍ په لور رانسي، دا خلک د بدترین

الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ طُوبَى لِمَنْ قَتَلَهُمْ وَقَتَلُوهُ يَدْعُونَ إِلَى كِتَابِ اللّٰهِ وَلَيْسُوا

مخلوقات او د حیوانانو څخه به وي، زیری دئ هغه چا ته چي هغوی قتل کړي او هغوی دوی قتل کړئ (یعني د دوی د قتل په صورت کي به هغوی غازیان وي او د دوی د لاسه به خپله د قتل کېدو په صورت کي شهیدان وي) دوی به خلک د الله تعالی د کتاب په لور رابولي (او د سنت

مِنَّا فِي شَيْءٍ مَنْ قَاتَلَهُمْ كَانَ أَوْلَى بِاللّٰهِ مِنْهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا سِيمَاهُمْ

قَالَ التَّحْلِيقُ. رواه ابوداؤد.

رسول او احاديث نبوي د پرهېښودلو ترغيب به ورکوي)، دوی زموږ څخه نه دي (يعني په هيڅ خبره کي دوی مسلمان نه دي) څوک چي دوی قتل کړي هغه به تر ټولو زيات الله تعالی ته نژدې وي ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! د دوی شناخت به څه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : سر خريل . ابو داؤد .

تخريج سنن ابي داود ١٥\١٢٣، رقم: ٤٧٦٥.

د لغاتو حل التحليق: اى استئصال الشعر والمبالغة في الحلق (په سر خريلو کي مبالغه)

تشريح زما په امت کي به اختلاف او افتراق پيدا سي: ددې مطلب دادی چي زما په امت کي به داسي خلک پيدا سي چي په خپلو کي به اختلاف کوي او د خپلو مقصدو لپاره به د امت د اتحاد ختمولو هڅه کوي .

يوه ډله به ښه خبري کوي ....: دغه جمله د مخکنۍ جملې وضاحت او بيان دی يعني په امت کي چي کوم خلک د اختلاف پيدا کولو هڅه کوي د هغوی به يو خاص نښه دا وي چي هغوی به ډېري ښه ښه خبري کول مگر د هغوی عمل به ډېر خراب وي د هغوی د ژبي څخه دا ظاهرېږي چي په ټول امت کي داخلک دي چي د دين فدايان دي د الله جل جلاله او د رسول ﷺ ريښتوني پيروان دي او د مسلمانانو خيرخواه دي مگر د هغوی د عمل او کردار به دا حال وي چي هغوی به د خپلو مقصدو لپاره به د دښمنانو آله کار وي او د خپل نفس غلامان به وي او د خپل خواهشاتو بندگان او د مال او عزت په حرص کي به اخته وي او د هغوی بنيادي مقصد به د امت د اتحاد دړې وړې کول وي .

يقرءون القرآن : (دا خلک به قرآن کريم وايي) : دغه جمله يا خو استيناف يعني يوه جلا جمله ده چي د مخکني عبارت د وضاحت او بيان لپاره ده يا د شاطبي رحمة الله عليه د مذهب سره سم بدل دی او يا ددې څخه د نفس اختلاف وضاحت مراد دی چي ډېر ژر زما د امت په خلکو کي به اختلاف پيدا سي . او هغوی به پر دوو ډلو وويشل سي په هغوی کي به يوه ډله پر حق وي او يوه ډله به پر باطل وي ، علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي ددغه تاويل تائيد د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه هم کيږي کوم چي ددغه باب په اول فصل کي نقل سوی دی چي (تكون امتي فرقتين فتخرج من بينهما مارقة يلي قتلهم اولاهم بالحق) په دغه صورت کي به وويل سي چي قوم لفظ د وروستنۍ جملې موصوف دی او د هغه خبر (يقرءون القرآن) دی او ددغه جملې مقصد دادی چي په دواړو ډلو کي د يوې ډلي په گوته کول دي حال دا چي د دوهمي ډلي ذکر يې څکه پرې

اينبى دى چي هغه په خپله مفهوم كيږي .

لايجاوز تراقيهم : د هغوى ويل به د هغوى تر حلق نه تيريږي: ددې مطلب دادى چي هغه خلک به په بنيادي توګه سره په ګمراهۍ کي اخته وي او محض د آله کار په توګه به قرآن کريم وايي ځکه د هغوى د قرائت اثر به د هغوى د مخارج حروف او د هغوى د آوازو څخه مخکي نه ځي چي د هغه په وجه به د قرآن کريم د آيت هيڅ اثر هم د هغوى پر زړه نه وي او نه به د هغوى نور اندامونه عمل کوي ، د قرآن کريم په کومو خبرو چي يقين او اعتماد کول لازم دي پر هغه به هغوى اعتقاد او يقين نه لري او د قرآن کريم په کومو خبرو چي عمل کول ضروري وي په هغه به د هغوى عمل نه وي يا ددې جملې دا معنى ده چي الله تعالى به د هغوى قرائت د دنيا څخه پورته کوي يعني هغه به نه قبلوي يعني د هغوى قرائت به د هغوى تر خلکو مخته نه ځي .

حتى يرتد السهم على فوقه: تر څو چي غشى خپل لينده ته رانه سي ، دا تعليق بالمحال دى يعني څرنګه چي غشي د خپل لينده په ځا يکي بېرته راتلل محال دى همدارنګه ددغه خلکو دين ته بيا راتلل هم محال دي يعني دغه جمله د الله تعالى ددغه ارشاد (يلج الجمل في سم الخياط) په ډول ده او ددغه جملې منشاء ددې خبري تائيد او شدت سره بيانول دي چي هغه خلک به په سخت جهالت او ګمراهۍ کي اخته وي او دغه غلط ګمان به د هغوى په زړه او دماغ کي ناست وي چي موږ پر حق او هدايت باندي يو ځکه د هغوى په دين کي بېرته راتلل به ناممکن وي .

سر خريل : دا خبره کيداى رسول الله ﷺ ددې لپاره فرمايلي وي چي په هغه زمانه کي د سر خريلو رواج نه وو بلکه اکثرو خلکو به وېښتان پرېښودل ، ددغه ارشاد مقصد د سر خريلو بدي يا تحقير کول نه دي ځکه چي سر خريل د الله تعالى د شعار او د هغه د طاعت څخه يو عمل دى او د هغه خلکو د عادت څخه دى کوم چي د الله تعالى نېک او صالح بندګان وي، ځيني حضرات وايي چي د تخليق څخه مراد سر خريل نه دي بلکه خلق د خلکو په حلقه کي کښېنول مراد دي چي د هغه خلکو له خوا به محض د ليدني او تکليف په توګه وي .

هغه درې صورتونه چي په هغو کي مسلمان ته د مرګ سزا ورکول کيږي

﴿۳۳۸۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ دَمُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هيڅ مسلمان چي ذدې

امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ إِلَّا بِإِحْدٰى

شاهدي وركوي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله تعالى رسول دئ،

ثَلَاثٍ رَجُلٌ زَنٰى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ وَرَجُلٌ خَرَجَ مُحَارِبًا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهٖ

وژل حلال نه دي خو په دغه درو خبرو كي يوه خبره په وقوع كي راتلو سره د هغه وژل حلاليږي: (١) يو خبره خو داده چي د نكاح وروسته زنا وكړي په دې صورت كي به سنگسار كيږي. (٢) دويمه خبره داده چي څوك د الله تعالى او د رسول الله ﷺ خلاف جنگ ته راووزي،

فَإِنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ أَوْ يُنْفٰى مِنَ الْأَرْضِ أَوْ يَقْتُلُ نَفْسًا فَيُقْتَلُ بِهَا. رواه ابوداؤد

يعني قتل كوي او د الله او د هغه د رسول پر خلاف سركښي كوي، په دې صورت كي به هغه وژل كيږي يا به په دار كيږي او يا به بندي كيږي (يعني څه ډول چي د جرم كيفيت وي) (٣) دريمه خبره دا چي يو څوك قتل كړي نو د هغه په بدله كي به قاتل هم ووژل سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۲۲، رقم: ۴۳۵۳.

تشريح: د محصن كېدو څخه مراد دادى چي هغه مسلمان چي ازاد وي او مكلف وي او په صحيح نكاح سره يې صحبت كړى وي يعني واده يې سوى وي او بيا د هغه وروسته زنا وكړي نو د هغه سزا داده چي په سنگسارولو سره مړ كړل سي.

د لار وهونكو لپاره درې سزاوي بيان سوي دي: ۱: قتل دي كړل سي، ۲: په دار دي كړل سي، ۳: بندي دي كړل سي، ددغه درو سزاوو تفصيل دادى كه چيري هغه لار وهونكى غلا ونه كړي بلكه يو څوك يې وژلى وي نو په دغه صورت كي به هغه قتل كيږي او كه چيري هغه غلا كړې وي او څوك يې قتل كړى هم وي نو په دغه صورت كي به هغه په دار كړل سي، اوس د هغه په باره كي امام مالك رحمة الله عليه وايي چي دي ژوندى په دار كړل سي تر څو مړ سي مگر امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي د هغه په قتل كولو سره دي د هغه مړي په دار وزړول سي تر څو نورو خلكو ته عبرت سي.

دريمه سزا د بند ده، ددې لپاره په حديث كي (ينفي في الارض) الفاظ دي ددې معنى د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد دادى چي هغه دي پرله پسې د ښار څخه وايستل سي يعني دي په يو

ښار کي او سيدو ته نه پرېږدي بلکه د يوه ښار څخه دي يې بل ښار ته باسي تر څو هغه کرار او آرام تر لاسه نه کړي ، مګر د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله په نزد د دغه الفاظو معنی داده چي هغه دي بندي کړل سي او دا د بند سزا په هغه صورت کي دي کله چي هغه نه مال غلا کړی وي او نه يې څوک قتل کړی وي بلکه پر لاره تلونکی سړی يې بېرولی وي او همدارنګه هغه د لاري د امن او عافيت له خوا خلک په بېره کي اخته کړي وي ، د حديث د اجزاوو چي په هغه کي د لار وهونکي د ذکر سوو سزاوو حکم دی هغه په اصل کي د قرآن کريم د دغه آيت کريمه څخه مستنبط دي :

إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ . سورة المائدة : ٣٣

ژباړه : بېشکه کوم خلک چي د الله (جل جلاله) او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) سره جنګ کوي او په هيواد کي فساد يعني بد امني پيدا کوي نو د هغوی سزا داده چي هغوی دي قتل کړل سي يا په دار دي کړل سي يا هغوی څخه د هر يوه دي يو خوا ته لاس او بلي خوا ته پښه پرې کړل سي يا د مځکي څخه په ايستلو سره دي بندي خاني ته واستول سي .

په دې اعتبار سره په ظاهره په حديث کي د (او ينفى في الارض) اولنی عبارت (او يقطع يده ورجله من خلاف) کېدل هم پکار وه چي دا حديث د ذکر سوي آيت پوره مطابق سوی وای مګر دا قوي احتمال لري چي په اصل حديث کي دغه عبارت وي البته دلته د حديث د راوي څخه په هيره پاته سوي وي يا راوي د اختصار په وجه په قصد سره حذف کړي وي .

په حديث کي حرف د (او) او د قرآن کريم په آيت کي هم او د تفصيل د اظهار لپاره دی مګر ځيني حضرات وايي چي د تخيير لپاره دی يعني د دې ظاهرولو لپاره دی چي د وخت امام او حاکم ته دا اختيار دی چي هغه د ذکر سوي تفصيل د لحاظ کولو څخه پرته په دغه سزاوو کي چي کومه سزا مناسب وګڼي هغه سزا دي لار وهونکي ته ورکړي .

مسلمان بيرول منع دي

﴿٣٣٩٠﴾ : وَعَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ حَدَّثَنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن ابي ليلي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو موږ ته بيان کړی دئ

أَنَّهُمْ كَانُوا يَسِيرُونَ مَعَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ

چي د رسول الله ﷺ صحابه کرامو به د شپې د رسول الله ﷺ سره سفر کوئ (يوه ورځ) يو سړی د

فَانْطَلَقَ بَعْضُهُمْ إِلَى حَبْلٍ مَعَهُ فَأَخَذَهُ فَفَزِعَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا. رواه ابوداؤد.

دوی سره بيده سو بيا نور خلک ولاړ سوه او د بيده سړي نژدې چي کومه رسۍ پرته وه هغه يې پورته کړه او دا بيده سړی د هغه بل څخه و بيريدئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ مسلمان لپاره دا جائز نه ده چي هغه يو مسلمان و بيروي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۷۳، رقم: ۵۰۰۴.

د اسلام عزت د کفر په ذلت سره مه سودا کوئ

﴿۳۳۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَخَذَ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د يو جزيې والا

أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ فَجَعَلَهُ فِي عُنُقِهِ فَقَدْ وَلَّى الْإِسْلَامَ ظَهْرَهُ. رواه بوداؤد.

ځمکه رانيول هغه خپل هجرت مات کړ او چا چي د کافر ذلت د هغه د غاړي و ايستئ او په خپله غاړه کي يې واچوئ نو هغه د اسلام څخه مخ وګرځوئ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۴۵۹، رقم: ۳۰۸۲.

د لغاتو حل: صَغار: اى ذلة في عنقه.

تشريح: مطلب دادی که يو مسلمان د يو ذمي څخه يوه خراجي (محصول والا) ځمکه رانيول نو پر هغه مسلمان به د هغه ځمکي هغه محصول عائد کيږي کوم چي د هغه ځمکي د اول مالک پر ذمه عائد وو او همدارنګه هغه مسلمان لکه د دارالاسلام ته چي د هجرت کولو په وجه د کوم حقوقو او کوم شرف او عزت په دائره کي وو د هغه څخه به ځي او د يوه کافر ذلت به په خپل لاس په خپل غاړه کي اچوي.

او چا چي د کافر ذلت د هغه د غاړي څخه وايستی ...الخ: په حديث کي د دغه الفاظ په

اصل کي د اولنيو الفاظ بيان او د هغه وضاحت دی چي کوم مسلمان د يو کافر جزيه پر خپل ذمه واخلي هغه ګويا د اسلام ورکړی عزت ورکولو سره د کفر ذلت او رسوائي په بيع واخيستل او همدارنګه هغه کفر د اسلام په بدل کي وګرځوي.

خطابي رحمة الله عليه وايي چي دلته دجزيي څخه مراد خراج دی يعني که يو مسلمان د يو کافر څخه يو خراجي مځکه رانيسي نو د هغه مځکي خراج نه ساقط کيږي بلکه اوس به پر هغه مسلمان باندي عائد کيږي، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه دا مذهب دی.

مسلمان دي په کافرانو کي نه ګډيږي

﴿۳۳۹۲﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يو لښکر د خثعم د قبيلي په لور

سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمٍ فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ فَبَلَغَ

وليږئ په هغو کي ځينو خلکو د لښکر په ليدو سره لمونځ پيل کړ او پر سجده پريوتل، خو د هغوی په وژلو کي د تلوار څخه کار واخيستل سو د هغوی د سجدې اعتبار يې ونه کړئ هغوی

ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ وَقَالَ أَنَا بَرِيءٌ

يې قتل کړل، ددې پېښي خبر چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته ورسيدئ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه وژل سوو خلکو وارثانو ته د نيمي ضمان ورکولو حکم وکړ او وه يې فرمايل: زه د هر هغه مسلمان څخه

مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ قَالَ لَا تَتَرَاءَى نَارَاهُمَا. رواه ابوداؤد.

بريئ الذمة يم چي د کافرانو په منځ کي اوسيدل اختياروي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! دا ولي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل (مسلمان او کافر بايد دومره ليري ليري وي) چي د يو بل اور ونه ويني (يعني چي اور بل کړل سي نو معلوم نسي). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۰۴، رقم: ۲٦۴۵.

د لغاتو حل: خثعم: قبيلة من اليمن. (د يمن يوه قبيله)

تشريح: رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه مقتولينو د مسلمان کېدو د علم کېدو سربېره د هغوی وارثان د

پوره ديت ورېو نه ګرځول بلکه د نيم ديت ورکولو حکم يې وکړ، ددې سبب دا وو چې هغه خلکو د مشرکينو په مينځ کې د هستوګنې په اختيارولو سره ګويا په خپل قتل کې مرسته وکړه لکه ځرنګه چې رسول الله ﷺ ددې اظهار هم وفرمايه چې زه د هر هغه مسلمان ځخه بېزاره يم کوم چې د مشرکينو او کفارو په مينځ کې هستوګنه کوي.

چې هغوی په خپلو کې د يو بل اور ونه ليدای سي، مطلب دادی چې مسلمان او کافر دې د يو بل ځخه دومره ليري اوسيږي که چيري دواړه اور بل کړي نو د مسلمان اور کافر ته ونه رسيږي او د کافر اور مسلمان ته ونه رسيږي لکه ځرنګه چې په ژباړه کې وضاحت سوی دی، په دغه جمله کې د رسول الله ﷺ د هغه بيزارۍ علت مذکور دی چې رسول الله ﷺ د کافرانو په مينځ کې د اوسيدونکو مسلمانانو په اړه ظاهر کړی دی.

بېله پلټنې ځوک مه وژنئ

﴿٣٣٩٣﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ قَيَّدَ الْفَتْكَ لَا يَفْتِكُ مُؤْمِنٌ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ځخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايمان د ناڅاپه قتل ځخه منع کوي، مؤمن سړی دې ناڅاپه ځوک نه قتلوي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣\ ٢١٢، رقم: ٢٧٦٩.

تشريح: د حديث خلاصه داده چې مسلمان بايد په غفلت کې يو ځوک قتل نه کړي او يو ځوک د هغه د حال د تحقيق او پلټنې ځخه پرته چې هغه مسلمان دی که کافر دې قتل نه کړي، ذمي کافر د اسلامي حکومت له خوا د هغه ځان او مال د ساتنې د عهد او يقين ورکولو په سايه کې وي ځکه د هغه هم دا حکم دی چې هغه دې نه قتل کيږي مګر که يو مفسد او غدار وي چې هغه د مسلمانانو په تاوان پسې لګيدلی وي او فتنه او فساد خپروي نو د هغه خبره بېله ده، لکه ځرنګه چې کعب ابن اشرف يهودي يا ابورافع يهودي ناڅاپه قتل کړل سو ددې ځخه پرته دا دواړه خلک چې رسول الله ﷺ قتل کړل هغه د الله تعالی خاص حکم دی او ځيني حضرات دا هم وايي چې ددغه دواړو قتل ددغه منع ځخه مخکې واقع سوی دی.

د غلام مرتد كېدل

﴿۳۳۹۴﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جرير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي غلام شرک ته وتښتي نو د هغه وژل حلال دي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۲۸، رقم: ۴۳۶۰.

تشريح: د هغه وژل به حلال وي: ددې مطلب دادی که چيري داسي غلام قتل کړل سي نو د قاتل څخه به مؤاخذه نه کيږي او نه به پر هغه څه واجب وي ددې لپاره چي هغه غلام د مشرکانو ساتنه اختيار کړې ده او دارالاسلام يې پرې ايښی دی او که چيري د يو غلام دارالحرب ته وتښتي بلکه مرتد هم سي نو د هغه قتلول به په اعلی طريقه حلال وي.

د رسول الله ﷺ بې ادبي كوونكی...

﴿۳۳۹۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوې يهودۍ ښځي په رسول الله ﷺ پسي بد ويل او د

وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ فَأَبْطَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا. رواه ابوداؤد.

رسول الله ﷺ عيب به يې وايه، يوه سړي دا خفه کړه تر څو چي مړه يې کړه، نبي کريم ﷺ د هغې وينه باطله (معاف) کړه. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۲۹، رقم: ۴۳۶۲.

تشريح: په دغه حديث کي ددې دليل دی که يو ذمي کافر د رسول الله ﷺ په مبارک شان کي بې ادبي وکړي نو هغه خپل عهد مات کړی چي د هغه په وجه په اسلامي حکومت کي هغه ته د خپل ځان او مال ساتنه تر لاسه وه او هغه د مباح الدم حربي په ډول کيږي لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمه الله مذهب دی مګر امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله وايي چي ددې په وجه د هغه ذمي عهد نه ماتيږئ دا مذهب د فقهي په کتابو کي د کتاب الجزيه په آخر کي ذکر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

﴿۳۳۹۷﴾: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ خَرَجَ يُفَرِّقُ بَيْنَ أُمَّتِي فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ . رواه النسائي .

د حضرت اسامة بن شريک رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چي زما د امت د بيلولو لپاره ووځي نو د هغه غاړه ووهئ (پرې کړئ) . نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۷\ ۹۳، رقم: ۴۰۲۳.

تشريح: د وخت امام او خليفه د اتحاد او اجتماعيت بنيادي محور وي ، د هغه اطاعت او فرمانبرداري پر هر مسلمان باندي ځکه لازم ده چي ددې په وجه نه يوازي دا چي د اسلام د تعليم اجتماعيت تقاضا پوره کيږي بلکه مسلمانان د يوه بيرغ لاندي متفق او معتمد کېدو سره د اسلام دښمن او د مسلمان مخالف طاقتونو په مقابله کي يو ټينګ پاڼ جوړيږي او همدارنګه هغوی د اسلام د شان او شوکت پاته ساتلو فريضه پوره کوي مګر که چيري يو سړی په دغه اجتماعي دائره کي نه وي نو هغه يوازي د يوې بدۍ کونکی نه دی بلکه د پوره امت د اتفاق او اتحاد ختمولو هڅه کوي ځکه فرمايل سوي دي که يو مسلمان د وخت د امام پر خلاف سرکښي او بغاوت اختيار کړي او که هغه ته يو شک او شبه وي يا يو اعتراض وي نو د هغه شک او شبه او اعتراض دي ليري کړل سي مګر ددې سربيره که چيري هغه د خپل دغه حرکت څخه منع نه سي او د أصلاح يو کوښښ د هغه د سرکښۍ او بغاوت څخه منع نه کړي نو بيا هغه دي قتل کړل سي لکه څرنګه چي حضرت علي رضی الله عنه د خوارجو سره وکړل.

د خوارجو په اړه پيشګوئي

﴿۳۳۹۸﴾: وَعَنْ شَرِيكِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ كُنْتُ أَتَمَنَّى أَنْ أَلْقَى رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ

د حضرت شريک بن شهاب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي زه په دې اميد وم چي د رسول الله ﷺ يو صحابي ووينم ،

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ عَنِ الْخَوَارِجِ فَلَقِيتُ أَبَا بَرْزَةَ فِي يَوْمِ عِيدٍ

او د هغه څخه د خوارجي حال و پوښتم، (يعني کوم خوارج چي نن سبا پيدا سوي دي ايا د دوی

په اړه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي) نو د اختر په ورځ زه د ابوبرزه سره يو ځاى سوم چي

فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقُلْتُ لَهُ هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَذْكُرُ الْخَوَارِجَ قَالَ

د ملګرو يوه ډله ورسره وه. ما د هغه څخه پوښتنه وکړه ايا تا د رسول الله ﷺ څخه د خوارجو په اړه څه اوريدلي دي ، هغه وويل :

نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ بِأُذُنِي وَرَأَيْتُهُ بِعَيْنِي أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

هو ما د رسول الله ﷺ څخه په خپلو غوږو سره اوريدلي دي او په خپلو سترګو سره مي ليدلي دي ، يو وار رسول الله ﷺ ته مال راغلئ ،

وَسَلَّمَ بِمَالٍ فَقَسَمَهُ فَأَعْطَى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ وَمَنْ عَنْ شِمَالِهِ وَلَمْ يُعْطِ مَنْ

رسول الله ﷺ هغه د خپل راسته او چپه لوري په خلكو وويشئ او كوم خلك چي شاته ناست وه هغوى ته يې هيڅ ورنه كړل ،

وَرَاءَهُ شَيْئًا فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ مَا عَدَلْتَ فِي الْقِسْمَةِ رَجُلٌ

د رسول الله ﷺ د شا د لوري څخه يو سړى ولاړ سو او عرض يې وكړ اې محمد ﷺ! تا انصاف

أَسْوَدُ مَطْمُومُ الشَّعْرِ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَبْيَضَانِ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ونه كړ دا سړى تور وو ، وريښتان يې خريلي وه او دوې سپيني جامې يې اغوستي وي ، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ په غصه سو

وَسَلَّمَ غَضَبًا شَدِيدًا وَقَالَ وَاللَّهِ لَا تَجِدُونَ بَعْدِي رَجُلًا هُوَ أَعْدَلُ مِنِّي ثُمَّ

او وه يې فرمايل : قسم په الله ! زما څخه وروسته به تاسو هيڅوك زيات انصاف كونكى بيا تر لاسه نه كړئ ، د دې وروسته

قَالَ يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ كَأَنَّ هَذَا مِنْهُمْ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ

رسول الله ﷺ وفرمايل : په آخره زمانه كي به يو قوم پيدا اسي (مطلب دا سړى د هغه قوم څخه دئ) هغه قوم به قرآن وايي مګر قرآن به د هغو د حلق څخه نه وځي

تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ سِيمَاهُمُ

هغوی به د اسلام څخه داسي ووځي لکه څرنګه چي غشی د ښکار لپاره وځي د هغوی نښه به

التَّحْلِيقُ لَا يَزَالُونَ يَخْرُجُونَ حَتَّى يَخْرُجَ آخِرُهُمْ مَعَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ

فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ. رواه النسائي.

سر خریل وي دا قوم به همیشه کرار راوځي تر څو چي د دوی آخري سړی به مسیح دجال سره خروج وکړي ، هر کله چي تاسو هغوی سره یو ځای سئ نو هغوی مړه کړئ ، هغوی په انسانانو او حیوانانو کي بد مخلوق دي ، نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۷\۱۱۹، رقم: ۴۱۰۳.

د قیامت په ورځ به د اهل حق مخان منور او د اهل باطل مخان توروي

﴿۳۳۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي غَالِبٍ قَالَ رَأَى أَبُو أُمَامَةَ رُءُوسًا مَنْصُوبَةً عَلَى دَرَجِ

د حضرت ابو غالب رحمه الله څخه روایت دئ چي ابو امامة د دمشق په لاره کي سرونه زړيدلي وليدل

دِمَشْقَ فَقَالَ أَبُو أُمَامَةَ كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ خَيْرُ قَتْلَى

، ابو امامة وويل دا د دوږخ سپي دي، او تر آسمان لاندي بدترين مقتولان هم دادي خو چا چي دوی وژلي دي هغه ډير ښه وژونکي دي، بيا

مَنْ قَتَلُوهُ ثُمَّ قَرَأَ { يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ }إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قُلْتُ

هغه دا آیت ووايه : يوم تبيض وجوه وتسود وجوه، (په هغه ورځ به ډير مخونه سپين وي او ډير به توروي) ابو غالب وايي ، ما د ابو امامة څخه پوښتنه وکړه

لِأَبِي أُمَامَةَ أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ لَمْ

تا دا خبره د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي ده ؟ هغه وويل که ما نه وای

أَسْمَعْهُ إِلَّا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ حَتَّى عَدَّ سَبْعًا مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ . رواه

الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن.

اوريدلې مګر يو واريا دوه واره يا درې واره يا تر څو چې اووه واره يې وشمېرل نو هيڅکله به مې تاته نه بيانولای . ترمذي، او ابن ماجة . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دی .

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٢١٠، رقم: ٣٠٠٠، وابن ماجه ١\ ٦٢، رقم: ١٧٦١.

د لغاتو حل: درج: ای طريقة. (لاره)

تشريح: حضرت ابو امامه رضي الله عنه چې کوم آيت وو ايه هغه پوره آيت دا سي دی :

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكْفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُواْ الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ . سورة آل عمران ١٠٦.

ژباړه : په هغه ورځ به ډېر مخونه سپين (منور) وي او ډېر مخونه به تور وي نو د چا مخونه چې تور وي هغوی ته به وويل سي چې تاسو د ايمان راوړلو څخه وروسته بيا کافر سوي ياست تاسو چې کوم کفر کړی دی د هغه په بدله کي عذاب وڅکئ .

په حديث کي چې د کومو خلکو د سرونو ذکر سوی دی د هغوی په باره کي علماء کرام وايي چې هغوی مرتد وه او ځيني حضرات وايي چې بدعتيان وه حال دا چې د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چې هغوی خوارج وه .

==========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ الْحُدُوْدِ

(د حدودو بيان)

د حد معنى : حدود د حد جمع ده او د حد اصل معنى د ممنوع ده او هغه شي ته هم حد ويل كيږي كوم چي د دوو شيانو په مينځ كي حائل وي، د شريعت په اصطلاح كي حدود هغه سزاوو ته وايي كوم چي د الله ﷻ د كتاب او د رسول ﷺ د سنتو څخه ثابت او متعين وي لكه غلا، زنا، د شرابو څښلو او داسي نوري سزاوي، د حد لفظ اصل معنى د ممنوع يا حائل په فكر كي ساتلو سره دا واضح كيږي چي شرعي سزاوو ته حدود له دې كبله وايي چي دغه سزاوي بندګان په ګناهو كي د اخته كېدو څخه منع كوي او د هغه بيره د انسان او جرم په مينځ كي حائل وي.
حدود الله د محارم په معنى كي هم نقل سوي دي لكه څرنګه چي الله تعالى فرمايلي دي : (تلک حدود الله فلا تقربوها)، همدارنګه مقادير شرعي يعني د درو طلاقو تاكل او داسي نورو معناوو كي هم نقل سوي دي لكه څرنګه چي الله تعالى فرمايلي دي (تلک حدود الله فلا تعتدوها) مګر واضحه دي وي چي په دغه دواړو كي هم د حدود اطلاق پر اصل معنى يعني ممنوع په اعتبار دى چي د محارم قربت يعني د هغوى سره نكاح او خلوت هم ممنوع دى او د مقادير شرعي څخه تجاوز كول هم ممنوع دى.
د سزاوو تفصيل : شرعي قانون چي د جرم او سزا كومه قاعده ټاكلې ده په هغه كي د فكر كولو څخه معلوميږي چي په شريعت كي سزاوي پر درې ډوله دي ۱: هغه سزاوي چي الله تعالى ټاكلي دي مګر د هغه اجراء يې بندګانو ته پرې ايښى وي او په هغه كي د يو خارجي طاقت لكه حاكم يا حكومت دخل نه سته ، شريعت د داسي سزا نوم كفاره ايښى دى لكه د قسم په خلاف كولو يا په رمضان كي بېله شرعي عذر د روژې ماتولو كفاره.
۲: هغه سزاوي چي د كتاب الله او سنت رسول الله څخه ثابتي دي او ورسره متعين دي، د دغه سزاوو د جاري كولو اختيار حاكم يا حكومت ته دى مګر په دې كي د قانون جوړوني حق هيڅا ته نه سته داسي سزا ته په شريعت كي حد وايي لكه د غلا، زنا، شراب څښلو او داسي نوري سزاوي، ۳: هغه سزاوي چي كتاب الله او سنت رسول الله ټاكلي نه دي مګر د كومو خرابو كارو چي دغه سزاوي دي هغه يې د جرمو په فهرست كي داخل كړي دي او د سزا ټاكل يې حكومت يا

حاكم ته سپارلي دي چي هغه د وخت، محال او ضرورت سره سم سزا وټاکي، يعني په داسي سزا کي حکومت ته د قانون جوړوني حق هم حاصل دی مګر په دغه دائره کي په دننه پاته کېدو سره کوم چي شريعت ټاکلي دي، داسي سزا ته په شريعت کي تعزير ويل کيږي.

په حد او تعزير کي فرق: په حد او تعزير کي بنيادي فرق دادی چي حد په شريعت کي عقوبت دی چي د الله تعالی حق ګرځول سوی دی ځکه نو دې ته حق الله ويل کيږي په دې وجه چي په دې کي هيڅ بنده ته تصرف نه سته او تعزير ته حق العباد ويل کيږي په دې وجه چي بنده په دې کي تصرف کولای سي يعني که يو حکمت ووينې نو د تعزير وړ مجرم معاف کولای هم سي او د موقع، محل او جرم د نوعيت په اعتبار په سزا کي کمي او زياتوب او تغير او تبديل هم کولای سي، خلاصه دا چي حد د الله تعالی له خوا ټاکلی دی چي په هغه کي هيڅ تصرف ممکن نه دی او تعزير د قاضي يا حکومت له خوا وي، ددغه د عدم تقدير او تحقيق په وجه تعزير ته حد نه سي ويل کيدای.

قصاص هم د بنده حق دی چي هغه په خپل اختيار سره مجرم معافولای سي ځکه دې ته هم حد نه سي ويل کيدای، قصاص هم د الله تعالی له خوا ټاکلی سوې سزا ده او په دغه ټاکل سوي سزا کي هيڅ بنده ته د رد او بدل هيڅ حق نه سته په دې اعتبار سره قصاص هم په حد کي شمېرل کيدای سي ځکه فقهاء قصاص ته حد هم وايي او تعزير هم ورته وايي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ له خوا د زنا د يوې مقدمې فيصله

﴿٣٤٠٠﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه او حضرت زيد بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دوه کسان رسول الله

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ وَقَالَ الْآخَرُ

ﷺ ته په شخړه راغلل، په هغوی کي يوه وويل (اې د الله رسوله!) زموږ په منځ کي د کتاب الله سره سمه پريکړه وکړه، دويم وويل:

أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ وَأْذَنْ لِي أَنْ أَتَكَلَّمَ قَالَ تَكَلَّمْ قَالَ

هو، اې د الله رسوله! زموږ په منځ کي د کتاب الله سره سم حکم وکړئ، او ما ته د ويلو اجازه راکړئ، او ما ته د پېښي بيانولو

اجازت راکړئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: وو وایه! هغه وویل:

إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هَذَا فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ

زما زوی دد غه سړي سره مزدور وو، هغه دده د ښځې سره زنا وکړه، خلکو ما ته وویل ستا زوی به سنګسار سي،

فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَبِجَارِيَةٍ لِي ثُمَّ إِنِّي سَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ

ما د هغه په بدله کي سل پسونه او یوه مینزه ورکړه، بیا ما د علماؤ څخه د مسئلې پوښتنه وکړه هغوی وویل:

مَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَإِنَّمَا الرَّجْمُ عَلَى امْرَأَتِهِ فَقَالَ رَسُولُ

ستا زوی به سل دورې وهل کیږي، او د یوه کال لپاره به جلا وطنه کیږي او هغه ښځه به سنګسار کیږي ځکه چي هغه واده سوې ده، ددې پېښې په اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل:

اللَّهِ ﷺ أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللَّهِ أَمَّا غَنَمُكَ

خبردار! قسم دی په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده زه به ستاسو په منځ کي د کتاب الله سره سمه پریکړه وکړم ستا وینځه او ستا پسونه به

وَجَارِيَتُكَ فَرَدٌّ عَلَيْكَ واما ابنك فعليه جَلْدَ مِائَةً وَتغريب عَامًا واما انت يا

تاته بیرته درکول کیږي او ستا زوی به سل دورې وهل کیږي او د یوه کال لپاره به جلا وطن کیږي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل اې

انيس فاعد الى امراة هذا فان اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا فَاعْتَرَفَتْ فَرَجَمَهَا. متفق عليه

انیس! ته هغه ښځي ته ورسه، که هغه د جرم اقرار وکړي نو هغه سنګسار کړئ نو هغې ښځي اقرار وکړ او انیس هغه سنګسار کړل. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\ ٥٢٣، رقم: ٦٦٣٣، ومسلم ٣\ ١٣٢٤، رقم: ٢٥- ١٦٩٧.

د لغاتو حل عسيفا: اى اجيرا ثابت الاجرة. (مزدور)

تشريح د کتاب الله څخه مراد قرآن کریم نه دی بلکه د الله تعالی حکم مراد دی ځکه چي په

قرآن کریم کي د رجم حکم مذکور نه دی مګر دا هم احتمال دی چي د کتاب الله څخه قرآن کریم مراد وي په دغه صورت کي به ویل کیږي چي دغه واقعه د هغه وخت ده کله چي د رجم آیت د قرآن کریم څخه منسوخ التلاوت سوی نه وو.

د یوه کال لپاره به د وطن څخه وایستل سي: په دې باره کي د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چي د یو کال جلا وطني هم په حد کي داخله ده یعني د هغه په نزد د ناواده سوي زنا کونکي حد دادی چي هغه سل دُرې ووهل سي او د یوه کال لپاره جلا وطنه هم کړل سي حال دا چي امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله د یوه کال جلاوطني پر مصلحت باندې محمول کوي او وايي چي یو کال جلا وطني د حد په توګه نه ده بلکه د مصلحت په توګه ده که چیري د وخت امام یا حکومت د یو سیاسي او حکومت مصلحت سره سم دا ضروري وګڼي نو د یوه کال لپاره دې یې جلا وطنه کړي، ځیني حضرات وايي چي د اسلام په شروع کي دا حکم نافذ او جاري وو مګر کله چي دغه آیت کریمه (الزانیة والزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة) یعني زنا کونکې او زنا کونکی دې په سلو دُرو ووهل سي، نازل سو نو دا حکم منسوخ سو.

فاعترفت فرجمها: یعني هغه ښځې اقرار وکړ او حضرت انیس رضي الله عنه هغه سنګسار کړل، ددې څخه په ظاهره دا معلومیږي چي د زنا د حد جاري کېدو لپاره یو وار اقرار کول کافي دي لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمه الله مذهب دی مګر امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله وايي چي په څلورو مجلسو کي څلور واره اقرار کول ضروري دي، دلته په حدیث کي چي د کوم اقرار ذکر سوی دی ددې څخه امام ابو حنیفة رحمه الله هغه اقرار (یعني څلور واره) مراد اخلي چي په دې باره کي معتبر او مقرر دی د نورو حدیثو څخه دا صراحتا ثابت دي چي څلور واره اقرار کول ضروري دی.

د غیر محصن زنا کونکي سزا

﴿٣٤٠١﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ فِيمَنْ زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ. رواه البخاري.

د حضرت زید بن خالد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د بې واده واده سړي زناکار لپاره دا حکم اوریدلی دئ چي هغه دي سل دورې ووهل سي او د یوه کال لپاره دي د وطن څخه وشړل سي. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٥٦، رقم: ٦٨٣١.

تشريح محصن هغه عاقل او بالغ مسلمان ته وايي چي واده يې كړى وي او د خپل ښځي سره يې كورالي هم كړې وي، غير محصن سړى كه چيري زنا وكړي نو د هغه سزا د دغه حديث سره سم سل دُرې او د يوه كال جلاوطني ده، د جلا وطنۍ په باره كي چي كوم تفصيل دى هغه مخكي بيان سوى دى، په دُرو باندي د وهلو په باره كي دا حكم دى چي پر سر، مخ او ستر باندي ونه وهل سي.

د محصن زناكونكي سزا

﴿۳۴۰۲﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي الله تعالى محمد ﷺ د حق سره راليږلى دئ

وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ رَجَمَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ

او پر هغوى يې خپل كتاب نازل كړى دئ په هغه كي د سنگسارۍ آيت هم سته، رسول الله ﷺ

وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ وَالرَّجْمُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى إِذَا أَحْصَنَ مِنَ الرِّجَالِ

سنگسارى كړى وو او د هغوى څخه وروسته موږ هم سنگسار كړى دئ او رجم د الله تعالى په كتاب كي ثابت دئ پر هغه سړي چي زنا وكړي او هغه واده كړى وي كه هغه سړى وي

وَالنِّسَاءِ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الْاِعْتِرَافُ. متفق عليه.

يا ښځه، كله چي شاهدان موجود وي يا حمل ښكاره سي يا د جرم اقرار وي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٣٧، رقم: ٦٨٢٩، ومسلم ٣\١٣١٧، رقم: ١٥- ١٦٩١.

تشريح په مخكني حديث كي د هغه زنا كونكي سزا بيان سوې وه چي هغه غير محصن وي، كوم څوك چي د محصن كېدو سربېره زنا وكړي او د هغه جرم ثابت سي نو د هغه سزا رجم يعني سنگسارول دي چي هغه په ډبرو ويشتلو سره مړ كړل سي.

د كوم آيت څخه چي د رجم حكم ثابت دى هغه مخكي په قرآن كريم كي موجود وو مگر وروسته د هغه تلاوت منسوخ سو يعني د هغه الفاظ په قرآن كريم كي پاته نه كړل سول مگر د هغه حكم پاته سو هغه آيت دادى:

الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما البتة نکالا من الله والله عزیز حکیم.

د حدیث په آخر کي د جرم د ثبوت لپاره په درو شیانو کي یو ضروري ګرځول سوی دی یعني ۱: شاهد، ۲: محل، ۳: اقرار، په دغه درو شیانو کي د حمل تعلق د هغه ښځي سره دی چي بې خاونده وي مګر د هغې حکم هم منسوخ سوی دی او د شاهدانو او اقرار اوس هم موجود دی چي محصن زنا کونکي دی هغه وخت سنګسار کړل سي کله چي د هغه جرم د شاهدانو په ذریعه ثابت سي یا هغه خپله د خپل جرم اعتراف او اقرار وکړي.

واده سوی زنا کونکی دي سنګسار کړل سي

﴿۳۴۰۲﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذُوا

د حضرت عبادة بن صامت رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما څخه (د زناکار

عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا اَلْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتغريب عَامٍ وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ. رواه مسلم.

او زناکارې په اړه) حکم تر لاسه کړئ (او) زما څخه (د دوی په اړه) حکم واخلئ، الله تعالی د ښځو لپاره یوه طریقه ټاکلې ده، نا واده ښځه که د نا واده سړي سره زنا وکړي نو سل دوړې دي ووهل سي او د یوه کال لپاره دي جلاوطن کړل سي او واده کړی سړی که د واده سوي ښځي سره زنا وکړي نو سل دوړې دي ووهل سي او دواړه دي سنګسار سي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۳۱٦، رقم: ۱۲-۱٦۹۰.

تشریح: الله ﷻ د ښځو لپاره لاره ټاکلې ده: دا په اصل کي د دغه آیت کریمه وضاحت دی:

أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلاً.

علامه توربشتي رحمه الله وایي چي رسول الله ﷺ دغه ارشاد هغه وخت فرمایلي دی کله چي د زاني او زانیه لپاره حد مشروع سوی وو، د رسول الله ﷺ په ارشاد کي د لاري څخه مراد حد دی چي تر دې مخکي مشروع سوی نه وو بلکه په دې باره کي هغه حکم مشروع وو کوم چي په دغه آیت کریمه کي ذکر دی:

وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُواْ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىَ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلاً.

ژباړه : ستاسو په ښځو کي چي کومه ښځه د بې حيايي کار وکړي پر هغوی باندي په خپلو کي څلور کسان شاهدان کړئ که هغوی شاهدي ورکړي نو تاسو هغوی په کورو کي بندي کړئ تر دې چي مرګ د هغې خاتمه وکړي يا الله تعالى د هغوی لپاره يو لار وټاکي.

خلاصه دا چي الله تعالى په دغه آيت کي دا فرمايلي دي چي کله ښځي زنا وکړي او د شاهدانو په ذريعه د هغوی جرم ثابت سي نو هغوی په کور کي بندي کړئ تر دې چي په دغه بند کي مړې سي ، او يا د الله تعالى له خوا د هغوی لپاره يو لار يعني يو حد وټاکل سي ، کله چي الله تعالى د حد حکم نازل کړ نو رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايه چي الله تعالى د ښځو لپاره دغه لار يعني حد وټاکلی دی ، بيا د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ د حد وضاحت وفرمايه .

د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه که چيري يو محصن (واده سوی) زنا وکړي نو هغه دي سل دُرې ووهل سي او سنګسار دي هم کړل سي لکه چي په علماء ظواهر ، صحابه کرام او تابعينو کي ځينو کسانو په دې عمل کړی دی مګر د جمهورو علماؤ په اتفاق سره دا فيصله ده چي کوم زنا کونکی د سنګسار وړ وګرځول سي د هغه په باره کي د سل دُرو سزا کالعدم وي يعني هغه به يوازي سنګسار کيږي په سلو دُرو به نه وهل کيږي ځکه دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ ماعز (چي د واده کېدو سربېره يې زنا کړې وه) يوازي سنګسار کړی وو او د هغه د سل دُرو وهلو حکم يې نه وو کړی ، همدارنګه په راتلونکي حديث کي چي د يوې غامديه ښځي کومه واقعه بيان سوې ده يا د حضرت انيس رضي الله عنه چي کوم حديث مخکي تېر سوی دی د هغه څخه هم دا ثابتيږي .

﴿۳۴۰۴﴾ : وَعَنْ عبدالله ابْنِ عُمَرَ أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي د يهودو يوه ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ

حاضره سول عرض يې وکړ چي د هغوی د قوم څخه يو سړی او يوې ښځي زنا کړې ده ، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل :

ﷺ مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الرَّجْمِ قَالُوا نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ قَالَ

تاسو په تورات کي د رجم په اړه څه تر لاسه کوئ؟ هغوی عرض وکړ موږ زنا کوونکی ذليل او

رسوا كوو، او هغوى په دورو وهل كيږي،

عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ كَذَبْتُمْ إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا فَوَضَعَ

عبد الله بن سلام ورته وويل: تاسو درواغ واياست، تورات راوړئ په هغه كي د رجم حكم هم سته، هغوى تورات راوړ او په هغوى كي تورات راوړونكي سړي د رجم پر آيت

أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ فَقَرَأَ مَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ

لاس كښېښودئ او هغه يې پټ كړ او مخكي او وروسته آياتونه يې وويل، عبد الله بن سلام

سَلَامٍ ارْفَعْ يَدَكَ فَرَفَعَ يَدَهُ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ فَقَالُوا صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ

ورته وويل خپل لاس ليري كړه نو وه يې ليدل چي هلته د رجم آيت موجود وو، يهودو وويل: عبد الله بن سلام رښتيا وويل

فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ فَأَمَرَ بِهِمَا النبي ﷺ فَرُجِمَا. و في رواية قَالَ ارْفَعْ يَدَكَ

په دې كي د رجم آيت موجود دئ، بيا رسول الله ﷺ پر هغه دواړو زناكونكو باندي د رجم حكم وكړ، او هغوى سنګسار كړل سول، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي عبد الله بن سلام وويل

فَرَفَعَ فَإِذَا آيَةُ الرَّجْمِ تَلُوحُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ انَّ فِيهَا آيَةَ الرَّجْمِ وَلٰكِنَّنَا

خپل لاس ليري كړه هغه چي خپل لاس ليري كړ نو هلته د رجم آيت موجود وو، لاس اېښودونكي وويل اې محمد! په تورات كي د رجم آيت موجود دئ مګر موږ

نَتَكَاتَمُهُ بَيْنَنَا فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا. متفق عليه.

دا پټوو، نو رسول الله ﷺ د دواړو د سنګسارولو حكم وكړ او هغوى سنګسار كړل سول، بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٦٦، رقم: ٦٨٤١، ومسلم ٣\١٣٢٦، رقم: ٢٦-١٦٩٩.

تشريح حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه مخكي يهودي وو مګر الله تعالى هغه د هدايت پر لار روان كړ او مسلمان سو، نو موږي په يهودو كي د لوړي درجې د عالمانو څخه شمېرل كيدى او په تورات باندي يې پوره عبور درلودى، په مجلس نبوي كي چي يهودو د خپل روايتي تلبيس

او تحریف څخه کار اخیستی او رسول الله ﷺ ته یې دا ویل چې په تورات کې د زنا کونکی د سنګسارولو حکم نه سته بلکه موږ په تورات کې دا لیدلي دي چې کوم سړی زنا وکړي هغه دي د تعزیر په توګه ذلیل او خوار کړل سي او په دُرو دي ووهل سي ، حضرت عبد الله ابن سلام رضي الله عنه د هغوی تکذیب وکړ او وه یې ښوول چې تاسو کومه خبره کوئ هغه تحریف دی په تورات کې هم دا حکم موجود دی او بیا چې کله یې تورات را وغوښتی نو په هغه کې د ذکر سوي د رجم د آیت ښوول یې وغوښتل نو پر هغه وخت هم یهودو خپل عیاري او مکاري وښوول او په هغوی کې یو سړي چې د هغه نوم عبد الله ابن صوریا وو پر هغه ځای خپل لاس کښېښود چیري چې د رجم آیت ذکر وو او د هغه مخکي او روسته آیاتو نه ویل یې شروع کړل مګر عبد الله ابن سلام رضي الله عنه د هغوی ددغه عیاری راز څرګند کړل .

که چیري دلته دا اشکال پیدا سي چې د رجم سزا کېدو لپاره محصن کېدل ضروري دي او د محصن کېدو لپاره مسلمان کېدل شرط دي نو رسول الله ﷺ هغه یهودیانو ته چې مسلمانان نه وو د رجم حکم ولي ورکړ .

ددې جواب دادی چې رسول الله ﷺ هغه یهودیانو ته د رجم حکم ځکه ورکړ چې هغه د تورات د حکم لاندي وه او د یهودیانو په مذهب کې د رجم سزا لپاره محصن کېدل شرط نه وه ، او بیا دا چې رسول الله ﷺ په دې باره کې مخکي د تورات په حکم عمل کوی مګر کله چې په قرآن کریم کې ددغه حکم نازل سو نو د تورات حکم منسوخ سو .

دلته دا ښوول هم ضروري دي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد د محصن کېدو لپاره مسلمان کېدل شرط نه دي یعني د هغه په مذهب کې د محصن اطلاق پر هغه واده سوي سړي باندي هم کیږي چې مسلمان نه وي او د حنفیه په مذهب کې د امام ابویوسف رحمه الله هم یو قول دادی.

دلته دا اشکال هم پیدا کیږي چې رسول الله ﷺ محصن د یهودیانو په وینا هغه دواړه څرنګه سنګسار کړل ځکه چې د یهودیانو شاهدي خو معتبره نه ده ؟ ددې جواب دادی چې دا څه ضروري دي چې رسول الله ﷺ یوازي د هغه یهودیانو په وینا حکم نافذ کړی وي بلکه په ظاهره دا مفهوم کیږي چې یا خو هغه دواړه د زنا اقرار کړی دی یا د هغوی د زنا به څلور شاهدان تېر سوي دي او په هغه وجه به رسول الله ﷺ هغه دواړه سنګسار کړي وي .

دلته ملا علي قاري رحمه الله په تفصیل سره بحث کړی دی چې دلته یې یوازي خلاصه نقل سوې ده ، عالمان د هغه په کتاب (مرقاة) کې نور تفصیل کتلای سي.

د زنا د اقرار كونكي مجرم په باره كي د رسول الله ﷺ فيصله

﴿۳۴۰۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ وَهُوَ فِي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ په مسجد كي وو چي يو سړى راغلى

الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

او نعره يې وكړه اې د الله رسوله ! ما زنا كړې ده ، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوئ ،

وَسَلَّمَ فَتَنَحَّى لِشِقِّ وَجْهِهِ الَّذِي أَعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ

هغه سړى بيا رسول الله ﷺ ته ورمختنه سو او وه يې ويل ما زنا كړې ده ، رسول الله ﷺ بيا مخ

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا شَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ

ځيني واړوئ ، هر كله چي هغه څلور واره دغه الفاظ وويل او شهادت پوره سو نو نبي كريم ﷺ ځان ته نژدې راوبلې او ورته وه يې فرمايل :

أَبِكَ جُنُوْنٌ قَالَ لَا فَقَالَ أَحْصَنْتَ قَالَ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اذْهَبُوا بِهِ

ايا ته ليونى يې ، هغه عرض وكړ : يا ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا تا واده كړى دئ؟ هغه عرض وكړ چي هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل دئ بوځئ

فَارْجُمُوْهُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِاللّٰهِ يَقُوْلُ

او سنگسار يې كړئ ، ددې حديث د يو راوي ابن شهاب رحمه الله بيان دئ چي ما ته هغه سړي چي هغه د جابر بن عبدالله څخه دا اوريدلي وه چي وه يې ويل

فَرَجَمْنَاهُ بِالْمَدِيْنَةِ فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ حَتَّى أَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ

موږ په مدينه منوره كي هغه سړى سنگسار كړ كله چي د هغه بدن په ډبرو ولگيدئ نو هغه وتښتېدئ تر دې چي موږ هغه د مديني په ډبرينه مځكه كي راونيوئ

فَرَجَمْنَاهُ حَتَّى مَاتَ متفق عليه و في رواية للبخاري عن جابر بعد قوله

او بیا مو سنگسار کړ تر څو چي هغه مړ سو . بخاري او مسلم، د بخاري په روايت کي چي د جابر ﷺ څخه نقل دي دا الفاظ دي

قال نعم فامر به فرجم بالمصلى فلما اذلقته الحجارة فر فادرك فرجم حتى مات فقال له النبي صلى الله عليه وسلم خيرا وصلى عليه .

کوم وخت چي هغه سړي د واده کېدو اقرار وکړ ، رسول الله ﷺ د هغه د سنگسارولو حکم وکړ نو هغه په عیدگاه کي سنگسار کړل سو ، کله چي هغه په ډبرو ولگيدئ نو هغه وتښتېدئ هغه ونيول سو او بيا سنگسار کړل سو تر څو چي هغه مړ سو د هغه د مرگ وروسته رسول الله ﷺ د هغه تعريف وکړ او د هغه د جنازې لمونځ يې ادا کړ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) : ١٢\١٣٦، رقم: ٦٨٢٥، ومسلم٣\١٣١٨، رقم: ١٦- ١٦٩٢.

د لغاتو حل: اذلقته: اى اصابته بحدها فعقرته.

تشريح: هغه څلور واره اقرار وکړ : يعني هغه سړي د څلورو خواوو څخه په راتلو سره د رسول الله ﷺ په مخکي د خپل جرم اقرار وکړ او هر وار يې د مجلس په بدلولو سره همدارنگه په څلورو مجلسونو کي څلور واره د خپل جرم اقرار وکړ ، امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله د هغه د رسول الله ﷺ په مخکي څلور خواوو څخه په راتلو سره اقرار کولو څخه دا استدلال کړی دی چي د زنا د جرم د ثبوت لپاره د ملزم په څلورو مجلسونو کي څلور واره اقرار کول شرط دي .

ايا ته ليونى يې : يعني پر تا باندي ليونتوب خپور دی چي خپله گناه په خپله ښکاره کوې او د سنگسارېدو په ذريعه د خپل هلاکت سبب گرځې ، حالانکه پکار خو دا وه چي ته الله جل جلاله ته توبه او استغفار وکړې او د راتلونکي لپاره د هري بدۍ څخه د ځان ساتني پخه اراده وکړې ، علامه نووي رحمه الله وايي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد مقصد د هغه سړي د حال تحقيق کول وو ځکه چي په عامه توگه سره هيڅ انسان د خپل جرم او گناه پر اقرار باندي ټينگار نه کوي چي د هغه په سزا کي هغه مرگ ته مخامخ سي بلکه هغه په دې کي د خپل خلاصون لاره لټوي چي پر خپل گناه باندي په پښېمانه کېدو سره توبه او استغفار وکړي او د دې په ذريعه خپله گناه ختم کړي .

خلاصه دا چي دغه ارشاد دا خبره واضح کوي چي په داسي معاملاتو کي د مسلمان د حالت په تحقيق او پلټنه کي پوره کوښښ کول پکار دي چي د يو جرم په سزا کي د يو مسلمان د ځان ساتني لپاره هغه ته يو قانوني گټه ورسول کيږي او دا جمله دې ته اشاره کوي که يو ليونى

دا ووايي چي ما زنا کړې ده نو هغه دغه اقرار به د اعتبار ور نه وي او نه به پر هغه حد جاري کيږي.

ايا ته محصن يې ؟ : امام نووي رحمة الله عليه واي چي په دغه جمله کي دې ته اشاره ده چي د وخت امام يا قاضي باندي دا لازم دي چي هغه د دغه شيانو په باره کي پلټنه وکړي چي د رجم د سزا د جاري کېدو لپاره شرط دي لکه محصن کېدل او داسي نور که څه هم د زنا کولو جرم خپله د هغه د اقرار څخه ثابت سوی وي يا د شاهدانو په ذريعه ثابت سوی وي، او د دغه ارشاد څخه کنايةً دا هم معلوميږي که يو سړی د خپل اقرار څخه رجوع وکړي نو هغه ته په معافي ورکولو سره د زنا حد د هغه څخه ساقط کيدای سي.

هغه وتښتيدی : ابن همام رحمة الله عليه وايي که يو سړی د يو حد يا تعزير په وجه وژل کيږي نو هغه دي په درولو سره ووژل سي په زړولو سره دي نه وژل کيږي ، او ښځه دي په کښېنولو سره ووژل سي بلکه که چيري يو ښځي ته د رجم سزا ورکول کيږي نو غوره داده چي د يوې کندي په کښېنولو سره په هغه کي تر سينې پوري ښخه کړل سي او بيا سنګسار کړل سي ځکه چي په دې کي د هغې د ستر پټېدل رعايت کيږي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ د غامديه لپاره کنده کښېنلې وه .

تر دې چي مړ هغه په حره کي ونيوی : په دې باره کي مسئله داده که چيري يو سنګسار کېدونکی سړی د سنګسارولو په مېنځ کي وتښتيږي نو په هغه پسې کېدل نه دي پکار په شرط د دې چي هغه د زنا جرم په خپل اقرار سره ثابت سوی وي او که چيري د هغه د زنا جرم د شاهدانو په ذريعه ثابت سوی وي نو بيا په هغه پسې کېدل پکار دي او سنګسار دي کړل سي تر دې چي هغه مړ سي ځکه چي د هغه تښتېدل په اصل کي د هغه رجوع ظاهروي او دغه رجوع په هغه صورت کي په کار راځي کله چي هغه د زنا جرم په خپله اقرار سره ثابت کړی وي مګر که چيري د شاهدانو په ذريعه جرم ثابت سوی وي نو د هغه رجوع به په کار نه راځي .

امام نووي رحمة الله عليه وايي چي علماؤ کرامو ليکلي دي چي په دغه جمله (فرجم بالمصلی) يعني هغه په عيدګاه کي سنګسار کړل سو : دلته د مصلي څخه مراد هغه ځای دی چيري چي د جنازې لمونځ ورکول کيږي ، د يوه روايت څخه د دې تائيد هم کيږي .

بخاري رحمة الله عليه او داسي نور عالمان وايي چي په دې کي دې ته اشاره ده چي چيري د جنازې لمونځ او د اخترو لمونځ کيږي که هغه مسجد نه وي ګرځول سوی دی نو هغه ځای د مسجد په حکم کي نه دی ځکه چي د جنازې او اخترو د لمانځه کولو د ځای د هغه حکم دی کوم چي د مسجد دی نو هغه ځای په وينو لړلو څخه د ساتني لپاره او د هغه د پاکۍ او احترام په وجه په هغه ځای کي دي رجم نه کيږي .

په مسجدو نو کي دي حد او تعزیر نه جاري کیږي

علامه ابن همام رحمة الله عليه وايي چي په مسجد کي دي پر چا ياندي حد نه جاري کيږي او نه دي يو چا ته تعزير ورکول کيږي ځکه چي پر دې د ټولو علماؤ اجماع او اتفاق دی، او د دې بنياد د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی :

(قال جنبوا مساجد کم صبيانکم و مجانينکم ورفع اصواتکم و شرائکم وبيع و اقامة حدودکم و جمروها في جمعکم وضعوا على ابوابها المطاهر).

ژباړه : رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو خپل مسجدونه د خپلو کوچنيانو، ليونيانو، شور کولو، رانيولو او پلورلو او حد قائمولو څخه وساتئ او د جمعې په ورځ مسجدو ته ګربتي (يو خوشبويي لرونکی بوټي) ورکړئ او د مسجدو په دروازو د طهارت (اوداسه) ځای جوړ کړئ.

تر څو چي د زناکونکي په باره کي پوره پلټنه ونه سي تر هغو فيصله مه کوئ

﴿٣٤٠٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا أَتَى مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله ماعزبن مالک نبي کريم ﷺ ته حاضر سو نو

وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ أَوْ غَمَزْتَ أَوْ نَظَرْتَ قَالَ لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : کيدای سي تا مچه اخيستې وي يا لاس دي وروړی وي او يا دي ورته کتلي وي، هغه عرض وکړ چي يا، اې د الله رسوله ! ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

أَنِكْتَهَا لَا يَكْنِي قَالَ فَعِنْدَ ذٰلِكَ أَمَرَ بِرَجْمِهِ. رواه البخاري.

ايا تا (په حقيقت کي) زنا کړې ده او که نه؟ هغه عرض وکړ چي هو، (ما جماع کړې ده) د دې وروسته رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\١٣٥، رقم: ٨٢٤.

د حد قائم کيدل ګناه ساقطوي

﴿٣٤٠٧﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ماعزبن مالک رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكَ ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ وَتُبْ إِلَيْهِ قَالَ

عرض يې وكړ چي اې د الله رسوله ! ما پاک کړئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: پر تا افسوس دئ بیرته ولاړ سه بخښنه وغواړه او الله پاک ته توبه وكاږه، راوي ويلي دي چي

فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ النبي ﷺ مِثْلَ

هغه ولاړئ او بيرته ژر راغلی او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! ما پاک کړئ، رسول الله ﷺ بيا ورته هغه الفاظ وويل کوم چي يې مخکي ويلي وه،

ذَالِكَ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِيمَ أُطَهِّرُكَ فَقَالَ مِنَ

څلور واره همداسي وسول، په څلورم وار رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي د څه شي څخه دي پاک کړم، هغه عرض وکړ

الزِّنَى فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَبِهِ جُنُونٌ فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ فَقَالَ أَشَرِبَ

د زنا څخه، نبي كريم ﷺ د صحابه كرامو څخه پوښتنه وكړه: ايا دا ليونی سوی دئ؟ صحابه كرامو عرض وكړ چي نه، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا ده شراب څښلي دي؟

خَمْرًا فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ فَقَالَ أَزَنَيْتَ قَالَ

يو سړی ولاړ سو د هغه خوله يې بوی كړه مګر بوی نه وو، بيا رسول الله ﷺ د ماعز څخه پوښتنه وكړه ايا تا زنا كړې ده، هغه عرض وكړ:

نَعَمْ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَلَبِثُوا يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ

هو. نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حكم وكړ او هغه سنګسار كړل سو، دوې درې ورځي همداسي تيري سوې يوه ورځ نبي كريم ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل:

اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ ثُمَّ جَاءَتْهُ

د ماعز بن مالک د مغفرت لپاره دعاء وكړئ، هغه داسي توبه كښلې ده كه پر ټول امت وويشل سي نو د هغه ثواب د ټولو لپاره بس دئ، بيا يوه ښځه چي

امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكِ ارْجِعِي

د ازد قبيلې د غامد ښځه وه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره سوه او عرض يې وكړ اې د الله رسوله! ما پاكه كړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر تا دې افسوس وي بيرته ولاړه سه

فَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ فَقَالَتْ تُرِيدُ أَنْ تُرَدِّدَنِي كَمَا رَدَّدْتَ مَاعِزَ بْنَ

د الله جلاله ښخه بخښنه وغواړه او الله جل جلاله ته توبه وباسه، ښځې عرض وكړ ايا تاسو دا غواړئ لكه څرنګه چې تاسو ماعز ستون كړى وو ما هم ستنوئ،

مَالِكٍ إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَى فَقَالَ آنْتِ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَهَا حَتَّى تَضَعِي مَا فِي

هغه خو د زنا ښځه حامله ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته حامله يې، هغې عرض وكړ چې هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: صبر كوه تر څو چې ستا د نس ځخه كوچنى پيدا سي،

بَطْنِكِ قَالَ فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ قَالَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

د راوي بيان دئ چې يو انصاري د هغې ښځې ذمه داري واخيستل تر څو چې د هغې كوچنى پيدا سو، بيا څه وخت وروسته هغه انصاري ښځه حاضره سوه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ فَقَالَ إِذًا لَا نَرْجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا

او عرض يې وكړ چې د هغې غامدې ښځې ځخه كوچنى پيدا سوى دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: اوس موږ هغه نه سنګسار وو او د هغې كوچنى په دغه حالت كې نه پريږدو

صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا

چې څوك تې وركونكى نه وي، يو انصاري ودريدئ او عرض يې وكړ چې اې د الله رسوله! د هغه د رضاعت (شېدو وركولو) زه ذمه دار يم،

نَبِيَّ اللَّهِ قَالَ فَرَجَمَهَا. وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ لَهَا اذْهَبِي حَتَّى تَلِدِي فَلَمَّا وَلَدَتْ

نو نبي كريم ﷺ د هغې ښځې د سنګسارولو حكم وكړ، او په يوه روايت كې دا سې الفاظ دي كله چې هغې ښځې د خپل حمل اظهار وكړ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: بيرته ولاړه سه او صبره كوه تر څو چې كوچنى پيدا سي، كله چې هغې كوچنى راوړئ

قَالَ اذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ فَلَمَّا فَطَمَتْهُ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ كِسْرَةُ

نو نبي كريم ﷺ هغې ته وفرمايل كوچنى ته شيدې وركوه او صبر كوه چې هغه د تي ثخه پرې كړې، كله چې يې هغه د تي ثخه پرې كړ نو هغه كوچنى د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر كړ د كوچنى په لاس كې د ډوډۍ ټوټه وه

خُبْزٍ فَقَالَتْ هَذَا يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ فَطَمْتُهُ وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلَى

هغې عرض وكړ اې دالله رسوله ! ما دا كوچني د تي ثخه پرې كړ او اوس ده ته خوراك وركول پيل سوي دي، رسول الله ﷺ هغه كوچنى يو مسلمان ته حواله كړ

رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا إِلَى صَدْرِهَا وَأَمَرَ النَّاسَ فَرَجَمُوهَا

او بيا يې حكم وكړ چې ددې ښځې لپاره تر سينې پورې يوه كنده وكا ږي ، بيا يې خلكو ته د هغې د سنگسارولو حكم وكړ، سنگسار پيل سو ،

فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِحَجَرٍ فَرَمَى رَأْسَهَا فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ خَالِدٍ

خالد بن وليد په يو ډبره هغه پر سر وويشتل د هغې د سر ثخه وينه د خالد پر مخ ولوېدل ،

فَسَبَّهَا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْلًا يَا خَالِدُ فَوَالَّذِي نَفْسِي

خالد هغه بده وكڼل او رسول الله ﷺ د هغه ښكنځل واورېده ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې خالده ! خوله پټه كړه زما دي په هغه ذات قسم وي چې

بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا

وَدُفِنَتْ . رواه مسلم .

د هغه په لاس كې زما ساه ده دغه ښځې داسي توبه كښلې ده كه داسي توبه محصول يا عشر اخيستونكى وكاږي نو د هغه ظلم او ستم به وبخښل سي ، بيا رسول الله ﷺ حكم وكړ چې د هغې د جنازې لمونځ دې ادا كړل سي او ښخه دې كړل سي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ١٣٢١\٣، رقم: ٢٢- ١٦٩٥.

د لغاتو حل: فاستنكهه: اى طلب نكهته اى رائحة فمه، ليعلم ا شارب هو ام غير شارب. (د خولې بوی کتل). صاحب مکس: المكس: اصله الجناية، ويطلق على الضريبة التي ياخذها الماكس، اى العشار.

تشريح: بېله شکه ماعز داسې توبه وکړه ...الخ: ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د ماعز رضی الله عنه د سعادت او د هغه د توبې فضيلت ظاهر کړ چې هغه داسې توبه وکړه چې مغفرت او رحمت لازمو يې چې د هغه لمن د مخلوق پر يو لوی ډلې باندې سايه کونکې کيدای سي.

دلته د حد قائمېدو ته توبه په دې اعتبار ويل سوې دي چې څرنګه د توبې په ذريعه ګناه رژېږي همدارنګه په حد جاري کولو سره هم ګناه ختمېږي.

تر څو چې ته د خپل کوچني د زېږېدني څخه فارغه نه سې : ابن مالک رحمه الله وايي چې ددغه ارشاد څخه معلومه سوه چې حامله ښځه تر څو پوري د ولادت څخه فارغه نه سي پر هغې باندې حد نه قائمېږي تر څو د يو بې ګناه (چې د هغې په نس کې دی) هلاکول لازم نه سي.

اوس موږ دا نه سنګساروو : ددې څخه ثابته سوه چې ولد الزنا د سزا او هلاکت سبب نه دی ځکه چې هغه په دې باره کې بې ګناه دی.

ما هغه د تې څخه پرې کړی دی ... الخ: ددې څخه معلومه سوه چې کوم خلک په غير شرعي توګه او نامناسبو طريقو سره د خلکو څخه محصول او ټيکس تر لاسه کوي هغوی لوی ګناه کار دي ځکه چې داسې محصول اخيستل داسې دي لکه د يو سړی مال چې په زور او ظلم سره واخيستل سي.

د حديث په آخري جمله کې لفظ د صلی د مسلم په ټولو رواياتو کې په صاد او د لام په زبر (يعني د معروف په صيغه) منقول دی، ددې څخه دا ثابتېږي چې رسول الله ﷺ د هغه ښځې د جنازې لمونځ کړی وو حال دا چې د طبري په نزد او د ابن ابي شيبه او ابوداؤد په روايت کې دغه لفظ د صاد په پېښ او د لام په زبر (يعني مجهول صيغه) سره منقول دی ددې څخه دا ثابتېږي چې د هغې ښځې د جنازې لمونځ نورو خلکو وکړ رسول الله ﷺ ور نه کړ، د ابوداؤد په روايت کې په صراحت سره دا نقل سوې دي چې (لم يصل عليها) يعني رسول الله ﷺ د هغې د جنازې لمونځ ونه کړ بلکه رسول الله ﷺ خلکو ته د جنازې د لمانځه ورکولو حکم ورکړ، په دې وجه د رجم سوي د جنازې د لمانځه ورکولو په باره کې اختلاف دی ، د امام مالک رحمه الله په نزد د هغه د جنازې لمونځ ورکول مکروه دی او امام احمد رحمه الله وايي چې د وخت امام او اهل فضل دې يې نه کوي نور خلک يې کولای سي ، د امام شافعي او امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليهما مذهب دادی چې د هغه د جنازې لمونځ دې وکړل سي بلکه د هغه سړي د جنازې لمونځ دې وکړل

سي چي كلمه ويونكى او اهل قبله وي كه څه هم هغه فاسق او فاجر وي يا پر هغه حد قائم سوى وي ، په يوه روايت كي د امام احمد رحمة الله عليه څخه هم داسي نقل سوي دي .

قاضي عياض رحمة الله عليه وايي چي د صحيح مسلم په ټولو روايتو كي لفظ د صلى د صاد او لام په زبر يعني د معروف په صيغې سره نقل سوى دى حال دا چي د طبري په نزد دغه لفظ د صاد په پېښ (يعني مجهول) دى او ابن شيبه ، ابوداؤد او امام نووي هم داسي نقل كړي دي نو په دې باره كي دا خبره زياته مناسب ده چي دغه لفظ په اصل كي په معروف صيغه سره دى البته مخكني الفاظ (ثم امر بها) يعني ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ حكم وكړ، ددې څخه مراد دادى چي رسول الله ﷺ خلكو ته د هغه ښځي د غسل وركولو ، كفن وركولو او د جنازې د لمانځه ځاى ته د وړلو حكم وركړ، ددې تائيد د هغه عبارت څخه هم كيږي كوم چي د مسلم په روايت كي دي چي (امر بها النبي ﷺ فرجمت ثم صلى عليها فقال له عمر تصلى عليها يا نبي الله و قد زنت) دا روايت په صراحت سره دا ثابتوي چي رسول الله ﷺ د هغې د جنازې لمونځ كړى وو ، او د ابوداؤد په روايت كي دا الفاظ دي چي (ثم امر هم ان يصلوا عليها) يعني رسول الله ﷺ دا حكم وكړ چي د هغې د جنازې لمونځ دي وكړل سي ، قاضي عياض رحمة الله عليه دا وضاحت كړى دى چي كه څه هم مسلم په خپل روايت كي د رسول الله ﷺ د ماعز ابن مالک د جنازې د لمانځه كولو ذكر نه دى كړى مګر په بخاري كي دا ذكر سوى دى .

اوس پاته سوه دا خبره چي د مسلم په اكثرو روايتو كي لفظ د صلى د معروف په صيغه سره نقل سوى دى نو دلته د مشكوة مؤلف دغه لفظ د مجهول په صيغې سره ولي نقل كړى دى، په دې كي شک نه سته چي كه څه هم اثبات پر نفي مقدم دى په دې اعتبار سره د مشكوة مؤلف ته دغه لفظ د معروف په صيغه سره په نقل كولو سره اثبات ته ترجيح وركول پكار وه مګر كله چي هغه په معتمد او صحيح نسخو كي وليدل چي په دې باره كي مختلف روايتونه دي چي رسول الله ﷺ د هغه ښځي د جنازې لمونځ وكړ كه يا ؟ نو هغه لفظ د صلى د مجهول په صيغه سره نقل كولو ته ترجيح وركړه چي په دغه صورت كي دواړه احتماله مخلوط پاته سي مګر د دغه حقيقت څخه هم انكار نه سي كيداى چي دغه صورت د ابهام څخه خالي نه دى ځكه چي په دې باره كي غوره دادي چي د جمهور متابعت او د نقل مشهور سره سم د موافقت په وجه دغه لفظ د معروف په صيغه سره قبول كړل سي چي رسول الله ﷺ د هغې د جنازې لمونځ كړى وو .

په هر حال دغه حديث پر دې دلالت كوي چي حد هغه ګناه ختموي چي د هغه په سزا كي د هغه نفاذ او اجراء كيږي د مثال په توګه زيد زنا وكړه او پر هغه باندي د دغه جرم په سزا كي حد

جاري کړل سي نو هغه به د زنا د ګناه څخه خلاص سي او په آخرت کي به د هغه څخه پر د غه زنا باندي هيڅ نيوکه نه کيږي.

امام نووي رحمة الله عليه وايي چي دلته د هغه ښځي په باره کي دوه روايتونه نقل سوي دي او په ظاهره دوهم روايت د اول روايت مخالف دی ځکه چي د دوهم روايت څخه دا معلوميږي چي هغه ښځه هغه وخت سنګسار کړل سوه کله چي هغې خپل کوچنی د تي څخه پرې کړی وو او هغه ډوډۍ خوړل شروع کړي وه مګر په اول روايت کي دا معلوميږي چي هغه د کوچني د ولادت څخه وروسته سنګسار کړل سول نو د دوهم روايت د صحيح مفهوم سره سم د اول روايت تاويل کول ضروري سول تر څو د دواړو روايتو مفهوم يو ډول سي ځکه چي د دواړو روايتو تعلق د يوې واقعې سره دی او دواړه روايتونه صحيح دي، نو تاويل دادی چي په اول روايت کي چي دا بيان سوی دی چي يو انصاري ولاړ سو او وه يې ويل زه د دغه کوچني د تي ورکولو ذمه دار يم نو هغه دا خبره هغه وخت کړې ده کله چي هغه ښځي خپل کوچنی د تي څخه پرې کړی وو او د تي ورکولو د ذمه دار کېدو څخه د هغه مراد دا وو چي زه د دغه کوچني د روزني ذمه دار يم او هغه خپل دغه مفهوم مجازًا په تي ورکولو سره تعبير کړ.

د مينزي زنا

﴿۳۴۰۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ

که په تاسو کي د چا مينزه زنا وکړي او د هغې زنا کول څرګند سي نو پر هغې دي شرعي حد جاري کړل سي، لعن طعن دي پر مينځو نه وي او پر دې دي لعن او طعن نه کيږي بيا که دا دويم

زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا

فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ. متفق عليه.

وار زنا وکړي نو دويم وار دي سزا ورکړل سي او بد رد دي ورته نه ويل کيږي، بيا که دا دريم وار زنا وکړي او د هغې زنا څرګنده سي نو وه دي پلورل سي که څه هم په يوه وېښتنه رسۍ سره وي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۴۲۱\۱۴، رقم: ۲۲۳۴، ومسلم ۱۳۲۸\۱۳، رقم: ۳۰- ۱۷۰۳.

د لغاتو حل: لایُثَرب: ای لایعیب علیها. (عیب دي ورباندي نه ویل کیږي)

تشریح: نو پر هغې حد جاري کړئ: یعني هغه دې پنځوس دُرې ووهي، څرګنده دې وي چې د مینزي او غلام حد د آزاد سړي او ښځې په نسبت نیم دی او د مینزي او غلام لپاره د سنګسارولو سزا مشروع نه ده.

امام شافعي رحمة الله علیه د دغه حدیث څخه استدلال کړی دی چې بادار ته دا حق حاصل دی چې هغه پر خپل مملوک باندي خپله حد جاري کړي حال دا چې د حنفي علماؤ په نزد دا جائز نه دي، د هغه دغه حکم (هغه دې حد پر جاري کړي) دا په اصل کې پر سبب باندي محمول دي یعني د هغه حکم مطلب دا دی چې بادار دې پر خپل زنا کونکې مینزي باندې د حد جاري کېدو سبب او واسطه سي په دې توګه چې هغه مینزه دې د حاکم په مخکې وړاندې کړي چې هغه حد پر جاري کړي.

او هغې ته پیغور نه ورکوي: ددې مطلب دا دی چې د حد جاري کولو څخه وروسته دې پر هغه مینزي باندي لعنت او طعن نه وایي او نه دې هغې ته د حد جاري کولو پیغور ورکوي ځکه چې هغې د حد په صورت کې د خپل ګناه کفاره ورکړل او هغه د ګناه څخه پاکه سوه نو اوس پر هغې باندي لعنت او پیغور ولې وکړل سي، دا حکم په خاصه توګه د مینزي لپاره نه دی بلکه د ازاد سړي او ښځې لپاره هم دا حکم دی مګر څرنګه چې مینزي د توبیخ او ملامتی محل وي نو په خاصه توګه سره د مینځو په باره کې دا حکم بیان کړل سو.

هغه مینزه دې وپلوري: ددې مطلب دا دی که چیري بادار غواړي نو هغه دې د حد جاري کولو څخه وروسته خپل مینزه خرڅه کړي او که چیري غواړي نو د حد جاري کولو څخه مخکې دې یې خرڅه کړي مګر د حدیث د ظاهري مفهوم څخه دا معلومېږي چې د حد جاري کولو څخه مخکې باید وپلورل سي.

امام نووي رحمة الله علیه وایي چې د دغه حدیث څخه معلومه سوه چې د فاسق، فاجر او ګناه کارو سره او سیدل پرېښودل او همدارنګه د مینزي پلورل مستحب دي مګر د علماؤ ظواهر په نزد دا واجب دي.

پر ناروغ باندي د حد جاري کولو مسئله

﴿۳۴۰۹﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَقِيمُوا عَلَى أَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ مَنْ أَحْصَنَ

حضرت علي رضي الله عنه خلک مخاطب کړل او ورته وه یې ویل: اې خلکو که ستاسو مینزي او غلامان

زنا وكړي نو هغوی ته شرعي سزا ورکړئ که هغه واده سوي وي

مِنهُمْ وَمَنْ لَمْ يُحْصِنْ فَإِنَّ أَمَةً لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَنَتْ فَأَمَرَنِي

يا نه ، د رسول الله ﷺ يوې مينزي زنا کړې وه نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي

أَنْ أَجْلِدَهَا فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيتُ إِنْ أَنَا جَلَدْتُهَا أَنْ أَقْتُلَهَا

زه (علي) هغه په دورو ووهم، مګر د هغې تازه کوچنی پیدا سوی وو زما سره بيره پيدا سوه که زه هغه په دورو ووهم نو هغه به مړه سي ،

فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنْتَ . رواه مسلم و في

ما نبي کریم ﷺ ته ددې خبري يادونه وکړه ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل تا بنه وکړل (چي په دغه حالت کي دي هغې ته سزا ورنه کړل) ، مسلم ،

رواية ابي داؤد قَالَ دَعْهَا حَتّٰى يَنْقَطِعَ دَمُهَا ثُمَّ اَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ وَ اَقِيْمُوا الْحُدُوْدَ عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ .

د ابوداؤد په روايت کي بيا داسي الفاظ دي چي رسول الله ﷺ حضرت علي ﷛ ته وفرمايل : دا تر هغه وخته پوري پريږده چي ددې د نفاس وينه بنده سي بيا پر دې حد جاري کړه او پر خپلو غلامانو باندي حدونه قائموئ .

تخريج: صحيح مسلم: ٣\١٣٣٠، رقم: ٣٤ - ١٧٠٥، سنن ابي داود ٤\٦١٧،

تشريح: ددغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د حد په سزا کي که چيري ښځه د نفاس په حالت کي وي نو پر هغې دي تر هغه وخته پوري حد نه جاري کيږي تر څو چي هغه د نفاس څخه پاکه نه سي ځکه چي نفاس يو ډول ناروغي ده او ناروغ ته د هغه تر ښه کېدو پوري وخت ورکول پکار دي .

ابن همام رحمه الله وايي که چيري يو ناروغ زنا وکړي او د هغه د محصن کېدو په وجه هغه د رجم مستحق وګرځول سي نو هغه دي په ناروغی کي رجم کړل سي او که چيري د غير محصن کېدو په وجه د دُرو وهلو مستحق وګرځول سي نو هغه دي تر هغه وخته پوري په دُرو نه وهل کيږي تر څو چي هغه د ناروغي ښه نه سي مګر که چيري هغه په يو داسي ناروغی کي اخته وي

چي د هغه شخه د ځان ساتني اميد نه وي لکه دق، سل او داسي نوري ناروغی يا هغه ناقص او ضعيف الخلقت وي نو په دغه صورت کي د امام اعظم ابوحنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهما په نزد مسئله داده چي (د سزا پوره کولو لپاره دي) هغه د خرما په يو داسي لوی ښانگي سره ووهل سي چي په هغه کي سل کوچنی کوچنی ښانگي وي او په هغه ښانگي دي يو وار ووهل سي چي د هغه يوه يوه ښانگه د هغه پر بدن ولگيږي ځکه ويل سوي دي چي د دغه مقصد لپاره د خپاره سوو ښانگو استعمالول ضروري دي.

دا خبره دي په ذهن کي وي چي د ضائع کېدو د بيري شخه د دُرو وهلو حد دي نه په سختي گرمي کي جاري کيږي او نه په سخت يخ کي بلکه د دې لپاره دي د معتدلي هواء انتظار وکړل سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د زنا د اقرار شخه رجوع کول...

﴿۳۴۱۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ مَاعِزٌ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه شخه روايت دی چي ماعز اسلمي رضي الله عنه راغلی او د رسول الله ﷺ په

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ زَنَى فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ

خدمت کي يې عرض وکړ چي ما زنا کړې ده، رسول الله ﷺ مخ ځني واړوئ، هغه بيا له هغه بل اړخ شخه راغلی نو وه يې ويل:

زَنَى فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى

ما زنا کړې ده، رسول الله ﷺ بيا مخ ځني واړوی هغه بيا له هغه بل اړخ شخه راغلی نو وه يې ويل چي ما زنا کړې ده،

فَأَمَرَ بِهِ فِي الرَّابِعَةِ فَأُخْرِجَ إِلَى الْحَرَّةِ فَرُجِمَ بِالْحِجَارَةِ فَلَمَّا وَجَدَ مَسَّ

په څلورم وار پر هغه د زنا اقرار وکړل سو، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنگسارولو حکم وکړ نو هغه د مديني ډبريني ځمکي ته وليږل سو او هلته سنگسار کړل سو،

الْحِجَارَةِ فَرَّ يَشْتَدُّ حَتَّى مَرَّ بِرَجُلٍ مَعَهُ لَحْيُ جَمَلٍ فَضَرَبَهُ بِهِ وَضَرَبَهُ النَّاسُ

کله چي د هغه پر بدن ډبري ولګيدې نو هغه په تيزي سره وتښتېدی تر دې چي هغه د يوه سړي سره تير سو چي د هغه سره د اوښ هډوکی وو هغه په هډوکي ووهئ

حَتّٰى مَاتَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فَرَّ حِيْنَ وَجَدَ

تر څو چي هغه مړ سو، رسول الله ﷺ ته د دې پېښي ياد ونه وسول چي کله پر هغه ډبري ولګيدې او مرګ ورته څرګند سو نو هغه وتښتېدی،

مَسَّ الْحِجَارَةِ وَمَسَّ الْمَوْتِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ هَلَّا تَرَكْتُمُوْهُ. رواه الترمذي

رسول الله ﷺوفرمايل : تاسو هغه ولي نه پرېښودئ . ترمذي

و ابن ماجة ، و في رواية هَلاَّ تَرَكْتُمُوْهُ لَعَلَّهُ اَنْ يَّتُوْبَ فَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ

او ابن ماجه، او په يوه روايت کي د االفاظ دي که تاسو هغه پرې ايښی وای نو ډيره ممکن وه چي هغه توبه کړې وای او الله ﷻ د هغه توبه قبوله کړې وای.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۷، رقم: ۱۴۲۸، وابن ماجه ۲\ ۸۵۴، رقم: ۲۵۵۴. سنن ابي داود ۴\ ۵۷۳، رقم: ۴۴۱۹.

تشريح: يتوب فيتوب الله عليه: ددې مطلب دادی چي هغه خو د خپل دغه بد کار څخه رجوع کړې وي (يعني په ندامت او شرمندګۍ سره يې د الله ﷻ څخه د خپل دغه ګناه معافي غوښتې وي او الله تعالی د هغه د توبې په قبلولو سره رجوع ورته کړې وي يعني د رحمت په نظر هغه ته متوجه سوی وي او د هغه ګناه يې معاف کړې وي).

دا حديث ددې دليل دی که يو سړی اول خو د خپل زنا اقرار وکړي او بيا وروسته ووايي چي ما زنا نه ده کړې، يا ما درواغ ويلي دي، يا زه د خپل اقرار څخه رجوع کوم نو په دغه صورت کي د هغه څخه حد ساقط کيږي، همدارنګه که چيري هغه د حد قائمېدو په دوران کي د خپل اقرار څخه رجوع وکړي نو څومره حد چي پاته دی هغه به ساقط سي حال دا چي ځيني علماء وايي چي د هغه څخه حد نه ساقطيږي.

د ماعز ﷛ د جرم اعتراف

﴿۳۴۱۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ

د حضرت ابن عباس ﷞ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ماعز بن مالک ته وفرمايل :

أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ قَالَ وَمَا بَلَغَكَ عَنِّي قَالَ بَلَغَنِي أَنَّكَ وَقَعْتَ بِجَارِيَةِ آلِ

ايا دا پښه رښتيا ده چي ستا په اړه ما ته را رسيدلې ده هغه عرض وکړ زما په اړه تاسو ته څه څرګند سوي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما ته څرګنده سوې ده چي تا د فلاني سړي د مينځي سره زنا کړې ده،

فُلَانٍ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ثُمَّ أَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ . رواه مسلم .

هغه عرض وکړ چي هو، هغه څلور واره ددې اقرار وکړ، رسول الله ﷺ د هغه د سنګسار کولو حکم وکړ نو هغه په ډبرو ووژل سو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۳۲۰/۳، رقم: ۱۹- ۱۶۹۳.

تشريح: ددغه حديث په باره کي د مصابيح پر مؤلف باندي دا اعتراض کيږي چي هغه دغه حديث د اول فصل پر ځای دلته په دوهم فصل کي ولي نقل کړی دی.

ددغه حديث څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ ته د ماعز ﷛ د زنا کولو خبر وو بيا رسول الله ﷺ د هغه څخه د جرم اعتراف وکړ حال دا چي د نورو حديثو څخه ددې پر خلاف ثابتيږي، يعني په دې اعتبار سره په هغه حديثو کي تضاد معلوميږي نو د هغو په مينځ کي د تطبيق وجه به دا وي چي په اصل کي په دغه حديث کي د اختصار خيال ساتل سوی دی او د پوره واقعې نقل کولو څخه پرته يوازي د رجم ذکر سوی دی حال دا چي په نورو حديثو کي واقعه په پوره تفصيل سره ذکر سوې ده نو دا اغلب دی چي رسول الله ﷺ ته به د ماعز ﷛ د زنا کولو علم د مخکي څخه سوی وو او بيا وروسته رسول الله ﷺ د ماغز څخه د هغه اقرار وکړ او هغه صورت يې اختيار کړ کوم چي په نورو حديثو کي په تفصيل سره ذکر سوی دی، کله چي ماعز ﷛ د خپل زنا اقرار وکړ نو رسول الله ﷺ به مخ ځني واړوی همدارنګه رسول الله ﷺ په څلورو مجلسو کي څلور واره اقرار په وکړ او بيا يې د سنګسارولو حکم وکړ، په دې اعتبار سره په حديثو کي هيڅ تضاد پاته نه سو

د نورو د عيب پټول وکړئ

﴿۳۴۱۲﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ مَاعِزًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت يزيد بن نعيم د خپل پلار څخه روايت کوي چي ماعز د نبي کريم ﷺ په خدمت کي

وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِرَجْمِهِ وَقَالَ لِهَزَّالٍ لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ

څلور واره د خپلي زنا اقرار وکړ او رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ، بيا رسول الله ﷺ هزال (چا چي رسول الله ﷺ د زنا د پيښي څخه خبر کړی وو) ته وفرمايل: که تا پر هغه پرده

كَانَ خَيْرًا لَكَ قَالَ ابْنُ الْمُنْكَدِرِ أَنْ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا أَنْ يَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُخْبِرَهُ. رواه ابوداؤد.

اچولې وای نو غوره به وای، ددې حديث يو راوي ابن منکدر وايي چي هزال ماعز پر دې اماده کړی وو چي هغه دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سي او د خپل جرم اقرار وکړي او د پيښي څخه يې خبر کړي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۴۱، رقم: ۴۳۷۸.

تشريح: د هزال رضي الله عنه يوه مينزه وه چي د هغې نوم فاطمه وو، هغه ازاده سوې وه او د هغه فاطمې سره ماعز رضي الله عنه زنا وکړه، کله چي هزال رضي الله عنه په دې خبر سو نو ماعز رضي الله عنه يې دې ته اماده کړی چي هغه رسول الله ﷺ ته ورسي او ددغه پيښي څخه يې خبر کړي او د خپل جرم اقرار وکړي په دې وجه رسول الله ﷺ هزال رضي الله عنه ته وفرمايل که تا د هغه ګناه نه وای څرګنده کړې بلکه پر هغه دي پرده اچولې وای نو دا به ستا لپاره غوره وای چي ددې په وجه الله تعالیٰ ته په خير سره نازولی وای او ستا د ګناهونو پرده يې کړې وای.

حاکم ته د حد معافولو اختيار نه ستـه

﴿٣٤١٣﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه

الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَافَوْا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې څخه وړاندي چي د هغه خبر ما ته راورسيږي تاسو په خپل منځ کي حدود معاف کوئ.. مګر کله چي پيښه ما ته راورسيږي نو

سزا واجب سي. ابو داؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\ ۵۴۰، رقم: ۴۳۷۶، والنسائي ۸\ ۷۰، رقم: ۴۸۸۶.

تشريح: حدود معافوئ او محوه كوئ يې: دا په اصل كي عوامو ته وينا ده او هغوی ته دد غه احسان تلقين كول كيږي كه چيري په تاسو كي د يو سړي څخه ګناه او جرم وسي نو د هغه قضيه د حاكم په مخكي مه ايږدئ بلكه د هغه څخه معافي كوئ نو رسول الله ﷺ د خپل ارشاد (كه د جرم اطلاق ما ته راورسيږي ...) په ذريعه دا واضحه كړه چي دد ې خبري دليل دی كه چيري هغه قضيه حاكم ته ورسيږي او په هغه كي حد واجب سي نو د هغه حد معافول به د هغه لپاره جائز نه وي.
د حديث مفهوم پر دې دلالت كوي كه يو مملوک څخه يو ډول ګناه وسي نو د هغه بادار ته نه خو په خپله پر هغه باندي حد جاري كول پكار دي او نه د هغه لپاره دا مناسب دي چي هغه مملوک حاكم ته بوځي بلكه پكار دي چي هغه معاف كړي.
دا خبره دي په ذهن كي وي چي په حديث كي د معافولو كوم حكم راغلی دی هغه د وجوب په توګه نه دی بلكه د استحباب په توګه دی.

د عزت دارو خطاوي معافول پكار دي

﴿۳۴۱۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلَّا الْحُدُودَ. رواه ابو داؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د عزتمندو خلكو د خطاوو څخه تيرو تنه كوئ مگر شرعي حدود مه معافوئ. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\ ۵۴۰، رقم: ۴۳۷۵.

تشريح: مطلب دا دی كه چيري د هغوی څخه په غلطۍ كي يو ګناه وسي او ناڅاپه په يو لړزه كي اخته سي نو هغوی دي معاف كړل سي په سزا او عقوبت كي په اخته كولو سره هغوی ذليل او رسوا مه كوئ كه څه هم د هغه ګناه تعلق د حقوق الله سره وي يا د حقوق العباد سره وي يعني دد غه حكم مخاطب هغه حاكمان دي چي د هغوی د شرعي سزاوو د جاري كولو ذمه دار دي كه څه هم ځيني حضرات دا فرمايي چي دد ې مخاطب نور خلک هم دي او دا حكم هم د استحباب په توګه دی.

د شک فائده ملزم ته پکار ده

﴿۳۴۱۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْرَءُوا الْحُدُودَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو پورې چې ممکن وي حدود د مسلمانانو څخه ليرې ساتئ

عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ فَإِنَّ الْإِمَامَ

که لږ هم د ژغورلو موقع وي نو هغه پرېږدئ ځکه چې د امام (حاکم) په معاف کولو کې غلطي

أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ. رواه الترمذي و قال قد روي عنها و لم يرفع وهو اصح.

کول په سزا کې د غلطۍ کولو څخه غوره دي، دا ترمذي روايت کړی دئ او وايي چې دا د حضرت عائشې څخه مرفوع نه دی روايت کړل سوی او هم دا زيات صحيح دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵، رقم: ۱۴۲۴.

تشريح: ددغه ارشاد مخاطب په اصل کې حاکمان دي هغوی ته دا لارښوونه سوې ده که د يو مسلمان په باره کې يو داسې قضيه هغوی ته راسي چې د هغه سزا حد وي د مثال په توګه د زنا قضيه نو هغوی بايد چې تر څو پورې کېدای سي د هغه مسلمان ددغه حد څخه د ساتنې هڅه وکړي او د شبه چې کومه موقع راځي د هغه ګټه دې ملزم ته ورسوي، نه يوازې دې بلکه هغوی دې د ملزم د عذر تلقين وکړي يعني د هغه څخه دې پوښتنه وکړي چې ايا ته ليونی يې، ايا تا شراب څښلي دي، ايا داسې خو نه ده چې تا د هغه ښځې سره د زنا پر ځای د هغې څخه مچه اخيستې وي يا په شهوت سره دې مس کړې وي، مقصد دا چې د هغه څخه دې دا ډول پوښتنې وکړل سي چې هغه د تلقين د عذر په وجه يو عذر بيان کړي چې په هغه سره د حد جاري کېدل ونه سي او هغه خلاص سي، د ماعز رضي الله عنه او داسې نورو کسانو څخه چې رسول الله ﷺ دا ډول پوښتنې وکړې نو د هغه مقصد هم د عذر تلقين وو، په پای کې رسول الله ﷺ دا وفرمايل چې د امام د معافولو خطاء د سزا ورکولو د خطاء څخه غوره ده، ددې مقصد هم د ذکر سوې خبرې مبالغه او تاکيد کول دي او دا واضحه کول دي که يو حاکم د يو مقدمې فيصله کولو سره ملزم خلاص کړي او د هغه په فيصله کې يو غلطي وسي يا هغه ملزم د سزا ورکولو فيصله وکړي او

په هغه كي يو غلطي وسي نو كه څه هم د غلطي په اعتبار دواړي فيصلې محل نظر وي او د انصاف پر معيار باندي پوره ونسي مگر د ملزم په خلاصون كي په هر حال د يو مسلمان ځان او عزت وساتل سي ځكه دا غلطي به د هغه غلطۍ څخه غوره دي چي د سزا په فيصله كي وكړل سي او د هغه په نتيجه كي يو مسلمان د خپل ځان او عزت څخه لاس پريولي .

په زوره زنا كولو سره يوازي نارينه ته حد وركول كيږي

﴿۳۴۱۶﴾: وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ اسْتُكْرِهَتْ امْرَأَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَرَأَ عَنْهَا الْحَدَّ وَأَقَامَهُ عَلَى الَّذِي أَصَابَهَا وَلَمْ يُذْكَرْ أَنَّهُ جَعَلَ لَهَا مَهْرًا . رواه الترمذي .

د يوې ښځي سره زور وكړل سو (يعني په زوره زنا ورسره وكړل سول) نبي كريم ﷺ هغه ښځه معاف كړه او پر سړي يې حد قائم كړ ، راوي ددې ذكر ونه كړ چي رسول الله ﷺ هغې ته مهر هم وټاكئ كه يا ، ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۵، رقم: ۱۴۵۳.

تشريح: د راوي په ذكر كولو سره دا نه لازميږي چي په داسي صورت كي مهر نه واجبيږي ځكه چي د نورو حديثو څخه دا ثابته ده چي د كومي ښځي سره په زور زنا سوې وي د هغې لپاره مهر واجب دي او دلته د مهر څخه مراد عقر دی او عقر د حرام كوروالي او صحبت تشبه ته وايي او ددې اطلاق پر يو داسي مقدار باندي كيږي كه د حرام صحبت مزدوري اخيستل حلال وي نو هغه مقدار به واجب وي ، برجندي په فتاوی عالمگيري كي ليكلي دي چي عقر مهل مثل ته وايي ددې مطلب دادی چي د زنا بالجبر په صورت كي د زنا كونكي سړي ښځي ته كوم مال وركړل سي د هغه مقدار د هغه ښځي د مهر مثل برابر كېدل پكار دي .

﴿۳۴۱۷﴾: وَعَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرِيدُ

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي يوه ښځه د لمانځه

الصَّلَاةَ فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ فَتَجَلَّلَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا فَصَاحَتْ وَانْطَلَقَ وَمَرَّتْ

په اراده د باندي ووتل ، يو سړي هغه ونيوله پر هغې يې جامه واچوله او د هغې څخه يې خپل حاجت پوره كړ (يعني زنا يې ورسره وكړه)

عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُهَاجِرِيْنَ فَقَالَتْ إِنَّ ذَاكَ الرَّجُلَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا فَأَخَذُوا

هغې ښځي شور وكړ سړي هغه پرېښودل او ولاړى ، د مهاجرينو يو ډله د هغې ښځي سره نژدې تير سول نو هغه ښځي دوى ته وويل چي دغه سړي زما سره داسي داسي وكړل ، هغوى سړى

الرَّجُلَ فَأَتَوْا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا اذْهَبِي فَقَدْ غَفَرَ

ونيوئ او رسول الله ﷺ ته يې وړاندي كړ ، نو رسول الله ﷺ هغه ښځي ته وفرمايل ته ولاړه سه الله تعالى ته وبخښلې ،

اللَّهُ لَكِ وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا ارْجُمُوهُ وَقَالَ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا

أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقُبِلَ مِنْهُمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

او د هغه سړي په اړه چي زنا يې كړې ده وفرمايل دى بوځئ او سنگسار يې كړئ ، د هغه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه توبه وكښل (په سزا خوړلو سره يې) داسي توبه وكښل كه د مدينې خلكو داسي توبه كړې واى نو توبه به يې قبوله سوې واى . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج سنن الترمذي ۴\۴۵، رقم: ۱۴۵۴، وابوداود ۴\۵۴۱، رقم: ۴۳۷۹.

د لغاتو حل فتجللها : اى فغشيها بثوبه (پټه يې كړه په جامه سره.) عِصابة : اى جماعة قوية (ستره ډله)

تشريح د حديث د آخري جملې مطلب دادى چي هغه سړى د خپل جرم په سزا تر لاسه كولو سره داسي توبه كړې ده كه چيري دغه توبه د مدينې د اوسيدونكو په مينځ كي وويشل سي نو نه يوازي دا چي د هغه ټولو توبه به قبوله سوې واى بلكه د هغه ثواب به د ټولي مدينې د اوسيدونكو لپاره كافي واى يعني ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دا واضحه كړل چي دغه سړى كه څه هم يو لويه بې حيايي كړې ده مگر كله چي پر هغه حد جاري كړل سو نو هغه د خپل جرم څخه پاک سو او وبخښل سو .

د يوې زنا دوې سزاوې

﴿٣٤١٨﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ الْحَدَّ ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د يوې ښځي سره زنا وکړه، نبي کريم ﷺ د هغه په دورو وهلو حکم وکړ هغه په دورو ووهل سو د هغه وروسته رسول الله ﷺ ته و ښودل سوه چي هغه واده کړی دئ نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ نو هغه سنګسار کړل سو. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۸٦، رقم: ۴۴۳۸.

تشريح: رسول الله ﷺ اول په دُرو باندي د وهلو حکم ورکړ: په دې باره کي دا احتمال دی چي رسول الله ﷺ ته به دا ښوول سوي وه چي هغه سړی غير محصن دی او دا هم احتمال دی چي رسول الله ﷺ ته به ښوول سوي نه وه ځکه رسول الله ﷺ د دُرو وهلو سزا ورکړه مګر وروسته چي دا ثابته سوه چي دا سړی محصن دی او د محصن کېدو په وجه د رجم مستحق دی نو د هغه د رجم حکم يې ورکړ، ددې څخه دا خبره ثابته سوه که د وخت امام يو چا ته د حد سزا ورکړه بيا وروسته هغه ته دا معلومه سي چي دغه مجرم د حد د دغه سزا نه بلکه د حد د يو بلې سزا وړ دی نو د هغه حاکم لپاره دا ضروري ده چي هغه ته دوهم وار سزا ورکړي کوم چي د هغه مجرم په شرعي توګه وړ وي.

ناروغ مجرم ته د سزا ورکولو طريقه

﴿٣٤١٩﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت سعيد بن سعد بن عبادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ كَانَ فِي الْحَيِّ مُخْدَجٍ سَقِيْمٍ فَوُجِدَ عَلَى أَمَةٍ مِّنْ إِمَائِهِمْ

کي حاضر سو هغه سړی ډېر کمزوری او ناروغ وو، هغه د محل د يوې ښځي سره زنا کړې وه،

يَخْبُثُ بِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوْا لَهُ عِثْكَالًا فِيْهِ مِائَةُ

شِمْرَاخٍ فَاضْرِبُوْهُ ضَرْبَةً . رواه في شرح السنة وفي رواية ابن ماجه نحوه

نبي كريم ﷺ حكم وكړ چي دده د وهلو لپاره د خرماوو يوه څانګه واخلئ چي په هغه کي کوچنۍ کوچنۍ سل څانګي وي او په هغه څانګو يې داسي په يو وار ووهئ چي ټولي څانګي د هغه پر بدن ولګيږي . شرح السنة او ابن ماجة .

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٠\٣٠٣، رقم: ٢٥٩١، وابن ماجه ٢\٨٥٩، رقم: ٢٥٧٤.

د لغاتو حل: مَخدَج: اى ناقص الخلقة (عيبجن). عِثكالا: اى كباسة وهي للرطب بمنزلة العنقود للعنب. (ښاخله). شِمراخ: الاغصان الصغيرة الموجودة على العتكال (پر ښاخلې کوچنی کوچنی ښاخونه)

تشريح: يو وار يې ووهئ : ددې مطلب دادی چي په هغه لوی څانګي يې داسي ووهئ چي د هغه ټولو سل څانګو وار د هغه پر بدن ولګيږي ، ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د وخت حاکم ته ددې خبري خيال ساتل پکار دي چي کوم سړي ته د دُرو سزا ورکول کيږي هغه بايد مړ نه سي او دا مسئله مخکي هم بيان سوې ده که چيري يو ناروغ سړی د يو حد مستوجب وي نو پر هغه دي تر هغه وخته پوري حد نه جاري کيږي تر څو چي هغه روغ نه سي او د کوم ناروغ چي د ښه کېدو امید نه وي پر هغه دي داسي حد جاري کړل سي لکه څرنګه چي په حديث کي ذکر سوی دی .

د لواطت سزا

﴿٣٤٢٠﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت عكرمة د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي

وَسَلَّمَ مَنْ وَجَدْتُمُوْهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُوْلَ بِهِ .

رواه الترمذي وابن ماجة .

کوم سړی چي تاسو د قوم لوط په ډول په عمل کولو ووينئ نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ . ترمذي او ابن ماجة .

تخريج: سنن الترمذي ٤\٤٧، رقم: ١٤٥٦، وابن ماجه ٢\٨٥٦، رقم: ٢٥٦١.

تشريح: په شرح السنه کي ليکلي دي چي د غلام (لواطت) د حد په باره کي د علماؤ اختلاف دی، د امام شافعي رحمة الله عليه په دوو قولو کي زيات صحيح قول او د صاحبينو قول دادی چي د

فاعل (لواطت كونكي) حد هغه دى كوم چي د زنا كونكي حد دى يعني كه هغه محصن وي نو سنگسار دي كړل سي او كه غير محصن وي نو سل دُرې دي ووهل سي او د يوه كال لپاره دي جلا وطنه كړل سي كه هغه سړى وي كه يا ښځه، حال دا چي د يو ډلي رجحان دې ته خوا ته دى چي لواطت كونكى دى په هر حال سنگسار كړل سي كه هغه محصن وي يا غير محصن وي، د امام مالك او امام محمد رحمة الله عليهما قول هم دادى، د امام شافعي رحمة الله عليه دوهم قول دادى چي لواطت كونكى او لواطت كړل سوى دواړه دي قتل كړل سي لكه څرنگه چي د حديث د ظاهري مفهوم څخه معلوميږي.

اوس پاته سوه دا خبره چي د هغوى د قتل طريقه دي څه وي؟ ځيني حضرات وايي چي هغوى دي د غره د سر څخه را وغورځول سي، په دې باره كي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب دادى چي د لواطت سزا تعزير دى يعني د هغه اختيار حاكم ته دى چي هغه د حالاتو او حكمت په لحاظ سره كومه سزا چي غواړي جاري كولاى سي، د ديوال لاندي دي ئې كړي او كه هغه غواړي نو لواطت كونكى دي قتل كړي دي كله چي دغه خرابي د هغه عادت گرځيدلې وي او كه غواړي نو هغه دي په بنديخانه كي واچول سي.

د حيوان سره د بد فعلى سزا

﴿۳۴۲۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كوم څوك چي

بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا شَأْنُ الْبَهِيمَةِ قَالَ مَا

د حيوان سره بد فعلي وكړي هغه سړى او حيوان قتل كړئ، د ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي په دې كي د حيوان څه قصور دئ؟ هغه وويل: ما

سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا وَلَكِنْ أَرَى كَرِهَ أَنْ

په دې اړه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه هيڅ نه دي اوريدلي، البته زما خيال دئ چي د داسي حيوان

يُؤْكَلَ مِنْ لَحْمِهَا أَوْ يُنْتَفَعَ بِهَا وَقَدْ فُعِلَ بِهَا ذَلِكَ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

غوښه خوړل یا ددې څخه ګټه اخیستل چې بدفعلي ورسره سوې وه مکروه دي . ترمذي ،ابوداؤد او ابن ماجة .

تخريج: الترمذي في السنن ۴\۴٦، رقم: ۱۴۵۵، وابوداود في السنن ۴\۶۰۹، رقم: ۴۴۶۴، وابن ماجه في السنن ۲\۸۵٦، رقم: ۲٦۵۳.

تشريح: هغه قتل کړئ : ددې مراد دادی چې هغه سخت ووهئ یعني د هغه د قتلولو حکم د سخت زجر او تهدید په توګه دی د هغه په حقیقت کي قتلول مراد نه دي .

د هغه سره حیوان هم قتل کړئ : ددغه حکم حکمت ځیني حضرات دا بیانوي که چیري هغه حیوان ژوندی وساتل سي نو کیدای سي چې کوم سړي د هغه سره بدفعلي کړې وي د هغه نطفه د هغه په رحم کي قرار ترلاسه کړي او د هغه په نتیجه کي یو حیوان د انسان په صورت پیدا سي ځکه ددغه صورت څخه د ساتني لپاره د هغه وژل ضروري دي یا دا چې د هغه حیوان په موجودتیا کي د هغه مالک د دنیاوي ذلت او رسوائي سره مخامخ کیدای سي ځکه نو هغه دي ووژل سي .

په شرح مظهر کي لیکلي دي چې څلور سره امامان پر دې متفق دي چې کوم سړی د یو حیوان سره بدفعلي وکړي هغه دي نه قتل کیږي بلکه د تعزیر په توګه یو بله سزا دي ورکړل سي او دا حدیث پر زجر او توبیخ باندي محمول دی ، پاته سوه د حیوانانو خبره نو ځیني حضرات وایي که هغه حیوان داسي وي چې د هغه غوښه خوړل کیږي نو هغه دي قتل کړل سي او که د هغه غوښه نه خوړل کیږي نو د هغه په باره کي دوه صورتونه دي که ددغه حدیث ظاهري مفهوم په نظر کي وي نو هغه دي قتل کړل سي او که دا خیال وساتل سي چې د حیوانانو غوښه خوړل مقصد یا حلال نه وي نو د هغه د ذبح کولو منع منقول ده نو هغه حیوان دي نه قتل کیږي .

لواطت بدترین عمل دی

﴿۳۴۲۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په خپل امت کي چې د کومي خبري ما ته زیاته ویره ده هغه د قوم لوط عمل دئ . ترمذي او ابن ماجه .

تخريج: الترمذي في السنن ۴\۴۷، رقم: ۱۴۵۷، وابن ماجه ۲\۸۵٦، رقم: ۲٦۵۳.

تشریح: زما سره ددې بېره ده چي زما د امت خلک د نفساني خواهشاتو په ښکار کېدو سره بې صبري ونه کړي او په دغه خرابۍ کي اخته نه سي، یا دا مطلب دی چي زما د امت خلک په دې کي اخته نه سي او ددې په وجه هغوی د الله تعالی په عذاب کي راګیر نه سي.

یوه کس ته دوې سزاوې

﴿۳۴۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي د بني بکر د قبیلې یو سړی د رسول الله ﷺ په

وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ

خدمت کي حاضر سو او اقرار یې وکړ چي ده د یوې ښځي سره زنا کړې ده څلور واره یې وویل، نبي کریم ﷺ هغه په دورو ووهئ ځکه چي هغه واده نه وو کړی بیا نبي کریم ﷺ شاهدان طلب

عَلَى الْمَرْأَةِ فَقَالَتْ كَذَبَ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَجَلَدَهُ حَدَّ الْفِرْيَةِ. رواه ابوداؤد

کړل پر ښځه باندي، ښځي وویل قسم په خدای دا سړی دروغجن دئ، نبي کریم ﷺ هغه سړي ته دویمه سزا د تهمت لګولو ورکړه او په دورو ووهل سو. ابوداؤد.

تخریج: ابوداود في السنن ۴\٦۱۱، رقم: ۴۴٦۷.

تشریح: شاهدان وغواړئ: ددې مطلب دادی چي کله هغه سړي او ښځه د زنا اقرار وکړي نو د هغه پر اقرار باندي هغوی ته د زنا سزا ورکړل سوه یعني سل دُرې ووهل سوه او دې خبري هغه ښځه هم د زنا کونکې وګرځول ځکه رسول الله ﷺ هغه سړي ته وویل اوس ته داسي شاهدان راوله چي د هغه ښځي سره ستا زنا ثابته کړي مګر هغه سړی د شاهدانو راوستلو څخه عاجزه سو نو هغه ښځي وویل قسم په خدای دا سړی دروغجن دی دی ما ته د زنا نسبت کوي حالانکه زه ددې څخه پاکه یم، همدارنګه هغه ښځي دا ثابته کړه چي هغه سړی پر هغه ښځي تهمت ویلی دی نو رسول الله ﷺ هغه سړي ته دوهمه سزا د تهمت ورکړل یعني اتیا دُرې یې ووهی.

پر حضرت عائشې (رض) باندي د تهمت لګونکو سزا

﴿۳۴۲۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ ذَالِكَ فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ فَضُرِبُوا

حَدَّهُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي كله زما د برائت (بې ګناه كېدو) په اړه آياتونه نازل سول نو نبي كريم ﷺ پر منبر ددې يادونه وكړه بيا چي د منبر څخه راكښته سو نو دوو خلكو او يوې ښځي ته يې د تهمت ويلو سزا وركړل . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۶۱۸، رقم: ۴۴۷۴.

تشريح ځيني خلكو پر بي بي عائشې ﷺ باندي (نعوذبالله) د زنا تهمت لګولی وو او د رسول الله ﷺ په زړه كي هم په دې باره كي شک سوی وو مګر الله ﷻ د هغې برائت (پاكېدل) نازل كړل او دهغه څخه دا ثابته سوه چي د هغې پر پاكي لمني باندي كوم څاځكی غورځول سوی وو د هغه تعلق محض د يو سازش او د يو ځو خلكو فساد او فتنه خپرول وو ، كله چي د بي بي عائشې صديقې ﷺ د پاک لمنۍ په ثبوت كي آياتونه نازل سول چي په سورة نور كي دي نو رسول الله ﷺ پر منبر باندي په دربېدو سره يوه خطبه وفرمايل او دا اعلان يې وكړ چي الله تعالى د حرم نبوي د تقديس او حرمت عزت وساتی او بي بي عائشه ﷺ يې پاک لمنه وګرځول او ددې په ثبوت كي يې آياتونه ذكر كړل ، بيا د منبر څخه په راكښته كېدو سره رسول الله ﷺ پر هغه خلكو د قذف حد (د تهمت لګولو سزا) جاري كولو حكم وكړ چا چي په دغه ناپاک فلان كي برخه اخيستې وه په هغه كي دوه خلک وه چي د يوه نوم مسطح او د بل نوم حسان ابن ثابت وو او يوه ښځه وه چي د هغې نوم حمنه بنت حجش وو چي په دغه واقعه كي تر ټولو لويه فتنه اچونكې وه دوی ټول په اتيا اتيا دُرو ووهل سول .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په زوره زنا كي يوازي زنا كوونكی د حد حقدار دی

﴿۳۴۲۵﴾: عَنْ نَافِعٍ أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ أَبِي عُبَيْدٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَبْدًا مِنْ رَقِيقِ

د حضرت نافع رضی الله عنه څخه روايت دئ چي د ابو عبيد لور بي بي صفيې هغه ته بيان وكړ چي د

الْإِمَارَةِ وَقَعَ عَلَى وَلِيدَةٍ مِنَ الْخُمُسِ فَاسْتَكْرَهَهَا حَتَّى اقْتَضَّهَا فَجَلَدَهُ عُمَرُ وَلَمْ يَجْلِدْهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اسْتَكْرَهَهَا . رواه البخاري .

امارت یو غلام د غنیمت د مال د یوې مینزې سره په زوره زنا وکړه او د هغې پیغلتوب یې زائل کړ ، حضرت عمر رضي الله عنه هغه غلام ته دورې ورکړې او مینزې ته یې هیڅ سزا ورنه کړل ، ځکه چې د هغې سره په زوره زنا سوې وه . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\\۳۲۱، رقم: ۶۹۴۹.

د لغاتو حل: افتضها: اى اخذ بكارتها. (د پیغلتوب پرده زائلول).

د ماعز بن مالک پیښه

﴿۳۴۲۶﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنُ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ

حضرت یزید بن نعیم بن هزال د خپل پلار څخه روایت کوي چې ماعز بن مالک رضي الله عنه یتیم وو ،

يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِي ائْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

زما پلار د هغه روزنه کړې وه ، هغه د قبیلې د یوې مینزې سره زنا وکړه ، زما پلار هغه ته وویل چې ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسه ،

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ لَكَ وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ

او پیښه ورته بیان کړه کیدای سي رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا د بخښني دعاء وکړي ، زما د پلار مقصد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د لیږلو یوازې همدغه وو چې

رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا فَأَتَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ

دده د ګناه د تلافی یو سبب راووځي ، ماعز د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ چې ای د الله رسوله ! ما زنا کړې ده تاسو د کتاب الله حکم پر ما جاري کړئ ،

كِتَابَ اللَّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَعَادَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه څخه مخ واړوئ هغه بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخته راغلئ او وه یې ویل ای د الله رسوله ! ما زنا کړې ده پر ما باندې د الله حد قائم کړئ ،

اللَّهِ حَتَّى قَالَهَا أَرْبَعَ مِرَارٍ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ

هغه همدا سي څلور واره د خپلي زنا اقرار وکړي، رسول الله ﷺ وويل تا خو څلور واره وويل

فَبِمَنْ قَالَ بِفُلَانَةٍ فَقَالَ هَلْ ضَاجَعْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ بَاشَرْتَهَا قَالَ نَعَمْ

اوس ووايه چي تا د چا سره زنا کړې ده، هغه عرض وکړ د فلانۍ ښځي سره، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا ته ورسره په څنګ سوی وې هغه وويل هو،

قَالَ هَلْ جَامَعْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ فَأُخْرِجَ بِهِ إِلَى الْحَرَّةِ

بيا رسول الله ﷺ وويل: ايا تا د هغې سره معانقه (غاړه په غاړه کېدل) کړې وه، هغه عرض وکړ چي هو، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تا د هغې سره جماع هم کړې ده؟ هغه عرض وکړ چي هو، د راوي بيان دئ ددې وروسته رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ،

فَلَمَّا رُجِمَ فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ جَزِعَ فَخَرَجَ يَشْتَدُّ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ

هغه د مدينې د بريني مځکي ته بوتلل سو او رجم پيل سو، کله چي هغه د ډبرو ويشتل برداشت نه کړل نو هغه چغې کړې او وه تښتېدئ، په لاره کي عبد الله بن

أُنَيْسٍ وَقَدْ عَجَزَ أَصْحَابُهُ فَنَزَعَ لَهُ بِوَظِيفِ بَعِيرٍ فَرَمَاهُ بِهِ فَقَتَلَهُ ثُمَّ أَتَى

انيس رضي الله عنه ورسره يو ځای سو د هغه ملګري ستړي سوي وه يا دا چي د ماعز سنګسارونکي په ډبرو ويشتلو ستړي سوي وه، عبد الله د اوښ د پښې هډوکي پورته کړ او په هغه يې ماعز

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ فَيَتُوبَ اللهُ عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد.

وويشتئ، تر څو چي هغه يې مړ کړ، بيا عبد الله بن انيس د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پېښه يې عرض کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: کاش چي تاسو هغه پرې ايښی وای کيدای سوه چي هغه توبه کړې وای او الله تعالى د هغه توبه قبوله کړې وای. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۷۳ - ۵۷۴، رقم: ۴۴۱۹.

د لغاتو حل: بوظيف: مُستَدِق الذراع والساق من الخيل والابل وغيرهما.

تشريح: هغه يې حَرّه ته بوتلی: ابن همام رحمه الله وايي چي د بخاري په روايت کي دادي چي

ماعز ﷺ په مصلی کي رجم کړل سو او د مسلم او ابوداؤد په روايت کي دادي چي هغه بقيع غرقد ته بوتلل سو ، په دغه دواړو روايتو کي په ظاهره تضاد معلوميږي مگر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د مصلی څخه د جنازې د لمانځه کولو ځای مراد دی او د جنازې د لمانځه ځای په بقيع غرقد کي وو نو بيا به هيڅ تضاد پاته نه سي ، پاته سوه دا خبره چي د ترمذيؒ په روايت کي نقل سوي دي چي د ماعز ﷺ په څلورم وار اقرار کولو څخه وروسته د هغه د رجم حکم جاري کړل سو نو هغه حره ته بوتلل سو او هلته رجم کړل سو نو ددې تاويل به دا کيږي چي کله هغه د ډبرو په ويشتلو سره وتښتيدی نو خلک ور پسې سول تر دې چي حره ته ورسول سو دا تاويل ځکه ضروري دی چي دا خبره نه ثابتيږي چي ماعز ﷺ د رجم کولو لپاره حره ته رسول سوی وو ځکه چي صحاح او د حسان روايتونه ددې خبري مؤيد دي چي په شروع کي ماعز ﷺ د رجم کولو لپاره حرم ته نه وو بيول سوی مگر کله چي د هغه رجم کول شروع سول نو هغه په تښتېدو سره حره ته تللی وو يا دا توجيه وکړل سي چي مصلی به د حره په شاوخوا کي وه نو يوه روای د مصلی ذکر وکړ او بل راوي د حره ذکر وکړ په دغه صورت کي به د دواړو حديثو په مفهوم کي ورته والی پيدا سي .

د زنا د زياتوب وبال

﴿٣٤٢٧﴾ : وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي په

يَقُولُ مَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الزِنا إِلَّا أُخِذُوا بِالسَّنَةِ وَمَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الرُّشَا إِلَّا أُخِذُوا بِالرُّعْبِ . رواه احمد.

کوم قوم کي زنا ښکاره سي (يعني خپره سي) نو هغه قوم په قحط (وچ کالی) کي اخته کيږي او په کوم قوم کي چي رشوت خپور سي پر هغوی رعب غالب سي . احمد .

تخريج : مسند الامام احمد ۱۴\۲۰۵.

د لغاتو حل بالسَنَة: الجدب: (وچ کالي). الرُشا: هی الواصلة الى الحاجة بالمصانعة: (رشوت)

تشريح رشوت هغه مال ته وايي چي يو سړي ته په دې شرط ورکړل سي چي هغه به د هغه په کار کي مرسته ورسره کوي، ځيني حضرات په دغه تعريف کي دا قيد هم زيات کړی دی چي په

هغه كار كي دومره مشقت او تكليف نه وي چي د هغه مزدوري په عامه توګه د وركړل سوي مال په اندازه وركول كيږي لكه د يو پاچا يا يو حاكم په مخكي يو خبره د سفارش په توګه كول يا په هغه كي مرسته او هڅه كول ، ددې څخه معلومه سوه چي د محنت او تكليف په اندازه مال وركولو ته رشوت نه ويل كيږي همدارنګه كه چيري بېله شرطه مال وركړل سي نو دا هم د رشوت په حكم كي نه دى .

په هر حال ددغه حديث څخه معلومه سوه چي رشوت يوازي يوه ټولنيزه خرابي او يوه شرعي ګناه نه ده بلكه يو اخلاقي ظلم هم دى چي د هغه سزا په آخرت كي هم وركول كيږي مګر د هغه وبال په مختلفو صورتو كي دى په دنيا كي هم ظاهريږي ، د لته په حديث كي دا ذكر سوي دي چي د رشوت نحوست ټول قوم په خپل غېږ كي اخلي او هغه په بې غيرته كولو سره د پرديو په هيبت كي او د خپلو په بېره كي اخته كړي .

د پرديو هيبت داسي مسلط كيږي چي رشوت اخيستونكى خپل ضمير او ايمان پلوري او كله چي هغه د خپل ضمير او ايمانداري د شتمنۍ څخه محروم سي نو په هغه كي د ننه ټوله توانايي او قوت ختم سي كوم چي هغه ته د پرديو په مقابله كي د عظمت او غوره والي احساس وركوي او د خپلو بېره داسي مسلط كيږي كه يو حاكم او كاركونكى رشوت نه اخلي نو هغه خپل حكم پر هر ادنا او اعلى كس باندي جاري كوي او د خپل منصب د فرضو په ادا كولو كي هيڅ ډول خطره نه محسوس كوي ، مګر كله چي هغه په رشوت اخيستلو ولړل سي نو بيا پر هغه باندي يو بېره مسلط سي چي هغه قدم پر قدم د خپل منصب د فرضو د ادا كولو او د احكامو د جاري كولو څخه خطره محسوس كوي چي د هغه يو حكم يا كار څخه يو داسي سړى ناراضه نه سي چي د هغه څخه هغه ته د رشوت په صورت كي ناجائزه مالي ګټه تر لاسه كيږي يا د هغه د رشوت د جرم راز دار دى ددې نتيجه دا سي چي كله د رشوت وباء عامه سي او ددې په وجه هر حاكم او كاركونكى په هيبت او بېره كي اخته سي نو د حكومت ټول نظام د ډېر خوفناكه بدحالۍ ، بې باورۍ او لاقانونيت ښكار سي او ټول قوم په بې اطمينانۍ، مصيبتو او پريشانيو كي اخته سي

لواطت د لعنت باعث دى

﴿۳۴۲۸﴾: وَعَنِ بْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ مَلْعُوْنٌ مَّنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ . رواه رزين، وفي رواية له عن ابن عباس أَنَّ عَلِيًّا أَحْرَقَهُمَا وَأَبَا بَكْرٍ هَدَمَ عَلَيْهِمَا حَائِطًا .

څوک چي د لوط د قوم عمل (يعني لواطت) کوي هغه ملعون دئ ، رزين ، او دابن عباس په روايت کي دا الفاظ چي حضرت علي رضي الله عنه د لواطت فاعل او مفعول وسوځل او حضرت ابوبکر رضي الله عنه پر هغوی ديوال ونړوئ .

تخريج رواه رزين.

تشريح په جامع صغير کي امام احمد رحمه الله د حضرت حسن رحمه الله په سند سره چي د ابن عباس رضي الله عنه څخه کوم روايت نقل کړي دی په هغه کي دا الفاظ دي چي کوم څوک خپل مور ته بد رد وايي هغه ملعون دی او کوم څوک چي د غير الله په نامه ذبح کوي هغه ملعون دي او کوم څوک چي د (اسلامي پاچاهۍ) د مځکي په سرحدو کي رد و بدل وکړي هغه معلون دی او کوم څوک چي ړانده ته غلطه لار وښيي هغه ملعون دی او کوم څوک چي د حيوان سره بد فعلي وکړي هغه ملعون دی او کوم څوک چي د قوم لوط په ډول عمل وکړي (يعني لواطت) نو هغه ملعون دی.

﴿٣٤٢٩﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوْ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا .رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى هغه سړي ته د رحمت په نظر نه ګوري چي د سړي يا ښځي سره لواطت کوي . ترمذي، دا حديث حسن غريب دئ.

تخريج سنن الترمذي ١٢ / ٤٦٩، رقم: ١١٦٥.

د حيوان سره بد فعلي

﴿٣٤٣٠﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَتَى بَهِيْمَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ .رواه الترمذي وأبو داود وقال الترمذي : عن سفيان الثوري أنه قال : وهذا أصح من الحديث

الأول وهو : " من أتى بهيمة فاقتلوه " والعمل على هذا عند أهل العلم .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي څوک د حيوان سره بد فعلي وکړي پر هغه شرعي حد نسته ، ترمذي ، ابوداؤد ، ترمذي ويلي دي چي د سفيان ثوري بيان دئ چي دا حديث د لومړني حديث څخه چي په هغه کي د حيوان سره د بدفعلي کونکي د وژلو حکم دئ زيات صحيح دئ او د علماء پر دې عمل دئ .

تخريج سنن الترمذي ١٤\٤٦١، رقم: ١٤٥٥، وابوداود ١٤\٦١٠، رقم: ٤٤٦٥.

تشريح په ظاهره دا معلوميږي چي دا حديث د ابن عباس رضي الله عنه خپل قول دی مګر په دغه صورت کي د سفيان ثوري رحمه الله دغه قول چي دا حديث د اول حديث څخه زيات صحيح دی ددې څه معنی نه پاته کيږي نو صحيح خبره داده چي دا د ابن عباس رضي الله عنه خپل قول نه دئ بلکه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دئ .

په حد جاري کولو کي فرق مه کوئ

﴿٣٤٤١﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيمُوا حُدُودَ اللّٰهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ وَلَا تَأْخُذْكُمْ فِي اللّٰهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : په قريب او بعيد (يعني نژدې او ليري تړلو قريبانو کي) حدود الهي جاري کړئ په دې کي د ملامت کونکي پروا مه کوئ . ابن ماجه

تخريج سنن ابن ماجه ٢\٨٤٩، رقم: ٢٥٤٠.

تشريح د قريب او بعيد څخه نژدې او ليري قريبان مراد دي، که چيري مجرم ستا ليري قريب وي نو بيا هم حد ور باندي جاري کړه او که نژدې قريب دي وي نو بيا هم حد ور باندي جاري کړه داسي دي نه وي چي د ليري پر قريب باندي حد جاري کړئ او پر نژدې قريب باندي د حد جاري کولو څخه منع سئ يا دا چي د قريب څخه مراد کمزوری دی چي هغه ته رسيدل نژدې وي او پر هغه باندي حد جاري کول اسان وي او د بعيد څخه مراد قوي وي چي هغه رسيدل او پر هغه باندي حد جاري کول مشکل وي او دا مراد د حديث مقصد ته زيات نژدې دی ځکه چي دلته هم

هدايت ورکول مقصد دي چي پر هر مجرم باندي حد جاري کړه که څه هم هغه شتمن وي يا غريب وي، پاچا وي يا فقير وي، کمزوری وي يا قوي وي، قريب وي يا پردی وي.

د حد جاري کولو دوې فائدې

﴿۳۴۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِقَامَةُ حَدٍّ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله جل جلاله د حدودو څخه د

مِنْ حُدُودِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلَادِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رواه ابن ماجة وروا‌ه النسائي عن ابو هريرة.

يو حد جاري کول تر دې غوره دي چي په ښارونو کي څلوېښت ورځي پرله پسې د رحمت باران اوريږي. ابن ماجة او نسائي دا حديث د حضرت ابو هريره څخه روايت کړئ دی.

تخريج سنن ابن ماجه ۲\۸۴۸، رقم: ۲۵۳۷.

تشريح ددې وجه داده چي حد جاري کول مخلوق د گناه او معاصي څخه منع کول دي او دا د آسمان د دروازو خلاصول يعني د برکتو نازلېدو سبب دی، ددې پر خلاف حدود معافول يا د هغه په جاري کولو کي سستي کول يا د مخلوق ته په گناه او معاصي کي د اخته کېدو موقع ورکول دي او دا سي کول په وچ کالی کي د اخته کېدو سبب دی او دا يوازي د انسان نه بلکه د غير انساني مخلوق د هلاکت او بربادۍ سبب دی، لکه څرنگه چي نقل سوي دي چي حبار ۍ د انسانانو د گناهو په وجه د وچ کالی څخه مړ سي يعني انسان په عامه توگه سره د بدۍ پر لاره روان سي او د گناه زياتوب راسي نو د هغه په نحوست سره الله تعالی باران نه اوروي او کله چي باران نه کيږي نو يوازي د انسان لپاره وچ کالي نه وي بلکه د هغه په وجه مرغان او حيوانان هم د خپل رزق څخه محروم کيږي او مړه کيږي.

حباری د يو حيوان نوم دی او دلته په خاصه توگه ددې لپاره ذکر سو چي هغه د ليري ليري څخه د خپل خوراک پلټنه کوي.

==========

بَابُ قَطْعِ السَّرِقَةِ

(د غله د لاس پرېکولو بیان)

علامه طیبي رحمة الله علیه وایي چي په قطع السرقة کي اضافت د مضاف په حذف کولو سره مفعول ته دی یعني د معنی په اعتبار دا عنوان داسي دی (باب قطع اهل السرقة).

د سرقه معنی : سرِقه : د سین په زور او د راء په زېر سره د غلا په معنی دی او د شریعت په اصطلاح کي دده مفهوم دادی چي یو مکلف سړی د یو چا د مال څخه په پټه سره یو څه واخلي چي پر هغه باندي نه د هغه ملکیت وي او نه شبه ملکیت وي.

د غلا سزا او د هغه نصاب : دا خبره د عنوان څخه معلومه سوه چي په اسلامي شریعت کي د غلا سزا د لاس پرېکول دي مګر په دې باره کي د فقهاؤ اختلاف دی چي د څومره مال په غلا کولو سره د لاس پرېکولو حکم جاري کیږي، امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه وایي چي د سرقه نصاب د مال هغه اندازه چي پر هغه باندي د لاس پرېکېدو سزا ورکول کیږي کم او کم لس درهمه (تقریبا اووه نیمي ماشې سپین زر) دي ددې څخه د کم مال پر غلا باندي د لاس پرې کولو سزا نه ورکول کیږي، امام شافعي رحمة الله علیه څلورمه برخه د دینار یا درې درهمه سپین زر یا ددې قیمت د سرقه نصاب ګرځوي، د هغه دلیل هغه حدیثونه دي چي په هغه کي د څلورمي برخي د دینار غلا کونکي ته د لاس پرې کېدو سزا ورکول ذکر سوي دي او هغه وخت څلورمه د دینار د درو درهمو سره برابر وو او د یوه دینار مالیت د دوولس درهمو برابر وو، د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه دلیل دغه ارشاد دی:

(لاقطع الا في دينار او عشرة دراهم)

ژباړه: تر یوه دینار یا لس درهمو څخه په کمه غلا کي د لاس پرې کول نه سته.

د هدایې د قول مطابق په دې باره کي پر اکثر باندي عمل کول تر اقل باندي په عمل کولو غوره دي ځکه چي معامله د یو انساني اندام د پرې کولو ده او په اقل کي د عدم جنایت شبه کېداي سي.

څرګنده دي وي چي د فقهاؤ ددغه اختلاف بنیاد پر دې خبره دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د لاس پرې کېدو سزا د یوه سپر پر غلا کولو باندي ورکړل سوې ده، د امام شافعي رحمة الله علیه له خوا دا ویل کیږي چي هغه وخت د یوه سپر قیمت درې درهمه وو حال دا چي (د حنفیه له خوا) شمني رحمة الله علیه وایي چي په هغه زمانه کي د هغه قیمت لس درهمه وو، د حضرت عبدالله ابن

عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه ابن ابي شيبه دا نقل کړي دي او په کافي کي هم دا نقل سوي دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د يوه سپر پر غلا کولو باندي د لاس پرې کېدو سزا ورکړل سوې ده او د هغه قيمت لس درهمه وو.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د امام شافعي رحمة الله عليه مستدل حديث

﴿۳۴۴۳﴾: عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ اِلاَّ بِرُبُعِ دِيْنَارٍ فَصَاعِدًا. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لاس دي نه پرې کيږي د غل مگر په څلورمه د دينار او يا تر دې زيات کي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٩٦، رقم: ٦٧٨٩، ومسلم ٣\١٣١٢، رقم: ٦-١٦٨٦.

تشريح دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه د هغه مذهب دليل دی چي د څلورمي برخي د دينار څخه پر کم مال باندي لاس نه پرې کيږي يعني د هغه په نزد د سرقې د نصاب کم از کم مقدار د دينار څلورمه برخه ده، ملا علي قاري رحمة الله عليه په خپل كتاب كي د دغه حديث په تشريح كي ډېر تفصيلي بحث کړی دی او په دغه مسئله کي چي د علماؤ کوم اختلاف دی د هغه په نقل کولو سره د حنفيه مذهب ډېر ټينګ دليلونه يې ثابت کړي دي.

د سپر د قيمت په تعين کي اختلافي اقوال

﴿۳۴۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ سَارِقٍ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلاَثَةُ دَرَاهِمَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سپر په غلا چي د هغه بيه درې درهمه وه د غله لاس پرې کړ. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٩٧، رقم: ٦٧٩٨، ومسلم ٣\١٣١٣، رقم: ٦-١٦٨٦.

د لغاتو حل مجن: الترس (سپر)

تشريح شمني رحمة الله عليه وايي چي دا حديث د هغه روايت معارض دی کوم چي ابن ابي شيبه د

حضرت عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه نقل کړی دی . په هغه کي يې ويلي دي چي د هغه سپر قيمت لس درهمه وو ، د ابن عباس او عمرو ابن شعيب رضي الله عنهما څخه هم داسي نقل سوي دي او شيخ ابن همام رحمة الله عليه هم د ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما څخه دا خبره نقل کړې ده چي د هغه سپر قيمت لس درهمه وو ، او عيني د هدايې په حاشيه کي هم داسي ليکلي دي ، نو په دې وجه د حنفيه دا مذهب دی چي د لاس پرې کېدو سزا پر هغه غله باندي جاري کيږي چي هغه کم از کم د لسو درهمو په اندازه مال غلا کړی وي ددې څخه پر کم مال باندي دا سزا نه سي ورکول کيږي ، او کوم چي د ابن عمر رضي الله عنه ددغه روايت تعلق دی چي د هغه څخه د هغه سپر قيمت درې درهمه ثابتيږي نو په دې باره کي د حنفيه له خوا ويل کيږي چي دا د ابن عمر رضي الله عنه خپل اجتهاد او خپله رايه ده چي هغه د سپر قيمت درې درهمه ټاکلی وو حالانکه په حقيقت کي هغه سپر د لسو درهمو وو .

لکه څرنګه چي د اکثرو روايتو څخه ثابته ده او شيخ عبدالحق او ملا علي قاري رحمة الله عليهما په خپل خپل تشريح کي په ډېر تفصيل سره بحث کړی دی ، د علم خاوندان هغه کتابو ته مراجعه کولای سي .

د ټولو امامانو د مذهب خلاف يو حديث

(٣٤٣٥) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ السَّارِقَ يَسْرِقُ الْبَيْضَةَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ وَيَسْرِقُ الْحَبْلَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ . متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر غله دي د الله تعالى لعنت وي چي هګۍ پټوي او د هغه لاس دي پرې کړل سي او يا رسۍ غلا کوي نو د هغه لاس دي پرې کړل سي . بخاري او مسلم .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): في الموضع السابق رقم: ٦٧٩٩ ، ومسلم ٣ \ ١٣٤١ .

تشريح امام نووي رحمة الله عليه وايي چي ددغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي بېله تعينه پر يو ګناه کار باندي لعنت ويل جائز دي او دا خبره د الله تعالى ددغه ارشاد : أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ . څخه هم ثابتيږي . مګر د يو سړي په متعين کولو سره (يعني د هغه د نامه په اخيستلو سره) پر هغه لعنت ويل جائز نه دي .

د سرقې د نصاب په باره کي دا حديث دا پر دې دلالت کوي چي د څلورمي برخي د دينار يا

دري درهمه څخه د کم مال پر غلا باندي د لاس پرې کېدو سزا جاري کیدای سي حال دا چي په څلورو امامانو کي د هيڅ يوه په مذهب کي په څلورمه برخه د دينار يا درې درهمه څخه کم کي د لاس پرې کېدو سزا نه سته ، په دې اعتبار سره دا حديث د ټولو امامانو د مذهب خلاف دی نو د هغه ټولو حضراتو له خوا دا ويل کيږي چي دلته د بيضې څخه مراد بيضه آهن مراد دی چي هغه ته خول (جنګي خولۍ) ويل کيږي چي مجاهدين او عسکريې پر سر کوي .

همدارنګه د رسۍ څخه مراد د کښتۍ رسۍ ده چي ډېره قيمتي وي ، ددې څخه پرته ځيني حضرات دا هم وايي چي د اسلام په شروع کي د هګۍ او رسۍ پر غلا کولو باندي هم د لاس پرې کېدو سزا ورکول کېدل مګر وروسته هغه منسوخ کړل سو ، ځيني حضرات وايي چي ددغه ارشاد څخه مراد دادی چي د هغه د غلا داسي عادت جوړيږي چي د کوچني او کم شي په غلا کولو سره بيا لوی لوی شيان غلا کول هم شروع کړي چي د هغه په نتيجه کي هغه ته د لاس پرې کولو سزا ورکول کيږي .

ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د حاکمانو او پاچاهانو معمول ته اشاره کړې ده چي هغوی د شرعي حد په توګه نه بلکه د انتظامي او سياسي حکمت سره سم د دومره کم شي پر غلا باندي هم د لاس پرې کولو سزا ورکول .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ميوو پر غلا سزا د لاس پرېکول سته که يا؟

﴿٣٤٣٦﴾: عَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ . رواه مالك والترمذي وابوداؤد والنسائي و الدارمي وابن ماجة

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د درختو د ميوو او د سپينو خرماوو په غلا کي لاس نه پرې کيږي . ابوداؤد ، مالک، ترمذي، نسائي، دارمي، او ابن ماجه.

تخريج مالک في الموطا ٢\ ٨٣٩، رقم: ٣٢، والترمذي في السنن ٤\ ٤٢، رقم: ١٤٤٩، وابوداود في السنن ٤\ ٥٤٩، رقم: ٤٣٨٨، والنسائي ٨\ ٨٧، رقم: ٤٩٦٢، وابن ماجه ٢\ ٨٦٥، رقم: ٢٥٩٣، والدارمي في السنن ٢\ ٢٢٨، رقم: ٢٣٠٤.

تشريح دا حديث د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله مستدل دی ، هغه ددې پر بنياد وايي چي د لندې ميوې پر غلا باندي لاس نه سي پرې کيدای که څه هم هغه ميوه په درخته کي لګيدلې وي

او هغه فصل چي په پرې كولو سره په درمند كي جمع سوى نه وي د هغه په غلا كي هم د لاس پرې كولو سزا نه سته پر دې باندي غوښه، شيدې او هغه شيان هم قياس سوي دي كوم چي ژر خرابيږي چي د هغه په غلا كي هم لاس نه پرې كيږي ، د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله څخه پرته نور ټول حضرات د دغه شيانو پر غلا كولو باندي د لاس پرې كولو سزا واجب ګڼي ، د امام مالک او امام شافعي رحمة الله عليهما دا مذهب دى .

امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله دا هم وايي چي هغه شيان چي ډېر معمولي او حقير وي او په دارالاسلام كي د هر سړي لپاره د مباح په درجه كي وي لكه وابنه، لرګي، ماهيان، مرغان، چونه او داسي نور شيان نو د دغه شيانو پر غلا كونكي باندي د لاس پرې كېدو سزا نه سته .

﴿۳۴۳۷﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار عبدالله بن عمرو بن

الْعَاصِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ

العاص رضي الله عنه څخه روايت كوي چي د رسول الله ﷺ څخه د ميوو په اړه پوښتنه وسول چي پر درخته زړيږي،

قَالَ مَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

رسول الله ﷺ و فرمايل : څوک چي ميوه هغه وخت غلا كړي چي هغه د درختو څخه شكول سوې وي او جمع كړې يې وي او د هغه ميوو بيه د يوه سپر بيي ته ورسيږي نو د هغه لاس دي پرېكړل سي . ابوداؤد او نسائي .

تخريج ابوداود في السنن ۱۲\ ۳۳۵، رقم: ۱۷۱۰، والنسائي ۸\ ۸۴، رقم: ۴۹۵۷.

تشريح د حديث مطلب دادى چي پر درخته باندي د لګېدلي ميوې په غلا كولو سره د لاس پرې كولو سزا نه سته ځكه چي هغه محرز نه ده مګر كله چي هغه ميوه د درختي څخه وشكول سي او هغه د وچېدو لپاره جمع كړل سي نو اوس د هغه پر غلا باندي د لاس پرې كېدو سزا واجبيږي ځكه چي په دغه صورت كي هغه محرز سوي دي ، په دې اعتبار سره دا حديث د امام

اعظم ابو حنیفة رحمة الله عليه څخه ماسوا د جمهورو علماؤ دلیل دی ځکه چي امام ابو حنیفة رحمة الله عليه وايي چي مېوه تر څو پوري وچه سوې نه وي د هغه پر غلا باندي لاس نه پرې کیږي که څه هم هغه مېوه محرز وي یا غیر محرز وي ، ددغه حدیث په باره کي د حنفیه له خوا دا ویل کیږي چي په حدیث کي (کله چي هغه د وچولو لپاره جمع کړل سوې وي) ددغه قید تعلق د هغه میوو د وچېدو څخه وروسته دي لکه څرنګه چي په عربو کيْ رواج وو چي کوم وخت مېوه د وچېدو لپاره په درمند وغیره کي اچول کېدلې همدارنګه میوې به د وچېدو څخه وروسته په یو ځای کي جمع کېدلې هم او د حنفیه په نزد هم د هغه مېوو په غلا کي د لاس پرې کېدو سزا سته کوم چي د وچېدو څخه وروسته په درمند وغیره کي جمع سوي وي ، مېوه چي تر څو پوري وچه سوې نه وي تر هغه وخته پوري د هغه په غلا کي د لاس پرې کېدو سزا نه سته که څه هم هغه په درخته کي لګېدلې وي یا په شکولو سره په درمند وغیره کي جمع سوې وي لکه څرنګه چي د ثمر په باره کي په راتلونکي حدیث کي بیان سوي دي ، ددې څخه ماسوا دا خبره هم په خیال کي ساتل پکار دي چي دغه حدیث نه یوازي د مخکني حدیث (لاقطع في ثمر ولاکثر) د مطلق مفهوم معارض دی بلکه د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد (ولا قطع في الطعام) یعني د خوراک د شیانو پر غلا باندي د لاس پرې کېدلو سزا نه سته ، ددغه ارشاد هم معارض دی او د حد په باره کي ضروري ده چي د مسلمان ځان او د هغه د اندامو د ساتني په وجه په حد جاري کولو کي تر خپل وس پوري د احتیاط او رعایت د ټولو اړخونو لحاظ وساتل سي او هري داسي اړخ او نکتې ته ترجیح ورکړل سي چي په هغه سره د حد په جارې کېدو کي کم از کم عمل پاته کیږي ځکه ددغه حدیث د تعارض په صورت کي هغه حدیث ته ترجیح ورکول کیږي چي د هغه مفهوم د میوې د غلا په باره کي بالکل مطلق دی ، په دې باره کي ملا علي قاري رحمة الله عليه په خپل کتاب مرقاة کي په ډېر تفصیل سره بحث کړی دی ، دعلم خاوندان د نور تفصیل لپاره هلته مراجعه کولای سي .

پر غیر مملوکه غرني حیوانانو باندي د غلا اطلاق نه کیږي

﴿۳۴۳۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ رَسُولَ

د حضرت عبد الله بن عبد الرحمن بن ابي حسین مکي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ مُعَلَّقٍ وَلَا فِي حَرِيسَةِ جَبَلٍ فَإِذَا

وفرمایل : په درختو کي د زړېدلو میوو پر غلا باندي لاس نسي پرې کېدلای او نه پر غره د

څرېدونکي حيوان پر غلا باندي ، البته چي

آوَاهُ الْمُرَاحُ أَوْ الْجَرِينُ فَالْقَطْعُ فِيمَا يَبْلُغُ ثَمَنَ الْمِجَنِّ . رواه مالك .

حيوان د هغه په ځای کي تړل سوی وي او يا ميوه شکول سوې يو ځای پرته وي لکه (درمند) او بيا غلا کړل سي نو د غلا مال که د سپر بيي ته ورسيږي نو لاس دي پرې کړل سي . مالک .

تخريج موطا الامام مالک ۲\ ۸۳۱، رقم: ۲۲.

د لغاتو حل حريسة: هي دابة ترعى في الجبل و لها من يحفظها. المُراح: هو ما تاوي اليه الابل والغنم بالليل للحرز . (غوجل) .

تشريح علامه طيبي رحمه الله وايي چي لفظ د حريسة په اصل کي د مفعول په معنی کي دی ، يعني حريسه جبل د معنی په اعتبار محروسة جبل دی ، او محروسة جبل هغه حيوان ته وايي چي په غرونو کي اوسيږي او خلک د هغه ساتنه نه کوي يعني د چا ملکيت نه وي ، د داسي حيوانانو په باره کي فرمايل سوي دي که يو سړی هغه په نيولو سره راولي نو پر هغه باندي د غلا اطلاق نه کيږي ځکه چي هغه حيوان محرز نه دی او نه د چا په ملکيت کي دی مګر که چيري د مخکي څخه يو سړی هغه حيوان نيولی او تړلی وي نو اوس هغه حيوان د يو سړي په ملکيت کي راغلی دی ځکه نو دوهم سړی که هغه غلا کړي او د هغه قيمت د يوه سپر د قيمت په اندازه يا تر هغه زيات وي نو د هغه غله لاس به پرې کيږي .

د ډاکو سزا دلاس پرېکول نه دي

﴿۳۴۳۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ وَمَنْ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه ابوداؤد .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د چا مال په زوره واخلي د هغه لاس نسي پرې کېدلای او څوک چي په ښکاره خلک لوټ کړي هغه زموږ څخه نه دئ . ابوداؤد .

تخريج ابوداود في السنن ۴\ ۵۵۱، رقم: ۴۳۹۱.

تشريح منتهب : هغه سړي ته وايي چي د خلکو څخه مال په زور اخلي ، همدارنګه د خلکو مال لوټول که څه هم په پټه مال اخيستلو څخه بد تر دی مګر پر داسي سړي باندي د غله د اطلاق

نه کېدو په وجه هغه ته د لاس پرې کېدو سزا نه ورکول کيږي ځکه چې غل هغه سړي ته وايي چې هغه په پټه د خلکو مال وړي .

خائن د لاس پريکولو حقدار نه دی

﴿۳۴۴۰﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ وَّلاَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د خيانت کونکي، لوټ کونکي

مُنْتَهِبٍ وَّلاَ مُخْتَلِسٍ قَطْعٌ .رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي

او چمباز لاس پرې کول نسته. ترمذي، نسائي ، ابن ماجة ، دارمي

وَرَوٰى فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ

او په شرح السنة کې دا روايت دئ چې صفوان بن اميه مدينې ته راغلئ او په يوه مسجد کې يې

وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ فَجَاءَ سَارِقٌ وَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأَخَذَهُ صَفْوَانُ فَجَاءَ بِهِ إِلٰى رَسُوْلِ

پټو تر سر لاندې کېښېښودئ او بيده سو ، غل راغلی او د هغه پټو يې پټ کړ ،صفوان هغه غل ونيوئ او د نبي کريم ﷺ په خدمت کې يې حاضر کړ ،

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ أَنْ تُقْطَعَ يَدَهُ فَقَالَ صَفْوَانُ إِنِّيْ لَمْ أُرِدْ هٰذَا

رسول الله ﷺ حکم وکړ چې د هغه لاس پرې کړل سي ، صفوان عرض وکړ ما دد ې لپاره تاسو ته نه دی راوستلی چې تاسو دده لاس پرې کړئ

هُوَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلاَّ قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِيْ

ما خپل څادر ده ته صدقه کړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دلته د راوستو څخه وړاندې دې ولې خپل څادر نه ورته صدقه کوئ .

بِهِ . وروى نحوه ابن ماجه عن عبد الله بن صفوان عن أبيه والدارمي عن ابن عباس .

ابن ماجه د عبدالله بن صفوان څخه او هغه د خپل پلار څخه او دارمي د حضرت ابن عباس څخه

روايت کړی دئ.

تخريج الترمذي في السنن ۴\۴۲، رقم: ۱۴۴۸، والنسائي ۸\۸۸، رقم: ۴۹۷۲، وابن ماجه في السنن ۲\۸۶۴، رقم: ۲۵۹۱، والدارمي ۲\۱۷۵، رقم: ۲۳۱۰.

تشريح خائن هغه سړي ته وايي چي هغه ته يو شی د امانت په توګه يا د عاريت په توګه کښېښودل سي يا ورکړل سي او هغه د هغه شي څخه يو برخه يا ټول هضم کړي او دا دعوه وکړي چي هغه شی ضائع سوی دي يا بالکل د هغه څخه انکار وکړي چي هغه شی ما ته نه دی راکړل سوی که څه هم داسي سړی ډېر ګناه کار دی مګر د لاس پرې کېدو وړ نه دی ځکه چي خائن کوم شی قبضه کوي هغه په پوره توګه محرز يعني د خوندي مال په حکم کي وي، په هدايه کي دا مسئله په تفصيل سره بيان سوې دي.

همدارنګه لوټ کونکی او بد معاشه ته هم د پرې کېدو سزا ځکه نه ورکول کيږي چي هغوی د بل چا مال په پټه نه اخلي لکه څرنګه چي د تېر حديث په تشريح کي ددې وضاحت سوی دی، ابن همام رحمة الله عليه وايي چي د څلورو امامانو دا مذهب دی.

تر سر لاندي د څادر اېښودو په باره کي په هدايه کي ليکلي دي چي صحيح خبره داده چي يو شی تر خپل سر لاندي اېښودل....،

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي تا هغه مخکي معاف ولي نه کړ او خپل حق دي ولي ورته پرې نه ښود اوس چي تا ما ته راوستی او د هغه د جرم پر ثابت کېدو باندي ما د هغه د لاس پرې کېدو حکم وکړ نو د هغه لاس پرې کېدل واجب سوي دي اوس په دغه معامله کي ستا هيڅ پاته نه دی بلکه دا د الله تعالی حق دی نو ستا په معافولو سره د هغه جرم نه معافيږي، ددې څخه معلومه سوه چي کله يو غل د حاکم په مخکي وړاندي سي او د هغه جرم ثابت سي نو بيا هيڅوک يې د سزا څخه خلاصولای نه سي خپله د مدعی او صاحب مال په معافولو سره هم د هغه سزا نه معافيږي مګر حاکم ته د وړاندي کولو څخه مخکي د هغه معافول جائز دي.

ابن همام رحمة الله عليه وايي که يو سړي ته د غلا په وجه د هغه د لاس د پرې کولو سزا واورول سي او بيا هغه غلا سوی شی د هغه مالک هغه غله ته په تحفه کولو سره حواله کړي يا هغه شی پر هغه باندي خرڅ کړي نو په دغه صورت کي د هغه لاس نه پرې کيږي مګر امام زفر، امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهم وايي چي په دغه صورت کي هم د هغه لاس پرې کيږي او د امام ابويوسف رحمة الله عليه يو قول هم داسي دی، او د حضرت صفوان رضي الله عنه په ذکر سوي حديث کي هم ددې تائيد کيږي نو ددې جواب دادی چي په يوه روايت کي خو دا حديث داسي دی لکه څرنګه چي

دلته نقل سوی دی مګر د حاکم وغیره په روایت کي داسي نه دی بلکه د یو څه زیاتوب سره دی نو د هغه زیاتوب په وجه اضطراب واقع سو او اضطراب د حدیث د ضعیف کېدو موجب دی.

د جهاد په سفر کي دي د غله لاس نه پرې کیږي

﴿۳۴۴۱﴾: وَعَنْ بُسْرِ بْنِ أَرْطَاةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لاَ تُقْطَعُ الأَيْدِيْ فِي الْغَزْوِ. رواه الترمذي والدارمي وأبو داود والنسائي إلا أنهما قالا في السفر بدل الغزو.

د حضرت بسر بن ارطاة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې: په جهاد کي لاسونه مه پرې کوئ. ترمذي، دارمي، ابوداؤد، نسائي، مګر دوی دواړو د غزا پر ځای د سفر الفاظ نقل کړي دي.

تخریج الترمذي في السنن ۴ ۵۳، رقم: ۱۴۵۰، والدارمي ۲\ ۳۰۳، رقم: ۲۴۹۲، وابوداود ۴\ ۵۶۳، رقم: ۴۴۰۸. والنسائي في السنن ۸\ ۹۱، رقم: ۴۹۷۹.

تشریح ابن مالک رحمه الله وایي چي ددغه حدیث مطلب دادی چي اسلامي لښکر په دار الحرب کي د کفارو سره په جهاد بوخت وي او امام د هغوی سره نه وي بلکه د لښکر امیر د هغوی مشر وي او هغه وخت (په جهاد کي) یو سړی غلا وکړي نو د هغه لاس دي نه پرې کیږي همدارنګه نور حدود دي هم نه جاري کیږي، ځینو فقهاؤ په دې عمل کړی دی او ددې بنیاد دغه احتمال دی چي داسي نه هغه سړی د سزا د بیري څخه دار الحرب خپل د هستوګني ځای وګرځوي او په فتنه او ګمراهۍ کي اخته سي یا دا بېره هم کیدای سي چي د هغه په وجه په مجاهدینو کي سستي او تفرقه پیدا سي، علامه طیبي رحمه الله وضاحت کړی دی چي د امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله مذهب دادی، ځیني حضرات وایي چي په غزا کي د لاس نه پرې کېدو مطلب دادی که چیري د اسلامي لښکر یو کس د غنیمت د مال د ویشتلو څخه مخکي د هغه څخه یو شی پټ کړي نو د هغه لاس دي نه پرې کیږي ځکه د غنیمت په مال کي د هغه حق هم دی.

علامه طیبي رحمه الله وایي چي د ابوداؤد او نسائي په روایت کي چي د سفر کوم لفظ مطلق نقل سوی دی هغه پر دغه مقید محمول سي یعني د سفر څخه د جهاد سفر مراد واخیستل سي.

په دوهم او دریم وار د غلا کولو سزا

﴿۳۴۴۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سلمة او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ فِي السَّارِقِ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا يَدَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا رِجْلَهُ ثُمَّ إِنْ

هر كله چي غل غلا وكړي نو د هغه لاس پرې كړئ بيا چي غلا وكړي نو پښه يې پرې كړئ

سَرَقَ فَاقْطَعُوْا يَدَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا رِجْلَهُ . رواه في شرح السنة

بيا چي غلا وكړي نو بل لاس يې پرې كړئ بيا چي غلا وكړي نو بله پښه يې پرې كړئ . شرح سنة .

تخريج شرح السنة ۱۰\۳۲۶، رقم: ۲۶۰۲،

تشريح په اول وار غلا كولو باندي راسته لاس پرې كول او په دوهم وار غلا كولو باندي چپه پښه پرې كول د علماؤ متفق مذهب دی مگر په دريم وار پر غلا كولو باندي چپه پښه پرې كول او په څلورم وار غلا كولو باندي راسته پښه لاس كولو په باره كي د علماؤ اختلاف دی ، امام شافعي رحمه الله وايي چي ددغه حديث مطابق په دريم او څلورم وار پر غلا كولو باندي راسته لاس او چپه پښه دي پرې كړل سي مگر د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادی چي په دريم وار غلا كولو باندي لاس دي نه پرې كيږي بلكه په بندي خانه كي دي واچول سي تر دې چي په هغه كي مړ سي يا توبه وكړي ، د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله ددغه مذهب دليل دادی چي اول خو پر دې خبره باندي د صحابه كرامو اجماع او اتفاق وو دوهم دا چي يو سړی د هغه د څلور لاسو او پښو څخه محروم كول گويا هغه د خپل بدن د بقاء د ټولو ذرائعو او اسبابو څخه محرومول دي چي د هغه په حق كي د سزا څخه زيات يو ډول زياتي دی ، او كوم چي ددغه حديث تعلق دی نو اوله خبره خو داده چي په اصل كي دا حديث د تهديد او سياسي حكمت باندي محمول دی دوهمه خبره دا چي محدثين ددغه حديث په صحيح كېدو كي كلام كړی دی ، طحاوي رحمه الله په دغه حديث كي پر دغه الفاظو طعن كړی دی چي ما د صحابه كرامو ډېر اثار ، قضيې او فيصلې وليدلې مگر د زياتي پلټني سربېره ما ددغه حديث يو بنياد معلوم نه كړ ، ددې څخه پرته ما د ډېرو د حديثو د حافظانو سره ملاقات وكړ او هغوی ټولو ددغه حديث د خبرېدو څخه انكار وكړ . ابن همام رحمه الله وايي چي د پښې پرې كولو په باره كي د اكثرو علماؤ قول دادی چي د

ګونډې څخه دې پښنه پرې کړل سي .

﴿۳۴۴۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو غل رسول الله ﷺ ته راوستل سو ، رسول الله ﷺ حکم

اقْطَعُوهُ فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ فَقَالَ اقْطَعُوهُ فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّالِثَةَ

وکړ چي لاس يې پرې کړئ ، نو د هغه لاس پرې کړل سو ، هغه بيا دوهم وار راوستل سو ، نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دده پښنه پرې کړئ ، په دريم وار هغه په غلا کي راوستل سو ،

فَقَالَ اقْطَعُوهُ فَقُطِعَ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اقْطَعُوهُ فَقُطِعَ فَأُتِيَ بِهِ الْخَامِسَةَ

نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دده لاس پرې کړئ ، د هغه لاس پرې کړل سو ، په څلورم وار چي بيا په غلا کي راوستل سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل دده پښنه پرې کړئ نو پښنه يې پرې کړل سول ، په پنځم وار په غلا کي راوستل سو

فَقَالَ اقْتُلُوهُ فَانْطَلَقْنَا بِهِ فَقَتَلْنَاهُ ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ وَرَمَيْنَا

نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دی دې قتل کړل سي نو هغه قتل کړل سو بيا موږ د هغه مړی راوړ او په څاه کي مو وغورزوئ او سربيره مو

عَلَيْهِ الْحِجَارَةَ . رواه ابوداؤد والنسائي و روي في شرح السنة في قطع السارق عن النبي صلى الله عليه وسلم اقطعوه ثم احسموه .

په دې روويشتئ ، ابوداؤد ، نسائي ، او په شرح السنة کي د غله د لاس پرې کولو په اړه د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ منقول دي چي د هغه لاس پرې کړئ او په ګرمو تيلو کي يې داغ کړئ .

تخريج ابوداود في السنن ۴\۵۶۵، رقم: ۴۴۱۰، والنسائي ۸\۹۰، رقم: ۴۹۷۸.

تشريح او بيا هغه ته داغ ورکړئ : ددې مطلب دادی چي کوم لاس پرې سوی وي هغه ته دې په ګرمو تېلو يا ګرمي او سپيني سره داغ ورکړي چي وينه يې بنده سي ، که داغ ور نه کړل سي نو د بدن ټوله وينه به وبهيږي او غل به هلاک سي .

خطابي رحمة الله عليه وايي چي زما په علم کي داسي فقيه او عالم نه سته چي هغه د غله قتلول

مباح کړي وي که څه هم هغه هر څومره غلا کړې وي ، هغه وايي چې دا حديث د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد (لايحل دم امرء الا باحدى ثلث) په ذريعه منسوخ دی .

ځيني حضرات وايي چې رسول الله ﷺ د هغه غله د وژلو حکم وکړ نو هغه د سياسي او انتظامي حکمت په وجه وو ، د وخت امام ته دا حق حاصل دی چې هغه د فساد کونکو ، غلو ، بدمعاشانو او ملکي امن او امان د مجرمانو په تعزير کي پر خپل رايه او اجتهاد باندي عمل وکړي او څرنګه چې غواړي هغه ته دي سزا ورکړي او ځيني علماء وايي چې رسول الله ﷺ ته به معلومه سوې وي چې هغه سړی مرتد سوی دی ځکه رسول الله ﷺ د هغه قتلول مباح کړل او د هغه د وژلو حکم يې ورکړ .

همدارنګه ځيني حضرات دا هم وايي چې دا حديث پر دې خبره محمول دی چې هغه سړی غلا حلاله ګڼل ځکه په وار وار يې غلا کول په دې وجه هغه ته دومره سخته سزا ورکړل سوه ، په هر حال په دغه تاويلاتو کي يو تاويل اختيارول ضروري دي ځکه که چيري هغه مسلمان وای نو د هغه د وژلو څخه وروسته د هغه په راکشولو سره په څاه کي غورځول به هيڅکله مباح نه وای .

د غله پرې سوی لاس د هغه په غاړه کول

﴿٣٤٤٤﴾ : وَعَنْ فُضَالَةَ بْنُ عُبَيْدٍ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقُطِعَتْ يَدُهُ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت فضالة بن عبيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو غل راوستل سو . د رسول الله ﷺ د حکم سره د هغه غله لاس پرې کړل سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه لاس پرې کړئ او د هغه په غاړه کي يې واچوئ . ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه .

تخريج الترمذي في السنن ٤١\٤ ، رقم: ١٤٤٧ ، وابوداود ٥٦٧\٤ ، رقم: ٤٤١١ ، والنسائي في السنن ٩٢\٨ ، رقم: ٤٩٨٣ ، وابن ماجه في السنن ٨٦٣\٢ ، رقم: ٢٥٨٧ .

تشريح ابن همام رحمة الله عليه وايي چې د امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما څخه دا منقول دي چې د غله پرې کړی لاس د هغه په غاړه کي زړول سنت دي حال دا چې د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد دا د امام يا حاکم پر خوښه موقوف دی که هغه مناسب وګڼي نو د غله پرې کړی لاس دي د هغه په غاړه کي وزړوي دا سنت نه دي ځکه چې دا ثابت نه دي چې رسول الله ﷺ د

غله پرې کړی لاس د هغه په غاړه کي زړولی وي.

غل غلام خرڅ کړئ

﴿۳۴۴۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَرَقَ الْمَمْلُوكُ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ. رواه ابوداؤد والنسائي و ابن ماجة.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که غلام غلا وکړي نو هغه خرڅ کړئ که څه هم په يوه نش خرڅ سي. نش: نيمي اوقيې ته ويل کيږي چي شل درهمه کيږي. ابوداؤد. نسائي او ابن ماجه.

تخريج ابوداود في السنن ۴\ ۵۶۸، رقم: ۴۴۱۲، والنسائي ۸\ ۹۱، رقم: ۴۹۸۰، وابن ماجه في السنن ۴\ ۸۶۴، رقم: ۲۵۸۹.

د لغاتو حل بِنَش: اى عشرون درهما نصف اوقية والمعنى بعه ولو بثمن بخس.

تشريح نَش: نيم اوقيه يعني شل درهمه ته وايي، مراد دادی چي غلا کونکی غلام وپلوره که څه هم هغه په کم قيمت باندي پلورل کيږي ځکه چي په غلا کولو سره هغه عيب داره سوی دی او عيب داره غلام د ځان سره ساتل مناسب نه دي.

حضرت امام مالک، امام شافعي او اکثر اهل علم وايي که يو غلام غلا وکړي نو د هغه لاس دي پرې کړل سي که څه هم هغه تښتيدلی وي يا تښتيدلی نه وي. په دې باره کي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله قول دادی که چيري په خاوند او ښځه کي د يو بل څخه مال پټ کړي يا يو غلام د خپل مالک يا د خپل مالک د ښځي څخه يا د خپل مالکي د خاوند د مال څخه غلا وکړي نو د هغه لاس به نه پرې کيږي ځکه چي په عامه توګه سره خاوند ښځي ته د يو بل په مال او غلام ته د خپل بادار او د هغه د کورنيو په مال او اسبابو کي خپله د هغوی په اجازې سره لاس وهنه کولای سي. په دغه صورت کي د حرز شرط پوره نه تر لاسه کيږي کوم چي د لاس پرې کېدو لپاره ضروري دئ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د مجرم د معافولو حق حاکم ته نه سته

﴿۳۴۴۶﴾ : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُتِيَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقَطَعَهُ فقَالُوا مَا كُنَّا نَرَاكَ تَبْلُغ بِهِ هَذَا قَالَ لَوْ كَانَتْ فَاطِمَةَ لَقَطَعْتُهَا . رواه النسائي

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي یو غل را وستل سو ، رسول الله ﷺ د هغه د لاس پرې کولو حکم وکړ ، صحابه کرامو عرض وکړ چي زموږ دا خیال نه وو چي تاسو به دده لاس پرې کړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل : که فاطمه هم وای نو ما به د هغې لاس پریکړی وای . نسائي .

تخریج سنن النسائي ۸\ ۷۲، رقم: ۴۹۹۶.

تشریح په ظاهره دا معلومیږي چي هغه غل یو داسي سړی وو چي د هغه سره د رسول الله ﷺ یو قرابت وو یا د رسول الله ﷺ د متعلقینو څخه یو کس وو او په دې وجه د صحابه کرامو د ګمان مطابق د هغه سره د نرمۍ او رعایت کولو امکان وو ، رسول الله ﷺ واضحه کړل چي د لاس پرې کولو سزا د الله تعالی حق دی چي د هغه جاري کول پر ما واجب دي په دې کي ستر کي پټول نه یوازي دا چي د عدل او انصاف خلاف کار دی بلکه د الله تعالی د حکم او د هغه په حق کي د بې ځایه مداخلت کولو سره سم دی که چیري زما د زړه ټوټې فاطمې رضي الله عنها هم دا کار کړی وي نو ما به پر هغې هم دغه سزا جاري کړې وای او د هغې لاس به مي پرې کړی وای .

که غلام د خپل مالک څخه غلا وکړي نو د هغه لاس نه پرې کیږي

﴿۳۴۴۷﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بِغُلَامٍ لَهُ فَقَالَ اقْطَعْ يَدَهُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه ته یو کس خپل غلام راوستی چي

فَإِنَّهُ سَرَقَ مِرْآةً لِامْرَأَتِي فَقَالَ عُمَرُ لَا قَطْعَ عَلَيْهِ وَهُوَ خَادِمُكُمْ أَخَذَ مَتَاعَكُمْ . رواه مالك .

ده زما د ښځي څخه هنداره غلا کړې ده تاسو دده لاس پریکړئ . حضرت . عمر رضي الله عنه ورته وویل

ده لاس پرېکول واجب نه دي دا ستا خادم دئ ستا شي يې اخيستی دئ. مالک

تخريج موطا الامام مالک ۸۳۹\۲، رقم: ۳۳.

تشريح حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خپل ارشاد په ذريعه پر هغه باندي د لاس پرې کولو سزا نه جاري کولو علت او وجهي ته اشاره وکړه چي هغه د اجازې تر لاسه کول دي چي ستاسو د خادم کېدو په حيثيت سره کله چي هغه ته تاسو سره د اوسيدو او ستاسو دمال او سامان د ساتني اجازه حاصله ده او په دې اعتبار سره ستا او ستا د کور د مال خپله ستا په مرضي سره د هغه په لاس کي دی نو په دغه صورت کي د احراز يعني د مال د بل د لاس څخه خوندي کېدل پاته نه سي او کله چي احراز پاته نه سو نو بيا د لاس پرې کېدو سزا به هم نه وي.

د امام اعظم ابو حنيفة او امام احمد رحمة الله عليهما دا مذهب دی حال دا چي د نورو علماؤ مذهب ددې خلاف دی.

د کفن کښ سزا

﴿۳۴۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ

د حضرت ابو ذر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: اې ابو ذره! ما وويل

لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ

حاضر يم تا ته اې رسوله د خدای او فرمان بردار ه دي يم، رسول الله ﷺ وفرمايل: ته به هغه وخت څه کوې چي خلکو ته مرګ (وبا) ورسيږي،

الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ

او د کور (يعني د قبر ځای) بيه د يوه غلام د بيي سره برابره سي، ما عرض وکړ چي الله او د هغه رسول ښه پوهيږي (چي هغه وخت به زما څه حال وي) رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه وخت به پر تا

قَالَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ تُقْطَعُ يَدُ النَّبَّاشِ لِأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْمَيِّتِ بَيْتَهُ.

رواه ابو داؤد.

صبر لازم وي. ددې حديث يو راوي حماد بن ابي سليمان وايي د کفن د غله لاس دي پرېکړل سي ځکه چي هغه د مړي په کور کي داخل سو. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۵٦۴، رقم: ۴۴۰۹.

د لغاتو حل: الوصيف: العيد، يريد انه يكثر الموت حتى يصير موضع قبر يشتري بعبد من كثرة الموتى.

تشريح: حماد ابن سلمه د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه يوه ډېره باريکه نکته پيدا کړه او دا استدلال يې وکړ چې رسول الله ﷺ قبر ته کور فرمايلی دی همدارنګه د کور په ډول قبر هم حرز سو لکه څرنګه چې د کور څخه يو سړی يو شی غلا کړي نو د هغه لاس پرې کيږي همدارنګه که يو سړی د قبر څخه کفن غلا کړي نو د هغه لاس دي پرې کړل سي مګر حقيقت دادی چې د حضرت حماد ﷜ دغه استدلال ټينګ نه دی ځکه دا ضروري نه ده چې هغه ځای د حرز په حکم کي وي چې پر هغه د کور اطلاق کيږئ د مثال په توګه يو سړی د يو داسي کور څخه مال غلا کړي چې د هغه دروازه بنده نه وي يا پر هغه باندي يو څوک چوکيدار نه وي نو په اتفاق سره د ټولو علماؤ دا فيصله ده چې د هغه لاس به نه پرې کيږي ځکه که چيري هغه د يو کور دننه غلا کړې وي مګر د هغه کور د نه ساتني په وجه هغه حرز پاته نه سو او کله چې په دغه صورت کي د حرز شرط پيدا نه سو نو په دې سره د لاس پرې کولو سزا هم نه جاري کيږي بالکل همدارنګه قبر ته که څه هم حرز فرمايل سوي دي مګر هغه حرز يعني خوندي نه دی ځکه د هغه څخه د کفن د غله لاس نه پرې کيږي.

ابن حمام ﷫ وايي چې د امام اعظم ابوحنيفة او امام محمد رحمة الله عليهما مذهب دادی چې د لاس پرې کولو سزا د کفن پر غله باندي نه نافذ کيږي حال دا چې د درو امامانو او حنفيه کي د امام ابويوسف ﷫ قول دادی چې د کفن د غله لاس دي پرې کړل سي، د دغه مسئلې پاته تفصيل په مرقاة کي تر لاسه کولای سئ.

=========

بَابُ الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُوْدِ

(په شرعي سزاوو کي د سفارش بيان)

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چې د هغو څخه دا معلوميږي چې امام يا حاکم ته داسي سفارش کول چې فلانی مجرم معاف کړه او پر هغه حد جاري نه کړل سي دا جائز دي که يا؟ او دا چې حاکم د دغه سفارش اختيار لري که يا؟

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په حدودو کي سفارش نه سته

﴿۳۴۴۹﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دئ چي قريش د مخزوميي ښځي په اړه ډير فکرمند وه چي هغې غلا کړې وه (او نبي کريم ﷺ د هغې د لاس پرې کولو حکم کړی وو)

فَقَالُوا وَمَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ

قريشو فکر وکړ چي په دې اړه به څوک د رسول الله ﷺ سره خبري وکړي، ځينو خلکو وويل

عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ

حضرت اسامه بن زيد ﷺ چي د رسول الله ﷺ ډير محبوب دئ، نو حضرت اسامه ﷺ د رسول الله ﷺ سره ددې خبري يادونه وکړه،

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ ثُمَّ قَامَ

رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل: ته د الله جل جلاله په حدودو کي سفارش کوې، د دې په فرمايلو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو

فَاخْتَطَبَ ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ

او د خلکو په وړاندي يې خطبه ورکړل بيا يې وفرمايل: ستاسو څخه وړاندي امتونه په دې هلاک سول چي په هغوی کي به غلا وکړل

الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ

يو شريف کس نو هغه به يې پرېښنودئ او کله چي به يو کمزوري سړی غلا وکړه نو هغه ته به يې سزا ورکړه. قسم په الله! که

فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا. متفق عليه و في رواية لمسلم

زما خپل لور فاطمه غلا وکړي نو زه به د هغې لاس هم پرېکړم. بخاري او مسلم، د مسلم په يوه

قَالَتْ كَانَتْ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

روایت کي دا الفاظ دي چي د بي بي عائشې رضي الله عنها بیان دئ چي یوې مخزومي ښځي به عاریتا د یو چا څخه شی واخیستئ بیا به یې د ورکولو څخه انکار کوی، نبي کریم ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُقْطَعَ يَدُهَا فَأَتَى أَهْلُهَا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَكَلَّمُوهُ فَكَلَّمَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا ثُمَّ ذَكَرَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ مَا تَقَدَّمَ.

د هغې د لاس پریکولو حکم وکړ د ښځي خپلوان حضرت اسامه ته راغلل د هغه سره یې په دې اړه خبري وکړې، حضرت اسامه نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ ددې وروسته پورتني حدیث دئ.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\٥١٣، رقم: ٣٤٧٥، ومسلم ٣\١٣١٥، رقم: ٨- ١٦٨٨.

تشريح: په حدیث کي چي د کومي ښځي ذکر سوی دی د هغې نوم فاطمه بنت اسود ابن عبدالاسد وو، هغه د ابوسلمه رضي الله عنه وریره وه او هغه د بني مخزوم څخه وو چي د قریشو یوه لویه قبیله ده ځکه نو قبیلې ته په نسبت کولو سره هغه ته مخزومیه ویل سوي دي.

ددغه حدیث په سبب د ټولو علماؤ پر دې اجماع او اتفاق دی چي کله د یو حد قضیه حاکم یا امام ته ورسیږي نو د هغه څخه وروسته د مجرم په باره کي امام ته سفارش کول هم حرام دي او د بل چا سفارش کول هم حرام دي مگر امام ته د قضیې رسیدو څخه مخکي د سفارش کولو اکثرو علماؤ اجازه ورکړې ده په شرط ددې چي د چا په باره کي سفارش کیږي هغه شر رسونکی او خلکو ته تکلیف رسونکی نه وي همدارنگه که چیري یو سړی داسي جرم او گناه کړې وي چي پر هغه حد نه جاري کیږي بلکه تعزیر ورکول کیږي نو د هغه په حق کي سفارش کول په هر صورت کي جائز دي که څه هم د هغه قضیه امام ته رسیدلې وي یا نه وي رسیدلې، ځکه چي په دغه صورت کي سفارش کول نه یوازي دا چي اسان وي بلکه مستحب هم دي په شرط ددې چي د چا په باره کي سفارش کیږي هغه شریر او تکلیف رسونکی نه وي.

د مسلم چي کوم دوهم روایت نقل سوی دی د هغه الفاظو څخه په ظاهره دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ هغه ښځي ته په دغه جرم کي د لاس پرې کولو د سزا حکم ورکړی وو چي هغې به د خلکو څخه عاریتا شیانو غوښتل او بیا یې د هغه شي څخه منکره کېدل حال دا چي دا د واقعې خلاف هم دی او د شرعي مسئلې خلاف هم دی، ددې جواب دادی چي په دریم روایت کي د

انکار ذکر محض د هغه ښځي د حال ښوولو لپاره دی چي هغه ښځه دا ډول وه او هغې ته چي د لاس پرې کولو سزا ورکړل سوې وه نو د هغه تعلق د هغه د غلام د جرم سره وو لکه څرنګه چي په اول روایت کي چي بیان سوی دی ، خلاصه دا سوه چي په دوهم روایت کي لفظ د (وتجحده) څخه وروسته لفظ د (فسرقت) مقدر دی یعني دغه لفظ که څه هم په عبارت کي نه سته مګر ددې معنی به مراد وي ، د جمهورو علماؤ مذهب دادی چي د کوم چا څخه په عاریت یو شی واخیستل سي او بیا د هغه څخه منکر سي نو هغه ته د لاس پرې کېدو سزا نه ورکول کیږي حال دا چي د امام احمد او اسحاق رحمة الله علیهما قول دادی چي د داسي سړي لاس پرې کول هم واجب دي .

په دغه باب کي دوهم فصل نه سته .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

په حد کي سفارش کوونکی ګویا د الله ﷻ د حکم مخالفت کوونکی دی

﴿۳۴۵۰﴾ : عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدلي دي چي

يَقُوْلُ مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللّٰهِ فَقَدْ ضَادَّ اللّٰهَ وَمَنْ خَاصَمَ

فرمایل یې : د چا چي سفارش د الله تعالی په حدود قائمولو کي حائل وګرځي هغه د الله تعالی سره ضد وکړ او چا چي په ناحقه او دروغ خبره کي جګړه وکړه

فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْزِعَ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا

او هغه د هغه د ناحق کېدو څخه خبر وي هغه همیشه د الله تعالی په غضب کي وي ، تر څو پوري چي د هغه څخه منع نسي او څوک چي د یو مسلمان په اړه یوه داسي خبره وکړي

لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللّٰهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ. رواه احمد و

چي په هغه کي نه وي نو هغه تر هغه وخته پوري دوږخیانو په نوونو او وینو کي وي تر څو پوري چي د هغه څخه توبه ونه کړي . احمد ، ابوداؤد

ابوداؤد و في رواية البيهقي في شعب الايمان مَنْ اَعَانَ عَلٰى خَصُوْمَةٍ لاَ يَدْرِيْ اَحَقٌّ اَمْ بَاطِلٌ فَهُوَ فِيْ سَخَطِ اللهِ حَتّٰى يَنْزِعَ .

او بيهقي په شعب الايمان كي ليكلي دي څوك چي د يوې داسي جګړې مرسته وكړي چي د هغه د حق او ناحق كېدو هغه ته خبر نه وي نو هغه تر هغه وخته پوري په الهي غضب كي وي تر څو پوري چي د هغه څخه منع نسي .

تخريج: احمد في المسند ٢\٧٠، وابوداود ٤\٢٣، رقم: ٣٥٩٧، والبيهقي في الشعب ٦\١٢١، رقم: ٧١٧٣.

د لغاتو حل: رَدعة: طين ووحل كثير.

د غلا پر اقرار سزا

﴿٣٤٥١﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الْمَخْزُومِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلِصٍّ

د حضرت ابو اميه المخزومي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ ته يو غل راوستل سو چي

قَدْ اعْتَرَفَ اعْتِرَافًا وَلَمْ يُوجَدْ مَعَهُ مَتَاعٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه په څرګندو الفاظو سره د خپل غلا اقرار وكړ مګر د هغه سره د غلا مال تر لاسه نه سو ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل :

مَا إِخَالُكَ سَرَقْتَ قَالَ بَلَى فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَالِكَ يَعْتَرِفُ فَأَمَرَ

زما خيال دئ چي تا غلا نه ده كړې ، هغه وويل : ولي نه هو ما غلا كړې ده ، رسول الله ﷺ دويم او دريم وار ورته داسي وفرمايل او هغه هر وار د غلا اقرار وكړ ،

بِهِ فَقُطِعَ وَجِيءَ بِهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَغْفِرْ اللّٰهَ

په پاى كي رسول الله ﷺ د هغه د لاس پريكولو حكم وكړ ، د لاس پريكولو څخه وروسته هغه رسول الله ﷺ ته راوستل سو ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل د الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړه

وَتُبْ إِلَيْهِ فَقَالَ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او توبه وكړه ، هغه وويل : زه د الله جل جلاله څخه بخښنه غواړم او توبه كوم ، رسول الله ﷺ درې واره

اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ ثَلَاثًا . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي هكذا

وفرمايل : اې الله ! دده توبه قبوله کړې . ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجة، دارمي ،

وجدت في الاصول الاربعة و جامع الاصول وشعب الايمان ومعالم السنن عن ابي امية و في نسخ المصابيح عن ابي رمثة بالراء والثاء المثلثة بدل الهمزة والياء .

ما په اصول اربعه ، جامع الاصول، شعب الايمان او د مصابيحو په نسخو کي د ابي رمثه په حوالې سره همدا سي تر لاسه کړې دئ چي رمثه په راء او ثاء مثلثه سره پر ځای د همزه او یاء دی .

تخریج: ابوداود في السنن ۴\۵۴۲، رقم: ۴۳۸۰، والنسائي في السنن ۸\۶۷، رقم: ۴۸۷۷، وابن ماجه في السنن ۲\۸۶۶، رقم: ۲۵۹۷، والدارمي ۲\۲۲۸، رقم: ۲۳۰۳.

تشریح: زما خيال نه دی : ددې شخه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي هغه سړی د خپل اقرار شخه رجوع وکړي چي حد ځيني ساقط سي او د هغه لاس پرې نه کړل سي لکه شرنګه چي رسول الله ﷺ د زنا د اقرار کونکي په مخکي همدا رنګه جملې ارشاد وفرمايلې چي د هغه مقصد د عذر تلقين وو ، دا د امام شافعي رحمة الله عليه د دوو قولو شخه یو قول دی مګر د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او نورو امامانو په نزد د عذر تلقين او د رجوع تلقين یوازي د زنا د حد سره خاص دي.

رسول الله ﷺ چي هغه سړي ته د استغفار حکم وکړ نو دا پر دې دلالت کوي چي پر کوم چا باندي حد جاري سوی وي هغه حد يې بالکل (د ګناهو شخه) پاکولای او خلاصولای نه سي بلکه هغه ګناه ختموي چي د هغه په وجه پر هغه باندي حد جاري سوی دی چي د حد جاري کېدو شخه وروسته به هغه د پروردګار له خوا د هغه ګناه په سبب دوهم وار په عذاب کي اخته نه کړل سي .

==========

بَابُ حَدِّ الْخَمْرِ

(د شرابو چښلو د حد بیان)

د شرابو حُرمت : شرابو ته (أم الخبائث) ویل سوي دي ، د نبي كريم ﷺ د پيغمبرۍ څخه مخكي شرابو د ژوند د يو برخي درجه درلودل ، ځكه د بعثت څخه وروسته د اسلام په شروع كي هم ددې رواج پاته وو او په عامه توګه سره خلك د شرابو په څښلو اخته وه مګر ددې د خرابۍ او تاوان په وجه د مسلمانانو په زړو كي خطره هم پيدا كېدل او د حضرت عمر رضي الله عنه د قول (انما تذهب المال وتذهب العقل) يعني شراب مال هم بربادوي او عقل هم ختموي، سره سم په خلكو كي دا احساس هم ورځ په ورځ زياتيدی چي ددې جائز كېدل څومره ژر ختم سي هغومره به ښه وي ، او آخوا تهوله خلك په دغه لعنت كي اخته وه او دا يو داسي عادت وو چي د هغه ريښي په تهوله تهولنه كي تر ليري پوري خپرې سوې وي ځكه د شريعت حكمت دا وو چي ددغه حرمت جاري كېدل په يو وار د منع كېدو پر ځای په تدريجي توګه په عمل كي راسي او د عامو خلكو په زړو كي ددغه نفرت داسي ځای كړل سي چي د شريعت مقصد هم پوره سي او خلك ددغه لعنت څخه هم خلاصون تر لاسه كړي ، كله چي ځينو صحابه كرامو د رسول الله ﷺ څخه د شرابو په باره كي پوښتنه وكړه نو په دې باره كي تر ټولو مخكي دغه آيت كريمه نازل سو :

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا

ژباړه / (اې محمد ! ﷺ) خلك ستا څخه د شرابو او خمار په باره كي پوښتنه كوي ، ورته ووايه چي په دغه دواړو كي لويه ګناه ده او په ظاهره د خلكو لپاره (دوكه وركونكې) څه ګټه هم سته مګر د دې ګناه تر ګټو زياته ده .

كومو نيكو كسانو چي د مخكي څخه د شرابو د بدو اثراتو احساس درلودی او كوم خلك چي ددې د خرابۍ څخه په طبيعت كي هم بېزاره وه د هغوی لپاره هم دا كافي وه چي قرآن كريم شرابو ته كبيره ګناه وويل نو هغوی شراب څښل بالكل پرېښودل مګر په دغه آيت كي د شرابو د حرام كېدو يو واضح او قطعي حكم نه سته ځكه نو ډېرو خلكو د شرابو څښل جاري وساتل تر څو په دې باره كي د قرآن كريم دوهم آيت نازل سو :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى حَتَّىَ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ

ژباړه : اې مؤمنانو ! تاسو په داسي حالت کي لمانځه ته مه ورځئ چي کله تاسو د نشې په حالت کي مست یاست تر څو چي تاسو پوهېږئ چي په خولو سره څه وایاست .

دغه آیت کریمه د شرابو څېښلو بوختیا ته یو بل ټک ورکړ او د لمانځه په وختو کي د شرابو څېښل بالکل پرېښودل سول ، مګر د لمانځه څخه پرته په نورو وختو کي د خلکو په نزد اوس هم د شرابو څېښل بند نه سوه ، په پای کي په دریم هجري کال کي دغه دریم آیت کریمه نازل سو چي په هغه کي د شرابو حرام کېدل واضح کړل سول :

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ . سورة المائدة: ۹۰

ژباړه : اې مؤمنانو ! په دې کي شک نه سته چي شراب او خمار او بُتان او قرعه اندازي دا ټول چټل شیان او د شیطان د کارو څخه دي نو د دې څخه بالکل ځان وساتئ چي خلاصون تر لاسه کړئ .

د دغه آیت کریمه د نازلېدو څخه وروسته شراب څېښل بالکل بند سول ، د شرابو منګیان مات کړل سول او شراب د مدینې منورې په کوڅو کي د مردارو اوبو په ډول بهېدل او د شرابو د حرمت حکم نافذ سو .

د شراب څېښلو سزا : د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دی چي د قرآن کریم او سنت د حکم او د امت د اجماع سره سم شراب حرام دي او کوم څوک چي شراب وڅښي هغه د حد وړ دی چي د جمهورو علماؤ د قول مطابق اتیا دُرې وهل دي ، د حنفیه هم دا مذهب دی او د امام شافعي رحمة الله علیه او نورو علماؤ د قول مطابق څلوېښت دُرې وهل دي .

د سزا جاري کول : که یو سړی شراب وڅښي که څه هم هغه یو څاڅکی وڅیښي او بیا هغه د حاکم یا قاضي په مخکي وړاندي سي او هغه وخت د شرابو بوی موجود وي یا هغه د نشې په حالت کي وي که څه هم هغه نشه د نبیذ څېښلو په وجه وي او دوه خلک د هغه پر شراب څېښلو شاهدي ورکړي یا هغه خپله د خپل شراب څېښلو یو وار او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد دوه واره اقرار وکړي او دا معلومه سي چي هغه په خپل خوښي سره شراب څېښلي دي او د چا په زور یې نه دي څېښلي نو پر هغه دي حد جاري کړل سي یعني که چیري هغه ازاد سړی وي نو هغه دي اتیا دُرې ووهل سي او که غلام وي نو څلوېښت دُرې دي ووهل سي او دا وهل دي هغه وخت ورکړل سي کله چي د هغه نشه ختمه سي ، د زنا په حد کي او په دغه حد کي دي په دُرو داسي ووهل سي چي د بدن پر مختلفو برخو زخم راسي یعني ټولي دُرې دي د بدن پر یوه ځای نه

ورکول کیږي بلکه پر مختلفو ځایو دي ووهل سي.

که یو سړی د خپل شراب څښېنلو اقرار هغه وخت وکړي کله چي د شرابو بوی ختم سوی وي یا دوه کسان د یو سړي پر شراب څښېنلو هغه وخت شاهدي ورکړي چي د هغه بوی ختم سوی وي نو پر هغه دي حد نه جاري کیږي همدارنګه که په یو سړي کي یوازي د شرابوبوی پیدا سي یا هغه یوازي د شرابو قي وکړي یا مخکي هغه د خپل شراب څښېنلو اقرار وکړي مګر وروسته منکر سي یا هغه د نشې په حال کي اقرار وکړي نو په دغه صورتو کي هم پر هغه حد نه سي جاري کیدای.

څرګنده دي وي چي کومه نشه حد واجبوي هغه داده چي هغه سړی د نر او ښځي، مځکي او آسمان په مینځ کي فرق نه سي کولای مګر د صاحبینو (امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما) قول دادی چي د نشې څخه مراد دادی چي هغه سړی رد او بدل وایي او هسې خبري کوي، په حنفي مذهب کي فتوا پر دغه قول ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ په زمانه کي د شرابو سزا

﴿۳۴۵۲﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيْدِ وَالنِّعَالِ وَجَلَدَ أَبُوْ بَكْرٍ أَرْبَعِيْنَ . وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضْرِبُ فِي الْخَمْرِ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيْدِ أَرْبَعِيْنَ .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د شرابو چښېنلو په سزا کي د خرماوو په لښتو او په چپلانو د وهلو حکم ورکړ او ابوبکر صدیق رضي الله عنه (په خپل خلافت کي) څلوېښت دوري وهل کړي وه، او د حضرت انس رضي الله عنه په یوه بل روایت کي د االفاظ دي چي نبي کریم ﷺ به وهلو په حد د شرابو کي په چپلکو او لښتو د خرما څلوېښت واره.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۶۳، رقم: ۶۷۷۳، ومسلم ۳\۱۳۳۱، رقم: ۳۶-۱۷۰۶.

تشريح: په اول روایت کي د حد ذکر د عدد د تعین څخه پرته دی په دې اعتبار سره هغه مجمل دی چي د هغه وضاحت بل روایت کړی دی چي په هغه کي د عدد تعین وکړل سو او هغه څلوېښت دی، دا حدیث د امام شافعي رحمه الله د مذهب دلیل دی، د امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله د

مذهب دليل هغه حديثونه دي چي په هغو كي د شراب څښنلو شرعي سزا اتيا دُرې وهل بيان سوي دي ، ملا علي قاري رحمة الله عليه دغه حديثونه په خپل مرقاة كي نقل كړي دي .

اتيا دُرې سزا د صحابه كرامو په زمانه كي وټاكل سول

﴿۳۴۵۳﴾ : وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ كَانَ يُؤْتَى بِالشَّارِبِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ

د حضرت سائب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِمْرَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ فَنَقُومُ إِلَيْهِ

د حضرت ابوبكر د خلافت په ورځو كي او د حضرت عمر د خلافت په پيل كي چي به شراب څښونكي ونيول سو نو موږ به په خوليو ،

بِأَيْدِينَا وَنِعَالِنَا وَأَرْدِيَتِنَا حَتَّى كَانَ آخِرُ إِمْرَةِ عُمَرَ فَجَلَدَ أَرْبَعِينَ حَتَّى إِذَا عَتَوْا وَفَسَقُوا جَلَدَ ثَمَانِينَ . رواه البخاري .

لاسونو ، څپلانو او څادرونو سره وهئ ، بيا چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت آخري دور سو نو د څلوېښت دورو حد و ټاكل سو ، او هر كله چي د شراب څښونكو شمير زيات سو نو د هغه سزا اتيا دورې و ټاكل سول . بخاري .

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\٦۱، رقم: ٦۷۷۹.

تشريح د سائب ابن زيد مراد دا وو چي هغه وخت د شرابو د څښنلو د حد جاري كېدل د عدد د تعين څخه بغير وو مگر صحيح دا دی چي د هغه مراد دا ظاهرول دي چي په هغه زمانه كي د شرابو څښنلو سزا د څلوېښت دُرو څخه هم كمه وه لكه څرنگه چي د هغه قول چي (بيا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه كي د څلوېښتو دُرو سزا وركول شروع كړل) څخه دا ثابتيږي . په هر حال د دغه حديث څخه دا واضحه سوه چي د شرابو د حد په توگه د اتيا درو سزا په عهد نبوي كي نافذ نه وه بلكه د صحابه كرامو په زمانه كي ټاكل سوې ده ، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د شرابو په معامله كي د زياتېدونكي سركښۍ په لېدو سره او د قانوني حكمت سره سم شراب څښونكي د اتيا درو وهلو سزا وټاكل او پر دې د ټولو صحابه كرامو اجماع او اتفاق سو نو اوس د هيچا د دې خلاف كول جائز نه دي ، د حضرت علي رضي الله عنه ارشاد دادی چي رسول الله ﷺ او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه به شراب څښونكي ته د څلوېښت درو وهلو سزا وركول او دا

سزا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه پوره کړه په دې توګه چې هغه د اتيا درو سزا وټاکل او که څه هم ټول سنت دي مګر پر اتيا درو باندي اجماع او اتفاق دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شرابي د قتل کولو حکم منسوخ دی

﴿٣٤٥٤﴾: عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي شراب وڅښي هغه

فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ قَالَ ثُمَّ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په دورو ووهئ او څوک چي په څلورم وار په شرابو څښلو وليدل سي هغه قتل کړئ، د راوي بيان دئ ددې وروسته نبي کريم ﷺ ته

بَعْدَ ذٰلِكَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الرَّابِعَةِ فَضَرَبَهُ وَلَمْ يَقْتُلْهُ. رواه الترمذي

يو سړی راوستل سو چي هغه په څلورم وار شراب څښلي وه، رسول الله ﷺ هغه هم ووهئ او قتل يې نه کړ، ترمذي،

و ابوداؤد عن قبيصة بن دويب و في اخرى لهما و للنسائي وابن ماجة والدارمي عن نفر من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم منهم ابن عمر ومعاوية و ابو هريرة والشريد الى قوله فاقتلوه.

ابوداؤد د قبيصه بن ذويب څخه او د ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجة او دارمي په يو بل روايت کي د صحابه کرامو يو ټولي (چي حضرت عمر، حضرت معاويه، حضرت ابوهريرة او شريد شامل دي) د رسول الله ﷺ څخه تر (فاقتلوه) پوري دا حديث بيان کړی دئ.

تخريج سنن الترمذي ٤\٣٩، رقم: ١٤٤٤.

تشريح نو هغه قتل کړئ: ددې څخه مراد دادی چي هغه سړی ښه ووهئ يا دا چي رسول الله ﷺ دغه حکم د زجر او تهديد په توګه او د قانوني حکمت سره سم ورکړی وو، ددې تعلق د يو مستقل قانون او وجوب څخه نه وو او ځيني حضرات وايي چي د اسلام په شروع کي دا حکم وو

مګر بيا وروسته منسوخ سو .

هغه يې قتل نه کړ : ددې شخه دا ثابتيږي چي د قتلولو حکم يا خو د زجر او تهديد او قانوني مصلحت په وجه وو يا مخکي دا حکم وو چي وروسته رسول الله ﷺ په خپل دغه عمل سره دا حکم منسوخ وګرځوی .

امام نووي رحمة الله عليه د امام ترمذي رحمة الله عليه دا قول نقل کړی دی چي زما په کتاب کي د دوو حديثو شخه پرته بل هيڅ داسي حديث نه سته چي د هغه پر متروک العمل ګرځولو باندي د ټول امت اجماع او اتفاق وي ، په دغه دواړو کي يو حديث خو هغه دی چي د هغه شخه دا ثابتيږي که بېره يا باران نه وي نو بيا هم د جمع بين الصلوتين اجازه ده او دوهم حديث دا دی چي په هغه کي په څلورم وار د شراب څښونکي د قتل کولو حکم دی ، يعني د امام ترمذي د دغه قول د نقل کولو مقصد دا ثابتول دي چي دا حديث منسوخ دی او د هغه پر منسوخ کېدو د ټولو اتفاق او اجماع ده .

د شرابي تحقير

﴿۳۴۵۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبد الرحمن بن ازهر رضي الله عنه شخه روايت دئ چي زه لکه هغه نندارہ چي اوس هم د خپلو سترګو په وړاندي وينم چي ما يو وار ليدلی وه

عَلَيْهِ إِذْ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ لِلنَّاسِ اضْرِبُوهُ فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ

او هغه دا چي يو سړی چي هغه شراب څښلي وه نبي کريم ﷺ ته راوستل سو ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل چي دی ووهئ ، په موږ کي ځينو هغه

بِالنِّعَالِ وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْعَصَا وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْمِيتَخَةِ قَالَ ابْنُ

په څپلانو ووهئ ځيني په لکړو ووهئ ، ځيني د خرماوو په څانګو ووهئ ، ابو وهب د (ميتخة)

وَهْبٍ الْجَرِيدَةُ الرَّطْبَةُ ثُمَّ أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا مِنَ الْأَرْضِ فَرَمَى بِهِ فِي وَجْهِهِ . رواه ابوداؤد .

معنا د خرماوو په لندو لښتو کړې ده، بيا رسول الله ﷺ د مځکي شخه خاوره پورته کړه او د هغه پر مخ يې وپاشل . ابوداؤد .

تخريج: ابوداود في السنن ۴\٦٢٨، رقم: ۴۴٨٩.

د لغاتو حل: المِيتخة: هي العصا الخفيفة (سپکه لښته).

شرابي ته سزاورکړئ مګر هغه ته ښېرا مه کوئ

﴿۳۴۵٦﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته يو سړی راوستل سو چي هغه

شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ اضْرِبُوهُ فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ وَالضَّارِبُ

شراب څښلي وه ، رسول الله ﷺ حکم وکړ دی ووهئ نو په موږ کي ځينو هغه په لاسونو ووهئ، ځيني په جامو ووهئ او ځيني

بِنَعْلِهِ ثُمَّ قَالَ بَكِّتُوهُ فَأَقْبَلُوا عَلَيْهِ يَقُولُونَ مَا اتَّقَيْتَ اللّٰهَ مَا خَشِيتَ اللّٰهَ وَمَا

په څپلانو ووهئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ده ته زورونه او پيغور ورکړئ نو خلک د هغه په لور متوجه سول او ورته وه يې ويل ته د الله جل جلاله څخه نه بيريدئ

اسْتَحْيَيْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ أَخْزَاكَ

د الله جل جلاله د عذاب خيال نه درته راتلئ او د رسول الله ﷺ څخه دي هم شرم ونه کړ او ځينو خلکو ورته دا هم وويل

اللّٰهُ قَالَ لَا تَقُولُوا هٰكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ وَلٰكِنْ قُولُوا اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ

اللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ . رواه ابوداؤد

الله جل جلاله دي تا ذليل او رسوا کړي . (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : داسي مه واياست او شيطان ته په دې خبره سره مرسته مه کوئ بلکه داسي واياست اې الله دی و بخښې او پر ده رحم وکړې . ابوداؤد .

تخريج ابوداود في السنن ۴\٦٢٠، رقم: ۴۴٧٧.

د لغاتو حل بكتوه: وهو التوبيخ والتعبير باللسان.

تشريح رسول الله ﷺ چي په ژبه سره د خبرداري ورکولو حکم ورکړ هغه د استحباب په توګه وو حال دا چي د رسول الله ﷺ اول حکم (چي هغه ووهئ) د وجوب په توګه وو.

پر ده باندي د شيطان د غالب کېدو مرسته مه کوئ : ددې مطلب دادی چي په بنېرا کولو سره د شيطان مرسته مه کوئ ځکه چي الله تعالی هغه ذليل او خورا کړي نو شيطان به پر مسلط سي يا هغه چي ستاسو څخه دغه بنېرا واوري نو د الله تعالی د رحمت څخه به نا اميده سي او دغه نااميدي به هغه په ګناهو کي اخته کړي همدارنګه به هغه د شيطان د غالب کېدو مقصد هم پوره سي او د هغه پر ګناهو همېشتوب او تکرار به د الله تعالی د غضب سبب هم سي نو په دې اعتبار سره به ستاسو بنېرا د شيطان په غولولو کي مرسته کونکې ثابته سي.

بلکه داسي وایاست : ددې مطلب یا خو دادی چي د شروع څخه د هغه لپاره د مغفرت او رحمت دعاء کول پکار دي یا دا چي اوس د هغه لپاره دعاء او مغفرت او رحمت کوئ او صحيح خبره داده ، ځکه چي په شروع کي خو هغه ته پېغور ورکول مطلوب وو او ظاهره ده چي په دغه دعاء (اللهم اغفرله) سره د عاء کول یا هغه ته د تنبيه ورکولو هيڅ تعلق نه سي کيدای.

د جرم د ثبوت پر ته سزا نه سته

﴿٣٤٥٧﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَرِبَ رَجُلٌ فَسَكِرَ فَلُقِيَ يَمِيلُ فِي الْفَجِّ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي شراب وچېښل او نشه سو ، او خلکو په لارکي په داسي حال کي وليدئ چي په ټالي وهلو سره تلئ خلکو هغه ونيوئ

فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا حَاذَى دَارَ الْعَبَّاسِ انْفَلَتَ

او رسول الله ﷺ ته يې حاضر کړ کله چي د حضرت عباس رضی الله عنه د کور مختته ته ورسيدل نو هغه د خلکو د لاس څخه ځان خلاص کړ

فَدَخَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ فَالْتَزَمَهُ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ وَقَالَ أَفَعَلَهَا وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهِ بِشَيْءٍ. رواه ابوداؤد.

او د حضرت عباس رضی الله عنه سره جخت (يو ځای) سو (يعني د هغه څخه يې سفارش وغوښتئ) هر کله چي نبي کريم ﷺ ته د هغه يادونه وسول نو رسول الله ﷺ وخندل او وه يې فرمايل : بنه هغه داسي وکړل او د هغه په اړه يې څه ونه کړل. ابوداؤد.

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۶۱۹، ۶۲۰، رقم: ۴۴۷۶

د لغاتو حل: الفج: اى الطريق الواسع بين الجبلتين. (د دوو غرونو په منځ کي لويه لار).

تشريح: رسول الله ﷺ نه خو پر هغه سړي د حد جاري کېدو حکم وکړ او نه يې هغه ته بله سزا ورکړل، د دې سبب دا وو چي د هغه شراب څښل نه خو د هغه د اقرار څخه ثابت سول او نه د عادلو شاهدانو په شاهدي سره ثابت سول، که هغه د رسول الله ﷺ په دربار کي په حاضرېدو سره د خپل شراب څښلو اقرار کړي وي نو ايا د شاهدانو په ذريعه د هغه د شراب څښلو جرم ثابت سوی وو نو يقينا به پر هغه حد جاري سوی وای او تر څو چي د هغه سړی په لاره کي د نشې په حالت کي پيدا کېدلو تعلق دی نو مسئله داده چي دشرعي قانون په نظر کي د يو سړی په محض تالي. وهلو سره تلل د هغه د نشې د ثبوت لپاره کافي نه دي چي پر هغه حد جاري کول واجب سي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

څوک چي په سزاورکولو کي مړ سي د هغه ديت واجب نه دی

﴿۳۴۵۸﴾: عَنْ عُمَيْرِ بْنِ سَعِيدٍ النَّخَعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ

د حضرت عمير بن سعيد نخعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د حضرت علي رضي الله عنه څخه دا اوريدلي

اللَّهُ عَنْهُ يقول مَا كُنْتُ لِأُقِيمَ على حَدًّا أَحَدٍ فَيَمُوتَ فَأَجِدَ فِي نَفْسِي منه

دي هر کله چي زه پر يو سړي شرعي حد قائم کړم او هغه په هغه سزا کي مړ سي نو پر ما د هغه

شيئاً إِلَّا صَاحِبَ الْخَمْرِ فَإِنَّهُ لَوْ مَاتَ وَدَيْتُهُ وَذَلِكَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهُ. متفق عليه.

هيڅ اثر نسته البته د شراب څښلو سزا کي که هغه مړ سي نو د هغه به زه ديت ورکوم او دا له دې کبله چي نبي کريم ﷺ د شرابو څښونکي لپاره يوه خاصه سزا نه ده ټاکلې. بخاري او مسلم.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۶۶، رقم: ۶۷۷۸، ومسلم ۳\۱۳۳۲، رقم: ۳۹-۱۷۰۷.

تشريح: حد يې نه دی ټاکلی: ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د شراب څښلو حد نه دی ټاکلی چي دومره دُرې دي ووهل سي، که څه هم په ځينو حديثو کي څلوېښت يا د څلوېښت په ډول د عدد ذکر دی ځکه نو که چيري زه يو شرابي اتيا درې ووهم او هغه مړ سي نو زه ېرېږم چي

کیدای سي د غه ظلم ما ته منسوب سي په دې اعتبار سره به زه د هغه دیت ادا کوم او د حضرت علي رضی اللہ عنہ دا خبره محض د احتیاط په وجه وه . حالانکه حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شراب څښونکي د وهلو تعداد ټاکل وغوښتل او صحابه کرامو په دې باره کي مشوره ورکړل ، نو خپله حضرت علي رضی اللہ عنہ وفرمایل چي شرابي اتیا دُرې وهل زما په نزد زیات ښه دي .

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ له خوا د شراب څښونکي سزا

﴿۳۴۵۹﴾ : وَعَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ أَنَّ عُمَرَ اسْتَشَارَ فِي حَدِّ الْخَمْرِ فَقَالَ لَهُ

د حضرت ثور بن زید الدیلمي رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شرابو چښنلو سزا په ټاکلو کي د صحابه کرامو څخه مشوره واخیستل ،

عَلِيٌّ أَرَى أَنْ تَجْلِدَهُ ثَمَانِينَ فَإِنَّهُ إِذَا شَرِبَ سَكِرَ وَإِذَا سَكِرَ هَذَى وَإِذَا هَذَى افْتَرَى فَجَلَدَ عُمَرُ فِي الْخَمْرِ ثَمَانِينَ . رواه مالك .

نو حضرت علي رضی اللہ عنہ ویل زما په رایه کي اتیا دورې پکار دي ځکه چي کوم وخت سړی شراب وچښي نو مست سي او هر کله چي مست سي نو پوچ وایي او کله چي پوچ وایي نو بهتان لګوي ، حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا مشوره قبوله کړه او د شرابو چښنلو سزا يې اتیا دورې و ټاکلې . مالک .

تخریج: موطا الامام مالک ۲\ ۸۴۲، رقم: ۲.

تشریح. حضرت علي رضی اللہ عنہ د خپل رايي په دلیل کي یوه ډېره قوي خبره وفرمایل چي د شرابي پر عقل باندي اثر وسي او هغه د نشې په حالت کي هسي خبري کوي او پر یو چا باندي مخامخ الزام لګوي تر دې چي پر نیکو ، پرهیزګاره او پاک لمنو ښځو باندي هم د زنا تهمت لګوي ، په دې اعتبار سره د هغه نشه د قذف باعث کیږي او د قذف سزا اتیا درې وه نو پر قذف باندي په قیاس کولو سره د شرابي سزا هم زیاته دا کیدای سي ، حضرت علي رضی اللہ عنہ دا خبره د اغلب په اعتبار سره وفرمایل چي زیات وخت شرابي د خپل نشې په حالت کي هسي خبري کوي او پر نورو الزام لګوي او د حکم انحصار پر اغلب باندي کیږي ځکه د هغه شرابي لپاره به دغه سزا وټاکل سي که هغه د نشې په حالت کي هسي خبري کوي یا نه يې کوي او پر یو چا باندي الزام لګوي په هر حال حضرت عمر رضی اللہ عنہ د حضرت علي رضی اللہ عنہ دغه رایه ومنل او د شراب څښنلو سزا يې اتیا دُرې وټاکل چي ټولو صحابه کرامو اجماع او اتفاق پر وکړ .

بَابُ مَا لاَ يُدْعٰى عَلَى الْمَحْدُوْدِ

(په شرعي سزا ور كولو كي د ښيرا نه كولو بيان)

په دغه باب كي دا بيان كيږي كه يو سړى يو داسي گناه وكړي چي د هغه په جه پر هغه حد جاري كيږي او بيا پر هغه حد جاري سي نو د هغه په باره كي هيڅ ډول ښېرا نه كيږي لكه څرنگه چي يو سړى د يو شرابي په باره كي دغه ښېرا وكړه : (اخزاک الله) يعني الله تعالى دي تا ذليل او رسوا كړي، نو رسول الله ﷺ هغه منع كړ چي داسي مه وايه بلكه د هغه په حق كي د مغفرت او رحمت دعاء كوه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

پر يو گناه كار باندي لعنت ويل جائز نه دي

﴿٣٤٦٠﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا اسْمُهُ عَبْدَ اللّٰهِ يُلَقَّبُ حِمَارًا كَانَ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷛ څخه روايت دئ : يو سړى چي نوم يې عبد الله او لقب يې حمار وو

يُضْحِكُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَلَدَهُ

هغه به رسول الله ﷺ په خپلو خبرو سره خندوى ، رسول الله ﷺ پر هغه د شرابو څښلو په علت

فِي الشَّرَابِ فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ اللّٰهُمَّ الْعَنْهُ

كي (يو وار) حد قائم كړى وو بيا په بله يوه ورځ د شرابو څښلو په علت كي راوستل سو او رسول الله ﷺ پر هغه د درو وهلو حكم ولگوئ ، يو سړي وويل اې الله! پر ده لعنت وكړې

مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْعَنُوهُ فَوَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ إِنَّهُ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ . رواه البخاري .

په څو څو واره دى د شرابو څښلو په جرم كي راوستل كيږي، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : پر ده لعنت مه كوئ په الله دي مې قسم وي زه پو هېږم چي دا سړى د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه لري . بخاري .

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٢\٧٥، رقم: ١٧٨٠.

تشريح د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د يو ګناه کار په خاص کولو سره پر هغه باندي لعنت ويل جائز نه دي او دا هم معلومه سوه چي د الله او د هغه د رسول مينه د قرب الهي سبب دی نو الله تعالی او د هغه د رسول سره مينه لرونکي باندي لعنت ويل په هيڅ حال کي جائز نه دي ځکه چي د لعنت معنی ده د الله تعالی د رحمت څخه ليري کول.

﴿٣٤٦١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَدْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته يو سړی راوستل سو چي هغه

شَرِبَ فَقَالَ اضْرِبُوهُ فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ

شراب چښلي وه، رسول الله ﷺ وفرمايل: دی ووهئ، په موږ کي ځينو هغه په لاسونو ووهئ ځينو په څپليو،

فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ أَخْزَاكَ اللَّهُ قَالَ لَا تَقُولُوا هَكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ. رواه البخاري.

بيا چي هغه سړی ولاړی نو ځيني خلکو وويل الله دي تا ذليل او رسوا کړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: داسي مه وايا ست شيطان پر ده مه غالب کوئ. بخاري.

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١١\٦٦، رقم: ٦٧٧٧.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

کوم مجرم چي سزا وخوري د هغه سپکتيا مه کوئ

﴿٣٤٦٢﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ماعز اسلمي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ

نو شاهدي يې وويل پر خپل ځان چي دی رسيدلی دی يوې ښځي ته په حرام سره او داسي يې

ثلور واره وويل، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوئ

فَأَقْبَلَ فِي الْخَامِسَةِ فَقَالَ أَنِكْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ حَتَّى غَابَ ذٰلِكَ مِنْكَ فِي ذٰلِكَ

مګر څه وخت چي هغه په پنځم وار اقرار وکړ نو رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ايا تا د هغې ښځي سره جماع کړې ده ؟ هغه وويل چي هو ، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه تا د هغې سره داسي جماع وکړه چي هغه غائب سو (يعني ستا خاص اندام د هغې په خاص اندام کي داخل

مِنْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ قَالَ

سو) هغه عرض وکړ چي هو ، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ايا ستا خاص اندام د هغې په خاص اندام کي غائب سو لکه څرنګه چي سلائي په رنجنونې کي غائب سي او رسۍ څاه ته

نَعَمْ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا الزِّنَا قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ

ولاړه سي ؟ هغه عرض وکړ چي هو ، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه چي تا ته معلومه ده چي زنا څه ته وايي ؟ هغه عرض وکړ چي هو ، زه د هغې ښځي سره داسي د حرامو مرتکب سوم

اَهْلِهِ حَلَالًا قَالَ فَمَا تُرِيدُ بِهٰذَا الْقَوْلِ قَالَ أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ

څرنګه چي يو سړی د خپلي ښځي سره په حلاله طريقه کوروالي کوي، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ددې قول څخه ستا څه مطلب دئ ؟ هغه عرض وکړ زه غواړم چي تاسو ما (ددې ګناه څخه) پاک کړئ ، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ ،

فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ

ددې وروسته رسول الله ﷺ په خپلو صحابوو کي د دوو خلکو څخه دا واوريدل چي په هغوی کي يوه دا وويل : دې سړي ته وګورئ

اُنْظُرْ إِلَى هٰذَا الَّذِي سَتَرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ

چي الله ددہ پرده پوشي کړې وه خو ده خپل ځان پر کراره نه پرېښودئ، تر څو چي سنګسار کړل سو ، د سپي په ډول سنګسار يدل يې خوښ کړل ، د

فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ فَقَالَ أَيْنَ

دي په اوريدو سره رسول الله ﷺ پته خوله سو، تر لږ وخت مزل وروسته رسول الله ﷺ د يوه مړه خره سره نژدې تيرېدى چي د هغه نس پړسيدلى وو، او پښې يې پورته نيولي وې هغه ته په کتلو سره رسول الله ﷺ وفرمايل:

فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَقَالَا نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ انْزِلَا فَكُلَا مِنْ جِيفَةِ هَذَا

فلانى او فلانى سړي چيري دي؟ هغوئ عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ حاضر يو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ورکښته سئ او د دغه مردار خره غوښه وخورئ،

الْحِمَارِ فَقَالَا يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا قَالَ فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا

هغوى عرض وکړ اې د الله رسوله! د دې غوښه څوک خوړلاى سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاسو اوس اوس د خپل ورور بې عزتي کړې ده

آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ الْآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْغَمِسُ فِيهَا . رواه ابوداؤد .

هغه د دې خره د غوښې خوړلو څخه زياته بده خبره ده په هغه ذات دي مي قسم وي چي د چا په واک کي زما روح ده هغه (سنگسار سوى) اوس د جنت په ويالو کي غوټې وهي . ابوداؤد .

تخريج: ابوداود في السنن ٤\٥٨٠، رقم: ٤٤٢٨.

د لغاتو حل: المِروَد: اى الميل (خيره). الرشاء: اى الحبل (رسى). شائل: اى رافع: (لوړ).

﴿٣٤٦٣﴾: وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصَابَ ذَنْبًا أُقِيمَ عَلَيْهِ حَدُّ ذٰلِكَ الذَّنْبِ فَهُوَ كَفَّارَتُهُ . رواه في شرح السنة

د حضرت خزيمة بن ثابت ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي يوه گناه وکړه او هغه ته د هغې سزا ورکړل سوه نو هغه سزا د هغه د گناهونو کفاره ده . شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٠\٣١١، رقم: ٢٥٩٤.

دنيوي سزا د اخرت پاکي ده

﴿٣٤٦٤﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي يوه داسي ګناه

عُقُوبَتَهُ فِي الدُّنْيَا فَاللّٰهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عَلَى عَبْدِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الْآخِرَةِ

وکړي چي د هغې سزا ټاکلې ده او په دنيا کي هغه ته سزا ژر ورکړل سي نو هغه ته به په آخرت کي سزا نسي ورکول کيدلای ځکه چي الله تعالى عادل دئ هغه ته به دويم وار سزا نه ورکوي

وَمَنْ أَصَابَ حَدًّا فَسَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَفَا عَنْهُ فَاللّٰهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُودَ فِي

او چا چي يوه ګناه وکړل او الله تعالى د هغه پر ګناه پرده واچول او معاف يې کړل نو الله تعالى زيات بخښونکى دئ په آخرت کي به هم هغه ته سزا ور نه کړي

شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ . رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث

غريب . هذا الباب خال عن الفصل الثالث

او معاف به يې کړي. ترمذي، ابن ماجة، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .دا باب دريم فصل نه لري .

تخريج: الترمذي ٥\١٧- ١٨، رقم: ٢٦٢٦، وابن ماجه في السنن ٢\٨٦٨، رقم: ٢٦٠٤.

تشريح: او الله تعالى د هغه ګناه پټه کړه ...الخ: ددې مطلب دادی چي هغه سړي په ندامت او شرمندګۍ سره د خپل ګناه څخه توبه وکړه او الله تعالى څخه د مغفرت او بخښني غوښتونکى سو تر دې چي الله تعالى د هغه د ګناه پرده وکړي او همدارنګه هغه يې په دنيا کي معاف کړي نو اوس د هغه شان څخه دا اميد دی چي په آخرت کي يې هم معاف کړي .

د خپلي ګناه پرده کول تر ښکاره کولو غوره دي

د جمهورو علماؤ مذهب دادی که د يو بنده څخه ګناه وسي نو د هغه ښکاره کول يعني حاکم ته د خپل ګناه اقرار کول که څه هم د ايمان د پوخوالي ، د هغه زړه او احساس د سلامتۍ او د هغه د الله تعالى څخه د بيري مظهر دی مګر د هغه په حق کي غوره دا ده چي هغه د خپلي ګناه په پټولو سره د خپل نفس پرده پټه کړي او د الله تعالى څخه مغفرت او بخښنه وغواړي.

بَابُ التَّعْزِيْرِ (د سزا او تنبیه بیان)

لفظ د تعزیر د عذر څخه دی چي لغوي معنی يې د منع کولو او ملامت کولو ده او د شریعت په اصطلاح کي د دغه لفظ استعمال د هغه سزا په مفهوم کي کیږي کوم چي د حد څخه د کمي درجې وي او د تنبیه او تادیب په توګه یو چا ته ورکول کیږي او دغه سزا ته تعزیر په دې وجه وایي چي هغه سړی د دغه ګناه یا جرم د بیا کولو څخه منع سي چي د هغه په وجه هغه ته سزا ورکول کیږي .

په حد او تعزیر کي فرق : په حد او تعزیر کي فرق دا دی چي حد هغه خاص سزا ته وایي کوم چي د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ څخه ثابت وي او ټاکلې هم وي حاکم یوازي د هغه د جاري کولو اختیار لري د هغه په جوړونه یا په هغه کي د یو ډول تبدیلۍ حق نه لري ، ددې پر خلاف تعزیر هغه سزا ده چي کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ ټاکلې نه وي بلکه د هغه ټاکل يې د حاکم پر رایه موقوف کړې وي او هغه د ځای او وخت د تقاضا او ضرورت سره سم چي کومه سزا غواړي ټاکي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د تعزیر سزا

﴿٣٤٦٥﴾: عَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ نِيَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلَّا فِيْ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللهِ . متفق علیه .

د حضرت ابو برده بن نیار رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (د یو ګناه په تنبیه کي) تر لس دورو زیات څوک مه وهئ مګر الله تعالی چي د ګناهو کوم حدونه ټاکلي دي په هغه کي زیاتي دورې ورکول کیدلای سي . بخاري او مسلم .

تخریج البخاري في الصحیح (فتح الباري): ١٢\ ١٧٥، رقم: ٦٨٤٨، ومسلم ٣\ ١٣٣٢، رقم: ٤٠- ١٧٠٨.

تشریح د دغه حدیث څخه دا معلومیږي چي د تعزیر په توګه تر لس دُرو وهلو څخه زیاته سزا ورکول جائز نه دي مګر علماؤ لیکلي دي چي دا حدیث منسوخ دی .

په دې باره کي د فقهاؤ اختلاف دی چي د تعزیر په توګه زیات تر زیات د څو مره دُرو وهلو

سزا ورکول کيدای سي، د امام اعظم ابو حنيفة او امام محمد رحمة الله عليهما قول دادی چي تر نهه دېرش څخه زيات بايد نه وي او امام ابويوسف رحمة الله عليه وايي چي تر پنځه اويا دُرو پوري ورکول کيدای سي البته د کم تعداد په باره کي پر درو دُرو باندي د ټولو اتفاق دی، همدارنګه پر دغه مسئله باندي هم د ټولو اتفاق دی چي په تعزير کي کومي دُرې ورکول کيږي د هغو شمېر دي په حد کي د ورکړل سوو دُرو شمېر ته نه رسيږي مګر په سختۍ او شدت کي که چيري تر دې هم زياتي سي نو پرواه نه لري.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

مجرم پر مخ باندي مه وهئ

﴿٣٤٦٦﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ. رواه أبو داود

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په تاسو کي چي يو څوک وهل کوي نو پر مخ دي وهل نه کوي. ابوداؤد.

تخريج: ابوداود في السنن ٤\٦٣١، رقم: ٤٤٩٣.

تشريح: مطلب دادی که يو سړی ته د حد په توګه دُرې ورکول کيږي يا د تعزير او تاديب په توګه وهل کيږي نو په هر صورت کي دا ضروري ده چي هغه دي پر مخ نه وهل کيږي.

د بدزبانۍ سزا

﴿٣٤٦٧﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر کله چي يو څوک يو

الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ يَا يَهُودِيُّ فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ وَإِذَا قَالَ يَا مُخَنَّثُ فَاضْرِبُوهُ

مسلمان ته ووايي اې يهودي، نو هغه شل دورې ووهئ او هر کله چي ورته ووايي اې نرکډيه نو

عِشْرِينَ وَمَنْ وَقَعَ عَلَى ذَاتِ مَحْرَمٍ فَاقْتُلُوهُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

بيا يې هم شل دورې ووهئ او څوک چې د محرم ښځې سره زنا وکړي هغه ووژنئ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج الترمذي ۴\۵۱، رقم: ۱۴۶۲.

تشريح مخنث هغه چا ته وايي چې د هغه په اندامو او خبرو په انداز کې ښځيتوب وي او په حرکاتو او سکناتو کې د ښځو مشابه وي چې هغه ته نرښځی هم ويل کيږي .

که يو سړی پر يو غلام يا يو کافر باندې د زنا تهمت ولګوي نو هغه د تعزير په توګه سزا ورکول پکار دي همدارنګه هغه سړي ته دې هم تعزير ورکړل سي چې پر يو مسلمان باندې د زنا څخه پرته د يو بلې بدی تهمت ولګوي د مثال په توګه په دغه الفاظو سرهغه مخاطب کړي چې اې فاسقه! اې فاجره!، اې خبيثه!، اې غله!، اې منافقه!، اې بچه بازه!، اې يهودي!، اې د هلکانو سره بازی کونکې!، اې سود خوره!، اې ليونيه!، اې مخنثه!، اې خائنه!، اې د رنډی زويه، اې د بد کاري ښځې اولاده!، اې بړوا!، اې د زنا کارو او غلو مرسته کونکې!، او اې حرامزاده!،

مګر که چيري يو څوک يو مسلمان په دغه الفاظو سره مخاطب کړي نو هغه د تعزير وړ نه وي : اې خره!، اې سپيه!، اې بيزو!، اې پسه!، اې ګونګيه!، اې ماره!، اې غواييه!، اې ښرموښه!، اې حمامي!، اې د حمامي زويه!، اې ولد الحرامه!، اې ناکسه!، اې سرکښته!، اې مسخره!، اې مسخراچي!، اې دوکه بازه!، اې بې عقله!، اې وهمي!.

مګر په دې باره کې بايد دا واضحه وي چې علماء هغه چا ته تعزير ورکول خوښ کړي دي چې هغه د ذکرسوو الفاظو په ذريعه يو داسې سړی مخاطب کړی چې هغه شريف وي.

خاوند دا حق لري چې هغه خپلي ښځې ته تعزير ورکړي کله چې د هغه د ويلو سربېره د هغه په مخکې د ښکلا او زينت څخه پرهيز کوي يا خپل بسترې ته يې را وغواړي او هغه انکار وکړي يا لمونځ نه کوي يا د جنابت څخه غسل نه کوي يا د هغه د اجازې څخه پرته د هغه د کور څخه د باندې ووځي .

کوم څوک چې د محرمي ښځې سره زنا وکړي هغه ووژنئ : امام احمد رحمه الله د دغه ارشاد پر ظاهري مفهوم باندې عمل کړی دی حال دا چې د جمهورو علماؤ په نزد د دې ظاهري مفهوم مراد نه دی بلکه د دې تعلق يوازې د زجر او تهديد سره دی ، ځينو حضراتو ويلي دي چې دغه ارشاد پر دې خبره محمول دی چې کوم سړی په حلال او معمولي ګڼلو سره د يو ښځې سره زنا وکړي نو هغه دې ووژل سي کنه نو د محرمي ښځې سره د زنا کولو هم هغه حکم دی کوم چې د

نورو ښځو سره د زنا کولو دی.

که چیري زنا کونکی محصن (واده سوی) وي نو هغه دي رجم کړل سي او که غیر محصن (نا واده) وي نو هغه دي په دُرو ووهل سي.

د غنیمت په مال کي د خیانت کونکي سزا

﴿٣٤٦٨﴾: وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَجَدْتُمُ الرَّجُلَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو یو څوک

قَدْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَاحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوْهُ. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب. هذا الباب خال عن الفصل الثالث

وینئ چي د الله په لار کي یې (د غنیمت په مال کي) خیانت کړی دئ نو د هغه سامان وسوځئ او هغه قتل کړئ. ترمذي، ابوداؤد، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

تخریج: الترمذي ٤\٥٠، رقم: ١٤٦١، وابوداود ٣\١٥٧، رقم: ٢٧١٣.

تشریح: د هغه مال او سامان وسوځئ: په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی، ځیني حضرات وایي چي کوم څوک د غنیمت د مال څخه یو شی پټ کړي نو د سزا په توګه د هغه مال او سامان سوځل جائز نه دي، هغوی وایي چي دغه حکم (د هغه مال او سامان وسوځئ) د اسلام په شروع کي جاري وو مګر وروسته منسوخ کړل سو، او یا دغه ارشاد په اصل کي پر تشدید او سختوالي باندي محمول دی، امام احمد رحمه الله د دغه حکم پر ظاهري معنی باندي په محمول کولو سره ویلي دي چي د هغه سړي ټول مال او سامان دي وسوځول سي مګر که چیري د هغه په سامان کي قرآن کریم، وسله او حیوانان هم وي نو هغه دي نه سوځل کیږي او د تعزیر په توګه دي هغه ووهل سي او دا خبره مخکي بیان سوې ده چي د غنیمت د مال څخه د غلا کونکي لاس نه پرې کیږي.

========

بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَ وَعِيْدِ شَارِبِهَا

(د شرابو بیان او د شرابو چښلو د وعید بیان)

په دغه باب کي د شرابو حقیقت بیانیږي چي خمر (شراب) څه ته وایي او بل دا هم بیانیږي چي د شراب څښونکي په باره کي د کومو شیانو خوف دی او د هغه په باره کي کومي سزاوي نقل سوي دي.

خمر څه ته وایي ؟ په قاموس کي لیکلي دي چي خمر هغه شي ته وایي چي د هغه په استعمال (څښلو) سره نشه او مستي پیدا کیږي او هغه د انګورو د شیرې په صورت کي وي یا د یو بل شي عرق. جوشانده یا بل څه وي، صحیح خبره داده چي ددې عام مفهوم واخیستل سي یعني نشه راوستونکی شی که هغه د انګورو د شیرې څخه وي یا د بل شي شیره وي ځکه چي شراب په مدینه منوره کي حرام سوي دي او په هغه زمانه کي په مدینه منوره کي د انګورو شراب نه وه بلکه هغه به د خرماوو څخه جوړېدل. د خمر د تسمیې وجه داده چي په لغت کي د خمر معنی ده پټول او شراب د انسان پر عقل باندي خپور سي او د هغه د فهم او شعور قوتونه پټ کړي ځکه نو دې ته خمر وویل سول.

د نشه کوونکو شیانو ډولونه : کوم شیان چي نشه پیدا کوي د هغو څو ډولونه دي، یو ډول خو د شرابو دی چي د انګورو څخه جوړیږي چي د انګورو د عرق په ایستلو سره په یو لوښي سي اېښودل کیږي او څو ورځي وروسته هغه سم سي او په هغه کي ځګ پیدا سي او هغه نشه کونکي سي. د صحیح او مختار قول سره سم په هغه کي د ځګ پیدا کېدل شرط نه دي او دې ته په عربي کي خمري وایي.

دوهم ډول هغه دی چي د انګورو عرق ته د یو لږ جوش په ورکولو سره هغه کښېښودل سي دې ته په عربي کي باذق او په فارسي کي باده وایي او د انګورو هغه عرق چي هغه دومره پوخ سي چي د هغه څلورمه برخه په سوځېدو سره ولاړه سي او پر درې پر څلور برخه پاته سي چي هغه ته طلا وایي.

دریم ډول نقیع التمر دي چي هغه ته سکر هم وایي یعني د خرما هغه شربت چي ټینګ کړل سي او په هغه کي ځګ پیدا سي. څلورم ډول نقیع الزبیب دي یعني کشمشو هغه شربت چي په هغه کي جوش او ځګ پیدا سي.

په دغه څلورو ډولو كي اول ډول خو بېله قيده حرام دی او پاته درې ډولونه په هغه صورت كي په اتفاق سره حرام دي كله چي هغه ته په جوش وركولو سره كښېښنودل سي او په هغه كي ټينګوالي پيدا سي ځكه چي په دغه صورت كي په دغه شيانو كي نشه پيدا كيږي مګر كه چيري په هغه كي ذكر سوي شيان پيدا نه سي نو هغې ته به حرام نه واي د مثال په ډول د يو څه وخت لپاره په اوبو كي خرما خشته كړل سي تر دې چي هغه اوبه د شربتو په ډول سي او په هغه كي يو ډول تغير واقع نه سي نو د هغه څښنل به صحيح وي.

ددې څخه ماسوا د څښنلو څلور شيان نور دي چي د هغو څښنل د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد حلال دي په شرط ددې چي هغه ته معمولي جوش وركړل سوی وي چي په هغه كي نشه نه وي پيدا سوې او كه چيري په هغه كي نشه پيدا سوې وي نو بيا دغه شيان هم حرام دي. همدارنګه كه چيري هغه ته د جوش وركولو څخه پرته د ډېر وخت لپاره كښېښنودل سي او په هغه كي ځګ پيدا سي نو بيا هغه د هغه څښنل حرام دي.

په دغه څلورو شيانو كي يو ډول نبيذ دي يعني هغه مشروب چي د خرما څخه جوړ سوي وي او هغه ته لږ جوش وركړل سوی وی كه په هغه كي ټينګوالی راسي نو د هغه څښنل جائز دي.

دريم ډول هغه نبيذ دي چي د شاتو، غنمو، وربشو، جواريو او داسي نورو شيانو په اوبو كي د لږ جوش وركولو په صورت كي جوړ سوي وي.

څلورم ډول مثلث يمني دي، ددې صورت دادی چي د انګورو عرق دومره پاخه كړل سي چي د هغه دوې برخي وچي سي او يوه برخه د شرابو په شكل كي پاته سي.

د دغه څلورو شيانو په باره كي امام ابوحنيفة رحمه الله وايي كه يو څوک دا شيان د عبادت لپاره د طاقت تر لاسه كولو په قصد وڅښي نو دا جائز دي او كه د لهو او لعب په توګه او د جنسي قوت لپاره يې وڅښي نو حرام دي مګر د امام محمد رحمه الله په نزد د عبادت لپاره د طاقت تر لاسه كولو په غرض هم د هغه څښنل حرام دي، په حنفي مذهب كي د اهل تحقيق فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول ده لكه څرنګه چي يمني د كنز په تشريح كي ليكلي دي چي د امام مالک، امام شافعي، امام احمد او په حنفيه كي د امام محمد رحمة الله عليهم قول دادی چي د كوم شي زياته برخه نشه كونكې وي او انسان مستوي نو د هغه لږ اندازه هم حرام دي كه څه هم هغه هر ډول نشه وي ځكه چي د ابن ماجه او دار قطني د روايت مطابق رسول الله ﷺ فرمايلي دي كوم شی چي نشه راولي هغه شراب او ټول نشه كونكي شيان حرام دي نو په حنفي مذهب كي فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول ده.

ددې څخه معلومه سوه چي هر نشه کونکی شی شراب دی او حرام دی که هغه د څښناک په صورت کي وي چي د انګورو، خرماوو يا نورو شيانو څخه جوړيږي او يا د غنمو، اوربشو، جواريو څخه جوړيږي او که هغه د درختي عرق وي يا وابنه وي لکه بنګي او داسي نور، همدارنګه هغه په هره مقدار کي حرام دي که لږ وي يا ډېر وي، که يو څوک خپل ښځي ته د نشې په حالت کي طلاق ورکړي نو د مفتی به قول مطابق د هغه طلاق واقع کيږي که څه هم هغه د شرابو نشه يا د نبيذو او نورو شيانو.

لکه څرنګه چي مخکي وښوول سول چي د امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل او په حنفيه کي د امام محمد رحمة الله عليهم مذهب دادی چي هر نشه کونکی شی حرام دی که هغه لږ وي يا ډېر وي او د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله په نزد هغه څښناک نجس، حرام او د شرابو په حکم کي دی چي په هغه کي جوش، ټينګوالی او ځګ پيدا سوی وي ددې څخه پرته نور شيان تر څو چي په هغه کي نشه نه وي حرام نه دي مګر د حنفي مذهب د احتياط کونکو مصنفينو په نزد فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول ده لکه څرنګه چي په نهايه، عيني، ذيلمي، درمختار، الاشباه والنظائر، فتاوی عالمګيري، فتاوی حماديه او شرح مواهب الرحمن کي ذکر سوي دي. بلکه په شرح وهبانيه او داسي نورو کي د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله قول هم د امام محمد رحمه الله د قول مطابق نقل سوی دی په دغه صورت کي دا مسئله د ټولو امامانو او مجتهدينو متفق کيږي، مولانا عبدالعلي لکهنوي رحمه الله د يو سوال په جواب کي د تاړي او يو ډول خميره ډوډی د حرمت په ظاهرولو سره پر دغه مسئله باندي تحقيق او وضاحت کړی دی او د هرش يا څلوښت حنفي او شافعي علماؤ پر هغه باندي د خپل تصديق مهرونه ثبت کړي دي.

په نشه کونکو شيانو کي يو ډول بنګي او تارياک دي چي ددغه شيانو خوراک او څښناک هم حرام دی ځکه چي دغه شيان هم د انسان عقل تباه کوي او د الله تعالی د ذکر، لمانځه او نورو شيانو څخه يې منع کوي، علماؤ ليکلي دي چي کوم سړی بنګي او داسي نور شيان حلال ګڼي هغه زنديق او بدعتي دی بلکه فقيه نجم الدين زاهدي رحمه الله پر داسي سړي باندي د کفر حکم لګوي او د هغه قتلول يې مباح ګڼلي دي.

همدارنګه تمباکو هم حرام دي لکه څرنګه چي په درمختار کي ليکلي دي او شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله د چيلم څکولو ته مکروه تحريمي ويلي دي ځکه چي د چيلم څکونکي د خولې څخه د پيازو او وږي په ډول بدبويي وي بلکه په دې کي يو ډول د دوږخيانو مشابهت هم دی لکه څرنګه چي د دوږخيانو د خولې څخه به دود ووځي همدارنګه د چيلم (او

سګريټ څکونکي) د خولې څخه هم دود راوځي ، ددې څخه پرته چيلم څکول يو داسي عادت دی چي يو سليم طبيعت يې مکروه ګڼي او په چيلم څکولو سره په بدن کي ډېره زياته سستي پيدا کيږي او پر ځينو کسانو باندي بې هوشي هم راځي او دا په مفتر کي داخل دی او د يوه روايت سره سم کوم چي امام احمد رحمه الله او نورو حضراتو نقل کړی دی چي کوم شی مفتر يعني سستي پيدا کونکی وي هغه حرام دی ، صاحب د صراح او صحاح د مفتر معنی د سستي پيدا کېدو ليکلې ده او امام ابوالقاسم حسين ابن محمد ابن مفضل راغب په خپل کتاب مفردات القرآن کي د فتر او فتور معنی دا ليکلې ده چي د تيزۍ څخه وروسته کمېدل ، دا معنی پر چيلم څکونکو باندي صادقيږي کومو خلکو چي دا ويلي دي چي د مفتر معنی د بدن ګرميدل هم دي نو دا شاذ معنی ده چي د اکثرو علماء لغت د تحقيق خلاف ده يا ددې څخه دننه ګرمي مراد ده ، په هر حال د چلم څکول د الله تعالی د رضا څخه ليري ده ځکه چي چيلم څکول د مسواک خلاف دی په دې وجه چي مسواک د خولې څخه بدبويي پاکوي او چيلم خوله بدبويه کوي او د مسواک په باره کي دا حديث په صحاح کي منقول دی :

(السِّواك مطهرة للفَم ومرضَات للرَّبّ)

ژباړه : مسواک د خولې د پاکوالي ذريعه او د الله تعالی د رضا سبب دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

شراب د څه شي څخه جوړيږي ؟

﴿۳۴٦٩﴾ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شراب دِدغه دوو درختو څخه جوړيږي يعني خرما او انګورو څخه . مسلم.

تخريج مسلم في الصحيح ۳\ ۱۵۷۳، رقم: ۱۳\ ۱۹۸۵.

تشريح مراد دادی چي د دوو شيانو څخه شراب جوړيږي ، يعني دلته دا ظاهرول مراد نه دي چي شراب يوازي ددغه دوو شيانو څخه جوړيږي ځکه چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد دی (کل مسکر حرام) يعني هر نشه کونکی شی حرام دی، په دغه ارشاد کي چي کوم عموميت دی د هغه

څخه هم دا واضحه کيږي.

﴿۳۴۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر منبر خطبه وويل

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ الْعِنَبِ

او وه يې فرمايل: د شرابو حراميدو حکم نازل سوی دئ او شراب د پنځو شيانو څخه جوړيږي: د انګورو څخه،

وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْعَسَلِ وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ. رواه البخاري

د خرماوو څخه، د غنمو څخه، د اوربشو څخه، او د شاتو څخه، او شراب هغه شی دئ چي پر عقل پرده خپروي (يعني عقل ګډ وډ کوي) بخاري

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٠\٤٥، رقم: ٥٥٨٨.

د لغاتو حل خامر: اى ستره (پټ يې کړي).

تشريح علماؤ وضاحت کړی دی چي حضرت عمر رضي الله عنه د خپل دغه قول (او شراب هغه شی دی چي پر عقل باندي خپور سي) په ذريعه دې ته اشاره وکړه چي د شرابو انحصار پر دغه پنځو شيانو باندي نه دی بلکه د دې څخه پرته د نورو شيانو څخه هم جوړ سوی مشروب شراب دی چي په هغه کي نشه وي او د هغه په څښلو سره پر عقل او شعور باندي پرده لويږي.

مخکي د خرماوو څخه شراب جوړيدل

﴿۳۴۷۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ خَمْرَ الْأَعْنَابِ إِلَّا قَلِيلًا وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي شراب حرام سول نو د انګورو شراب به موږ ډير کم تر لاسه کول زموږ شراب به اکثر د اومو او وچو خرماوو څخه وه. بخاري.

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٠\٣٥، رقم: ٥٥٨٠.

تشريح د خرما په درخته کي اول غوټي شنې کيږي او دې ته په عربي کي طلع وايي او هغه د

خرماوو لو مړنی حالت وي بيا د هغه ځخه وروسته خلال بيا بلخ بيا بسر بيا رطب او بيا د وچېدو ځخه وروسته د هغه آخري شکل تمر دی.

هر نشه کونکی شی حرام دئ

﴿٣٤٧٢﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْبِتْعِ وَهُوَ نَبِيذُ الْعَسَلِ فَقَالَ كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ. متفق عليه.

د حضرت عائشې ﷺ ځخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ ځخه د شاتو د شیرې حکم وپوښتل سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: د څښلو هر هغه شی چي نشه راولي حرام دئ. بخاري او مسلم.

تخريج البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٠\٤١، رقم: ٥٥٨٦، ومسلم ١٣\١٥٨٥، رقم: ٦٧-٢٠٠١.

تشريح: په دغه حدیث کي مبتع د باء په زېر او د تا په جزم سره نقل سوی دی حال دا چي په ځینو ځایو کي د تا په زور سره هم نقل سوی دی، د عسلو نبیذ هغه عسلو ته وایي چي په یو لوښي کي په اچولو سره پرېښودل سي چي د خرماوو د نبیذ په ډول په هغه کي یو ډول تیزي پیدا سي، په دې باره کي رسول الله ﷺ وفرمایل که د عسلو نبیذ نشه راولي نو هغه هم حرام دي او د خرما د نبیذ و هم دا حکم دی، ویل کیږي چي د اهل یمن شراب مبتع دی.

څوک چي په دنیا کي شراب څښي هغه د شراب طهور ځخه محروم دی

﴿٣٤٧٣﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر شی چي نشه راولي

خمر و كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ. رواه مسلم

هغه شراب دي او هر نشه راوستونکی شی حرام دئ او کوم سړی چي په دنیا کي همېشه شراب څښي تر دې چي بې توبې مړ سي نو په آخرت کي به هغه ته د څښلو لپاره شراب نه ورکول کیږي. مسلم.

تخريج مسلم في الصحيح ١٣\١٥٨٧، رقم: ٧٣-٢٠٠٣.

تشريح د هغه به په آخرت کي شراب څښښل په برخه نه سي: د دې ځخه مراد د هغه سړي حالت

بیانول دي چي د شرابو په حلال گڼلو سره همېشه یې څېښي او یا دغه ارشاد پر زجر او توبیخ او د شرابو څېښلو پر سخت منع باندي محمول دی او یا دا مراد دی چي هغه سړي ته به په آخرت کي د هغه خلکو سره شراب طهور څېښل په برخه نه سي کوم چي په خلاصون تر لاسه کړي او په جنت کي تر مخه داخل سي.

د شرابي په اړه وعيد

﴿۳۴۷۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت جابر ﷛ څخه روایت دئ چي یو سړی د یمن څخه راغلی او د رسول الله ﷺ څخه یې د

وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ فَقَالَ النَّبِيُّ

هغه شرابو حکم و پوښتی چي د هغه په وطن کي چېښل کیدل دا شراب د جوارو څخه جوړېدل او هغه ته مزر ویل کیدل، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ مُسْكِرٌ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ إِنَّ عَلَى

ایا هغه نشه راولي؟ هغه عرض وکړ چي هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هر هغه شی چي نشه

اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ قَالُوا

راولي حرام دئ، او د الله تعالی عهد دئ څوک چي د نشې شی وچېښي نو په هغه به طينة الخبال وچېښل سي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه

يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ قَالَ عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ أَوْ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ.

رواه مسلم.

اې د الله رسوله! طينة الخبال څه شی دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د دوږخیانو خوله یا د دوږخیانو نوونه. مسلم.

تخريج: مسلم في الموضع السابق رقم: ۷۲-۲۰۰۲.

تشريح: د شیخ عبدالحق محدث دهلوي ﷫ د ترجمې څخه دا مفهوم اخیستل کیږي چي د دوږخیانو خوله یا د هغوی د زخمو څخه بهیدونکې وینه او نو د خبال معنی ده او د طینت معنی

ده لاندي خيري .

د نبيذ په اړه يو حکم

﴿۳۴۷۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ والبسر وَعَنْ خَلِيطِ الزبيب والتمر وعن خليط الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ وَقَالَ انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ . رواه مسلم

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د اومو او وچو خرماوو يو ځای کولو سره د نبيذ (شيرې) جوړولو څخه منع فرمايلې ده ، او وچ انگور او وچي خرماوي يو ځای کولو سره نبيذ جوړولو څخه يې منع فرمايلې ده او وچه اومه خرماوو يو ځای کولو سره د نبيذ جوړولو څخه يې منع کړې ده او فرمايلي يې دي چي په دې کي هر يو بيل بيل نستېږي . مسلم .

تخريج: مسلم في الصحيح ١٥٧٦\٣، رقم: ٢٦- ١٩٨٨.

د لغاتو حل: خليط الزهو : اى البسر الملون.

تشريح: رسول الله ﷺ د دوو ميوو يو ځای کولو او خشتولو څخه منع فرمايلې ده او د جلا جلا خشتول يې جائز گرځولي دي، په دې کي حکمت دادی چي کله دوه دوله مختلفي ميوې خشتې کړل سي نو پر هغه اوبه ژر اثر کوي ، کومه مېوه چي په اوبو سره ژر تغير قبول کړي په هغه کي نشه پيدا کيږي او د هغه اثر نورو ته هم رسيږي همدارنگه کوم نبيذ چي تياريږي په هغه کي د يو نشه کونکي شی گډېدو قوي امکان وي چي د هغه امتياز کول ممکن نه وي نو کله چي هغه نبيذ وڅيښل سي نو د يو حرام شي څښل لازميږي، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهما په دې بنياد د دغه حديث په ظاهري معنى باندي عمل کړی دی او ويلي يې دي چي داسي نبيذ څيښل چي د دوو ميوو په خشتولو سره جوړيږي حرام دي که څه هم په هغه کي نشه وي يا نه وي مگر جمهور علماء وايي چي د داسي نبيذ څيښل به په هغه صورت کي حرام وي کله چي په هغه کي نشه وي .

د شرابو څخه سور که جوړول

﴿۳۴۷۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْخَمْرِ تُتَّخَذُ خَلًّا فَقَالَ لَا . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول که د شرابو څخه سورکه جوړه سي نو جائز دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : يا . مسلم.

تخريج: مسلم في الصحيح ٣\١٥٧٣، رقم: ١١- ١٩٨٣.

تشريح: حنفيه حضرات وايي که شراب په سورکه تبديل کړل سي نو د هغه خوراک او په کار راوړل به جائز وي که څه هم په شرابو کي د يو شي په اچولو سره د هغه سورکه جوړه سوې وي يا په هغه کي د يو شي اچولو څخه پرته د مثال په توګه د زياتو ورځو اېښودو يا د لمر په ګرمۍ کي د اېښودو په وجه په خپله د هغه څخه سورکه جوړه سوې وي ، امام شافعي رحمة الله عليه وايي که چيري په شرابو کي د يو شي په اچولو سره سورکه جوړه سوې وي نو هغه حلال نه دي او محض د هغه په وجه په هغه شرابو کي هيڅ کله هم پاکي نه راځي او په هغه کي د يو شي اچولو څخه پرته د مثال په توګه د لمر په ګرمۍ کي د اېښودو په وجه د هغه څخه سورکه جوړه سوې وي نو په دې باره کي د هغه دوه قوله دي چي په هغو کي زيات صحيح قول دادی چي هغه شراب نه پاته کيږي بلکه په هغه کي پاکي راځي او د هغه خوراک او څښاک جائز دي.

د حنفيه حضراتو دليل دادی چي رسول الله ﷺ اول خو بېله يو قيده دا فرمايلي دي چي (نعم الادام الخل) يعني غوره کتغ سورکه ده، نو کوم شی چي سورکه وي د هغه استعمال به حلال وي ، دوهم دا چي کله د شرابو څخه هغه خراب خاصيت ووتی چي د هغه په وجه هغه حرام وو او په هغه کي ښه خاصيت پيدا سو اوس هغه د يو مباح شي په درجه کي سو چي د هغه خوړل او څښل حلال سول، او کوم چي ددغه حديث تعلق دی نو په دې باره کي د حنفيه حضراتو له خوا دا ويل کيږي چي رسول الله ﷺ دې ته حلال ځکه نه دي ويلي چي هغه وخت د شرابو د حرمت د نازلېدو لږ وخت سوی وو او خلکو د اوږده عادت په پرېښودو سره د شرابو څخه مخ ګرځولی وو او دا يو فطري خبره ده چي کله چي انسان يو شی د اوږده عادت څخه وروسته پرېږدي نو هغه شي ته د هغه خواهش تر ډيره وخته پوري وي نو رسول الله ﷺ هغه وخت د شيطان د مداخلت د بيري په محسوس کولو سره چي داسي نه شيطان لعين ته د خپل حربې ازمايلو موقع تر لاسه سي او د هغه په نتيجه کي خلک هغه شی د شرابو څښلو وسيله وګرځوي، رسول الله ﷺ هغه ته حلال ونه فرمايل مګر د شرابو پر حرمت د ډېر وخت تېرېدو او شرابو ته د خلکو د ميلان د شک او شبهې ايستلو څخه وروسته کله چي دا ډول بېره پاته نه سوه او هغه حکمت ختم سو چي د هغه په وجه هغه ته حلال نه ويل کېدل نو هغه حرمت زائل سو او

هغه سورکه د خوراک او څښناک لپاره حلال وګرځول سوه کوم چي د شرابو څخه جوړه سوې وي ، ددې څخه پرته صاحب د هدايې يو روايت هم نقل کړی دی چي بيهقي په خپل کتاب (معرفت) کي د حضرت جابر رضي الله عنه څخه مرفوع نقل کړی دی چي : خير خلكم خل خمركم : ژباړه : ستاسو په سورکو کي غوره سورکه هغه ده کوم چي د شرابو څخه جوړه سوې وي .

شراب د دواء په توګه استعمالول جائز نه دي

﴿٣٤٧٧﴾ : وَعَنْ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يَصْنَعَهَا فَقَالَ إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ فَقَالَ إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ وَلٰكِنَّهُ دَاءٌ . رواه مسلم .

د حضرت وائل حضرمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي طارق بن سويد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د شرابو په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ هغه ددې د جوړولو څخه منع کړ ، طارق وويل : موږ دا د دوا په توګه استعمالوو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :دا دواء نه بلکه ناروغي ده . مسلم.

تخريج: مسلم في الموضع السابق، رقم: ١٢- ١٩٨٤.

تشريح: اکثرو علماؤ شراب د دواء په توګه استعمال څخه منع کړې ده حال دا چي ځيني علماء وايي که د يو حاذق ډاکټر او معالج په وينا شراب د يو ناروغۍ يوازيني علاج وي يعني علاج کونکی دا ووايي چي په دغه ناروغۍ کي يوازي شراب دواء ده بله دواء يې نه سته نو په دغه صورت کي د هغه استعمال مباح دی ، همدارنګه که په حلق کي ګوله يا بل شی بند سي او د هغه په وجه د ځان د هلاکت بېره وي او هغه وخت اوبه يا بل داسي شی نه وي چي په هغه سره ګوله تېره سي نو په دغه صورت کي د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا فيصله ده چي يوازي دومره شراب څښل حلال دي چي په هغه سره ګوله يا بل شی تر حلق تېر سي

الله جل جلاله په هيڅ حرام شي کي شفاء نه ده ايښې

د مخکني باب په شروع کي ښوول سوي دي چي د شرابو حرمت د يو وار نازلېدو پر ځای په تدريجي توګه جاري سوی دی ، په دې باره کي چي اول آيت نازل سوی دی هغه هم په دغه وخت کي نقل سوی دی ، په دغه آيت کي دا هم فرمايل سوي دي چي (ومنافع للناس) يعني په دغه شرابو کي د خلکو لپاره څه ګټې هم سته، نو اوس هغه ګټې څه شي دي ؟ په دې باره کي مفسرينو ډېر څه ليکلي دي ، ځينو مفسرينو وضاحت کړی دی چي د ګټو څخه د انساني بدن

روغتيا او شفاء مراد نه ده بلكه انشاط طبع مراد دي چي د هغه اخري نتيجه د بدني مضراتو په صورت كي وي نو دا يقين كول بالكل عبث دی چي شراب د انسان بدن ته گټه رسولای سي يا ددې په ذريعه د يو ناروغۍ څخه خلاصون تر لاسه كيدای سي ، په دې باره كي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد هم په ذهن كي وساتئ چي : الله تعالى په هيڅ حرام شي كي شفاء نه ده ايښې .

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ (دوهم فصل)

د شراب څښلو وبال

﴿٣٤٧٨﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي (يو وار)

شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ يَقْبَلْ اللهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ

شراب وڅښي الله تعالى تر څلوېښت ورځو پوري د هغه لمونځ نه قبلوي ، وروسته كه چيري توبه وكاږي نو الله تعالى د هغه توبه قبلوي

فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلْ اللهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ فَإِنْ

بيا چي هغه دويم وار شراب وڅښي نو تر څلوېښت ورځو پوري د هغه لمونځ نه قبليږي او چي كله توبه وكاږي نو د هغه توبه قبلوي، بيا چي

عَادَ لَمْ يَقْبَلْ اللهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ

په دريم وار شراب وڅښي نو څلوېښت ورځو پوري د هغه لمونځ نه قبليږي چي توبه وباسي نو توبه يې قبليږي ،

الرَّابِعَةَ لَمْ يَقْبَلْ اللهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ لَمْ يَتُبْ اللهُ عَلَيْهِ

بيا چي په څلورم وار شراب وڅښي نو تر څلوېښت ورځو پوري د هغه لمونځ نه قبليږي او كه توبه وكړي نو توبه يې نه قبليږي او په دوږخ كي به د نوونو

وَسَقَاهُ مِنْ نَهْرِ الْخَبَالِ . رواه الترمذي و رواه النسائي وابن ماجة

والدارمي عن عبدالله بن عمرو .

د ويالې څخه ژړي اوبه ور وچيښل سي .، ترمذي، نسائي ، ابن ماجه ، او دارمي دا حديث د عبدالله بن عمرو څخه روايت کړی دی .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۵۷، رقم: ۱۸۶۲.

تشريح: د هغه لمونځ نه قبلوي : ددې مطلب دادی چي هغه سړي ته د خپل لمانځه ثواب نه ورکول کيږي که څه هم د لمانځه د ادا کولو فرض د هغه څخه ساقط کيږي ، دلته په خاصه توګه د لمانځه ذکر کولو مقصد دا دی چي کله د لمانځه په ډول عبادت نه قبليږي چي په ټولو بدني عبادتو کي تر ټولو افضل دی نو نور عبادتونه په طريقه اولی نه قبليږي او د څلوېښتو ورځو شمېر کيدای سي ددې لپاره لګول سوی وي چي د شراب څښونکي په باطن کي د شرابو اثر په مختلفو نوعيتو سره تر دومره وخته پوري وي .

دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د رسول الله ﷺ دا فرمايل چي په څلورم وار توبه نه قبليږي دا په اصل کي د زجر او سختوالي پر تنبيه باندي محمول دی ځکه چي يو ځای فرمايل سوي دي چي کوم سړی د ګناه څخه توبه وکړي او پښيمانه سي او د الله تعالی څخه د بخښني اميد ولري نو هغه اصرار ونه کړي (يعني داسي سړي ته مصر نه ويل کيږئ او د هغه توبه قبليږي) که څه هم په يوه ورځ کي هغه ګناه اويا واره وکړي، او يا دا مراد دي چي کوم سړی په وار وار شراب څښي نو ددغه ام الخبائث د نحوست په وجه هغه ته د حقيقي توبې توفيق نه ورکول کيږي او په آخر کي پر هغه باندي اصرار کونکی مړ سي .

د نشه کوونکي شي لږ مقدار هم حرام دی

﴿۳۴۷۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم شی چي په زيات استعمال سره نشه راولي د هغه په لږ اندازه استعمالول هم حرام دي . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵۸، رقم: ۱۸۶۵، وابوداود في السنن ۴\ ۸۷، رقم: ۳۶۸۱، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۱۲۵، رقم: ۳۳۹۳.

تشريح: مطلب دا دئ چي د مثال په توګه د شرابو يو داسي ډول دی چي د هغه زياته اندازه نشه راولي او کم اندازه يې نشه نه راولي نو داسي نه ده چي د هغه لږ څيښل به جائز وي بلکه د هغه لږ اندازه به هم حرام وي ځکه چي د انسان فطرت دی چي مخکي يو شی په کمه اندازه کي اختياروي او بيا هغه کمه اندازه هغه زياتي اندازې ته رسوي نو د هغه کم څخه هم پرهيز کول ضروري دي .

﴿۳۳۸۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرْقُ فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد .

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم شی چي (په اندازه د ۱۶رطلو نشه راولي) نو د هغه يو ورغوی اندازه هم حرام دي . احمد، ترمذي، ابوداؤد .

تخريج: احمد في المسند ٦\ ١٣١، والترمذي في الموضع السابق ١٤\ ٢٩٣، وابوداود في الموضع السابق ١٤\ ٩١، رقم: ٣٦٨٧.

د لغاتو حل: الفرق: مكيال معروف بالمدينة وهو ستة عشر رطلا (شپاړس رطله).

تشريح: د دغه حديث شريف مطلب هم دا دی چي کوم نشه کونکی شی په زياته اندازه کي حرام وي د هغه تر ټولو کمه اندازه هم حرام دي . .

شراب د څشي څخه جوړيږي

﴿۳۳۸۱﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرًا وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرًا وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرًا وَمِنَ الزَّبِيبِ

د غنمو څخه هم شراب جوړيږي د اوربشو څخه هم شراب جوړيږي د خرماوو څخه هم شراب جوړيږي د انګورو څخه هم شراب جوړيږي

خَمْرًا وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرًا . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

او د شاتو څخه هم شراب جوړيږي . ترمذي ، ابوداؤد، ابن ماجة، د ترمذي په قول دا حديث غريب دئ .

تخريج: الترمذي في السنن ٤\٢٦٢، رقم: ١٨٧٢، وابوداود في السنن ٤\٨٣، رقم: ٣٦٧٦، وابن ماجه في السنن ٢\١١٢١، رقم: ٣٣٧٩.

تشريح: علماؤ ويلي دي چي دلته حصر مراد نه دی چي يوازي ددغه شيانو څخه شراب جوړيږي بلکه ددغه شيانو په خاصه توګه ذکر ځکه سوی دی چي په عامه توګه سره ددغه شيانو څخه شراب جوړيږي ، په دغه ارشاد کي ددې دليل هم دی چي خمر يوازي د انګورو شرابو ته نه وايي حال دا چي ابن مالک رحمه الله وايي چي دلته د انګورو د شرابو څخه ماسوا د نورو شيانو شرابو ته خمر مجازا ويل سوي دي او په دې کي مناسبت دادی چي ددغه شيانو شراب هم د انسان عقل زائل کوي .

شراب مال متقوم نه دی

﴿٣٤٨٢﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ فَلَمَّا نَزَلَتْ الْمَائِدَةُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ وَقُلْتُ إِنَّهُ لِيَتِيمٍ فَقَالَ أَهْرِقُوهُ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زموږ سره د يو يتيم شراب وه ، کله چي سورة مائدة نازله سوه (چي په هغه کي د شرابو حرمت دئ) نو ما په دې په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه او عرض مي وکړ چي دا د يتيم مال دئ ، رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دا چپه کړئ . ترمذي .

تخريج سنن الترمذي ٣\٥٦٣، رقم: ١٢٦٣.

تشريح رسول الله ﷺ د خپل ارشاد په ذريعه دا واضحه کړل چي شراب متقوم مال نه دی نه يوازي دا چي ددې څخه يو کټه تر لاسه کول د هيڅ مسلمان لپاره حلال نه دي بلکه موږ ته ددې د سپکاوي حکم سوی دی نو په دغه صورت کي د شرابو تويول ضروري دي .

﴿٣٤٨٣﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا

حضرت انس رضي الله عنه د ابو طلحة رضي الله عنه څخه روايت کوي چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي اې د الله رسوله ! ما ددغه يتيمانو لپاره شراب په بيه اخيستي وه

لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي قَالَ أَهْرِقْ الْخَمْرَ وَاكْسِرْ الدِّنَانَ. رواه الترمذي و ضعفه

د كومو چي زه پالنه كوم (په هغه شرابو څه وكړم) نو وه يې فرمايل چي شراب چپه كړه (توى يې كړه) او لوښي يې مات كړه، ترمذي،

و في رواية ابي داؤد اَنَّهُ سَاَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَيْتَامٍ وُرِثُوا خَمْرًا قَالَ اَهْرِقْهَا قَالَ اَفَلاَ اَجْعَلُهَا خَلاًّ قَالَ لاَ .

او د ابو داؤد په روايت كي د االفاظ دي چي ابو طلحة عرض وكړ زما په پالنه كي د غه يتيمانو ته په ميراث كي شراب رسيدلي دي (په دغه څه وكړم) ورته وه يې فرمايل : چي توى يې كړه هغه بيا عرض وكړ چي سوركه ځيني جوړه كړم، نو وه يې فرمايل چي يا .

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۸۸، رقم: ۱۲۹۳، وابوداود ۴\۸۲، رقم: ۳۶۷۵.

د لغاتو حل: الدنان: جمع دن، وهو ظرفها.

تشريح: ابو طلحه ﷺ د شرابو د حرمت نازلېدو څخه مخكي د خپل روزني لاندي يتيمانو لپاره چي كوم شراب رانيولي وه د هغه په باره كي پوښتنه وكړه چي اوس خو شراب حرام سوي دي نو زه په دغه شرابو سره څه وكړم؟ ايا دا توى كړم كه يې پرېږدم؟ رسول الله ﷺ حكم وركړ چي هغه وبيوه ، د هغه د لوښو ماتولو حكم يې ځكه وركړ چي د شرابو نجاست په هغه كي اثر كړى وي او اوس د هغه پاكېدل مخكي نه وه پاته سوي يا دا چي رسول الله ﷺ د شرابو په منع كي د سختۍ ظاهرولو لپاره دا حكم وركړ چي په كوم لوښي كي هغه شراب پراته وي هغه دي هم مات كړل سي ، همدا رنگه رسول الله ﷺ د هغه شرابو د سوركې جوړولو څخه هم منع وفرمايل چي د هغه تعلق يا خو د زجر او سختۍ لپاره دى او يا دا منع د نهي تنزيهي په توگه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

هر نشه كونكى شى حرام دى

﴿۳۴۸۴﴾: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ . رواه ابو داؤد

د حضرت ام سلمة رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه شي د استعمال څخه منع فرمايلې ده کوم چي نشه راولي او په بدن کي سستي پيدا کوي . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۹۰، رقم: ۳۶۸۶.

تشريح: په نهايه کي ليکلي دي چي مفتر هغه شي ته وايي چي د هغه په څکولو سره په زړه او دماغ کي ګرمي پيدا سي او په هغه سره اعضاء رئيسه کي فتور يعني کمزوري پيدا سي ، افتراء الرجل : د يو سړي په باره کي هغه ويل کيږي کله چي د هغه بانوګان او ورزي کمزوري سي . د دغه ارشاد څخه د خراساني سپيرکي ، بنګ او نورو داسي شيانو د حرمت استدلال کيږي .

د شراب څښلو په هيڅ صورت کي اجازه نه سته

﴿۳۴۸۵﴾: وَعَنْ دَيْلَمِ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ قُلْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم

د حضرت ديلم حميري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما عرض وکړ اې دالله رسوله !

يا رسول الله إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ نُعَالِجُ فِيهَا عَمَلًا شَدِيدًا وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ

موږ د يخ وطن اوسيدونکي يو او موږ د غنمو شراب جوړوو چي زموږ بدن ته توان رسوي ، په

هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا قَالَ هَلْ يُسْكِرُ قُلْتُ نَعَمْ

سختو کارونو کي بدنونه قوي کوي او د وطن د يخني څخه مو هم ژغوري، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا هغه نشه راولي ؟ ما عرض وکړ چي هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ فَاجْتَنِبُوهُ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ قَالَ ان لَم يتركوه قَاتِلُوهُمْ . رواه ابو داؤد .

د هغه څخه ځان وژغوره ، ما وويل خلک يې نه پريږدي، رسول الله ﷺ وفرمايل چي نه يې پريږدي نو جهاد ورسره وکړئ . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۸۹، رقم: ۳۶۸۳.

د شرابو او خمار ممانعت

﴿۳۴۸۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ

الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ وَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ . رواه ابوداؤد

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د شرابو څښلو او خمار کولو څخه منع فرمايلې ده او د نرد او سطرنج (يو ډول لوبي دي) او غبيرا (يو ډول شراب) څخه يې هم منع فرمايلې ده او فرمايلي يې دي چي هر نشه والا شی حرام دئ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٤\٨٩، رقم: ٣٦٨٥،.

د لغاتو حل: الكوبة: قيل النرد ، وقيل الطبل الصغير (د نرد لوبه يا کوچنی ډول). الغُبيراء: ضرب من الشراب يتخذ من الذرة (يو ډول شراب).

تشريح: په قاموس کي ليکلي دي چي کوبه سطرنج ته وايي همدارنګه طبل يعني نغارې او ساز ته هم کوبه وايي دا ټول شيان منع دي ځکه دلته د کوبه څخه چي کوم شي مراد واخيستل سي صحيح دی ، غبيرا د يو ډول شرابو نوم دی چي د نخودو څخه جوړيږي او په عامه توګه سره حبشيانو به جوړول .

شرابي به جنت ته نه داخليږي

﴿٣٤٨٧﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌّ وَّلَا قَمَّارٌ وَّلَا مَنَّانٌ وَّلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ . رواه الدارمي وفي رواية له ولا ولد زنية بدل قمار .

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مور او پلار عاق سوی، خمار کونکی، احسان اچونکی، او هميشه شراب څښونکی به جنت ته هيڅکله داخل نسي . دارمي . او د دارمي په يوه بل روايت کي د خمار پر ځای د ولد الزنا الفاظ دي .

تخريج: سنن الدارمي ٢\١٥٣، رقم: ٢٠٩٤،

تشريح: د اوسني زمانې په اعتبار هره هغه بازي خمار د چي په هغه کي په عامه توګه شرط تړل کيږي چي ګټونکی به د بايلونکي څخه دومره روپۍ يا فلانی شی اخلي لکه تاش، سطرنج او داسي نور، او همدارنګه لاټرۍ هم د خمار په حکم کي داخله ده .

د طيبي رحمه الله د قول مطابق د منان يوه معنی هغه ده کوم چي د ترجمې څخه ظاهره ده يعني يو فقير يا اړ کس ته د صدقې او خيرات په ورکولو سره پر هغه احسان اچول مګر دا احتمال هم

لري چي منان په اصل کي د من څخه وي چي د هغه معنی د قطع کولو ده همدارنګه منان هغه سړي ته وايي چي د قرابت قطع کونکی وي.

دغه حديث چي (ولد الزنا به په جنت کي نه داخليږي) صحيح نه دی او موضوع ګرځول کيدای سي بلکه دا يو ضعيف روايت دی بيا هم که چيري د هغه د صحيح کېدو احتمال وي نو په هغه صورت کي به تاويل او وضاحت دا وي چي کوم اولاد د زنا په نتيجه کي پيدا کيږي هغه د پلار د روزني او ځارني څخه محروم وي او د مورد بد فعلی سايه پر هغه وي ځکه هغه په عامه توګه خراب سي او د ظاهري او باطني روزني نه تر لاسه کېدو په وجه په ډول ډول خرابيو او بدو اعمالو کي اخته کيږي او په پای کي د الله تعالی په عذاب کي اخته سي، ددې څخه ماسوا څرنګه چي په حرامو اسبابو د مثال په توګه په خمار او سود سره په ګټلي مال کي يو ډول نحوست وي همدارنګه په ولد الزنا کي هم يو ډول نحوست وي ځکه چي هغه د داسي نطفې څخه په وجود راځي چي په حرام ځای کي په حرامي ذريعې سره پيدا سوی وي يا داسي به وويل سي چي دغه ارشاد (ولد الزنا به په جنت کي نه داخليږي) دا په اصل کي پر زنا کونکي باندي د تعريض او سختۍ مقصد دی چي هغه د ولد الزنا د پيدا کېدو سبب ګرځي.

ددې څخه پر ته ځيني حضرات وايي چي دلته د ولد الزنا څخه هغه سړی مراد دی چي هغه پر زنا باندي همېشتوب کوي او دا يې عادت وګرځي لکه زړه ورو خلکو ته د بنو الحرب، يا مسلمانانو ته د بنو الاسلام په نامه ويل کيږي، خلاصه دا چي ددغه ارشاد مطلب دا نه دی چي ولد الزنا محض ددې په وجه چي هغه د زنا په نتيجه کي پيدا سوی دی د الله تعالی په عذاب کي اخته نه وي يا هغه به د جنت د سعادت څخه محروم وي ځکه چي په کومي بدی سره هغه پيدا سوی دی په هغه کي دده هيڅ قصور نه سته.

د شرابي په اړه يو وعيد

﴿۳۴۸۸﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِي

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی زه د خلکو لپاره

رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ

د رحمت او هدايت سبب رالېږلی يم او د باجو، مزاميرو، بتانو، صليب او د جاهليت د تهولو

وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَحَلَفَ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِعِزَّتِهِ لَا

خرابو رسمونو او طريقو د ورانولو حکم يې راکړی دئ او زما بزرگ او برتر الله قسم خوړلی دئ

يَشْرَبُ عَبْدٌ مِنْ عَبِيدِي جَرْعَةً مِنْ خَمْرٍ إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا

چي زما په بندګانو کي کوم بنده د شرابو يو څاڅکي وڅښي زه به پر هغه د دوږخيانو د بدن نوونه وڅښنم،

وَلَا يَتْرُكُهَا مِنْ مَخَافَتِي إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدُسِ. رواه احمد

او څوک چي زما د بيري شراب څښل پريږدي په هغه به د پاکو حوضو نو څخه (پاک شراب) وڅښنم. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۲۵۷.

تشريح: د باجو څخه ډول، نغاره، رباب، فيانو او داسي نور د ساز او سروز سامان مراد دی، همدا رنګه د مزامير څخه پاچاهي ساز، تولی او داسي نور شيان مراد دي.

دغه حديث د باجې او مزامير پر حرام کېدو باندي دلالت کوي ځکه چي دغه شيان د پخوانۍ زمانې د فاسقانو او ګمراهانو خلکو د رواجو او عاداتو څخه دي.

فقهاؤ ليکلي دي چي راګ او غزلي د سروز سره حرام دي مګر محض په آواز سره ويل مکروه دي او د پرديو ښځو څخه اوريدل حرام دي.

د دار څخه مراد هغه صليبي نښان دی چي د عيسايانو په نزد يو مقدسه نښه او قومي او مذهبي نښه ده چي په دغه ┼ شکل کي وي يعني يو خط بل خط قطع کوي دا په اصل کي د هغه دار نښان دی چي پر هغه باندي د عيسايانو د عقيدې سره سم حضرت عيسى عليه السلام په دار سوی وو په دې مناسبت سره عيسايان دا نښه په مختلفو صورتو کي پر خپل بدن باندي زړوي بلکه پر ځان او ټولو شيانو باندي دغه نښه جوړوي ددې څخه د هغوی مقصد د برکت تر لاسه کول دي او د هغه واقعې غم او حسرت يادول هم دي کوم چي حضرت عيسى عليه السلام ته پيښ سوی وو، نو رسول الله ﷺ ددغه نښي د نيست او نابود کولو حکم هم وکړ او مسلمانان يې په سختۍ سره منع کړل چي هغوی داسي هيڅ شی استعمال نه کړي چي پر هغه باندي دغه نښه وي او نه بايد پر خپل يو شي باندي داسي نښه جوړه کړي ځکه چي په دې سره د يو پردي قوم مشابهت کيږي چي په اسلام کي سخت حرام دي.

د جاهليت د زمانې د رواجو او عاداتو څخه مراد هغه شيان دي کوم چي بالکل باطل دي او

د اسلام د زمانې څخه مخکې ډېر رواج وه لکه نوحه (پر مړي باندي وېر کول) په خپل کورنۍ يا نسل باندي بې ځايه فخر كول او د نورو د نسب پيغور او طنز كول او داسي نور.

د مور او پلار پر نافرمان او شرابي باندي د جنت دروازې بندي دي

﴿٣٣٨٩﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ. رواه احمد والنسائي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې كسان دي چي پر هغوی الله تعالی جنت حرام كړی دئ: يو خو هغه سړی چي هغه همېشه شراب چښي، دويم هغه چي د مور او پلار نافرماني كوي، دريم: دووث چي د خپل كور والا څخه د زنا كار اخلي. احمد او نسائي.

تخريج: مسند الامام احمد ٢\٦٩، والنسائي ٥\٨٠-٨١، رقم: ٢٥٦٢.

تشريح: څوک چي په خپل كورنۍ كي ناپاكي پيدا كړي: ددې مطلب دادی چي كوم څوک خپل ښځه، مېنزه يا يو بله قريبه د بدۍ پر لاره روانوي يعني هغوی د پرديو خلكو سره پر كور والي كولو، مچه اخيستلو او په ناپردګۍ كي د اختلاط وغيره باندي مجبوره كوي يا هغوی ته دا موقع وركوي او په دغه حكم كي نور ټول ګناهونه لكه شراب څښل، د جنابت غسل نه كول او داسي نور هم شامل دي يعني هغه سړی خپل ښځه د شرابو پر څښلو ويني يا هغه د جنابت څخه پر غسل نه كولو ويني يا په يو بله ګناه كي يې ويني او د هغه څخه يې منع نه كړي نو دا هم دوسي ده.

علامه طيبي رحمه الله وايي چي دوس هغه بې غيرته سړي ته وايي چي خپله كورنۍ يعني خپل ښځه په يو بدۍ كي ويني مګر نه خو هغه ته ددې په وجه غيرت محسوس كيږي او نه يې د هغه بدۍ څخه منع كوي.

په مجمع البحرين كي ليكلي دي چي دوث ته كشخان او قرنان هم وايي مګر ځيني حضراتو د كشخان او قرنان په مفهوم كي لږ فرق پيدا كړی دی يعني دوس هغه دی چي پردي سړي ته خپل ښځه پرېږدي او كشخان هغه دی چي خپلو خويندو ته پردي خلک پرېږدي او قرنان هغه دی چي خپل لوڼو ته پردي سړي پرېږدي.

﴿٣٤٩٠﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْاَشْعَرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ . رواه احمد.

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي ، دري ډوله خلک به جنت ته نه ځي : هميشه شراب څېښونکی، د قريبانو سره تعلق پرې کونکی او پر جادو باندي يقين او باور ساتونکی . احمد .

تخريج: مسند الامام احمد ٤\٣٩٩.

تشريح: پر جادو باندي يقين کونکي: ددې څخه مراد هغه سړی دی چي جادو مؤثر بالذات کڼي ، په جادو باندي په دې معنی يقين کول صحيح دي چي هغه د الله تعالی مخلوق دی او د الله تعالی په حکم سره د هغه اثر واقع کيږي لکه څرنګه چي فرمايل سوي دي : (السحر حق) يعني جادو يو حقيقت دی .

شراب څېښل د بت پرستۍ مترادف دی

﴿٣٤٩١﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُدْمِنُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي هميشه شراب

الْخَمْرِ إِنْ مَاتَ لَقِيَ اللهَ تَعَالٰى كَعَابِدِ وَثَنٍ . رواه أحمد وروى ابن ماجه عن

څېښونکی مړ سي نو الله تعالی به د هغه سره دا سي ملاقات کوي څرنګه چي د بت عبادت کونکي سره ملاقات کوي . احمد او ابن ماجة،

أبي هريرة والبيهقي في " شعب الإيمان " عن محمد بن عبيد الله عن أبيه . قال : ذكر البخاري في التاريخ عن محمد بن عبد الله عن أبيه .

ابن ماجه د ابو هريرة څخه او بيهقي په شعب الايمان کي د محمد بن عبد الله څخه او هغه د خپل پلار څخه ددې يادونه کړې ده بخاري په تاريخ کي د محمد بن عبيد الله څخه د هغه د پلار په واسطه روايت کړې .

تخريج مسند الامام احمد ١\٢٧٢ . والبيهقي في شعب الايمان ٥\١٢-١٣، رقم: ٥٥٨٧.

﴿٣٤٩٢﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ مَا أُبَالِيْ شَرِبْتُ الْخَمْرَ أَوْ عَبَدْتُ هٰذِهِ السَّارِيَةَ دُوْنَ اللّٰهِ. رواه النسائي

حضرت ابو موسی رضي الله عنه به ويل چي زه هيڅ کله ددې خيال هم نه کوم چي شراب وڅښم يا د الله تعالى ځخه پرته ددې ستون (يا ميل) عبادت وکړم. نسائي.

تخريج: سنن النسائي ٨\ ٣١٤، رقم: ٥٦٦٣.

د لغاتو حل: السارية: أي الأسطوانة (ستنه\ ميل).

تشريح: ددغه ارشاد څخه د حضرت ابوموسى رضي الله عنه مقصد دا ظاهرول دي چي زما په نزد د شرابو څيښلو او بت پرستۍ دواړو يو حکم دی.

==========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَــابُ الاَمَارَةِ وَالْقَضَاءِ

(د امارت او قضاء بيان)

د امارت څخه مراد سرداري او حكمراني ده او د قضاء څخه مراد شرعي عدالت دی، د اسلامي حکومت د نظام دا دوه بنيادي ستني دي ، امير او امام (يعني د هيواد پاچا) د اسلامي قانون محافظ ، د حکومت د نظم او د امر بالمعروف او نهي عن المنكر ذمه دار ، د مذهب د ساتني او د ا سلامي امت د طاقت او قوت امين او د عامو امورو څارونکی وي، د اسلامي ټولني د افرادو تعلق چې د کومو امورو سره دی پر هغه ټول د امير او امام اختيار وي ، قاضي د اسلامي حکومت د مشرتابه په حيثيت د هيوادوالو د حقوقو محافظ وي او هغه د معاملاتو په فيصله کولو کي د شريعت له خوا د حكم حيثيت لري د هغه تر ټولو لويه ذمه داري دا وي چې هغه د خلکو فيصلې د شريعت سره سم وکړي او د هغه ټولو لويه فريضه دا وي چې په عدل، انصاف، امانت او ايمانداری تقاضا په هر حالت کي په نظر کي ولري.

اسلام او حکومت

اسلام د نړۍ يوازيني مذهب دی او د دنيا تر ټولو لوی طاقت هم دی ، څرنګه چې اسلام د انسانيت عامه د ديني، مذهبي، اخلاقي او اخروي فلاح تر ټولو آخري او مکمل قانون دی همدارنګه هغه يو داسي نه فنا کېدونکی سياسي طاقت هم دی چې د انسانانو د عامي ګټي او عام نظم لپاره په حکومت او سياست سره خپل تعلق څرګندوي.

دا يو نه رد کېدونکی حقيقت دی چې اسلام يوازي يو مذهب نه دی بلکه د مذهب په حيثيت سره نور څه هم دی چې د حکومت، حاکميت، سياست او سلطنت سره يې تعلق دی کوم چې د دغه کائناتو د يو لوی حقيقت څخه دی دې ته محض يو داسي نظام نه سي ويل کېدای چې يوازي د باطن د اصلاح فرض سرته رسوي بلکه دا يو داسي ديني نظام هم دی چې د الله ﷻ د بيري او د الله ﷻ د پېژندګلوۍ د روحاني طاقت سره د دنيا پر مادي نظام باندي د عالمګير غلبې دعوه لري ، همدا وجه ده چې قرآن کريم د اسلامي تصوراتو او نظرياتو چينه ده او نبوي حديثونه چې د قرآني حديثو تشريح کونکي او ترجمه کونکي دي د هغه يوه لويه برخه اسلام او

د حکومت او سیاست تعلق ثابتوي ، چیري چي په تاریخي انداز کي، چیري چي د تعلیمات په اړخ کي او چیري چي د الهي نعمت په ظاهرولو سره پر موږ دا واضحه کیږي چي د اسلام او حکومت په مینځ کي تعلق نه سته بلکه د اسلام د بنیادي عقیدې او تصور مطابق دا مځکه د الله تعالی ملکیت دی او پر دغه مځکه باندي حکومت د الله تعالی حق دی ځکه د اسلام یو بنیادي مقصد دا هم دی چي پر دغه مځکه د الله تعالی حکومت قائم کړل سي او د هغه نازل کړی قانون جاري کړل سي .

په موږ کي چي کوم کمزوري خلک د مذهب او سیاست په مینځ کي د تفریق دیوال حائلوي او اسلام د سیاست او حکومت څخه بالکل بې تعلقه او بې واسطې کول غواړي هغوي په اصل کي د مسلم مخالف عناصرو د هغه چالاک او مکار فلان ښکار دي چي په خپله یې په حقیقي معنی کي تر ننه پوري حکومت د مذهب څخه ازاد نه کړلای سو مګر د مسلمانانو سیاسي پرواز او پر مختګ د کمزوري کولو لپاره د مذهب او سیاست د ځانګړو بحثونو په پیدا کولو سره د مسلمانانو د فکر او عمل په چینه کي د دین او دنیا د جلا والي زهر پاشي .

په کتاب الامارة والقضاء کي چي کومه برخه شروع کیږي په هغه کي هغه حدیثونه نقل کیږي چي هغه د دغه دعوې واضح دلیلونه دي چي اسلام، حکومت او سیاست دوه مخالف او متضاد شیان نه دي ، په دغه حدیثو کي د امیر، خلیفه، قاضي، منصف، عوام، پاچا، فوځ او دهیواد د نظم او دا سي نورو شیانو سره متعلق چي کوم هدایت او احکام بیانیږي د هغو څخه دا واضحه کیږي چي حکومت او سیاست هم د اسلام یوه موضوع ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د امیر اطاعت د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت دی

﴿٣٤٩٣﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَطَاعَنِي

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي زما اطاعت وکړ

فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعْ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي

هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ او چا چي زما نافرماني وکړه هغه د الله ﷻ نافرماني وکړه او چا چي د امیر اطاعت وکړ هغه زما اطاعت وکړ

وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ

او چا چي د امير نافرماني وكړه هغه زما نافرماني وكړه، او څرګنده دي وي چي امام د سپر په ډول دئ چي د هغه شا ته جګړه كيږي (يعني د هغه تر قومندي لاندي د دښمن سره جګړه كيږي) او د هغه په نګراني كي امن عافيت تر لاسه كيږي، نو

فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَعَدَلَ فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ. متفق عليه.

كوم حاكم چي د الله جل جلاله د ويري سره د هغه د حكم سره سم حكمراني كوي او د انصاف څخه كار اخلي هغه ته به پر دې اجر تر لاسه كيږي او كه داسي ونه كړي نو د هغه ګناه به د هغه پر سر وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١١٦، رقم: ٢٩٥٧، ومسلم ٣\١٤٦٦، رقم: ٣٣- ١٨٣٥.

تشريح: د امام د سپر سره د تشبيه وجه داده چي څرنګه سپر په جګړه كي د دښمن د غشي او توري څخه ساتنه كوي همدارنګه د امام وجود د مسلمانانو د دښمن د حملو او د هغوی د آفاتو او مصيبتو څخه د ساتني باعث وي.

د امير اطاعت ضروري دی

﴿٣٤٩٤﴾: وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُّجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا. رواه مسلم

د حضرت ام حصين رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كه پر تاسو باندي يو پز پريكړی غلام حاكم جوړ كړل سي او هغه پر تاسو د كتاب الله سره سم حكمراني كوي نو د هغه اطاعت كوئ او حكم يې منئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ٢\٩٤٤، رقم: ٣١١- ١٢٩٨.

د لغاتو حل: مُجدع: اى مقطوع الانف والاذن. (هغه چي غوږ او پزه يې پرې وي).

تشريح: ددغه ارشاد مقصد د د اولو الامر د اطاعت او فرمانبرداری اهميت څرګندول دي او ددغه اهميت د زيات واضح كولو لپاره د غلام ذكر سوی دی لكه څرنګه چي يو وار رسول الله

ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي مسجد جوړ كړي كه څه هم هغه د چړګي د كوډلي په ډول وي ...الخ، ظاهره ده چي مسجد د چړګي د كوډلي په ډول هيڅكله نه سي كيداى بلكه ددغه ارشاد مقصد د مسجد د جوړولو ارزښت او د هغه زيات فضيلت بيانول دي ، همدارنګه دلته د غلام په ذكر كولو سره مبالغه كول مقصد دي يا دا مراد دى كه هغه غلام د پاچا يا خليفه نائب وي يا هغه د يو خاص سيمي حاكم جوړ سوى وي ، ددغه تاويل بنياد دادى چي د غلام امير او امام كول جائز نه دي .

واضحه دي وي چي په دغه ټولو حديثو كي هم دا تاويل كيږي چي په هغه كي د غلام د امارت او مشرتوب ذكر دى .

پزه پرې كړي او غوږ پرې كړي : ددې مقصد هم د تاكيد لپاره استعمال سوى دى او ددې څخه مراد حقير غلام دى ، خلاصه دا چي پر مسلمانانو باندي لازم دي چي هغوى د خپل امير او امام اطاعت وكړي او د هغه د منصب ، امارت او امامت پوره عزت او توقير وكړي كه څه هم هغه امير په خپل ذاتي حيثيت سره د هر څومره كمي درجې وي .

﴿۳۴۹۵﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ . رواه البخاري .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حاكم حكم اورئ او اطاعت يې كوئ كه څه هم ستاسو حاكم يو حبشي غلام جوړ كړل سي چي د هغه د انګور په ډول كوچنى سر وي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲۱، رقم: ۷۱۴۱.

د غير شرعي حكم اطاعت واجب نه دى

﴿۳۴۹۶﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فِيمَا اَحَبَّ وَكَرِهَ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حاكم حكم اوريدل او

اطاعت یې کول پر هر مسلمان فرض دي که څه هم هغه حاکم یې خوښ وي یا ناخوښه ، تر څو پوري چي حاکم د یو ګناه حکم ورنه کړي او هر کله چي د یو ګناه حکم ورکړي نو نه یې اوریدل سته او نه یې منل . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢١\١٣، رقم: ٧١٤١، ومسلم ١٤٦٩\٣، رقم: ٣٨- ١٨٤٠.

تشريح: د امیر او حاکم خبره اوریدل او د هغه د احکامو او فرمانو اطاعت کول پر هر مسلمان باندي واجب دي که څه هم د هغه حکم او فرمان د طبیعت او خوښي موافق وي یا موافق نه وي مګر شرط دادی چي د هغه حکم د شریعت د حدودو څخه متجاوز نه وي ، که چیري حاکم او امیر یو داسي حکم جاري کړي چي په هغه باندي په عمل کولو سره ګناه لازمیږي نو د هغه اطاعت او پیروي واجب نه ده مګر په دغه صورت کي هم د امیر او حاکم پر خلاف بغاوت کول یا د هغه سره جنګ کول جائز نه دي .

﴿۳۴۹۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ . متفق عليه

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د یو ګناه په کار کي د چا اطاعت واجب نه دئ ، اطاعت یوازي په نیکو کارونو کي واجب دئ . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٢٣٣\١٣، رقم: ٧٢٥٧، ومسلم ١٤٦٩\٣، رقم: ٣٩- ١٨٤٠.

د اطاعت عهد

﴿۳۴۹۸﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ پر لاس بیعت وکړ او

عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا

موږ پر دې خبره عهد وکړ چي پر موږ چا ته ترجیح ورکړل سي نو موږ به صبر کوو او پر دې خبره

وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى اَنْ تَقُوْلَ بِالْحَقِّ اَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي

مو عهد وکړ چي موږ به حکومت د ور کس د لاسو څخه په زوره نه اخلو ، او پر دې خبره مو عهد

وکړ چي موږ به حقه خبره کوو په هر ځای کي چي يو د الله ﷻ په حق کي به د ملامت کس ځخه نه

اللهِ لَوْمَةَ لائِمٍ وفي رواية عَلٰى اَنْ لاَّ نُنَازِعَ الْاَمْرَ اَهْلَهٗ اِلَّا اَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللّٰهِ فِيهِ بُرْهَانٌ. متفق عليه

بيريږو، او په يوه روايت کي د االفاظ دي چي موږ پر دې خبره عهد وکړ چي موږ به امر (يعني حکومت) د وړ خلکو د لاسو ځخه نه کاږو پر ته ددې ځخه چي ځرګند کفر ووينو او د الله ﷻ د لوري ځخه ستاسو سره د هغه ټينګ دليل وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۳، رقم: ۷۰۵۵، ومسلم ۳\۱۴۷۰، رقم: ۴۲- ۱۷۰۹

تشريح: پر موږ ترجيح ورکړل سي: ددې مطلب دادی چي موږ انصارو دا عهد وکړ چي پر موږ باندي چا ته ترجيح ورکړل سي نو موږ به دصبر او تحمل لمن د لاس ځخه نه ايله کوو او په يو روايت کي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ انصارو ته فرمايلي وه چي زما ځخه وروسته به ستاسو سره ترجيحي چلن کيږي يعني د بخښني، انعام او منصب د ويش په وخت به پر تاسو نورو خلکو ته ترجيح ورکړل سي نو پر داسي موقع باندي تاسو خلک صبر کوئ، د رسول الله ﷺ وړاند وينه ثابته سوه چي د خلفاء راشدينو د زمانې ځخه وروسته کله چي د اميرانو حکومت شروع سو نو د انصارو سره ترجيحي چلن وکړل سو او انصارو د رسول الله ﷺ د ارشاد په عملي کولو کي او د خپل اقرار د ساتني لپاره د هغه ترجيحي چلن خلاف د شکايت پر ځای د صبر او تحمل لار اختيار کړل.

موږ به امر د هغه ځای ځخه نه وباسو: ددې مطلب دادی چي موږ د امارت او حکومت غوښتنه او خواهش نه کوو پر موږ چي کوم ځوک امير او حاکم سي موږ به هغه نه معزول کوو او د خپل امير او حاکم خلاف شور او بغاوت به نه کوو.

د روايت د آخري الفاظو مطلب دادی چي د امير او حاکم په قول او فعل کي که چيري ځرګند کفر ووينئ نو د هغه د معزول کولو اجازه ده.

فسق او فجور د منصب د برطرفۍ بنياد کيدای سي که يا؟

ددغه ارشاد ځخه دا معلومه سوه چي د هيواد د پاچا په هغه صورت کي د معزول (برطرفه) کولو اجازه ده کله چي هغه د ښکاره کفر مرتکب سي او د هغه کفر د قرآن او حديث په رڼا کي په دومره واضحه توګه ثابت سي چي د هغه امام لپاره د هغه کفر يو تاويل کول هم ممکن نه وي، د

مام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد د امام د معزول كولو بنياد يوازې د هغه كفر كيداى سي د هغه فسق او فجور د هغه د عزل سبب نه سي كيداى حال دا چي امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي كه امام په فسق او فجور كي اخته سي نو هغه معزول كيداى سي دا مسئله د قاضي او امير هم ده.

ښكاره دې وي چي په دغه مسئله كي د امامانو د اختلاف بنياد دادى چي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد فاسق سړى د دې اهل نه دى چي هغه ته د ولايت ذمه داري وسپارل سي حال دا چي امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه وايي چي فاسق ته د ولايت حق حاصل دى د ده په نزد د فاسق پلار لپاره د خپل نابالغي انجلۍ په نكاح وركول جائز دي.

فرمانبرداري د توان سره سم

﴿۳۴۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ يَقُولُ لَنَا فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت وكړ يعني د دې عهد مو وكړ چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم احكام به موږ اورو او اطاعت به يې كوو، او رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې په جواب كي دا وفرمايل په هغه شي كي چي د هغه په تاسو كي توان وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۹۳، رقم: ۷۲۰۲، ومسلم ۳\۱۴۹۰، رقم: ۹۰- ۱۸۶۷.

تشريح: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ذكر سوي ارشاد په ذريعه صحابه كرامو ته اساني وركړه چي تاسو څومره فرمانبرداري كولاى سئ هغومره يې وكړي، او يا دغه ارشاد د دغه خبري د تاكيد او سختۍ لپاره وو چي تاسو څومره فرمانبرداري كولاى سئ په هغه كي يو ډول كوتاهي كول نه دي پكار.

د ټولني په اجتماعيت كي پر خنډ كېدو باندي وعيد

﴿۳۵۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَكَرِهَهُ فَلْيَصْبِرْ فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَيَمُوتُ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په تاسو كي چي څوك د

خپل حاكم د لوري داسي خبره ويني چي پر هغه ښه نه لګيږي نو صبر دي وکړي ځکه چي څوک د ډلي څخه يوه لوېشت بيل سو او په دې حال كي مړ سو نو د هغه مرګ به د جاهليت مرګ وي.
بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲۱، رقم: ۷۱۴۳، ومسلم ۳\۱۴۷۷، رقم: ۵۵-۱۸۴۹.

تشريح: مطلب دادى چي كوم څوک د امام او امير د اطاعت او فرمانبرداري څخه خپل ځان ازاد كړي او د مسلمانانو ډله اختيار نه كړي او د ټولو مسلمانانو د اجتماع او اتحاد پر خلاف ملا وتړي او بيا په هغه حالت كي مړ سي نو هغه د جاهليت د زمانې د خلكو په مرګ مړ سو، ددغه مشابهت بنياد دادى چي د جاهليت د زمانې خلک د دين څخه وتلي وه ځكه هغوى به نه د خپل امير او مشر اطاعت كوى او نه به يې د خپل امام هدايات منل بلكه هغوى به د هغه څخه په ښكاره د بيزارۍ اظهار كوى، همدارنګه د هغوى په نزد د ملي يووالي او اجتماعي تنظيم هيڅ بندوبست نه وو ځكه هغوى نه پر يو شي باندي اجماع او اتحاد كوى او نه پر يوه لاره باندي متفق كېدل.

ددغه حديث څخه معلومه سوه چي په اسلام كي د ملي اتحاد او د مسلمانانو پر ټينګ اجتماعي تنظيم باندي پوره باور او د هغه فرمانبرداري كول او په ملي چارو كي د اتفاق او اتحاد لوى اهميت دى بلكه دغه شيان ددين مطلوب دي او ددين د لوړې بنيادي عناصر دي.

د تعصب خلاف تنبيه

﴿۳۵۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي

مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً وَمَنْ قَاتَلَ

څوک د امام (خليفه) د اطاعت څخه ووتئ او د اسلام د ډلي څخه بيل سو او په دغه حال كي مړ سو نو د هغه مرګ به د جاهليت د مرګ په ډول وي او څوک چي

تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً فَقُتِلَ

د يو داسي بيرغ لاندي و جنګيدئ چي د هغه حق او باطل كېدل څرګند نه وي او د تعصب څخه غضبناک سو او د يو تعصب په مرسته يې خلک ځان ته راوبلل او په دې حال كي مړ سو

فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي بسيفه يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا وَلَا

نو د جاهلیت په مرګ مړ سو ، او څوک چي زما د امت خلاف توره واخلي و دریږي او د امت ښه او بد خلک يې ووژل او نه يې

يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ .

رواه مسلم

د مؤمن پروا وكړه او نه د عهد والا عهد يې پوره كړ نو هغه كس زما څخه نه دئ او نه زه د هغه څخه يم . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٤٧٦\٣، رقم: ٥٣ - ١٨٤٨.

غوره او بد حاكم

﴿٣٥٠٢﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عوف بن مالك اشجعي ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

قَالَ خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ

ستاسو په حاكمانو كي غوره هغه وي چي د هغوی سره تاسو مينه كوئ او هغوی ستاسو سره مينه كوي ، او د هغوی لپاره تاسو دعاء كوئ او هغوی ستاسو لپاره دعا كوي ،

عَلَيْهِمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ

او بد ترين حاكم هغه دئ چي تاسو د هغوی سره بغض ولرئ او هغوی ستاسو سره بغض ولري ، او تاسو پر هغوی لعنت كوئ

وَيَلْعَنُونَكُمْ قال قلنا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عند ذالك قال لَا مَا أَقَامُوا

او هغوی پر تاسو د لعنت كوي، راوي بيان دئ چي موږ (صحابه كرامو) عرض وكړ اې د الله رسوله ! ايا موږ هغه بدترين حاكمان مات نه كړو؟ او عهد چي د هغوی سره مو كړی دئ مات نه كړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :نه ، تر څو پوري چي هغوئ

فِيكُمُ الصَّلاَةَ لا ما اقاموا فيكم الصلوة الا من ولي عليه وال فراه ياتي

په تاسو کي لمونځ قائموي نه ترڅو پوري چي هغوی په تاسو کي لمونځ قائموي، خبردار! کوم سړی چي په تاسو کي حاکم جوړ سي او تاسو د هغه يو داسي کار ووينئ

شيئا من معصية الله فليكره مايأتي من معصية الله ولا ينزعن يدا من طاعة. رواه مسلم

چي د الله تعالی پر نافرماني مبني وي نو تاسو د هغه دغه عمل بد وګڼئ خو د هغه د اطاعت څخه لاس مه کاږي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴۸۲\۳، رقم: ٦٦- ۱۸۵۵.

تشريح: ترڅو چي هغه ستاسو په مينځ کي لمونځ قائموي: د دې څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي د اسلامي هيواد دامير د لمانځه پرېښودل د مسلمانانو سره د کړي عهد او وفادارۍ ماتولو سبب او د هغه د اطاعت او فرمانبردارۍ څخه د لاس اخيستلو سبب دی ، لکه څرنګه چي د هيواد امير ښکاره کفر وکړي نو مسلمانان د خپل عهد او وفادارۍ په ماتولو سره هغه معزول کولای سي او د هغه د اطاعت او فرمانبردارۍ څخه لاس اخيستلای سي همدارنګه که چيري هغه لمونځ پرېږدي نو مسلمانانو ته دا حق دی چي هغوی د خپل امير عهد او وفاداري ماته کړي او د هغه اطاعت او فرمانبردارۍ څخه انکار وکړي ځکه چي لمونځ د دين ستن ده او په کفر او ايمان کي فرق کونکی دی ، د دې پر خلاف نورو ګناوي د لمانځه د پرېښودو په ډول نه دي ځکه چي د هغو کول د عهد او وفادارۍ د ماتولو او اطاعت څخه د لاس اخيستنی سبب نه سي کيدای ، په دغه ارشاد کي پر لمانځه پرېښودو باندي سخت زجر او خبرداری دی .

د حاکم بې لاري

(۳۵۰۳): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُوْنُ

د حضرت ام سلمة ﵂ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي به

عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ تَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ فَمَنْ انكر فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ كره فَقَدْ سَلِمَ

داسي حاکم و ټاکل سي چي ښه کارونه به هم کوي او بد هم، چا چي انکار وکړ يعني د هغه د

خراب کار په نسبت د هغه په وړاندې یې وویل چې ستا دا کار د شریعت خلاف دئ نو هغه د
خپل فرض څخه خلاص سو او چا چې داسي ونه کړل یعني دومره جرئت یې ونه کړ چې په ژبه
سره یې وویل مگر په زړه سره یې د هغه کار بد وګڼئ هغه سالم پاته سو یعني د هغه په گناه کې د
گډون څخه سالم او خوندي پاته سو،

وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَا مَا صَلَّوْا أَيْ مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنْكَرَ بِقَلْبِهِ. رواه مسلم

مگر څوک چې د هغه په کار راضي سو او د هغه پیروي یې وکړه نو هغه د هغوی په گناه کې گډ
سو. صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! ایا دهغوی سره وجنگیږو؟ رسول الله ﷺ ورته
وفرمایل: یا، تر څو پوري چې هغوی لمونځ قائموي نه تر څو پوري چې هغوی لمونځ کوي
یعني هغه څوک چې بد ګڼي په زړه کې او انکار کوي په زړه کې. مسلم.

تخريج صحيح مسلم ۱۴۸۱/۳، رقم: ۶۳- ۱۸۵۴.

تشريح د روایت آخري الفاظ (کوم څوک چې په خپل زړه یې بد وګڼي او په زړه سره انکار
وکړي) په دې باره کې شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه دا لیکلي دي چې دا د راوي عبارت
دی چې د هغه په ذریعه هغه د حدیث د الفاظو (من کره فقد سلم) وضاحت کړی دی، حال دا چې
ملا علي قاري رحمة الله عليه وایي چې راوي ددغه عبارت په ذریعه د دواړو جملو (فمن انکر، او من
کره ...) وضاحت کړی دی.

د حاکم په هر وخت کې فرمانبرداري

﴿۳۵۰۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل

وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللهَ حَقَّكُمْ. متفق عليه

تاسو به زما څخه وروسته ترجیح نه گورئ او ډیري داسي خبري دي چې هغه به تاسو بد ګڼئ.
صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! هر کله چې داسي وخت راسي نو زموږ لپاره څه حکم دئ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو د هغوی حق ادا کوئ او د الله تعالى څخه خپل حق غواړئ
بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۵، رقم: ۷۰۵۲، ومسلم ۳\۱۴۷۲، رقم: ۴۵- ۱۸۴۳.

تشريح مطلب دادی چي ستاسو حاکمان ستاسو سره ترجيحي چلن کوي په دې توګه چي ستاسو حق تلف کوي نو په داسي صورت کي هم د هغوي سره ستاسو رويه بايد داسي وي چي تاسو د هغوی د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي مه کوئ يعني د هغوی اطاعت او فرمانبرداري کوئ او د هغوی مرسته کونکي اوسئ که هغوی ستاسو د حق په ادا کولو کي کوتاهي کوي نو پر هغه صبر کوئ او د الله تعالى ﷻ د دربار څخه خواست کوئ چي هغه تاسو ته ستاسو د حق نعم البدل درکړي.

(۳۵۰۵): وَعَنْ وَائِلِ ابْنِ حُجْرٍ قَالَ سَأَلَ سَلَمَةُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ رَسُولَ اللّٰهِ

د حضرت وائل بن حجر ﷺ څخه روايت دئ چي سلمه بن يزيد جعفي ﷺ د رسول الله ﷺ څخه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَسْأَلُونَا

پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله! تاسو په دې اړه څه فرمايا ست که پر موږ داسي امیران مسلط سي چي زموږ څخه

حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُونَا حَقَّنَا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ. رواه مسلم

خپل حق غواړي او زموږ د حق څخه انکار کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغوی احکام اورئ او اطاعت يې کوئ ځکه چي پر هغوی هغه خبره فرض ده چي هغوی پر خپل ذمه اخيستې ده او پر تاسو هغه شی دئ چي تاسو پورته کړی دئ. مسلم.

تخريج صحيح مسلم ۳\۱۴۷۴، رقم: ۴۹- ۱۸۵۶.

تشريح د حديث خلاصه داده چي په حاکم او رعيت کي د هر يوه ذمه داري ده او د هغه پوره کول پر هر يوه واجب دي لکه څرنګه چي د حاکم پر اوږو د عامو خلکو د حقوقو ساتنه او هغوی ته د عدل او انصاف ورکولو ذمه داري ده او هغه ذمه داري پوره کول پر هغه واجب دي

همدارنګه د رعايت پر اوږو هم د حاكم مرسته او اعانت او د هغه د اطاعت او فرمانبرداری ذمه داري ده او ددغه ذمه داری پوره کول پر رعايا باندي واجب دي نو د دواړو لپاره ضروري ده چي د خپل حد څخه تجاوز ونه کړي.

د امام د اطاعت نه کوونکي په اړه وعيد

﴿۳۵۰۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُولُ مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللّٰهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً. رواه مسلم

څوک چي د امام (خليفه) د اطاعت څخه لاس وباسي هغه به د قيامت په ورځ د الله تعالى سره په داسي حال کي يو ځای کيږي چي هيڅ دليل به د هغه لپاره نه وي او څوک چي په داسي حال کي مړ سي چي د هغه پر غاړه بيعت نه وي نو هغه د جاهليت په مرګ مړ سو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ١٤٧٨\٣، رقم: ٥٨- ١٨٥.

د خليفه په موجودتيا کي د بل خليفه اطاعت مه کوئ

﴿۳۵۰۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُو

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بني اسرائيلو ته به

إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي

انبياؤ ادب ښودئ، او کله چي به يو نبي وفات سو نو بل نبي به د هغه پر ځای راتلئ مګر زما څخه وروسته هيڅ نبي راتلونکی نه دئ

وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ. متفق عليه

البته زما څخه وروسته به زما خلفاء وي چي ډير به وي، صحابه کرامو عرض وکړ (هر کله چي

خليفه ګان ډير وي او د هغوی په منځ کي اختلافات وي نو موږ ته څه کول پکار دي) تاسو څه حکم راکوئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د لومړني خليفه پيروي کوئ (په دغه زمانه کي) او بيا د لومړني خليفه (په دويمه زمانه کي) د هغوی حق هغوی ته ورکړئ ، او الله تعالی به د هغوی د رعيت حال په خپله د هغوی څخه پوښتي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٩٥، رقم: ٣٤٥٥، ومسلم ٣\١٤٧١، رقم: ٤٤- ١٨٤٢.

تشريح: فوا ببيعة الاول فالاول : ددې مطلب دادی چي دهغه خليفه او امير بيعت پوره کړئ کوم چي مخکي تاکل سوی دی بيا د هغه خليفه او امير اطاعت کوئ کوم چي د هغه څخه وروسته تاکل سوی دی او هغه دوهم خليفه او امير ته اول د هغه امير او خليفه په نسبت ويل سوي دي کوم چي د هغه څخه وروسته تاکل کيږي، خلاصه داده چي څرنګه په ترتيب سره د يوه څخه وروسته دوهم خليفه تاکل کيږي همدارنګه تاسو هم په ترتيب سره د يوه څخه وروسته د دوهم خليفه بيعت او اطاعت کوئ مګر که چيري په يوه وخت کي دوه کسان د امارت او خلافت دعوه وکړي نو تاسو د هغه سړي بيعت او اطاعت کوئ کوم چي مخکي تاکل سوی دی او د دوهم په باره کي داسي پوه سئ چي دا سړی د حکومت او سياست په حرص کي غلطه دعوه کوي نو هغه د خپل خليفه او امير منلو څخه انکار وکړئ ، مخکي چي کوم حديث راځي د هغه څخه هم دا ثابتيږي .

اعطوهم حقهم : د هغوی حق ادا کړي، دغه جمله د اولي جملې (فوا ببيعة الاول) بدل دی او د حديث آخري الفاظ يعني (فان الله سائلهم ...) دا په اصل کي د اولي جملې علت بيانوي چي په هغه کي د خليفه او امير د حقوقو د ادا کولو حکم ورکړل سوی دی ، يعني په دغه جمله کي اختصار سوی دی او پوره مفهوم دادی چي تاسو د هغه حق ادا کوئ که څه هم هغه ستاسو د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي کوي .

د حديث په آخر کي دا خبره ښکاره سوې ده چي خليفه او امير ته د رعيت د حقوقو د ساتني او ادا کولو کومه ذمه داري چي سپارل سوې ده هغه به د قيامت په ورځ د احکم الحاکمين په دربار کي د هغه جواب ورکونکی وي ځکه په دنيا کي چي د کومو خلکو د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي سوې وي د هغه څخه به د هغه خلکو دحقوقو ادا کول کيږي او که پر هغه قادر نه سي نو په سخت عذاب کي به اخته کړل سي .

﴿٣٥٠٨﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بُويِعَ

لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا. رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د دوو خليفه ګانو بيعت کړل کيږي نو دويم خليفه مړ کړئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٣\١٤٨٠، رقم: ٦١ - ١٨٥٣.

تشريح: که داسي صورت رامنځته سي چي مخکي د ټاکل سوي خليفه او امير په موجودتيا کي يو بل څوک د خپل امارت او خلافت اعلان وکړي او د خلکو څخه بيعت اخيستل شروع کړي نو د هغه سره دي جنګ وکړل سي تر دې چي هغه پر سيده لاره راسي او د الله تعالی د حکم سره سم د مخکي ټاکل سوي خليفه او امير اطاعت قبول کړي يا په هغه حال کي ووژل سي ځکه چي هغه د الله تعالی د حکم او د اسلامي هيواد باغي دی او د باغي سزا داده که هغه د خپل بغاوت څخه منع نه سي نو هغه دي ووژل سي.

ځينو حضراتو د دغه جملې (هغه قتل کړئ) مراد دا بيان کړی دی چي کومو خلکو د هغه سره بيعت کړی دی او د هغه د اطاعت او فرمانبرداری عهد يې کړی دی او هغه خپل بيعت او عهد فسخ کړي نو هغه سړی داسي کمزوري کړئ چي هغه د خليفه پر خلاف شور ونه کړلای سي.

څوک چي په امت کي بېلتون راولي هغه ووژنئ

﴿٣٥٠٩﴾: وَعَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت عرفجة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

إِنَّهُ سَيَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ. رواه مسلم

ډير ژر به ډول ډول فساد ونه ښکاره سي، څوک چي د دې امت په اتحاد کي تفريق پيدا کوي او د امت اجتماع ماتوي د هغه غاړه په توره ووهئ که څه هم هغه هر څوک وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٣\١٤٧٩، رقم: ٥٩ - ١٨٥٢.

د لغاتو حل: هنات وهنات: اى شرور و فسادات متتابعة خارجة عن السنة والجماعة.

تشريح: ډېر ژر تخريب او فساد به ظاهر سي: د دې مطلب دا دی چي څرنګه زمانه تېريږي

همدارنګه د دين پر خلاف او د دښمن د طاقتونو فتنې به زياتيږي، هغوی به په مختلفو طريقو سره په امت کي د انتشار په پيدا کولو سره د تخريب او فساد اور تېزوي، هغوی به کوښښ کوي چي د اسلامي ملت د مينځ څخه اتحاد او اتفاق ختم کړي او د امارت او سيادت به د انسان تر ټولو لوی خواهش وي ځکه ځيني مسلمانان به د انساني کمزورۍ څخه په مجبوره کېدو سره د هغوی د فلانو ښکار سي او د امارت د غوښتني او عزت لپاره به مسلمان د مخالفو طاقتونو آله کار جوړ سي او ډول ډول فتنې به را پورته کوي چي د هغه پای به دا وي چي د عامي بد امنۍ او انتشار فضاء به پيدا سي او امت به د ډلي ډلي کېدو ښکار سي ، په داسي وخت کي مسلمانان بايد د هغه چا تر بيرغ لاندي را جمع سي کوم چي د مخکي څخه د هغوی د قيادت په مرتبه کامياب وي او په شروع کي يې د خپل مرجع اطاعت کړی وي او د هغه په قيادت کي د هر هغه طبقې او فرد فتنې له منځه يوسي کوم چي د امت په اتحاد او اتفاق کي خنډ اچوي ځکه چي په اصل کي امير او خليفه هغه سړی دی او هغه د قيادت او اطاعت وړ دی .

که هغه هر څوک وي ؟ : د دغه جملې په ذريعه دغه حقيقت ته اشاره کيږي چي د امت اتحاد د فرد پر حيثيت او شخصيت باندي مقدم دی که د امت د اتحاد او د ملت د اجتماعي حيثيت د ساتني لپاره د يو لوی سړي د لاري څخه ليري کول وي نو په هغه کي هيڅ انديښنه مه محسوس کوئ که څه هم هغه سړی لوی عالم وي او په ظاهره لوی شيخ او يا يو معزز کس وي ، بلکه تر دې باندي خيال وساتل سي که داسي سړی د امارت او سيادت دعوه وکړي چي په حقيقت کي هم د هغه منصب زيات اهل وي نو علماء کرام وايي چي د هغه قتلول هم پکار دي ځکه چي فتنه، فساد او په امت کي د تفريق پيدا کولو د سبب کېدو په وجه هغه د قتل وړ دی په شرط د دې چي کوم څوک د مخکي څخه د امارت او امامت پر منصب باندي وئ هغه د خپل منصب د ذمه دارۍ پوره کولو اهل وي او د هغه د معزول کولو يو وجه نه وي .

﴿٣٥١٠﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ . رواه مسلم

د حضرت عرفجة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي څوک چي تاسو ته راسي او حال دا وي چي تاسو ټول د يوه امير پر اطاعت متحد ياست او هغه ستاسو د اتحاد ماتولو اراده يا ستاسو جماعت متفرق کول غواړي نو تاسو هغه ووژنئ .مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۴۸۰\۱۳، رقم: ۶۰- ۱۸۵۲.

تشریح: (یشق عصاکم) په مسلمانانو کي د تفریق پیدا کولو په مفهوم کي استعمال سوی دی یعني د مسلمانانو اتفاق او اتحاد او پر یوه رایه جمع کېدل په عصا (لکړه) سره تعبیر سوی دی او په دغه اتفاق او اتحاد کي خنډ اچول په ماتولو سره مفهوم سوی دی.

او یفرق جماعتکم: او یا ستا سو په اجتماعي ډله کي تفریق پیدا کول غواړي: په ظاهره دا معلومېږي چي دلته راوي د خپل شک اظهار کړی دی چي رسول الله ﷺ یا خو اوله جمله (ان یشق عصاکم) فرمایلې ده او یا دوهمه جمله یې فرمایلې ده مګر دا هم احتمال دی چي دواړې جملې رسول الله ﷺ فرمایلي دي، په دغه صورت کي به اوله جمله په دنیاوي چارو کي یعني د مسلمانانو په سیاست طاقت کي پر انتشار پیدا کولو باندي محمول وي او دوهمه جمله به پر دیني احکامو یعني د مسلمانانو په دیني ژوند او د هغوی په مذهبي معاملاتو کي د فتنې پر خپرولو باندي محمول وي.

﴿۳۵۱۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

مَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ إِنْ اسْتَطَاعَ فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ. رواه مسلم.

څوک چي د امام بیعت وکړي او خپل لاس د هغه په لاس کي ورکولو سره قسم وکړي او زړه د هغه په بیعت راضي کړي څومره چي کیدای سي نو د هغه اطاعت دي کوي بیا که دویم امام ودریږي او د امامت دعوا وکړي نو د دویم غاړه ووهئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۴۷۲، رقم: ۴۶- ۱۸۴۴.

د حکومت او امارت غوښتونکي مه کیږئ

﴿۳۵۱۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُعطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعطِيتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا. متفق عليه.

د اميرۍ او حكومت خواهش مه كوه ځكه كه تا ته په غوښتلو سره حكومت تر لاسه سي نو ته به حكومت ته حواله كړل سي او كه پرته د غوښتلو درته تر لاسه سي نو د الله تعالى د لوري به ستا مرسته كيږي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲۳، رقم: ۷۱۴۶، ومسلم ۳\۱۴۵۶، رقم: ۱۳- ۱۶۵۲.

﴿۳۵۱۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ الْفَاطِمَةُ. رواه البخاري

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خلک به د سردارۍ او امارت حرص كوئ او ژر به پښېماني كوئ په ورځ د قيامت او دا سرداري غوره مرضعه (تى وركونكې) او بد ترينه تى پرېښودونكې ده (يعني د امارت پيل ډير ښه او انجام يې خراب وي) بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲۵، رقم: ۷۱۴۸.

تشريح د حكومت او سيادت شروع د تي وركونكي ښځي سره او ددې انتهاء د تي پرېكونكي ښځي سره تشبيه وركړل سوې ده، كله چي يو سړی ته حكومت او سيادت راځي نو هغه د تي وركونكي ښځي په ډول ډېر ښه معلوميږي او كله چي د مرګ پنجه هغه د حكومت او سيادت څخه جلا كړي يا د هغه پر ځاى بل سړی و ټاكل سي نو هغه حكومت او سيادت هغه وخت د تي څخه پرې كونكي ښځي په ډول بد معلوميږي، نو دا خبره د پوه سړي وړ نه ده چي هغه د داسي لذت تر لاسه كولو خواهش او هڅه وكړي چي د هغه پاى حسرت او غم دی.

﴿۳۵۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ قَالَ فَضَرَبَ

د حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! ایا تاسو ما د یو ځای عامل (حاکم) نه ټاکئ ؟ رسول الله ﷺ زه پر اوږه وټکولم

بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او وه یې فرمایل : اې ابوذره ! ته کمزوری یې او امارت او سرداري لوی دروند امانت دئ او بیا دا سرداري د قیامت په ورځ

خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا وفي رواية قال

د ذلت او رسوائي موجب ده ، البته څوک چي د حق سره ملګری سو او هغه حق چي د امارت په لړ کي پر هغه واجب دئ هغه ادا کړ د هغه لپاره ذلت او رسوائي نسته او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

له أَبَا ذَرٍّ إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ . رواه مسلم

اې ابوذره ! زه تا کمزوری وینم ، زه ستا لپاره هغه شی خوښوم کوم چي د ځان لپاره خوښوم ، ته د دوو کسانو هم امیر او حاکم مه جوړیږه او مه د یتیم د مال سرپرستي پر خپل غاړه اخله . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۳\۱۴۵۷، رقم: ۱۶- ۱۸۲۵.

تشريح : څه چي زه د خپل ځان لپاره خوښوم : ددې مطلب دادی که زه ستا په ډول ضعیف او کمزوری وای نو ما به ددغه سرداری او حاکمیت بار نه پورته کولای مګر الله تعالی ما ته قوت هم راکړی دی او تحمل یې هم راکړی دی که د الله تعالی له خوا ما ته تحمل نه وای راکړل سوی نو ما به هیڅکله دغه بار نه پورته کولای .

امام نووي رحمة الله علیه وایي چي د حکومت او مشرتوب څخه د پرهیز کولو په باره کي دغه حدیث عظیم اصل او تر ټولو لوی لاربنود دی په خاصه توګه د هغه سړي لپاره چي هغه د مشرتوب د پوره کولو قوت نه لري .

څوک چي خپله یو منصب وغواړي نو هغه ته منصب مه ورکوئ

﴿۳۵۱۵﴾ : وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَرَجُلَانِ

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه او زما د اکا دوه زامن د نبي کريم ﷺ په خدمت

مِنْ بَنِي عَمِّي فَقَالَ أَحَدُهُمَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمِّرْنَا عَلَى بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللّٰهُ عَزَّ

کي حاضر سو ، په هغو کي يوه وويل اې دالله رسوله ! تاسو الله جل جلاله حاکم او والي جوړ کړی

وَجَلَّ وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّا وَاللّٰهِ لَا نُوَلِّي عَلَى هٰذَا الْعَمَلِ أَحَدًا

ياست ما هم د ځيني کارو يا ځايو والي و ټاکئ، دويم هم دا ډول غوښتنه ښکاره کړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : قسم په الله موږ د دين او شريعت د کارو هغه کس والي نه ټاکو چي

سَأَلَهُ وَلَا أَحَدًا حَرَصَ عَلَيْهِ . وفي رواية قَالَ لَا نَسْتَعْمِلُ عَلٰى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ. متفق عليه

زموږ څخه د ولايت غوښتونکی وي او نه هغه سړی کوم چي ددې حرص لري ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي موږ پر خپل کار هغه سړی عامل نه ټاکو څوک چي ددې اراده لري . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢٥\١٣، رقم: ٧١٤٩، ومسلم ١٤٥٦\٣، رقم: ١٤ - ١٧٣٣.

تشريح: د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي کوم څوک به د يو خدمت او ذمه دارۍ غوښتونکی وو او رسول الله ﷺ ته به يې خواست کوی نو هغه سړی به يې پر هغه کار نه ټاکی ځکه چي د يو منصب غوښتنه کول د منصب پر محبت باندي دلالت کوي چي د غوښتونکی په باره کي د خرابۍ باعث دی .

د حکومت څخه انکار کونکی غوره انسان دی

﴿٣٥١٦﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ أَشَدَّهُمْ كَرَاهِيَةً لِهٰذَا الْأَمْرِ حَتّٰى يَقَعَ فِيهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو به هغه خلک غوره تر لاسه کړئ چي امارت او حکومت ډير زيات بد ګڼي، تر څو پوري چي هغوی په دې کي اخته نه وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٦٠٤، رقم: ٣٥٨٨، ومسلم ١٤\ ١٩٥٨، رقم: ١٩٩- ٢٥٢٦.

تشريح: مطلب دا دی چي کوم څوک د حکومت او مشرتوب منصب قبلول ناخوښه کړي نو هغه په خلکو کي غوره سړی وګڼئ تر دې که چيري هغه په يو وجه دا منصب قبول کړي نو هغه ته هم پښيماني وي کوم چي د دغه منصب آخري پای دی.

علامه طيبي رحمه الله دا مطلب بيان کړی دی چي داسي سړی چي د حکومت او مشرتوب څخه سخت متنفر وي هغه به په تاسو کي غوره سړی وي تر دې که چيري هغه پر خپل دغه نفرت باندي قائم پاته سي او د حکومت او مشرتوب په غوښتنه کي کامياب سي نو هغه وخت به هغه په خلکو کي غوره سړی نه وي بلکه بد سړی به وي.

د قيامت په ورځ به هر يو د خپلي ذمه داری- جواب ورکوي

﴿۳۵۱۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ

خبردار! په تاسو کي هر سړی راعي (ساتونکی) دئ او د هر سړي څخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه کيږي نو کوم څوک چي د ځو مره خلکو حاکم دئ

مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

د هغو مره خلکو په اړه به جواب ورکونکي وي، او سړی د خپل اهل بيتو راعي دئ او د هغه څخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه کيږي

وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى أَهْلِ بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَعَبْدُ

او ښځه د خپل خاوند د کور او د هغه د کوچنيانو ساتونکې ده د هغې څخه به په دې اړه پوښتنه کيږي او غلام

الرَّجُلِ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ

عَنْ رَعِيَّتِهِ. متفق عليه

د خپل بادار د مال ساتونکی دئ او د هغه څخه به په دې اړه پوښتنه کيږي ، خبردار! په تاسو کې هر څوک راعي (ساتونکی) دئ او د هر ساتونکي څخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه کيږي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\ ١١١، رقم: ٧١٣٨، ومسلم ٣\ ١٤٥٩، رقم: ٢٠- ١٨٢٩.

تشريح: رعيت هغه شي ته وايي چې د ساتونکي په ساتنه او څارنه کې وي ، د يو هيواد او سيدونکو ته د هغه هيواد رعيت او رعايا ځکه ويل کيږي چې هغوی ټول د حکمران په ساتنه او نګرانۍ کې وي او په دې اعتبار سره په حديث کې فرمايل سوي دي چې پر خپل خپل ځای باندې هر سړی ساتونکی دی ، د سړي لپاره کوروالا د هغه رعيت دی، د ښځې لپاره د خاوند کور او د هغه کوچنيان رعيت دی او د غلام د مالک مال د هغه رعيت دی تر دې چې علماء ليکلي دي چې هر سړی د خپل بدن د اندامو ساتونکی دی او هغه اندامونه د هغه رعيت دی نو د قيامت په ورځ به د هر سړي څخه د هغه د اندامو د حواسو په باره کې پوښتنه کيږي چې تا دغه اندامونه چيري او څرنګه استعمال کړل او دا په حديث کې ددې لپاره نقل سوي نه دي چې دا بالکل ښکاره خبره ده .

د خائن او ظالم حاکم په اړه وعيد

﴿٣٥١٨﴾: وَعَنْ مُعْقَلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مِنْ وَالٍ يَلِي رَعِيَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لَهُمْ إِلَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ . متفق عليه.

د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا اوريدلي دي چې کوم حاکم د مسلمانانو سرداري په خپل لاس کې واخلي او خيانت کونکی او ظالم مړ سي نو الله تعالی به جنت پر حرام کړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\ ١٢٧، رقم: ٧١٥١، ومسلم ٣\ ١٤٦٠، رقم: ٢٢- ١٤٢.

تشريح: د جنت حرام کېدو مطلب دادی چې هغه به د خلاصون تر لاسه کونکو خلکو سره په شروع کې په جنت کې د داخلېدو څخه محروم کړل سي ، او يا دغه ارشاد پر هغه حاکم محمول دی چې د خيانت او ظلم په حلال ګڼلو سره ظالم او خائن سوی وي ، او يا رسول الله صلی الله علیه وسلم د زجر او

سخت وعید په توګه دا فرمایلي دي.

پر خائن امیر باندي د جنت بوی حرام دی

﴿۳۵۱۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللّٰهُ رَعِيَّةً فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ . متفق علیه

د حضرت معقل بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي کوم بنده ته چي الله تعالی د رعیت ساتنه و سپاري او هغه په ښه توګه او خیر سره د هغوی ساتنه ونه کړي نو پر هغه به د جنت بوی هم ونه لګیږي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲٦، رقم: ۷۱۵۰، ومسلم ۳\۱۴٦۰، رقم: ۲۱- ۱۴۲.

د لغاتو حل: فلم يحُطها: اى فلم يراعها: (ساتنه يې ونه کړي)

تشریح: نو هغه به د جنت بوی هم ونهویني: ددې مطلب دادی چي هغه به د قیامت په ورځ د جنت بوی هم تر لاسه نه کړي حال دا چي د جنت بوی د پنځه سوه کاله فاصلې څخه هم رائحي، یا دا مطلب دی چي هغه به د خلاصون تر لاسه کونکو خلکو سره د جنت بوی ونه ویني یا دا که چیري هغه کافر مړ سي یا پر رعیت باندي ظلم کول حلال وګڼي او پر دغه عقیده باندي مړ سي نو هغه ته به مطلق د جنت بوی هم حاصل نه سي.

بدترین حاکم

﴿۳۵۲۰﴾: وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ . رواه مسلم.

د حضرت عائذ بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په حاکمانو کي بدترین حاکم هغه دئ چي ظالم وي. مسلم.

تخریج: صحيح مسلم ۳\۱۴٦۱، رقم: ۲۳- ۱۸۳۰.

سخت او نرم حاکم

﴿۳۵۲۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ مَنْ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله! څوک چي

وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ. رواه مسلم

زما د امت د يو کار والي او متصرف جوړ کړل سوی وي او هغه زما پر امت مصيبت او سختي راولي نو ته هم پر هغه مصيبت او سختي راولې، او څوک چي زما د امت سره رحم او نرمي وکړي نو ته هم د هغه سره رحم او نرمي وکړې. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۵۸، رقم: ۱۹- ۱۸۲۸.

د عادل حاکم مرتبه

﴿۳۵۲۲﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللّٰهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمٰنِ

عادل او منصف حاکم به د الله تعالی سره پر راسته لوري د نور پر منبر وي،

عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا.

رواه مسلم

او د الله تعالی لاسونه راسته دي ، هو هغه عادلان حاکمان چي په خپلو احکامو کي، په خپله کورنۍ کي ، په خپل ولايت او حکومت کي عدل کوي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۵۸، رقم: ۱۸- ۱۸۲۷.

تشريح د راسته لاس خوا ته ....: دا د الله جل جلاله په نزد د عادل حکمران د مرتبې د عظمت په کنايه سره د بيان طريقه ده ځکه چي کوم سړی عظيم القدر وي هغه راسته خوا ته دريږي يا کښيني.

او د الله جل جلاله دواړه لاسونه راسته دي : دا د توهم د رفع کولو لپاره فرمايل سوي دي چي څوک دا ونه ګڼي چي راسته لاس د چپه لاس په مقابل کي ويل سوی دی لکه څرنګه چي چپه لاس په نسبت د راسته لاس کمزوری وي او څرګنده ده چي الله تعالی د هر ډول کمزورۍ څخه پاک دی نو واضحه دي وي چي الله تعالی ته د لاس نسبت د متشابهاتو څخه دی چي ددې په

مراد الله تعالى ښه پوهيږي بيا هم په ظاهري توګه د لاس څخه مراد قوت او غلبه ده.

په احکامو کي د عدل او انصاف مطلب دادئ چي د حکومت او امارت تعلق سره د هغوی پر ذمه چي کومي چاري وي د هغه په سرته رسولو کي هغوی د انصاف، ايمان دارۍ او ديانت لحاظ ساتي په اهل کي د عدل او انصاف مطلب دادئ چي د هغوی تر روزني لاندي کوم خلک وي که هغه دده کورنۍ وي يا د رعيت عام خلک وي د ټولو سره د هغوی د حقوقو په ادا کولو کي چي پر هغوی واجب دي پوره انصاف کوي.

همدارنګه په خپل معاملاتو کي د عدل او انصاف مطلب دادی چي کوم شيان د هغه په ځارنه کي وي لکه يتيم، د غريبانو روزنه او د وقف مال او داسي نور نو په دې کي هغه پوره ديانت دارۍ او انصاف سره خپل فرض سرته رسوي.

د يو بزرګ قول دی چي انسان بايد د خپل نفس په باره کي هم عدل او انصاف وکړي په دې توګه چي خپل وختونه په داسي شيانو کي ضائع نه کړي چي په هغه کي د خپل وخت په مصرف کولو کي الله تعالى حکم نه دی کړی بلکه خپل ټول وختونه د الله تعالى د رضا او خوښۍ په شيانو کي او د مخلوق د حقوقو په ادا کولو کي بوخت وساتي او د الله تعالى د احکامو پر فرمانبردارۍ او د منع شيانو څخه پرهيز کولو باندي هميشتوب اختيار کړي لکه څرنګه چي د اولياء کرامو طريقه ده، او ياد خپل وخت زياته برخه په هغه شيانو کي بوخت وساتي لکه څرنګه چي د مؤمنانو او صالحانو معمول دئ.

د هر حاکم او امير سره هميشه دوه متضاد طاقتونه وي

﴿۳۵۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَعَثَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى چي کوم

اللّٰهُ مِنْ نَبِيٍّ وَّ لَا اسْتَخْلَفَ خَلِيفَةً إِلَّا كَانَتْ لَه بِطَانَتَانِ بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوْفِ

نبي رالیږلي او کوم خليفه ټاکي نو د هغه دوه ملګري وي مخفي (پټ) يو ملګری وي چي هغوی

وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَالْمَعْصُومُ مَنْ عَصَمَ اللّٰهُ. رواه البخاري

ته د نيکي امر کوي او د نيکو کارونو حکم ورکوي او بل ملګری د بدۍ حکم ورکوي او د بدۍ

په لوړ امر ورته کوي او معصوم هغه دئ چي الله تعالی یې د ګناهونو څخه وژغوري. بخاري.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۸۹، رقم: ۷۱۸۹.

تشریح: د دوو پټو ملګرو څخه مراد ملائکه او شیطان دی، دغه دواړه د انسان په باطن کي وي، ملائکه د نیکو کارو هدایت ورته کوي او د نیکۍ ترغیب ورکوي او شیطان یې بدو کارو ته اړباسي او بدۍ ته یې امر کوي.

او معصوم هغه دی ....: ددغه جملې په ذريعه د انبياء عليهم السلام، خلفاء راشدين او ځینو نورو خلیفه ګانو او امیرانو حال بیان سوی دی چي الله تعالی هغوی د شیطان د شر او فتنې څخه خوندي ساتي.

د دوو ملګرو څخه مراد وزیر او مشاور هم کیدای سي چي د خلیفه او امیر سره هر وخت د اوسیدو په وجه د بطانه سره مشابهت ورکړل سوی دی لکه څرنګه چي د هر نبي او خلیفه سره د مشاور اوسیدل په هغوی کي د دوو مختلفو خیالاتو حامل هم وو یا د هغوی سره دوې ډلي وې چي په خپلو کي به مختلفي رایې درلودې لکه څرنګه چي په عامه توګه د امیرانو او پاچاهانو سره لیدل کیږي چي کوم خلک د هغوی مصاحب او مشاور وي د هغوی خیالات او رایه بعد المشرقین وي په هغوی کي چي کوم خلک د ښه خیالاتو د رایې خاوند وي هغوی خپل والي او امیر ته ښه مشورې ورکوي او د کومو خیالات چي فاسد وي یا د هغوی په طبیعت کي د بدۍ ماده وي نو هغوی خپل والي او امیر ته غلطي مشورې ورکوي او هغوی د بدۍ پر لار بیول غواړي، د الله تعالی حکمت دی چي هغه کوم څوک والي او امیر جوړول غواړي نو هغوی د خرابو مصاحبینو او مشاورینو څخه ساتي.

د حضرت قیس بن سعد رضي الله عنه منصب

﴿۳۵۲۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْزِلَةِ صَاحِبِ الشُّرَطِ مِنَ الْأَمِيرِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي قیس بن سعد د نبي کریم ﷺ سره د کوتوال په ډول وو (شرطي هغه کس ته ویل کیږي چي د حاکم په مخ کي ولاړ وي چي تنفیذ د احکامو او د اوامرو د حاکم کوي). بخاري.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۳۳، رقم: ۷۱۵۵.

تشريح مطلب دادئ چي قيس ابن سعد رضي الله عنه به د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر وو چي رسول الله ﷺ كوم احكام وركړي هغه نافذ او جاري كړي لكه څرنګه چي د اميرانو او پاچاهانو سره رئيسانو پر دغه خدمت ټاكلي وي.

د ښځي حاكم جوړونكى قوم هيڅكله كاميابي نسي تر لاسه كولاى

﴿٣٥٢٥﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً. رواه البخاري.

د حضرت ابوبكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسيدل چي فارسيانو د كسرى لور خپله حاكمه جوړه كړې ده نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه قوم هيڅكله خلاصون نسي تر لاسه كولاى چي هغوى واكداره كړي ښځه پر خپل كار. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢٦/٨، رقم: ٤٤٢٥.

تشريح د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د ولايت او حكراني اهل سړى كيداى سي ښځه د حكمراني او مشرتوب وړ نه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ټولني څخه بېلوالي

﴿٣٥٢٦﴾: عَنِ الْحَارِثِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حارث اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ

زه تاسو ته د پنځو خبرو حكم دركوم: د جماعت پيروي، د حاكم د احكامو قبلولو او اطاعت كولو، د هجرت، د الله جل جلاله په لار كي د جهاد،

اللّٰهِ وَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ

ځوک چې د جماعت څخه يو ه لوېشت هم بېل سو نو هغه د اسلام د رسۍ څخه غاړه و کښل خو دا

عُنُقِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ. رواه احمد والترمذي

چې هغه بيا راستون سي او په جماعت کي شامل سئ او چا چي خلک د جاهليت د رسمونو او طريقو په لور راوبلل هغه د دوږخيانو د ډلي څخه دئ که څه هم هغه روژه نيسي او لمونځ کوي او دا خيال کوي چي هغه مسلمان دئ. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ١٣٠١٤، والترمذي ١٣٦١٥ – ١٣٧، رقم: ٢٨٦٣.

د لغاتو حل: جُثى: جمع جثوة وهي الحجارة المجموعة.

تشريح: هجرت کوئ: په دغه حکم کي د هجرت څخه مراد دادی چي په دارالکفر کي اوسيدونکي مسلمانان د خپل هيواد په پرېښودو سره دارالاسلام ته ولاړ سي يا يو داسي مسلمان هيواد کي وي چي هلته د بدعت او منهياتو په وجه د دارالبدعة په حکم کي وي نو د هغه په پرېښودو سره داسي هيواد يا ښار ته دي ولاړ سي چي هلته د سنت او ديني مرکز کېدو په وجه د دارالسنة په حکم کي وي، همدارنګه د ګناه او معصيت د ژوند د پرېښودو سره د توبې او پښېمانۍ لاره اختيارول هم د هجرت په حکم کي دی ځکه چي د رسول الله ﷺ قول دی:

(المهاجر من هجر ما نهى الله عنه). مهاجر هغه ځوک دی چي هغه شيان پرېږدي کوم چي الله تعالى منع کړي دي.

د الله جل جلاله په لار کي جهاد کوئ: په دغه حکم کي د جهاد څخه مراد دادی چي د اسلام د پرمختګ، د دين د لوړوالي او د الهي قانون د غلبې لپاره د اسلام د دښمنانو او کافرانو سره جنګ کوئ او خپل نفس د هغه د خواهشاتو څخه د منع کولو سره د هغه وژل هم جهاد دی ځکه چي د انسان سره د هغه د نفس د دښمنۍ څخه زيات سخت او تاوان رسونکی بل هيڅ شی نه سته.

کوم ځوک چي د ملي اجتماعيت څخه يو ه لوېشت هم جلا سي ... الخ: يعني کوم مسلمان چي هغه شی پرېښودی پر کوم چي ټول ملت عمل کونکی دی لکه سنت اختيارول، د بدعت څخه پرهيز کول. د امام اطاعت او فرمانبرداري کول که څه هم هغه دغه شيان په ډېره معمولي درجه کي ترک کړي وي نو هغه د اسلام د فرمانبرداری په پټه د خپل غاړي څخه وايستل يعني هغه د اسلام سره خپل کړی عهد مات کړ او خپل هغه ذمه داري يې ختمه کړه کوم چي د مسلمان کېدو

په حيثيت سره پر هغه واجب وه يا دا چي خپله اسلام د هغه څخه بري الذمه سو مګر که چيري هغه د خپل دغه فعل څخه منع سو او هغه د خپل بد عملۍ څخه رجوع وکړه نو بيا هغه به د مخکي په ډول د اسلام يو فرمانبردار کس وي.

او کوم څوک چي د جاهليت په ډول عمل وکړي ....: ددې څخه مراد دادی چي کوم څوک د جاهليت د زمانې رواج ته بلنه وکړي او همدارنګه هغه مخلوق د اسلام مخالفو عقائدو او نظرياتو او باطلو رواجو او عاداتو کي د اخته کولو باعث سي او ځيني حضرات دا مراد اخلي چي هغه د يو پيښي او حملې پر وخت داسي خلک د خپل مرستي لپاره راوبلي لکه څرنګه چي د جاهليت په زمانه کي رواج وو چي کله به پر يو سړي باندي دښمن غالب سو نو د خپل مرستي لپاره به يې خلکو ته په لوړ آواز داسي فرياد کوي چي اې د فلاني سړي کورنۍ! اې د فلاني سړي کورنۍ! نو خلک به د هغه د مرستي لپاره ور وځغاستل قطع نظر ددې څخه چي هغه سړی ظالم دی يا مظلوم دئ.

د امير او والي اهانت

﴿۳۵۲۷﴾: وَعَنْ زِيَادِ بْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ تَحْتَ مِنْبَرِ

د حضرت زياد بن کسيب عدوي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ابن عامر خطبه ويل زه د منبر لاندي د

ابْنِ عَامِرٍ وَهُوَ يَخْطُبُ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا

ابوبکرة سره ناست وم، او د هغه پر بدن نرۍ جامې وې، ابوبلال وويل زموږ دې امير ته وګورئ

يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ اسْكُتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

چي د فاسقانو په ډول جامې يې اغوستي دي، ابوبکره وويل: پټه خوله سه، ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم

وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللَّهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

څخه دا اوريدلي دي څوک چي د هغه پاچا سپکاوی کوي کوم چي الله جل جلاله پر مځکه (خليفه) ټاکلی دئ نو الله تعالى به د هغه سپکاوی وکړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج سنن الترمذي ۴۳۵/۱۴، رقم: ۲۲۲۴.

تشریح دہ د فاسقانو پہ ډول جامې اغوستي دي : پہ ښکارہ خو دا معلومیږي چي هغه وخت ابن عامر ﷺ داسي جامې اغوستي وې چي د هغه اغوستل د نارینوو لپارہ حرامي وې لکه حریر یا د ریښمو جامې .

ابوبکرہ حضرت ابوبلال ﷺ ددې څخه منع کړ چي ابن عامر ﷺ ته دي پېغور نه ورکوي نو ددې بنیاد دا وو چي پہ داسي وخت کي د ابوبلال ﷺ نصیحت د رسوایي او پہ مسلمانانو د فتنې او فساد پیدا کېدو سبب نه سي .

دا احتمال هم دی چي د هغه جامې ریښمني نه وې بلکه ډېر لوړي او ډېري نازکي وې چي پہ عامه توګه سرہ د عیش کونکو او تنعم جامې وې او زاهد او عابد خلک د هغه څخه پرهیز کوي ځکه ابوبلال ﷺ هغه جامو ته د فاسقانو د جامو سرہ تشبیه ورکړل، ځیني عارفانو ویلي دي چي من رق ثوبه رق دینه : کوم څوک چي ډېري نازکي جامې واغوندي نو هغه خپل دین نازک کړ .

که حاکم د ګناه حکم وکړي نو د هغه اطاعت مه کوئ

﴿٣٥٢٨﴾: وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت نواس بن سمعان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پہ کوم امر کي چي د خالق د حکم خلاف ورزي وي پہ هغه کي د مخلوق اطاعت صحیح نه دئ . شرح السنة

تخريج الامام البغوي في شرح السنة ١٠\٤٤، رقم: ٢٤٥٥.

تشریح مطلب دادئ چي یو انسان که هغه امیر او حاکم وي یو داسي حکم ورکړي چي پہ هغه عمل کولو سرہ د خالق نافرماني کیږي او ګناه لازمیږي نو هغه حکم مطلق منل نه دي پکار مګر که یو سړی د هغه پر اطاعت پہ زورہ مجبور کړل سي نو پہ دغه صورت کي ګناه نه سته .

د حاکم انجام

﴿٣٥٢٩﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي

أَمِيْرِ عَشَرَةٍ إِلَّا يُؤْتٰى بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَغْلُوْلًا حَتّٰى يَفُكَّ عَنْهُ الْعَدْلُ أَوْ يُوْبِقَهُ

الْجَوْرُ. رواه الدارمي

د لسو كسانو حاكم وي هغه به د قيامت په ورځ په داسي حال كي راوستل سي چي د هغه په غاړه كي به طوق وي، ددې طوق ځخه به د هغه غاړه د هغه عدل سپكه كړي او يا به د هغه ظلم هغه هلاک کړي. دارمي.

تخريج سنن الدارمي ٢\ ٣١٣، رقم: ٢٥١٥.

تشريح مطلب دادئ چي يو وار خو به هر حاكم كه هغه عادل وي يا ظالم وي د الله تعالى په دربار كي تړلى راوستل كيږي او بيا د پلټني ځخه وروسته كه هغه عادل ثابت سي نو هغه ته به خلاصون ورپه برخه سي او كه ظالم ثابت سي نو هلاكت يعني په عذاب كي به اخته كړل سي.

د قيامت په ورځ د اميرانو او حاكمانو افسوس

﴿٣٥٣٠﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِلْأُمَرَاءِ وَيْلٌ

د حضرت ابو هريرة ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: افسوس دئ پر اميرانو او

لِلْعُرَفَاءِ وَيْلٌ لِلْأُمَنَاءِ لَيَتَمَنَّيَنَّ أَقْوَامٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّ نَوَاصِيَهُمْ مُعَلَّقَةٌ

حاكمانو باندي، افسوس دئ پر سردارانو او ملكانو باندي، افسوس دئ پر امينانو باندي، ډير خلك به د قيامت په ورځ ددې غوښتنه كوي چي د هغوى د تندي وربښتان

بِالثُّرَيَّا يَتَجَلْجَلُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَأَنَّهُمْ لَمْ يَلُوْا عَمَلاً. رواه في شرح

د ثريا سره تړلي واى او هغوى د آسمان او مځكي په منځ كي ځال وهلاى مگر هغوى د هيڅ عمل واكداره نه دي. شرح

السنة ورواه أحمد وفي روايته أَنَّ ذَوَائِبَهُمْ كَانَتْ مُعَلَّقَةً بِالثُّرَيَّا يَتَذَبْذَبُوْنَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَكُوْنُوْا عَمِلُوْا عَلَى شَيْءٍ.

السنة. او د احمد په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د هغوى كوڅۍ به لوړ له ثريا (پيرونو) سره زړيدلي وي او هغوى به د آسمان او مځكي په منځ كي زړيدلي وي او په هيڅ شي به عاملان سوي نه وي.

تخريج البغوي في شرح السنة ٥٩\١٠، رقم: ٢٤٦٨. والامام احمد في مسنده ٢\٣٥٢.

د لغاتو حل العُرفاء: جمع عريف، وهو القيم بامر القبيلة ومحلة يلي امرهم.

تشريح د وَيل معنى ده هغه غم، هلاکت او تکليف چي د عذاب په وجه وي، ځيني حضرات وايي چي ويل د دوږخ د يو کندي نوم دی، نقل سوي دي چي ويل د دوږخ يو کنده ده چي په هغه کي کافران تر څلوېښت کالو پوري لوېږي مګر پای ته به يې نه رسيږي.

امين هغه کارکونکي ته ويل کيږي چي حاکم هغه د صدقاتو، خراج او محصول پر اخيستلو باندي ټاکلی وي يا هغه د مسلمانانو د مال او سامان ساتونکی وي، او يا د حاکم څخه پرته يو بل سړی هغه د خپل مال امانتدار جوړ کړی وي.

ثريا د هغه پنځه ستورو نوم دی کوم چي نژدې نژدې دي او په هغه کي رڼا کمه وي. د تندي وېښتان په ثريا کي په تړلو سره زړول دا په اصل کي د ذلت او خوارۍ مثال دي، ددې مطلب دادئ چي کله اميران او حاکمان د قيامت په ورځ دا ويني چي په دنيا کي موږ ته پر خلکو باندي کوم غوره والی، حاکميت شان او عزت حاصل وو نن د هغه په بدله کي موږ ته دلته د ذلت او خوارۍ سزا راکول کيږي نو هغوی به خواهش کوي چي کاش موږ ته په دنيا کي پر خلکو باندي غوره والی، حاکميت او عزت حاصل نه وای بلکه د هغه په مقابله کي ذلت او خواري راته حاصله وای چي ددغه ځای د ذلت او خوارۍ څخه به ډېره کمه وای تر دې چي زموږ د سرو وېښتان په يو لوړ شي سره په تړلو سره موږ معلق کړي وای او خلکو زموږ د عزت، رياست او رفعت پر ځای هغه ذلت او کمتري ليدلې وای.

د حديث مقصد دا نصيحت کول دي که يو سړي ته يو ذمه داري وسپارل سي يا هغه د يو ځای يا د خلکو امير او والي جوړ کړل سي نو هغه دي عدل او انصاف کوي چي د عادل او انصاف کونکي امير او حاکم په حق کي ډېري زيات زيري دي چي نه د چا سره د ظلم معامله وکړي او نه د چا حلق تلف کړي چي د ظالم او حق تلف کونکي به دا حشر وي کوم چي په حديث کي ذکر سو. پر اميرانو، ملکان او امينانو باندي د افسوس د اظهار کولو وجه داده چي ذمه داري او منصب يې په عامه توګه په لغزش کي اخته کوي او باطل ته يې مائل کوي او د هغوی د چارو په سرته رسولو کي پر عدل او انصاف باندي د محکم او سيدو غوښتنه کمه پوره کيږي مګر چا ته چي د الله تعالی د ساتني مرسته او نيک توفيق حاصل وي نو هغوی خپل منصب او ذمه داري د شرطونو سره سم پوره کوي.

اكثره ملكان دوږخ ته ځي

﴿٣٥٣١﴾: وَعَنْ غَالِبِ الْقَطَّانِ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعِرَافَةَ حَقٌّ وَلَا بُدَّ لِلنَّاسِ مِنَ الْعُرَفَاءِ وَلٰكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ. رواه ابوداؤد.

حضرت غالب قطان رحمه الله د يو سړي څخه او هغه د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ملکي حق دئ او د خلکو لپاره د ملک کېدل ضروري دي مګر اکثر ملکان به په اور کې وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٤٦، رقم: ٢٩٣٤.

تشريح: ملکي يو حقيقت دی: ددې مطلب دادئ چې د خلکو د چارو د ساتنې لپاره ملک کېدل يو واقعي امر دی او هغوی ته د خلکو احتياط دی مګر دا هم حقيقت دی چې اکثر ملکان به په دوږخ کې وي ځکه چې هغوی په خپل ملکي کې د حق او انصاف څخه کار نه اخلي او د عدل او ايمانداری د تقاضو لحاظ نه ساتي، په دې اعتبار سره ملکي قبلول د هلاکت او سخت عذاب خطره په بيع اخيستل دي نو عاقل او پوه سړی بايد په دې باره کې هوښيار وي او ددغه منصب د قبلولو څخه تر خپله وسه پورې ځان وساتي تر څو په داسې فتنه کې اخته نه سي چې هغه يې د دوږخ د اور وړ وګرځوي.

د احمق حاکم څخه پناه غوارئ

﴿٣٥٣٢﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ إِلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل:

أُعِيذُكَ بِاللّٰهِ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ قَالَ وَمَا ذَاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ أُمَرَاءُ

زه دعا کوم چې الله تعالى تا ته د بې عقلو خلکو سرداري در نه کړي، حضرت کعب عرض وکړ اې دالله رسوله! دا سرداري به کله وي، څنګه به وي او هغه به کوم خلک وي؟

سَيَكُوْنُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَصَدَّقَهُمْ بِكِذْبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلٰى

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا اميران او حاكمان به زما څخه وروسته وي ، څوک چي هغوی ته ورغلی د هغوی د درواغو تصديق يې وکړی او د هغوی په ظلم کي يې د هغوی سره مرسته

ظُلْمِهِمْ فَلَيْسُوا مِنِّيْ وَلَسْتُ مِنْهُمْ وَلَنْ يَّرِدُوْا عَلَي الْحَوْضِ وَمَنْ لَّمْ يَدْخُلْ

وکړل ، هغوی زما څخه نه دي او نه زه د هغوی سره څه تعلق لرم، هغوی به زما حوض کوثر ته نه

عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكِذْبِهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلٰى ظُلْمِهِمْ فَأُوْلٰئِكَ مِنِّيْ وَأَنَا

مِنْهُمْ وَأُوْلٰئِكَ يَرِدُوْنَ عَلَي الْحَوْضِ . رواه الترمذي والنسائي

رانسي ، څوک چي هغوی ته ورنسي د هغوی د درواغو تصديق ونه کړي او د هغوی په ظلم کي د هغوی مرسته ونه کړي هغه زما څخه دي او زه د هغو څخه يم او دا خلک به پر حوض کوثر ما ته راځي . ترمذي او نسائي .

تخريج: سنن الترمذي ٢\٥١٢، رقم: ٦١٤، والنسائي ٧\١٦٠، رقم: ٤٢٠٧.

تشريح: او نه به هغه خلک زما حوض ته راځي: دلته د حوض څخه مراد يا خو حوض کوثر دی چي هغه خلکو ته به د حوض کوثر د راتلو اجازه نه وي او يا جنت مراد دی چي هغه خلک به په جنت کي ما ته د راتلو لپاره نه پريږدي، دغه ارشاد دا خبره د سخت وعيد په توګه واضحه کوي که يو سړی د داسي حکومت او نظام کنيت اختيار کړي يا د هغه مرسته او حمايت وکړي چي د هغه اختيار کم ظرفه او بې عقلو خلکو په لاس کي وي او د هغه په وجه د الله تعالی پر بندګانو باندي د ظلم چلن کيږي نو دا ددې علامه ده چي په هغه سړي کي د ايمان نيستوالي دی او هغه سړی د مسلمان ويلو وړ نه دی .

د حاکمانو ناسته ولاړه د تباهۍ سبب دی

(٣٥٢٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَكَنَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي اوسي

الْبَادِيَةَ جَفَا وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ وَمَنْ اَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ . رواه أحمد

په ځنګل کي بې عقل او جاهل وي او څوک چي په ښکار پسي ګرځي غافل وي او څوک چي پاچا ته ځي راځي په فتنه کي لويدلی وي . احمد .

والترمذي والنسائي وفي رواية أبي داود مَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ افْتُتِنَ وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنَ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلاَّ ازْدَادَ مِنَ اللهِ بُعْدًا .

ترمذي، نسائي او د ابوداؤد په يوه روايت كي د االفاظ دي چي څوک د پاچا سره حاضر باش وي په فتنه كي اخته وي او څوک چي د پاچا سره قربت لټوي هغه د الله تعالى څخه ليري وي .

تخريج مسند الامام احمد ١١\٣٥٧، رقم: ٢٢٥٦، والنسائي ١٧\١٩٥، رقم: ٤٣٠٩، وابوداؤد ١٣\٢٧٨، رقم: ٢٨٥٩.

تشريح كوم څوک چي په ځنګل كي اوسيږي....: ددې څخه د صحراء د او سيدونكو سپكاوى مراد نه دى او نه د هغوى كموالي مقصد دى بلكه دا واضحه كوي چي د صحراوو او كليو اوسيدونكو ته د علماؤ او صالحانو صحبت نه حاصليږي ځكه د هغوى زړونه سخت سي او په هغوى كي علم او معرفت، عقل او پوهه او د فهم او ذكاوت رڼا نه پيدا كيږي .

كوم سړى چي په ښكار پسي لګيدلى وي ....: ددې مطلب دا دئ چي كوم څوک په زيات لهو او لعب او خوشحالۍ تر لاسه كولو په فكر كي وي هغه د طاعت او عبادت او د جمعې د لمانځه څخه غافله كيږي او په هغه كي د شفقت او ميني صفات ختميږي .

واضحه دي وي چي ددغه ارشاد په ذريعه د هغه خلكو خبردار كول مقصد دي كوم چي د ښكار كولو عادي سي او د حلال رزق تر لاسه كولو په نيت سره نه بلكه محض د تفريح او وخت تېرولو لپاره د خپل وخت په زياته برخه كي په ښكار بوخت وي ، او كوم چي ددغه مسئلې تعلق دى نو په مطلق ښكار او مباح ښكار په حلال كېدو كي څه شبه نه سته او ځيني صحابه كرامو ښكار كړى دى البته د رسول الله ﷺ په باره كي صحابه كرامو ليكلي دي چي رسول الله ﷺ هيڅكله ښكار نه دى كړى مګر څوک يې د ښكار څخه منع كړى هم نه دى .

د حديث په پاى كي د پاچا او حاكم سره د ناستي او د حكومت په دربار كي د حاضرۍ خرابي واضحه سوې ده چي كوم څوک بېله يو ضرورته او اړتيا د پاچا او حاكم دربار ته ځي نو هغه په فتنه كي اخته سو ځكه كه چيري هغه د پاچا او حاكم د هغه افعالو او اعمالو موافقت او حمايت كوي كوم چي د شريعت خلاف وي نو د هغه په دين كي خطره راځي او كه د هغه مخالفت كوي نو خپل دنيا خرابوي .

مظهر رحمة الله عليه وايي كوم څوک چي د پاچا او حاكم په دربار كي حاضر سي او هلته يې مداهنت اختيار كړ يعني د هغوى پر خلاف د شريعت امور يې ونه ترټل نو هغه په فتنه كي خپل

ځان اخته کړ يعني خپل دين يې په خطره کي واچوي او که هغه مداهنت اختيار نه کړ بلکه هغوی ته يې نصيحت وکړ او امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه يې سرته ورسول نو په دغه صورت کي د هغه حاضري به د جهاد څخه هم غوره وي.

دهلوي رحمه الله په مسند فردوس کي د حضرت علي رضي الله عنه څخه دغه روايت مرفوع نقل کړی دی چي: (من ازداد علما ولم يزدد في الدنيا زهدا لم يزدد من الله الابعدا) کوم څوک چي خپل علم زيات کړي مګر د دنيا څخه يې بې رغبتي زياته نه کړه نو هغه د الله جل جلاله څخه ليري والی زيات کړ.

ګمنامي د راحت باعث ده او شهرت د آفت باعث

﴿۳۵۳۴﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ عَلَى مَنْكِبِهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَفْلَحْتَ يَا قُدَيْمُ إِنْ مُتَّ وَلَمْ تَكُنْ أَمِيرًا وَلَا كَاتِبًا وَلَا عَرِيفًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت مقدام بن معدي کرب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم زه پر اوږو و ټکولم او وه يې فرمايل: اې مقدام! که په دې حال کي مړ سوې چي ته نه حاکم سوې، نه منشي او نه يو ملک نو تا خلاصون تر لاسه کړ. ابوداؤد.

تخريج سنن ابي داود ۳\۳۴٦، رقم: ۲۹۳۳.

تشريح په دغه ارشاد کي دې ته اشاره سوې ده چي بې منصبي راحت دی او شهرت او منصب آفت دئ.

غير شرعي محصول

﴿۳۵۳۵﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ يَعْنِي الَّذِي يَعْشُرُ النَّاسَ. رواه احمد وابوداؤد والدارمي.

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: عشر اخستونکی به جنت ته داخل نه سي. احمد، ابوداؤد او دارمي.

د عادل امام فضيلت

﴿۳۵۳۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د الله

النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ وَإِنَّ أَبْغَضَ

تعالی په نزد په ټولو خلکو کي محبوب او په مرتبه کي تر ټولو نژدې عادل پاچا وي، او د الله

النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدُّهُمْ عَذَابًا وفي رواية وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ

مَجْلِسًا إِمَامٌ جَائِرٌ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

تعالی په نزد به د قيامت په ورځ په ټولو خلکو کي بدترين او په مرتبه کي ذليل ظالم حاکم وي ، او په يوه روايت کي دي چي د مجلس په لحاظ به تر ټولو ليري ظالم حکمران وي . ترمذي دا حديث حسن غريب دئ .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۵۱۴، رقم: ۴۳۴۴، والترمذي ۴\ ۴۰۹، رقم: ۲۱۷۴، وابن ماجه ۲\ ۱۳۲۹، رقم: ۴۰۱۱.

تشريح: د جابر او ظالم په مخکي د حق ويلو ته غوره جهاد ځکه ويل سوي دي چي کوم څوک د يو دښمن سره جهاد کوي نو هغه د خوف او اميد په مېنځ کي وي که هغه ته دا خوف وي چي کيدای سي دښمن پر ما غالب سي نو زه به زخمي يا شهيد سم نو په دې سره هغه ته دا اميد هم وي چي زه د دښمن په لاندي کولو سره خپل ځان په پوره توګه وساتم ددې پر خلاف کوم څوک چي د ظالم او جابر حکمران په مخکي د حق خبري اراده لري نو د هغه لپاره معمولي اميد هم نه وي بلکه خوف او خوف وي ، هغه د حکمران د پوره قبضې او اختيار په وجه په دې يقين سره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فرض ادا کوي چي ددې پای به په دنيا کي زما د تباهۍ او تاوان څخه پرته بل هيڅ نه وي او دا ظاهره ده چي په دې کي انسان ته د خپل ژوند او خپل مال او سامان د پاته کېدو هيڅ اميد هم نه وي د هغه پوره کول د هغه د مهم پوره کولو څخه ډېر زيات صبر ازمويونکی ، همت غوښتونکی او د مېړاني کار او د بدر د جهاد څخه غوره وي چي د هغه په سرته رسولو کي د خپل ژوند او خپل مال او سامان د پاته کېدو تر ډېره حده پوري اميد وي يا دې ته غوره جهاد ځکه ويل سوي دي چي د حکمران ظلم او زور هغه ټول خلک متاثر کوي کوم چي د هغه په رعيت کي وي هغه يو دوه او څلور کسان نه وي بلکه په زرګونو ، په لکونو او په

میلینونو د خدای ﷻ بندګان وي نو کوم څوک چي هغه حکمران د هغه د ظلم او زیاتي څخه منع کړي هغه به په خپل دغه عمل سره د الله تعالی ډېر مخلوق ته ګټه ورسوي حال دا چي د دښمن سره په جهاد کولو کي دا خبره نه ستل.

د ظالم حاکم په مخکي د حق ويني انداز

شيخ ابو حامد رحمة الله عليه په احياء کي ليکلي دي چي پاچا او حاکم ته امر بالمعروف دادئ چي هغه پر غلطه لاره باندي د تلو څخه منع کړي او د هغه کوم اعمال او افعال چي غلط وي هغه ورته ښکاره کړل سي يعني هغه ته دا وښوول سي چي ستا دغه کار د عدل او انصاف خلاف دی، ستا دغه فيصله يا فرمان د قانون او نظام مطابق نه دئ او ستا دغه فعل د دين او اخلاقو او د الله تعالی د حکم خلاف دئ.

مګر د رعيت څخه يو کس ته دا حق حاصل نه دی چي هغه يو حکمران د هغه د غلط کار او فعل څخه په سختۍ سره منع کړي ځکه چي دا به په ملک کي د فتنې او فساد او په قوم کي د انتشار باعث وي اوس پاته سوه دا خبره که يو سړی يو حکمران د هغه د غلط چلن څخه د منع کولو لپاره سخت او تېز الفاظ په سخته او غضبناکه لهجه وکړي د مثال په توګه هغه ته ظالم ووايي يا داسي ورته ووايي (من لا يخاف الله) يعني اې د خدای ﷻ څخه نه بېرېدونکې!، يا داسي نور الفاظ وي نو په دې باره کي مسئله داده که د هغه سړي سخته لهجه او د هغه تېز الفاظ د هغه څخه پرته نور خلک هم د هغه حکمران د ملامتيا باعث وي نو دغه سخت کلامي جائز نه ده او که هغه سړي ته دا بيره نه وي چي زما د سخت کلامۍ په وجه به نور خلک هم د حکمران د عذاب ښښه سي بلکه پر ما به هم سي نو دا جائز دي بلکه مستحب دي ځکه چي د سلفو دا معمول راغلی دی چي هغوی به د خپل ځان د هلاکت څخه د بيري کولو پرته حکمرانان د هغوی د غلطي لاري څخه په سختۍ منع کول ځکه چي هغوی پوهېدل چي د دې په نتيجه کي به د حکمران ملامتيا د ځان د هلاکت سبب سي نو تر دې لوی سعادت نور څه کيدای سي چي په جهاد کي د شهادت درجه په برخه سي.

د حاکم صالح مشير

﴿٣٥٣٨﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي

اللّٰهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ وَإِذَا

الله تعالی د یو امیر یا حاکم سره د ښیګڼې اراده لري نو د هغه لپاره داسي وزیر و ټاکي که چیري د امیر څخه یو خبره هیره سي نو وزیر یې ور په یاد کړي او که خبره یې یاد وي نو وزیر د هغه مرسته کوي

أَرَادَ اللّٰهُ بِهِ غَيْرَ ذٰلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

او هر کله چي الله تعالی د یو امیر سره د بدۍ اراده کوي نو هغه ته خراب وزیر ور کړي که د امیر څخه یو خبره هیره سي نو وزیر یې نه ور په یادوي او که خبره یې په یاد وي نو د هغه مرسته نه کوي، ابوداؤد او نسائي

تخریج: سنن ابي داود ۳\۳۴۵، رقم: ۲۹۳۲، والنسائي ۷\۱۵۹، رقم: ۴۲۰۴.

د حاکم شک او شبه کول

﴿۳۵۳۹﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي یو حاکم په خلکو کي د شک او شبهې خبره لټوي نو خلک خرابوي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۵\۲۰۰، رقم: ۴۸۸۹.

د لغاتو حل: الريبة: اى التهمة.

تشریح: ددغه ارشاد په ذریعه د نړیوال آئین یو لوی نکتې ته اشاره کیږي چي د هیواد او قوم سالمیت، د عوامو د فلاح او عامو انسانانو د اطمینان او امن لپاره دا ضروري ده چي د حکمران او رعیت په مینځ کي پوره باور وي په خاصه توګه حکمران ته دا خیال کول پکار دي چي هغه ته د خپل رعیت په باره کي د خپل باور اظهار کول پکار دي کوم تنګ نظره او کم ظرفه حکمران چي د خپل هیواد د عامو خلکو یا د یو خاص ډلي په باره کي په ځانګړې توګه په شک

او شبه کي اخته وي او د هغوی پر وفاداري باندي یا د هغوی پر کړنو باندي بدګماني کوي او پر هغوی ډول ډول الزامونه عائد کوي او دهغوی څخه مؤاخذه کوي او هغوی په ډول ډول سزاوو کي اخته وي نو هغه د خپل لاسه د خپل حکمراني رېښي پري کوي ځکه چي په دغه صورت سره نه یوازي دا چي پر کوموډلو باندي د شک او شبهي اظهار کیږي د هغوی حالات بدلیږي بلکه په هیواد او قوم کي د بې اطمیناني، اضطراب او انتشار عامه فضا رامنځته کیږي.
د دغه حدیث مقصد د خلکو د احوالو د څارني او د هغوي د عیبونو د لټولو څخه منع کول دي او د دې حکم ورکول هم دي که په خلکو کي یو عیب وي نو د هغه پرده دي وسي او د هغوی څخه چي کوم ګناه او خطا وسي هغه دي ورته معاف کړل سي.

﴿٣٥٤٠﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّكَ إِذَا اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَّهُمْ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي هر کله ته د خلکو د عیبونو په لټه کي سوې نو ته به هغوی خراب کړې. بیهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٠٧/٧، رقم: ٩٦٥٩.

د نا انصافه حاکم پر خلاف صبر کول غوره دي

﴿٣٥٤١﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْتُمْ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما څخه وروسته به تاسو

وَأَئِمَّةٌ مِنْ بَعْدِي يَسْتَأْثِرُونَ بِهَذَا الْفَيْءِ قُلْتُ اما وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ

د خپلو امامانو سره څنګه وخت تیروئ؟ هر کله چي هغوی د بیت المال څخه خپل کار اخلي او ور خلکو ته به یې نه ورکوي یعني په دې حالت کي به تاسو صبر کوئ یا د هغوی سره جنګ کوئ؟ ما وویل: قسم دی په هغه ذات چي تاسو یې په حق سره رالیږلي یاست

أَضَعُ سَيْفِي عَلَى عَاتِقِي ثُمَّ أَضْرِبُ بِهِ حَتَّى أَلْقَاكَ قَالَ أَوَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَيْرٍ مِنْ ذَلِكَ تَصْبِرُ حَتَّى تَلْقَانِي. رواه بوداؤد

زه به خپله توره پر خپله اوږه کښیږدم بیا به یې په توره سره قتل کړم ، تر دې چې ستاسو سره یو ځای سم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا زه تا ته تر دې ښه خبره ونه ښیم؟ ته صبره کوه تر څو چې زما سره یو ځای سې . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۱۹، رقم: ۴۷۵۹.

تشریح: فئ هغه مال ته وایي چې د کفارو څخه بېله جنګ او جګړې تر لاسه سي لکه خراج، جذیه، یا دا ډول نور محصول چې په اسلامي هیواد کي د غیر مسلمانانو څخه تر لاسه کیږي او د کفارو څخه چې کوم مال د جنګ او جګړې په ذریعه تر لاسه سي هغه ته غنیمت وایي ، د فئ حکم دادی چې د تر لاسه سوي مال څلور برخي د ټولو مسلمانانو حق دی چې دهغوی په مینځ کي وویشل سي او پنځمه برخه په بیت المال کي جمع کړل سي ، د فئ په باره کي دا تلقین سوی دی که یو حکمران دا په خپل تصرف کي راولي او په مستحقینو کي یې ونه ویشي نو که څه هم دا حق تلفي ده او مسلمانانو ته دا حق دی چې د هغه حکمران څخه خپله برخه وغواړي مګر محض ددغه مال لپاره د هغه حکمران پر خلاف توره پورته کول او د سختۍ لاره اختیارولو څخه غوره دادي چې د صبر لار اختیار کړل سي .

علماء کرامو لیکلي دي چې ددغه ارشاد په مفهوم کي فئ او غنیمت دواړه شامل دي او ددې مقصد دا واضح کول دي چې کوم حکمران د فئ او غنیمت ټول مال په خپل تصرف کي راولي او بیت المال ته تاوان ورسوي او د مسلمانانو حق تلف کړي نو هغه ظالم دئ .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د عادل امام فضیلت

﴿۳۵۴۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَنْ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو ته څرګنده ده چې

السَّابِقُونَ إِلَى ظِلِّ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ

د قیامت په ورځ به د الله تعالی سایې ته تر ټولو وړاندي کوم خلک ځي ؟ صحابه کرامو وویل : الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: د

الَّذِينَ إِذَا أُعْطُوا الْحَقَّ قَبِلُوهُ وَإِذَا سُئِلُوهُ بَذَلُوهُ وَحَكَمُوا لِلنَّاسِ كَحُكْمِهِمْ

لِأَنْفُسِهِمْ .

عرش الهي سايې ته به تر ټولو وړاندي هغه خلک ځي چي هغوی ته حق خبره وکړل سي نو هغه يې قبوله کړي او هر کله چي د هغوی څخه د حق غوښتنه وکړل سي نو حق ورکوي او خلکو ته داسي حکم ورکوي څرنګه چي پر خپل ځان حکم کوي . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ٦٩\٦.

تشريح: په دغه حديث کي د عادلو حکمرانانو درې صفتونه ذکر سوي دي چي هغوی بهددې په وجه د قيامت په ورځ د الله تعالی د عنايت او کرم او دهغه د سايې تر ټولو مخکي وړ وي ، د عادل حکمران اول صفت دا بيان سوی دی چي کله د هغه په مخکي د رعيت د ښېګڼي او عدل او مساوات په باره کي يو صحيح او حقه خبره وړاندي کيږي نو هغه قبلوي او په هغه عمل کوي، دوهم صفت يې دا دئ چي کله رعيت د هغه څخه خپل حق غواړي نو د هغه حق ورکوي او د خلکو د خير او ښېګڼي د غوره والي او د هغوی د ژوند د اړتياوو پوره کولو لپاره د مصرف کولو څخه منع نه کوي او دريم صفت يې دا دئ چي کوم شی د ځان لپاره خوښوي نو د رعيت لپاره هم هغه خوښوي او که هغوی خپل راحت او ارام غواړي نو د رعيت په باره کي هم هغه غواړي چي عام خلک هم په راحت او سکون کي وي د خودغرضه او عياشه حکمرانانو په ډول د هغوی طريقه دا نه وي چي خپله په عيش او عشرت کي وي او رعيت په سختۍ ، تنګۍ او بدحالۍ کي پريږدي.

د حاکمانو د ظلم څخه د رسول الله ﷺ خوف

﴿۳۵۴۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ثَلَاثٌ أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الِاسْتِسْقَاءُ بِالْأَنْوَاءِ وَحَيْفُ السُّلْطَانِ وَتَكْذِيبٌ بِالْقَدَرِ . رواه احمد

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي زه د خپل امت په اړه د درو خبرو څخه بيريږم، يو خو د سپوږمۍ د منازلو په حساب د باران طلب کول، دويم د پاچا ظلم کول، دريم تقدير دروغ ګڼل . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ١٩٠\٥.

د لغاتو حل: بالانواء: ای بظهور الکواکب او بمنازل القمر في السماء. حيف: ای جوره وظلمه.

تشريح: انواء د نوء جمع ده او لغوي معنی يې د پاڅېدو او غورځېدلو ده ، مګر په عامه توګه سره ددې استعمال د سپوږمي د منازلو په مفهوم کي کيږي ، د پخوانيو علماء فلکيات مطابق د سپوږمۍ اته ويشت منزلونه دي چي هغه هره شپه په يوه منزل کي وي ، غالبا په دې وجه د پاڅېدو او غورځېدو څخه طلوع او غروب د مراد په اخيستلو سره انواء د سپوږمي د منازلو په مفهوم کي استعماليږي ، په هر حال د عربو مشرکينو به باران دغه منازلو ته منسوب کوی او کله چي به باران کيدی نو هغوی به دا ويل چي د سپوږمۍ د فلاني منزل په وجه باران وسو دا يوه باطله عقيده ده ځکه په نورو حديثو کي ددغه عقيدې صريح منع راغلې ده او د توحيد د اهميت واضح کولو او د شرک د وهم ليري کولو لپاره د کفر د لفظ اطلاق پر سوی دی .

بېله اړتيا مه امين جوړيږئ او مه حاکم

﴿۳۵۴۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ أَيَّامٍ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوذره! شپږ ورځي

اعْقِلْ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا يُقَالُ لَكَ بَعْدُ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ السَّابِعُ قَالَ أُوصِيكَ بِتَقْوَى

وروسته به زه تا ته يوه خبره کوم ، پر هغه ښه فکر وکړه او بيا عمل په وکړه ، او وه ورځ چي پيل سوه نو رسول الله ﷺ وفرمايل زه تا ته امر کوم په تقوی

اللّٰهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ وَإِذَا أَسَأْتَ فَأَحْسِنْ وَلَا تَسْأَلَنَّ أَحَدًا شَيْئًا وَإِنْ سَقَطَ سَوْطُكَ وَلَا تَقْبِضْ أَمَانَةً وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ . رواه احمد

د خدای جل جلاله سره په پټ کار ستا کي او په ښکاره کي او هر کله چي ته د چا سره بدي وکړې نو د هغه سره نيکي هم وکړه او د چا څخه يو شی مه غواړه که څه هم ستا غمچينه ولويږي (يعني که ستا غمچينه ايله سي نو چا ته مه وايه چي دا را پورته کړه) او د چا امانت د ځان سره مه ساته او د دوو کسانو په منځ کي پريکړه مه کوه . احمد

تخريج: مسند االامام احمد ۱۸۱\۵.

تشريح: د چا امانت د ځان سره مه ساته : ددې مطلب دادئ چي بېله ضرورته د يو چا امانت د ځان سره ايښودل د احتياط خلاف کار دی ځکه چي پر ځان باندي هيڅ باور نه وي چي هغه کله د شيطان په چم کي راسي او په امانت کي خيانت وسي يا که خيانت ونه سي نو دا شی د تهمت

محل دی چي په يو وجه خپله د امانت مالک يا يو بل څوک پر تا باندي د خيانت تهمت ولګوي .

د حکومت درې تدريجي مرحلې

﴿٣٥٤٥﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَا مِنْ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د لسو کسانو يا

رَجُلٍ يَلِي أَمْرَ عَشَرَةٍ فَمَا فَوْقَ ذٰلِكَ إِلَّا أَتَى اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ مَغْلُولًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

زيا تو حاکم وي الله تعالى به د قيامت په ورځ هغه په داسي حال کي را پورته کړي چي د هغه په

يَدُهُ إِلَى عُنُقِهِ فَكَّهُ بِرُّهُ أَوْ أَوْبَقَهُ إِثْمُهُ أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ وَأَوْسَطُهَا نَدَامَةٌ وَآخِرُهَا

خِزْيٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه احمد

غاړه کي به دده لاس وي ددې مصيبت څخه به هغه د هغه نيکي خلاصوي او يا د هغه ګناه به هغه هلاک کړي ، د امارت پيل ملامتيا ده او مينځ يې پښيماني ده او د هغه پای په قيامت کي ذلت او رسوايي ده . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ٥\٢٦٧.

تشريح: حکومت او مشرتوب که څه هم د انسان طبعي خواهش دی او کم انسانان به داسي وي چي هغوی د حکومت او مشرتوب ارزو نه لري مګر د دغه حکومت او مشرتوب حقيقت او ددې نتيجه څه ده؟ دغه حديث وضاحت کوي چي کله يو سړی د حکومت او مشرتوب پر چوکۍ کښيني نو د هغه اوله مرحله دا وي چي هغه د هري خوا څخه د ملامتيا نښه جوړيږي خلک طعن ورکوي چي هغه داسي وکړل او داسي يې وکړل څوک د اختياراتو د ناجائز استعمال الزام پر لګوي څوک د جانب دارۍ تهمت پر لګوي او څوک د حکومت د فرائضو په پوره کولو کي د غفلت الزام پر لګوي ، غرض دا چي د هري خوا د اعتراضاتو په کېدو سره په سخته پښيماني او ندامت کي اخته سي او وايي چي ما دغه منصب ولي قبول کړ او په دغه مصيبت کي مي ځان ولي اخته کړ او بيا ددې آخري برخه د ذلت او رسوايي په صورت کي مخته راځي د دنيا ذلت او رسوائي هم او د آخرت ذلت او رسوائي هم، د دنيا ذلت او رسوائي داده که په يو وجه د هغه منصب څخه معزول کړل سي نو د هغه سپکاوی کيږي يا که رعيت يې د انتظام څخه مطمئن نه وي نو د هغوی په زړو کي د هغه په اړه سخت نفرت او حقارت پيدا کيږي او ښکاره ده چي د يو

حکمران لپاره تر دې زيات په دنيا کي ذلت او رسوائي څه کيدای سي او د آخرت ذلت او رسوائي داده چي هغه د خپل حکومت په زمانه کي چي څه کوي د هغه جواب ورکول به د احکم الحاکمين په درباره کي ورکول وي تر دې چي د هغه څخه کومه کوتاهي، ظلم او غلط کار سوی وي د هغه په وجه به په عذاب کي اخته وي، فاعتبروا يا اولي الابصار.

دلته په حديث شريف کي يوازي د قيامت د ورځي ذلت او رسوائي ذکر سوې ده او د دنيا رسوائي ذکر سوې نه ده ددې وجه داده چي د قيامت په ورځ به ذلت او رسوائي د دنيا تر ذلت او رسوائي ډېره سخته وي ځکه ددې په ذکر کولو باندي اکتفاء وکړل سول.

د حضرت معاويه رضي الله عنه په اړه د رسول الله ﷺ پيشکويي

﴿۳۵۴۶﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مُعَاوِيَةُ إِنْ وُلِّيتَ أَمْرًا فَاتَّقِ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ وَاعْدِلْ قَالَ فَمَا زِلْتُ أَظُنُّ أَنِّي مُبْتَلًى بِعَمَلٍ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ابْتُلِيتُ. رواه احمد

د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې معاويه! که ته د يو کار والي او حاکم و ټاکل سې نو د الله څخه ويرېږه او انصاف کوه، د معاويه بيان دئ چي ما به هميشه دا خيال کوئ چي د رسول الله ﷺ د قول په وجه زه خامخا په يو کار کي اخته کيږم تر څو چي زه په حکومت کي اخته سوم. احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۱۰۱.

د راتلونکي زمانې په اړه يو پيشکويي

﴿۳۵۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ وَمِنْ إِمَارَةِ الصِّبْيَانِ. روى الاحاديث الستة احمد و روى البيهقي حديث معاوية في دلائل النبوة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د الله جل جلاله په ذريعه د اويا کالو د سر څخه (د هجرت په ۶۰ کال کي يزيد والي سو) او د کوچنيانو د سردارۍ او

امارت څخه پناه غواړئ ، شپږ سره حديثونه امام احمد روايت کړي دي ، د معاويه حديث بيهقي په دلائل النبوة کي روايت کړی دی .

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۳۲٦.

تشريح: د اويا کالو د شروع څخه مراد د هجري کال اوومه لسيزه ده چي د هغه شروع د يو شپېته هجري کال څخه کيږي، د شپېتم هجري کال په آخر کي د حضرت معاويه ﷛ د حکومت زمانه د هغه په وفات سره ختم سوه او د يزيد ابن معاويه امارت قائم سو ، په دې سره د حکومت څخه د صحابه کرامو د بابرکته امامت سايه په پوره توګه پورته سوه او ددې څخه وروسته د حکومت هغه زمانه شروع سول چي انتشار، فتنه، فساد، ظلم او زور د مشرتوب په تر لاسه کولو کي کشمکش او د ملوکيت فتنه راغله ، يزيد درې کاله او اته مياشتي د حکومت پر تخت ناست وو په دغه وخت کي د هغه د حکومت تر ټولو زياته شرمناکه واقعه د کربلاء واقعه ده ، د يزيد څخه وروسته د هغه زوی معاويه ابن يزيد ابن معاويه يوازي په نامه پر تخت کښېنول سو او په آخر کي د حکومت واګي د بنواميه د سفياني کورنۍ څخه په وتلو د بني مروان په لاس راغلې .

په حديث شريف کي د بني مروان حکومت د کوچنيانو د حکومت سره تعبير سوی دی ، د بني مروان په زمانه کي د اقتدار رسۍ کشي، استبداد او جبر، مذهبي انتشار، کورنۍ او قبائلي عصبيت، د اسلامي شعائرو څخه بې پرواهي، او د بزرګانو سره د سختۍ او تشدد چي کومه ځرګندونه وسوه هغه ټول د حکومت ټول نظام او هيواد بازيچه اطفال (د کوچنيانو لوبي) جوړه کړې وه ، حجاج ابن يوسف د بني مروان د حکومت تر ټولو لوی معتمد والي وو چي په خپل ظلم کي د چنګيز او هلاکو څخه کم نه دی بلکه زيات دی .

د اووه مي هجري لسيزي د شروع څخه د يزيد ابن معاويه د امارت په صورت کي ظاهرېدونکی دور او د هغه څخه وروسته د بني مروان د حکومت ظلمونه شروع سول چي کلونه مخکي د نبوت په وړاندي د يو خلاص سوي کتاب په ډول وو او د رسول الله ﷺ فراست محکم د راتلونکي زمانې ادراک کوی چي په هغه کي د امت اجتماعي هيئت او د هغه ملي خصوصيات به ځو خود غرضه ، مفاد پرسته او دنيا دارو حکمرانانو باندي قربان کړي نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل چي د هغه وخت پېښېدونکو سختو حالاتو او حکمرانانو د حکومت څخه د الله تعالی پناه غواړئ چي الله تعالی دي په تاسو کي پر چا باندي هغه زمانه نه راولي .

څرنګه چي تاسو عمل کوئ هم هغسي حاکم به در باندي مقرروي

﴿۳۵۴۸﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنِ هَاشِمٍ عَنْ يُّونُسَ بْنِ إِسْحَاقٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ كَمَا تَكُوْنُوْنَ كَذٰلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ. رواه البيهقي.

حضرت يحيی بن هاشم د حضرت يونس بن اسحاق او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څرنګه چي تاسو ياست هم هغه ډول به ستاسو اميران ټاکل کيږي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٢٢-٢٣، رقم: ٧٣٩١.

تشريح: مطلب دادی چي ستاسو کړني او چلن څرنګه وي هم هغسي به پر تاسو حاکم او عامل ټاکل کيږي که ستاسو اعمال ښه وي نو ستاسو حاکمان به هم ښه وي او که ستاسو اعمال خراب وي نو ستاسو حاکمان به هم خراب وي.

پاچا د الله ﷻ سايه ده

﴿۳۵۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ السُّلْطَانَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پاچا پر مځکه د الله تعالی

ظِلُّ اللهِ فِي الْأَرْضِ يَأْوِيْ إِلَيْهِ كُلُّ مَظْلُوْمٍ مِنْ عِبَادِهِ فَإِذَا عَدَلَ كَانَ لَهُ الْأَجْرُ

سايه ده او د الله تعالی په بندګانو کي هر مظلوم بنده په هغه سره پناه تر لاسه کولای سي بيا چي هغه عدل او انصاف کوي نو هغه ته ثواب تر لاسه کيږي

وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الشُّكْرُ وَإِذَا جَارَ كَانَ عَلَيْهِ الْإِصْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الصَّبْرُ. رواه البيهقي

او پر رعيت د هغه شکر واجب کيږي او هر کله چي ظلم کوي پر هغه ګناه وي او پر رعيت باندي صبر لازم دئ. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\١٦، رقم: ٧٣٦٩.

د لغاتو حل: الاصر: ای الوزر (زور)

تشريح: د پاچا وجود ته د الله تعالی سايه په دې اعتبار ويل سوي دي لکه څرنګه چي د يو شي سايه د لمر د ګرمۍ د تکليف څخه ساتنه کوي همدارنګه پاچا د خپل رعيت خلک د مختلفو تکليفو څخه ساتي او ډېر واره لفظ د سايې کنايهٔ د ساتني او حمايت په مفهوم کي هم

استعماليږي په دې اعتبار سره که وکتل سي نو د پاچا وجود د خپل رعيت لپاره د ساتنې او حمايت تر ټولو لويه ذريعه کېدل ظاهر دي.

علامه طيبي رحمه الله دا وضاحت کړی دی چي لفظ د (ظل الله) يو تشبيه ده او دا عبارت (ياوي اليه کل مظلوم...) دغه تشبيه وضاحت او مراد بيانوي يعني خلک چي څرنګه چي د سايې په يخوالي کي د لمر د ګرمۍ څخه راحت تر لاسه کوي همدارنګه د پاچا د عدل په يخوالي کي د ظلم او زور د ګرمۍ څخه راحت تر لاسه کوي.

په ظل الله کي الله تعالى ته د سايې نسبت د هغه د عظمت او غوره والي د اظهار لپاره دی لکه څرنګه چي په بيت الله شريفه کي الله تعالى ته د بيت نسبت د هغه د عظمت او غوره والي لپاره دي او په دې سره دې ته اشاره مقصد ده چي هغه سايه (يعني پاچا) د نورو سايو په ډول نه ده بلکه هغه د الله پاک د تعلق سره خپل ځانته خصوصيت او غوره والي لري ځکه چي هغه د مځکي پر مخ د الله تعالى خليفه ګرځول سوی دی چي د هغه فريضه د الله تعالى عدل او احسان د هغه پر بندګانو باندي خپرول دي.

د قيامت په ورځ تر ټولو لويه مرتبه والا عادل حاکم

﴿٢٥٥٠﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

إِنَّ أَفْضَلَ عِبَادِ اللهِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ عَادِلٌ رَقِيقٌ وَإِنَّ شَرَّ

د الله تعالى په نزد د قيامت په ورځ د مرتبې په اعتبار د الله تعالى په بندګانو کي تر ټولو غوره عادل او نرمي کونکی حاکم دئ او بد ترين

النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ جَائِرٌ خَرِقٌ. رواه البيهقي.

سړی د الله جل جلاله په نزد د قيامت په ورځ سختي کونکی ظالم حاکم دئ. بيهقي

تخريج البيهقي في شعب الايمان ١٦/٦، رقم: ٧٣٧١.

د لغاتو حل خَرِق: ضد الرفق (سخت).

د مسلمان بېرول

﴿٣٥٥١﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ نَظَرَ إِلَى أَخِيهِ نَظْرَةً يُخِيفُهُ أَخَافَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . روى الأحاديث الأربعة البيهقي في "شعب الإيمان" وقال في حديث يحيى هذا : منقطع وروايته ضعيف

څوک چي د يو مسلمان ورور لوري ته په داسي نظر سره وګوري چي هغه د هغه څخه و بيرېږي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه و بيروي . پورتني څلور سره حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي د وروستني حديث په باره کي ليکلي دي چي دا منقطع دئ او د دې روايت ضعيف دئ

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٦\٥٠. رقم: ٧٤٦٨.

تشريح: د دغه حديث په نقل کولو سره دې ته اشاره کول مقصد دي چي کله د يو مسلمان محض بېرول په قيامت کي د هغه د عذاب سبب ګرځي نو پر مسلمان باندي د ظلم کونکي به څه حال وي؟ .

د حاکم ظلم ته د بدويلو پر ځای خپل عمل سم کړئ

﴿٣٥٥٢﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى

تَعَالَى يَقُولُ أَنَا اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا مَالِكُ الْمُلُوكِ وَمَلِكُ الْمُلُوكِ قُلُوبُ الْمُلُوكِ فِي

فرمايي : زه الله يم هيڅ معبود زما څخه پرته د عبادت وړ نسته زه د پاچا هانو پاچا يم د پاچاهانو زړونه زما په

يَدِي وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا أَطَاعُونِي حَوَّلْتُ قُلُوبَ مُلُوكِهِمْ عَلَيْهِمْ بِالرَّحْمَةِ وَالرَّأْفَةِ

لاس کي دي او هر کله چي بندګان زما اطاعت کوي زه د پاچاهانو زړونه د هغوی په لور د رحمت او شفقت وګرځوم

وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا عَصَوْنِي حَوَّلْتُ قُلُوبَهُمْ بِالسَّخْطَةِ وَالنَّقْمَةِ فَسَامُوهُمْ سُوءَ

او هر کله چي بندګان زما نافرماني کوي نو زه د پاچاهانو زړونه د هغوی لپاره سخت او

غضبناک کوم، بیا چي خراب پاچا هغوی ته

الْعَذَابِ فَلاَ تَشْغَلُوْا أَنْفُسَكُمْ بِالدُّعَاءِ عَلَى الْمُلُوْكِ وَلٰكِنْ اَشْغَلُوْا أَنْفُسَكُمْ بِالذِّكْرِ وَالتَّضَرُّعِ كَيْ أَكْفِيْكُمْ مُلُوْكَكُمْ. رواه أبو نعيم في الحلية.

لویه سزا ورکړي نو د پاچاهانو لپاره بدده دعاء مه کوئ بلکه زما په ذکر کي مشغول سئ او عاجزي او زاري کوئ لپاره ددې چي زه تاسو د پاچا د شر څخه وساتم. دا حديث ابو نعيم په حليه کي روايت کړی دی

تخريج: رواه ابونعيم في الحلية: ٣٨٩/٢.

تشريح: په دغه حديث شريف کي دې ته اشاره ده چي د رعيت د حکمرانانو د رويې تعلق په باطني توګه سره د خلکو د اعمالو سره وي چي د رعيت خلک د الله تعالی اطاعت او فرمانبرداري کوي او د هغوی اعمال او معاملات په عامه توګه صحيح او نيک وي نو د هغوی ظالمه حکمراني هم د هغوی په حق کي عادل، نرمه او شفيقه جوړيږي او که د رعيت خلک د الله تعالی په سرکښۍ کي اخته وي او د هغوی اعمال او معاملات په عامه توګه د بدۍ په غاله کي وي نو بيا د هغوی عادل او نرم حکمران به هم د هغوی په حق کي غضبناک او سخت وي، د حکمران پر ظلم او د هغه پر سختۍ او ناانصافۍ باندي هغه ته د بد رد ويلو او د هغه ته د ښېراوو کولو پر ځای دغه لار اختيارول پکار دي چي الله تعالی ته رجوع وکړل سي او پر خپلو اعمالو باندي په پښېمانۍ سره توبه او استغفار وکړل سي، د الله تعالی په دربار کي په عاجزۍ او زارۍ سره التجاء او فرياد وکړل سي او خپل اعمال او معاملات په پوره توګه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د حکم تابع کړل سي تر څو د الله ﷻ رحمت متوجه سي او د ظالم حکمران زړه عدل، انصاف او نرمۍ ته راوګرځي.

==========

بَابُ مَا عَلَى الْوُلاَةِ مِنَ التَّيْسِيْرِ

(د واليانو د لوري پر رعيت د نرمۍ کولو بيان)

په مخکني باب کي دا يادونه وه چي رعيت ته د خپلو حاکمانو اطاعت او فرمانبرداري کول پکار دي، اوس په دغه باب کي دا بيان کيږي چي حاکمانو ته هم د خپل رعيت د خلکو سره نرمي او شفقت کول پکار دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

حاکمانو ته نرمي کول پکار دي

﴿۳۵۵۳﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَعَثَ

د حضرت ابو موسى رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په خپلو اصحابو کي يو څوک د

أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا . متفق عليه.

يو کار پوره کولو لپاره ليږئ نو فرمايل به يې : خلکو ته زيری ورکوئ ، نفرت مه پيداکوئ ، آساني کوئ او سختي مه کوئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۵۲۴، رقم: ۶۱۳۴، ومسلم ۳\ ۱۳۵۸، رقم: ۶- ۱۷۳۲.

﴿۳۵۵۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا . متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو اساني کوئ سختي مه کوئ تسکين ورکوئ نفرت مه پيداکوئ . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۵۲۴، رقم: ۶۱۲۵، ومسلم ۳\ ۱۳۵۹، رقم: ۸- ۱۷۳۴.

د لغاتو حل: سكنوا : اى سكنوهم بالطاعة او بالبشارة. (په پيروي او زيری يې چوپ کړی).

﴿۳۵۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جده وَأَبَا مُوسَى ومعاذا إِلَى الْيَمَنِ فقَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا . متفق عليه.

د حضرت ابو بردة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د هغه نيکه ابو موسى او معاذ يمن ته وليږل او وه يې فرمايل : آساني کوئ ، په ستونزه کي خلک مه غورځوئ ، زيری ورکوئ نفرت مه پيداکوئ او

اتفاق كوئ اختلاف مه كوئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٢٤، رقم: ٦١٢٤، ومسلم ١٣\١٣٥٨، رقم: ٧- ١٧٣٣.

تشريح: صحيح دادى چي د مشكوة مؤلف دلته داسي نقل كړي واى (عن ابن ابي بردة ...) يعني د ابي برده سره يې د ابن لفظ هم راوړ ځكه چي ابوبرده رضي الله عنه د ابوموسى اشعري رضي الله عنه زوى دى او ملسى يې نه دى، او د ابوبرده رضي الله عنه څخه د هغه زامن عبدالله، يوسف، سعيد او بلال حديثونه روايت كوي، دلته چي كوم روايت نقل سوى دى هغه د سعيد ابن ابي برده څخه روايت دى لكه څرنګه چي صحيح بخاري نقل كړى دى چي سعيد ابن ابوبرده رضي الله عنه وايي چي ما د خپل پلار (ابوبرده رضي الله عنه) څخه واوريدل چي هغه ويل: رسول الله ﷺ زما پلار (ابوموسى اشعري رضي الله عنه) او معاذ رضي الله عنه يمن ته واستول.

د قيامت په ورځ د عهد ماتونكي رسوايي

﴿٣٥٥٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د عهد ماتونكي لپاره به د قيامت په ورځ يو بيرغ يا نښه ودرول سي او ورته وه به ويل سي دا د فلاني بن فلاني د عهد ماتولو نښه ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٦٣، رقم: ٦١٧٨، ومسلم ١٣\١٣٦٠، رقم: ١٠- ١٧٣٥.

د لغاتو حل: الغادر: اى ناقض العهد والوفاء (قول او وفا ماتوونكى).

﴿٣٥٥٧﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د عهد ماتولو يو نښه وي چي په هغه سره به د هغه شناخت كيږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٨٣، رقم: ٣١٨٦، ومسلم ١٣\١٣٦١، رقم: ١٥- ١٧٣٨.

﴿۳۵۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ

د حضرت ابو سعید رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به د هر

عِنْدَ اِسْتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وفي رواية لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لَهُ

بِقَدْرِ غَدْرِهِ أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ. رواه مسلم

عهد ماتونكي نښه د هغه كوناټو ته نژدې ولاړه وي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د هر عهد ماتونكي نښه به د قيامت په ورځ د هغه د عهد ماتولو سره سم لوړه كړل سي. خبردار! هيڅ عهد ماتونكى د عهد ماتوني په اعتبار د عام امام څخه لوى نه دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۳۶۱/۳، رقم: ۱۵-۱۷۳۸.

د لغاتو حل: عند استه: اى خلف ظهره والاست: الدبر. (تر شا).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د عوامو ضروريات نه پوره كونكي حاكم په باره كي وعيد

﴿۳۵۵۹﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عمرو بن مرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي هغه حضرت معاويه ته وويل ما د رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ وَلَّاهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَاحْتَجَبَ

څخه دا اوريدلي دي څوک چي الله تعالى د مسلمانانو د يو كار والي او حاكم جوړ كړي او هغه

دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ احْتَجَبَ اللهُ دُونَ حَاجَتِهِ وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ

د هغوى د حاجت، مطلب او فقر څخه ستركي پټوي نو الله تعالى به د هغه د حاجت، مطلب او فقر څخه په پرده كي سي، د دې په اوريدو سره

فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلَى حَوَائِجِ النَّاسِ. رواه ابوداؤد والترمذي و في رواية له ولاحمد اغلق الله ابواب السماء دون خلته و حاجته و مسكنته.

معاويه يو سړی و ناکی چې هغه د خلکو په ضروریاتو نظر وساتي او هغه پوره کوي . ابوداؤد، ترمذي، او د ترمذي او احمد په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې الله تعالى به د هغه په حاجت ، ضرورت او افلاس د آسمان دروازې بندې کړي .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٥٧، رقم: ٢٩٤٨، والترمذي ٣\٦١٩، رقم: ١٣٣٢.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حاکمانو دروازه بايد خلاصه وي

﴿٣٥٦٠﴾: عَنْ أَبِي الشَّمَّاخِ الْأَزْدِيِّ عَنِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَتَى مُعَاوِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ وُلِيَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ شَيْئًا ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ دُوْنَ الْمُسْلِمِيْنَ أَوِ الْمَظْلُوْمِ أَوْ ذِي الْحَاجَةِ أَغْلَقَ اللهُ دُوْنَهُ أَبْوَابَ رَحْمَتِهِ عِنْدَ حَاجَتِهِ وَفَقْرِهِ أَفْقَرَ مَا يَكُوْنُ عَلَيْهِ . رواه البيهقي .

حضرت ابو شماخ ازدي خپل د اکا د زوی څخه روايت کوي چې صحابي دئ د هغه بيان دئ چې هغه حضرت معاويه ته ورغلی او ورته وه يې ويل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چې د خلکو پر يو کار ماموره کړل سو او بيا هغه خپله دروازه د مسلمانانو لپاره يا د مظلوم يا اړو کسانو لپاره بنده کړه نو الله تعالى به د خپل رحمت دروازې د هغه د ضرورت، حاجت او مفلسۍ پر وخت بندې کړي په خاصه توګه چې هغه اړ وي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٢١، رقم: ٧٣٨٤.

خپل حاکمانو ته د حضرت عمر ﷛ هدايت

﴿٣٥٦١﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ كَانَ إِذَا بَعَثَ عُمَّالَهُ شَرَطَ عَلَيْهِمْ أَنْ لاَّ

د حضرت عمر بن خطاب ﷛ څخه روايت دئ کوم وخت چې هغه خپل عاملان ليږل نو د هغوی سره به يې دا شرط کوئ چې

تَرْكَبُوْا بِرْذَوْنًا وَلاَ تَأْكُلُوْا نَقِيًّا وَلاَ تَلْبَسُوْا رَقِيْقًا وَلاَ تُغْلِقُوْا أَبْوَابَكُمْ دُوْنَ

پر ترکي آس به نه سپریږئ میده به نه خورئ ، نرۍ جامه به نه اغوندئ او خپل دروازه به د اړو

حَوَائِجِ النَّاسِ فَإِنْ فَعَلْتُمْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَقَدْ حَلَّتْ بِكُمُ الْعُقُوْبَةُ ثُمَّ

يُشَيِّعُهُمْ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان .

کسانو څخه نه بندوی که تاسي په دغو کي يو کار وکړی نو د سزا مستحق به سئ ، ددې څخه وروسته به حضرت عمر رضي الله عنه د هغو سره تر يو ځايه روان سو دوی به يې رخصت کړل . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٦\٢٤، رقم: ٧٣٩٤.

د لغاتو حل: بِرذونا : ای خيلا ترکيا . (ترکي آس)

تشريح: پر ترکي آس باندي د نه سپرېدو علت تکبر دئ ځکه نو پر عربي آس باندي نه سپرېدل به په طريقه اولی وي ، علامه طيبي رحمه الله وايي پر ترکي آس باندي د سپرېدو منع په اصل کي د تکبر منع کول دي ، د مېده خوړلو او نرمو جامو اغوستلو څخه منع کول د اسراف او عيش و عشرت د ژوند څخه منع کول دي او اړو کسانو ته د خپل دروازې بندولو څخه منع کول د مسلمانانو د اړتياوو نه پوره کولو څخه منع کول دي .

=========

بَابُ الْعَمَلِ فِي الْقَضَاءِ وَالْخَوْفِ مِنْهُ

(د قضاء عمل او د هغه څخه د بيرېدو بيان)

لکه څرنګه چي د کتاب الامارة والقضاء په شروع کي ښوول سوي دي چي د اسلامي نظام اصل محور امام او امير وي، په تېرو دواړو بابو کي د امام او امير په باره کي بيان وکړل سو اوس په دغه باب کي د قضاء بيان دی او په دې باره کي په خاصه توګه د دوو خبرو ذکر کيږي يو خو دا چي قاضي د خپل فرض په ادا کولو کي يوازي د اسلامي قانون ماخذ يعني کتاب ، سنت او اجتهاد لاربنود جوړ کړي او د هغه هيڅ فيصله او حکم ددغه شيانو خلاف بايد نه وي ، دوهمه خبره داده چي قضاء د خپل ارزښت او عظمت په اعتبار دومره لوړ منصب دی چي نه يوازي دا چي هر سړی بايد دې ته د رسيدو هڅه ونه کړي بلکه تر څو چي کيدای سي ددغه

منصب د قبلولو څخه بېره او پرهيز کول پکار دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غصې په حالت کې د چا فيصله مه کوئ

﴿۳۵۶۲﴾: عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ. متفق عليه

د حضرت ابوبکرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې حاکم په غصه کې وي نو د دوو کسانو په منځ کې دې حکم (پريکړه) نه کوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۳۶، رقم: ۷۱۵۸، ومسلم ۳\۱۳۴۲، رقم: ۱۶- ۱۷۱۷.

تشريح: د غصې په حالت کې د فکر قوت مغلوب کيږئ او په داسې صورت کې د انصاف فيصله کول مشکل وي ځکه حکم سوی دی چې هيڅ حاکم او قاضي دې د غضب او غيض په حالت کې فيصله نه کوي چې د هغه غيض او غضب د هغه په فکر او اجتهاد کې خنډ واقع نه سي او هغه د انصاف فيصله ونه کړلای سي همدارنګه د سختې ګرمۍ او سخت يخ، لوږې، تندې او ناروغۍ په حالت کې دې هم حکم او فيصله نه کوي ځکه چې په دغه وختو کې پر حواسو باندې پوره واک نه وي او د ماغ حاضر نه وي که يو حاکم په دغه حالاتو کې حکم او فيصله وکړي نو هغه به په کراهت سره جاري وي.

قاضي ته د اجتهاد اختيار

﴿۳۵۶۳﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو وَّاَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ وَ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ. متفق عليه

هر کله چې حاکم پر حکم کولو اماده سي که اجتهاد وکړي (يعني پر معاملو باندې ډير غور او فکر وکړي) او د هغه پريکړه صحيح وي نو هغه ته به دوه برابر ثواب تر لاسه کيږي او که هغه

پوره پوره کوښښ وکړي مګر غلطي څيني وسوه نو يو برابر ثواب به تر لاسه کړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۱۸، رقم: ۷۳۵۲، رقم: ۱۵- ۱۷۱٦.

تشريح: مطلب دادئ که قاضي او حاکم د يو داسي قضيې او معاملې حکم ورکول غواړي چي د هغه په باره کي په کتاب، سنت او اسلامي فقه کي يو صريح او واضح لارښوونه نه وي او بيا هغه اجتهاد وکړي مګر د کتاب او سنت احکام او تعليمات او اسلامي فقه مسائل او د اسلامي عدالتونو په نظر کي د پوره فکر کولو څخه وروسته هغه داسي نتيجې ته ورسيږي چي د هغه په باره کي د هغه د ضمير لارښوونه دا وي چي دا به پر حق مبني وي او بيا هغه نتيجه د هغه حکم او فيصله سي نو هغه حکم او فيصله د ظاهري قانون په اعتبار بالکل صحيح منل کيږي البته د عقبی په لحاظ به د هغه دوه صورتونه وي يو خو دا که چيري په حقيقت کي هغه فيصله د کتاب او سنت د منشاء مطابق وي نو د هغه به دوه ثوابونه ورکول کيږي او که د هغه فيصله د کتاب او سنت موافق نه وي نو د هغه به يو ثواب ورکول کيږي، او همدا حکم د مجتهد هم دی که هغه د مسائلو د استنباط په وخت کي د خپل اجتهاد په نتيجه کي د کتاب او سنت منشاء ته ورسيږي نو هغه ته به دوه اجره ورکول کيږي او که چيري د کتاب او سنت و منشاء ته په رسېدو کي خطا وکړي نو يو ثواب ورکول کيږي، دا حديث دد ې خبري دليل دی چي د اسلام قاضي ته په داسي جزياتو کي د اجتهاد اختيار حاصل دی کوم چي د اسلامي قانون په ماخذ کي په صراحت سره ذکر سوی نه وي او د هغه يو حکم واضح نه وي او دا هم ثابتيږي چي مجتهد په خپل اجتهاد کي کله صحيح حکم ته ورسيږي او کله خطاء کوي يعني صحيح حکم ته ونه رسيږي مګر په هر صورت کي هغه ته اجر او ثواب ورکول کيږي.

ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادئ که د يو شي حکم او مسئله په نصوص (کتاب الله، حديث رسول الله او اجماع امت) کي د نه ذکر کېدو په وجه پر قياس باندي د عمل کولو څخه پرته بله چاره نه وي نو په دغه صورت کي پر قياس باندي عمل کول به د تحری قبله په ډول وي (لکه څرنګه چي يو سړی ته په يو وجه د قبلې معلومات نه کيږي او هغه د لمانځه پر وخت په فکر او تحری (اجتهاد) کولو سره د خپل غالب ګمان سره سم د قبلې يو خوا وټاکي او هغه خوا ته په مخ کولو سره لمونځ وکړي نو د هغه لمونځ به صحيح وي که څه هم په حقيقت کي قبله هغه خوا ته نه وي، همدارنګه پر قياس باندي عمل کونکی به صحيح عمل کونکی وي که څه هم په قياس کي د هغه څخه خطاء سوې وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د قضاء منصب یو ابتلاء ده

﴿۳۵۶۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم سړى چي د خلكو قاضي جوړ كړل سي نو هغه بې چړې حلال سو. احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة

تخريج: مسند الامام احمد ٢\ ٢٣٠، والترمذي ٣\ ٦١٤، رقم: ١٣٢٥، وابوداؤد ٤\ ٥، رقم: ٣٥٧٢، وابن ماجه ٢\ ٧٧٤، رقم: ٢٣٠٨.

تشريح: د ذبح څخه متعارف معنى (يعني د بدن هلاكت) مراد نه دى بلكه غير متعارف معنى (يعني ذهني او روحاني هلاكت) مراد دى، كوم څوك چي قاضي ټاكل كيږي هغه نه يوازي دا چي هر وخت په پريشاني او روحاني اذيت كي اخته وي بلكه هغه ته د خپل عاقبت د خرابى بېره هم وي او ظاهره ده چي په چاړه سره ذبح كېدل يوازي د يو ګړي تكليف زغمل وي حال دا چي دغه اذيت ټول عمر بلكه د هغه حسرت او پښيماني تر قيامته پوري وي.

د قاضي جوړېدو غوښتنه مه كوئ

﴿۳۵۶۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي

ابْتَغَى الْقَضَاءَ وَسَأَلَ وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَيْهِ أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مَلَكًا يُسَدِّدُهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د قضاء د عهدې غوښتونكى وي او پاچا يا خليفه څخه د هغه غوښتنه كوي هغه خپل ځان ته سپارل كيږي او چا ته چي دا منصب په زوره حواله كړل سي الله تعالى د هغه د مرستي لپاره يوه ملائكه رالېږي چي دده كارونه وربرابروي. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.

تخريج: سنن الترمذي ٣\ ٦١٤، رقم: ١٣٢٤، وابوداؤد ٤\ ٨، رقم: ٣٥٧٨، وابن ماجه ٢\ ٧٧٤، رقم: ٢٣٠٩.

جنتي او دوږخي قاضيان

﴿٣٥٦٦﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قاضيان پر دري ډوله دي چي

وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ

په هغو کي به يو جنت ته او دويم به دوږخ ته ځي جنت ته به هغه حاکم ځي چي هغه حق و پيژندئ

فَقَضَى بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ قَضَى

لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

او په حق سره يې پريکړه وکړه او چا چي حق و پيژندئ او په ظلم يې پريکړه وکړه هغه به دوږخ ته ځي او بل (دريم) هغه دی چي د خلکو په منځ کي په جهالت (ناپوهی) سره پريکړه وکړه او حق يې ونه پيژندئ هغه به هم دوږخ ته ځي. ابوداؤد او ابن ماجة

تخريج: سنن ابي داود ٤\٥١٤، رقم: ٣٥٧٣، وابن ماجه ٢\٧٧٦، رقم: ٢٣١٥.

﴿٣٥٦٧﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د مسلمانانو

قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ ثُمَّ غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ غَلَبَ

جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ. رواه ابوداؤد.

حکومت او امارت وغوښتئ او هغه ورته تر لاسه سو او بيا د هغه انصاف د هغه پر ظلم غالب سو نو هغه ته به جنت تر لاسه کيږي او د چا ظلم چي پر انصاف غالب سو د هغه لپاره دوږخ دئ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٤\٧، رقم: ٣٥٧٥.

تشريح: د ظاهري مفهوم سره سم پر ظلم باندي د عدل او پر عدل باندي د ظلم د غلبې څخه مراد دادی چي تر يو بل زيات وي او هغه دوهم هم وجود لري او حکم د غالب مطابق وي ځکه که چيري عدل او انصاف غالب سي نو جنت به تر لاسه کيږي او که ظلم غالب سي نو دوږخ به تر

لاسه كيږي مگر علماء ويلي دي چي په دواړو صورتو كي د غالب مراد دادئ چي هغه دد ې درجې وي چي د بل چا لپاره خنډ جوړ سي د مثال په توګه هغه د عدل او انصاف پر وصف دومره حاوي چي د هغه د ظلم څخه سر پورته نه کړل سي يا د هغه د ظلم خصلت دومره حاوي وي چي د هغه په مقابله كي د هغه عدل ظاهر نه سي.

قياس او اجتهاد حق دی

﴿۳۵٦۸﴾: وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَهُ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي كله هغه رسول الله ﷺ يمن ته وليږئ

إِلَى الْيَمَنِ قَالَ كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ قَالَ أَقْضِي بِكِتَابِ اللّٰهِ قَالَ

نو پوښتنه يې ځيني وکړه هر كله چي يوه معامله ستا په وړاندي راسي نو ته به څرنګه پريکړه كوې، هغه عرض وكړ د الله جل جلاله د كتاب سره سم به پريكړه كوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللّٰهِ قَالَ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

كه په كتاب الله كي هغه خبره نه وه. ده وويل د رسول الله ﷺ د سنت سره سم به پريكړه كوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل

فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا

كه د رسول الله ﷺ په سنت كي هم هغه خبره نه وه؟ هغه عرض وكړ په خپل رايه سره به هڅه كوم

آلُو فَضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي

او په اجتهاد كي به كوتاهي نه كوم، ويلي دي راوي د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ هغه پر سينه په خپل مبارك لاس وواهه او وه يې فرمايل: ټول تعريفونه هغه الله تعالى لره دي چي هغه

وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللّٰهِ لِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولَ اللّٰه . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي

د رسول الله ﷺ استاذي ته د دې امر توفيق وركړ چي د الله رسول پر هغه راضي دئ. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ٣\٦١٦، رقم: ١٣٢٧، وابوداود ١٤\١٨، رقم: ٣٥٩٢، والدارمي ١\٧٢، رقم: ١٦٨.

د لغاتو حل: آلو : ای ما اقصر . (کوتاهي نه کوم)

تشریح: زه به د خپل عقل څخه اجتهاد کوم : ددې مطلب دادئ چي زه به د هغه قضيې حکم پر هغه مسائلو باندي د قياس په ذريعه معلوموم کوم چي په نصوص يعني کتاب او سنت کي ذکر سوي دي په دې توګه چي په کتاب او سنت کي ددغه قضيې مشابه چي کوم مسائل ذکر سوي وي د هغه مطابق به د هغه قضيې حکم او فيصله کوم .

مظهر رحمة الله عليه هم ددې مطلب دا بيان کړی دی چي مخکي به زه غور او فکر کوم چي ما ته کومه قضيه وړاندي سوې ده د هغه يو حکم په کتاب او سنت کي ذکر سوی نه دی چي هغه د يو داسي مسئلې سره مشابه ده کوم چي په کتاب او سنت کي ذکر سوې ده کله چي زه د هغه دواړو په مينځ کي مشابهت پيدا کړم نو د هغه به هم هغه حکم او فيصله کوم کوم چي په کتاب الله يا سنت رسول الله کي د ذکر سوې مسئلې ده ، د مجتهدينو امامانو په نزد پر دغه قياس باندي د ډېرو مسائلو استنباط سوی دی ، دا خبره بېله ده چي هغه مجتهدين امامان د قياس په علت او بنياد کي اختلاف کړی دی د مثال په توګه د غنمو د سود حرام کېدو په باره کي نص (يعني صريح حکم دی) حال دا چي د هندوانې په باره کي داسي نص نه سته، امام شافعي رحمة الله عليه د هندوانې پر غنمو باندي قياس کولو سره ددې سود هم حرام کړی دی ځکه چي د هغه په نزد د غنمو د سود حرام کېدو علت د هغه خوړل کېدونکی شی کېدل دي او هندوانه هم خوړونکی شی دی ځکه د غنمو پر حکم باندي په قياس کولو سره د هندوانې سود هم حرام دی حال دا چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد د غنمو د سود حرام کېدو علت د هغه مکيل (يا موزون) کېدل دي ځکه هغه پر غنمو باندي چونه قياس کړه او دا مسئله يې اخذ کړه چي د چونې سود هم حرام دی .

په هر حال دغه حديث د قياس او اجتهاد پر مشروع کېدو باندي يو ټينګ دليل دئ او د صحاب ظواهر (غير مقلدين) د مذهب خلاف دی کوم چي د قياس او اجتهاد څخه منکر دي .

د مدعی عليه د بيان اورېدو پرته فيصله مه کوئ

﴿۳۵۶۹﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم زه د قضا کولو لپاره يمن ته ولېږلم ،

قَاضِيًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ

ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! تا سو ما قاضي جوړوئ زه زلمی یم او د قضا کولو علم نه لرم ،

فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ إِذَا تَقَاضٰى إِلَيْكَ رَجُلَانِ فَلَا

رسول الله ﷺ راته وفرمایل الله تعالی به ستا زړه رهنمائي کړي او ستا ژبه به ثابته ساتي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې دوه کسان په یوه معامله کې تا ته راسي

تَقْضِ لِلْاَوَّلِ حَتّٰى تَسْمَعَ كَلَامَ الْآخَرِ فَإِنَّهُ أَحْرٰى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ قَالَ

نو ته د لومړني کس یعني مدعی په حق کې تر هغه وخته پورې حکم (پریکړه) مه کوه تر څو پورې چې د دویم کس بیان وا نه ورې ، ځکه چې د مدعا علیه بیان به تا ته په حکم کولو کې مرسته درکړي ، حضرت علي ؓ وايي

فَمَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ بَعْدُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة، و سنذكر حديث ام سلمة انما قضي بينكم برايي في باب الاقضية والشهادات ان شاء الله.

ددې څخه وروسته ما په هیڅ حکم (پریکړه) کولو کې شک ونه کړ . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.او ژر دی چې د ام سلمی حدیث چې سر یې دادی (انما اقضی بینکم....) به په کتاب الاقضیة والشهادات کې راوړو انشاء الله.

تخریج: سنن الترمذي ۳\ ٦١٨، رقم: ۱۳۳۱. وابوداؤد ۴\ ۱۱، رقم: ۳۵۸۲، وابن ماجه ۲\ ۷۷۴، رقم: ۲۳۱۰.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ظالم حاکم انجام

﴿۳۵۷۰﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

مَا مِنْ حَاكِمٍ يَحْكُمُ بَيْنَ النَّاسِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَلَكٌ آخِذٌ بِقَفَاهُ ثُمَّ

هر هغه حاکم چې د خلکو په مینځ کې حکم کوي د قیامت په ورځ به په داسې حال کې راوستل سي چې یوې ملائکې به تر څټ نیولی وي

يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِنْ قَالَ أَلْقِهِ أَلْقَاهُ فِي مَهْوَاةٍ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا . رواه احمد وابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان

بيا به ملائکه د آسمان په لور وګوري که الله تعالى حکم ورکړي چي دی وغورځوه نو هغه به د دوږخ په کنده کي وغورځول سي چي د هغه ژور والی د څلوېښتو کالو لار ده . احمد، ابن ماجة او بیهقي په شعب الایمان کي

تخريج: مسند الامام احمد ١\ ٤٣٠، وابن ماجه ١٢\ ٧٧٥، رقم: ٢٣١، والبيهقي في شعب الايمان ١٦\ ٧٤، رقم: ٧٥٣٣.

د لغاتو حل: مَهواة: اى مهلكة ومسقطة. (هلاكونكى)

تشريح بيا به هغه ملائکه خپل سر آسمان ته پورته کړي : ددې څخه مراد د ملائکي هغه حالت دی چي په هغه کي به هغه د الله ﷻ د حکم په انتظار کي وي یعني څرنګه چي د پاچا په خوا کي د حاضرينو ادبونه وي چي کله هلته يو ملزم وړاندي کيږي نو پاچا پر لوړ ځای باندي ناست وي او د هغه خادم او هغه ملزم د هغه په مخکي وړاندي کوي او بیا هغه پاچا ته په نظر کولو سره ولاړ وي او دا انتظار کوي چي د پاچا او حاکم له خوا یو فیصله او حکم وسي همدارنګه هغه ملائکه د الله ﷻ په دربار کي په وړاندي کولو سره په انتظار ولاړه وي چي د هغه په دربار کي څه فيصله کيږي ، د څلوېښتو کالو څخه مراد د دوږخ د کندي د ژوروالي زياتوالی بيانول دي نه دا چي د هغه وخت ټاکل او تحديد .

په دغه حديث کي چي د کوم حاکم انجام بيان سوی دی هغه ظالم حاکم دئ د عادل او انصاف کونکي حاکم په باره کي به دا حکم کيږي چي هغه دي جنت ته ورسول سي لکه څرنګه چي په کتاب الامارة والقضاء کي د ابو امامه رضي الله عنه د روايت څخه واضحه سوې ده .

د قيامت په ورځ د قاضي افسوس ناک حشر

﴿٣٥٧١﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى الْقَاضِي الْعَدْلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَتَمَنَّى أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ فِي تَمْرَةٍ قَطُّ . رواه احمد

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : انصاف خوښونکی حاکم به د قيامت په ورځ ددې آرزو کوي چي کاش هغه د دوو کسانو په منځ کي د يوې خرما د جګړې

پريکړه هم نه واى کړي. احمد

تخريج: مسند الامام احمد ١٦\٧٥.

عادل ته د الله ﷻ توفيق حاصل وي

﴿۳۵۷۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ اللهَ مَعَ الْقَاضِي مَا لَمْ يَجُرْ فَإِذَا جَارَ تَخَلَّى عَنْهُ وَلَزِمَهُ الشَّيْطَانُ. رواه الترمذي و ابن ماجة وفي رواية فاذا جار وكله الى نفسه

ترڅو پوري چي قاضي ظلم نه کوي د هغه سره د الله تعالى توفيق او مرسته وي خو کله چي هغه ظلم را واخلي نو د الله تعالى توفيق او مرسته ځيني بيل سي او شيطان د هغه سره سي. ترمذي، ابن ماجة، او په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي کوم وخت چي هغه ظلم را واخلي نو هغه د هغه نفس ته حواله کړل سي.

تخريج: سنن الترمذي ٣\٦١٨، رقم: ١٣٣٠. سنن ابن ماجه ٢\٧٧٥، رقم: ٢٣١٣.

د لغاتو حل: تخلى: اى خذله وترک عونه. (مرسته يې پرېږدي)

﴿۳۵۷۳﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ مُسْلِمًا وَ يَهُودِيًّا اِخْتَصَمَا اِلَى عُمَرَ

د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو يهودي او يو مسلمان د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کي خپله جګړه را وړه،

فَرَأَى الْحَقَّ لِلْيَهُودِيِّ فَقَضَى لَهُ عُمَرُ بِهِ فَقَالَ لَهُ الْيَهُودِيُّ وَاللهِ لَقَدْ قَضَيْتَ

حضرت عمر رضي الله عنه د يهودي دعوا درسته وګڼل او د هغه په حق کي يې پريکړه وکړه، يهودي وويل: په الله دي مي قسم وي تاسو د حق سره سم پريکړه وکړه،

بِالْحَقِّ فَضَرَبَهُ عُمَرُ بِالدِّرَّةِ وَ قَالَ وَمَا يُدْرِيكَ فَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَاللهِ إِنَّا نَجِدُ

حضرت عمر رضي الله عنه هغه يهودي يوه دوره ووهئ او ورته وه يې ويل تا ته څنګه معلومه سوه ؟ چي پريکړه د حق سره سم وسول ، هغه عرض وکړ په الله تعالى دي مي قسم وي په تورات کي موږ

فِي التَّوْرَاةِ إِنَّهُ لَيْسَ قَاضٍ يَقْضِي بِالْحَقِّ إِلَّا كَانَ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكٌ وَعَنْ شِمَالِهِ

ليدلي دي چي کوم حاکم په حق سره پريکړه کوي د هغه راسته او چپه لوري ته دوې ملائکي وي

مَلَكٌ يُسَدِّدَانِهِ وَيُوَفِّقَانِهِ لِلْحَقِّ مَا دَامَ مَعَ الْحَقِّ فَإِذَا تَرَكَ الْحَقَّ عَرَجَا وَتَرَكَاهُ. رواه مالك

چي د هغه کارونه سموي تر څو پوري چي هغه حق پرست وي او هغه ته د حق توفيق ورکوي او هر کله چي هغه حق پرېږدي نو هغه ملائکي آسمان ته ولاړي سي او هغه پرېږدي . مالک

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۷۱۹، رقم: ۲.

تشريح: دلته يو سوال پيدا کيږي چي حضرت عمر رضي الله عنه هغه يهودي په خپل دُرې سره ولي ووهئ؟ حال دا چي هغه خو دده د فيصلي پر حق کېدو اقرار کړی وو ، او يو اشکال دا پيدا کيږي چي د حضرت عمر رضي الله عنه سوال (تا ته څرنګه معلومه سوه ...) او د يهودي جواب (موږ په تورات کي ليدلي دي...) په دې کي مطابقت څه دئ؟ د اول سوال جواب دادی چي حضرت عمر رضي الله عنه هغه يهودي د سزا يا غصې په توګه نه وو وهلی بلکه د نرمۍ او خوش طبعۍ په توګه يې وهلی وو ، او د دوهم سوال جواب دادئ چي په دې خبره د يهودي څخه زيات څوک پوهيدای سي چي په دغه تنازع کي پر حق څوک دئ ؟ که حضرت عمر رضي الله عنه د حق څخه مخ اړولی وای نو د مسلمان په حق کي به يې فيصله کړې وای او په دغه صورت کي د هغه فيصله به پر انصاف مبني نه وای او نه به د هغه پر حق باندي قائم پاته کېدل ظاهرېدلای ، کله چي هغه د مسلمان پر خلاف د يهودي په حق کي فيصله وکړه نو معلومه سوه چي حضرت عمر رضي الله عنه پر حق قائم دئ او هغه د انصاف څخه مخ اړولی نه دئ .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د قاضي کېدو څخه انکار

﴿۳۵۷۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَوْهِبٍ أَنَّ عُثْمَانَ بن عفان قَالَ لِابْنِ عُمَرَ اقْضِ بَيْنَ

د حضرت ابن موهب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عثمان رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنه ته وفرمايل :

النَّاسِ قَالَ أَوَ تُعَافِينِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ وَمَا تَكْرَهُ مِنْ ذٰلِكَ وَقَدْ كَانَ

د خلكو په منځ كي حكم كوه ، ابن عمر ورته وويل : اې امير المؤمنين ! ما ددې كار څخه معاف كړه ، حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وويل : ته دا مكروه ګڼې حال دا چي

أَبُوكَ يَقْضِي قَالَ لَانِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ

ستا پلار قضا كول، ابن عمر رضي الله عنه ورته وويل ځكه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

قَاضِيًا فَقَضَى بِالْعَدْلِ فَبِالْحَرِيِّ أَنْ يَنْقَلِبَ مِنْهُ كَفَافًا فَمَا رَاجَعَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ

څوک چي حاكم يا قاضي وي او حكم په انصاف سره وكړي نو هغه ته مناسب دي چي ددې منصب څخه وګرځي برابر ، ددې څخه وروسته عثمان رضي الله عنه په دې اړه د هغه سره څه خبره ونه كړه ،

، رواه الترمذي وَفِي رِوَايَةِ رَزِينٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيرَ

ترمذي، او د رزين په روايت كي چي د نافع څخه نقل دي دا الفاظ دي چي ابن عمر رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه ته وويل : اې

الْمُؤْمِنِينَ لَا أَقْضِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ قَالَ فَإِنَّ أَبَاكَ كَانَ يَقْضِي فَقَالَ إِنَّ أَبِي لَوْ

امير المؤمنين ! زه د دوو كسانو په منځ كي پريكړه نه سم كولاى ، حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وويل ستا پلار خو به كول، عرض يې وكړ زما پلار ته چي به

أَشْكَلَ عَلَيْهِ شَيْءٌ سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ لَوْ أَشْكَلَ عَلٰى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ شَيْءٌ

په دې اړه څه مشكل پيش سو نو د رسول الله ﷺ څخه به يې پوښتنه كول او كه مشكل به وو پر

سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَإِنِّي لَا أَجِدُ مَنْ أَسْأَلُهُ وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ

نبي كريم ﷺ يو شى نو د جبرائيل عليه السلام څخه به يې پوښتنه كول، مګر زه نه وينم داسي څوک چي پوښتنه ځيني وكړم ، او ما د رسول الله ﷺ څخه دا هم اوريدلي دي

يَقُولُ مَنْ عَاذَ بِاللّٰهِ فَقَدْ عَاذَ بِعَظِيمٍ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَنْ عَاذَ بِاللّٰهِ فَأَعِيذُوهُ

چا چي په الله تعالى سره پناه وغوښتل هغه په لوى ذات سره پناه وغوښتل او دا مي هم د رسول

الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوک چي د الله تعالی په ذريعه پناه وغواړي هغه ته پناه ورکړئ

وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ تَجْعَلَنِي قَاضِيًا فَأَعْفَاهُ وَقَالَ لاَ تُخْبِرْ أَحَدًا.

او زه د الله تعالی په ذريعه هم درڅخه پناه غواړم چي تاسو ما قاضي و ټاکئ، حضرت عثمان رضي الله عنه (پر دې خبره) ابن عمر رضي الله عنه معذور وګڼئ او وه يې فرمايل څوک ددې خبري څخه مه خبروه.

تخريج: سنن الترمذي ٣\٦١٢، رقم: ١٣٢٣.

د لغاتو حل: كفافا: اي خلاصا. (خلاصون)

==========

بَابُ رِزْقِ الْوُلاَةِ وَهَدَايَاهُمْ

(د واليانو د تنخواه او تحفو بيان)

په دغه باب کي دا بيان کيږي چي د حاکمانو او عُمالو لپاره د بيت المال څخه د تنخواه او مزدورۍ په توګه څه ټاکل کيدای سي که يا؟ او دا بيان کيږي که يو سړی د حاکم لپاره د تحفې په توګه يو شی راوړی نو ددې څه حکم دئ؟.

اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ د مال وېشل

﴿٣٥٧٥﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُعْطِيكُمْ وَلَا أَمْنَعُكُمْ أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ. رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه نه څه درکوم او نه يې درڅخه منع کولای سي زه خو يوازي قاسم (وېشونکی) يم ما ته چي کوم ځای د يو شي اېښودلو حکم راکړل سي زه هلته هغه شی رسوم. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٢١٧، رقم: ٣١١٧.

تشريح: رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په مينځ کي د مال په ويشلو سره ذکر سوی ارشاد وفرمايه چي هغوی په وېش کي د کمۍ او زياتوب په وجه په خپل زړه کي دا خيال را نه ولي.

ما اعطيكم ....: ددې مطلب دادئ چي نه خو تاسو ته درکول زما په وس کي دي او نه ستاسو محروم کول زما په اختيار کي دي که زه چا ته څه ورکوم نو د هغه مطلب دا نه دئ چي ما په خپل خواهش او خپل خوښه سره هغه ته څه ورکړي دي او يا که چا ته يې نه ورکوم نو د هغه دا مطلب نه دئ چي زما زړه هغه ته متوجه نه دی بلکه زه يوازي ويشونکی يم، زه چي څه ورکوم يا يې نه ورکوم دا ټول د الله تعالى د حکم په وجه دي چيري او چا ته چي ما ته د ورکولو حکم سوی دی هلته او هغه ته يې ورکوم او چيري او چا ته چي د نه ورکولو حکم سوی دی هلته او هغه ته يې نه ورکوم.

په قومي خزانې کي پر خيانت کونکي وعيد

﴿٣٥٧٦﴾: وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

د حضرت خوله انصاريه (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډير خلک د الله تعالى په مال کي ناحق تصرف کوي (يعني په زکوة، غنيمت او بيت المال کي) د هغوی لپاره د قيامت په ورځ د دوږخ اور دئ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢١٧، رقم: ٣١١٨.

د لغاتو حل: يتخوضون: اى يشرعون و يدخلون ويتصرفون. (تصرف پکښې کوي)

امام د بيت المال څخه تنخواه اخيستلای سي

﴿٣٥٧٧﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ قَالَ لَقَدْ عَلِمَ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ کله چي حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه خليفه سو، نو هغه

قَوْمِي أَنَّ حِرْفَتِي لَمْ تَكُنْ تَعْجِزُ عَنْ مَئُونَةِ أَهْلِي وَشُغِلْتُ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِينَ

وويل زما قوم ته څرگنده ده چي زما کاروبار زما د اهل او عيال د مصارفو لپاره کافي وو، او س زه د مسلمانانو په خدمت کي بوخت سوی يم،

فَسَيَأْكُلُ آلُ أَبِي بَكْرٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَيَحْتَرِفُ لِلْمُسْلِمِينَ فِيهِ. رواه البخاري.

له دي كبله د ابوبكر ﷺ اهل او عيال به د بيت المال څخه خوري او ابوبكر به د مسلمانانو لپاره په هغه مال كي كار كوي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۳۰۳، رقم: ۲۰۷۰.

تشريح: حضرت ابوبكر صديق ﷺ په بازار كي د ټوكرانو تجارت كوى او د هغه په ذريعه به يې د خپل كورنۍ مصرف پوره كوى مګر كله چي مسلمانانو هغه د خلافت پر منصب باندي وټاكى نو هغه صحابه كرامو ته خبر وركړ چي زه اوس خپل كاروبار نه سم كولاى نو د خپل ځان او كورنۍ د مصرف په اندازه دبيت المال څخه به تنخواه اخلم.

د صحابه كرامو (رضی الله عنهم) تجارتونه

د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په باره كي خو معلومه سوه چي هغه به د ټوكرانو تجارت كوئ، همدارنګه حضرت عمر فاروق ﷺ به د غلې تجارت كوى، حضرت عثمان ﷺ به خرماوو او ټوكرانو كاروبار كوى او حضرت عباس ﷺ عطاري كول.

علماء كرامو ليكلي دي چي د تجارت په اقسامو كي تر ټولو غوره تجارت د ټوكرانو دى او بيا د عطرو دئ، په حديث شريف كي راغلي دي كه جنتيانو تجارت كولاى نو د ټوكرانو تجارت به يې كولاى او كه دوږخيانو تجارت كولاى نو يوازي د سرو او سپينو زرو تجارت به يې كولاى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

تر تنخواه زيات اخيستل خيانت دى

﴿۳۵۷۸﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ. رواه ابوداؤد

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي موږ پر يو كار و ټاكو او هغه ته ددغه كار تنخواه و ټاكل سي، ددې څخه وروسته كه هغه د بيت المال څخه څه واخلي نو دا خيانت دئ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۵۳، رقم: ۲۹۴۳.

د لغاتو حل: الغلول: الخيانة في الغنيمة وفي حال الفئ: (د غنيمت په مال كي خيانت كول).

د حاکم اجرت

﴿۳۵۷۹﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَمَّلَنِي . رواه ابوداؤد .

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه عامل جوړ کړم او د هغه اجرت ما ته راکړل سو . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۵۳، رقم: ۲۹۴۴.

حضرت معاذ رضی الله عنه ته هدايت

﴿۳۵۸۰﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ

د حضرت معاذ رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه يمن ته وليږلم ،

فَلَمَّا سِرْتُ أَرْسَلَ فِي أَثَرِي فَرُدِدْتُ فَقَالَ أَتَدْرِي لِمَ بَعَثْتُ إِلَيْكَ لَا تُصِيبَنَّ

کله چي زه روان سوم نو په ما پسي يې يو سړی راوليږئ ، کله چي زه بيرته راغلم نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : تا ته څرګنده ده چي ما ته ولي دويم وار رابللی يې، ته زما د اجازې څخه پرته

شَيْئًا بِغَيْرِ إِذْنِي فَإِنَّهُ غُلُولٌ { وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ } لِهَذَا دَعَوْتُكَ فَامْضِ لِعَمَلِكَ . رواه الترمذي .

يو شی وانه خلې (ځکه چي) داسي اخيستل خيانت دئ او څوک چي خيانت وکړي د قيامت په ورځ به د هغه شي سره راسي په کوم کي چي يې خيانت کړی دئ نو ما ته ددې لپاره رابللی يې اوس ته په خپل کار پسيځه . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۳\۶۲۱، رقم: ۱۳۳۵.

د بيله تنخواه حاکم د مصارفو بيت المال کفيل وي

﴿۳۵۸۱﴾: وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مستورد بن شداد رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُولُ مَنْ كَانَ لَنَا عَامِلًا فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ خَادِمٌ فَلْيَكْتَسِبْ

چي فرمايل يې: څوک چي زموږ حاکم سو هغه ته پکار دي که د هغه سره ښځه نه وي نو يوه ښځه دي تر لاسه کړي او که خادم يې نه وي نو

خَادِمًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَسْكَنٌ فَلْيَكْتَسِبْ مَسْكَنًا وفي رواية مَنِ اتَّخَذَ غَيْرَ ذَلِكَ فَهُوَ غَالٌّ . رواه ابوداؤد

يو خادم دي رانيسي او که کور يې نه وي نو يو کور دي رانيسي (دا په هغه صورت کي چي د حاکم تنخواه تياکل سوې نه وي) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ددې څخه پرته څه اخلي نو هغه په خيانت کي داخل دي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۵۴، رقم: ۲۹۴۵.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي عامل (حکومتي کارکونکي) ته دا حق حاصل دی چي هغه د بيت المال څخه د خپل ښځي مهر، د هغې نفقه او جامه د اړتيا په اندازه واخلي همدارنګه هغه د خپل هستوګني د ضروريا تو مطابق يو سرای او د خدمت لپاره د خادم د قيمت او مزدورۍ په اندازه د بيت المال څخه اخيستلای سي مګر که چيري هغه د ضرورت او حاجت څخه زيات واخلي نو د هغه لپاره به حرام وي.

په ښکاره خو دا معلوميږي چي دا حکم په هغه صورت کي دئ کله چي د هغه عامل لپاره تنخواه او مزدوري تياکل سوې نه وي او بيت المال د هغه د ذکر سوو اړتياوو کفيل وي.

په بيت المال کي خيانت مه کوئ

﴿۳۵۸۲﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا

د حضرت عدي بن عمير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عُمِّلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِنْهُ مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ فَهُوَ

اې خلکو ! څوک چي په تاسو کي د يو کار حاکم وټاکل سي او هغه زموږ څخه ددې کار د آمدني څخه د ستني په اندازه يا ددې څخه زيات پټ کړي نو هغه

غُلٌّ يَأْتِي بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اقْبَلْ

خيانت كونكى دئ او د قيامت په ورځ به هغه د خيانت كړل سوي شي سره راوستل سي، يو انصاري ولاړ سو او وه يې ويل اې د الله رسوله! خپل كار زما څخه بيرته واخلئ،

عَنِّي عَمَلَكَ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ سَمِعْتُكَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا قَالَ وَأَنَا أَقُولُ ذٰلِكَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: ولي، ده وويل چي ما ستاسو څخه داسي او داسي اوريدلي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه اوس هم دا وايم

مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلٰى عَمَلٍ فَلْيَأْتِ بِقَلِيلِهٖ وَكَثِيرِهٖ فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَهُ وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهٰى. رواه مسلم وابوداؤد واللفظ له.

چي څوک موږ پر يو كار حاكم وټاكو هغه دي د هغه د آمدني جز او كل (لږ او ډير) هر څه راوړي او د هغه څخه چي څومره وركړل سي هغه دي واخلي او څه چي ور نه كړل سي د هغه څخه دي منع سي. مسلم او ابوداؤد

تخريج: صحيح مسلم ١٤٦٥\٣، رقم: ٣٠-١٨٣٣، وابوداود ١٠\١٤-١١، رقم: ٣٥٨١.

پر رشوت وركونكي او اخيستونكي لعنت

﴿٣٥٨٣﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ لعنت ويلى دئ

الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي. رواه ابوداؤد وابن ماجة وروى الترمذي عنه وعن ابي

پر رشوت اخيستونكى او رشوت وركونكي دواړو باندي. ابوداؤد او ابن ماجة، او ترمذي د

هريرة و رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان عن ثوبان و زاد والرائش يعني الذي يمشي بينهما.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه او ابوهريرة څخه او احمد هم روايت كړى دئ او بيهقي په شعب الايمان كي د حضرت ثوبان څخه روايت كړى دئ، د بيهقي په روايت كي دا الفاظ هم دي چي

رائش باندي هم لعنت فرمايلی دئ يعني پر هغه سړي چي د رشوت اخيستونکی او رشوت ورکونکی په منځ کي واسطه وي.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۹–۱۰، رقم: ۳۵۸۰، وابن ماجه ۲\۷۷۵، رقم: ۲۳۱۳.

تشريح: رشوت هغه مال ته وايي چي حاکم، عامل يا بل چا ته ددې لپاره ورکړل سي چي هغه حق باطل او باطل حق کړي مګر که چيري هغه د خپل مال ثابتولو يا پر خپل ځان باندي د کيدونکي دفعي لپاره څه ورکړي نو په دې کي پروا نه سته.

حلاله ګټه يو ډېر ښه شی دی

﴿۳۵۸۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عمرو بن عاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته خبر راوليږئ چي

وَسَلَّمَ أَنِ اجْمَعْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ وَثِيَابَكَ ثُمَّ ائْتِنِيْ قَالَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ

د خپلي وسلې او جامو سره ما ته راسه، نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، رسول الله ﷺ اودس کوئ چي زه يې وليدم

فَقَالَ يَا عَمْرُو إِنِّيْ أَرْسَلْتُ إِلَيْكَ لِأَبْعَثَكَ فِيْ وَجْهٍ يُسَلِّمُكَ اللهُ وَيُغَنِّمُكَ

نو وه يې فرمايل: اې عمرو! ما ته ددې لپاره رابللی يې چي زه تا يو خوا ته وليږم، الله تعالی به تا سلامت لري او مال غنيمت به درکړي،

وَأَزْعَبُ لَكَ زَعْبَةً مِّنَ الْمَالِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا كَانَتْ هِجْرَتِيْ لِلْمَالِ وَمَا

او په مال کي به يوه برخه تا ته درکړم، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! زما هجرت د مال د خواهش لپاره نه وو

كَانَتْ إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ قَالَ نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ. رواه في شرح

بلکه زما هجرت يوازي د الله تعالی او د هغه د رسول لپاره وو، رسول الله ﷺ وفرمايل: نيک بخت سړي لپاره ښه مال ښه شی دئ. په شرح السنة کي

السنة وروى أحمد نحوه وفي روايته قَالَ نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ

داسي روايت دئ او احمد هم داسي روايت کړی دئ خو د هغه په روايت کي دا الفاظ دي : پاک مال د صالح سړي لپاره ډير ښه دئ

تخريج: مسند الامام احمد ۱۹۷\۴، والبغوي في شرح السنة ۹۱\۱۰، رقم: ۲۴۹۵.

د لغاتو حل: ازعب: اي اقطع وادفع. (درکوم).

تشريح: حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه په پنځم هجري کال کي اسلام قبول کړ او د حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه په ملګرتيا کي يې د حبشې څخه مديني منورې ته هجرت وکړ ، ځيني حضرات وايي چي هغه په اتم هجري کال کي اسلام قبول کړی دی ، رسول الله ﷺ هغه د عمان حاکم ټاکلی وو ، اغلب داده چي د دغه روايت تعلق د هغه وخت سره دی کله چي هغه د حاکم او عامل په توګه عمان ته استول سوی وو .

ښه مال هغه دی چي په حلاله ذريعه سره ګټل سوی وي او په نيکو ځايو او نيکو مصرفو کي خرڅ کړل سي او نيک بخته سړی هغه دی چي د الله تعالی حقوق هم ادا کړي او د بندګانو حقوق هم ادا کړي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

سفارش کونکي دي تحفه نه قبلوي

﴿۳۵۸۵﴾: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَفَعَ لِأَحَدٍ شَفَاعَةٍ فَأَهْدَى لَهُ هَدِيَّةً عَلَيْهَا فَقَبِلَهَا فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو مامة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي يو حاکم يا امير ته د يو چا سفارش وکړي او هغه هغه حاکم ته تحفه وليږي او هغه تحفه قبوله کړي نو د هغه دا کار داسي دئ لکه چي هغه د سود پر يوه لويه دروازه داخل سو . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۸۱۰\۱۳، رقم: ۳۵۴۱.

=======

بَابُ الْاَقْضِيَةِ وَالشَّهَادَاتِ

(د دعوو او شهادتونو بيان)

قضيه هغه جنجالي معاملې ته وايي چي حاکم او قاضي ته ددې لپاره وړاندي سي چي هغه د د دواړو په مينځ کي يو حکم او فيصله وکړي، او شهادت شاهدي ورکولو ته وايي او د شاهدي مطلب دادی چي په دوو ډلو کي د يوې ډلي په مقابل کي د دوهمي ډلي د حق اقرار او اثبات وکړي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مدعی دعوه بېله شاهدانو معتبره نه ده

﴿۳۵۸۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ يُعْطَى النَّاسُ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که خلکو ته صرف په

بِدَعْوَاهُمْ لَادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ وَلٰكِنَّ الْيَمِيْنَ عَلَى الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ

دعوا د هغوی مدعا ورکړل سي نو ډير خلک به د خپلو خلکو دويني او مال دعوا وکړي مګر قسم پر مدعا عليه دئ.

رواه مسلم و في شرحه للنوي انه قال و جاء في رواية البيهقي باسناد حسن او صحيح زيادة عن ابن عباس مرفوعا لكن البينة على المدعى واليمين على من انكر.

مسلم او د بيهقي په حواله د نووي په روايت کي دا الفاظ دي چي د مدعٰی پر ذمه شاهدان دي او څوک چي انکار وکړي پر هغه قسم دئ.

تخريج صحيح مسلم ۱۳۳۶/۳، رقم: ۱-۱۷۱۱.

تشريح مګر قسم کول د مدعا عليه حق دئ: ددې مطلب دادئ چي فريق دوم يعني مد عا عليه د فريق اول يعني مدعی د دعوا څخه انکار وکړي او د مدعی څخه د قسم غوښتنه وکړي نو پر

مدعا عليه باندي قسم كول ضروري دي ، د مسلم په روايت كي د مدعى څخه د قسم غوښتني ذكر څكه ونه كړل سو چي د مدعى د شاهد وړاندي كولو ذمه دار كېدل د شريعت ثابت سوې او بالكل ظاهري ثبوت دئ په دې اعتبار دا فرمايل سوي دي چي د شاهد وړاندي كولو ذمه داري پر مدعى ده كه مدعى شاهد وړاندي نه كړي نو بيا مدعا عليه د قسم او انكار په ذريعه د خپل صفائي كولو حق لري، همدا مفهوم د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د دوهم روايت څخه ظاهرېږي .

په عدالت كي د دروا غو قسم اخيستل

﴿۳۵۸۷﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ وَهُوَ فِيْهَا فَاجِرٌ تَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللّٰهَ

د يو شي پر مقيد كېدو باندي د دروا غو قسم واخلي او هغه خپل په قسم كي دروا غجن وي چي په هغه سره د يو مسلمان مال تر لاسه كړي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى تَصْدِيْقَ ذَالِكَ {إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا} إِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ . متفق عليه

نو هغه به د قيامت په ورځ د الله تعالى سره په داسي حال كي ملاقات وكړي چي الله تعالى به ډېر غضبناک وي ، الله تعالى د دې تصديق دا آيت نازل كړی دئ : (ان الذين يشترون..) . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۲۱۳، رقم: ۴۵۴۹، ومسلم ۱\ ۱۲۲، رقم: ۲۲۰– ۱۳۸.

تشريح پوره آيت او د هغه ترجمه داسي ده :

إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا أُولَئِكَ لاَ خَلاَقَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ. سورة آل عمران ۷۷

ژباړه : بېشكه كوم كسان چي د هغه عهد په مقابله كي چي د الله تعالى سره هغوى كړی دی او د خپلو قسمونو په مقابله كي حقيره معاوضه اخلي داسي خلكو ته به هيڅ برخه (د هغه ځای د نعمتونو) نه تر لاسه كيږي او د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغوى سره (د مهربانۍ) خبري ونه كړي او نه به هغوى ته د رحمت په نظر وګوري او نه به د هغوى د ګناهو په معافولو سره هغوى

پاک کړي او د هغوی لپاره به دردناک عذاب وي.

د حديث په عبارت (من حلف على يمين صبر) کي د صبر لغوي معنی د حبس، منع کول دي او د يمين صبر څخه مراد دادئ چي پاچا يا حاکم دي يو سړی تر هغه وخته پوري محبوس کوي تر څو چي هغه قسم ونه کړي په دغه صورت کي د مسلمان حاکم په اطاعت کي پر هغه سړي قسم کول لازم دي، په على يمين صبر کي على د حرف باء په معنی کي دئ او دد ې څخه مراد محلوف عليه دئ.

ځيني حضرات وايي چي يمين صبر دادئ چي پر يو شي باندي قسم کونکی د دغه مقصد په قصد سره غلط بيانوي چي د يو مسلمان مال تلف کړي يا هغه هضم کړي، وهو فيها فاجر: او هغه په خپل قسم کي دروغجن وي، د دغه الفاظو څخه د دغه مفهوم ته ترجيح حاصليږي.

﴿۳۵۸۸﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَطَعَ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په قسم

حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ فَقَالَ

اخيستلو سره د يو مسلمان حق خوري د هغه لپاره الله تعالى دوږخ واجب کړ او پر هغه يې جنت حرام کړ، يو سړي عرض وکړ

لَهُ رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ وَإِنْ كَانَ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ.

رواه مسلم

اې د الله جل جلاله رسوله! که څه هم هغه يو معمولي شی وي، رسول الله ﷺ وفرمايل: که څه هم د اراک (يو ډول درخته) د درختي يو لرګي وي. مسلم

تخريج صحيح مسلم ١\ ١٢٢، رقم: ٢١٨- ١٣٧.

تشريح الله جل جلاله د هغه لپاره اور واجب کړ: د دغه جملې دوه تاويلونه دي: ۱: يو خو دا چي دغه حکم پر هغه چا باندي محمول دئ چي د دروغو د قسم په ذريعه د يو مسلمان حق غصب کول حلال وګڼي او پر دغه عقيده هغه ته مرګ راسي، ۲: دوهم تاويل دادئ چي داسي سړی که څه هم د دوږخ د اور يقينا حقدار دئ مګر دا هم ليري نه ده چي الله تعالى يې په خپل فضل او کرم سره معاف کړي.

جنت يې پر هغه حرام کړ: دد ې تاويل هم دادئ چي داسي سړی به په اول وار په خلاصون

تر لاسه کونکو خلکو کي جنت ته د داخلېدو څخه محروم سي.

څرګنده دي وي چي څرنګه د دروا غو د قسم په ذريعه د يو مسلمان حق خوړونکي په باره کي ذکر سوی وعيد دئ همدارنګه هغه سړی هم په دغه وعيد کي شامل دئ چي د درواغو د قسم په ذريعه د يو ذمي حق خوري.

مدعی ته يوه لارښوونه

﴿٣٥٨٩﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا اَنَا

د حضرت ام سلمة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ببله شکه زه يو

بَشَرٌ وَّ إِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ اَنْ يَّكُونَ اَلْحَنُ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ

انسان يم او تاسو خپلي جګړې ما ته راوړئ، کيدای سي چي په تاسو کي څوک داسي وي چي په دليل سره ژبه وروي پر ځينو ستاسو

فَأَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ مِنْهُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَلَا يَأْخُذَنَّهُ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ. متفق عليه

او زه پر هغه بيان چي اورم حکم ورکوم چي د هغه په حق کي زه پريکړه وکړم او په حقيقت کي هغه شی چي د هغه پريکړه سوی وي د هغه د ورور وي نو هغه دي نه اخلي په داسي صورت کي لکه زه د هغه لپاره چي د دوږخ د اور يو ټوټه فيصله کوم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٣٣٩، رقم: ٦٩٦٧، ومسلم ١٣٣٧\١٣، رقم: ٤-١٧١٣.

تشريح: زه يو انسان يم : ددغه جملې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي سهوه او نسيان د يو انسان څخه ليري خبره نه ده او د انسان فطرت او د وضع بشري تقاضا داده چي هغه د يو معاملې يوازي يو اړخ ويني چي په ظاهري توګه څرګند وي او د هغه متعلق هغه خبره قبوله کړي چي د يو ښکاره دليل په صورت کي د هغه مخته راسي او زه هم يو انسان يم او په دې حيثيت سره هغه ټول احکام او عوارض ما ته هم پيښيږي کوم چي د بشريت خاصه ده او د هغو تعلق د انساني جبلت سره دی نو په کومو معاملاتو کي چي ما ته د وحي په ذريعه د حقيقت قوت راکول کيږي او د الله تعالی له خوا ما ته تعليم او هدايت کيږي ددې څخه ماسوا په نورو چارو کي زه د هغه ضابطو او قواعدو مطابق عمل کوم کوم چي د هغه بنياد پر انساني عمل او

بشري تقاضا باندي وي ، کله چي ما ته يو قضيه راسي نو زه د هغه د ظاهري اړخونو سره سم فيصله کوم ، که چيري مدعی په خپل دلائلو ، شاهدانو او بيان سره زما مخته دا ثابته کړي چي د هغه دعوه صحيح ده او هغه چي د کوم شي غوښتنه کړې ده هغه د هغه حق دی نو زه د هغه په حق کي فيصله کوم کوم چي د ظاهري حکم تقاضا ده اوس د دې ځخه وروسته مدعی پوه سي که په حقيقت کي د هغه دعوه صحيح وي او د کوم شي چي هغه غوښتنه کړې ده هغه د هغه حق دی نو هغه دي خپل مراد تر لاسه کړي مګر که چيري په حقيقت کي د هغه دعوه صحيح نه وي او د کوم شي چي هغه غوښتنه کړې ده هغه د هغه حق نه وي بلکه د بل چا حق وي او ما د هغه د ظاهري دلائلو او ثبوت په وجه دا وګڼل چي د هغه دعوه صحيح ده او د هغه مدعا مي هغه ته ورکړل نو هغه بايد چي هغه شی په خپل حق کي حلال و نه ګڼي بلکه په دې دي پوه سي چي هغه د اور يوه ټوټه ده چي ور ته تر لاسه سوې ده د دې ځخه دي ځان وساتل سي .

په ناحقه دعوه کونکی

﴿۳۵۹۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللّٰهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ . متفق عليه.

د حضرت عائشې رضي الله عنها ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی په نزد بدترين او مبغوض ترين کس هغه دئ چي پر ناحقه زيات جګړه کونکی وي . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠٦\٥، رقم: ٢٤٥٧، ومسلم ٤\٢٠٥٤، رقم: ٥- ٢٦٦٨.

د لغاتو حل: الالد : ای الشديد الخصومة (سخت دښمني کوونکی)

ايا مدعی په يوه شاهد او قسم سره دعوه ثابتولای سي

﴿۳۵۹۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په يوه معامله کي حکم کړی وو په قسم او شاهد سره . مسلم.

تخريج صحيح مسلم ٣\١٣٣٧، رقم: ٣- ١٧١٢.

تشریح د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي که مدعی د خپل دعوې په ثبوت کي يوازي يو شاهد وړاندي کړي نو د هغه مدعی څخه دي د دوهم شاهد په بدله کي يو قسم واخيستل سي او هغه قسم د يوه شاهد قائم مقام دی او د هغه دعوه دي ومنل سي ، د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهم دا مذهب دی، مګر امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي پر يوه شاهد اويوه قسم باندي فيصله کول جائز نه دي بلکه د دوو شاهدانو کېدل ضروري دي لکه څرنګه چي د قرآن کريم څخه ثابته ده او د قرآن کريم حکم د خبر واحد په ذريعه منسوخ کول جائز نه دي ځکه د دغه روايت په وجه يو داسي مذهب صحيح کېدای نه سي کوم چي د قرآن کريم د حکم خلاف وي حال دا چي د دغه روايت په باره کي دا احتمال هم دی چي کله مدعی د خپل دعوې په اخيستو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وي او هغه د خپل دعوې په ثبوت کي يوازي يو شاهد وړاندي کړی وي نو هغه د خپل شهادت تکميل ونه کړای سو او رسول الله ﷺ يوازي د يوه شاهد د وجود اعتبار ونه کړ ځکه مدعا عليه ته يې د قسم کولو حکم وکړ او د مدعا عليه د قسم کولو څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه فيصله وکړه او راوي پر يوه شاهد او يوه قسم باندي د فيصلې کولو تعبير وکړ.

علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي د امامانو اختلاف هم په هغه صورت کي دی کله چي د قضيې تعلق د يو مالي دعوې سره وي که چيري د دعوې تعلق د مال څخه ماسوا د بلي معاملې سره وي نو په هغه صورت کي په اتفاق سره د ټولو امامانو مذهب دادی چي شاهد او قسم (يعني د مدعا) له خوا د مثال په توګه د يوه شاهد په وړاندي کولو او د يوه قسم په کولو سره اعتبار ونه کړل سي.

د مدعی عليه د قسم اعتبار

﴿٣٥٩٢﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ

علقمه بن وائل د خپل پلار څخه روايت کوي چي يو سړی د حضر موت (په يمن کي يو ښار)

وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ يَا رَسُولَ

او سيدونکی وو او يو سړی د کنده قبيلې وو، دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول، حضرمي عرض وکړ اې د الله رسوله!

اللهِ إِنَّ هَذَا قَدْ غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي فَقَالَ الْكِنْدِيُّ هِيَ أَرْضِي فِي يَدِي لَيْسَ

دغه سړي زما مځکه غصب کړې، کندي عرض وکړ هغه زما مځکه ده او زما په قبضه کې ده پر

لَهُ فِيهَا حَقٌّ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيّ أَلَكَ بَيِّنَةٌ قَالَ لَا

هغې د ده هيڅ حق نسته، نبي کريم ﷺ حضرمي ته وفرمايل: ستا شاهدان شته، هغه عرض وکړ

قَالَ فَلَكَ يَمِينُهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي عَلَى مَا حَلَفَ

چې يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل نو اوس د مدعا عليه قسم ستا لپاره بس دئ، حضرمي عرض وکړ اې دالله رسوله! دی خو يو فاجر سړی دئ د قسم پروا نه لري،

عَلَيْهِ وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذٰلِكَ فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ

او د هيڅ شي څخه پرهيز نه کوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا لپاره د ده څخه يوازې قسم اخيستل کيدلای شي، نو کندي د قسم اخيستلو لپاره را مخته سو،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَدْبَرَ لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا لَيَلْقَيَنَّ اللّٰهَ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ وفرمايل: که دا سړی د بل پر مال قسم واخلي يوازې له دې کبله چې په زوره د هغه مال هضم کړي نو دی به د الله تعالی سره په داسې حال کې يو ځای کيږي چې الله تعالی به ځيني بيزاره وي. مسلم

تخريج صحيح مسلم: ١٢٣/١، رقم: ٢٢٣-١٣٩.

تشريح هغه سړی د قسم لپاره روان سو: دلته دا امکان دی چې د هغه تلل په دې اعتبار وي لکه څرنګه چې د شافعيه په نزد دا مسئله ده چې قسم کونکی به اول اودس کوي او بيا په يو خاص وخت کې د جمعې په ورځ د مازديګر د لمانځه وروسته به قسم اخلي او دا احتمال هم دی چې هغه د مدعی له خوا په شاګرځولو سره رسول الله ﷺ ته روان سوی وي چې رسول الله ﷺ ته په رسيدو سره قسم وکړي، امام نووي رحمه الله وايي چې د دغه حديث څخه څو مسئلې راوځي يو خو دا چې په داسې قضيه کې د هغه پردې څخه قبضې والا غوره دی کوم چې د هغه څخه پر يو شي باندې دعوه وکړي.

دوهم دا چې پر مدعا عليه باندې قسم کول لازم دي کله چې هغه د مدعی دعوه ونه مني.

او دريم دا چي د فاجر مدعاعليه قسم هم داسي ومنل سي لكه څرنگه چي د عادل مدعاعليه قسم منل كيږي او د هغه قسم كولو په وجه د هغه څخه دمدعى غوښتنه ساقط كيږي مگر دادي واضحه وي كه په عدالت كي د ريښتوني شاهدي څخه د مدعا عليه قسم دروغ معلوم سي نو بيا د هغه قسم به كالعدم گرځول كيږي.

د درواغو دعوه كونكي ځاى دوږخ دى

﴿۳۵۹۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: څوک چي د يو داسي شى دعوه وكړي چي د هغه نه وي نو هغه زموږ څخه نه دئ هغه ته پكار ده چي خپل ځاى په جهنم كي ولټوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۷۹- ۸۰، رقم: ۱۱۲- ۶۱.

غوره شاهد څوک دى

﴿۳۵۹۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا. رواه مسلم

د حضرت زيد بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو نه خبرومه په غوره د شاهدانو باندي، غوره شاهد هغه دى چي د غوښتلو څخه وړاندي شاهدي وركړي او حقه خبره وكړي. مسلم

تخريج صحيح مسلم ۳\ ۱۳۴۴، رقم: ۱۹- ۱۷۱۹.

تشريح مطلب دادى چي شاهد په اصل كي د بيان حقيقت دوهم نوم دى او حقيقت بيانول او پر درخواست باندي موقوف كول غير موزون خبره ده نو غوره شاهد هغه دى چي د شاهدي غوښتلو څخه مخكي د هغه څخه پوښتنه وكړل سي چي ايا ته شاهد يې او ايا ته شاهدي وركول غواړې نو هغه دي خپله شاهدي وركړي او همدارنگه د حق ظاهرولو ذمه داري دي پوره كړي.

بېله غوښتني شاهدي ورکول پکار دي که یا ؟

مګر ددې برعکس په یو بل حدیث کي د هغه خلکو بدي بیان سوې ده چي بېله غوښتني شاهدي ورکړي ، د حنفي مذهب لاربښوونه داده چي تر څو پوري شاهدي ونه غوښتل سي تر هغه وخته دي شاهدي نه ورکول کیږي ، د شاهدي غوښتلو څخه وروسته شاهدي ورکول واجب دي او په حدودو کي شاهدي پټول غوره دي .

او کوم چي د ذکر سوي روایت تعلق دی چي د هغه څخه بېله غوښتني د شاهدي ورکونکي غوره شاهد کېدل ثابتیږي نو د هغه په باره کي د حنفیه له خوا دوه تاویلونه کیږي یو خو دا چي دغه ارشاد پر هغه سړي باندي محمول دی چي د چا په حق کي شاهد وي مګر مدعی ته د هغه د شاهد کېدو خبر نه وي نو هغه باید چي هغه مدعی ته وښيي چي زه په دغه قضیه کي ستا شاهد یم .
دوهم تاویل دادی چي ددغه حدیث تعلق د الله تعالی په حقوقو کي د شاهدي ورکولو سره دی لکه زکوة، کفاره، د میاشتي لېدل، وصیت او داسي نورو شیان، نو کوم څوک چي په دغه شیانو کي د یو شي شاهدي ورکړي د مثال په توګه هغه میاشت لیدلې وي نو هغه باید حاکم او قاضي ته حاضر سي او شاهدي ورکړي .

ددغه دواړو تاویلو څخه ماسوا یوه خبره دا هم ویل کیږي چي ددغه ارشاد حکم د مبالغې په توګه دی چي کوم څوک په یو قضیه کي د شاهد حیثیت ولري او د هغه څخه شاهدي طلب سوې وي نو د هغه د شاهدي څخه وروسته هغه باید د شاهدي ورکولو خپله ذمه داري ژر تر ژره پوره کړي او بېله غوښتني د شاهدي ورکولو چي کومه بدي نقل سوې ده هغه ددې پر عکس باندي محمول ده .

د درواغو شاهدي ورکونکي په اړه یو پیشګوئي

﴿۳۵۹۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د غوره

النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ . متفق علیه

خلکو زما زمانه ده بیا هغه خلک چي د هغوی سره پیوست دي او ددې څخه وروسته هغه خلک

چې د هغوی سره پیوست دي ، بیا به داسي خلک پیدا سي چې د قسم څخه وړاندي به شاهدي ورکوي او د شاهدي څخه وړاندي به قسم خوري . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٣١٧/٧، رقم: ٣٦٥١، ومسلم ١٩٦٣/١٤، رقم: ٢١٢- ٢٥٣٣.

تشريح شاهدي به د قسم څخه مخکي او قسم به د شاهدي څخه مخکي وي : ددې څخه په شاهدي او قسم کي تلوار او زیاتوب کول د کنایې په توګه بیانول مقصد دي چې هغه به د تلوار او زیاتوب په وجه په شاهدي ورکولو او قسم کولو کي دومره بې پرواه وي چې کله به د شاهدي څخه مخکي قسم اخلي او کله به مخکي شاهدي ورکوي او بیا به قسم کوي .

مظهر رحمة الله عليه ویلي دي په شاهدي او قسم کي د تیزۍ او تلوار جمله د مثال په توګه ده یعني هغه به په شاهدي ورکولو او قسم کولو کي دومره تیزي او تلوار کوي چې نه خو به هغه ته د دین څه پرواه وي او نه به په هغه شیانو کي څه پروا کوي تر دې چې هغه ته به دا هم معلومه نه وي چې اول قسم وکړي او که شاهدي ورکړي .

ځیني حضرات وایي چې دغه ارشاد په اصل کي د دروغو شاهدي او د دروغو قسم د عام کېدو په توګه دی چې یوه داسي زمانه به راسي چې په هغه کي به خلک شاهدي ورکول خپل کسب جوړ کړي او د دروغو قسم کول به د هغوی تکیه کلام سي لکه څرنګه چې نن سبا په عامه توګه رواج دی چې کسب ګر شاهدان په عدالتو کي د دروغو شاهدي ورکوي او هغوی ته ددې هیڅ احساس هم نه وي چې هغوی د یو څو روپو په وجه د دروغو په قسم کولو او د دروغو په شاهدي ورکولو سره خپل آخرت برباد وي .

ځیني حضرات وایي چې ددغه جملې معنی داده چې هغه سړی کله خو د قسم په ذریعه خپل شاهدي ته رواج ورکوي یعني په دې ویلو سره ګرځي چې قسم په خدای زه رینښتونی یم او کله د شاهدي په ذریعه خپله قسم ته رواج ورکوي یعني په دې اعلان کولو سره ګرځي راګرځي چې خلک زما د قسم پر رینښتیا کېدو باندي شاهد دي .

د قسم لپاره د قرعه اندازۍ ذکر

﴿٣٥٩٦﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَ عَلَى قَوْمٍ الْيَمِينَ فَأَسْرَعُوا فَأَمَرَ أَنْ يُسْهَمَ بَيْنَهُمْ فِي الْيَمِينِ أَيُّهُمْ يَحْلِفُ . رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د یوې ډلي په وړاندي د قسم

اخيستلو تجويز وكړ نو هغوی په قسم خوړلو كي تلوار وكړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوی په مينځ كي دي سهم (هسكه، پچه) واچول سي چي په هغوی كي كوم يو اول قسم واخلي. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۸۵، رقم: ۲۶۷۴.

تشريح د عبارت د ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي چي يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت كي د ځينو خلكو پر خلاف دعوه وكړل او هغه خلكو د دعوې صحيح كېدو څخه انكار وكړ، رسول الله ﷺ هغه خلكو ته د قسم كولو حكم وركړ او هغوی په قسم كولو كي تلوار وكړ يعني هر سړی د قسم كولو لپاره تيار وو، رسول الله ﷺ هغوی ته قسم ور نه كړ بلكه دا حكم يې وكړ چي تاسو په خپل مينځ كي قرعه اندازي وكړي، په قرعه (پچه) كي چي د چا نوم راووځي هغه دي
قسم وكړي.

شارحينو د دغه مسئلې صورت دا ليكلی دی چي د مثال په توګه دوو كسانو د يو داسي شي دعوه وكړه چي هغه د دريم كس سره دی او په هغه دواړو كي هر سړی وايي چي هغه شی زما دی مګر په هغه دواړو كي د يوه شاهد هم نه وي يا دا چي د دواړو شاهدان وي مګر هغه دريم سړی وايي چي ما ته معلومه نه ده چي دا شی د چا دی نو په دغه صورت كي د دواړو په باره كي حكم دادی چي د هغوی په مينځ كي دي قرعه (پچه) وكړل سي او د چا د نامه قرعه چي راووځي نو هغه شی دي هغه سړي ته حواله كړل سي، پاته سوه دا خبره چي په دغه صورت كي د قسم كولو ذمه داري پر مدعی عائد كيږي حال دا چي قسم مدعاعليه ته كول پكار دي، په ظاهره مدعی ته قسم وركول په دې اعتبار دي چي په هغه دواړو كي هر يو د بل د حق منكر دی او قاعده داده چي (واليمين علی من انكر) يعني قسم هغه چا ته وركول پكار دي كوم چي منكر وي.

په هر حال ذكر سوي دواړه صورتونه د حديث د ظاهري مفهوم په رڼا كي بيان سوي دي مګر كوم چي د فقهي مسئلې تعلق دی نو حضرت علي ﷺ د هغه قائل وو كوم چي په ذكر سوي صورت كي بيان سو مګر د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چي په داسي قضيه كي حاكم ته پكار دي چي هغه شی دريم سړي ته پريږدي او په دواړو مدعيانو كي يې يوه ته هم ور نه كړي، امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله وايي چي هغه شی دی د هغه دواړو مدعيانو په مينځ كي نيم نيم وويشل سي او ځيني حضرات وايي چي په دغه مسئله كي د امام احمد او امام شافعي رحمة الله عليهما دوه قولونه دي يو قول خو د حضرت علي ﷺ د قول مطابق دی او دوهم قول د امام

اعظم ابو حنيفة رحمه الله د مذهب مطابق دی، راتلونکی د بي بي ام سلمه رضي الله عنها روايت د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله او د هغه د پيروانو تائيد کونکی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

شاهد او قسم

﴿۳۵۹۷﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ. رواه الترمذي

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شاهد د مدعا پر ذمه دئ او قسم پر مدعا عليه دئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\۶۲۶، رقم: ۱۳۴۱.

تشريح: مطلب دادی چي د خپل دعوې په ثبوت کي شاهد وړاندي کول د مدعی حق دی، که مدعا عليه د دعوې د صحيح کېدو څخه انکار وکړي او مدعی د هغه قسم کولو غوښتنه وکړي نو پر مدعا عليه باندي قسم کول لازم دي.

که د يوه شي دوه مدعاوي نو ...

﴿۳۵۹۸﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا

حضرت ام سلمة رضي الله عنها د هغه دوو کسانو پېښه بيانوي چي د خپلي معاملې لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول،

اِلَيْهِ فِي مَوَارِيثَ لَمْ تَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ إِلَّا دَعْوَاهُمَا فَقَالَ مَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْئٍ

د ميراث معامله وه او په دواړو کي د يوه شاهد هم نه وو، يوازي دعوه وه، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل: په تاسو کي د چا لپاره چي زه د هغه

مِنْ حَقِّ اَخِيْهِ فَاِنَّمَا اَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِّنَ النَّارِ فَقَالَ الرَّجُلَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

د ورور په حق کي پريکړه وکړم نو زما دا پريکړه د هغه لپاره د اور يوه ټوټه ده، په هغو کي دواړو هر يوه عرض وکړ

يَا رَسُوْلَ اللهِ حَقِّيْ هٰذَا لِصَاحِبِيْ فَقَالَ لَا وَلٰكِنْ اِذْهَبَا فَاقْتَسِمَا وَتَوَخَّيَا الْحَقَّ

اې دالله رسوله ! زما حق زما د ملګري لپاره دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا، داسي نه ده بلکه تاسو دواړه دده شي په خپل منځ کي په ويشلو کي د انصاف څخه کار واخلئ

ثُمَّ اسْتَهِمَا ثُمَّ لِيُحَلِّلْ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْكُمَا صَاحِبَهُ وفي رواية قَالَ اِنَّمَا اَقْضِيْ بَيْنَكُمَا بِرَاْيِيْ فِيْمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيْهِ. رواه ابوداؤد

او هر کله چي دا شي دوې برخي کړئ نو پر دواړو برخه قرعه اندازي (پچه) واچوئ او بيا په تاسو کي هر يو بل ته خپل حق معاف کړئ چي د هغه لوري ته تللی وي، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي دا حکم زه په خپل رايه سره کوم او په دې اړه پر ما وحي نه ده راغلې. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۱۴، رقم: ۳۵۸۴،

د لغاتو حل: استهما: اى اقترعا (هسکه يې وکړه)

د قابض په حق کي فيصله

﴿۳۵۹۹﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَجُلَيْنِ تَدَاعَيَا دَابَّةً فَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ

د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دوو کسانو د يو حيوان په اړه دعوا وکړه نو

مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا دَابَّتُهُ نَتَجَهَا فَقَضٰى بِهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهِ. رواه في شرح السنة.

ودرول هر يوه له دواړو څخه شاهدان چي دا حيوان د هغه دئ دچا سره چي زيږيدلی دئ، رسول الله ﷺ حيوان هغه سړي ته ورکړي چي د چا په لاس کي وو. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۰\۱۰۶، رقم: ۲۵۰۴.

تشريح: ځيني علماء کرام وايي چي دا حديث پر دې دلالت کوي که چيري يو داسي قضيه وي چي په هغه کي د يو شي د ملکيت ثابتولو لپاره دوه کسان خپل خپل شاهد وړاندي کړي نو په دواړو کي د هغه کس شاهدانو ته به ترجيح ورکړل سي د چا په قبضه کي چي هغه شی دی مګر

صحيح خبره داده چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي هغه قضيه د حيوان په باره کي وي او هر کس دا دعوه کوي چي دغه حيوان د هغه په کور کي پيدا سوی دی.

په شرح السنه کي ليکلي دي چي علماء وايي که چيري يو داسي قضيه رامنځته سي چي په هغه کي دوه کسان د يو حيوان يا د يو شي د ملکيت دعوه وکړي او هغه حيوان يا شی په دواړو کي د يوه په قبضه کي وي نو هغه حيوان يا شی به د قبضه کونکي منل کيږي او هغه ته به قسم ورکول کيږي مگر که مخالف کس خپل شاهد وړاندي کړي او هغه دا شاهدي ورکړي چي دغه حيوان يا دغه شی د قبضه کونکي نه دي بلکه د دوهم کس دی نو هغه حيوان يا شی به د قبضه کونکي څخه په اخيستلو سره دوهم کس ته حواله کيږي او که چيري دا صورت وي چي دواړه کسه خپل خپل شاهدان وړاندي کړي نو بيا د قبضه کونکي شاهدانو ته ترجيح ورکول کيږي.

په حنفي مذهب کي مسئله داسي ده چي په ذکر سوي صورت کي د قبضه کونکي د شاهدانو اعتبار نه کيږي بلکه د دوهم کس د شاهدانو اعتبار دي وکړل سي او هغه شی دی د قبضه کونکي څخه واخلي او دوهم کس ته دي يې حواله کړي مگر که چيري د دعوې تعلق د حيوان د پيدا کېدو سره وي يعني هر کس دا دعوه کوي چي دغه حيوان زما ملکيت دی او زما په کور کي پيدا سوی دی او بيا هر يو د خپل دعوې په ثبوت کي شاهد وړاندي کړي نو په دغه صورت کي به د هغه حيوان فيصله د قبضه کونکي په حق کي وي او که چيري د قضيې تعلق د يو داسي شي سره وي کوم چي د دواړو کسانو په قبضه کي وي او دواړه کسان د هغه پر پوره برخه باندي د خپل ملکيت دعوه کوي نو دواړو ته به قسم ورکول کيږي او هغه شی به د دواړو په مينځ کي د هر يوه د قبضې مطابق ويشل کيږي، همدارنگه که چيري هغه شی په دواړو کي د يوه په قبضه کي هم نه وي مگر دواړه د خپل دعوې په ثبوت کي شاهدان وړاندي کړي نو هغه شی دی د دواړو په مينځ کي وويشل سي.

د دوو مدعيانو په مينځ کي د مال تقسيم

﴿٣٦٠٠﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ اَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي دوو کسانو د

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدَيْنِ فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ

يوه اوښ دعوه وکړه، او دواړو دوه دوه شاهدان وړاندي کړل، رسول الله ﷺ اوښ د دواړو په

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ. رواه ابوداؤد وفي رواية له وللنسائي

منځ کي نيم وويشئ، ابوداؤد، او د ابوداؤد په يو بل روايت کي او د نسائي او ابن ماجه په

وابن ماجة اَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بِعَيْرًا لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِّنْهُمَا بَيِّنَةٌ فَجَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا.

روايت کي دا الفاظ دي چي دوو کسانو د يوه اوښ دعوه وکړه او په دواړو کي يوه هم شاهد نه درلودئ، رسول الله ﷺ اوښ دواړو ته حواله کړ.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۷، رقم: ۳۶۱۵،

تشريح: هغه اوښ يې په دواړو کي نيم نيم وويشئ: په دې باره کي علامه خطابي رحمه الله وايي چي کيداى سي هغه اوښ د دواړو په قبضه کي وو، او ملا علي قاري رحمه الله وايي چي کيداى سي هغه اوښ د يو بل دريم سړي په قبضه کي وو کوم چي د دواړو په مينځ کي تنازع پکښې وه. په اول روايت کي دا ښوول سوي دي چي دواړو مدعيانو خپل شاهدان درلودل حال دا چي د دوهم روايت څخه دا ثابتيږي چي په دواړو کي د يوه سره هم شاهد نه وو، نو دا ممکن ده چي په دواړو روايتو کي ذکر سوې قضيه جلا جلا وي او دا هم ليري نه ده چي د دواړو روايتو تعلق د يوې قضيې سره وي په دغه صورت کي به ويل کيږي چي په اول کي خو د نفس واقعې بيان دى چي په هغه دواړو کي هر يو د خپل خپل دعوې په ثبوت کي شاهدان درلودل او په دوهم روايت کي د حقيقت حکم بيان دى کله چي دواړو شاهدان وړاندي کړل او د هغه دواړو شاهدي په خپلو کي د متعارض کېدو په وجه ساقط وګرځول سول نو هغوى دواړه د داسي مدعيانو په ډول سول کوم چي شاهدان نه لري، په دې اعتبار سره په هغه دواړو کي د چا سره شاهد نه وو، ددې معنى به دا وي چي په هغه دواړو کي د يوه سره هم داسي شاهد نه وو چي هغوى ته د دوهم پر شاهدانو ترجيح ورکړل سي. هغه اوښ يې د دواړو ګډ حق وګرځوى: په دې باره کي ابن مالک رحمه الله وايي چي دغه ارشاد پر دې دلالت کوي که چيري دوه کسان د يو شي د ملکيت دعوه وکړي او په هغوى کي د يوه سره شاهد نه وي يا په هغوى کي د هر يوه سره شاهد وي او هغه شى د دواړو په قبضه کي وي يا په دواړو کي د يوه په قبضه کي هم نه وي نو هغه شى دى د دواړو په مينځ کي نيم په نيم وويشل سي.

﴿٣٦٠١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا فِيْ دَابَّةٍ وَّلَيْسَ لَهُمَا بَيِّنَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَهِمَا عَلَى الْيَمِيْنِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د دوو كسانو پر يو حيوان باندي جګړه سوه، او د دواړو سره شاهد نه وو، نبي كريم ﷺ و فرمايل: پر قسم اخيستلو قرعه اندازي وكړئ. ابوداؤد او ابن ماجة

تخريج: سنن ابي داود ۴۰۱\۴، رقم: ۳۶۱۸، وابن ماجه ۷۸۶\۱۳، رقم: ۲۳۴۶.

تشريح: په دغه روايت كي چي كوم حكم بيان سوى دى دا د هغه روايت د حكم په ډول دى كوم چي د اول فصل په پاى كي ذكر سوى دى او حضرت ابوهريره رضي الله عنه نقل كړى دى.

د مدعى عليه قسم

﴿٣٦٠٢﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ حَلَّفَهُ احْلِفْ بِاللّٰهِ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ مَا لَهُ عِنْدَكَ شَيْءٌ يَعْنِي لِلْمُدَّعِي. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته چي هغه ته د قسم وركولو اراده وه وفرمايل: (ته داسي قسم واخله) چي زه قسم اخلم په هغه ذات چي د هغه څخه پرته بل معبود نسته چي د دغه سړي (مدعى) پر تا هيڅ حق نسته. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴۱\۴، رقم: ۳۶۲۰.

تشريح: لكه څرنګه چي مخكي وښوول سول كه چيري مدعى د خپل دعوې په ثبوت كي شاهد وړاندي نه كړي او مدعا عليه د هغه د دعوې څخه انكار وكړي نو د هغه پر غوښتنه به مدعا عليه ته قسم وركول ضروري وي او هغه به داسي قسم كوي چي زه په الله جل جلاله قسم كوم چي د هغه څخه پرته بل معبود نه سته چي د دغه سړى د كوم حق دعوه كړې ده هغه پر صداقت مبني نه ده او د ده پر ما هيڅ حق نه سته.

د قسم او حلف په باره كي دا قاعده بايد په ذهن كي وي چي حلف د قاضي يعني عدالت حكم وركوي او د مسلمان څخه د يو الله جل جلاله حلف اخيستل كيږي، عيسائي ته د خدايي انجيل، يهودي ته د خدايي تورات او مجوسي وغيره ته يوازي د الله جل جلاله حلف وركول كيږي.

دا خبره هم مخکي ښوول سوې ده چي د مدعاعليه د قسم په هر صورت کي اعتبار وي که هغه عادل او ريښتوني وي يا فاجر او درواغجن وي مګر که چيري قاضي يعني د عدالت حاکم ته د ريښتوني شاهدي په ذريعه د حلف درواغ معلوم سي نو په دغه صورت کي به د هغه حلف کالعدم وي.

مدعا عليه ته د قسم حق ورکول کيږي

﴿٣٦٠٣﴾: وَ عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ

د حضرت اشعث بن قيس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زما او د يو يهودي يوه ګډه مځکه وه،

أَرْضٌ فَجَحَدَنِي فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَكَ بَيِّنَةٌ قُلْتُ

يهودي زما د برخي راکولو څخه انکار وکړ، ما هغه نبي کريم ﷺ ته راوستی، رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا ستا شاهد سته؟ ما وويل

لَا قَالَ لِلْيَهُودِيِّ احْلِفْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذًا يَحْلِفُ وَيَذْهَبُ بِمَالِي فَأَنْزَلَ

نه، بيا رسول الله ﷺ يهودي ته وفرمايل: ته قسم واخله، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! دی به اوس قسم واخلي او زما مال به يوسي، پر دې خبره باندي دا آيت نازل سو:

اللَّهُ ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ الْآيَة. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

(ان الذين يشرون.......). ابوداؤد او ابن ماجة.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۱، رقم: ٣٦٢١، وابن ماجه ٢\٧٧٨، رقم: ٢٣٢٢.

تشريح: په حديث کي چي کوم آيت کريمه نقل سوی دی هغه په اصل کي د هغه قضيې په باره کي نازل سوی دی کوم چي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روايت کي بيان سوې ده، په دغه روايت کي چي کوم قضيه ذکر سوې ده هغه هم د دغه قضيې په ډول ده ځکه دلته هم د دغه آيت حواله ورکړل سول، پوره آيت د ابن مسعود رضي الله عنه د روايت په تشريح کي نقل سوی دی.

د حضرت اشعث رضي الله عنه اعتراض دا وو چي هغه يهودي ته د قسم کولو حکم ورکول کيږي او د هغه پر قسم د فيصلې انحصار دی او په دې ټول پوهيږي چي په خاصه توګه په مالي معاملاتو

کي د یهودیانو فطرت څه شی دی ، د یهودي لپاره په دي کي هیڅ پروا نه سته چي هغه زما د مال خوړلو لپاره په دروا غو قسم وکړي ، نو غوره داده چي پر دغه قسم باندي فیصله موقوف نه کړل سي ، د اشعث رضی الله عنه ددغه اعتراض په جواب کي یوازي ددغه آیت پر ذکر اکتفاء سوې ده کوم چي په دغه باره کي نازل سوی وو ، نو د آیت کریمه ذکر کول ګویا د رسول الله ﷺ دا فرمایل دي چي شریعت ددغه صورت لپاره کومه قاعده ټاکلې ده هغه داده چي د مدعا علیه څخه قسم واخیستل سي او په داسي قضیه کي قسم کول د مدعا علیه حق دی ځکه نو د یو اعتراض په وجه د مدعا علیه د حق څخه محروم کول ددغه ټاکل سوي قاعدې خلاف ورزي کول دي کوم چي زموږ لپاره نا سمه خبره ده مګر په دې کي هم شک نه سته که مدعا علیه د خپل دغه حق څخه ناجائزه ګټه پورته کړي او هغه په دغه مقصد سره د دروا غو قسم وکړي تر څو د مدعی مال وخوري نو هغه ته دي خبرداری وي چي د هغه ددغه دروا غو قسم به د هغه په غاړه وي او څرنګه چي قرآن کریم اعلان کړی دی چي د داسي سړي لپاره به په اخرت کي هیڅ برخه نه وي.

د دروا غو قسم اخیستونکي په اړه وعید

﴿۳۶۰۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ اخْتَصَمَا إِلَى

د حضرت اشعث بن قیس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د یو کندي قبیلې او سیدونکی او یو حضرمي قبیلې او سیدونکی په منځ کي د یمن پر یوه ځمکه باندي جګړه سوه ،

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ يَا

دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول ، حضرمي وویل اې دالله رسوله !

رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُو هَذَا وَهِيَ فِي يَدِهِ قَالَ هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ قَالَ

دده پلار زما څخه زما ځمکه په زور اخیستې وه او س هغه دده په لاس کي ده ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ستا څوک شاهد سته ؟ هغه عرض وکړ :

لَا وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّهَا أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ

یا ، مګر زه به قسم پر واخلم ، چي قسم دئ په الله تعالی هغه ته معلومه ده چي دا ځمکه زما (حضرمي) ده او دده پلار دا ځمکه زما څخه په زور اخیستې وه ، کندي د قسم اخیستلو لپاره

لِلْيَمِينِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْتَطِعُ أَحَدٌ مَالًا بِيَمِينٍ إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ أَجْذَمُ فَقَالَ الْكِنْدِيُّ هِيَ أَرْضُهُ . رواه ابوداؤد .

تيار سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي په قسم خوړلو سره د چا مال په خپله قبضه کي کړي هغه به د الله تعالی سره په داسي حال کي يو ځای کيږي چي د هغه لاس به پريکړی وي ، (د دې په اوريدو سره) کندي وويل دا مځکه دده ده . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۲، رقم: ۳۶۲۲.

د لغاتو حل: اجذم: ای مقطوع اليد او البركة او الحركة او الحجة.

تشريح: الا لقي الله وهو اجذم : جذام يو مشهوره ناروغي ده چي په هغه کي د بدن اندامونه خرابيږي ، د جذام لغوي معنی د پرېکولو او په تلوار سره پرېکول دي، دغه لفظ د لاس پرې کولو يا پرې کړي لاس په معنی کي هم استعماليږي، دلته په حديث شريف کي دغه لفظ د (قطع يد) په معنی کي استعمال سوی دی چي د هغه څخه مراد بې برکته کېدل او د خير څخه خالي کېدل دي لکه څرنگه چي په يو حديث کي فرمايل سوي دي :

من تعلم القرآن ثم نسيه لقي الله وهو اجذم : يعني چا چي قرآن کريم زده (ياد) کړی او بيا يې هغه هير کړ نو د الله تعالی سره به په داسي حال کي ملاقات کوي چي د هغه لاس به پرې کړی وي يعني بې برکته او د خير څخه به خالي وي .

ځيني حضرات وايي چي دلته د اجذم څخه مراد مقطوع الحجة (بې دليله) دی يعني هغه سړی به په داسي حال کي د الله تعالی په دربار کي حاضر سي چي د هغه سره به نه د خپل دين او ديانت يو دليل وي چي په هغه سره د خپل خلاصون لاره ولټوي او نه به د هغه سره داسي ژبه وي چي د هغه په ذريعه د عرض او معروض جرئت وکړلای سي .

د درواغو قسم اخيستل لويه گناه ده

﴿۳۶۰۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن انيس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ الشِّرْكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَالْيَمِينُ الْغَمُوسُ وَمَا

په گناهونو کي تر ټولو لوی گناهونه دادي : د الله تعالی سره يو څوک شريک نيول، د مور او پلار

نافرماني كول، په درواغو قسم اخيستل او كوم سړي چې

حَلَفَ حَالِفٌ بِاللّٰهِ يَمِينَ صَبْرٍ فَأَدْخَلَ فِيهَا مِثْلَ جَنَاحِ بَعُوضَةٍ إِلَّا جُعِلَتْ نُكْتَةً فِي قَلْبِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

په مقيد كولو (مجبورۍ) سره پر الله قسم واخلي او په هغه كي د غوماشي د وزر په اندازه هم درواغ ووايي نو د هغه پر زړه به تر قيامت پوري يو داغ لګول كيږي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۲۰. رقم: ۳۰۲۰.

تشريح: غموس په اصل كي د غمس څخه دی چې د هغه معنی د غوټې وهلو ده ، او يمين غموس پر يو تيري خبري باندي په قصد سره د درواغو قسم كولو ته وايي، د حنفي مذهب سره سم پر داسي قسم كونكي باندي كفاره واجب نه ده مګر پر هغه لازم ده چې توبه او استغفار وكړي او د بيا لپاره د داسي قسم نه كولو پخه اراده وكړي ځكه چې د يمين غموس په باره كي د دوږخ د اور څخه بهرول سوي دي ، داسي قسم ته غموس په دې اعتبار وايي چې هغه به داسي قسم كونكي ته د دوږخ په اور كي غوټه وركوي او د غير حق د بل مال خوړلو لپاره چې د درواغو قسم كول كيږي هغه دد غه قبيل يعني يمين غموس څخه دی.

° يمين صبر (يعني د مجبورۍ او بند په حالت كي قسم كول) ددې تفصيل د اول فصل په تشريح كي تېر سوی دی ، د نتيجې په اعتبار يمين صبر هم د يمين غموس په مفهوم كي داخل دی لكه څرنګه چې په يمين غموس كي كفاره نه واجبيږي بلكه د آخرت سزا وركول كيږي همدا رنګه په يمين صبر كي هم كفاره نه واجبيږي بلكه ددې سزا به هم په آخرت كي وركول كيږي.

جعلت نكتة في قلبه الى يوم القيامة : (د هغه په زړه كي تر قيامته پوري يوه نكته پيدا كيږئ) : ددې مطلب دا دی چې د هغه داغ اثر د زنګ په ډول وي چې هغه په قسم كي د لږ درواغ ويونكي سړي پر زړه باندي تر قيامته پوري پاته وي او بيا په آخرت كي د هغه عذاب د هغه سړي په حق كي داسي ظاهريږي چې هغه به د الله تعالی په عذاب كي اخته كړل سي . ددې څخه بايد عبرت واخيستل سي چې كله د لږ درواغ ويلو دغه پای دی نو په هغه صورت كي به څه حال وي كله چې پر هغه خبري قسم وكړل سي كوم چې بالكل درواغ وي.

رسول الله ﷺ په خپل ارشاد كي د درو شيانو ذكر وكړ كوم چي په لويو گناهو كي تر ټولو لوی گناهونه دي او بيا په هغه درو كي يوازي د آخري په باره كي يې وعيد بيان كړ چي دا واضحه سي چي دا هم په لويو گناهو كي داخل ده او خلک په دې گمان كولو سره په عدالت كي د دروغو قسم كول د گناه په اعتبار د شرک او د مور او پلار د نافرماني په ډول دي او دا دي تر دې كم نه گڼي ، همدارنگه مخته د حضرت خزيمه ابن فاتک كوم روايت چي نقل كړ د هغه د الفاظو (عدلت شهادة الزور بالاشراک بالله) څخه هم دا واضحه كيږي چي دا هم په لويو گناهو كي داخل دي .

﴿٣٦٠٦﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي زما دد غه منبر سره د

عِنْدَ مِنْبَرِي هٰذَا عَلَى يَمِينٍ آثِمَةٍ وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ . رواه مالك و ابوداؤد وابن ماجة .

دروغو قسم واخلي كه څه هم هغه د يوه شين مسواک لپاره وي هغه د دوزخ په اور كي خپل ځان ته ځای تياروي يا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل : د هغه لپاره به د دوزخ اور واجب سي . مالک . ابوداؤد او ابن ماجة

تخريج موطا الامام مالک ٢\ ٧٢٧، رقم: ١٠. وابوداود ٣\ ٥٦٧، رقم: ٣٢٤٦، وابن ماجه ٢\ ٧٧٩، رقم: ٢٣٢٥.

تشريح د منبر سره د قسم كولو قيد يې ځكه ولگوی چي هغه يو مقدس او باعظمته ځای دی هلته د دروغو قسم كول لويه گناه ده ، كنه نو مطلق قسم كول هر ځای چي وكړل سي د الله تعالى د غضب او د هغه د عذاب سبب گرځي .

د شنه مسواک ذكر ځكه وكړل سو چي هغه يو معمولي شی وي ، كله چي د وچېدو څخه وروسته په هغه كي قدر او قيمت پيدا سي ، خلاصه دا چي مسواک په خپله يو معمولي او ډېر كم شی دی چي د وچېدو څخه مخكي د هغه هيڅ حقيقت نه وي كله چي د هغه لپاره هم د دروغو قسم كول پر دومره لوی سزا باندي محمول دی نو كوم خلک چي په عدالتو كي په ډېره بې باكی سره د لويو شيانو لپاره د دروغو قسمونه اخلي نو د هغوی به څه حشر وي . (نعوذ بالله منه) .

د دروا غو شاهدي د شرک سره سمه ده

﴿۳۶۰۷﴾: وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خريم بن فاتک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وکړ

صَلَاةَ الصُّبْحِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَامَ قَائِمًا فَقَالَ عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ

کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو ولاړ سو او درې واره ئې دا الفاظ وفرمايل: په دروا غو شاهدي د شرک سره برابر کړل سوه،

بِاللَّهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَرَأَ { فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ

بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (فاجتنبوا .....) (د پليتو بتانو د بندګۍ څخه ځان وساتئ او

الزُّورِ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ }. رواه ابوداؤد وابن ماجة و رواه احمد والترمذي عن ايمن ابن خريم الا ان ابن ماجة لم يذكر القراءة.

د دروا غ ويلو څخه ځان وساتئ او د باطل څخه د حق په لور رجوع وکړئ او د الله تعالى سره هيڅوک مه شريکوئ). ابو داؤد، ابن ماجة، احمد او ترمذي دا د حضرت ايمن بن خريم څخه روايت کړې دئ خو ابن ماجه د قرائت ذکر نه دی کړی.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۳، رقم: ۳۵۹۹، وابن ماجه ۲\۷۹۴، رقم: ۲۳۷۲.

تشريح: د دروا غو شاهدي د شرک برابر ګرځول سوې ده: ددې مطلب دادی چي شرک کول او د دروا غو شاهدي ورکول دواړه په ګناه کي برابر دي ځکه چي د شرک مطلب دادی چي الله تعالى ته د هغه شي د دروا غو نسبت کول کوم چي جائز نه دی په دې اعتبار سره د دواړو په حقيقت کي څه وجود نه سته نو په حکم کي هم دواړه برابر سول.

د کومو خلکو د شاهدۍ اعتبار دی؟

﴿۳۶۰۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجُوزُ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د باورور او جائز نه ده

شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ وَلَا ظَنِينٍ فِي

د دغه خلکو شاهدي: د خیانت کونکي سړي او خیانت کونکي ښځي، پر چا چي د تهمت حد جاري سوی وي، د دښمن که څه هم ورور وي، د هغه غلام چي یو چا ازاد کړی

وَلَاءٍ وَلَا قَرَابَةٍ وَلَا الْقَانِعِ أَهْلَ الْبَيْتِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و يزيد بن زياد الدمشقي الراوي منكر الحديث.

او هغه وايي چي هغه بل سړي ازاد کړی دئ، د هغه سړي چي خپل نسبت د بل سره یو ځای کوي، د هغه سړي چي د خپل کورنۍ سره په خوراک او څښاک کي ګډ وي لکه خادم وغیره، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ ځکه چي ددې یو راوي یزید بن زیاد د مشقي د حدیث څخه منکر دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۷۳، رقم: ۲۲۹۸.

تخريج: ذي غمر: اى حقد وعداوة. ظنين: اى ولا على متهم.

تشريح: د اسلام له نظره د شاهدانو عادل کېدل دومره ضروري دي لکه څومره چي د حاکم عادل کېدل ضروري دي ځکه چي شاهدي یو داسي ارزښتناکه وسیله ده چي عدالت ته د عدل په رسیدو کي فیصله کونکې مرسته کوي په دې اعتبار سره که وکتل سي نو معلومه به سي چي په حدیث کي د کومو خلکو ذکر سوی دی هغوی د عدل په معیار پوره نه دي ځکه د هغوی شاهدي د باور وړ و نه ګرځول سوه.

خیانت کونکی سړی ...: دلته د خیانت څخه مراد د خلکو په امانت کي خیانت کول مراد دي، د هغه خلکو او ښځو د شاهدي اعتبار به نه کیږي کوم چي د خلکو په امانتو کي خیانت کونکي وي او د هغوی د خیانت جرم په وار وار کېدو په وجه په خلکو کي ښکاره وي، ظاهره خبره ده چي خیانت یو داسي مخفي جرم دی چي د الله تعالی په علم کي خو وي مګر په عامه توګه سره پر بندګانو نه ظاهریږي.

ځیني حضرات وايي چي دلته د خیانت څخه مراد فسق دی که هغه د لوی ګناه کولو یا پر کوچنیو ګناهو باندي د همېشتوب په صورت کي وي یا د دین د احکامو او فرضو پر ځای نه راوړلو په شکل کي وي، الله ﷻ د دین احکامو ته هم امانت ویلي دي لکه څرنګه چي په دغه آیت کریمه کي دي:

إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ

ژباړه : بېشکه موږ امانت (يعني د خپل دين بار) اسمانو او مځکي ته وړاندي کړ . . . الخ.

او همدارنګه د دين د احکامو پر ځاى نه راوړلو ته يې هم خيانت فرمايلي دي لکه څرنګه چي د دغه آيت کريمه څخه ثابت دي :

لاَ تَخُونُواْ اللهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ

ژباړه : تاسو خيانت مه کوئ د الله (ﷻ) او د هغه د رسول (ﷺ) په امانت (يعني د دين په کارو کي) او مه په خپلو امانتو کي خيانت کوئ.

په دغه صورت کي به د حديث مطلب دا وي چي کوم خلک او ښځي د شريعت احکام او فرائض نه پر ځاى کوي يا لوى ګناهونه کوي او پر کوچنيو ګناهو باندي همېشتوب کوي نو د هغوى شاهدي به معتبره نه وي ، دوهم دا چي په راتلونکي حديث کي د خيانت څخه وروسته د زنا ذکر سوى دى چي د هغه په باره کي دا ويل کيږي چي دا د تخصيص بعد تعميم په توګه دى ، علماؤ ليکلي دي چي دغه تاويل يعني د خيانت څخه فسق مراد اخيستل غوره دي ، او په دوهم صورت کي دد غه ټولو بديو او ګناهو ذکر به پاته سي کوم چي د هغو کول د شاهدي قبلولو څخه مانع وي او د دغه ټولو په پرېښودو سره يوازي د خيانت ذکر کول په پوهه کي نه راځي.

پر چا چي د تهمت حد جاري سوى دى.: دد ې مطلب دا دئ که يو چا پر پاک لمني باندي د زنا تهمت لګولى وي او د هغه په سزا کي پر هغه حد جاري سوى وي نو د هغه سړي شاهدي به د قبول وړ نه وي که څه هم د هغه څخه توبه وکړي.

په دې باره کي د فقهي مسئلې تحقيق دا دى چي امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله وايي چي د حد قذف څخه ماسوا په نورو ټولو حدو کي دا رعايت حاصل دى چي پر کوم سړي حد جاري سوى وي که هغه توبه وکړي نو د هغه شاهدي به قبليږي د توبې څخه مخکي د هغه شاهدي د قبول وړ نه وي او په حد قذف کي دا سزا ده چي پر کوم سړي حد جاري سي که هغه توبه هم وکړي نو د هغه شاهدي به نه قبليږي مګر نور امامان وايي چي دا مسئله د ټولو حدودو سره متعلق ده که پر يو سړي باندي حد جاري سي نو د هغه توبه کولو څخه وروسته د هغه شاهدي قبليږي که څه هم هغه حد د تهمت په جرم کي جاري سوى وي يا د بلي ګناه په وجه جاري سوى وي.

دښمن چي د خپل مسلمان ورور خلاف وي: دد ې مطلب دا دى چي کوم کسان په خپلو کي د يو بل سره دښمني او عداوت لري د هغوى به د يو بل په باره کي شاهدي معتبره نه وي که څه

هم هغوی د واړه په خپلو کي نسبي وړونه وي یا دیني وړونه وي.
هغه څوک چي د ولاء په باره کي متهم وي: د دې مطلب دادی چي د مثال په توګه زید د بکر غلام وو او بکر هغه ازاد کړی وو اوس زید خپل ازادي یو دریم چا ته منسوب کوي یعني داسي وایي چي زه عمرو ازاد کړی یم حال دا چي هغه په دغه خبره کي درواغجن دی او هغه په خپل دغه درواغو کي مشهور دی چي خلک په عامه توګه د هغه د درواغو پر انتساب باندي هم متهم کوي او د هغه تکذیب هم کوي نو دداسي سړي شاهدي هم د قبلېدو وړ نه ځکه چي هغه د خپل دغه ویلو په وجه فاسق دی، د ازاد کونکي ولاء قطع کول او د هغه د ولاء نسبت یو داسي سړي ته کول چي په حقیقت کي هغه نه وي ازاد کړی دا لویه ګناه ده او په دې باره کي سخت وعید او خبرداری راغلی دی دا حکم د قرابت په باره کي هم دی که یو سړی په خپل قرابت کي غلط بیان وکړي یعني داسي ووایي چي زه د فلاني سړي د مثال په توګه د زید زوی یم مګر د هغه پر غلطه وینا باندي خلک هغه متهم کوي او د هغه په تکذیب کولو سره وایي چي هغه د زید زوی نه دی بلکه په حقیقت کي د بکر زوی دی نو د هغه شاهدي به هم د قبلېدو وړ نه ده ځکه چي د هغه درواغ ویل فسق دي او د خپل پلار څخه ماسوا بل چا ته د خپل نسبت کونکي په باره کي لعنت ویل سوی دی.
هغه څوک چي پر یوه کور باندي قانع وي: دا هغه سائل دی چي پر کم از کم نس مړولو باندي قناعت کوي یا د هغه روزي د یوه کور سره متعلق وي مګر دلته هغه سړی مراد دی چي د یو چا تر نفقه لاندي وي چي د هغه ګزاره د هغه په ورکړه وي لکه خادم او تابع، د داسي سړي شاهدي به د هغه د مخدوم او متبوع په حق کي د قبول وړ نه وي ځکه چي اول خو دا احتمال دی چي هغه د خپل اړتیا په وجه د خپل مخدوم او متبوع ناروا طرفداري وکړي او حقه خبره نه کوي دوهم دا چي د خپل مخدوم او متبوع په حق کي د شاهدي ورکولو مطلب دادی چي هغه د خپل شاهدۍ په ذریعه د هغه شي منافع د خپل ذات سره متعلق کوي چي د هغه د شاهدي په نتیجه کي به د هغه مخدوم او متبوع ته حاصلیږي یا په دې توګه چي کله د هغه خوراک او څښاک د هغه د مخدوم او متبوع پر ذمه وي چي د هغه په حق کي هغه شاهدي ورکوي نو هغه مخدوم او متبوع ته چي د هغه په ذریعه کوم مال تر لاسه کیږي د هغه منافع به د هغه ذات ته هم حاصلیږي نو د خپل مخدوم او متبوع په حق کي د تابع او خادم د شاهدۍ هغه حکم دی کوم چي د پلار او زوی یا د ښځي او خاوند د شاهدۍ حکم دی لکه څرنګه چي یو پلار د خپل زوی په حق کي یا زوی د خپل پلار په حق کي شاهدي ورکړي یا خاوند د خپل ښځي په حق کي یا ښځه د خپل

خاوند په حق كي شاهدي وركړي نو هغه شاهدي به صحيح نه وي او د هغه به اعتبار نه كيږي ځكه چي هغوی په خپلو كي د يو بل په حق كي شاهدي وركول د خپل ذات د ګټي لپاره شاهدي وركول دي همدارنګه د مخدوم او متبوع په حق كي د تابع او خادم شاهدي هم صحيح نه ده او د هغه اعتبار به هم نه كيږي البته دادي واضحه وي چي د ورور په حق كي د ورور شاهدي صحيح ده او د هغه اعتبار كيږي.

او د دغه حديث يو راوي يزيد ابن زياد دمشقي منكر الحديث دی: دلته د منكر الحديث مطلب دادی چي د هغه حديث منكر دی، په شرح نخبه كي ليكلي دي چي د كوم راوي څخه يو فحش غلطي صادره سي يا پر هغه د غفلت او نسيان غلبه وي يا د هغه فسق ظاهر وي نو په دغه صورت كي د هغه روايت سوي حديث ته منكر ويل كيږي.

﴿٣٦٠٩﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَجُوْزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ وَ لَا زَانٍ وَلَا زَانِيَةٍ وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ. رواه ابوداؤد

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خيانت كونكي سړي او خيانت كونكي ښځي شاهدي جائز نه ده، نه د زنا كار سړي او نه د زنا كاري ښځي او نه خاوند د كينې او نه د هغه سړي چي د چا سره په خوراک او څښاک كي ګډ سي. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ۱۴\۲۴، رقم: ۳۶۰۰.

تشريح د دغه حديث وضاحت تر دې مخكي حديث په تشريح كي سوی دی.

د ښاري په حق كي د صحرائي شاهدي قبليږي كه يا؟

﴿٣٦١٠﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَّسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَجُوْزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: رواه نه ده شاهدي د صحرائي پر خلاف د ښاري باندي. ابوداؤد او ابن ماجة

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲٦، رقم: ۳٦٠۲ وابن ماجه ۲\۷۹۳، رقم: ۲۳٦٦.

تشريح: په صحرا کي د اوسيدونکو شاهدي ځکه صحيح نه ده چي په عامه توګه هغه د شريعت په احکامو خبر نه وي او نه د شاهدۍ ورکولو په شرطونو خبر وي همدارنګه پر هغه د غفلت او نسيان غلبه زياته وي که په صحراء کي اوسيدونکي د شاهدي د ذمه دارۍ احساس ولري او د شاهدي ورکولو چي کوم شرطونه او کيفيات دي د هغو ټڅخه خبر وي او د عادل اهل شهادت په ډله کي وي نو د هغه شاهدي به صحيح او معتبره وي.

امام مالک رحمة الله عليه د دغه حديث په ظاهري مفهوم باندي عمل کړی دی د هغه په نزد د ښاري په حق کي يا د هغه پر خلاف په صحراء کي د اوسيدونکي شاهدي جائز نه ده حال دا چي د اکثرو امامانو مذهب دا دی چي په صحراء کي اوسيدونکی که عادل وي او د شاهدي په معيار پوه وي نو د ښاري په حق کي يا د هغه پر خلاف د هغه شاهدي به صحيح او معتبره وي، د دغه امامانو په نزد د حديث الفاظ (لايجوز) د لايحسن په معنی کي دي او د صحرايي شاهدي نه جائز کېدل د ذکر سوو صفاتو سره مقيد دی.

په خپل مقدمه کي هوښياري په فهم کي ولرئ

﴿۳٦۱۱﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ

د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دوو کسانو په منځ کي حکم

فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

وکړی د چا خلاف چي حکم ورکړل سوی وو هغه په تګ کي چي شا يې سوه وويل ما ته زما الله جل جلاله بس دئ او هغه غوره کار جوړونکی دئ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ وَلَكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ فَإِذَا غَلَبَكَ أَمْرٌ فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ. رواه ابوداؤد

الله تعالی پر عجز باندي سزا درکوي ليکن پر تا هوښياري ده که ته عاجزه سې نو دا وو وايه ما ته زما الله بس دئ او هغه غوره کار جوړونکی دئ. ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۴، رقم: ۳٦۲۷.

تشريح: په ظاهره دا معلوميږي چي يو چا د بل چا څخه پور اخيستی وي او هغه پور ادا کړی

هم وي مگر د هغه څخه ناپوهي او حماقت وسو چي هغه د پور ورکولو پر وخت د پوروړی څخه یو رسید نه واخیستی او نه یې څوک شاهد کړی او مدعی د رسول الله ﷺ په دربار کي پر هغه سړي دعوه وکړل او هغه مدعی د پور ورکولو ثبوت وړاندي کړی مگر دغه سړی د پور د بیرته ورکولو یو ثبوت وړاندي نه کړای سو ځکه نو فیصله د هغه پر خلاف وسوه او مدعی فیصله وګټل ، کله چي هغه د مقدمې په بایللو سره د رسول الله ﷺ د دربار څخه ووتی نو د غم او حسرت په وجه هغه حسبي الله ونعم الوکیل وویل او همدارنګه هغه دا اشاره وکړه چي مدعی زما څخه په ناحق مال واخیستی او زه خامخا تاواني سوم.

په دې باندي رسول الله ﷺ د غصې اظهار کولو سره وفرمایل چي د خپل ژوند په کاروبار او معاملاتو کي بې پرواهي، ناپوهي، غفلت او کوتاهي ښه خبره نه ده بلکه پر داسي کونکي باندي الله تعالی ملامتیا کوي بیا رسول الله ﷺ وفرمایل چي تا ته پکار وه چي په خپل کاروبار او معاملاتو کي هوښیار او بیداره اوسې او احتیاط او پوهه اختیار کړه.

خلاصه دا چي په غفلت او کوتاهۍ سره الله ﷻ نه راضي کیږي ځکه چي الله تعالی انسان د عقل سلیم په دولت سره نازولی دی نو د هغه صحیح غوښتنه داده چي بنده خپل ټول دیني او دنیاوي معاملاتو کي د پوهي او هوښیارۍ خیال وساتي نو په دې معامله کي چي ستا څخه کومه کوتاهي او غفلت سوی دی هغه پر خپل عجز باندي په محمول کولو سره حسبي الله ونعم الوکیل مه وایه بلکه د راتلونکي لپاره ددې عهد وکړې چي بیا به هیڅکله هم داسي غفلت او کوتاهي نه کوم او احتیاط او هوښیاري به په هر صورت کي کوم.

علامه طیبي رحمه الله وایي چي رسول الله ﷺ دخپل دغه ارشاد په ذریعه پر هغه سړي واضحه کړل چي دا لازمه وه چي ته په خپل معاملې کي هوښیار وای او یو څوک دي شاهد جوړ کړی وای یا داسي یو بل ثبوت دي درلودای او په کوتاهي او غفلت کي نه اخته کیدای چي کله ستا مقدمه وړاندي کېده او ته د فیصلې لپاره دلته حاضرېدلې نو د شاهدانو د ثبوت په ذریعه د مدعی د دعوې په ناحق ثابتولو باندي به قادر کیدای مگر اوس چي ته د خپل غفلت او کوتاهۍ په وجه د مدعی د دعوې ناحق ثابتولو څخه عاجزیې نو حسبي الله ونعم الوکیل وایي حال دا چي حسبي الله ونعم الوکیل هغه وخت ویل کیږي کله چي د مقصد د ترلاسه کېدو ټولي لاري بندي سي او د خپل ټول تدبیر او احتیاط سربېره هیڅ لاره پاته نه سي نو دا دي په ذهن کي وي چي کله یو معامله کیږي په هغه کي دي د پوره احتیاط او هوښیارۍ خیال وساتل سي او کله چي د پوره احتیاط او هوښیارۍ سربېره د مقصد ترلاسه کېدل په کار را نه سي او د عجز او

معذوري، درجې ته ورسيږي نو هغه وخت دي حسبي الله ونعم الوکيل ويل کيږي.

د ملزم بندي کول شرعي سزا ده

﴿۳٦۱۲﴾: وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي ثم خلى عنه.

حضرت بهز بن حکيم د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د تهمت په ويلو يو سړی بندي کړ. ابوداؤد، ترمذي او نسائي دد ې په آخرکي دا الفاظ هم زيات کړي دي چي بيا يې هغه پرېښودی.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴٦٦، رقم: ۳٦۳۰. والترمذي ۴\۲۰، رقم: ۱۴۱۷، والنسائي ۸\٦۷، رقم: ۴۸۷٦

تشريح: د تهمت په وجه: ددې مطلب دادی چي يو سړي پر هغه باندي د خپل ورکړي پور دعوه کړې وه يا پر هغه د يو ګناه الزام يې لګولی وو نو نبي کريم ﷺ هغه په بند کي وساتی چي په دغه دوران کي د شاهدانو په ذريعه د مدعی د دعوې صحيح کېدل معلوم سي مګر مدعی د خپل دعوې په ثبوت کي د شاهدانو وړاندي کولو څخه عاجز سو نو رسول الله ﷺ هغه سړی د الزام څخه په خلاصولو سره پرېښودی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

مدعی او مدعا عليه بايد دواړه د حاکم په مخ کي حاضر وي

﴿۳٦۱۳﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَكَمِ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دواړي ډلي (مدعا او مدعا عليه) دي د حاکم په مخ کي کښيني. احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۴. رقم: ۳۵۸۸.

تشريح: علامه طيبي رحمه الله وايي چي د قاضي لپاره تر دې زيات مشکل او سخت پړاو بل نه سته چي کله د هغه په مخکي مقدمه وړاندي سي نو هغه د دواړو کسانو يعني مدعی او مدعا عليه په مينځ کي پوره برابر وکړي.

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ الْجِهَادِ

(د جهاد بيان)

د جهاد معنی : د جهد او جهاد لغوي معنی ده تکليف ورل او د طاقت څخه زيات بار پورته کول، امام راغب رحمه الله دا مطلب بيان کړی دی چي : (الجهاد استفراغ الوسع في مدافعة العدو) يعني د جهاد مطلب دادی چي په زيات قوت سره د حمله کونکي دښمن دفاع کول.

د شريعت په اصطلاح کي د جهاد مفهوم دادی چي د کفارو سره په جنګ کي خپل طاقت مصرفول، په دې توګه چي خپل ځان وړاندي کړي يا د خپل مال په ذريعه مرسته وکړي او يا د خپل عقل او تدبير په ذريعه مرسته وکړل سي يا محض په اسلامي لښکر کي په ګډون سره د هغوی په شمېر کي زياتوب وکړل سي يا ددې څخه پرته په يو بله طريقه سره د اسلام د دښمنانو په مقابله کي د لښکر معاونت او مرسته وکړل سي.

د جهاد نصب العين

د جهاد نصب العين دادئ چي په دنيا کي همېشه د الله تعالی خبره لوړه وي د الله جل جلاله پر دغه مځکه باندي د هغه بيرغ لوړ او د هغه د باغيانو او منکرينو دعوې نسکوره وي.

د جهاد حکم

جهاد فرض کفايه دئ که چيري د جنګ عام اعلان نه وي او که نفير (د جنګ اعلان) عام وي په دې توګه چي کفار د مسلمانانو پر يو ښار حمله وکړي يا د اسلامي هيواد پر خلاف جنګ شروع کړي او د مسلمانانو له خوا د عام جنګ اعلان وکړل سي نو په دغه صورت کي پر هر مسلمان باندي جهاد فرض عين دی که څه هم د جنګ اعلان کونکی عادل وي يا فاسق وي نو په دغه صورت کي د دښمنانو مقابله کول او په جهاد کي ګډون کول د هغه ښار او د هغه هيواد پر ټولو اوسيدونکو باندي واجب دی او همدارنګه پر هغه خلکو باندي هم واجبيږي کوم چي د هغه ښار يا هيواد نژدې اوسيږي په شرط ددې چي د هغه ښار يا هيواد اوسيدونکي د خپل ښار او هيواد د ساتني او د دښمنانو د مقابلې لپاره کافي نه وي يا هغوی د خپل جنګي او دفاعي ذمه داريو په سرته رسولو کي سستي کړې او ګناه کار وي لکه څرنګه چي د مړي مسئله ده چي

د هغه کفن او دفن او د جنازې لمونځ د هغه د سيمې پر خلکو واجب دی او که هغوی دده ځنځه عاجزه وي نو بيا دغه شيان به د هغه پر ښار والاوو واجبيږي همدارنګه د جهاد مسئله هم داسي ده چي د کوم ښار او هيواد مسلمانانو ته د کفارو او د دين د دښمنانو د جارحيت او جنګي حملو مخ وي که هغوی د خپل دفاع ځنځه عاجزه وي او د دښمنانو په مقابله کي ناتوانه يا ناکامه وي نو هغه وخت د هغوی د همسايه ښار او هيواد پر مسلمانانو بلکه د نړۍ پر ټولو مسلمانانو دا واجب ده چي هغوی په جهاد کي په ګډون کولو سره د اسلام او مسلمانانو د وقار د ساتني او د دين د دښمنانو د نسکوره کولو لپاره ولاړ سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

غوره جهاد

﴿٣٦١٤﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آمَنَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځنځه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي

بِاللّٰهِ وَبِرَسُولِهِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُدْخِلَهُ

پر الله تعالی او د هغه پر رسول ايمان راوړ، لمونځ يې وکړ او د رمضان روژې يې ونيولې نو د الله تعالی لپاره ضروري ده چي هغه داخل کړي

الْجَنَّةَ جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا قَالُوا أَفَلَا نُبَشِّرُ

جنت ته که څه هم هغه د الله تعالی په لار کي جهاد وکړي او که په خپل وطن کي چي دی پکښي پيدا سوی دی پاته سي (يعني جهاد ونه کړي)، صحابه کرامو عرض وکړ ايا موږ زيری ورکړو

النَّاسَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللّٰهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا

خلکو ته، رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشکه په جنت کي سل درجې دي چي الله تعالی د جهاد کوونکو في سبيل الله لپاره تياري کړي دي د هغو

بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ

دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده څومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي فاصله ده هر کله

چې تاسو د الله تعالی څخه جنت غواړئ نو جنت الفردوس غواړئ

فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ أُرَاهُ فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ. رواه البخاري.

ځکه چې دا د جنت اوسط او اعلی درجه ده او پر دې سربیره د الله تعالی عرش دئ او د هغه څخه د جنت ولې بهیږي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١١، رقم: ٢٧٩٠.

تشريح: په دغه حدیث کې د لمانځه او روژې ذکر سوی دی مګر د حج او زکوة ذکر نه سته د دې وجه په دې اګاه کول دي چې دغه دوه عبادتونه یعني لمونځ او روژه د نورو عباداتو په نسبت امتیازي شان لري دوهم دا چې ددغه دواړو عباداتو تعلق د هر مسلمان سره دی چې پر ټولو مسلمانانو واجب دی حال دا چې حج او زکوة داسي عبادتونه دي چې پر هر مسلمان باندي واجب نه دي بلکه پر هغه مسلمان واجب دي کوم چې شتمن او د توان خاوند وي.

که څه هم هغه په خپل کور او هیواد کي ناست وي: ددغه عبارت څخه دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ دا حدیث د مکې د فتح په ورځ ارشاد فرمایلی دی ځکه چې د مکې د فتحي د ورځي څخه مخکي هجرت پر هر مؤمن باندي فرض وو.

﴿٣٦١٥﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: مثال د جهاد کوونکی په

سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. متفق عليه.

لاره کي د الله تعالی تر څو پوري چې هغه د جهاد څخه را نسي داسي دئ لکه څرنګه چې روژه نیونکی عبادت کونکي او قرآن ویونکي چې هیڅکله د روژو نیولو او لمونځ کولو څخه نه ستړی کیږي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦، رقم: ٢٧٨٧، ومسلم ١٣\١٤٩٨، رقم: ١١٠- ١٨٧٨.

د لغاتو حل: لايفتر: اى لايسام ولايمل من العبادة: (نه ستومانه کیږي).

تشریح: کله چې مجاهد د الله ﷻ په لاره کې د جهاد کولو لپاره د کور څخه وځي او بيا په جهاد کولو سره بېرته کور ته راسي نو ظاهره ده چې په دغه دوران کې هغه ټول وخت په جهاد کې بوخت نه وي بلکه د هغه د وختو يو برخه د جهاد څخه خالي هم تېرېږي چې په هغه کې خوراک، څښاک، خوب او داسې نورو کارو کې هم وخت تېروي مگر ددې سربېره هغه ته دا درجه ورکړل سوې ده چې ګويا د هغه هيڅ وخت هم د عبادت څخه خالي نه دی نو پر هر حرکت او پر هر عيش او آرام باندې د هغه په عمل نامه کې ثواب ليکل کېږي.

﴿٣٦١٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتَدَبَ اللَّهُ لِمَنْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ضامن سو د هغه چا

خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. متفق عليه

چې د الله تعالی په لار کې (د جهاد لپاره) ووتئ نو، هغه (د جنګ ډګر ته) د هغه ايمان بوتلئ او زما او زما د رسولانو په تصديق کې هغه خو به يا د اجر غنيمت سره راستون کړم يا (پر شهيد کېدو باندې) به هغه په جنت کې داخل کړم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٩٢، رقم: ٣٦. و مسلم ٣\١٤٩٥. رقم: ١٠٣-١٨٧٦.

د رسول الله ﷺ د جهاد جذبه او د شهادت شوق

﴿٣٦١٧﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دئ په هغه ذات چې

بِيَدِهِ لَوْلَا أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي وَلَا

د هغه په لاس کې زما روح دی که زما سره ددې خيال نه وای چې ډېر مسلمانان به زما څخه په

أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِي

بېلېدو ناخوښه وي نو زه به هيڅکله د يوه جهاد څخه نه پاته کېدلای، او د الله تعالی په لار کې

به مي جهاد كولاى ، او زما سره ډيري سپرلۍ نسته (له دې كبله زه تاسو مسلمانان د ځان سره نه سم بيولاى) او قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په واک كي

نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ . متفق عليه .

زما روح دى زه هم دا ډيره خوښوم چي د الله تعالى په لار كي ووژل سم بيا ژوندى كړل سم بيا ووژل سم بيا ژوندى كړل سم او بيا ووژل سم بيا ژوندى كړل سم او بيا ووژل سم . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\٦، رقم: ٢٧٩٧، ومسلم ١٤٩٧\١٣، رقم: ١٠٦- ١٨٧٦.

تشريح: د دغه ارشاد څخه يوې خوا ته د رسول الله ﷺ د جهاد سره د بې پايه جذبې او شوق اظهار كيږي او بلي خوا ته دا خبره هم معلوميږي چي د رسول الله ﷺ په ژوند مبارك كي د كفارو سره چي څومره جنگونه وسول نو رسول الله ﷺ د يو څو څخه پرته په نورو ټولو كي په خپله ګډون درلودى ، رسول الله ﷺ د دې علت بيان كړ چي زه د كفارو سره د جنګ كولو لپاره په هر لښكر او هر فوج كي ځكه ګډون نه كوم كه چيري زه په جنګ كي د ګډون لپاره د هر لښكر سره ولاړ سم نو يقينا هغه ډير مسلمانان كوم چي د نادارۍ او بې سامان كېدو په وجه خپل سپرلۍ نه لري په جنګ كي به د ګډون څخه هم محروم سي او زما د جلاوالى غم به وي او زه خپله د دومره سپرليو پر انتظام كولو باندي قادر نه يم چي ټول مسلمانان د ځان سره بوځم ځكه نو كه زما سره دا فكر نه واى چي ډير مسلمانان به په جنګ كي د ګډون څخه محروم سي او يا زما څخه د جلا كېدو په وجه د زړه ماتېدل وي او هغوى به ډېر زيات غم محسوس كوي نو په ما كي د جهاد جذبه او د الله تعالى په لار كي د قربانېدو شوق دومره زيات دى چي ما به د هيڅ يو لښكر سره د تللو څخه پاته كېدل نه غوښتلاى او زه دا ډېره خوښوم چي زه په وار وار ژوندى كړل سم او په وار وار د الله تعالى په لار كي ووژل سم .

په جهاد كي معمولي ګډون هم د دنيا تر ټولو شيانو غوره دى

﴿٣٦١٨﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا . متفق عليه .

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى په لار كي

يوه ورځ چوكېداري د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره ده. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٨٥، رقم: ٢٨٩٣، ومسلم ٣\١٥٠٠. رقم: ١١٣- ١٨٨١.

تشريح: ددې مطلب دادی چې په جهاد كې د يوې ورځې لپاره د چوكيدارۍ پر معمولي خدمت باندې ثواب د هغه مال څخه غوره دی كوم چې د الله تعالی په نامه مصرف كړل سي او يا دا مطلب دی چې په جهاد كې محض د يوې ورځې د چوكيدارۍ په عوض كې چې كوم ثواب وركول كېږي هغه د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه زيات غوره او افضل دی.

﴿٣٦١٩﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په سهار يا مابنام كې د الله تعالی په لاره كې تګ كول د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٢٣٣، رقم: ٦٤١٥، ومسلم ٣\١٥٠٠. رقم: ١١٣- ١٩١٣.

تشريح: مطلب دادی كه يو سړی د يوه سهار لپاره يا د يوه مابنام لپاره هم په جهاد كې ګډون وكړي نو پر دې باندې چې هغه ته كوم ثواب وركول كېږي او ددې چې كوم فضيلت تر لاسه كېږي هغه د دنيا د ټولو نعمتونو څخه غوره دی ځكه چې د دنيا ټول نعمتونه فنا كېدونكي دي او د آخرت نعمت پاته كيدونكی دی.

په جهاد كې د چوكيدارۍ ثواب

﴿٣٦٢٠﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې

يَقُولُ رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ

فرمايل يې: يوه ورځ او يوه شپه چوكېداري د الله تعالی په لار كې تر يوې مياشتي روژو او د شب بيدارۍ څخه غوره ده، او كه هغه د چوكيدارۍ په خدمت كولو كې ووژل سي نو د هغه د

عَمَلُهُ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُهُ وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ وَأَمِنَ الْفَتَّانَ. رواه مسلم.

هغه عمل لړۍ به جاري وي په كوم كې چې هغه بوخت وو، او هغه ته د جنت څخه رزق تر لاسه

كيږي او د فتنه اچونكي (يعني د قبر عذاب د ملائكو يا د جال يا شيطان) څخه به په امان كي اوسي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١٣\١٥٢٠، رقم: ١٦٣- ١٩١٣.

د لغاتو حل: الفتان: اى عذاب القبر وفتنته.

په جهاد كي ګډون د دوږخ څخه د خوندي كېدو ضامن دى

﴿٣٦٢١﴾: وَعَنْ أَبِي عَبْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ . رواه البخاري.

د حضرت ابو عبس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د كوم بنده پښې چي د الله تعالى په لار كي په ګرد سي بيا هغه د دوږخ اور نسي مسه كولاى . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٩، رقم: ٢٨١١.

تشريح: دغه ارشاد په اصل كي د جهاد په لاره كي د قدمونو په ګرد كېدل ، د دوږخ د اور څخه د ساتني ضامن دى نو د نفس جهاد ثواب او د هغه سړي د فضيلت څه اندازه كيداى سي كوم چي د جهاد په لاره كي تكليفونه زغمي او په جهاد كي ګډون كوي .

د غازي لپاره زيرى

﴿٣٦٢٢﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كافر او د كافر وژونكى هيڅكله په دوږخ كي يو ځاى كيدلاى نسي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٣\١٥٠٥، رقم: ١٣٠- ١٨٩١.

تشريح: په دغه حديث شريف كي په خاصه توګه د هغه مسلمان لپاره زيرى دى كوم چي په جهاد كي يو كافر مړ كړي چي هغه مسلمان به هيڅكله دوږخ ته نه ځي او په حقيقت كي دغه ارشاد د جهاد فضيلت څرګندوي چي كوم مسلمان په جهاد كي ګډون وكړي هغه به اغلبا يو كافر وژني او كله چي هغه كافر ووژني نو هغه به د دوږخ څخه خوندي وي كه څه هم د هغه سړي

جزاء هم جنت دی کوم چي په جهاد کي ګډون کړی وي او په هغه کي يې پوره کوښښ کړی وي مګر يو کافر قتل نه کړای سي .

غوره ژوند کوم دی؟

﴿۳۶۲۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په انسانانو کي غوره

النَّاسِ لَهُمْ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ كُلَّمَا

ژوند د هغه کس دئ چي د الله تعالی په لار کي د خپل آس واګي ونيسي پر شا يې سپور سي او

سَمِعَ هَيْعَةً أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ أَوْ رَجُلٌ فِي

هر کله چي د بيري او فرياد آواز واوري نو سمدستي هغه لوري ته ورځغلي او موقع لټوي قتل او مرګ ته ورورانِدي سي او د شهادت درجه تر لاسه کولو لپاره د خپل مرګ موقع لټوي او يا د

غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هَذِهِ الشَّعَفِ أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هَذِهِ الْأَوْدِيَةِ يُقِيمُ

هغه سړي د خپلو څو پسونو سره يا چي د غره پر څوکه په يوې شيله کي او سيږي او لمونځ کوي

الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ وَيَعْبُدُ رَبَّهُ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْيَقِينُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ . رواه مسلم .

او زکوة ادا کوي او د خپل پروردګار عبادت کوي تر څو چي د مرګ سره غاړه سي دا سړي په خلکو کي يوازي په نيکۍ سره ژوند تيروئ . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۱۵۰۳/۳، رقم: ۱۲۵- ۱۸۸۹.

تخريج: على متنه: اى على ظهره. (پر شا خپله). فزعة: اى مرة من الاستغاثة. هيعة: اي صيحة يفزع منها ويجبن. مظانة: اى لايبالي ولايحترز منه، بل يطلبه حيث يظن انه يكون. شعفة: اى راس جبل.

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي د اسي سړی د دنيا د خلکو څخه په جلا اوسيدو سره د هغوی د خرابو او شر څخه ځان خوندي ساتي او د خپل فتنې او شر څخه د دنيا خلک خوندي کوي .

د دغه حديث خلاصه په اصل كي د دين د دښمنانو په مقابله كي جهاد كول خپله د نفس او شيطان سره مجاهده او د دنيا د فاني لذتونو او نفس د باطل خواهشاتو څخه پرهيز ته رغبت كوي او ددې خبرتيا وركوي كه ددين تائيد او د شريعت د تقرب لپاره د خلكو په مينځ كي هستوګنه اختيار كړي نو غوره ده كنه نو د دنيا د خلكو په مينځ كي په دين او شريعت كي د تاوان رسيدو او د ايمان د كمزوري كېدو د بيري په وخت كي دي جلاوالى اختيار كړي.

د خلكو څخه جلاوالى غوره دى كه يو ځاى والى؟

امام نووي رحمه الله واىي چي دا حديث د هغه خلكو د مذهب دليل دى كوم چي مخالطت (يعني د خلكو په مينځ كي هستوګني) ته پر جلا هستوګني باندي فضيلت وركوي، په دې باره كي مشهور اختلاف دى، د امام شافعي رحمه الله او نورو اكثرو علماؤ په نزد اختلاط غوره دى په شرط ددې چي د فتنې او فساد څخه د خوندي كېدو اميد وي، د زاهدانو د يو ډلي مذهب دادى چي د دنيا د خلكو څخه جلاوالى اختيارول غوره دى، هغوى ددغه حديث څخه استدلال كړى دى مګر جمهور علماء واىي چي دا حديث يا خو د فتنې پر زمانې محمول دى يا ددې څخه ماسوا ددې تعلق د هغه سړي سره دى كوم چي د خلكو پر تكليفو باندي صبر نه سي كولاى يا خلك د هغه په وجه سلامت نه وي نو بيا د هغوى تر ټولو لوى دليل دادى چي د انبياء عليهم السلام، صحابه كرامو، تابعينو، علماء، مشائخ او زاهدانو د معمول دا راغلى دى چي هغوى د جلاوالي څخه په پرهيز كولو سره په دغه دنيا كي او ددنيا د اوسيدونكي په مينځ كي اوسيدل اختيار كړل او ددې په ذريعه يې ډيري ديني ګټې ترلاسه كولې كوم چي د جلاوالي په صورت كي ناممكن وې لكه د جمعې لمونځ، د جماعت لمونځ، د جنازې لمونځ، د ناروغ پوښتنه او داسي نور...

د مجاهد مرسته كونكي او د مجاهد د كورني خيال ساتونكى

﴿۳۶۲۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ فَقَدْ غَزَا. متفق عليه

د حضرت زيد بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د يو غازي سامان برابر كړ هغه لكه خپله چي جهاد وكړي او څوك چي د جهاد كونكي د كورني خدمت كونكى جوړ سي هغه هم جهاد وكړ. بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٩. رقم: ٢٨٤٣، ومسلم ١٥٠٧\٣، رقم: ١٣٥- ١٨٩٥.

د مجاهدينو د ښځو د احترام حکم

﴿٣٦٢٥﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُرْمَةُ نِسَاءِ

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مجاهدينو د ښځو حرمت او

الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ

عزت په کورونو کي ناستو باندي داسي لازم دی لکه څرنګه چي د هغوی د میندو حرمت او عزت پر دوی باندي لازم دی، څوک چي جهاد ته ولاړ نسي بلکه

يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ فَيَخُونُهُ فِيهِمْ إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ فَمَا ظَنُّكُمْ. رواه مسلم

د مجاهدينو د کورنۍ خبرګيري وکړي او په خبرګيري کي خيانت وکړي نو هغه به د قيامت په ورځ د هغه مجاهد په وړاندي ودرول سي چي د هغه په کور کي يې خيانت کړی دئ او هغه مجاهد به د هغه د نیک اعمالو څخه څومره چي غواړي واخلي نو څه دی ګمان ستاسي. مسلم

تخریج: صحيح مسلم ١٥٠٨\٣، رقم: ١٣٩- ١٨٩٧.

تشریح: په داسي حال کي ستاسو څه خيال دئ؟: ددې مطلب دادی چي ايا تاسو دا خيال کولای سئ چي په داسي حالت کي هغه مجاهد به د قيامت په ورځ د هغه سړي د نيکيو په اخيستلو کي کم راغب وي، داسي نه ده بلکه هغه به د هغه سره هيڅ نه پريږدي او د هغه ټولي نيکۍ به واخلي يا به د هغه سړي څخه د هغه مجاهد په حق کي چي خيانت يې کړی دی د هغه په لېدو سره د الله تعالی په دربار کي ستاسو څه خيال دئ چي ايا هغه به د خيانت کونکي د نيکيو په صورت کي مجاهد ته چي کوم عوض او بدله ورکوي په هغه کي ستاسو څه شک دئ که تاسو ته هيڅ شک نه سته او تاسو دا يقين لرئ چي تا څه ويلي دي هغه ريښتيا دي نو بيا پر تاسو لازمه ده چي تاسو د مجاهدينو د بيبيانو په عزت کي د خيانت کولو څخه ځان وساتئ داسي نه چي ددې په وجه تاسو په آخرت کي د خپلو نيکيو څخه لاس پريولئ يا دا چي الله تعالی مجاهد ته کومه لوړه مرتبه ورکړې ده او هغه يې په دغه فضيلت سره خاص کړی دی نو ستاسو څه خيال

دی چي هغه مجاهد ته به همدغه مرتبه ورکول کيږي داسي نه ده بلکه ددغه مرتبې او خاص فضيلت څخه پرته هغه ته نور عظيمتونه او بزرګي ورکول کيږي او ددې څخه به هم لوی لوی درجې د هغه په برخه کيږي .

په جهاد کي د مالي مرستي کولو فضيلت

﴿٣٦٢٦﴾ : وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ فَقَالَ

د حضرت ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی د مهار نيولي اوښ سره حاضر سو او عرض يې وکړ چي

هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ . رواه مسلم

دا اوښه زه د الله په لار کي ورکوم، رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به ددې په بدله کي اووه سوه اوښي در ته تر لاسه کيږي هغه ټولې به مهار داري وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٥٠٥، رقم: ١٣٢- ١٨٩٢.

د لغاتو حل: مخطومة: ای فيها خطام وهو قريب من الزمام.

د مجاهد د کور ساتني فضيلت

﴿٣٦٢٧﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لَحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا . رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هذيل قبيلې د بني لحيان ښاخ په لور د يوه لښکر ليږلو اراده وکړه او وه يې فرمايل په هر دوو کسانو کي يو کس د لښکر سره ولاړ سئ (يعني د هري قبيلې نيم خلک ولاړ سئ) او ثواب به دواړو ته يو ډول تر لاسه کيږي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٥٠٧، رقم: ١٣٧- ١٨٩٦.

تشريح: ددغه ارشاد مطلب دادی چي کوم خلک جهاد ته ولاړ سي نو هغوی ته به د جهاد ثواب ورکول کيږي مګر کوم خلک چي په خپلو کورو کي په پاته کېدو سره د مجاهدينو د کور

ځارنه او د هغوی د کورنۍ روزنه او ساتنه کوي نو هغوی ته به هم د مجاهدينو په ډول ثواب ورکول کيږي.

په امت محمدي کي به همېشه يوه ډله جهاد کوي

﴿٣٦٢٨﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا تقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ. رواه مسلم

د حضرت جابر سمرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دا دين به هميشه قائم وي او د مسلمانانو يو ډله به هميشه جهاد کوي ترڅو چي قيامت قائم سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\ ١٥٢۴، رقم: ١٧٢- ١٩٢٢.

تشريح: علامه طيبي رحمه الله وايي چي دغه عبارت (يقاتل عليه ...) مستانفه جمله ده او ددې مقصد د مخکني عبارت وضاحت کول دي، خلاصه دا ده چي دغه دين به په دې سبب قائم وي چي په مسلمانانو کي به يو ډله او يو قوم همېشه د دين د دښمنانو سره جنګيږي او د الله تعالى د باغيانو دعوې به نسکوروي.

د الله جل جلاله په لاره کي ژوبل سوی کس

﴿٣٦٢٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُكْلَمُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله تعالى په

أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

لار کي زخمي کړل سي او الله تعالى ښه پوهيږي چي څوک د هغه په لاره کي زخمي کيږي نو هغه به د قيامت په ورځ په داسي حال کي راسي چي

وجرحه يثعب دما وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ. متفق عليه

د هغه د زخم څخه به وينه روانه وي د هغهويني رنګ خو به د ويني په ډول وي مګر بوی به يې د مشکو په ډول وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٢٠، رقم: ٢٨٠٣، ومسلم ٣\ ١۴٩٦، رقم: ١٠٥- ١٨٧٦.

د لغاتو حل: لايُكلم: اى لايجرح (نه ژوبل کيږي).

د شهادت فضيلت

﴿۳۶۳۰﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي د داخليدو څخه

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا

وروسته هيڅوک به د نيا ته په دې خيال بيرته تګ خوښ نه کړي چي په مځکه کي څه وه هغه ته بيا تر لاسه سي مګر

الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ. متفق عليه

شهيد به د دې آرزو کوي چي هغه دنيا ته ولاړ سئ او لس واره ووژل سي ځکه هغه د شهادت په عظمت پوه سوی دئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٢، رقم: ٢٨١٧، ومسلم ٣\١٤٩٨، رقم: ١٠٩-١٨٧٧.

د شهيدانو حيات بعد الموت

﴿۳۶۳۱﴾: وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ

د حضرت مسروق رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه د دې آيت معنا

{ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ

وغوښتل: (ولاتحسبن ....) (کوم کسان چي د الله جل جلاله په لار کي ووژل سي هغوی مړه مه ګڼئ بلکه هغوی د خپل پروردګار سره ژوندي دي

يُرْزَقُونَ } قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ

او هغوی ته رزق ورکول کيږي) ابن مسعود رضي الله عنه وويل موږ د رسول الله ﷺ څخه په دې اړه پوښتنه وکړه نو هغه وفرمايل: د هغوی روحونه د شنو مرغانو په بدنونو کي دي

خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي

او د هغوی لپاره تر عرش الهي لاندي قنديلونه زړيدلي دي هغوی په جنت کي چي چيري د هغوی زړه غواړي ميوې خوري او بيا

إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ اطِّلَاعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا

دغه قنديلونو ته ځي او پروردګار هغوی ته ګوري او فرمايي ستاسو د کوم شي خواهش دئ؟

قَالُوا أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذٰلِكَ

هغوی به عرض کوي موږ د څه شي خواهش وکړو د کوم ځای څخه چي زموږ زړه غواړي د جنت

بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيدُ

ميوې خورو ، الله تعالی به دري واره داسي پوښتنه کوي ، هر کله چي هغوی ويني چي په ځو ځو واره پوښتنه کيږي نو هغوی به عرض کوي اې پروردګاره ! موږ دا غواړو چي

أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا . رواه مسلم

زموږ روحونه بيا زموږ بدنونو ته ستانه کړل سي چي موږ ستا په لار کي دويم وار شهيدان سو، هر کله چي الله تعالی ويني چي هغوی ته د هيڅ شي حاجت نسته نو هغوی به پرېښودل سي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١٥٠٢\٣، رقم: ١٢١ – ١٨٨٧.

تشريح: د چا په ذهن کي دا اعتراض پيدا کيدای سي چي په ترجمه کي د قوسو په مينځ کي عبارت که دوهم وار هم د اول وار په ډول ثواب ورکول کيږي نو بيا د شهيدانو د دغه خواهش څه فائده ده چي زموږ روحونه زموږ بدنو ته په بېرته راتلو سره دنيا ته راوليږل سي چي موږ دوهم وار د الله تعالی په لار کي ووژل سو .

علماؤ ددې جواب داسي ورکړی دی چي د دغه خواهش په اظهار سره په حقيقت کي مراد د خپلو روحونو بدنو ته بېرته ورکولو خواست نه دی بلکه د هغوي مقصد د الله تعالی د هغه انعامو او اکرام شکر ادا کول دي کوم چي د هغوی سره سوي دي، يعني د خپل دغه خواهش په

ذریعه هغوی دا واضحه کوي چې اې الله ! تا چې موږ ته کوم نعمتونه راکړي دي او کومې عظیمې درجې چې دې راکړي دي او په هغه وجه پر موږ باندې ستا شکر ادا کول واجب دی نو دهغه تقاضا داده چې موږ یو وار بیا دنیا ته ولاړ سو او ستا په لار کې خپل ځان قربان کړو.یا د هغوی د خپل دغه خواهش اظهار د خپل گمان مطابق کوي چې موږ به په دوهم وار په زیاتې تیارۍ، همت او قربانۍ سره د الله تعالی په لار کې ځان قربان کړو ځکه چې هیڅ تعجب نه ده چې په دوهم وار موږ ته تر دې زیات اجر راکړل سي مگر د الله تعالی قدرت او نظام ددې خلاف دی او د الله تعالی په علم کې دا خبره ده چې هغوی ته په دوهم وار به هم هغه ثواب ورکول کیږي کوم چې په اول وار ورکړل سوی دی او ددې هغوی ته اړتیا نه سته نو د هغوی څخه پوښتنه کول پرېښنودل سي.

خبرتیا! : علماء کرامو لیکلي دي چې د شهیدانو روحونه د مرغانو په بدن کې ساتل د روحونو د عزت، توقیر او تکریم په وجه دي لکه څرنگه چې جواهرات د ساتنې او احتیاط لپاره په صندوق کې اېښنودل کیږي او همدارنگه دا مقصد دی چې دغه روحونه د دوی د دنیاوي بدن څخه پرته په جنت کې داخل کړل سي نو هغه روحونه د هغه مرغانو په بدن کې د جنت په مرغانو کې اوسیږي د هغه په فضا کې گرځي د جنت د پاکې او خوشبوداري هواء څخه خوند اخلي د هغه ځای د انوارو برکات مشاهده کوي د ځای د نعمتونو او خوندونو څخه برخمن کیږئ او هغوی ته یوازې ددغه شیانو په ذریعه هر وخت خوش طبعي تر لاسه کیږي بلکه د الله تعالی قرب او د ملائکو د همسایتوب سعادت هم ور په برخه کیږي چې پر خپل ځای تر ټولو لوی نعمت او د فرحت سبب دی نو په قرآن کریم کې د الله تعالی دا مراد دی چې :

يُرْزَقُونَ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ

ژباړه : هغوی ته رزق ورکول کیږي او څه چې الله تعالی په خپل فضل سره ورکړي دي په هغه کې خوشحاله وي.

دلته دا خبره باید په ذهن کې وي چې د دغه حدیث څخه د تناسخ نظر نه ثابتیږي ځکه چې کوم خلک د تناسخ قائل دي د هغوی په نزد تناسخ دې ته وایي چې په دغه عالم کې د روح یو قالب او بدن ته بهرته راتلل د هغوی په نزد په یو قالب او بدن کې د روح بهرته راتلو نظر د آخرت سره متعلق نه دی او هسې هم ممکن نه ده چې د هغوی په نزد د آخرت یو تصور نه سته بلکه هغوی د آخرت منکر دي. د دغه حدیث څخه دا مسئله هم ثابتیږي چې جنت مخلوق دی او موجود دی لکه څرنگه چې د اهل سنت والجماعت مذهب دی.

جهاد د حقوق العباد څخه پرته ټول ګناهونه رژوي

﴿٣٦٣٢﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِيهِمْ فَذَكَرَ

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وعظ وکړ او وه يې

لَهُمْ أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْإِيمَانَ بِاللَّهِ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ فَقَامَ رَجُلٌ

فرمايل: د الله تعالى په لار کي جهاد کول او پر الله تعالى ايمان راوړل د ښه اعمالو څخه دي، يو سړى ودريدئ

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ

او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! که زه د الله په لاره کي ووژل سم نو ايا زما ګناهونه به معاف

لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ

کړل سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو، که ته د الله په لار کي قتل کړل سې په داسي حال کي چي ته صبر کوونکى يې

مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ

او د ثواب اميد لرونکي يې د دښمن مقابلې ته تلونکى يې او پر شا تېښتېدونکى نه يې، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې سړيه! تا څه وويل

قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَيُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

هغه عرض وکړ که زه د الله تعالى په لار کي ووژل سم، نو ايا ستاسو په خيال زما ګناه به ورژول

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ إِلَّا الدَّيْنَ

فَإِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ لِي ذَلِكَ. رواه مسلم

سي، رسول الله ﷺ وفرمايل هو، په دې شرط چي ته صبر کونکى، د ثواب غوښتونکى او پر مخ تلونکى يې وروسته پاته کېدونکى نه يې مګر پور نسي معاف کيدلاى ما ته جبرائيل عليه السلام داسي وويل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۵۰۱\۳، رقم: ۱۱۷- ۱۸۸۵.

تشريح: د ايمان تر ټولو غوره عمل کېدل خو ثابت دي په دې باره کي د وضاحت او تشريح ضرورت نه سته ، پاته سوه د جهاد خبره نو دغه عمل ته په دې اعتبار سره تر ټولو غوره عمل ويل سوي دي چي په ټولو نيکو اعمالو کي دا يو داسي عمل دی چي ددې په ذريعه د کلمة الله د لوړتيا فريضه سرته رسيږي د الله ﷻ د باغيانو او د دين د دښمنانو بيخ ايستل کيږي د سر او مال قرباني وراندي کيږي او د مختلفو تکليفو او پريشانيو زغمل وي گويا دغه عمل د الله ﷻ په حضور کي او د هغه په لاره کي د بنده د عبوديت جذبه ، قرباني او ايثار تر ټولو لوی مظهر دی او دا چي په نورو حديثو کي لمانځه تر ټولو غوره عمل ويل سوي دي نو هغه په دې اعتبار سره دی چي لمونځ يو داسي عمل دی چي په هغه کي همېشتوب وي او د يوه عمل کېدو سربېره پر ډېرو عباداتو شامل دی .

د دَين (پور) په باره کي علامه توريشتي رحمه الله ليکلي دي چي دلته د دين څخه مراد د مسلمانانو حقوق دي نو ددغه ارشاد خلاصه داده چي په جهاد سره د بندگانو د حقوقو څخه ماسو نور ټول گناهونه رژيږي .

﴿۳۶۳۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى په لار کي قتلېدل د پور څخه پرته هره گناه رژوي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۵۰۲\۳، رقم: ۱۲۰- ۱۸۸۶.

تشريح: علامه سيوطي رحمه الله ليکلي دي چي په بحري جهاد (په اوبو کي کېدونکی جنگ) شهيدان ددغه حکم څخه مستثنی دي يعني د هغوی پر ذمه چي د بندگانو کوم حقوق دي الله تعالى هغه هم ور معافوي .

هغه قاتل او مقتول چي جنت ته ځي

﴿۳۶۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى ته پر دوو

اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ. متفق عليه

كسانو خندا ورځي (يو په هغه كي) چي يو سړی بل قتلوي او دواړه جنت ته داخليږي يو خو په هغوی كي د الله تعالى په لار كي جهاد كوي او شهيد كيږي بيا الله تعالى قاتل ته د توبې توفيق وركوي (يعني هغه د كفر څخه توبه كوي مسلمان سي) او بيا هغه هم په جهاد كي شهيد سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٩، رقم: ٢٨٢٦، ومسلم ٣\١٥٠٤، رقم: ١٢٨- ١٨٩٠.

د شهادت د غوښتونكي فضيلت

﴿٣٦٣٥﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ. رواه مسلم

د حضرت سهل بن حنيف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله تعالى څخه په رېښتوني زړه سره شهادت وغواړي الله تعالى هغه ته د شهيد مرتبه وركوي كه څه هم هغه پر خپل بستر مړ سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٥١٧، رقم: ١٥٧- ١٩٠٩.

د شهيدانو ځای فردوس اعلى دی

﴿٣٦٣٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ الْبَرَاءِ وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ أَتَتْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د براء لور او د حارثه بن سراقه مور ربيع د نبي كريم ﷺ

النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَلَا تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ وَكَانَ

په خدمت كي حاضره سوه او وېي ويل اې د الله رسوله! ايا تاسو به د حارثه حال ما ته بيان كړئ

قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ وَإِنْ كَانَ غَيْرَ

حارثه د بدر په غزا کي شهيد سو او د يو نامعلوم سړي په غشي ولګيدئ) که هغه په جنت کي وي نو زه به صبر کوم او که په بل ځای کي وي

ذٰلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ قَالَ يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَىٰ . رواه البخاري

نو د ژړا هڅه به کوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې د حارثه موري! په جنت کي ډير باغونه دي او ستا زوی په فردوس اعلى کي دئ . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري):

د لغاتو حل: سهم غرب: ای لايدري راميه. (ويشتونکی يې معلوم نه وي)

د شهيد منزل جنت دی

﴿۳۶۳۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتّٰى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرام د مديني منورې

سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

څخه روان سول او د بدر د مشرکانو څخه مخکي ورسيدل ، بيا مشرکان راغلل ، رسول الله ﷺ مجاهدينو ته وفرمايل :

وَسَلَّمَ قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ بَخٍ

د جنت په لور تلو ته ودريږئ او (د هغه جنت په لاره کي چي) د هغه پلنوالی د آسمانو او مځکو په ډول دئ (د دې په اوريدو سره) عمير بن حمام وويل ډير ښه ډير ښه ،

بَخٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ قَالَ

رسول الله ﷺ وويل تا دا الفاظ څنګه وويل ؟ هغه وويل :

لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِلَّا رَجَاءَةَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ

اې د الله رسوله ! په الله دي مي قسم وي زما د دې الفاظو څخه نور څه مقصد نه دئ بلکه زما دا

ارمان دئ چي زه جنتي سم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته جنتي يې ، د راوي بيان دئ ددې

فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهِ فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ ثُمَّ قَالَ لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى

وروسته حضرت عمير د خپل کڅوړي څخه خرماوي راوکښلې او د هغه خوړل يې پيل کړل او ويل يې که زه ددې خرماوو دويم وار خوړلو پورې ژوندی پاته سوم نو دا به اوږد ژوند وي

آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيلَةٌ قَالَ فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ . رواه مسلم .

،ويلي دي راوي چي د دې په ويلو سره هغه پاته خرماوي وغورځولې بيا د مشرکانو سره وجنګېدئ تر څو چي شهيد سو . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۵۰۹/۳، رقم: ۱۴۵- ۱۹۰۱.

تشريح: د جنت پر لاره ودرېږه : ددې مطلب دادئ چي د هغه عمل لاره اختيار کړه کوم چي جنت ته د بېولو سبب وي او هغه جهاد دئ.

د هغه عرض د ځمکي او آسمان د عرض برابر دئ: ددغه ارشاد په ذريعه په حقيقت کي د جنت پراختيا بيانول دي ددې مقصد لپاره د ځمکي او آسمان د درمياني فاصلې سره تشبيه ورکړل سوې ده چي د هغه څخه زيات پراخ شی د انسان په فهم کي نه سي راتللای او په دغه ارشاد کي يوازي عرض ذکر سوی دی طول بيان سوی نه دی چي د انسان فهم خپله اندازه وکړي چي د کوم شي عرض دومره وي نو د هغه طول (اوږدوالي) به څومره وي.

تا ډېر ښه ډېر ښه ولي وويل ؟ : لکه رسول الله ﷺ چي دا خيال وکړ چي عمير رضي الله عنه دا الفاظ ويلي دي هغه بېله نيته او ارادې او بېله فکره د هغه د ژبي څخه ادا سوي دي لکه څرنګه چي دا ډول الفاظ يا خو د هغه سړي د ژبي څخه وځي څوک چي پر خبره باندي د خپل هزل او مسخرو اظهار کوي يا د خپل قتل په بېره کي اخته وي ، رسول الله ﷺ چي د عمير رضي الله عنه څخه ددغه الفاظو وضاحت طلب کړی نو هغه ددغه دواړو خبرو څخه انکار وکړ او په خدای يې قسم وکړی او خپل اصل مطلب يې بيان کړ.

نو ژوند به يې اوږد وي : ددې څخه د حضرت عمير رضي الله عنه مراد دا وو که زه د ټولو خرماوو خوړلو انتظام کوم او تر هغه وخته ژوندی يم نو ژوند به اوږد سي حال دا چي خواهش دا دی چي

اوس د يوې ثانيې تېرېدو څخه وروسته د الله تعالى په لاره کي ځان قربان کړم او د شهادت د مرتبې په تر لاسه کولو سره د جنت پر لار روان سم، يعني د هغه د شهادت تر لاسه کولو د شوق په وجه خپل ژوند د کفارو سره په جنګ کولو کي زنډ د خپل ځان لپاره وبال وګڼي.

د شهيدانو اقسام

﴿۳۶۳۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَعُدُّونَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په خپل منځ کي

الشَّهِيدَ فِيكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ قَالَ إِنَّ

څوک شهيد ګڼئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ څوک چي د الله جل جلاله په لار کي ووژل سي هغه شهيد دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي

په دې صورت کي خو به زما په امت کي د شهيدانو شمير ډير لږ پاته سي، (خبردار اوسئ) څوک چي د الله جل جلاله په لار کي (په خپل مرګ) مړ سي شهيد دئ او څوک چي قتل سو

سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ. رواه مسلم

په لاره کي د الله جل جلاله هغه شهيد دی او څوک چي په طاعون کي مړ سي شهيد دئ او څوک چي د نس د ناروغۍ څخه مړ سي شهيد دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۲۱، رقم: ۱۶۵- ۱۹۱۵.

د مجاهد د اجر تقسيم

﴿۳۶۳۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فَتَغْنَمُ وَتَسْلَمُ إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ

جهاد کونکې ډله یا جهاد کونکي کوم لښکر چي جهاد وکړي مال غنیمت تر لاسه کړي بیا صحیح سلامت راسي هغه دویمه برخه د درو برخو څخه اجر ژر یعني په دې دنیا کي تر لاسه کړ

وَمَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تُخْفِقُ وَتُصَابُ إِلَّا تَمَّ أُجُورُهُمْ . رواه مسلم .

او جهاد کونکې ډله یا جهاد کونکی لښکر چي د غنیمت مال را نه وړي او زخمي سي یا ووژل سي د هغه خپل اجر پوره باقي دی . مسلم

تخريج: صحیح مسلم ۱۳\۱۵۱۵، رقم: ۱۵۴- ۱۹۰٦.

د لغاتو حل: تُخفِق: ای تغزو ولاتغنم (غزا وکړي خو غنیمت تر لاسه نه کړي)

تشريح: مطلب دادی چي د اسلام یو مجاهد د کفارو سره د جنګ کولو لپاره وځي نو د هغه به درې صورتونه وي یو خو دا چي هغوی د کفارو سره د جنګ کولو وروسته صحیح او سلامت بېرته راسي او کوم د غنیمت مال چي هغوی ته په لاس ورغلی وي د هغه حقدار هم وي د داسي مجاهدینو په باره کي ویل سوي دي چي هغوی د خپل محنت او مشقت دوه پر درې برخه ثواب چي په سلامتیا سره ستنېدل او د غنیمت مال تر لاسه کول دي په دغه دنیا کي تر لاسه کړ او دریمه برخه ثواب چي پاته سوی دی یعني د جهاد ثواب هغه به د قیامت په ورځ ورکول کیږي ، دوهم دا چي کوم مجاهد صحیح او سلامت بېرته راسي مګر د غنیمت مال په لاس ور نه سي نو هغه په دغه دنیا کي دریمه برخه اجر تر لاسه کړی او کومي دوې برخي چي پاته سوي دي هغه به د قیامت په ورځ تر لاسه کوي ، دریم هغه مجاهد دی چي هغه جهاد وکړي او د جنګ په میدان کي زخمي سي یا شهید کړل سي او هغوی ته د غنیمت مال هم په لاس ور نه سي نو د هغوی ټول اجر پاته دی چي هغوی ته به په پوره توګه د قیامت په ورځ ورکول کیږي .

د چا په زړه کي چي د جهاد جذبه نه وي هغه منافق دی

﴿٣٦٤٠﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ . رواه مسلم .

د ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي مړ سو او جهاد یې و نه کړ او د جهاد خیال یې هم په زړه کي نه راوستئ نو د هغه مرګ به یو قسم د نفاق وي . مسلم .

تخريج: صحیح مسلم ۱۳\۱۵۱۷، رقم: ۱۵۸- ۱۹۱۰.

تشريح: او نه د هغه په زړه کي د جهاد خيال پيدا سوی وي : ددې مطلب دادی چي هغه نه يوازي دا چي په خپل ژوند کي جهاد ونه کړ بلکه هيڅکله يې د جهاد کولو قصد او اراده هم نه وي کړې او نه يې يو وخت دا ويلي وي چي کاش ما هم جهاد کړی وای او دا منافقانو عادت دی چي هغوی د جهاد په وخت کي د مخ په پټولو سره په کورو کي کښيني او د هغوی په زړو کي د جهاد کولو خيال هم نه پيدا کيږي نو د (من تشبه بقوم فهو منهم) سره سم داسي مؤمن د منافق مشابه سو.

امام نووي رحمه الله په شرح مسلم کي ليکلي دي چي ددغه حديث څخه دا معلومه سوه چي کوم سړی د يو واجب عبادت کولو نيت او اراده وکړي او بيا د هغه عبادت کولو څخه مخکي مړ سي نو د هغه د عبادت نه کولو عذاب دومره زيات د هغه په حق کي نه ظاهريږي لکه څومره چي په هغه صورت کي ظاهريږي چي د هغه د عبادت کولو نيت يې هم نه وي کړی او مړ سوی وي.

امام نووي رحمه الله دا هم ليکلي دي چي زموږ د علماء (شوافع) د هغه سړي په باره کي مختلف قولونه دي کوم چي په اول وخت کي د لمانځه پر ادا کولو قادر وي او د هغه د کولو نيت هم وي مګر د هغه په ادا کولو کي زنډ وکړي او د هغه لمانځه د وخت ختمېدو څخه مخکي مړ سي ، همدارنګه د حج معامله ده نو ځيني علماء وايي چي هغه په دغه دواړو صورتو کي ګناه کار دی ، ځيني علماء وايي چي هغه به په دواړو صورتو کي ګناه کار نه وي او ځيني علماء وايي چي د حج په صورت کي ګناه کار دی مګر د لمانځه په صورت کي ګناه کار نه دی د حنفيانو مذهب د همدغه اخري قول مطابق دی.

حقيقي مجاهد څوک دی؟

﴿۳۶۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کي عرض وکړ

الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ

چي يو سړی خو ددې لپاره جنګيږي چي مال غنيمت تر لاسه کړي او يو سړی د شهرت او نامه تر لاسه کولو لپاره جنګيږي او يو سړی ددې لپاره جنګيږي چي خلک د هغه عزت او مرتبه ووينې

فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ

اللّٰهِ . متفق عليه

نو په دوی کي څوک د الله تعالی په لار جنګېدونکی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه سړی د الله ﷻ په لار کي جنګېدونکی دئ چي د الله ﷻ د دين (كلمة الله) د لوړولو لپاره وجنګيږي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٧، رقم: ٢٨١٠، ومسلم ٣\١٥١٢، رقم: ١٤٩- ١٩٠٤.

د عذر له کبله جهاد ته نه تلل

﴿٣٦٤٢﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ د تبوک د غزا څخه راغلی

تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا

او مديني ته نژدې سو نو وه يې فرمايل : په مدينه کي ډير داسي قومونه دي چي کوم سفر تاسو

قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ وفي رواية الا شركوكم في الاجر قَالُوا يَا رَسُولَ

کړی دئ په کومه شېله کي ګرځېدلای یاست هغوی ستاسو سره دي ، په یوه روایت کي دا الفاظ دي لاکن هغوی په ثواب کي ستاسو سره ګډ دي ، صحابه کرامو عرض وکړای د الله رسوله ! او

اللّٰهِ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ قَالَ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ . رواه البخاري و رواه مسلم عن جابر .

هغه خلک چي په مدينه کي دي (يعني زموږ سره جهاد ته نه دي تللي بيا هم هغوی په ثواب کي زموږ سره ګډ دي) رسول الله ﷺ وفرمايل دوی په مدينه کي دي يو عذر ستاسو سره د تللو څخه تم کړي دي . بخاري او مسلم د حضرت جابر څخه روايت کړی دئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٨\١٢٦، رقم: ۴۴۲۳. ومسلم ٣\١٥١٨، رقم: ١٥٩- ١٩١١.

تشريح: کوم کسان چي د عذر په وجه جهاد ته نه ولاړل او په مدينه منوره کي پاته سول هغوی د جهاد کونکو په ثواب کي شامل وه نه دا چي د مرتبې او درجې په اعتبار هغوی د مجاهدينو

برابر وه ځکه چي کوم خلک په جهاد کي شریک وه او د الله ﷻ په لار کي د خپل سر او مال قرباني یې وړاندي کړه هغوی افضل دي لکه چي د الله ﷻ ارشاد دئ:

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً

ژباړه: فضیلت ورکړی دی الله (ﷻ) مجاهدینو ته چي په مال او ځان سره جهاد کوي په درجه کي پر ناستو خلکو باندي.

د مور او پلار د خدمت درجه

﴿۳۶۴۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دئ چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او

فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ أَحَيٌّ وَالِدَاكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ.

متفق علیه و في روایة فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا.

جهاد ته د تللو اجازه یې و غوښتل، رسول الله ﷺ پوښتنه ځیني وکړه ایا ستا مور او پلار ژوندي دي؟ هغه وویل چي هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د هغوی سره اوسیږه او جهاد کوه. (یعني د هغوی خدمت د جهاد برابر دئ). بخاري او مسلم، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته دا وفرمایل: خپل مور او پلار ته بیرته ولاړ سه او په ښه ډول د هغوی خدمت کوه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٤٠، رقم: ٣٠٠٤، ومسلم ١٤\١٩٧٥، رقم: ٥- ٢٥٤٩.

تشريح: په شرح السنه کي لیکلي دي چي ددغه حدیث څخه کوم حکم ثابتیږي د هغه تعلق د نفل جهاد سره دی چي کله د یو سړي مور او پلار ژوندي وي او مسلمانان وي نو د هغوی د اجازې څخه پرته په نفل جهاد کي د ګډون لپاره د کور څخه دباندي دي نه وځي مګر که چیري جهاد فرض وي نو بیا په دغه صورت کي د مور او پلار د اجازې ضرورت نه سته بلکه که چیري هغوی یې منع کوي نو د هغوی حکم منل نه دي پکار او په جهاد کي په ګډون کولو سره دي خپل فرض ادا کړي. او که چیري مور او پلار مسلمانان نه وي نو په جهاد کي د ګډون لپاره د هغوی د اجازې په هیڅ حالت کي ضرورت نه سته که جهاد فرض وي یا نفل وي، همدارنګه علماؤ دا هم لیکلي دي که مسلمان مور او پلار ته ناخوښه وي نو د هغوی د اجازې څخه پرته هیڅ نفل

عبادت لکه نفل حج او عمرې لپاره دي نه ځي او نه دي نفل روژه نیسي.

د مکې د فتح وروسته د هجرت فرضیت ختم سو

﴿۳۶۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا. متفق علیه

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ وفرمایل: د مکې د فتح څخه وروسته هجرت نسته البته جهاد او نیت دي هرکله چي تاسو د جهاد لپاره و بلل سئ نو تاسو ټول د کورونو څخه د جهاد لپاره راووځئ. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٣، رقم: ۲۷۸۳، ومسلم ۱۲\۹۸٦، رقم: ۴۴۵-۱۳۵۳.

تشریح: هجرت نه سته: ددې مطلب دادی چي د مکې د فتح څخه مخکي د مکې څخه بلکه د هر دارالکفر څخه مدینې ته هجرت کول فرض عین وو ځکه چي په مدینه کي د دین د نامه اخیستونکي ډېر وه او هغوی په هر اعتبار ډېر کمزوري او ضعیف وه نو هجرت فرض ګرځول سوی وو چي د هري خوا څخه مسلمانان مدینې ته په رسیدو سره د هغه ځای د مسلمانانو مرسته او اعانت وکړي او همدارنګه د مشرکانو، د الله ﷻ د باغیانو طاقت زائل او مفلوج سي، بیا کله چي الله تعالی د مکې د فتح په ذریعه مسلمانانو ته عامه غلبه ورکړل او د هغوی شوکت یې زیات کړ نو هغه علت زائل سو او د هغه وخت څخه د هجرت فرضیت ختم سو مګر په څو صورتو کي د هجرت استحباب پاته دی لکه د جهاد لپاره د خپل وطن څخه تلل، د علم د تر لاسه کولو لپاره بل ځای ته تلل او د دارالکفر یا دارالفتنه څخه یا داسي ښا راو هیواد څخه تېښته کول چیري چي نیکي متروک سوې وي او بدی رواج سوي وي.

مګر جهاد او نیت پاته دی: ددې مطلب دادی چي د دین د دښمنانو او د الله ﷻ د باغیانو د دعوې نسکورولو لپاره د جهاد نیت او د اخلاص عمل پیدا کولو حکم باقي دی خلاصه دا چي هجرت یعني د خپل وطن په پرېښودو سره مدینې ته تلل مخکي پر هر مسلمان فرض وو بیا دا حکم ختم سو مګر د جهاد په سبب یا د نیت صالحه په وجه د کفارو د ملک او جهل او بدعت د ځایو څخه تېښته کول یا د علم د تر لاسه کولو لپاره د خپل وطن پرېښودل پاته سول او ددې حکم منسوخ نه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د امت محمدي يوه ډله به همېشه جهاد كوي

﴿۳۶۴۵﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ. رواه ابوداؤد

زما په امت كي به يوه ډله هميشه د حق په ساتنه كي جنګيږي او كوم قوم چي د دوى سره دښمني كوي دوى به پر هغه غالب وي تر څو چي ددې امت آخري خلك به د مسيح دجال سره جنګيږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۱، رقم: ۲۴۸۴.

تشريح: ددغه ارشاد څخه يوې خوا ته دا معلوميږي چي دغه امت به په هيڅ زمانه كي د داسي سرتېرو او فدايانو څخه خالي نه وي چي د دين د لوړى، د حق د ساتني او د ملت د تحفظ لپاره به د خپل سر او مال قرباني وركوي او د اسلام د دښمنانو دعوه به نسكوروي، بلې خوا ته دا هم ثابته سوه چي د مجاهدينو سره مقابلې ته راتلونكي كسان به آخر د ماتي او رسوائي سره مخامخ كيږي كه هغه يو فرد وي يا يو ډله وي چي د وخت نزاكت او د حالاتو د رفتار پر يو پړاو باندي د مسلمانانو لپاره په ظاهره د يو نزول موقع پيدا كړي مګر آخر فتحه او كاميابي به د مسلمانانو په برخه كيږي.

ددغه امت آخري خلك: ددې څخه مراد حضرت مهدي رضي الله عنه او حضرت عيسى عليه السلام او د هغوى پيروانو ته اشاره سوې ده چي قيامت ته نژدې به د دجال سره جنګ كوي او آخر به حضرت عيسى عليه السلام هغه د مرګ په كنده كي واچوي، د دجال د قتل څخه وروسته به بيا جهاد نه وي ځكه چي د ياجوج ماجوج پر خلاف به جهاد په دې وجه نه وي چي د هغوى سره د جنګ كولو توان به د هيچا سره نه وي او كله چي الله جل جلاله هغوى هلاک كړي يا تر څو چي حضرت عيسى عليه السلام په دنيا كي موجود وي د مځكي پر مخ به هيڅ كافر پاته نه سي، په پاى كي به د حضرت عيسى عليه السلام د وفات څخه وروسته ځيني خلك كافران سي او هغه وخت به ټول مسلمانان د يو پاكي او نرمي

هوا په ذريعه وفات سي او په دنيا کي به يوازي کافران پاته سي همدارنگه کله چي قيامت راسي نو هغه وخت به د مځکي پر مخ هيڅوک هم د الله ﷻ نوم اخيستونکی موجود نه وي په دي اعتبار سره په ځينو حديثو کي دا فرمايل سوي دي چي (لاتزال طائفة من امتي ظاهري على الحق حتى تقوم الساعة) يعني زما د امت يو ډله به هميشه د حق حمايت او ساتنه کوي تر څو چي قيامت راسي ، نو دا د قيامت پر نژدې والي باندي محمول دی چي د قيامت تر نژدې کېدو پوري به د مځکي پر مخ د حق ساتونکې يو ډله موجود وي نو د حق په حمايت کي د حق والا آخري جنگ په د دجال سره وي او د دجال راوتل د قيامت د علامو څخه دي .

په جهاد کي د نه گډون کونکي وعيد

﴿۳۶۴۶﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللَّهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړي چي جهاد ونه کړ او نه يې د غازيانو لپاره سامان برابر کړ او نه يې د مجاهدينو د کورنۍ خبر واخيستئ هغه به د قيامت څخه مخکي الله تعالی په يو سخت مصيبت کي اخته کړي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۲، رقم: ۲۵۰۳.

د لغاتو حل: بقارعة: اى بشدة من الشدائد ، اى بلية تقرعه وتهلكه وتصرعه.

﴿۳۶۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ . رواه أبو داود والنسائي والدارمي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مشرکينو سره د خپل سر ، مال او ژبو په ذريعه جهاد کوئ. ابوداؤد ، نسائي او دارمي

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۲، رقم: ۲۵۰۴، والنسائي ٦\۷، رقم: ۳۰۹٦، والدارمي ۲\۲۸۰، رقم: ۲۴۳۱.

تشريح: د ځان او مال په ذريعه جهاد کول داديي چي د حق او باطل په مينځ کي د کيدونکي جگړې په وخت کي د جنگ ميدان ته خپل ځان وړاندي کړي او زخمي سي او خپل مال د جهاد

په اړتياوو کي مصرف کړي، د ژبي په ذريعه جهاد کول دادي چي د اسلام د دښمنانو د عقائدو او نظرياتو او د هغوی د بتانو بدي بيان کړي د هغوی په حق کي ښېرا کوي چي د حق په مقابله کي د هغوی ذلت او رسوائي وسي او دهغوی د قتل او بندي کولو يا داسي نورو شيانو اخطار ورکوي، د مسلمانانو د فتحي او کاميابۍ او هغوی ته دغنيمت د مال تر لاسه کېدو دعاوي کوي او خلکو ته په جهاد کي د ګډون کولو ترغيب ورکوي.

د جنت وارث

﴿٣٦٤٨﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَاضْرِبُوا الْهَامَ تُورَثُوا الْجِنَانَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اسلام خپور کړئ، خلکو ته خوراک ورکوئ او د کافرانو سرونه ووهئ نو د جنت وارثان به سئ. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ٢٥٢، رقم: ١٨٥۴.

په جهاد کي د چوکيدارۍ فضيلت

﴿٣٦٤٩﴾: وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت فضالة بن عبيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنَّهُ يُنْمَى لَهُ

د هر سړي عمل د مرګ څخه وروسته ختميږي خو د هغه سړي عمل چي د الله جل جلاله په لار کي د سرحدو چوکيداروي او مړ سي، د هغه سړي

عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيَأْمَنُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي عن عقبة بن عامر.

د عمل ثواب به تر قيامته پوري زياتيږي او هغه به د قبر د فتنې څخه هم په امان وي. ترمذي، ابو داؤد او دارمي د عقبة بن عامر.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۴۲، رقم: ۱۶۲۱، وابو داود ۳\۲۰، رقم: ۲۵۰۰.

تشريح: د هغه عمل به تر قيامته پوري زياتيږي: د دې مطلب دا دى چې د مرګ څخه وروسته به هم هغه ته په هر وخت کې د هغه د عمل نوى ثواب ورکول کيږي ځکه چې هغه پر يو داسې عمل باندې خپل ځان نذر کړى دى چې د هغه ګټه همېشه مسلمانانو ته رسيږي او هغه عمل د دين ژوندى او لوړ ساتل دي چې دغه سړي په جهاد کې د چوکيدارۍ په ذريعه مسلمانان د دښمنانو څخه خوندي او محفوظ وساتل.

په جهاد کې د ګډون کولو فضيلت

﴿۳۶۵۰﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چې هغه د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل:

مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي

څوک چې د الله جل جلاله په لار کې په اندازه د لوشلو د اوښې وجنګيږي د هغه لپاره جنت واجب سو، او څوک چې د الله جل جلاله په لار کې زخمي سو

سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ لَوْنُهَا لَوْنُ

يا د زخم په تکليف کې اخته کړل سو هغه به د قيامت په ورځ په داسې حال کې راسي چې د هغه زخم به تازه وي د وينې رنګ به يې

الزَّعْفَرَانِ وَرِيحُهَا رِيحُ الْمِسْكِ وَمَنْ خَرَجَ بِهِ خُرَاجٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ طَابَعَ الشُّهَدَاءِ. رواه الترمذي وابو داؤد والنسائي

زعفراني وي او بوى به يې د مشکو وي او د چا په بدن کې چې د الله په لار کې خراج (دانې) وختلې نو پر هغه باندې به د شهيدانو مهر وي چې په هغه سره به يې شناخت کيږي. ترمذي، ابو داؤد او نسائي

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۵۸، رقم: ۱۶۵۷، وابو داود ۳\۴۶، رقم: ۲۵۴۱، والنسائي ۶\۲۵، رقم: ۳۱۴۱

د لغاتو حل: خُراج: مايخرج من البدن من القروح والدماميل.

تشريح: فواق هغه وقفې ته وايي چي د اوښې د لويشلو په مينځ كي وي يعني يو وار د اوښې لويشلو څخه لږ څه وروسته دوهم وار بيا لويشل، ددغه دواړو وارو لويشلو په مينځ كي چي كومه وقفه او وخت دى هغه ته په عربي كي فواق وايي دلته په حديث كي د فواق څخه مراد لږ وخت دى.

په جهاد كي د خپل مال مصرف كولو فضيلت

﴿٣٦٥١﴾: وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت خريم بن فاتك رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله جل جلاله په لاركي څه خرڅ كړي د هغه په حساب كي اووه سوه برابر ثوب ليكل كيږي. ترمذي او نسائي.

تشريح: د الله جل جلاله په لاره كي د خپل مال او سامان د مصرف كولو چي كوم ثواب دى د هغه اولنى درجه ذكر سوې ده چي په جهاد كي مصرف سوى مال به خپل مالك د اووه سوه برابر ثواب وړ وګرځوي، هسي خو دا د الله جل جلاله پر رضا موقوف دى چي هغه چا ته غواړي ددې څخه هم زيات ثواب وركوي.

﴿٣٦٥٢﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ

د حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره

الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَنِيحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. رواه الترمذي

صدقه د الله جل جلاله په لاركي د خيمې سايه ده. (يعني مجاهد يا حاجي ته خيمه وركول) او غوره صدقه د الله جل جلاله په لاركي د خادم وركول دي او غوره صدقه د الله جل جلاله په لاركي داسي اوښه وركول دي چي ځوانه وي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۴۳، رقم: ۱۶۲۵، والنسائي ۶\۴۹، رقم: ۳۱۸۶.

د مجاهد فضيلت

﴿٣٦٥٣﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَلِجُ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی به

النَّارَ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ

دوزخ ته نه ځي كوم چي د الله جل جلاله د بيري څخه يې ژړلي وي تر هغو چي بيرته راوګرځي شيدې و غولانزي ته . او د الله جل جلاله په لار كي د بنده د

غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ . رواه الترمذي وزاد النسائي في اخرى

بدن ګرد او د دوزخ دود يو ځای كيدلای نسي . ترمذي، او د نسائي په يوه روايت كي دا الفاظ

في منخري مسلم ابدا وفي اخرى له فِي جَوْفِ عَبْدٍ اَبَدًا وَلَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْاِيْمَانُ فِيْ قَلْبِ عَبْدًا اَبَدًا .

نقلي دي چي د مسلمان په سپږمو كي د الله جل جلاله د لاري ګرد او د دوزخ دود يو ځای كيدلای نسي ، او په يوه روايت كي داسي راغلي دي چي د الله جل جلاله د بنده په نس كي د الله جل جلاله د لاري ګرد او د دوزخ دود يو ځای كيدلای نسي ، او بخل او ايمان يو ځای كيدلای نه سي .

تخريج: سنن الترمذي ۱۴/۱۴۷، رقم: ۱۶۳۳.

تشريح: تر څو چي شيدې بېرته غولانزو ته ولاړې نه سي : دا جمله تعليق بالمحال دی يعني څرنګه چي لويشل سوې شيدې غولانزو ته تلل محال (ناممكن) دي همدارنګه د يو مجاهد دوزخ ته تلل محال او ناممكن دي .

﴿٣٦٥٤﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه قسمه سترګي دي

چي اور به يې نه مسه کوي يو هغه سترګي چي د الله ﷻ د بيري څخه و ژاړي او دويم هغه سترګي چي هغه د الله ﷻ په لار کي يې پر چوکېداري شپه تيره کړې وي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۵۰، رقم: ۱۶۳۹.

د جهاد غوره والی او فضيلت

﴿۳۶۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په صحابو کي يو سړی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِعْبٍ فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ فَقَالَ لَوْ اعْتَزَلْتُ

په يوه غرنيزه دره کي تير سو چي په هغې کي د خوږو اوبو چينه وه د هغه چينه ډيره خوښه وه ، هغه په زړه کي وويل کاش زه

النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هَذَا الشِّعْبِ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلک پرېږدم او په دغه درې کي استوګن سم ، بيا د دې خبري ذکر د رسول الله ﷺ په وړاندي

فَقَالَ لَا تَفْعَلْ فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ

وسو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : داسي مه کوه ځکه چي د الله ﷻ په لار کي ستا قيام کول په

سَبْعِينَ عَامًا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ الْجَنَّةَ اغْزُو فِي سَبِيلِ

کور کي د اويا کالو تر لمونځ کولو غوره دئ ايا ته دا نه خوښوې چي الله تعالی په پوره توګه سره تا وبخښي او جنت ته دي داخل کړي ته د الله ﷻ په لار کي جنګيږه

اللَّهِ مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . رواه الترمذي.

ځکه چي څوک د اوښې د لوېشلو په اندازه هم د الله ﷻ په لار کي جنګ وکړي د هغه لپاره جنت واجب سي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۵۴، رقم: ۱۶۵۰.

تشريح: د اويا ۷۰ کالو څخه تحديد مراد نه دی بلکه کثرت مراد دی ، دغه ارشاد د هغه روايت خلاف نه دی چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي (مقام الرجل في الصف في سبيل الله

افضل عند الله من عبادة الرجل ستين سنة) يعني د يو سړي د الله ﷻ په لاره كي په صف كي درېدل د الله ﷻ په نزد د يو سړي د شپيته كالو د عبادت څخه غوره دی.

ددغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي چي خلكو ته په جلا والي اختيارولو او په ځنګل او غرو كي د الله تعالى په عبادت كي په بوخت كېدو سره بخښنه او مغفرت نه تر لاسه كيږي ځكه علماؤ ددغه ارشاد تاويل داسي كوي چي په هغه زمانه كي جهاد واجب وو او د يو نفل لپاره واجب ترک كول ګناه ده ځكه رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه هغه صحابي ته واضحه كړل كه ته د دنيا د خلكو سره د تعلق په پرېښودو سره د غره په څونډه كي خلاوالي اختيار كړي كه څه هم ددې مقصد په يوازيوالي كي د الله ﷻ په عبادت كي بوخت كېدل وي نو ددې په وجه نه يوازي دا چي ته د هغه ډېرو سعادتونو او فضيلتونو څخه محروم سوې كوم چي د دنيا د خلكو په مينځ كي په پاته كېدو سره د ديني فرائضو او ذمه دارۍ سرته رسولو په صورت كي تر لاسه كيږي بلكه ستا دغه نفل عمل يو واجب عمل او يو اهمه ديني فريضه يعني د جهاد د پرېښودو سبب كيږي چي په هغه سره به ته د ګناه كارو په ډله كي شامل سې، ددې څخه ماسوا څرنګه چي په ترجمه كي واضحه سوې ده چي دغه ارشاد پر پوره مغفرت او په شروع كي په جنت كي د تلونكو سره په جنت كي پر داخلېدو محمول كيداى سي.

د غه حديث شريف ددې خبري دليل دی چي د خلكو په مينځ كي اوسېدل د جلاوالي څخه غوره دی په خاصه توګه د رسول الله ﷺ په زمانه كي د دغه افضيلت ډېر زيات وو البته د رسول الله ﷺ د زمانې څخه وروسته كله كله جلاوالي ته افضيلت حاصليږي كله چي د خلكو په مينځ كي په اوسېدو كي د فتنې او شر د غلبې بېره وي.

په جهاد كي د چوكيدارۍ فضيلت

﴿٣٦٥٦﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَنَازِلِ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت عثمان ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله په لار كي د يوې ورځي چوكېداري كول د سرحد په لاره كي تر نورو زرو ورځو (په كور كي) تر عبادت غوره ده. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۶۲، رقم: ۱۶۶۷، والنسائي ۱۱\۳۹-۴۰، رقم: ۳۱۶۹.

تشريح: ددغه منصب او خدمت څخه ماسوا : ددغه جملې په ذريعه د دين د اقامت لپاره د الله ﷻ په لاره کي د کوښښ خدمت مستثنی ګرځول سوی دی .

په ظاهره ددغه حديث تعلق د هغه سړي سره دی کوم چي په جهاد کي د اسلامي سرحدونو د ساتني او څارني پر خدمت مامور سوی وي او د چوکيداری ذمه داري سرته رسول پر هغه واجب وي ځکه چي د هغه سړي ددغه خدمت څخه ماسوا په يو بل عبادت کي بوخت کېدل معصيت دي که څه هم هغه د يوه لمانځه څخه وروسته د دوهم لمانځه په انتظار کي په مسجد کي کښيني چي ددغه عمل هم فضيلت دی او دې ته هم رباط ويل سوي دي .

شهيدانو به تر مخه جنت ته داخل کړل سي

﴿٣٦٥٧﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ شَهِيدٌ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ وَعَبْدٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ اللَّهِ وَنَصَحَ لِمَوَالِيهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته درې ډوله خلک پيش کړل سول چي تر ټولو به مخکي جنت ته داخليږي يو شهيد دئ دويم فقير ځان ساتونکی او دريم هغه مريي چي هغه په ښه ډول د الله عبادت وکړ او د خپل مالک هم خير خواه وو . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۵۱، رقم: ۱۶۴۲.

تشريح: د اولو درو کسانو څخه مراد دادی چي بالکل په شروع کي جنت ته چي کوم درې کسان داخليږي په هغوی کي به دغه درې کسان مخکي داخليږي ، مګر د انبياء عليهم السلام څخه وروسته ځکه چي انبياء عليهم السلام به تر ټولو مخکي وي او هغوی به تر ټولو مخکي په جنت کي داخليږي او د درو کسانو څخه درې ډلي مراد دي .

غوره مجاهد او غوره شهيد

﴿٣٦٥٨﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ

د حضرت عبد الله بن حُبشي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي

الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ طُولُ الْقِيَامِ قِيلَ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ جَهْدُ

کوم عمل تر ټولو غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اوږده ولاړه کول (په لمانځه کې)، بيا پوښتنه وسول کومه صدقه غوره ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

الْمُقِلِّ قِيلَ فَأَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ هَجَرَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ قِيلَ فَأَيُّ

د اړاو فقير کوښښ کول (يعني صدقه ورکولو کې) بيا پوښتنه وسول چې کوم هجرت غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه کارونه پرېښودل چې الله ﷻ حرام کړي دي، بيا پوښتنه وسول

الْجِهَادِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ جَاهَدَ الْمُشْرِكِينَ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ قِيلَ فَأَيُّ الْقَتْلِ

کوم جهاد غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : کوم جهاد چې په سر او مال د مشرکانو سره وسي، بيا پوښتنه وسول کوم مړ کېدل

أَشْرَفُ قَالَ مَنْ أُهَرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ. رواه ابوداؤد وفي رواية النسائي

غوره دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه سړي چې د هغه وينه و بيول سي او د هغه د آس پښې ووهل . ابوداؤد، د نسائي په روايت کې دا الفاظ دي چې

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ لَا شَكَّ

د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وسول چې په اعمالو کې کوم عمل غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايمان چې په هغه کې شک نه وي

فِيهِ وَجِهَادٌ لَا غُلُولَ فِيهِ وَحَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ قِيلَ فَأَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ قَالَ طُولُ الْقُنُوتِ . ثُمَّ اتَّفَقَا فِي الْبَاقِيّ.

او جهاد چې په هغه کې هيڅ ډول خيانت نه وي او حج مقبول، بيا پوښتنه وسول چې کوم لمونځ غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : تر ډيره وخته پوري ولاړه کول ، او په پاته حديث کې دواړه ابوداؤد او نسائي متفق دي .

تخريج: سنن ابي داود ١٢\١۴٦، رقم: ١۴۴٩، سنن النسائي ۵٨\۵، رقم: ٢۵٢٦.

تشريح: کوم چې د خپل ځان او مال په ذريعه ... : ددې مطلب دادى چې غوره جهاد هغه دى چې مجاهد خپل مال او سامان هم او خپل د نورو مجاهدينو د جهاد اړتيا هم پوره کړي او د

جنګ په ميدان كي خپل ځان هم وړاندي کړي تر دې چي زخمي يا شهيد سي .

د اعمالو د فضيلت په باره کي دا خبره بايد په ذهن کي وي چي په حديثو کي د غوره اعمالو تعين او بيا په دې باره کي مختلف ارشاد نقل سوي دي چيري يوه عمل ته افضل ويل سوي دي او چيري بل عمل ته ددې وجه داده چي رسول الله ﷺ د غوره اعمالو په باره کي د پوښتنو جوابونه د پوښتنه کونکي د حيثيت او د هغه د حال سره سم ارشاد فرمايلي دي ، په کوم کس کي چي به يې د تکبر او سختئ آثار وليدل نو هغه ته به يې جواب ورکړ چي تر ټولو غوره عمل تواضع او نرم مزاجي ده لکه سلام کول او نرمه وينا اختيارول ، او په کوم کس کي چي به د بخل آثار وه هغه ته به يې ويل چي تر ټولو غوره عمل سخاوت دى لکه مسکينانو او اړو کسانو ته خوراک ورکول او داسي نور، همدارنګه په کوم پوښتنه کونکي کي چي به د عبادت په باره کي سستي وه نو هغه ته به يې جواب ورکوى چي تر ټولو غوره عمل د تهجد لمونځ دى، مقصد دا چي په کوم کس کي به کوم حالت وو د هغه جواب به يې د هغه د حال سره مناسب ورکوى په دې اعتبار سره د اعمالو د افضيلت مراد ګويا په حقيقت کي د پوښتنه کونکي په باره کي دى د مثال په توګه په پوښتنه کونکي کي دبخل عادت وو نو دهغه په باره کي تر ټولو غوره عمل سخاوت وو يا داسي به وويل سي چي پر کومه موقع کوم عمل ته تر ټولو غوره ويل سوي دي د هغه مراد دادى چي دغه عمل د غوره عملو څخه يو افضل عمل دى .

پر شهيدانو د الله تعالى انعامونه

﴿٣٦٥٩﴾ : وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت مقدام بن معديكرب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ وَيَرَى مَقْعَدَهُ

د الله جل جلاله په نزد د شهيد لپاره شپږ صفته دي : هغه به په اول وار و بخښل سي، هغه ته به په جنت

مِنَ الْجَنَّةِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى

کي خپل ځاى و ښودل سي (يعني د ساه ختلو پر وخت)، هغه به د قبر د عذاب څخه خوندي وي، هغه به د لوى بيري څخه په امن کي وي (يعني د دوږخ د عذاب څخه)

رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ

د هغه پر سر به د عزت تاج كښېښودل سي چي د هغه يو يو ياقوت به د دنيا او دد نيا تر ټولو شيانو غوره وي، د هغه په نكاح كي به

وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقْرَبَائِهِ . رواه الترمذي وابن ماجة .

دو اويا غوره حوري غټو سترګو والا ورکړل سي او د هغه په قريبانو كي به د اويا كسانو لپاره د هغه شفاعت قبليږي . ترمذي او ابن ماجه .

تخريج سنن الترمذي ۴\١٦١، رقم: ١٦٦٣، وابن ماجه ٢\٩٣٦، رقم: ٢٧٩٩.

په جهاد كي د ګډون نه کونکي وعيد

﴿٣٦٦٠﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَقِيَ اللّٰهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ لَقِيَ اللّٰهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د الله جل جلاله سره په داسي حال كي ملاقات وكړي چي پر هغه د جهاد هيڅ اثر نه وي نو هغه به په داسي حال كي د الله جل جلاله سره ملاقات وكړي چي په هغه كي به يو ديني نقص وي . ترمذي او ابن ماجه .

تخريج سنن الترمذي ۴\١٦٢، رقم: ١٦٦٦، وابن ماجه ٢\٩٢٣، رقم: ٢٧٦٣.

تشريح د اثر څخه مراد علامه او نښه ده ، د حديث خلاصه داده چي كوم سړى په داسي حال كي د دنيا څخه رخصت سي چي نه خو د هغه پر بدن د جهاد يو علامه وي لكه زخم يا دلاري ګرد يا د يو بدني تكليف يو علامه او نه د هغه په عمل نامه كي د جهاد د ګډون يو ثبوت وي لكه په جهاد او مجاهدينو په اړتياوو كي خپل مال مصرف كول يا مجاهدينو ته د جهاد سامان برابرول نو هغه په داسي حال كي مړ كيږي چي د هغه په دين كي به نقص وي كيداى سي چي د دغه حديث تعلق د هغه سړي سره وي چي پر هغه جهاد فرض وي او هغه نه يوازي دا چي د دغه فرض د ادا كولو څخه په عملي توګه محروم وي بلكه هغه په جهاد كي د ګډون كېدو اراده هم نه وي كړې .

شهيد د قتل د تكليف څخه خوندي وي

﴿٣٦٦١﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّهِيدُ لاَيَجِدُ اَلَمَ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ اَلَمَ الْقَرْصَةِ. رواه الترمذي و النسائي و الدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ا بوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شهيد د وژني يوازي دومره تكليف محسوسوي څومره چي تاسو د كيكي د چيچلو تكليف محسوسوئ، ترمذي، نسائي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۶۳، رقم: ١٦٦٨، والنسائي ٦\ ٣٦، رقم: ٣١٦١، والدارمي ۲\ ۲۷۱، رقم: ۲۴۰۸.

تشريح: علامه طيبي رحمه الله وايي چي دا دهغه شهيد حال دی چي د الله جل جلاله په لاره كي د خپل سر په وركولو سره لذت او كيف محسوس كړي او پر دغه قرباني باندي د هغه نفس خوشحاله او مطمئن وي مګر دا احتمال هم دی چي مراد دا وي چي د شهيد د مرګ څخه وروسته د الله تعالی د نعمتونو او راحتونو په وجه كوم لذتونه تر لاسه كيږي نو مؤمن بايد چي د الله جل جلاله په لاركي د سر وركولو څخه ونه بيريږي بلكه په خندا او خوشحالي سره د شهادت جام نوش كړي.

په جهاد كي دويني بهېدونكی څاڅكی

﴿٣٦٦٢﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ شَيْءٌ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی ته دوه څاڅكي

أَحَبَّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللّٰهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ

او دوې نښي ډيري خوږي دي يو خو د الله تعالی د بيري څخه د اوښكو تللی څاڅكي او دويم د

يُهْرَاقُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَمَّا الْأَثَرَانِ فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ تَعَالَى. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

هغه وينو څاڅكي چي د الله تعالی په لار كي و بيول سي او په دوو نښو كي يوه نښه خو هغه ده

چي د الله تعالى په لار كي په زخم وغيره سره راسي او دويم د الله تعالى د فرائضو څخه د يو فرض نښه (مثلا د سجدې وغيره نښه)، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۶۲، رقم: ۱۶۶۹.

تشريح: د الله ﷻ په لاره كي د قائمېدونكي نښي مطلب دادى چي څرنګه مجاهد جهاد ته ولاړ سي او په لاره كي د هغه د قدم نښه جوړه سي يا د هغه پر بدن باندي د لاري ګرد او غبار ولوېږي يا د هغه پر بدن يو زخم وسي يا د علم دين د طالب پر جامو يا بدن باندي داغ ولګيږي چي د دين د علم تر لاسه كول هم د الله ﷻ لاره ده او هغه پر لاره باندي د تلونكي مجاهد په ډول دى. د يو فرض شي په باره كي د پيدا كېدونكي نښي مطلب دادى چي څرنګه په يخ كي د اوداسه په وجه د لمونځ كونكي لاسونه او پښې چوي يا په لمانځه كي د سجدې په وجه پر تندي باندي داغ لګيږي يا په ګرمۍ كي د سجدې پر وخت د لمونځ كونكي تندي سوځي او د هغه داغ ولګيږي يا په روژه كي د روژه نيونكي د خولې څخه بوى راځي يا د حج په سفر كي د حاجي پر بدن باندي د لاري ګرد او غبار وي.

بېله ضرورته د بحري سفر څخه منع

﴿۳۶۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْكَبُ الْبَحْرَ إِلَّا حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا وَتَحْتَ النَّارِ بَحْرًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي د درياب سفر نه كوي خو د حج يا د عمرې په اراده سره يا د الله په لار كي د جهاد كولو لپاره ځكه چي تر درياب لاندي اور دئ او تر اور لاندي درياب. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۳، رقم: ۲۴۸۹.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي په اوبو كي سفر كول يو خطرناک كار دى نو عقلمند سړى بايد د دغه خطرناک كار په ذريعه ځان په هلاكت او بېره كي نه واچوي ځكه چي د يو شرعي ضرورت په وجه د الله ﷻ د تقرب د تر لاسه كولو ذريعه ده يو خطرناک او هلاكت كونكي كار كي هم خپل ځان په هلاكت كي اچول يو ښه كار دى مګر بېله شرعي ضرورته داسي كار د عقل

او پوهي خلاف دی.

د دغه حدیث څخه د هغه خلکو د قول تردید کیږي کوم چي وایي چي د حج پرېښودو لپاره سمندر او دریاب یو شرعي عذر وي په دې باره کي د ټولو څخه غوره او د عمل وړ خبره د حضرت ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه ده چي هغه وایي کله چي د دریاب په سفر کي د سلامتیا خوا غالبه وي نو حج ته تلل فرض دي او که د سلامتیا امکان غالب نه وي نو بیاد حج اراده کونکي ته اختیار دی که همت نه سي کولای نو نه دي ځي او که د هغه د سلامتیا ګمان نه غالب کېدو په وجه تلل غواړي نو ولاړ دي سي په دې کي څه پروا نه سته، دلته د دغه آیت کریمه په باره کي دا ښوول هم ضروري دي: وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ

ژباړه: خپل ځان په خپله په هلاکت او تباهی کي مه اچوئ.

دغه آیت کریمه پر هغه صورت باندي محمول دی کله چي په هغه ځای کي یو شرعي مقصد او دیني کار نه وي ځکه بیضاوي د دغه آیت کریمه په تفسیر کي د تباهی او هلاکت څو صورتونه بیان کړي دي لکه په خپل مال کي اسراف کول یا د خپل ګزارې ذریعه د مثال په توګه تجارت، کاروبار یا داسي نور د خپل لاسه ضائع کول او ختمول او په جهاد کي د شرکت کولو یا د خپل مال د مصرف کولو څخه منع کول په اصل کي د ښمن ته قوت رسول او هغوی د خپل هلاکت لپاره پر ځان مسلط کول دي.

تر دریاب لاندي اور دئ...: د دغه جملې مطلب د خلکو د سیند او دریاب څخه بېرول او د دې خبري ارزښت بیانول دي چي د سیند او دریاب په سفر کي لویه خطره ده ځکه په سیند او دریاب کي سفر کونکي د مختلفو آفاتو سره مخامخ کیږي او په خاصه توګه په پخوا زمانه کي د اوبو په سفر کي لویه خطره وه او مسافر به د یو بل سره په داسي مختلف خطرناکو صورتو سره مخامخ کېدل چي د هغه په وجه به هر ګړی د مرګ او هلاکت مخته ولاړ وه.

ځیني حضرات وایي چي دا جمله د دې پر اصل معنی باندي محمول کیدای سي ځکه چي الله جل جلاله پر هر شي باندي قادر دی.

د اوبو په سفر کي د مړ کېدونکي درجه د شهید ده

﴿۳۶۶۴﴾: وَعَنْ أُمِّ حَرَامٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ وَالْغَرِيْقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ. رواه ابوداؤد

د حضرت ام حرام رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه د درياب په سفر كي قى راسي نو هغه ته د يوه شهيد ثواب تر لاسه كيږي او څوک چي په درياب كي غرق سي هغه ته د دوو شهيدانو ثواب تر لاسه كيږي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٣، رقم: ٢۴٨٩.

د لغاتو حل: المائد : هو الذي يدور راسه من ريح البحر واضطراب السفينة بالامواج (هغه څوک چي په بېړۍ كي يې سر گرځي).

تشريح: د دوو شهيدانو ثواب په هغه صورت كي وركول كيږي كله چي هغه د جهاد لپاره يا د علم د تر لاسه كولو او يا د حج په ډول مقاصدو لپاره د كښتۍ وغيره په ذريعه په سيند كي سفر كوي او كه د هغه د سفر مقصد تجارت وي او د هغه تجارت مقصد محض د خپل ځان ژوندى او طاقتور ساتل وي او د خپل كورنۍ د اړتياوو پوره كول وي او هغه تجارت په سيند او درياب كي د سفر څخه پرته ممكن نه وي نو په دغه صورت كي هم دا حكم دى .

په جهاد كي هر ډول مړ كېدونكى شهيد دى

﴿٣٦٦٥﴾ : وَعَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُولُ مَنْ فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَمَاتَ اَوْ قُتِلَ اَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ اَوْ بَعِيرُهُ اَوْ لَدَغَتْهُ

چي فرمايل يې : څوک چي د الله جل جلاله په لار كي ووتى او مړ سو يا ووژل سو يا د هغه اس هغه تر پښو لاندي كړ يا اوښ وغورځوى يا زهرجن شي وچيچى

هَامَّةٌ اَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ اَوْ بِاَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللّٰهُ فَاِنَّهُ شَهِيدٌ وَاِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ .

رواه ابوداؤد .

يا پر خپله بستره مړ سو مقصد دا چي په هر ډول مرګ مړ سي نو هغه شهيد دئ او د هغه لپاره جنت دئ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٩، رقم: ٢۴٩٩.

د لغاتو حل: وقصه : اى صرعه و دق عنقه. هامة : اى ذات سم تقتل.

مجاهد ته په خپل کور کې هم د جهاد ثواب ورکول کیږي

﴿٣٦٦٦﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د جهاد کولو څخه وروسته د جهاد څخه راستنېدل د جهاد په ډول دي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۱۲، رقم: ۲۴۸۷.

د لغاتو حل: قَفلة: هو المرة من القفول وهو الرجوع من سفره.

تشریح: مطلب دادی چې کله مجاهد او غازي د جهاد څخه په فارغه کېدو سره خپل کور ته راځي نو د هغه په ستنېدو کې هم دومره ثواب ورکول کیږي لکه څومره چې په جهاد کولو کې ورکول کیږي ځکه چې مجاهد او غازي هر وخت د الله جل جلاله په لاره کې د خپل ځان وړاندې کولو نیت لري او کله چې هغه په ستنېدو سره کورته راځي نو د هغه نیت دا وي چې د یو څو ورځو آرام کولو څخه وروسته به بیا د جهاد قوت او طاقت پیدا کړم او کله چې د الله جل جلاله د لارې بلنه راسي نو سمدستي د جنګ میدان ته په رسیدو سره د دښمنانو سره به مقابله کوم.

جاعل ته دوچنده ثواب ورکول کیږي

﴿٣٦٦٧﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْغَازِي أَجْرُهُ وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِي. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د غازي لپاره د هغه د جهاد ثواب دئ او د جهاد لپاره مال ورکونکي ته به دمال او جهاد دواړو ثواب ترلاسه کیږي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۳٦، رقم: ۲۵۲٦.

تشریح: جاعل هغه سړي ته وایي چې یو غازي ته مال ورکړي او د هغه مرسته وکړي تر څو هغه جهاد وکړي، ددغه حدیث مطلب دادی چې جاعل ته دوه برابر ثواب ورکول کیږي یو ثواب خو د الله جل جلاله په لاره کې د مال مصرف کولو، او دوهم ثواب دد ې ورکول کیږي چې دی د غازي د جهاد کولو ذریعه او سبب جوړ سوی وي نو له همدې کبله د جعل څخه مراد د غازي سره مالي

مرسته کول او د هغه لپاره د جهاد اوزار تيارول اخيستل کيږي ، چونکه دغه عمل يعني د جعل جائز کېدل او ددې د فضيلت په باره کي هيڅ شک او شبه نسته تول علماء کرام پر دې متفق دي.

مګر ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي د جاعل څخه مراد هغه سړی دی چي غازي ته مزدوري ورکوي او په هغه جهاد کوي ، د حنفي علماؤ په نزد دا هم جائز دي او په دغه صورت کي به غازي ته په جهاد کي د هغه د کوښښ او مشقت ثواب هم ورکول کيږي او جاعل ته به دوه برابر ثواب ورکول کيږي يو ثواب د مال ورکولو او دوهم ثواب د هغه غازي د جهاد کولو سبب او ذريعه جوړېدل، د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب کي دغه عمل يعني يو چا ته مزدوري ورکول او په هغه جهاد کول منع دي ، هغه وايي که يو غازي د يو سړي څخه داسي مزدوري اخيستې وي نو د هغه بېرته ورکول واجب دي .

په مزدورۍ د جهاد کولو په باره کي وعيد

﴿٣٦٦٨﴾ : وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّهُ سَمِعَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُفْتَحُ

د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي ډېر ژر به

عَلَيْكُمُ الْأَمْصَارُ وَسَتَكُونُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ يُقْطَعُ عَلَيْكُمْ فِيهَا بُعُوثٌ فَيَكْرَهُ

پر تاسو د لويو لويو ښارونو دروازې خلاصي سي او تاسو به جمع سوی لښکر ياست چي د هغوی څخه به ستاسو لپاره فوجونه وټاکل سي

الرَّجُلُ الْبَعْثَ فِيهَا فَيَتَخَلَّصُ مِنْ قَوْمِهِ ثُمَّ يَتَصَفَّحُ الْقَبَائِلَ يَعْرِضُ نَفْسَهُ

نو يو سړی به جهاد ته پرته د مزدورۍ تلل بد ګڼي او د خپل قوم څخه به خپل ځان بيل کړي چي جهاد ته د تلو څخه وژغورل سي بيا به هغه قبائل لټوي او خپل ځان به هغوی په وړاندي کولو

عَلَيْهِمْ مَنْ أَكْفِيهِ بَعْثَ كَذَا أَلَا وَذَلِكَ الْأَجِيرُ إِلَى آخِرِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهِ . رواه ابوداؤد .

سره وايي څوک سته چي زما خدمتونه په مزدوري تر لاسه کړي چي زه د يوه لښکر کفايت وکړم ، خبردار! دا سړی مجاهد نه دئ مزدور دئ او د خپليويني تر آخري څاڅکي پوري به مزدور وي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۱۳\ ۳۵، رقم: ۲۵۲۵.

تشريح: چي په هغه کي به ستاسو لپاره فوجونه وټاکل سي : ددې مطلب دادی چي د اسلامي حکومت امير به داخبره ضروري ګرځوي چي دخپل هيواد د هر قوم او هر ډلي د خلکو څخه د فوج په جوړولو سره هغوی جهاد ته واستوي.

مظهر رحمة الله عليه دا مطلب بيان کړی دی چي کله د اسلام آواز د دنيا هري خوا ته ورسيږي نو د وخت امام يعني د اسلامي هيواد امير به ددې خبري په ضرورت پوه سي چي هغه د اسلامي فوج او لښکر په تيارولو سره هغوی د جهاد لپاره واستوي چي هغه لښکر د هغه کفارو بېخ وباسي کوم چي د مسلمانانو نژدې وي او پر مسلمانانو باندي د غلبې تر لاسه کولو لپاره فساد کوي.

په مزدورۍ د جهاد کولو مسئله

﴿۳۶۶۹﴾: وَعَنْ يَّعْلَيْ بْنِ اُمَيَّةَ قَالَ آذَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْغَزْوِ

د يعلي بن اميه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم خلکو ته په جهاد د تللو لپاره اعلان وکړ

وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ لَيْسَ لِي خَادِمٌ فَالْتَمَسْتُ أَجِيرًا يَكْفِينِي فَوَجَدْتُ رَجُلًا

زه هغه وخت سپين ږيری وم او هيڅ خادم راسره نه وو ما يو مزدور ولټوئ چي زما د خدمت لپاره کافي وي نو يو سړی په لاس راغلی چي

سَمَّيْتُ لَهُ ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ فَلَمَّا حَضَرَتْ غَنِيمَتُهُ أَرَدْتُ أَنْ أُجْرِيَ لَهُ سَهْمَهُ

د هغه د خدمت مزدوري ما درې ديناره وټاکل بيا چي د غنيمت مال راغلی نو ما اراده وکړه چي د خپل خدمت کونکي برخه هم ورکړم، د دې مسئلې د پوښتني لپاره

فَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ مَا أَجِدُ لَهُ فِي غَزْوَتِهِ هٰذِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا دَنَانِيرَهُ الَّتِي سَمَّى. رواه ابوداؤد.

زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سوم او پېښه مي ورته بيان کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل زه په دنيا او آخرت کي ددې غزا (نتيجه) د هغه لپاره يوازي هغه دينارونه وينم چي تا ټاکلي دي (يعني د غنيمت په مال کي د هغه هيڅ برخه نسته.) ابوداؤد.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي د هغه سړي لپاره نه خو د غنيمت په مال کي څه برخه سته او نه هغه ته د جهاد ثواب تر لاسه کيږي، علماؤ ليکلي دي چي دا حکم د هغه اجير په باره کي هم دی کوم چي يو مجاهد او غازي د جهاد په دوران کي د خپل خدمت لپاره ساتلی وي، مګر کوم مزدور چي يې د جهاد لپاره ساتلی وي هغه ته به د غنيمت په مال کي برخه ورکول کيږي که څه هم د ځينو علماؤ په قول هغه به د جهاد د ثواب څخه محروم وي.

په شرح السنه کي ليکلي دي چي د علماؤ د داسي سړي په باره کي اختلاف دی کوم چي د خدمت لپاره يا د حيوانانو د ساتني لپاره د مزدورۍ په توګه ساتل سوی وي او بيا هغه د جنګ په ميدان کي جنګ ته استول سوی وي نو ايا هغه ته به د غنيمت په مال کي برخه ورکول کيږي که يا؟ ځيني حضرات وايي چي د هغه لپاره برخه نه سته که څه هم هغه جنګ وکړي يا نه يې وکړي بلکه هغه به يوازي د خپلو خدمتو د ټاکل سوي مزدورۍ حقدار وي دا قول د اوزاعي او اسحاق هم دی، د امام شافعي رحمه الله په دوو قولو کي يو قول دا هم دی، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهما وايي چي هغه سړي ته به برخه ورکول کيږي که څه هم هغه جنګ نه وي کړی مګر د جنګ په وخت کي د مجاهدينو سره وي.

د دنيوي مقصد لپاره جهاد کوونکی د ثواب څخه محروم وي

﴿۳۶۷۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا فَقَالَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَجْرَ لَهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله! يو سړی د الله په لار کي د جهاد اراده لري مګر هغه د دنيا د مال او اسبابو خواهشمند دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل هغه ته به هيڅ ډول ثواب نه تر لاسه کيږي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۳/۳۰ - ۳۱، رقم: ۲۵۱۶.

تشريح: د هغه سړي د ثواب څخه د محروم کېدو وجه دا وه چي انسان ته د خپل هغه عمل ثواب ورکول کيږي کوم چي هغه په اخلاص سره يعني محض د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره کړی وي او هغه سړی په جهاد کي په دې غرض سره د ګډون اراده وکړه چي د هغه په ذريعه د غنيمت مال تر لاسه کړي او په دې اعتبار سره د هغه اصلي مقصد د الله جل جلاله رضا نه وه بلکه د مال او

سامان تر لاسه کول وو ځکه هغه به د ثواب څخه محروم وي.
مګر که چیري یو سړی په جهاد کي شریک وي او محض د الله ﷻ د رضا لپاره وي مګر د غنیمت د مال تر لاسه کول یې هم مقصد وي نو هغه ته به ثواب ورکول کیږي که څه هم هغه ته به د هغه سړي څخه کم ثواب ورکول کیږي کوم چي محض د الله تعالی د رضا لپاره په جهاد کي شریک وي او د غنیمت د مال تر لاسه کول د هغه مقصد نه وي.

حقیقي جهاد د چا دی؟

﴿۳۶۷۱﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَزْوُ غَزْوَانِ

د حضرت معاذ رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جهاد پر دوه ډوله دئ:

فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ وَأَطَاعَ الْإِمَامَ وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ

چا چي د الله ﷻ رضا مندي وغوښتل د امام اطاعت یې وکړ پاک (مال او ځان) یې خرڅ کړ په لاره کي د الله ﷻ، د ملګري سره یې ښه چلن وکړ،

وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً

د فساد څخه یې ځان وساتئ نو د هغه خوب او ویښتیا ټول ثواب دي او چا چي جهاد وکړ د فخر لپاره، د ښودني او اورولو لپاره

وَعَصَى الْإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ. رواه مالك و ابوداؤد والنسائي.

د امام نافرماني یې وکړه او په مځکه کي یې فساد پیدا کړ نو هغه به د جهاد د یو بدلي اخیستلو سره نه راستنیږي (یعني هیڅ ثواب به یې نه وي ګناه به یې ډېره وي)، مالک، ابوداؤد او نسائي.

تخریج: موطا الامام مالک ۲\ ۴۶۶، رقم: ۴۳. وابوداود ۳\ ۳۰، رقم: ۲۵۱۵، والنسائي ۵\ ۴۹- ۵۰، رقم: ۳۱۸۸.

د لغاتو حل: الکریمة: ای المختارة من ماله (خپل غوره مال). یاسر: من المیاسرة بمعنی المساهلة

د نامه لپاره جهاد کولو باندې وعيد

﴿٣٦٤٢﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْجِهَادِ

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه عرض وکړ اې د الله رسوله ! ما د جهاد

فَقَالَ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو إِنْ قَاتَلْتَ صَابِرًا مُحْتَسِبًا بَعَثَكَ اللَّهُ صَابِرًا

څخه خبر کړئ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عبد الله بن عمرو ! که ته په داسي حال کي و جنګيږې چي صبر و کونکى

مُحْتَسِبًا وَإِنْ قَاتَلْتَ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا بَعَثَكَ اللَّهُ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ

او د الله جل جلاله څخه د ثواب غوښتونکى يې نو الله تعالى به تا صبر كوونكى او ثواب غوښتونكى پاڅوي ، په داسي حال كي به تا پاڅوي په کوم حال کي چي ته مړ كيږې او که د فخر او ښودلو لپاره جهاد کوې نو الله تعالى به تا ښودنه كونكى او ډير زيات مال او فخر غوښتونكى پاڅوي

عَمْرٍو عَلَى أَيِّ حَالٍ قَاتَلْتَ أَوْ قُتِلْتَ بَعَثَكَ اللَّهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ . رواه ابوداؤد.

، اې عبد الله بن عمرو ! په کوم حال کي چي ته جنګيږې يا ووژل سې الله تعالى به تا په هغه حال كي را پاڅوي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٢، رقم: ٢٥١٩.

امير معزولول پکار دي

﴿٣٦٤٣﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَعَجَزْتُمْ

د حضرت عقبة بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو ددې څخه عاجزه ياست چي

إِذْ بَعَثْتُ رَجُلًا فَلَمْ يَمْضِ لِأَمْرِي أَنْ تَجْعَلُوا مَكَانَهُ مَنْ يَمْضِي لِأَمْرِي . رواه ابوداؤد و ذكر حديث فضالة والمجاهد من جاهد نفسه في كتاب الايمان.

كله زه يو سړى امير و ټاكم او هغه زما د احكامو سره سم كار ونه کړي نو هغه تاسو مات كړئ او

دهغه پر ځای داسي سړی و ټاکئ چي زما د حکم سره سم کار کوي ، ابوداؤد ، او د فضاله حديث والمجاهد من جاهد نفسه په کتاب الايمان کي بيان سوی دئ .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۹۴، رقم: ۲۵۳۷.

تشريح: د دغه ارشاد مطلب دادی که زه يو سړی د يو کار لپاره د مثال په توګه د حاکم او والي په جوړولو سره يو ځای واستوم او هغه هلته ولاړ نه سي يا هلته په تلو سره زما د حکم تعميل ونه کړي او زما د بنوولي لاري څخه په ليري کېدو سره پر خپل لار روان سي نو تاسو هغه معزول کړئ او د هغه پر ځای يو بل څوک زما د حکم مطابق د هغه ځای حاکم جوړ کړئ ، پر دې باندي په قياس کولو سره علماؤ دا مسئله ليکلې ده که يو امير او حاکم پر رعيت باندي ظلم کوي او د عوامو د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي کوي نو عوامو ته دا حق حاصل دی چي هغه امير او حاکم معزول (برطرفه) کړي او د هغه پر ځای دوهم سړی امير او حاکم کړي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په اسلام کي د رهبانيت ځای نه سته

﴿۳۶۷۴﴾: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ په يوه لښکر کي د رسول الله ﷺ سره روان سوو ، په

سَرِيَّةٍ فَمَرَّ رَجُلٌ بِغَارٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ وَّ بَقْلٍ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِأَنْ يُقِيمَ

موږ کي يو سړی د يو غار سره تير سو چي په هغه کي او به وې او څه شينګيا ، د هغه په زړه کي دا خيال پيدا سو چي زه دلته پاته سم

فِيهِ وَيَتَخَلَّى مِنَ الدُّنْيَا فَاسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَالِكَ

او دنيا پريږدم ، نو هغه د رسول الله ﷺ څخه اجازه و غوښتل ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه

فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ

خو نه د يهوديت خپرولو لپاره راليږل سوی يم او نه د نصرانيت لپاره ،

وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَغَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ

بلکه پاک صفا شریعت سره راليږل سوی يم چي آسان دين دئ، قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس كي د محمد ساه ده په سهار يا ماښام كي

فِي سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَمُقَامُ أَحَدِكُمْ فِي الصَّفِّ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِهِ سِتِّينَ سَنَةً. رواه احمد

د الله ﷻ په لار كي تلل د دنيا و د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره دي او د ميدان جنگ په صف كي دريدل د شپېتو كالو تر لمانځه كولو غوره دي. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ٥\ ٢٦٦.

په جهاد كي د نيت د اخلاص اخري درجه

﴿٣٦٧٥﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَزَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَلَمْ يَنْوِ إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوَى. رواه النسائي

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د الله ﷻ په لار كي جهاد وكړ او يوازي د يوې رسۍ (چي د اوښ ځنګون په تړي) نيت يې وكړه نو د هغه لپاره هغه شی دئ د كوم شي نيت چي يې كړی وي. نسائي.

تخريج: سنن النسائي ٦\ ٢۴، رقم: ٣١٣٨.

د لغاتو حل: عِقالا: وهو حبل صغير يشد به ركبة البعير لئلا يفر (كوچنۍ رسۍ چي د اوښ پښې ورباندي تړل كيږي، تر څو ونه تښتي).

تشريح: مطلب دادی كه په جهاد كي د دنيا يو معمولي شی هم په نظر كي وي نو دا د اخلاص خلاف خبره ده، يعني ددغه ارشاد مقصد دا خبره بيانول دي او دا ترغيب وركول دي چي په جهاد كي د غنيمت د مال د تر لاسه كولو څخه بايد قطع نظر وكړل سي او په نيت كي داسي اخلاص پيدا كړل سي چي په هغه كي د دنيا هيڅ غرض هم نه وي مګر دا دي واضحه وي چي په جهاد كي د نيت د اخلاص دا آخري درجه ده.

دا خبره مخكي ښوول سوې ده چي په جهاد كي د الله تعالی رضا او د دين لوړتيا په نيت سره د غنيمت د مال تر لاسه كولو مقصد هم شامل وي نو دا جائز ده او په دغه صورت كي هم د

جهاد ثواب ورکول کيږي همدا رنګه که چيري د هغه په نيت کي د ځان ښوونې جذبه وي نو د هغه په وجه هم د جهاد کليه نه باطليږي.

جهاد په جنت کي د درجو د ترقۍ باعث دی

﴿۳۶۷۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَضِيَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله جل جلاله پر

بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُولًا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ فَعَجِبَ لَهَا أَبُو

پروردګار کېدو، او په اسلام چي دين دی او د محمد ﷺ پر رسول کېدو راضي سو د هغه لپاره جنت واجب سو، د دې الفاظو په اوريدو سره

سَعِيدٍ فَقَالَ أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ وَأُخْرَى يُرْفَعُ

ابو سعيد د تعجب اظهار وکړ او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! دا کلمات بيا يو وار زما په وړاندي وفرماياست، رسول الله ﷺ دغه کلمات بيا وفرمايل، او بيا يې ارشاد وفرمايي:

بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

يو شی بل دئ چي د هغه په سبب الله جل جلاله د بنده لپاره په جنت کي سل درجې لوړوي او په هغوی کي د دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده څومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي فاصله ده

قَالَ وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. رواه مسلم.

ابو سعيد وويل: اې د الله رسوله! هغه څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه د الله په لار کي جهاد کول دي هغه د الله جل جلاله په لار کي جهاد کول دی هغه د الله جل جلاله په لار کي جهاد کول دي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۰۱، رقم: ۱۱۶- ۱۸۸۴.

د جنت دروازې د تورو تر سايو لاندې دي

﴿٣٦٧٧﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ أَبْوَابَ

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنت دروازې

الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ يَا أَبَا مُوسَى آنْتَ

د تورو تر سايې لاندې دي (د دې په اوريدو سره) يو سړي ګډوډ او زوړ شكلي جامې يې وې پوښتنه وكړه اې ابو موسى! تا

سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ

د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ اوريدلي دي چي دا يې ويل؟ ابو موسى وويل هو، (د دې په اوريدو سره) هغه سړي خپلو ملګرو ته ورغلی

فَقَالَ أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ ثُمَّ مَشٰى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتّٰى قُتِلَ. رواه مسلم.

او وه يې ويل زه تاسو ته د رخصتۍ سلام كوم د دې په ويلو سره يې د توري تيكى مات كړ او وه يې غورځوى بيا يې توره واخيستل د دښمن په لور روان سو د هغو سره وجنګېدئ تر څو چي شهيد سو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٥١١، رقم: ١٤٦-١٩٠٢.

د لغاتو حل: جفن: اى غلافه (پوښ).

تشريح: د جنت دروازې د تورو په سايه كي دي: د دې مطلب دادى چي د مجاهد او غازي د جنګ په ميدان كي داسي كېدل چي د كفارو توري پر هغو سربېره وي نو دا په جنت كي د داخلېدو سبب دى او هغه حالت د دې خبرې نښه ده چي د جنت دروازې د هغه مجاهد او غازي سره دى چي د كفارو د تورو په ذريعه د شهادت جام نوش كړي او جنت كي داخل سي.

د احد د شهيدانو لپاره زيرى

﴿٣٦٧٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاَصْحَابِهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپلو صحابه كرامو ته وفرمايل:

اَنَّهُ لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ يوم احد جَعَلَ اللّٰهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ

کله چي ستاسو وروڼه د اُحد په ورځ غم زده سول يعني شهيدان سول نو الله تعالى د هغوى روحونه د شنو مرغانو په بدن کي داخل کړل

تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ

(اوس) هغه مرغان د جنت ويالو ته راځي د جنت ميوې خوري او د سروزرو په هغه قنديلانو کي ارام کوي کوم چي د عرش الهي لاندي زړيدلي دي ،

الْعَرْشِ فَلَمَّا وَجَدُوا طِيبَ مَأْكَلِهِمْ وَمَشْرَبِهِمْ وَمَقِيلِهِمْ قَالُوا مَنْ يُبَلِّغُ

کله چي دغه شهيدانو ته خوراک، چښاک ،آرام او خوشحالي تر لاسه سوې نو هغوى وويل :

إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجَنَّةِ وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ

ايا څوک سته چي زموږ وروڼو ته زموږ د لوري دا پيغام ورسوي چي موږ ژوندي يو ددې لپاره چي هغوى په جنت تر لاسه کولو کي د بې پرواهۍ څخه کار وانه خلي او د جهاد پر موقع سستي

فَقَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ و تَعَالٰى انا ابلعهم عنكم فانزل الله وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ

قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ . رواه ابوداؤد

ونه کړي ، الله تعالى وويل : زه به ستاسو پيغام ستاسو وروڼو ته ورسوم نو الله تعالى دا آيت نازل کړ : (ولا تحسبن الذين .....) ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۲، رقم: ۲۵۲۰.

تخريج: لاينكلوا : اى لايجبنوا.

تشريح: پوره آيت کريمه دا دئ :

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ١٦٩ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ . سورة آل عمران ١٧٠.

ژباړه : کوم کسان چي د الله ﷻ په لاره کي ووژل سي هغوی مړه مه ګڼئ بلکه هغوی د الله ﷻ په نزد ژوندي دي او هغوی ته رزق ورکول کيږي چي الله ﷻ په خپل فضل سره ورکړی دی په هغه کي خوشحاله دي او کوم خلک چي د هغوی وروسته پاته سوي دي (او په شهادت کي) د هغوی سره شامل سوي نه دي د هغوی په نسبت خوشحالي کوي (چي د قيامت په ورځ به) هغوی ته څه بېره نه وي او نه به هغوی په غم کي وي .

د مؤمنانو لوړه ډله

﴿٣٦٧٩﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْمُؤْمِنُونَ فِي الدُّنْيَا عَلَى ثَلَاثَةِ أَجْزَاءٍ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا

په دنيا کي دري ډوله مؤمنان دي : يو خو هغه چي الله ﷻ او د هغه پر رسول باندي يې ايمان راوړ، او بيا په يو شک او شبه کي اخته نسول،

وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِي يَأْمَنُهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ

او د الله تعالی په لار کي يې سر او مال سره جهاد وکړ، او بل قسم هغه څوک دی چي د هغوی په لاس کي د مسلمانانو سر او مال خوندي وي،.

وَأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ الَّذِي إِذَا أَشْرَفَ عَلَى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ. رواه احمد .

او دريم هغه چي د هغوی په زړه کي د طمع خواهش پيدا کيږي مګر هغوی دا خواهش يوازي د الله تعالی د رضا تر لاسه کولو لپاره پريږدي . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ٣\٨.

تشريح: د مؤمنانو د دغه آخري ډلي وصف دا بيان سوی دی که د هغه په زړه کي د دنيا د يو شي طمع او حرص پيدا سي نو په هغه عمل نه کوي بلکه د الله ﷻ د رضا او خوښۍ تر لاسه کولو لپاره هغه طمع او حرص پريږدي ، دا هغه ډله ده که د شتمنو خلکو سره تعلق وساتي او د دغه تعلق په وجه د هغه په زړه کي طمع او حرص پيدا سي مګر په هغه وخت کي الله ﷻ هغه پر طمع او حرص باندي د عمل کولو څخه وساتي نو دا ډله د مرتبې په اعتبار د مخکنۍ دواړو ډولو څخه ادنا دي ، بيا د دغه دريمي ډلي څخه وروسته د مؤمنانو نور ډولونه دي مګر هغه ټول د

مرتبې په اعتبار ساقط دي.

د شهيد ارزو

﴿٣٦٨٠﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالرحمن بن ابي عميرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

قَالَ مَا مِنْ نَفْسٍ مُسْلِمَةٍ يَقْبِضُهَا رَبُّهَا تُحِبُّ أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْكُمْ وَأَنَّ لَهَا

هيڅ مسلمان چي د هغه روح الله تعالى قبض کړي ددې خبري خواهش نه کوي چي د هغه روح

الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا غَيْرُ الشَّهِيدِ قَالَ ابْنُ أَبِي عَمِيرَةَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

دې بيا راسي او د دنيا لذتونه ترلاسه کړي پرته د شهيد د روح څخه (چي هغه دا خوښوي) چي دويم وار دنيا ته راسي او د جهاد کولو سره دويم وار شهادت ترلاسه کړي، ابن ابي عميره وايي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَأَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ. رواه النسائي

د الله تعالى په لار کي زما قتلېدل ما ته تر دې زيات خوښ دي چي د خيمې درولو والا (ښاريان او کليوال) زما سي. نسائي

تخريج: سنن النسائي ٦\٣٣، رقم: ٣١٥٣.

د لغاتو حل: اهل الوَبَر والمَدَر: المراد باهل الوبر سكان البوادي لان خباءهم من الوبر غالبا وباهل المدر سكان القرى والامصار واراد به الدنيا وما فيها فغلب العقلاء على غيرهم. المرقات.

تشريح: د خيمو والا څخه د صحراء اوسيدونكي مراد دي ځكه چي هغوى په خيمو كي اوسيږي او د سراى والا څخه د ښار اوسيدونكي مراد دي او د دواړو د مجموعې څخه ټوله دنيا او د دنيا ټول خلک مراد دي، ددغه ارشاد خلاصه داده كه چيري زه د ټولي دنيا امير او حاكم سم او د دنيا ټول خلک زما محكوم او رعيت وي نو زه به ددې په مقابله كي دا زيات خوښ کړم کوم چي ما ته په جهاد كي د تلو موقع په لاس راسي او زه د الله جل جلاله په لاره كي خپل ځان قربان کړم.

پر هر مؤمن د شهيد اطلاق

﴿٣٦٨١﴾: وَعَنْ حُسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمِّي قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى

د حضرت حسناء بنت معاوية (رض) څخه روايت دئ چي ما ته زما اکا دا حديث بيان کړ چي ما دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فِي الْجَنَّةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْوَئِيدُ فِي الْجَنَّةِ. رواه ابوداؤد.

په جنت کي به څوک وي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل په جنت کي به نبيان وي، په جنت کي به شهيدان وي او هلکان او کوچنيان که څه هم هغه د هر مذهب او هر قوم وي په جنت کي به وي او هغه انجوني به په جنت کي وي کومي چي ژوندی ښخ کړل سوي دي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٣، رقم: ٢٥٢١.

د لغاتو حل: الوئيد: اى المدفون حيا في الارض (ژوندي ښخ سوي)

تشريح: دلته د شهيد څخه مراد يوازي هغه سړی نه دی کوم چي د الله ﷻ په لاره کي وژل سوی وي بلکه مؤمن مراد دی که هغه په حقيقت کي شهيد سوی وي يا حکمًا شهيد سوی وي لکه څرنگه چي الله تعالیٰ په قرآن کريم پر ايمان راوړونکو باندي د شهيد اطلاق کړی دی:

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاء عِندَ رَبِّهِمْ

ژباړه: او کومو کسانو چي پر الله (ﷻ) او د هغه پر رسول (ﷺ) ايمان راوړ دا هغه خلک دي چي د خپل پروردګار په نزد صديقين (ريښتوني) او شهيدان دي.

په جنت کي به کوچنيان وي: يعني کوچنيان که د مؤمن وي يا د کافر وي په جنت کي به داخليږي، همدارنگه کوچنی ماشوم به هم په جنت کي داخليږي کوم چي د حمل د اسقاط په صورت کي ختم سوی وي.

کوم چي ژوندی ښخ سوي دي: يعني څرنگه چي د جاهليت په زمانه کي به خلکو خپلي لوڼي ژوندۍ په مځکه کي ښخولې بلکه ځينو خلکو به د تنگۍ او نورو پريشانيو په وخت کي خپل ژوندي هلکان هم ښخول نو داسي هلکان او انجوني به هم په جنت کي داخليږي.

په حديث کي په خاصه توگه د څلورو خلکو ذکر سوی دی کيدای سي چي د اول الذکر

دواړو تخصيص د هغوى د فضل او شرف په اعتبار وي او د آخر الذكر دواړو تخصيص په دې سبب وي چي هغوى به د يو كسب او عمل څخه پرته په جنت كي داخل كړل سي .

په جهاد كي په مال او ځان دواړو سره د ګډون كوټكي فضيلت

﴿٣٦٨٢﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي أُمَامَةَ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ

حضرت علي رضي الله عنه، ابو درداء رضي الله عنه، ابوهريره رضي الله عنه، ابو امامه رضي الله عنه، عبدالله بن عمر رضي الله عنه،

وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَعِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ

عبدالله بن عمرو، جابر بن عبدالله رضي الله عنه او عمران بن حصين رضي الله عنهم ټول د نبي كريم صلى الله عليه وسلم

عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَرْسَلَ بِنَفَقَةٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

څخه دغه حديث بيانوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د الله جل جلاله په لاركي د خرڅ لپاره مال وليږي

وَأَقَامَ فِي بَيْتِهِ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ دِرْهَمٍ وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِي سَبِيلِ

او خپله په كور كي پاته سي هغه ته به د هر درهم په بدله كي اووه سوه درهمه تر لاسه كيږي او څوک چي خپله ولاړ سي د الله جل جلاله په لاركي جهاد وكړي

اللَّهِ وَأَنْفَقَ فِي وَجْهِ ذَلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ

الْآيَةَ: وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ. رواه ابن ماجة.

او په جهاد كي خپل مال هم خرڅ كړي نو هغه ته به د هر درهم په بدله كي اووه سوه زره درهمه تر لاسه كيږي، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت تلاوت كړ: (والله يضاعف لمن يشاء). ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ٢\٩٢٢، رقم: ٢٧٦١.

تشريح: د آيت په ويلو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم دې ته اشاره وكړه چي دلته د ثواب كومه اندازه بيان سوې ده هغه آخر حد نه دى بلكه دا د الله تعالى پر خوښې موقوف دى كه هغه وغواړي نو د دغه اندازې څخه هم زيات بلكه بې شمېره ثواب وركوي.

د شهیدانو قسمونه

﴿۳۶۸۳﴾: وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ سَمِعْتُ

د فضاله بن عبید رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه واوریدل چي

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الشُّهَدَاءُ أَرْبَعَةٌ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ

هغه ویل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي شهیدان پر څلور ډوله دي یو خو هغه سړی

الْإِيمَانِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ فَذٰلِكَ الَّذِي يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ

چي مؤمن وي د پوره ایمان خاوند وي هغه د ښمن سره و جنګیږي او د الله جل جلاله وعده رېښتوني وبولي تر څو چي په جنګېدو کي ووژل سي دا هغه سړی دئ چي د هغه په لوړ به

أَعْيُنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ هٰكَذَا وَرَفَعَ رَأْسَهُ حَتّٰى سقطت قَلَنْسُوَتُهُ قَالَ فَمَا

د قیامت په ورځ خلک داسي سر پورته کوي، په دې ویلو سره یې سر پورته کړ (د و مره یې پورته کړه) چي خولۍ یې ایله سوه، د راوي بیان دئ

أَدْرِي أَقَلَنْسُوَةَ عُمَرَ أَرَادَ أَمْ قَلَنْسُوَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَرَجُلٌ

فضاله دا و نه ښو دل چي خولۍ د چا د سر څخه ایله سوه، د حضرت عمر رضی الله عنه د سر څخه یا د نبي کریم ﷺ د سر څخه، او دویم هغه سړی

مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيمَانِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَكَأَنَّمَا ضُرِبَ جِلْدُهُ بِشَوْكِ طَلْحٍ مِنَ الْجُبْنِ

چي مسلمان وي د پوره ایمان خاوند وي او د ښمن سره مقابله وکړي په داسي حال کي چي په بیره سره هغه دا محسوسوي چي د هغه په بدن کي د ازغني درختي ازغي وهل سوي دي

أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ فَهُوَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّانِيَةِ وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلًا صَالِحًا

یعني د بزدلۍ په وجه چي ناڅاپه یو نامعلوم غشی راسي او هغه ووژني دا سړی د دویمي درجې شهید دئ، دریم هغه سړی چي مؤمن وي او هغه څه نیک او څه بد اعمال کړي وي (هغه

وَآخَرَ سَيِّئًا لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ فَذٰلِكَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّالِثَةِ

جهاد ته ولاړ سي) د دښمن سره وجنګيږي او د الله تعالى هغه بيان سوى صفت رېښتونى وبولي چي هغه د مؤمن بيان کړى دئ او ووژل سي دا د دريمي درجې شهيد دئ ،

وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ أَسْرَفَ عَلَى نَفْسِهِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللَّهَ حَتَّى قُتِلَ فَذٰلِكَ فِي الدَّرَجَةِ الرَّابِعَةِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

او څلورم هغه سړى چي مؤمن وي مګر پر خپل ځان يې زياتي کړې وي (يعني ډير ګناهونه يې کړي وي) او هغه په جهاد کي د دښمن سره وجنګيږي او د الله وعدې او صفت رېښتونى وبولي تر څو چي قتل کړل سي دا د څلورمي درجې شهيد دئ ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۵۲، رقم: ۱۶۴۴.

د لغاتو حل: طلح: وهو شجر عظيم من شجر العضاه.

تشريح: او د الله تعالى هغه بيان سوى صفت رېښتونى وبولي: په دې باره کي وضاحت دادى که چيري د صدق په لفظ کي پر دال باندي شد نه وي نو ددې معنى به دا وي چي هغه سړى د خپل مېړاني او شجاعت په ذريعه هغه شى رېښتيا کړ کوم چي د هغه ذمه داري د الله تعالى له خوا پر هغه عائد سوې ده يعني د الله ﷻ په لاره کي ثابت قدم پاته کېدل او دښمن ته شا نه ګرځول، او که چيري پر دال باندي شد وي نو په دغه صورت کي به معنى دا وي چي هغه سړى د خپل عمل، شجاعت او ميړاني په ذريعه الله تعالى رېښتوني ثابت کړ او د هغه د قول تصديق يې وکړ په دې توګه چي هغه د الله ﷻ په لاره کي جهاد وکړ او د هغه لاري ټولي سختۍ، تکليفونه او مصيبتونه يې وزغمل او د الله تعالى له خوا د ورکونکي ثواب امېدوار سو ، الله ﷻ د مجاهدينو دا تعريف بيان کړى دى چي هغوى د الله ﷻ په لار کي پر پېښېدونکي هر تکليف او مصيبت باندي صبر کوي او د خپل پروردګار له خوا د اجر او ثواب غوښتونکى وي نو هغه سړى چي جنګ يې وکړ او د ثواب د غوښتني په وجه د صبر او استقامت لار يې اختيار کړه نو هغه د خپل دغه عمل په وجه د الله تعالى د خبري تصديق وکړ .

په حديث کي چي د شهيدانو کوم ډولونه بيان سوي دي دهغو خلاصه داده چي کوم مسلمان د الله ﷻ په لاره کي شهادت تر لاسه کړي نو هغه يا خو متقي او پرهيزګار هم وي او شجاع او زړه ور هم وي او دا اول ډول دى ، او يا هغه متقي او پرهېزګار خو وي مګر شجاع او زړه ور نه وي نو دا دوهم ډول دى ، يا هغه شجاع او زړه وي وي مګر متقي او پرهيزګار نه وي او

بيا ددې دوه ډولونه دي يو دا چي هغه داسي غير متقي او پرهيزګار وي چي د هغه اعمال خوندي وي مګر په ژوند کي د هغه څخه نيک اعمالو هم صادر سوي وي او خراب اعمال هم ځيني سوي وي مګر د هغه خراب اعمال دومره زيات نه وي چي هغه ته فاسق او مسرف وويل سي، او په دغه حديث کي د بيان سوي شهيد دريم ډول دی چي هغه داسي غير متقي او پرهيزګار وو چي د هغه بد عملونه د هغه په ژوند کي غالبه وي يعني هغه دومره زيات خراب اعمال کړي وي چي فاسق او مسرف منل کيدی او دا څلورم ډول دی، د دوهم ډول څخه ماسوا په نورو ټولو کي د الله تعالی په لاره کي تصديق تر لاسه کيږي او د دغه وضاحت څخه معلومه سوه چي د الله ﷻ د تصديق کولو څخه مراد دادی چي د صبر او طلب د ثواب په وجه د الله ﷻ په لاره کي ثابت قدم اوسيدل چي د هغه په ذريعه الله تعالی د اسلام د مجاهدينو تعريف بيان کړی دی او خبرداری يې ورکړی دی نه دا چي داجر او ثواب د وعدې تصديق مراد وي ځکه چي هغه په دوهم ډول کي هم تر لاسه کيږي مګر ددې سربېره چي هغه دوهم ډول شهيد دی دا نه دي فرمايل سوي دي چي هغه الله ﷻ په ريښتوني کولو سره وښووی.

که منافق په جهاد کي شهيد سي نو د جنت حقدار نه دی

﴿٣٦٨٤﴾:وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدِ السَّلَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عتبة بن عبدالسلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ اَلْقَتْلٰى ثَلَاثَةٌ مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَإِذَا لَقِيَ

کوم خلک چي په جهاد کي ووژل سي د هغو درې ډوله دي يو خو هغه مؤمن چي په خپل سر او مال سره د الله ﷻ په لار کي جهاد وکړي د دښمن سره مقابله وکړي

الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهِ فَذٰلِكَ الشَّهِيْدُ

او جنګيږي تر څو چي شهيد سي ددې شهيد په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي دا هغه شهيد دئ

الْمُمْتَحَنُ فِيْ خَيْمَةِ اللّٰهِ تَحْتَ عَرْشِهٖ لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّوْنَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ

چي دده پر صبر او استقامت باندي يقين کړل سوی دئ دا شهيد به د الله تر عرش لاندي د الله ﷻ په خيمه کي وي او انبياء به يوازي په يوه درجه د نبوت کي ځيني زيات وي،

وَمُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلاً صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ إِذَا

دويم هغه مؤمن دئ چي د هغه اعمال ګډوډ وي يعني څه ښه او څه بد وي هغه په خپل سر او مال سره د الله ﷻ په لار کي جهاد وکړي کله چي

لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهِ مُمَصْمِصَةٌ

د دښمن سره مقابله سي نو وجنګيږي ترڅو چي ووژل سي ددې شهيد په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي دا شهادت پاکوونکی دئ

مَحَتْ ذُنُوْبَهُ وَخَطَايَاهُ إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ

چي د هغه ګناهونه يا خطاوي رژوي او توره (يعني جهاد) ګناهونه ډير زيات محوه کونکي (رژونکي) شی دئ، دا شهيد چي په کومه دروازه سره

الْجَنَّةِ شَاءَ وَمُنَافِقٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ

فَذَاكَ فِي النَّارِ إِنَّ السَّيْفَ لَا يَمْحُو النِّفَاقَ. رواه الدارمي.

جنت ته تلل غواړي تللای سي، او بل هغه منافق دئ چي هغه خپل په سر او مال سره جهاد وکړي کله چي د دښمن سره ملاقات وکړي نو جنګ کوي ترڅو چي ووژل سي دا سړی به دوږخ ته ځي ځکه چي توره نفاق (منافقت) نه ليري کوي. دارمي

تخريج: سنن الدارمي ٢\ ٢٧٢، رقم: ٢۴١١.

د لغاتو حل: المُمتحَن: اى المشروح صدره وهو الذي امتحن الله قلبه للتقوى. مُمَصمِصة: اى المطهرة من دنس الخطايا. (د ګناهونو څخه پاک)

په جهاد کي د چوکيدارۍ کولو ثواب

﴿٣٦٨٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عَائِذٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جَنَازَةِ

د ابن عائذ رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي د جنازې سره تشريف يووړ،

رَجُلٍ فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ

كله چي جنازه كښېښودل سوه نو عمر بن خطاب رضي الله عنه عرض وكړ اې د الله رسوله ! تاسو پر ده لمونځ مه كوئ ځكه چي دا سړى

فَاجِرٌ فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ فَقَالَ هَلْ رَآهُ أَحَدٌ

بد عمله وو ، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ د خلكو په لور وكتل او وه يې فرمايل په

مِّنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَجُلٌ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ

تاسو كي چا دی د اسلام پر يو كار كولو ليدلى دئ ، يو سړى عرض وكړ چي هو اې د الله رسوله ! ده يوه شپه د الله جل جلاله په لار كي چوكيداري كړې وه ،

سَبِيْلِ اللهِ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَثَّا عَلَيْهِ التُّرَابُ

رسول الله ﷺ پر هغه لمونځ وكړ او په خپلو لاسونو مباركو يې پر هغه خاوره واچول او

وَقَالَ أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

بيا يې وفرمايل : ستا دوستان خيال كوي چي ته دوږخي يې او زه د دې شاهدي وركوم چي ته جنتي يې ، ددې وروسته رسول الله ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل :

وَقَالَ يَا عُمَرُ إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلَكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

اې عمره ! ستا څخه به د خلكو د اعمالو پوښتنه نه كيږي بلكه د دين اسلام په اړه به در څخه پوښتنه كيږي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٤\٤٣، رقم: ٤٢٩٧.

تشريح: ستا څخه به د دين په باره كي پوښتنه كيږي : يعني د هغه شي په باره كي به پوښتنه كيږي كوم د دين د شعائرو او د يقين د نښو كېدو په وجه پر اسلام دلالت كوي .

ددغه ارشاد مقصد په اصل كي حضرت عمر رضي الله عنه ددغه جرئت څخه منع كول وو چي هغه د مړي د فسق تذكره كړې وه او دا يو ناخوښه كار دی نو ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ دا واضحه كړل چي د يو مسلمان ظاهري ژوند او د هغه ظاهري اعمالو ته په كتلو سره د هغه د

آخرت د حيثيت په باره کي يو فيصله کول نه دي پکار بلکه هغه شی معيار جوړول پکار دي کوم چي د هغه پر دين او اسلام باندي د پوره يقين او اعتقاد غمازي کوي او دا ثابته کړي چي د هغه په اصل ايمان کي څه کوړوالی او د هغه په بنيادي عقيدو کي څه کمي نه سته ، او کوم چي د اعمالو تعلق دی نو د الله تعالی ذات ډېر بې نيازه دی او هغه پر خپلو بندګانو باندي ډېر زيات مهربان دی .

علامه طيبي رحمة الله عليه د حديث د ذکر سوي جملې وضاحت داسي کړی دی چي رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه حضرت عمر رضي الله عنه خبردار کړ چي اې عمره ! تا ته په داسي وخت کي د مړي د بدو اعمالو او د هغه د ظاهري فسق بيانول نه دي پکار بلکه ته بايد د هغه نيک اعمال او ښه خبري مخته راوړې لکه څرنګه چي په يو ځای کي فرمايل سوي دي :

(اذکروا موتاکم بالخير) : تاسو خپل مړي په نيکۍ (خير) سره يادوی

او دلته د حضرت عمر رضي الله عنه ددغه اقدام او کړني څخه منع کول مقصد وو چي په داسي وخت کي هغه دا اقدام کړی وو يعني دهغه د فسق ذکر او اظهار يې کړی وو ځکه چي د يو انسان د آخرت د فلاح او ابدي خلاصون دار او مدار په اصل کي د اسلام پر فطرت او د هغه پر عقائدو باندي دی حال دا چي هغه سړي يو داسي عمل هم کړی وو کوم چي د اسلام د اعمالو څخه وو او د هغه د مسلمانۍ ثابتولو لپاره يوازي هغه عمل کافي دی .

============

بَابُ اِعْدَادِ آلَهِ الْجِهَادِ

(د جهاد د سامان برابرولو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جهاد لپاره د توان سره سم د جهادي ساز و سامان برابرولو حکم

﴿٣٦٨٦﴾ : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه پر منبر دا اوريدلي دي

وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ { وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ } أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ

الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ . رواه مسلم

د کافرانو سره د جنګېدو لپاره چي تاسو څومره خپل توان تېنګولای سئ تېنګ یې کړئ ، خبردار سئ ! چي غشي وېشتل قوت دئ، خبردار سئ چي غشي ویشتل قوت دئ ، خبردار سئ چي غشي ویشتل قوت دئ، (یعني په قرآن کریم چي د (وما استطعتم من قوة ....) کوم آیت راغلی دئ د هغه څخه مراد د غشو ویشتلو قوت دئ) . مسلم .

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۵۲۲، رقم: ۱۶۷– ۱۹۱۷.

تشريح: غشي ویشتل قوت دئ: په دغه جمله کي دې ته اشاره سوې ده چي په قرآن کریم کي دا حکم ورکړل سوی دی چي (واعدوا لهم ما استطعتم من قوة) یعني تاسو د کفارو سره د جنګ لپاره د خپل قوت او طاقت لپاره چي کوم شی تیارولای سئ هغه تیار کړئ ، نو په دغه آیت کریمه کي د قوت څخه مراد د غشي ویشتل (بښکار) دئ .

بیضاوي او داسي نورو د دغه آیت کریمه په تفسیر کي ویلي دي چي د قوت څخه مراد هر هغه شی دی چي د هغه په ذریعه انسان ته په جنګ کي قوت او طاقت تر لاسه کیږي ، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي د رسول الله ﷺ د قوت څخه غشي ویشتل مراد اخیستل کیدای سي په دې وجه وي چي په هغه زمانه کي د نورو شیانو په نسبت غشي ویشتل تر ټولو زیات قوت او طاقت وو او آسانه کار هم وو .

د روم فتح

﴿۳۶۸۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الروم وَيَكْفِيكُمُ اللّٰهُ فَلَا يَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِه . رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي ډېر ژر به ستاسو لپاره روم فتح کړل سي او بس والی به وکړي تاسي لره خدای جل جلاله یعني خدای جل جلاله به کومک درسره وکړي نو تاسو ته پکار ده چي تاسو د غشو تمرین کولو کي سستي (عاجزي) ونه کړئ . مسلم .

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۵۲۲، رقم: ۱۶۸– ۱۹۱۸.

تشريح: د دغه ارشاد مطلب دادی چي په هغه زمانه کي رومیانو په عامه توګه د غشي ویشتلو په ذریعه جنګ کوی او ستاسو د هغوی سره جنګ کیږي ځکه نو ضروري ده چي تاسو هم غشي

ویشتل خپل وظیفه وګرځوئ او د هغه د تمرین په ذریعه د غشي ویشتل او نښه ویشتل زده کړئ چي تاسو د هغوی سره پر جنګ کولو قادر سئ او الله تعالی تاسو د هغوی سره د مقابلې په وخت کي په خپل مرسته او نصرت سره نازوي ، او یا د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي د غشي ویشتلو تمرین مه پرېږدئ بلکه په جنګ کي د فتح څخه وروسته هم ددې تمرین کول جاري وساتئ او په دې باندي په غرور او اطمینان کولو سره مه کښېنئ چي اوس خو روم فتح سوی دی او ددې د تمرین څه ضرورت نه سته ځکه چي د غشي ویشتلو ضرورت همېشه او د هر جنګ په وخت کي په کار راځي .

رسول الله ﷺ د غه لار ښوونه د وړاند وېني په توګه فرمایلې وه ، نو په دې باندي پوره عمل وکړل سو که څه هم د رومیانو سره د جګړې پر وخت ددې ضرورت رامنځته نه سو ځکه چي الله تعالی مسلمانانو ته پر روم باندي په اساني سره فتح ورکړه .

د غشي ویشتلو تمرین په لهو یعني بازۍ سره ځکه تعبیر سوی دی چي د هرشي د مشق او تمرین په اعتبار د بازۍ په درجه کي وي او بلي خوا ددې په ذریعه خلکو ته د غشي ویشتلو ترغیب ورکول مقصد دي چي پر یو شي باندي د بازۍ نوم کښېښودل سي نو هغه ته د انسان زړ مېلان پیدا کیږي .

د غشي ویشتلو ارزښت

﴿۳۶۸۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ مِنَّا أَوْ قَدْ عَصَى . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي چا غشي وېشتل زده کړه او بیا یې پرېښودل نو هغه زموږ څخه نه دئ یا رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي هغه نافرماني وکړه . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱۵۲۳\۳. رقم: ۱۶۹ – ۱۹۱۹.

تشریح: هغه زموږ څخه نه دئ : ددې مطلب دادی چي هغه موږ ته نژدې نه دئ او د یو داسي سړي په ډول دی چي هغه شمېر زموږ په ډله کي نه دی ، ددې څخه معلومه سوه چي یو خو د غشي ویشتل نه زده کول دي او بل دادي چي غشي ویشتل زده کړي او بیا یې هېر کړي نو هېرېدل د نه زده کولو په نسبت کي ډېر خراب کار دی ځکه چي کوم سړی غشي ویشتل زده نه

کړي نو هغه د رسول الله ﷺ په ډله کي داخل نه سو مګر دا خو هغه سړی دی چي د رسول الله ﷺ په ډله کي داخل وو او بيرته ځيني ووتی ګويا هغه په دغه کار کي يو تاوان وليدی يا هغه ته يو خرابي محسوس سوه يا هغه د استهزا ء په توګه داسي وکړل او ظاهره ده چي دا ټول شيان د يو لوی نعمت د ناشکرۍ برابر دي.

نبي كريم ﷺ د غشي ويشتونكو سره

﴿٣٦٨٩﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سلمة بن الاكوع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د اسلم قبيلې ته تشريف يوور

عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَسْلَمَ يَتَنَاضَلُونَ بِالسُّوقِ فَقَالَ ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ فَإِنَّ أَبَاكُمْ

کله چي هغوی په بازار کي د غشو ويشتلو تمرين کوئ، رسول الله ﷺ هغوی مخاطب کړل او ورته وه يې فرمايل: اې د اسماعيل اولاده! غشي ويشتل کوئ ستاسو پلار

كَانَ رَامِيًا وَأَنَا مَعَ بَنِي فُلَانٍ لِأَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ فَأَمْسَكُوا بِأَيْدِيهِمْ فَقَالَ مَا

غشي وېشتونکی وو، او زه د فلانۍ ډلي سره يم (يعني د يو ډلي نوم يې واخيست) بيا دويمي ډلي غشي ويشتل پرېښودل يعني د غشو وېشتلو څخه يې لاس واخيست، رسول الله ﷺ

لَكُمْ قَالُوا وَكَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَ بَنِي فُلَانٍ قَالَ ارْمُوا وَأَنَا مَعَكُمْ كُلِّكُمْ.

رواه البخاري.

پوښتنه وکړه په تاسو څه وسول؟ هغوی عرض وکړ موږ په داسي حالت کي څنګه غشي ويشتل کولای سو هر کله چي تاسو ددغه ډلي سره ياست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو غشي ولئ زه ستاسو ټولو سره يم. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥٣٧\٦، رقم: ٣٥٠٧.

د لغاتو حل: يتناضلون: اى يترامون للسبق.

د ابو طلحه غشي ويشتل

﴿٣٦٩٠﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت ابو طلحه ﷺ په یو سپر سره د رسول الله ﷺ ساتنه کول (یعني غشي ویشتل یې هم کول او د نبي ﷺ خدمت یې هم کوئ)

بِتُرْسٍ وَاحِدٍ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْظُرُ إِلَى مَوْضِعِ نَبْلِهِ. رواه البخاري.

حضرت ابو طلحه مشهور غشي ویشتونکی وو هغه چي به غشي ویشتل نو نبي کریم ﷺ به کتل چي د هغه غشي چیري او پر چا لګیږي. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٩٣، رقم: ٢٩٠٢.

د اسانو فضیلت

﴿٣٦٩١﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ. متفق علیه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د اسانو په تندیو کي برکت دئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٤، رقم: ٢٨٥١، ومسلم ٣\١٤٩٤، رقم: ١٠٠ - ١٨٧٤.

تشریح: د تندي څخه مراد ذات دی، مطلب دا چي الله ﷻ په آسونو کي یو خاص برکت ایښی دی ځکه چي د آسونو په ذریعه جهاد کیږي چي په هغه کي د دنیا او آخرت ښېګڼه ده.

﴿٣٦٩٢﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْوِي نَاصِيَةَ فَرَسٍ بِإِصْبَعِهِ وَهُوَ يَقُولُ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْغَنِيمَةُ. رواه مسلم.

د حضرت جریر بن عبد الله ﷺ څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ ولیدی د یو آس د تندي وربښتان یې په ګوتو سره تاو کولو او فرمایل یې د آسانو په تندیو کي تر قیامت پوري خیر تړلی دئ چي اجر او غنیمت دی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٤٩٣، رقم: ٩٧- ١٨٧٢.

﴿٣٦٩٣﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِيمَانًا بِاللّٰهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله جل جلاله په لار كي آس وساتي، پر الله تعالی پوره ايمان لري او د هغه وعده رېښتونی ګڼي نو د آس خوراک، څښناک، مرداري او بولي ټول به د قيامت په ورځ د هغه د اعمالو په ترازو كي تلل كيږي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٧، رقم: ٢٨٥٣.

تشريح: پر الله جل جلاله باندي د ايمان راوړلو او د هغه د وعدې رېښتيا ګڼلو په وجه: ددې مطلب دادی چي هغه جهاد ته د تللو او د دښمنانو سره د جنګ كولو لپاره كوم آس د ځان سره تړلی وي په هغه كي د هغه نيت محض د الله تعالی رضا او د هغه د حكم فرمانبرداري وي او الله جل جلاله چي د مجاهدينو لپاره د كوم عظيم اجر او ثواب وعده كړې ده د هغه د غوښتني په وجه وي.

د آس د خوراک، څښناک او بولو وغيره څخه مراد هغه شيان دي كوم چي په هغه سره د حيوان نس ډكيږي او مړيږي يعني وابنه، دانه، اوبه داسي نور نو دغه ټول شيان هم د ثواب تر لاسه كولو په اعتبار د هغه سړي په عمل نامه كي ليكل كيږي چي د قيامت په ورځ به دغه ټول شيان د ثواب په شكل كي هغه ته وركول كيږي او د هغه د اعمالو په ترازو كي به تلل كيږي.

ناخوښه اس

﴿٣٦٩٤﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ الشِّكَالَ فِي الْخَيْلِ وَالشِّكَالُ أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى وَرِجْلِهِ الْيُسْرَى. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په آس كي شكال بد ګڼئ او د شكال معنا داده چي د آس په راسته پښه او راسته لاس كي يا په راسته لاس او چپه پښه كي سپين

والي وي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۹۳، رقم: ۹۷- ۱۸۷۲.

تشريح: راوي د شكال آس وضاحت داسي كړې دى چي هغه آس چي پر يوه لاس او بلي خوا پر پښه باندي يې سپين والى وي مگر صاحب قاموس او نورو ټولو اهل لغتو په نزد په آس كي د شكال مطلب دادى چي د هغه آس درې پښي سپيني وي او يوه پښه د نور بدن په رنگ وي يا ددې برعكس وي يعني يوه پښه يې سپينه وي او درې پښې يې د بدن په رنگ وي .

شكل په لغت كي هغه رسۍ ته وايي چي په هغه سره د حيوان پښه تړل كيږي نو دغه ډول آس ته ددې سره تشبيه وركړل سوې ده او رسول الله ﷺ به داسي آس د فال له مخي نه خوښوي چي هغه آس گويا د شكول په صورت دى .

دا هم كيداى سي چي رسول الله ﷺ ته د تجربې څخه دا معلومه سوې وي چي دا ډول آس اصل نه وي ، ځيني حضرات وايي كه د اشكل آس پر تندي باندي دومره سپين والي وي چي د لاس په بټي گوتي سره نه سي پټيدلاى نو د هغه عيب ليري كيږي او بيا هغه ناخوښه نه وي .

د اسانو ځغلولو ذكر

﴿۳۶۹۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دوه اضمار كړل سوي اسان د

بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي اُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ وَاَمَدُهَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ وَبَيْنَهُمَا سِتَّةُ

حفياء نامي ځاى څخه تر ثنية الوداع پوري و ځغلول (د دې دواړو ځايو په منځ كي شپږ ۶ ميله

اَمْيَالٍ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضَمَّرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ اِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ وَبَيْنَهُمَا مِيلٌ . متفق عليه

فاصله وه) او د كومو اسانو چي اضمار نه وو سوى د هغوى ځغلول يې د ثنية الوداع څخه تر مسجد بني زريق پوري و ټاكل (چي دهغو په منځ كي يو ميل فاصله وه). اضمار: دې ته ويل كيږي چي پر چاغ آس باندي دانه كمه سي د نگر سي نو داسي آس بيا په ځغاسته كي چابک وي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۵۱۵، رقم: ۴۲۰، ومسلم ۳\۱۴۹۱، رقم: ۹۵- ۱۸۷۰.

تشريح: د آسونو مقابله : يعني د آسونو ځغاسته چي دوه كسان خپل آسونه ددې لپاره وځغلوي چي د چا آس مخكي كيږي.
اضمار دې ته وايي چي مخكي خو آس ته ښه وابښه او دانه وركوي چي ډېر قوي او چاغ سي او ددې څخه وروسته د هغه وابښه او دانه په تدريج كميږي تر دې چي هغه پر اصل خوراك راولي او بيا هغه په يو ځاى كي په بندولو سره ګردني پر واچول سي چي د هغه په وجه هغه ګرم كيږي او خوله كوي او كله چي خوله وچه سي نو هغه آس سپك سي يعني د هغه غوښه خو سپكه سي مګر په ځغاسته كي قوي سي.
حفياء د يو ځاى نوم دى چي د مديني منورې څخه پر څو ميله فاصله باندي واقع دى ، ثنية الوداع د يوه غره نوم دى، د مديني اوسيدونكو به د خپل مسافرو سره تر دغه غره پوري تلل.

د نبي كريم ﷺ د اوښي بيان

﴿٣٦٩٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ نَاقَةٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُسَمَّى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ اوښه چي د هغې نوم

الْعَضْبَاءَ وَكَانَتْ لَا تُسْبَقُ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ لَهُ فَسَبَقَهَا فَاشْتَدَّ ذَلِكَ

غضباء وه په ځغلولو كي به يې هيڅ اوښه تر ځان وړاندي نه پرېښودل ، يو صحرائي پر خپل ځوان اوښ باندي راغلى او د رسول الله ﷺ د اوښي سره يې خپل اوښ وځغلوئ او ځيني مخته

عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يَرْفَعَ شَيْئًا مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا وَضَعَهُ . رواه البخاري

سو ، مسلمانان په دې خبره ډير پرېشانه سول ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى حق دئ چي د دنيا كوم شى سر لوړى كوي په خپله هغه كښته كوي هم . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٧٣\٦، رقم: ٢٨٧٢.

تشريح: عضباء هغه اوښي ته وايي چي د هغه غوږ پرې سوې يا څيري سوى وي ، د رسول الله ﷺ ددغه اوښي غوږ پرې سوى يا څيري سوى نه وو مګر د هغه نوم عضباء وو ، البته په خلقي توګه د هغه غوږونه كوچني وه ، دا د رسول الله ﷺ هغه اوښه وه كوم چي قصواء هم ورته ويل كيږي مګر دا هم احتمال دى چي دغه اوښه بلي وي او عصواء بله اوښه وي.

قعود هغه ځوان اوښ ته وايي کوم چې نوی په سپرلۍ کې راغلی وي او د سپرلۍ ورسره سوی وي ، د داسي اوښ د دوو کالو څخه تر شپږو کالو پورې عمر دی او کوم اوښ عمر چې د شپږو کالو څخه زيات وي هغه ته جمل وايي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جهاد لپاره دوسلې جوړولو فضيلت

﴿٣٦٩٧﴾: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې

يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ فِي الْجَنَّةِ صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ

الله تعالى د يوه غشي وېشتلو په سبب درې کسان جنت ته داخلوي : يو خو غشی جوړونکی چې د ثواب په نيت يې جوړ کړي ،

فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ وَالرَّامِيَ بِهِ وَمُنَبِّلَهُ فَارْمُوا وَارْكَبُوا وَ أَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ

دويم غشي ويشتونکی او دريم غشي ورکونکي نو تاسو غشي ويشتل کوئ او پر اسانو سپرلي کوي او ستاسو غشي ويشتل زما په نزد تر سپرلۍ کولو زيات خوښ دي

مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا كُلُّ شَيْءٍ يَلْهُو بِهِ الرَّجُلُ بَاطِلٌ إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِهِ وَتَأْدِيبَهُ فرسه

تر سپرتيا ستاسي پر هر شي چې لوبې کوي په هغه سره مسلمان باطل او ناروا دي پرته د هغه څخه چې په ليندۍ سره غشي ويشتل وکړي او اس ته ادب وښيي يا د خپل بي بي سره خوش

وملاعبته امراته فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ . رواه الترمذي وابن ماجة و زَادَ ابُوداؤد

طبعي کوي دا ټول شيان حق دي ، ترمذي او ابن ماجة، او د ابوداؤد او دارمي په روايت کې دا

والدارمي وَ مَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ فَإِنَّهُ نِعْمَةٌ تَرَكَهَا اَوْ قَالَ كَفَرَهَا.

الفاظ زيات دي او کوم سړی چې دغشي ويشتلو څخه وروسته هغه پريږدي او د هغه څخه بې

پروا سي نو هغه يو نعمت پرېښودئ ، يا رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي د نعمت كفران يې وكړ . يعني د نعمت ناشكري يې وكړه .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۴۹، رقم: ۱۶۳۷، وابن ماجه ۲\۹۴۰، رقم: ۲۸۱۱.

تشريح: دغه شيان حق دي : دلته د شيانو په حكم كي هر هغه شی داخل دی كوم چي د حق او نيكۍ په لاره كي مرسته كونكي وي كه هغه د علم د شيانو څخه وي يا د عمل څخه وي كله چي هغه د مقابلې د ډول څخه نه وي لكه پر پښو تلل ، ځغاسته كول ، پر آس سپرېدل او د اوښانو مقابله كول او داسي نور .

د غشي ويشتلو ثواب

﴿۳۶۹۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ نَجِيْحٍ السُّلَمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو نجيح سلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي

يَقُوْلُ مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ لَهُ دَرَجَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ رَمٰى بِسَهْمٍ

چي فرمايل يې : څوک چي د الله جل جلاله په لاركي (كافران په) غشو وولي او هغه ووژني نو د هغه لپاره په جنت كي يوه درجه ده او كوم سړی چي د الله جل جلاله په لاركي غشي وولي

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ لَهُ عِدْلُ مُحَرَّرٍ وَ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَانَتْ لَهُ

(كه څه هم هغه پر كافر وموښلي يا نه وموښلي) نو د هغه لپاره د يوه غلام ازادولو ثواب دئ ، او څوک چي د الله تعالى په لاركي سپين ږيری سي نو د هغه سپين ږيرتوب به د قيامت په ورځ

نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وروى أبو داود الفصل

يو نور وي .. بيهقي په شعب الايمان كي ، ابوداؤد لومړني خبره روايت كړه ، نسائي لومړني او

الأول والنسائي الأول والثاني والترمذي الثاني والثالث وفي روايتهما من شاب شيبة في سبيل الله بدل في الإسلام .

دويمه ، ترمذي دويمه او دريمه او د دواړو په روايت كي د في الاسلام پر ځای من شاب شيبة في سبيل الله ، الفاظ دي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٤\٦٨، رقم: ٤٣٤١. سنن ابي داود ١٤\٢٧٤، رقم: ٣٩٦٥.

تشريح: څوک چي د اسلام په حالت كي سپين ږيرى سي ....: ددې څخه معلومه سوه چي د يو سړي د ايمان په حالت كي سپين ږيرى كېدل يا پر هغه باندي د سپين ږېرتوب علامې ظاهرېدل د هغه د آخرت د سعادت نښه ده ځكه چي د ژوند پر آخرو مرحلو باندي د اسلام او ايمان په حالت كي قائم پاته كېدل د الله ﷻ يو ډېر لوى فضل دى.

د يو لوى بزرگ ابويزيد رحمه الله په باره كي نقل سوي دي چي هغه يوه ورځ په هنداره كي خپل مخ وكتى او د سپين ږيرتوب علامې يې وليدلې نو بې اختياره د هغه د خولې څخه دا راوتل چي (ظهر الشيب ولم يظهر العيب وما ادري ما في الغيب) يعني د الله ﷻ شكر دى چي پر ما باندي سپين ږيرتوب ظاهر سوى دى او زما يو عيب ظاهر نه سو او په غيبو كي څه شي دى ما ته هغه معلوم نه دى.

د كتاب په عبارت كي د (في روايتهما) ضمير په ظاهر نسائي او ترمذي ته گرځول پكار دي ځكه چي په مخكني عبارت كي دغه دواړه نژدې نژدې ذكر سوي دي مگر په حقيقت كي نسائي او ترمذي ته ضمېر راجع كول په دې وجه صحيح نه دي چي نسائي دريم جز نقل كړى نه دى نو ضمير بيهقي او ترمذي ته راجع كيږي او د في روايتهما به دا معنى وي چي د بيهقي او ترمذي په روايت ...الخ، په دغه صورت كي يو اشكال دا پيدا كيداى سي چي كله په اصل روايت كي چي بيهقي نقل كړى دى د في الاسلام لفظ ذكر سوى دى نو بيا دا ويل به څنگه صحيح وي چي د بيهقي او ترمذي په روايت كي د في الاسلام پر ځاى د في سبيل الله الفاظ دي؟

ددې جواب دادى چي (في روايتهما) په اصل كي د مفهوم په اعتبار داسي دي چي (وفي رواية للبيهقي و رواية الترمذي) يعني د بيهقي په يو بل روايت كي او د ترمذي په روايت كي (د في الاسلام پر ځاى في سبيل الله دي) په داسي كولو سره خبره روښانه كيږي چي د بيهقي په يوه روايت كي كوم چي دلته په متن كي نقل سوى دى في الاسلام دى او په يو بل روايت كي د في الاسلام پر ځاى د في سبيل الله الفاظ دي.

د جهاد په شيانو كي د شرط مال اخيستل جائز دي

﴿٣٦٩٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا سَبَقَ إِلَّا فِي نَصْلٍ أَوْ خُفٍّ أَوْ حَافِرٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په ځغاسته يا مسابقه کي مال اخيستل جائز نه دي مگر په غشي ويشتلو، اوښ او آس ځغلولو کي مال اخيستل جائز دي. ترمذي، ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۷۸، رقم: ۱۷۰۰، وابوداود ۳\۶۳، رقم: ۲۵۶۴، والنسائي ۶\۲۲۶، رقم: ۳۵۸۷.

تشريح: سبق: د شرط روپو ته وايي يعني هغه مال کوم چي گټونکي ته ورکول کيږي، ددغه حديث څخه په ظاهره دا واضحه کيږي چي ددغه درو شيانو څخه ماسوا په بل شي کي مسابقت يعني د گټلو بازي کول او د هغه مال اخيستل جائز نه دي مگر فقهاؤ ددغه درو شيانو په حکم کي هغه شيان هم شامل کړي دي کوم چي د جهاد سامان او ذريعه وي لکه خر او غاتره هم د آس په حکم کي دي او فيل د اوښ په حکم کي دی، ځيني حضرات پر پښو ځغاسته او ځيني حضراتو د ډبرو د ويشتلو مسابقه هم په دغه جواز کي داخل کړې ده ځکه چي دغه شيان هم د غشي په مفهوم کي داخل دي کوم چي د جهاد په ذرائعو کي دي، د دغه شيانو په مسابقه کي شرط لگول او د شرط روپۍ اخيستل په اصل کي د جهاد د ترغيب ورکولو لپاره دي او ددې جواز حکم ددې لپاره بيان سوی دی، کوم شيان د جهاد د اسبابو څخه نه وي نو په هغو کي د مسابقې کول او شرط لگول د يو صالح مقصد لپاره نه وي ځکه نو په هغه شيانو کي مسابقه کول جائز نه دي او د هغه د شرط مال اخيستل هم جائز نه دي.

د مقابلې کولو مسئله

څرگنده دي وي چي د يو شي مسابقه کول او په هغه کي د روپو شرط لگول په اصل کي د خمار په مفهوم کي دی ځکه چي په دغه صورت کي ملکيت هم مشتبه وي او د تاوان او گټې په مينځ کي هم شک وي او د خمار دا معنی ده مگر که چيري په مسابقه او مقابله کي د امير، حاکم يا بل دريم سړي له خوا د روپو شرط وتړل سي مثلا هغه امير، حاکم يا بل دريم سړی دا ووايي چي په دغه دواړو کي کوم سړی مخکي سي يا کوم سړی مقابله وگټي نو زه به هغه ته دومره روپۍ يا فلانی شی ورکړم نو دا به جائز وي، همدارنگه د دواړو له خوا يوازي د يوه نفر له طرفه د روپو شرط وتړل سي مثلا په هغوی کي يو سړی داسي ووايي که ته تر ما مخکي سوې يا زما څخه مقابله دي وگټل نو زه به تا ته دومره روپۍ يا فلانی شی درکوم او که زه در څخه مخکي سوم يا ما در څخه وگټل نو ته به ما ته هيڅ نه راکوې نو ددې په جواز کي هم شبه نه سته، په هغه صورت کي شرط ناجائز دی کله چي د دواړو له خوا شرط ولگول سي لکه چي داسي وويل سي

که زه در څخه مخکې سوم نو ته به دومره روپۍ یا فلانی شی راکوې او که ته را څخه مخکې سوې نو زه به دومره روپۍ یا فلانی شی درکوم ځکه چې په حقیقت کې دا خمار دی مګر دا یوازې په هغه صورت کې جائز کېدای سي کله چې د دواړو په مینځ کې محلل شامل سي لکه څرنګه چې په راتلونکې حدیث کې بیانیږي.

د اسانو مسابقه

﴿۳۷۰۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د اسانو په

بَيْنَ فَرَسَيْنِ فَإِنْ كَانَ يُؤْمِنُ أَنْ يُّسْبَقَ فَلاَ خَيْرَ فِيْهِ وَإِنْ كَانَ لاَ يُؤْمِنُ أَنْ

مسابقه کې خپل دریم آس ګډ کړي (په دې شرط که زما آس وړاندې سو نو زه به ددې دواړو څخه بازي یوسم او که وړاندې نه سو نو زه به هیڅ نه ورکوم) که هغه ته ددې یقین وي چې هغه به خامخا وړاندې سي نو په دې شرط کې خیر نسته او که د هغه یقین نه وي چې

يُّسْبَقَ فَلاَ بَأْسَ بِهِ . رواه في شرح السنة وفي رواية أبي داود قَالَ مَنْ أَدْخَلَ

هغه به خامخا مخته سي نو په دې کې څه پروا نسته، شرح السنة او د ابوداؤد په روایت کې دا

فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ يَعْنِيْ وَهُوَ لاَ يَأْمَنُ أَنْ يُّسْبَقَ فَلَيْسَ بِقِمَارٍ وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ وَقَدْ أَمِنَ أَنْ يُّسْبَقَ فَهُوَ قِمَارٌ .

الفاظ نسته چې څوک د دوو آسانو په منځ کې خپل دریم اس ګډ کړي او هغه ته ددې خبرې پوره یقین نه وي چې هغه به خامخا وړاندې سي نو دا شرط خماري نه دی او که هغه ته ددې یقین وي چې هغه به خامخا وړاندې سي نو دا شرط خمار دئ.

تخریج شرح السنة ۱۰\۳۹۵، رقم: ۲۶۵۴،

تشریح کوم څوک چې د دوو آسونو په مینځ کې خپل آس ګډ کړي: دا د تحلیل صورت دی چې په مسابقه کې شرط لګول جائز کوي، او داسي سړي ته (چې د دوو آسونو په مینځ کې خپل آس ګډ کړي) محلل وایي، ددغه صورت وضاحت دادی چې د مثال په توګه دوه کسان یعني زید او بکر د مقابلې لپاره خپل خپل آسونه ځغلوي او دواړه د ګټلو او بایللو شرط ولګوي چې د

كوم يوه آس مخكي سي هغه به د بايلونكي د آس د مالک څخه دومره روپۍ يا فلانى شى اخلي او همدارنګه هغوى د خمار معامله وکړي اوس يو بل دريم سړى يعني خالد راسي او د دواړو په مسابقه کي خپل آس هم په دې شرط سره ګډ کړي که دغه دريم آس د هغه دواړو آسو څخه مخکي سو نو زه به ستاسو دواړو څخه دومره روپۍ يا فلانى شى اخلم او که تر شا سوم نو زه به هيڅ نه درکوم.

دا صورت د تحليل دى او هغه دريم سړى يعني خالد محلل (يعني حلال کونکى) دى، داسي سړي ته محلل ځکه وايي چي د هغه په وجه هغه معامله حلاله او جائز سوه کوم چي مخکي د دواړو له خوا د شرط لګولو په وجه حرامه معامله يعني خمار وو، په ذکر سوي صورت کي که د محلل آس مخکي سي نو هغه به د دواړو څخه ټاکل سوي روپۍ يا ټاکل سوى شى اخلي او که د هغو دواړو آسونو د هغه د آس څخه مخکي سي نو هغه ته به هغوى هيڅ هم نه ورکوي البته که چيري د هغه دواړو آسونو څخه د يوه آس څخه مخکي سي نو د دوهم څخه به ټاکل سوې روپۍ يا ټاکل سوى شى اخيستل جائز وي.

علماؤ ليکلي دي او څرنګه چي ددغه حديث څخه هم معلوميږي چي د تحليل په صورت کي بايد محلل په دغه مقابله کي هغه آس شامل کړي کوم چي په ځغاسته کي د هغه دواړو برابر يا تقريبا برابر وي که د محلل آس د هغه دواړو آسانو څخه مخکي او تېز وي او محلل پوهيږي چي د هغه دواړو آسونه زما د آس څخه مخکي کيداى نه سي نو نه يوازي دا چي دا جائز نه دي بلکه د هغه خپل آس په مقابله کي شاملول او نه شاملول به برابر وي يعني دا صورت به د تحليل نه وي مګر که چيري هغه په دې نه پوهيږي چي زما آس به د هغه دواړو آسونو څخه مخکي وي او په دې هم نه پوهيږي چي زما آس به د هغه دواړو آسونو څخه تر شا پاته سي نو دا جائز دى او دا صورت د تحليل منل کيږي، خلاصه دا که چيري د محلل آس داسي وي چي د هغه د ګټلو احتمال هم وي او د بايللو احتمال هم وي نو دا به جائز وي او کنه نو جائز به نه وي.

د اسانو په ځغلولو کي د جلب او جنب منع

﴿۳۷۰۱﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ جَلَبَ وَلاَ جَنَبَ زَادَ يَحْيٰى فِيْ حَدِيْثِهِ فِي الرِّهَانِ. رواه أبو داود والنسائي ورواه الترمذي مع زيادة في باب الغضب.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (د اسانو په مسابقه كي) جلب او جنب جائز نه دئ ، جلب دادئ چي د اسانو په مسابقه كي يو سړی په آس پسې سي چي هغه وړاندي كړي ، او جنب دا چي يو بل آس د خپل اس سره پر څنګ كړي چي د سپرليۍ اس ستړی سي نو بيا پر هغه بل سپور سي . ابوداؤد ، نسائي او ترمذي .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٦٧، رقم: ٢٥٨١، والنسائي ٦\٢٢٨، رقم: ٣٥٩١.

د لغاتو حل: لاجنب: اى لا صياح على الخيل والجنب: ان يجنب الى جنب مركوبه فرسا اخر.

تشريح: جلب او جنب: جلب دادی چي زکوة اخيستونکی د زکوة ورکونکي د ځای څخه ليري يو ځای تم سي او هغه ته دا حكم وركړي چي هغه د خپل زكوة مال دلته راوړي ، او جنب دادی چي زكوة وركونكي د خپل زكوة مال د خپل ځای څخه ليري وركړي او زكوة اخيستونكی په تكليف كي اخته كړي چي هغه ته په رسيدو سره زكوة تر لاسه كړي نو دا دواړه صورتونه منع او مكروه دي.

په مسابقه كي جلب دادی چي په مقابله كي ګډون كونكی يو څوک دوهم سړی ددې لپاره په خپل آس پسي ولګوي چي هغه آس وهي تر څو مخكي سي ، او جنب دادی چي د خپل آس پر بغل يو بل آس وساتي چي كله د سپرلۍ آس ستړی سي نو پر هغه آس به سپور سي دغه دواړه هم منع دي .

د ښه آس نښي

﴿٣٧٠٢﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ الْخَيْلِ الْأَدْهَمُ الْأَقْرَحُ الْأَرْثَمُ ثُمَّ الْأَقْرَحُ الْمُحَجَّلُ طَلْقُ الْيَمِينِ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ أَدْهَمَ فَكُمَيْتٌ عَلَى هٰذِهِ الشِّيَةِ . رواه الترمذي والدارمي

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره آس تور آس دئ چي د هغه په تندي كي لږ سپين والی وي او د پزي خوا ته يې سپين والی وي ؟ بيا هغه آس غوره دئ چي د هغه پر تندي لږ سپين والی وي او كه لاس او پښې يې سپيني وي مګر راسته لاس يې سپين نه وي نو بيا ددې ډول كميت ښه دئ . ترمذي او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ٤\١٧٦، رقم: ١٦٩٦، والدارمي ٢\٢٧٨، رقم: ٢٤٢٨.

د لغاتو حل الادهم: اي الذي يشتد سواده (تک تور). الاقرح: اي الذي يوجد في وجهه بياض يسير ولو قدر درهم (چي په تندي کي يې لږ سپين والى وي). الارثم: وهو ابيض الشفة العليا، وقيل الابيض الانف. (هغه چي لوړه شونډه يې سپينه وي يا پزه يې سپينه وي). المحجل: هو بياض في قوائم الفرس (هغه چي پښې يې سپيني وي.)

تشريح کميت هغه آس ته وايي چي د هغه لکۍ او د څټ ويښتان تور وي او نور بدن يې سُور وي، ددې مطلب دادی چي کومي نښي په تور آس کي بيان سوي دي يعني پر تندي باندي سپين والى او داسي نور او هغه په کميت کي هم وي نو دغه آس يو غوره آس دی.

﴿۳۷۰۳﴾: وَعَنْ أَبِي وَهْبِ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِكُلِّ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابو وهب جشمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر تاسو لازم ده (يعني که آس ساتئ نو) کُميت آس ساتئ چي د هغه تندی او لاسونه او پښي سپين وي يا تور او سپين تندي او سپين لاس او پښې والا وي. (کميت او اشقر يو ډول وي يوازي دومره فرق دئ چي د کميت لکۍ او د غاړه وربښتان تور وي او د اشقر سره وي). ابوداؤد او نسائي

تخريج سنن ابي داود ۳\۴۷، رقم: ۲۵۴۳، والنسائي ۶\۲۱۸، رقم: ۳۵۶۵.

تشريح اشقر: سور رنګ آس ته وايي، په کميت او اشقر کي فرق دادی چي د کميت لکۍ او د څټ ويښتان تور وي او د اشقر سره وي.

﴿۳۷۰۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُمْنُ الْخَيْلِ فِي الشُّقْرِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د اسانو برکت په سره رنګ اسونو کي دئ. ترمذي او ابوداؤد

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۷۶، رقم: ۱۶۹۵، وابوداود ۳\۴۸، رقم: ۲۵۴۵.

د اسانو د تندي وېښتان او لکۍ مه پرېکوئ

﴿۳۷۰۵﴾: وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عتبة بن عبد السلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي

وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَقُصُّوا نَوَاصِيَ الْخَيْلِ وَلَا مَعَارِفَهَا وَلَا أَذْنَابَهَا فَإِنَّ أَذْنَابَهَا مَذَابُّهَا وَمَعَارِفَهَا دِفَاؤُهَا وَنَوَاصِيَهَا مَعْقُودٌ فِيهَا الْخَيْرُ . رواه ابوداؤد.

دي چي ويل يې د آسانو د تندي وربېښتان، د څټ وربېښتان او د لکۍ وربېښتان مه پرېکوئ ځکه چي د هغوی لکۍ د هغوی مګس پران دئ چي په هغه سره مچان په هوا کوي ، او د غاړي وربېښتان د هغوی د ګرم ساتلو لپاره دي او د تندي د وربېښتانو سره خير تړلی دئ . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۴۷، رقم: ۲۵۴۲.

د لغاتو حل: معارفها: ای شعور عنقها.

د اسانو په اړه يو څو لارښووني

﴿۳۷۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا أَوْ قَالَ أَكْفَالِهَا وَقَلِّدُوهَا وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابو وهب جشمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اسونه تړلي ساتئ د هغوی په تنديو او په کناټيو لاس تيروی ، يا يې وفرمايل چي پر ملاوو لاس راتيروئ او د هغوی په غاړه کي غاړکۍ اچوی او د ليندۍ جی مه وراچوئ . ابوداؤد او نسائي.

تخريج سنن ابي داود ۳\۵۳، رقم: ۲۵۵۳، والنسائي ۶\۲۱۸، رقم: ۳۵۶۵.

تشريح تړلي ساتئ: دا د جهاد لپاره د آسانو د چاغولو او چالاک ساتلو څخه کنايه ده يعني ددې په ذريعه دا حکم سوی دی چي د آسانو په ښه ډول روزنه کوئ او هغوی ته ښه خوراک او څښاک ورکوي چي هغوی غټ او تازه وي او په جهاد کي په ډول کار وکړي .

د لاسو گرځولو مطلب دادی چي هغوی د گرد او غبار څخه پاک وساتل سي او د هغوی غتهدل معلوم سي او ددې په ذریعه آسونو ته راحت تر لاسه کیږي.
د جاهلیت په زمانه کي د عربو دا معمول وو چي هغوی به د خپلو آسونو په غاړو کي د لیندی جی تړی د هغوی عقیده وه چي ددې په وجه اس د بد نظر څخه خوندي وي رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمایل چي دا سي کول تقدیر نه سي بدلولای یا ددې څخه یې منع وفرمایل چي د جي په تړلو سره د هغوی غاړه خفه نه سي.

د رسول الله ﷺ اهل بیت ته دړې خاص احکام

﴿۳۷۰۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یو مامور انسان وو (یعني د الله د

مَأْمُورًا مَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ إِلَّا بِثَلَاثٍ أَمَرَنَا أَنْ نُسْبِغَ الْوُضُوءَ وَأَنْ لَا نَأْكُلَ الصَّدَقَةَ وَأَنْ لَا نُنْزِيَ حِمَارًا عَلَى فَرَسٍ. رواه الترمذي والنسائي

لوري) موږ ته د نورو خلکو څخه پرته د هیڅ خبري په خاصه توگه سره حکم نه دی راکړل سوی خو د درو خبرو: یو دا چي موږ اودس پوره کړو. دویم دا چي موږ صدقه او خیرات نه خورو، دریم دا چي موږ پر آسپه خر نه خیژو. ترمذي او نسائي

تخریج سنن الترمذي ۴\ ۱۷۸، رقم: ۱۷۰۱، والنسائي ۶\ ۲۲۴، رقم: ۳۵۸۱.

تشریح رسول الله ﷺ یو مامور انسان وو: ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ ته به د الله جل جلاله له خوا د کومي خبري حکم کیدی هغه به یې کوی او د خپل ځان څخه به یې یو قانون نه جوړوی او نه به یې د خپل خواهش سره سم حکم کوی، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ د هیڅ ډلي یا یو سړي یا کورنۍ لپاره جلا د یو شي د حکم په ورکولو سره هغه ته به یې پر نورو خلکو ترجیح نه ورکول تر دې چي اهل بیت اخص او اقرب وه د هغوی لپاره هم په احکامو کي امتیاز او خصوصیت روا نه وو لکه څرنگه چي حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ وضاحت کړی دی چي رسول الله ﷺ موږ اهل بیتو ته هم د یو شي په خاصه توگه حکم نه دی راکړی مگر دړې شیان داسي دي چي د هغه په باره کي اهل بیتو ته په خاصه توگه حکم ورکړل سوی دی.
پر اسونو باندي د غاترو د پیدا کولو لپاره د خرونو خیژولو څخه یې ځکه منع وفرمایل چي اول په دې سره د نسل قطع کول لازمیږي دوهم دا چي د یو بنه شي په بدله کي یو معمولي شی

غوښتل دي ځکه چي د آس په مقابله کي غاتره يو ادنا حيوان دی چي نه د آس په ډول په کار راځي او نه په جهاد وغيره کي نو داسي کول مکروه دي.

دلته يو سوال پيدا کيږي چي د صدقې د مال خوړلو مسئله بالکل واضحه ده چي ددې څخه اهل بيت منع سوي دي او پاته امت په دغه حکم کي داخل نه دی مگر پاته دوه حکمونه (يعني اودس پوره کول او پر اسپو باندي خرونه نه خېژوي) داسي شيان دي چي په هغه کي پوره امت داخل دی چي ټولو مسلمانانو ته دا حکم ورکړل سوی دی چي اودس پوره کوي يعني په ښه ډول اودس کوي او پر خپلو اسپو باندي خرونه نه خيژي، نو بيا ددغه دواړو شيانو پر اهل بيتو باندي لازمول څه معنی لري ؟ ددې جواب دادی چي ددې څخه مراد دغه دوه شيان پر اهل بيتو باندي واجب کول او لازم کول دي يا دا چي دغه احکام د اهل بيتو په حق کي په زيات اهميت او تاکيد سره جاري کول مقصد دي.

دغه حديث د خپل مفهوم په اعتبار د شيعه گانو ددغه نظريې څرگند ترديد کوي چي رسول الله ﷺ خپل اهل بيت په داسي خاصو علومو سره نازولي دي چي په هغه کي د نور امت هيڅ برخه نه وه ، همدارنگه هغه حديث هم د شيعه گانو د هغه نظريې په ترديد کي يو ټينگ دليل دی کوم چي مخکي تېر سوی دی او په هغه کي د حضرت علي ﷺ په باره کي نقل سوي دي چي : هل عندکم شئ ليس في القرآن فقال والذي فلق الحبة وبرا النسمة ما عندنا الا ما في القرآن الا فهما يعطي الرجل في کتابه وما في الصحيفة ...الحديث.

ژباړه :(کله چي د حضرت علي ﷺ څخه دا پوښتنه وسوه چي) ستاسو سره يو داسي علم سته کوم چي په قران کريم کي موجود نه وي نو هغه وفرمايل په هغه ذات دي مي قسم وي چي دانه يې را وخيژول او ځان يې پيدا کړ په قرآن کريم کي چي کوم علوم دي د هغه څخه ماسوا زموږ سره نور هيڅ هم نه سته مگر ما ته ښشکه د کتاب الله هغه فهم حاصل سوی دی کوم چي يو انسان ته ورکول کيږي او زما سره څه داسي شيان (مسائل) دي کوم چي په دغه صحيفه کي ليکلي دي ... الخ.

پر اسپي د خره پر ښودو منع

﴿۳۷۰۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةٌ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته يوه غاتره په تحفه کي ورکړل سوه ،

فَرَكِبَهَا فَقَالَ عَلِيٌّ لَوْ حَمَلْنَا الْحَمِيرَ عَلَى الْخَيْلِ فَكَانَتْ لَنَا مِثْلُ هٰذِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّمَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ. رواه ابوداؤد والنسائي

رسول الله ﷺ پر هغې سپور سو ، حضرت علي ؓ عرض وکړ که موږ خرونه پر آسپو پرېږدو نو موږ ته به دې غاترو په ډول بچي راوړي، (د دې په اوریدو سره) رسول الله ﷺ وفرمایل : داسې هغه سړي کوي چې خبر نه وي (یعني د شریعت د احکامو څخه خبر نه وي) . ابوداؤد او نسائي

تخریج سنن ابي داود ۳\ ۵۸، رقم: ۲۵۶۵، والنسائي ٦\ ۲۲۴، رقم: ۳۵۸۰.

تشریح د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چې داسې د ناپوهۍ کار هغه خلک کولای سي کوم چې په دې نه پوهیږي چې پر دغه آسونو باندي د خرو خیژولو څخه پر اسپي باندي آس خیژول غوره دي ځکه چې کومي ګتې د آسپي څخه د هغه د نسل پیدا کېدو په صورت کي تر لاسه کیږي هغه د غاتري په پیدا کېدو سره نه تر لاسه کیږي، یا دا مراد دی چې دغه کار هغه ناپوهان کولای سي کوم چې د شریعت د احکامو څخه ناخبر وي او هغه ته هغه لار نه معلومیږي کوم چې د هغه په باره کي غوره وي .

توري په سپینو زرو ښائسته کول جائز دي

﴿۳۷۰۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ د توري د قبضې خولۍ د سپین زرو وه. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او دارمي

تخریج سنن الترمذي ۴\ ۱۷۳، رقم: ۱۶۹۱، وابوداود ۳\ ٦۸، رقم: ۲۵۸۳، والنسائي ۸\ ۲۱۹، رقم: ۵۳۷۴، والدارمي ۲\ ۲۹۲، رقم: ۲۴۵۷.

د لغاتو حل تبیعة سیف: ای قبضته. (لاستی یې)

تشریح په شرح السنه کي لیکلي دي چې دغه حدیث پر دې دلالت کوي چې توري په سپینو زرو سره لږ ښائسته کول جائز دي، دا حکم د بیهقي هم دی البته په هغه کي په هیڅ یو صورت کي د سرو زرو د استعمال اجازه نه سته .

﴿٣٧١٠﴾: وَعَنْ هُودِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ جَدِّهِ مَزِيدَةَ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

حضرت هود بن عبد الله بن سعد رحمه الله د خپل نیکه مزیدة رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ په مکه کي داخل سو او د رسول الله ﷺ پر توره (یعني د توري پر قبضه) سره او سپین (زر) وه، (یا د سرو او سپینو زرو لاري پر وې) ترمذي دا روایت کړی دئ او ویلي یې دي چي دا حدیث غریب دئ.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۱۷۳، رقم: ۱۶۹۰.

تشریح: د دغه حدیث په وجه په وسله کي د سرو زرو استعمال جائز نه سي ګرځول کیدای ځکه چي د دغه حدیث سند محکم نه دی.

په جنګ کي د ساتني لپاره زیات شیان استعمالول د توکل خلاف نه دي

﴿٣٧١١﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ أَخَذَ دِرْعَانِ قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت سائب بن یزید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د اُحد په غزا کي رسول الله ﷺ دوې زغري اغوستي وې، (یعني پر یوې زغري یې بله زغره اغوستې وه)، ابوداؤد او ابن ماجه

تخریج: سنن ابي داود ۳\۷۱، رقم: ۲۵۹۰، وابن ماجه ۲\۹۳۸، رقم: ۲۸۰۶.

تشریح په دغه حدیث شریف کي دې ته اشاره ده چي د جنګ لپاره ضروري زیات سامان برابرول او د جنګ په میدان کي د خپل ساتني لپاره تر خپله وسه زیات شیان اختیارول جائز دي او دا د توکل خلاف نه دي.

د رسول الله ﷺ بیرغ

﴿٣٧١٢﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ رَايَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْدَاءَ وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ . رواه الترمذي و ابن ماجة.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ لوی بیرغ تور وو او کوچنی بیرغ یې سپین وو . ترمذي، او ابن ماجه

تخریج سنن الترمذي ۴\۱۶۹، رقم: ۱۶۸۱، وابن ماجه ۲\۹۴۱، رقم: ۲۸۱۸.

﴿۳۷۱۳﴾: وَعَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ مَوْلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْقَاسِمِ قَالَ بَعَثَنِي مُحَمَّدُ

حضرت موسی بن عبیده د محمد بن قاسم آزاد کړی وایي زه محمد بن قاسم حضرت براء بن

بْنُ الْقَاسِمِ إِلَى الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَسْأَلُهُ عَنْ رَايَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عازب ته د دې پوښتني کولو لپاره ولیږلم چي د رسول الله ﷺ د بیرغ څه رنګ وو ؟ هغه وویل :

فَقَالَ كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد .

تور رنګ یې وو او د هغه ټوکر مربع (یعني څلور کونجه) برګه (یعني توره او سپینه) وه . احمد .. ترمذي او ابوداؤد

تخریج مسند الامام احمد ۴\۲۹۷، رقم: ۱۶۸۰، وابوداود ۳\۷۱، رقم: ۲۵۹۱.

د لغاتو حل نمرة: بردة من صوف یلبسها الاعراب فیها تخطیط من سواد و بیاض.

تشریح د بیرغ ټوکر برګ بیان سوی دی، او بیرغ تور وو ددې څخه مراد دادی چي د هغه اکثره برخه توره وه چي د هغه په وجه هغه د لیري څخه توره معلومیده نه دا چي یوازي تور رنګ وو. نمره هغه کمبل یا څادر ته ویل کیږي چي په هغه کي توري او سپیني لیکي او خطونه وي، نمره په لغت کي شرموښ ته وایي ځکه داسي ټوکر ته د شرموښ سره تشبیه ورکړل سوې ده چي د هغه پر پوست باندي توري او سپیني لیکي وي .

﴿۳۷۱۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ وَ لِوَاءُهُ اَبْيَضُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ مکې ته تشریف راوړ او د بیرغ رنګ یې سپین وو . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه

تخریج سنن الترمذي ۴\۱۶۸، رقم: ۱۶۷۹، وابوداود ۳\۷۲، رقم: ۲۵۹۲، وابن ماجه ۲\۹۴۱. رقم ۲۸۱۷

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول الله ﷺ په نظر د اسانو قدر

﴿٣٧١٥﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ النِّسَاءِ مِنَ الْخَيْلِ. رواه النسائي

د انس ؓ څخه روايت دئ چي د ښځو څخه وروسته رسول الله ﷺ اسونه ډير خوښول. نسائي

تخريج: سنن النسائي ٦\٢١٧، رقم: ٣٥٦٤.

په جنګ کي حقيقي طاقت د الله ﷻ په مرسته سره تر لاسه کيږي

﴿٣٧١٦﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَتْ بِيَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْسٌ

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کي عربي ليندۍ وه،

عَرَبِيَّةٌ فَرَأَى رَجُلًا بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ قَالَ مَا هَذِهِ أَلْقِهَا وَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ

رسول الله ﷺ د يوه سړي په لاس کي ايراني ليندۍ وليده نو پوښتنه يې وکړه چي دا څه ده؟ دا

وَأَشْبَاهِهَا وَرِمَاحِ الْقَنَا فَإِنَّهَا يؤيد اللّٰهُ لَكُمْ بِهَا فِي الدِّينِ وَيُمَكِّنُ لَكُمْ فِي الْبِلَادِ. رواه ابن ماجة

وغورځوه تا ته دا ډول (عربي) ليندۍ ساتل پکار ده او تيرې تيرې چي د هغه په وجه الله ﷻ په دين کي ستاسو مرسته وکړي او تاسو ته په ښارونو کي ځای درکړي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ٢\٩٣٩، رقم: ٢٨١٠.

تشريح کيدای سي چي هغه صحابي دا ليدلي وي چي فارسي ليندۍ زياته تينګه او سخته وي نو هغه دغه ليندۍ ته پر عربي ليندۍ ترجيح ورکړل او بيا هغه دا ګمان کړی وي چي داسي ليندۍ په جنګ کي ډېره کارکونکې وي او د دښمنانو د ښارونو د فتح کولو تينګه ذريعه ده نو رسول الله ﷺ هغه ته واضحه کړل چي ستا کوم خيال دی هغه صحيح نه دی بلکه د جنګ سامان که هر ډول وي او په لېدلو کي هر څومره ټينګ او ښه وي په حقيقت کي د جنګ په ميدان کي د

کامیابی انحصار پر دې نه دی بلکه د اد الله ﷻ فضل او کرم او د هغه پر مرضی موقوف دی چې هغه چا ته غواړي د خپل دین د لوړتیا په کوښښ کې د مرستې په کولو سره هغه کامیاب کړي ، حقیقي مرسته او نصرت د هغه له خوا او د هغه په قوت او قدرت سره دی نه دا چې ستاسو په قوت او طاقت سره او نه محض ستاسو د سامان او جنګي سامان د ټینګوالي او ښه والي په وجه د دښمنانو په مقابله کې مرسته تر لاسه کیږي .

=========

بَابُ اٰدَابِ السَّفَرِ

(د سفر د ادبونو بیان)

په دغه باب کې هغه حدیثونه نقل کیږي چې د هغو څخه د سفر ادبونه او طریقې معلومیږي، سفر که د جهاد لپاره وي یا د حج او یا بل څه لپاره وي .

څرګنده دې وي چې د سفر ادبونه ډېر دي ځینې خو داسې دي چې د هغو تعلق د سفر د شروع څخه د مخکې سره وي او ځینې ادبونه داسې دي چې دهغو لحاظ د سفر په دوران کې ساتل پکار دي او ځینې ادبونه داسې دي چې د سفر څخه پر ستنېدو باندې دهغو خیال ساتل پکار دي ، په دې باره کې څه تفصیل به په دغه باب په نقل سوو حدیثو کې او د هغو په تشریح کې معلوم سي مګر د دې تر ټولو ښه تفصیل په حیاء العلوم کې ذکر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جهاد لپاره د پنجشنبې په ورځ وتل

﴿۳۷۱۷﴾: عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ. رواه البخاري.

د کعب بن مالک ﷜ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د پنجشنبې په ورځ د تبوک د غزا څخه تشریف یووړ، او رسول الله ﷺ به خوښول چې د پنجشنبې په ورځ په سفر روان سي . بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١١٣، رقم: ٢٩٥٠.

تشريح تبوک د یو ځای نوم دی چې د مدینې منورې او د مشق پر لاره باندې د خیبر او العلاء

پر کربنه واقع دی ، دا مخکي د شام سیمه وه او اوس د حجاز په حدودو کي دی ، د تبوک فاصله د مدینې منورې څخه ۴۶۵ میله ده ، او هغه وخت دغه ځای د مدینې منورې څخه د یوې میاشتي د مسافت په اندازه وو ، رسول الله ﷺ په نهم هجري کال کي دغه ځای د فوج سره تشریف راوړی وو او دې ته د تبوک غزا ویل کیږي او دا د رسول الله ﷺ آخري غزا وه .

ابوداؤد چي د حضرت کعب ﷛ کوم روایت نقل کړی دی په هغه کي داسي دي چي رسول الله ﷺ به د جهاد لپاره د سفر شروع د پنجشنبې د ورځي څخه نه کول .

رسول الله ﷺ به د جهاد په سفر کي د پنجشنبې په ورځ روانېدل خوښول : په دې کي څو احتماله دي یو خو دا چي د بندګانو نېک اعمال د پنجشنبې په ورځ الله تعالی ته پورته کیږي ځکه رسول الله ﷺ دا غوښتل چي د جهاد عمل په دغه ورځ الله ﷻ ته پورته کړل سي چي هغه افضل د عملو څخه دی او دوهم دا چي خمیس لښکر ته هم ویل کیږي او د پنجشنبې ورځي ته یوم الخمیس ویل کیږي نو رسول الله ﷺ به د پنجشنبې په ورځ د جهاد د سفر په شروع کولو سره دا نیک فال اخیستی چي د کوم لښکر مقابلې ته ځي پر هغه به فتح تر لاسه کوي .

په هر حال په دې باره کي د سنتو مطابق چي کوم شی دی هغه دادی چي د جهاد لپاره اختیار کړل سي نو د پنجشنبې په ورځ دي روان سي مګر اصل دار او مدار پر استخاره، تفویض او توکل باندي دی .

ځرګنده دي وي چي د سلفو (صحابه کرامو) څخه دا بالکل منقول نه دي چي هغوی د سفر د شروع کولو په باره کي د علم نجوم اتباع کړې ده او د سفر د روانېدو لپاره دي هغه وخت اختیار کړي کوم چي د حوتش حساب یې ظاهروي ، د حضرت علي ﷛ په باره کي نقل سوي دي چي یوه ورځ د هغه سره ناست یو سړي ته یو چا وویل چي ته سفر ته په فلانۍ ورځ ځه او په فلانۍ ورځ مه ځه . ددې په اورېدو سره حضرت علي ﷛ هغه سړي ته وفرمایل که دا وخت زما په لاس کي توره وای نو ما به ستا غاړه پرې کړې وای موږ به حضرت ابوالقاسم ﷺ په خدمت کي حاضر وو او موږ هیڅکله د رسول الله ﷺ په مجلس کي دا نه دي اورېدلي چي په فلانۍ ورځ باید سفر وسي او په فلانۍ ورځ باید سفر ونه سي .

ددې څخه ثابته سوه چي د حضرت علي ﷛ په باره کي د قمر ، عقرب او محاق په باره کي چي څه روایت سوي دي هغه صحیح نه دي .

د یوازې سفر کولو څخه منع

﴿۳۷۱۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که خلکو ته د یوازې سفر کولو تاوانونه معلوم سي څرنګه چي ما ته معلوم دي نو هیڅکله به یو سپور سړی یوازې د شپې سفر ونه کړي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣٧\٦، رقم: ٢٩٩٨.

تشريح: ددغه شي څخه دیني او دنیوي تاوانونه مراد دي، دیني تاوان خو دادی چي د یوازیوالي په وجه په جماعت سره لمونځ نه تر لاسه کېږي او دنیوي تاوان دادی چي هیڅ غمخوار او مرسته کونکی به ورسره نه وي که یو ضرورت یا یو پېښه رامنځته سي نو مرسته کونکی به ورسره نه وي، د سپاره او شپې قید ځکه لګول سوی دی ي سپاره ته د پیاده په نسبت زیات خطره وي او په خاصه توګه په شپه کي.

په کومه قافله کي چي سپی وي د هغو سره د رحمت ملائکي نه وي

﴿۳۷۱۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ملائکي د هغه قافلې سره نه ځي چي د هغه سره سپي وي او جرس (یعني هغه زنګولې چي د اوښانو په غاړه زنګیږي، (د سپي څخه هغه سپی مراد دئ چي د چوکیدارۍ لپاره نه وي). مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٦٧٢\٣، رقم: ١٠٤- ٢١١٤.

تشريح: د ملائکو څخه کتبه یعني اعمال لیکونکي ملائکي او حفظه یعني ساتونکي مراد نه دي بلکه د رحمت ملائکي مراد دي، د سپي څخه هغه سپی مراد دی چي د ساتني لپاره نه وي او د ساتني او حیوانانو د ساتني لپاره د سپي ساتل مباح دي.

جرس هغه ژنګ ته وايي چي د حیوانانو په غاړه کي اچول کیږي، د جرس د منع کېدو سبب دادی چي هغه د ناقوس مشابهت لري، او یا په دې وجه منع دی چي دا د هغه زړېدونکو شیانو

ښځه دى كوم چي د ناخوښۍ او كراهت په وجه د هغه زړول منع دي ، ددې تائيد ددغه حديث ښځه هم كيږي كوم چي مخته را روان دى او په هغه كي جرس ته د شيطان مزامير ويل سوي دي ، او په شرح السنه كي دا روايت ذكر سوى دى چي يوه ورځ بي بي عائشې ﷺ ته يوه انجلۍ راغله چي د هغې په پښو كي پايزيبونه وه ، بې بي عائشې ﷺ ورته وويل چي دا زما ښځه ليري كړه كوم چي ملائكي ليري كونكي وي ، او نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر جرس سره شيطان وي .

ژنگ دشيطان باجه ده

﴿٣٧٢٠﴾ : وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهرة ﷺ ښځه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زنگولې آله د سرود د شيطان دي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ٣\١٦٧٢، رقم: ١٠٤- ٢١١٤.

تشريح: مزامير په اصل كي د مزمار جمع ده او مزمار سورنا ته وايي ، زمر او تزمير د سورنا سره غزلي ته وايي ، مزامير ځكه د جمع په لفظ فرمايل سوي دى چي ددې په اواز كي يو ډول پرله پسې والى وي چي هغه نه منقطع كيږي ، يعني د هغه اواز هر پوكل او هره لړۍ يو مزمار دى او جرس ته د شيطان مزامير په دې وجه ويل سوي دي چي هغه انسان د ذكر ، استغراق او عبادت د بوختيا ښځه منع كوي .

د اوښ په غاړه د اميل زړولو ښځه منع

﴿٣٧٢١﴾ : وَعَنْ بَشِيرِ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت بشير انصاري ﷺ ښځه روايت دئ چي هغه په يو سفر كي د رسول الله ﷺ سره وو ،

فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا أَنْ لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ . متفق عليه.

رسول الله ﷺ يو سړى قافلې ته د اعلان كولو لپاره ولېږئ چي د هيڅ يو اوښ په غاړه كي دې د

اميل پرې نه ښودل سي مګر پرې دي سي بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٤١١، رقم: ٣٠٠٥، ومسلم ١٣\١٦٧٢، رقم: ١٠٥- ٢١١٥.

تشريح او يا دا يې وفرمايل: دا په اصل کي د راوي شک دی چي رسول الله ﷺ قلاده من وتر يعني د ليندۍ چي ته قلاده فرمايلي دي او يا يوازي قلاده يې فرمايلي دي.

د قلادې (پټۍ) پرې کولو حکم يې وفرمايه چي خلکو به په هغه کي ژنګولې او پټۍ تړلې او دا شی د شيطان د مزامير څخه دی لکه څرنګه چي په تېر حديث کي بيان سوي دي، او يا ځکه يې منع وفرمايل چي ځيني کمزوري عقيدې والا خلک د ليندۍ په جي کي منکې وغيره تړلو سره او د هغه پټۍ په جوړولو سره د حيوانانو په غاړو کي به يې اچول او دا ګمان يې کوی چي ددې په ذريعه حيوانان د آفت وغيره څخه خوندي وي، نو رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل ځکه چي داسي هيڅ ذريعه د الله ﷻ حکم، فيصله او تقدير بدلولای نه سي.

پر حيوانانو باندي د سفر کولو په اړه يو څو هدايات

﴿٣٧٢٢﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرْتُمْ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي تاسي سفر کوئ

فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَقَّهَا مِنَ الْأَرْضِ وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا

په اباده مځکه کي نو اوښانو ته د هغوی حق ورکړئ کوم چي په مځکه کي دي، او کله چي په وچ کالي کي سفر کوئ نو تيز ځئ

عَلَيْهَا السَّيْرَ وَإِذَا عَرَّسْتُمْ بِاللَّيْلِ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ

چي د کمزوري کېدو څخه وړاندي مو منزل ته ورسوي، او هر کله چي د شپې يو ځای تم کيږي نو لار پرېږدئ ځکه چي پردې حيوانان راځي

وَمَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ، و في رواية إِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَبَادِرُوا بِهَا نِقْيَهَا. رواه مسلم.

او زهرجنو حيوانانو د راتلو ځای دئ او په يوه روايت کي دا الفاظ دئ هر کله چي تاسو په خشک سالي کي سفر کوئ نو تر څو پوري چي په اوښانو کي توان وي په تيزي سره سفر کوئ. مسلم.

تخريج صحيح مسلم ٣\١٥٢٥، رقم: ١٧٨- ١٩٢٦.

د ضرورت مند ملګري خبر اخلئ

﴿٣٧٢٣﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ فَجَعَلَ يَضرب يَمِينًا وَشِمَالًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ قَالَ فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَ حَتَّى رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ. رواه مسلم.

د حضرت سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي يو سړی پر اوښ سپور راغلی او د اوښ راسته او چپه لوري ته يې کتل پيل کړل، رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا سره چي تر يوې سپرلۍ زيات وي هغه دي هغه چا ته ورکړي چي د هغه سره سپرلۍ نه وي. (يعني د ده سپرلۍ کمزوري او ستړې سوې ده)، او د چا سره چي د خوراک او څښاک زيات سامان وي هغه دي هغه چا ته ورکړي چي د لاري توښه نه وي ورسره، ويلي دي راوي چي ددې وروسته رسول الله ﷺ د مال ډولونه بيان کړل تر دي چي موږ دا محسوسه کړه چي هيڅ سړي ته تر ضرورت زيات شي ساتلو حق نسته. مسلم

تخريج صحيح مسلم ٣\١٣٥٤، رقم: ١٨- ١٧٢٨.

تشريح پر راسته خوا ګرځېدل يې شروع کړل: مطلب دادی چي د هغه اوښ دومره ستړی سوی وو يا د پوره خوراک نه تر لاسه کېدو په وجه دومره کمزوری سوی وو چي د هغه سړي اوښ پر يو ځای باندي پر درېدلو قادر نه وو بلکه کله به راسته خوا ته وګرځيدی او کله به چپه خوا ته وګرځيدی، او يا دا مطلب دی چي سړي خپل سترګي څلور خوا ته اړولې او هغه راسته او چپه خوا ته په ګرځېدو سره دا کتل چي هغه ته هغه شيان حاصل سي کوم چي د هغه اړتياوي پوره کړي په دې صورت کي به خلاصه دا وي چي د هغه سړي سره نه د سپرلۍ لپاره يو مناسب

بندوبست وو او نه د هغه سره د خوراک ، څښناک او اغوستلو سامان وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه اړتیا ته خلک متوجه کړل او بیا یې ترغیب ورکړ چي خلک د دغه اړ کس خبر واخلي .

د مقصد پوره کېدو سره سم خپل کور ته ستنيږئ

﴿۳۷۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّفَرُ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سفر

قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ. متفق عليه

د عذاب يوه ټوټه ده چي تاسو د خوب، خوراک او څښناک څخه باسي ، هر کله چي يو مسافر د خپل سفر مقصد پوره کړي نو سمدستي دي خپل کورنۍ ته ستون سي . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٩\٥٥٥، رقم: ٥٤٢٩، ومسلم ٣\١٥٢٦، رقم: ١٧٩- ١٩٢٧.

د لغاتو حل نهمته: اى حاجته.

تشريح سفر د عذاب يوه ټوټه ده : مطلب دادی چي سفر د خپل صورت اعتبار په وجه د جهنم د عذاب د قسمو څخه يو قسم دی لکه څرنګه چي الله تعالى فرمايلي دي (سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا) .

د بدني تکليف او روحاني اذيت په اعتبار هم د يو سړي په باره کي سفر د پريشانيو او تکليفو ذريعه کېدو څخه کم نه دی په خاصه توګه په هغه زمانه کي چي د سفر وسائل او اطمينان نه وو خلکو به د سفر په دوران کي ډول ډول تکليفونه زغمل او د ډول ډول مصيبتو سره به مخامخ کېدل چي د هغه اندازه په نن وخت کي نه سي کېدای .

په حديث کي د سفر په خاصه توګه د دوو پريشانيو حکم ذکر سوی دی چي د سفر په دروان کي نه خو پر وخت باندي د طبيعت موافق خوراک او څښناک تر لاسه کيږي او نه په آرامه خوب وي دا خو محض د مثال په توګه دي کنه په سفر کي چي څومره ديني او دنياوي امور فوت کيږي لکه د جمعې او جماعت لمونځ څخه محروم کېدل د کورنۍ او نورو قريبانو حقوق نه ادا کېدل او د ګرمۍ او يخ تکليف او داسي نوري ډېري ستونزي وي .

د مسافر د کوچنیانو په ذریعه ښه راغلاست

﴿۳۷۲۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ قَالَ وَإِنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَسُبِقَ بِي إِلَيْهِ فَحَمَلَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جِيءَ بِأَحَدِ ابْنَيْ فَاطِمَةَ فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ قَالَ فَأُدْخِلْنَا الْمَدِينَةَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د سفر څخه راغلی نو د اهل بیت هلکانو به د رسول الله ﷺ د ښه راغلاست لپاره مخ ته ور وستل سول. یو وار چي رسول الله ﷺ د سفر څخه راغلی نو زه د رسول الله ﷺ مخ ته ور وستل سوم رسول الله ﷺ زه پر خپله سپرلۍ مخته کښېنولم، بیا د بي بي فاطمي رضي الله عنها په زامنو کي یو راوستل سو، رسول الله ﷺ هغه هم خپل شا ته کښېنوی بیا موږ مدینې ته داخل سوو چي پر یوه حیوان درې کسان سپاره وو. مسلم

تخريج صحيح مسلم ۴\۱۸۸۵، رقم: ٦٦ – ۲۴۲۸.

﴿۳۷۲٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةُ مُرْدِفُهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ. رواه البخاري.

د انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه او ابو طلحه د یو سفر څخه د رسول الله ﷺ سره مدینې ته راستانه سول او د رسول الله ﷺ سره شا ته د هغه بي بي صفیه هم پر اوښ سپره وه. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٦٩، رقم: ٦١٨٥.

تشريح دا د خیبر څخه د ستنېدو د وخت واقعه ده، بي بي صفیه رضي الله عنها د خیبر د غنیمت د مال څخه وه او مخکي د دحیه کلبي رضي الله عنه په برخه کي راغلې وه بیا رسول الله ﷺ رانیول او په ازادولو سره یې د هغې سره نکاح وکړه او پر سپرلۍ یې د ځان سره کښېنول او مدینې ته یې راوستل.

د رسول الله ﷺ د سفر څخه د ستنېدو وخت

﴿۳۸۲۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلاً وَّكَانَ لَا يَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً أَوْ عَشِيَّةً. متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د شپې په وخت کي خپل کور ته نه تلئ بلکه د سهار په وخت کي به کور ته داخليدئ يا د ماښام په وخت کي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٣\٦١٩، رقم: ١٨٠٠، ومسلم ٣\١٥٢٧، رقم: ١٨٠- ١٩٢٨.

د شپې له خوا د سفر څخه د ستنېدو منع

﴿۳۸۲۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَطَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ فَلَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا. متفق عليه.

د جابر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو څوک په سفر کي زيات وخت تير کړي نو هغه دي د شپې په وخت کي کور ته نه راځي. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٩\٣٣٩، رقم: ٥٢٤٤، ومسلم ٣\١٥٢٨، رقم: ١٨٣- ١٩٢٨.

تشريح په شرح السنه کي يو روايت نقل سوی دی چي د ابن عباس رضی الله عنه بيان دی چي د رسول الله ﷺ له خوا د دغه منع څخه وروسته واقعه ده چي دوو کسانو د رسول الله ﷺ په دغه حکم عمل ونه کړ او د خپل سفر څخه د ستنېدو پر وخت يې د شپې داخلېدل اختيار کړل نو هغه وخت په هغوی کي هر يوه د خپل ښځي سره پر دی سړی وليدی.

﴿۳۸۲۹﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلْتَ لَيْلًا فَلَا تَدْخُلْ عَلَى أَهْلِكَ حَتَّى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي ته د شپې د سفر څخه راسې نو خپل کور ته مه ننوزه تر څو پوري چي ستا ښځه تر نامه لاندي ويښتان صفا کړي او تار په تار سر ږمنځ کړي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٩\٣٤١، رقم: ٥٢٤٦، ومسلم ٣\١٥٢٧، رقم: ١٨٢- ١٩٢٨.

تشریح ددغه حدیث مطلب دا واضح کول دي چي د سفر څخه د ستنېدو لپاره د شپې وخت اختیارول مناسب نه دي ، غوره داده چي د سفر څخه د ستنېدو شروع په داسي وخت کي وکړل سي چي خپل کور ته د شپې کېدو څخه مخکي ورسیږي چي د شپې کور ته د رسیدو په وجه کورنۍ بې آرامه نه سي او د هغوی خوب خراب نه سي او که خپل ښار او سیمي ته د رسیدو په وخت کي شپه سي نو په داسي صورت کي غوره داده چي په کور کي د داخلېدو لپاره تر هغه وخته پوري صبر وکړي تر څو چي د هغه ښځه دده په راتلو خبره سي او هغه د ښکلا او سنګار په ذریعه ځان ښائسته کړي او د جنسي اختلاط لپاره تیاره سي او کله چي خاوند هغې ته ورسیږي نو د سفر ستړیا او د جلاوالي غم به یې په بدني خوشحالۍ بدل سي .

نووي رحمه الله وایي چي دا شیان (یعني د شپې په وخت کي د سفر څخه ستنېدل او د انتظار کولو څخه پرته په کور کي داخلېدل) د هغه چا لپاره مکروه دي کوم چي د اوږده سفر څخه راغلی وي مګر کوم څوک چي د کوچني سفر څخه راغلی وي یا د هغه کورنۍ ته د شپې په وخت کي د هغه د راتلو خبر وي نو دهغه لپاره په دې کي څه پروا نه سته لکه څرنګه چي په مخکني حدیث کي بیان سوې ده ، همدارنګه که یو سړی په یو لوی لښکر یا قافلې کي وي او د هغه لښکر او قافلې د راتلو خبر مشهور سوی وي او د هغه ښځي ته هم د هغه د راتلو خبر وي نو د هغه لپاره هم د شپې په وخت کي راتلل پروا نه لري لکه څرنګه چي اصل مقصد خود ښځي د هغه د راتلو څخه مخکي تیاري ده نو په دغه صورت کي هغه مقصد حاصل دی مګر ملا علي قاري رحمه الله وایي چي په دغه صورت کي کورته د رسیدو څخه مخکي دروازه ټکول او د جواب انتظار کول ضروري دي .

د سفر څخه پر ستنېدو دعوت کول مسنون دی

﴿۳۷۳۰﴾ : وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً . رواه البخاري.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ کله چي رسول الله ﷺ مدینې ته راغلی نو اوښ یا غوا یې حلال کړل . بخاري.

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ١٦\١٩٤، رقم: ٣٠٨٩.

تشریح ددغه حدیث څخه ثابته سوه چي د سفر څخه د ستنېدو وروسته مېلمستیا کول او

خلکو ته د خوراک دعوت ورکول سنت دي.

﴿۳۷۳۱﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ لِلنَّاسِ. متفق عليه.

د کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به اکثر د ورځي د څاښت په وخت کي د سفر څخه رسیدی او هر کله چي به راورسیدئ نو لومړی به یې مسجد ته تشریف یوووړ او دوه رکعته لمونځ به یې کوئ بیا به د خلکو سره کښینستی په مسجد کي. بخاري او مسلم

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\١٩٣، رقم: ٣٠٨٨، ومسلم ١\٤٩٦، رقم: ٧٤- ٧١٦.

تشریح د څاښت وخت ... : دا د اکثر په اعتبار ویل سوي دي یعني رسول الله ﷺ به اکثر د څاښت په وخت کي تشریف راوړی ځکه دا بیان سوی دی چي رسول الله ﷺ به د څاښت د وخت څخه ماسوا په بل وخت کي نه ستنیدی کنه دا حدیث مخکي تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ به د ورځي په شروع کي یعني سهار او اخري برخه یعني مابنام د سفر څخه راتلی، ددې څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ یوازي د سهار په وخت کي نه ستنېدی بلکه د مابنام په وخت کي هم ستنېدی.

د سفر څخه په ستنېدو سره لومړی مسجد ته تلل

﴿۳۷۳۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لِي ادْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ فيه رَكْعَتَيْنِ. رواه البخاري.

د جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي په یو سفر کي زه د نبي کریم ﷺ سره وم، کله چي موږ مدینې ته داخل سوو نو رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل مسجد ته ولاړ سه دوه رکعته لمونځ وکړه. بخاري.

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\١٩٣، رقم: ٣٠٨٨.

تشریح د ذکر سوو دواړو حدیثو سره سم د مسافر لپاره د سفر څخه د ستنېدو مخکي مسجد ته تلل د رسول الله ﷺ څخه فعلا ثابت دي او قولا هم ثابت دي، په ذکر سوي حکم کي نه یوازي د شعائر الله تعظیم ته اشاره ده بلکه دې ته هم اشاره ده چي مسجد د الله جل جلاله په کورونو کي یو

کور دی او مسجد ته تلونکی د الله ﷻ سره ملاقات کونکی دی نو کوم سړی چي د سفر څخه راستون سي د هغه تر دې غوره څه شي کيدای سي چي هغه تر ټولو مخکي د الله ﷻ کور ته ولاړ سي او د الله ﷻ سره ملاقات وکړي چي هغه د سفر د آفاتو څخه په خوندي ساتلو په خير او عافيت سره د هغه کورني ته بېرته را ورسوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د امت په حق کي د سهار د وخت لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۳۷۳۳﴾: عَنْ صَخْرِ بْنِ وَدَاعَةَ الْغَامِدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت صخر بن وداعة الغامدي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ

اې الله! زما د امت لپاره د ورځي په سر کي برکت واچوې او هر کله چي به رسول الله ﷺ یو کوچنی یا لوی لښکر یو ځای لیږئ

من أَوَّلَ النَّهَارِ وَكَانَ صَخْرٌ تَاجِرًا فَكَانَ بَعَثَ تِجَارَةً بَعَثَهُمْ أَوَّلَ النَّهَارِ فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي.

نو د ورځي په اول سر کي به یې لیږی، د راوي بیان دئ چي صخر یو سوداګر وو هغه به خپل تجارتي مال د ورځي په اول کي لیږئ هغه شتمن سو او ډیر شتمن سو. ترمذي، ابوداؤد او دارمي

تخریج سنن الترمذي ۳\۵۱۷، رقم: ۱۲۱۲، وابوداود ۳\۷۹، رقم: ۲۶۰۶، والدارمي ۲\۲۸۳، رقم: ۲۴۳۵.

د شپې د سفر کولو حکم

﴿۳۷۳۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو پر خپل ځان د شپې سفر لازم کړئ ځکه چي د شپې مځکه را ونغښتل سي (یعني لار ژر وهل کیږي). ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\٦١، رقم: ٢٥٧١.

د لغاتو حل الدلجة: السير من اول الليل (د شپې په لومړۍ برخه کي تګ)

تشريح مطلب دادی چي کله تاسو د سفر لپاره د کور څخه وځئ نو محض د ورځي په وخت کي پر تللو باندي قناعت مه کوئ بلکه کله نا کله د شپې هم ځئ ځکه چي د شپې سفر په اسانۍ سره قطع کیږي او په دې سره د مسافر د سفر پر همت بوج هم نه وي چي اوس ما ډېر یا لږ سفر قطع کړی دی حال دا چي په حقیقت کي هغه ډېر سفر کړی وي او ددې وجه دا وي چي اول خو د شپې په وخت کي د تللو څخه پرته بل څه کار نه وي دوهم دا چي د فاصلې پر علامه او نښو باندي نظر نه لویږي او دا شیان سفر اوږدوي او دا مفهوم د مځکي په را نغښتلو سره تعبیر سوی دی ددې څخه معلومه سوه چي دلته دا مراد نه دی چي د ورځي په وخت کي بالکل مه ځئ په نورو حدیثو کي دا حکم بیان سوی دی چي خپل سفر د ورځي په شروع او آخري برخه کي د کولو کوښښ کوئ او یو برخه د شپې هم ځئ.

په سفر کي کم از کم درې کسان کېدل پکار دي

﴿٣٧٣٥﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ. رواه مالك و الترمذي و ابوداؤد والنسائي

ﷺ وفرمایل: یو سپور یو شیطان دئ او دوه سپاره دوه شیطانان دي او درې سپاره سپاره دي. مالک، ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

تخريج موطا الامام مالک ٢\٩٧٨، رقم: ٣٥، والترمذي ٤\١٦٦، رقم: ١٦٧٤، وابوداود ٣\٨٠، رقم: ٢٦٠٧، والنسائي في الكبرى ٥\٢٦٦، رقم: ٨٨٤٩.

د لغاتو حل رکب: اى جماعة (ډله)

تشريح درې سپاره سپاره دي: ددې مطلب دادی چي درې سپاره ددې وړ دي چي هغوی ته سپاره وویل سي ځکه چي هغوی د شیطان د مکر څخه خوندي وي یعني د یوه او دوو سپرو د سفر کولو څخه منع سوې ده او دا واضحه سوې ده چي په سفر کي کم از کم درې کسان ملګري

کېدل ضروري دي ځکه چي په يو ازي سفر کولو کي يو تاوان خو دا دی چي د جماعت لمونځ پاته کيږي او دوهم دا که چيري هغه ته يو ضرورت يا يو واقعه پيښه سي نو د هغه مرسته کونکی به نه وي او هغه به په هر کار کي پاته وي همدارنګه که چيري دوه کسان سفر کوي نو په دغه صورت کي خدای مه کړه که داخبره پيښه سي چي يو ملګری ناروغ سي يا مړ سي نو دوهم ملګری به سخت پريشانه سي او دا کار د شيطان د خوښی سبب دی يا دا مراد دی که چيري سړی يو ازي سفر کوي يا دوه کسان وي نو شيطان هغوی ته په ډېره اساني سره موقع تر لاسه کوي چي هغوی ګمراه کړي او په بدۍ کي يې اخته کړي دديٖ خبري د زيات اهميت بيانولو لپاره يوه سپاره يا دوو سپارو ته شيطان ويل سوي دي.

په هر حال د حديث خلاصه داده چي په سفر کي کم از کم دري کسان کېدل ضروري دي تر څو چي هغوی په جماعت سره لمونځ ادا کړئ او بل دا که هغه سړي ته د سفر په دوران کي د ضرورت په وجه تلل په کار سي نو دوه کسان به پاته وي او په خپلو کي به د يو بل د اطمينان ذريعه وي او که هغه سړی په راتلو کي زنډ وکړي نو په دواړو کي يو به د هغه د معلومات او د زنډ د سبب معلومولو لپاره تللای سي او دوهم به د سامان وغيره ساتنه کوي.

په سفر کي يو ملګری امير جوړ کړی

﴿٣٧٣٦﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په سفر کي دري کسان وي نو هغوی دي په خپلو کي يو امير جوړ کړي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣/٨١، رقم: ٢٦٠٨.

تشريح: د درو کسانو څخه جماعت مراد دی چي د هغه ادنا درجه دري کسان دي، دا حکم د هغه صورت سره هم متعلق دی کله چي دوه کسان يو ځای سفر کوي دلته د درو کسانو پر ذکر باندي اکتفاء ځکه سوې ده چي مخکي په يو حديث کي بيان سوي دي چي دوه سپاره شيطانان دي، په هر حال د حديث خلاصه داده که په يو سفر کي تر يوه زيات خلک وي نو په هغه صورت کي په هغوی کي هغه سړی دي خپل امير او مشر وټاکي کوم چي تر ټولو افضل وي، د امير او مشر جوړولو حکم ځکه سوی دی چي د سفر په دوران کي په خپلو کي د جنجال او نزاع صورت

رامنځته سي نو هغه امير او مشر ته به رجوع كيږي او هغه چي څه فيصله وكړي د هغه په منلو سره به خپله جگړه ختمه سي ، د امير او مشر لپاره دا ضروري ده چي هغه د خپل سفر د ټولو ملگرو په باره كي خيرخواه، مهربان او غمخوار وي او خپل مشرتوب د ځان لپاره محض د فخر په ګڼلو سره لويي او تكبر ونه كړي بلكه په حقيقي معنى كي خپل ځان د هغوى غلام وگڼي لكه چي فرمايل سوي دي : (سيد القوم خادمهم) يعني د يو ډلي مشر په اصل كي د خپل ډلي خدمت كونكى وي .

د سفر غوره ملگري

﴿۳۷۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال خَيْرُ الصَّحَابَةِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره ملگري په سفر كي

أَرْبَعَةٌ وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ وَلَا يُغْلَبُ اثْنَا

هغه دي چي د هغوى شمير (كم از كم) څلور وي او غوره كوچني لښكر هغه دئ چي په هغو كي څلور سوه كسان وي او غوره لوى لښكر هغه دئ چي په هغو كي

عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

څلور زره كسان وي او دوولس زره كسان د كمۍ په سبب هيڅكله نه مغلوب كيږي . ترمذي، ابوداؤد، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۰۵، رقم: ۱۵۵۵، وابوداود ۳\۸۲، رقم: ۲۶۱۱، والدارمي ۲\۲۸۴، رقم: ۲۴۳۸.

تشريح څلور ملگرو ته غوره په دې اعتبار ويل سوي دي چي د مثال په توگه په هغه څلورو كي يو ناروغ سي او هغه د خپل ژوند څخه په نا اميده كېدو سره په خپل ملگرو كي يوه ته وصيت وكړي نو پاته دوه ملگري به د هغه د وصيت شاهدان وي ، عالمانو ليكلي دي چي پنځه ملگري تر څلورو غوره دي او تر پنځو چي هر څومره زيات وي هغومره به غوره وي، دلته په حديث كي د څلورو په ذكر كولو سره ادنا درجه بيان سوې ده .

نه مغلوب كيږي : ددې مطلب دادى چي د دوولس زرو مجاهدينو لښكر ډېر لوى طاقت دى ، دومره زيات مجاهدين د دښمن په مقابله كي نه مغلوب كيږي او كه مغلوب هم سي نو د

شمېر د کمۍ په وجه به نه وي ځکه چي د دوولس زره شمېر د کموالي د حد څخه وتلی دی البته د يو بل سبب په وجه به مغلوب کيږي لکه پر دومره زيات شمېر او طاقت باندي بې ځايه فخر، غرو او تکبر کول او داسي نور.

د خپلو ملګرو سره د رسول الله ﷺ معمول

﴿٣٧٣٨﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ فَيُزْجِي الضَّعِيفَ وَيُرْدِفُ وَيَدْعُو لَهُمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په سفر کي وروسته تلئ د دې لپاره چي کمزوري سپرلۍ و شړي او ځوک چي پر پښو وي هغه پر خپله سپرلۍ د ځان سره سپور کړي او د هغوی لپاره دعاء وکړي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ١٣\١٠٠، رقم: ٢٦٣٩.

منزل ته په رسېدو سره ټول ملګري يو ځای تم کېدل پکار دي

﴿٣٧٣٩﴾: وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي

د حضرت ابو ثعلبة الخشني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هر کله به موږ پر يو منزل کښته کېدلو نو

الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ

په غرنۍ شېلو کي به خپاره سوو، رسول الله ﷺ پر يوه موقع د دې په ليدو سره وفرمايل:

وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ فَلَمْ يَنْزِلْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ

ستاسو په دې شېلو کي متفرق کېدل د شيطان د چم او وسوسې په سبب دي، د دې څخه وروسته چي به خلک پر يو ځای کښته کېدل نو داسي به تم کېدل چي د يو بل سره به نژدې وه،

بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ حَتَّى يُقَالَ لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لَعَمَّهُمْ. رواه ابوداؤد.

يعني ويلای سو تر دې به يو بل ته نژدې او سېدل که چيري پر هغوی يو ټوکر واچول سي نو ټول به پکښې پټېدل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ١٣\٩٤، رقم: ٢٦٢٨.

د رسول الله ﷺ د كمال انكسار يو واقعه

﴿۳۷۴۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلَاثَةٍ عَلٰى بَعِيْرٍ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بدر په غزا كي زموږ دا حالت وو چي د درو كسانو لپاره يو اوښ وو

فَكَانَ أَبُوْ لُبَابَةَ وَعَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ زَمِيْلَيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابولبابه او علي ا بن ابي طالب به د رسول الله ﷺ په اوښ كي شريک وه

قَالَ فَكَانَتْ إِذَا جَاءَتْ عُقْبَةُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَا نَحْنُ نَمْشِيْ عَنْكَ قَالَ مَا

هر كله چي د رسول الله ﷺ د كښېنته كېدو وار به راغلی نو ابولبابه او علي ابن ابي طالب به ويل موږ ستاسو په بدل كي پر پښو ځو، رسول الله ﷺ به د هغوی په جواب كي فرمايل

أَنْتُمَا بِأَقْوٰى مِنِّيْ وَمَا أَنَا بِأَغْنٰى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا. رواه في شرح السنة

تاسو خو تر ما زيات قوي نه ياست او زه د آخرت د ثواب څخه بې پروا نه يم. شرح السنة

تخريج: شرح السنة ١١\٣٥، رقم: ٢٦٨٢.

د لغاتو حل: عقبة: اى نوبة نزوله.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د انكسار او تواضع پر څومره لوړ مقام وو او دا چي رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو په باره كي څومره مهربان او خير خواه وو او د هغوی پر راحت يې خپل راحت ته هيڅ ترجيح نه وركول، دا هم معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د الله جل جلاله د نبي او رسول كېدو په حيثيت سره معصوم عن الخطاء وو او د الله جل جلاله بنده وو مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ د الله جل جلاله په دربار كي خپل احتياجي او خپل پوره عاجزي ظاهرول.

د سپرتيا د حيوانانو په اړه يو حكم

﴿۳۷۴۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوْا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د خپلو حيوانانو شا

ظُهُوْرَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ فَإِنَّ اللهَ إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُبَلِّغَكُمْ إِلٰى بَلَدٍ لَمْ تَكُوْنُوْا

منبر مه جوړوئ (يعني پر سپرلۍ د ريدلو سره خبري مه كوئ يا پر سپرلۍ په ناسته ناسته كار مه كوئ بلكه دا كارونه په راكښته كېدو سره كوئ) ځكه چي الله تعالى دا حيوانان ددې لپاره ستاسو تابع كړي دي چي هغوى تاسو هغه ښار ته ورسوي

بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَتَكُمْ .

رواه ابوداؤد

چيري چي تاسو په سخت تكليف او ستونزه سره ورسيدلاست او ځكه الله ددې لپاره پيدا كړې ده چي تاسو په دې خپل كارونه سرته ورسوئ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۵۹، رقم: ۲۵۶۷.

تشريح: د حيوانانو د شا منبر مه جوړيږئ : ددې مطلب دادى چي د خبرو كولو لپاره د حيوانانو پر شا باندي په سپرېدو سره مه دريږئ بلكه كله چي د چا سره خبره كول غواړئ نو د حيوان څخه راكښته سئ او خپل حاجت پوره كړئ او بيا پر هغه سپاره سئ مگر دا حكم په هغه صورت كي دى كله چي د سپرلۍ څخه ماسوا د حيوان بل يو حاجت يا د هغه سره بل صحيح غرض نه وي.

كه چيري د هغه حيوان سره يو بل صحيح غرض متعلق وي نو په دې كي څه پروا نه سته لكه څرنگه چي دا ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع كي د عرفات په ورځ پر خپل اوښي باندي په سپرېدو سره خطبه فرمايلې ده.

د حديث د آخري برخي مطلب دادى چي الله ﷻ ځكه ددې لپاره پيدا كړې ده چي تاسو پر هغه كښينئ، ولاړ سئ او ددې څخه ماسوا خپل ضرورتونه پوره كړئ نو خپل كارونه پر ځمكه كوئ د سپرلۍ د حيوانانو د شا څخه د سپرېدو پرته چي تاسو خپل منزل ته ورسوي بل څه كار مه اخلئ.

د سپرتيا د حيوانانو كتنه

﴿۳۷۴۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا لَا نُسَبِّحُ حَتَّى تُحَلَّ الرِّحَالُ .

رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي كله به موږ پر يو ځاى تم كېدلو نو تر هغه وخته پوري به

مو نفل لمونځ نه کوی تر څو پوري چي د حيوانانو کتی به مو کښېنته کړي نه وي. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ۳\۵۱، رقم: ۲۵۵۱.

تشريح سبحه او د تسبيح اطلاق پر نفل لمانځه باندي کيږي مګر ځيني حضرات وايي چي دلته د ځابنت لمونځ مراد دی چي په هغه زمانه کي په عامه توګه سره پر پړاو باندي د کښېنته کېدو پر وخت د ځابنت وخت وو ، په هر حال د حديث مطلب دادی چي سره ددې چي صحابه کرامو به د لمانځه ډېر خيال ساتی مګر هغوی به د خپل حيوانانو د ساتني هم ډېر خيال ساتی.

د رسول الله ﷺ حق شناسي

﴿۳۷۴۳﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي إِذْ

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو ځای ته پياده روان وو چي

جَاءَهُ رَجُلٌ وَمَعَهُ حِمَارٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ارْكَبْ وَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ فَقَالَ

يو سړی پر خره سپور راغلی او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! تاسو سپور سئ ، د دې په ويلو سره هغه سړی شاته سو (چي رسول الله ﷺ مخته سپور سي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي

قَالَ قَدْ جَعَلْتُهُ لَكَ فَرَكِبَ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

يا ته پر خپله سپرلۍ د مخکي ناستي زيات وړ يې خو هلته چي ته د سپرلۍ مخکي حصه زما لپاره وګرځوې هغه وويل زه يې په خپله خوښه تاسو ته پرېږدم نو رسول الله ﷺ سپور سو . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج سنن الترمذي ۵\۹۲، رقم: ۲۷۷۳، وابوداود ۳\۶۲، رقم: ۲۵۷۲.

تشريح ددغه حديث څخه يوې خوا ته د رسول الله ﷺ د انصاف او حق شناسۍ احساس معلوم سو چي رسول الله ﷺ تر هغه وخته پوري د هغه سړي پر سپرلۍ مخکي د کښېنستلو څخه انکار وکړي تر څو چي هغه په صراحت سره پر خپل سپرلۍ د ناستي خپل حق رسول الله ﷺ ته ور نه کړي ، بلي خوا ته د رسول الله ﷺ د تواضع او انکسار پوره کمال هم ثابت سو چي رسول الله ﷺ په هغه سړي په تر شا په ناسته کي هيڅ پيغور محسوس نه کړ او په هغه راضي سو .

شيطاني اوښ او شيطاني كور

﴿٣٧۴۴﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

سعيد بن ابي هند د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُونُ إِبِلٌ لِلشَّيَاطِينِ وَبُيُوتٌ لِلشَّيَاطِينِ فَأَمَّا إِبِلُ الشَّيَاطِينِ

اوښان د شيطانانو لپاره وي او ځيني كورونه د شيطانانو لپاره وي ، د شيطانانو اوښان

فَقَدْ رَأَيْتُهَا يَخْرُجُ أَحَدُكُمْ بِجُنَيْبَاتٍ مَعَهُ قَدْ أَسْمَنَهَا فَلَا يَعْلُو بَعِيرًا مِنْهَا

ما ليدلي دي چي په تاسو كي څوک د ښه ډول اوښانو سره وځي چي هغه ښه غټ كړي وي او په هغوى كي پر هيڅ يو سپرلى نه كوي

وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ قَدْ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا يَحْمِلُهُ وَأَمَّا بُيُوتُ الشَّيَاطِينِ فَلَمْ أَرَهَا كَانَ

او په سفر كي هغه د ځان سره بوځي نو خپل مسلمان ورور چي په تلو تلو ستړى سوى وي هغه پر سپور نه وي ، يعني كوم اوښان چي صرف د فخر د اظهار لپاره وي او د هغوى څخه كار نه اخيستل كيږي هغه د شيطانانو لپاره وي او د شيطانانو كورونه ما نه دي ليدلي ، د حديث د

سَعِيدٌ يَقُولُ لَا أُرَاهَا إِلَّا هَذِهِ الْأَقْفَاصُ الَّتِي يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ . رواه ابوداؤد .

راوي بيان دئ چي د شيطانانو كورونه هغه كجاوې دي چي ښځي پكښي سپريږي چي خلك يې په ريښمينو جامو پټوي . ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\٩٥، رقم: ٢٦٢٩.

تشريح كوم اوښان چي د شيطانانو سي .... : ددې خلاصه داده چي د اوښانو اصل مقصد خو دادى چي هغه د خپل سپرلۍ او بار وړلو په كار راوستل سي او الله جل جلاله هغه ددې لپاره پيدا كړي دي چي دهغوى په ذريعه خپل د سفر ارتياوي پوره كړي او نورو اړو مسلمانانو ته هم د هغه څخه ګټه ورسوي مګر كه چيري يو سړى هغه د ښه غټ او تازه كولو سره محض د فخر لپاره ساتي او هغه په خپل سفر كي يا د يو اړ مسلمان د ارتيا پوره كولو لپاره نه بلكه هسي يې ساتي

نو په داسي كولو سره هغه اوبښ نه په خپل مصرف كي راوستلو سره او نه د يو ستړي مسلمان ورور د راحت په ذريعه ګرځولو سره ګويا د شيطان اطاعت يې وكړ او شيطان يې خوشحاله كړ ځكه نو هغه اوبښ ګويا د شيطان لپاره سو ، دديې څخه معلومه سوه چي كوتل آس ساتل منع دي او ګويا هغه د شيطان آس دی ، كوتل د شتمنو خلكو د سپرلۍ د آس سره دوهم آس ته وايي چي د سپرلۍ سره هسي ځغلي ، ځيني شتمن خلك د خپل سپرلۍ سره يو ځين كړی آس هم بيايي چي كله يې زړه وسي نو د ګاډۍ پر آس باندي سپرلۍ شروع كړي او كله چي يې زړه وغواړي پر دغه ځين كړي آس باندي سپور سي .

ځيني حضرات وايي چي د حديث الفاظ (فاما ابل الشياطين) يعني كوم اوبښان چي د شيطانانو لپاره وي ....: دا په صل كي د راوي يعني د حضرت ابوهريره رضي الله عنه خپل الفاظ دي او د رسول الله ﷺ اصل حديث يوازي مخكنی مجمل عبارت دی يعني (يكون ابل للشياطين وبيوت للشياطين) ، ځيني حضراتو ويلي دي لكه څرنګه چي د ترجمې څخه هم معلوميږي چي اصل حديث (فلم ارها) يعني ما هغه نه دي ليدی ، تر دغه الفاظو پوري دی ، دا قول ملا علي قاري رحمة الله عليه هم خوښ كړی دی .

د شيطاني كورو څخه مراد يا خو كجاوې دي چي ځيني خلك يې په رېښمو ټوكرانو سره ښائسته كوي يا هغه كورونه دي چي د هغه ديوالونه د رېښمو په ټوكرانو سره ښائسته سوي وي ، ظاهره ده چي دلته د كجاوو يا كورونو څخه منع كول مقصد نه دي بلكه د هغو په رېښمو سره ښائسته كولو په سبب د هغه خرابي بيان سوې ده چي په هغه كي نه يوازي د مال بربادي او اسراف دی بلكه تفاخر او ريا هم دی .

چيري چي تم كيږي نو هلته مه زيات ځای نيسئ او مه لاره بندوئ

﴿٣٧٤٥﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ اَبِيهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت سهل بن معاذ رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي موږ د نبي كريم ﷺ سره په جهاد كي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَيَّقَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ وَقَطَعُوا الطَّرِيقَ فَبَعَثَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

شريک سو ، خلكو په رسيدو سره ځايونه ونيول او لاري هم تنګه كړل ، نبي كريم ﷺ يو سړی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنَادِيًا يُنَادِي فِي النَّاسِ اَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا اَوْ قَطَعَ طَرِيقًا فَلَا

جِهَادَلَهُ . رواه ابوداؤد

وليږئ او اعلان يې وکړ چي کوم سړي ځای تنګ کړي يا لاره يې بنده کړه د هغه لپاره د جهاد ثواب نسته . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۱۸، رقم: ۲۷۷۷.

د ستنېدو غوره وخت

﴿۳۷۴۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلَ اللَّيْلِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ډېر ښه وخت هغه وخت دی چي مسافر د شپې په اوله حصه کي خپل کور ته داخل سي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۱۸، رقم: ۲۷۷۷.

تشريح: دا په هغه صورت کي دی کله چي سفر نژدې وي ، مخکي دا تېر سوي دي چي د سفر څخه په ستنېدو کي د شپې په وخت کي کور ته تلل نه دي پکار نو د هغه تعلق د ليري سفر سره دی ، علامه نووي رحمة الله عليه وايي که څه هم د ليري سفر وي او د هغه د راتلو خبر کورنۍ ته په ورځ کي ورکړل سوی وي نو د شپې په راتلو کي څه پروا نه سته ، ځيني حضرات وايي چي کورنۍ ته د رسېدو څخه کوروالي يعني جماع کول مراد دي ځکه چي د مسافر جنسي جذبه ډېره زياتيږي نو هغه چي د سفر څخه په ستنېدو سره د شپې په اوله برخه کي د جماع څخه فارغه سي نو بيا په سکون او آرام سره بېده سي او د ښځي حق هم ادا سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د سفر په دوران کي د شپې د ارام کيفيت

﴿۳۷۴۷﴾: عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ فَعَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى يَمِينِهِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ

ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ . رواه مسلم

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په سفر کي وو نو په شپه کي چي به تم سو نو پر راسته اړخ به پريوتئ او هر کله چي به د سهار په وخت کي تم سو نو خپل راسته لاس به يې ودروئ او خپل سر به يې د لاس پر ورغوي کښېښود . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١\٤٧٦، رقم: ٣١٣ - ٦٨٣.

د سهار له خوا د سفر شروع کولو فضيلت

﴿٣٧٤٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللّٰهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وليږی عبدالله

بْنَ رَوَاحَةَ فِي سَرِيَّةٍ فَوَافَقَ ذٰلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَغَدَا أَصْحَابُهُ قَالَ أَتَخَلَّفُ

بن رواحه د يو کوچنی لښکر سره په اتفاق سره هغه د جمعې ورځ وه ، د عبد الله ملګري خو سهار ولاړل او عبد الله په زړه کي وويل

وَأُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَلَمَّا صَلَّى مَعَ رَسُولِ

زه چي د رسول الله ﷺ سره د جمعې لمونځ وکړم نو ولاړ به سم او د لښکر سره به يو ځای سم ، د جمعې لمونځ چي يې د رسول الله ﷺ سره وکړ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآهُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَغْدُوَ مَعَ أَصْحَابِكَ فَقَالَ

نو رسول الله ﷺ عبد الله وليدئ او ورته وه يې فرمايل : ته د سهار په وخت کي د خپلو ملګرو سره د تللو څخه څه شي منع کړې ، هغه وويل

أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ ثُمَّ أَلْحَقَهُمْ . قَالَ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ . رواه الترمذي.

ما دا غوښتل چي ستا سو سره د جمعې لمونځ وکړم نو روان به سم او د لښکر سره به يو ځای سم ،

رسول الله ﷺ وفرمایل : كه ته د دنیا ټول شیان نفقه (صدقه) کړې بیا هم ته د خپلو ملګرو سره د سهار په وخت کي د تللو ثواب نسي تر لاسه کولای . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ٢\٤٠٥، رقم: ٥٢٧.

د لغاتو حل: فغدا: اى ذهب.

د شرموښ پوست استعمالولو منع

﴿٣٧٤٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جِلْدُ نَمِرٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم لښکر سره چي د پړانګ پوست وي د هغوی سره ملائکي نه ځي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٥، رقم: ٢٥٥٤.

د سفر امیر د ملګرو خادم وي

﴿٣٧٥٠﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سردار

الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ فَمَنْ سَبَقَهُمْ بِخِدْمَةٍ لَّمْ يَسْبِقُوْهُ بِعَمَلٍ إِلَّا الشَّهَادَةَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د قوم په سفر کي هغه دئ چي د قوم خدمت وکړي بیا څوک چي د قوم خدمت تر مخه وکړي د هغه د عمل په مقابله کي بل څوک مخته کیدلای نسي پرته د هغه چا څخه چي هغه د شهادت درجه تر لاسه کړي . بیهقي په شعب الایمان کي

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٣٣٤، رقم: ٨٤٠٧.

تشريح: مطلب دادی چي حاکم او امیر باید د قوم خدمت وکړي د هغوی پر مصالحو باندي نظر ولري او د هغوی د ظاهري او باطني حالاتو خیال وساتي، ځیني حضرات وایي چي ددې څخه مراد دادی چي کوم سړی د خپل قوم او خپل ډلي په خدمت کي بوخت وي نو په حقیقت کي

هغه سړی د زیات ثواب په وجه د هغه قوم او ډلي مشر وي که څه هم په لېدو کي هغه په قوم او ډله کي د کمي درجې والا وي ځکه چي د قوم د خدمت څخه ماسوا بل هیڅ عمل غوره نه دی مګر دا چي یو سړی د الله ﷻ په لاره کي جنګیږي او د شهادت درجه تر لاسه کړي.

==========

بَابُ الْكِتَابِ اِلَى الْكُفَّارِ وَدِعَائِهِمْ اِلَى الْاِسْلَامِ

(کفارو ته د لیکونو او هغوی ته د اسلام د بلني بیان)

کوم خلک چي الله تعالی د دغه کائنانو حقیقي خاوندان ګرځولي دي او د هغه د نازل کړي قانون په مخکي سر کښته کوي هغوی دده ذمه دار ګرځول سوي دي چي هغوی ټولو کائناتو ته د الله ﷻ د احکامو بلنه ورکړي او ګمراهان د ضلالت او تباهی د لارو څخه د یوه الله ﷻ اطاعت، فرمانبرداری او صراط مستقیم ته راولي او همدارنګه د مځکي پر مخ د الله ﷻ نوم او د هغه د دین بیرغ سرلوړي کړي او کوم خلک چي دغه بلني سربېره د سرکښی څخه نه منع کیږي او د الله تعالی د دین د بیرغ نسکورولو ناپاکه جرئت کوي او د مځکي پر مخ د حقیقي مالک د احکامو په جاري کولو کي خنډ اچوي یعني هغوی د خپلو عقېدو او کړنو په ذریعه د الله ﷻ په دغه مځکه باندي د فتنې او فساد بازار ګرموي نو د هغوی پر خلاف دي توره پورته کړل سي او د هغوی سره دي تر هغه وخته پوري جنګ وکړل سي تر څو چي هغوی د خپل سرکښی څخه په منع کېدو د یو الله ﷻ د حاکمیت اعلی اقرار ونه کړي او یا د محصول په ادا کولو سره د اسلامي هیواد وفادار کېدل قبول نه کړي.

د کفارو پر خلاف د جنګ څخه مخکي هغوی ته د اسلام بلنه ورکول واجب دي:

اسلام دا قاعده ټاکلې ده چي د اسلام د مخالفینو پر خلاف تر هغه وخته پوري د جنګ اعلان نه سي کیدای تر څو چي هغوی ته د اسلام بلنه ور نه کړل سي، د اسلامي قانون سره سم د کفارو سره د جنګ کولو مخکي هغوی ته د اسلام دعوت ورکول واجب دي او هغوی ته د اسلام د دعوت ورکولو څخه مخکي د هغوی سره جنګ کول حرام دي په شرط دده چي هغوی ته د اسلام دعوت نه وي رسیدلی او که چیري هغوی ته د اسلام دعوت رسیدلی وي نو په دغه صورت کي د جنګ څخه مخکي هغوی ته بیا د اسلام دعوت ورکول مستحب دي.

د اسلام د دعوت ورکولو مختلفي طریقې دي چي د هغو څخه یوه طریقه د خط او لیکني هم ده، په خاصه توګه د یو هیواد پاچاهانو او امیرانو ته په عامه توګه سره د خط او لیکني په

ذريعه د اسلام دعوت ورکول کیږي، رسول الله ﷺ مختلفو غیر مسلمانانو پاچاهانو لکه قیصر، کسرئ او نجاشي ته لیکني واستولې چي په هغه کي هغوی ته د ضلالت او تباهئ د لاري په پرېښودو سره د اسلامي پر سیده لاره باندي د تللو دعوت ورکړل سوی وو.

نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ د حديبيې د صلح څخه وروسته مدينې ته تشريف راوړ او قيصر روم ته يې د خط استولو اراده وکړه نو صحابه کرامو وويل چي د روم د پاچاهانو او اميرانو دا رواج دی چي هغوی يو ليک تر هغه وخته پوري مستند نه مني تر څو چي پر هغه مهر (ټاپه) نه وي لګيدلې. رسول الله ﷺ د مهر لپاره د سپينو زرو د ګوتمۍ جوړولو حکم وکړ او په هغه کي دري ليکي رسم سوې او په هغه درې ليکو کي يې خپل مبارک نوم داسي نقش کړ چي په لوړه ليکه کي الله، په درميانه ليکه کي رسول او په لاندي ليکه کي محمد وو،



همدا رنګه رسول الله ﷺ چي کومو پاچاهانو ته خطونه استول پر هغو يې دغه مهر لګوی.
طبراني دغه ارشاد نقل کړی دی چي (كرامة الكتاب ختمه) يعني د هغه خط عظمت د هغه مهر دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

قيصر روم ته د رسول الله ﷺ ليک

﴿٣٧٥١﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ قيصر (د روم پاچا) ته خط وليکئ

يَدْعُوهُ إِلَى الْإِسْلَامِ وَبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَيْهِ دِحْيَةَ الْكَلْبِيِّ وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى

د اسلام د بلني او هغه ليک يې د دحيه کلبي په لاس وليږئ او ورته يې حکم وکړ چي ته دا ليک

عَظِيمِ بُصْرَى لِيَدْفَعَهُ إِلَى قَيْصَرَ فَإِذَا فِيهِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مِنْ

د بصرې حاکم ته ورسوه هغه به يې قيصر ته ورسوئ، په دغه ليک کي ليکلي وه چي: بسم الله الرحمن الرحيم، دا ليک د

مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ

الله ﷻ د بنده او د هغه د رسول محمد ﷺ د لوري د روم د پاچا هرقل په نامه دئ ، پر هغه چا دي سلام وي چي د هدايت پيروي وكړي

الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ

(اما بعد)! ددې څخه وروسته زه تاته د اسلام بلنه دركوم ته اسلام قبول كړه چي خوندي او په امان سي ، ته اسلام قبول كړه تا ته به الله تعالى

مَرَّتَيْنِ وَإِنْ تَوَلَّيْتَ عَلَيْكَ إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ وَ {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ

دوه برابر ثواب دركړي او كه ته مخ واړوي نو ستا د رعيت (زميندارو) گناه به هم پر تا وي ، او اې اهل كتابو ! هغه خبري ته راسئ

سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا

چي زموږ او ستاسو په منځ كي يو ډول ده ، او هغه دين (حق) يا مشتركه كلمه داده چي موږ به د الله ﷻ څخه پرته د بل چا عبادت نه كوو او شرك به نه نيسو د الله ﷻ سره هيڅ شی او ځيني

بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ} . متفق

زموږ به د ځينو نورو لپاره خدايان نه نيسو بيله يو الله ﷻ څخه ، بيا كه هغوی (اهل كتاب) ددې دعوت څخه مخ واړوي نو تاسو هغوی ته ووايا ست تاسو شاهدان اوسئ چي موږ مسلمان يو ،

عليه و في رواية لمسلم قَالَ مِنْ مُحَمَّدٍ رَّسُوْلِ اللهِ وَ قَالَ اِثْمُ الْيَرِيْسِيِّيْنَ وَقَالَ بِدِعَايَةِ الْاِسْلَامِ.

بخاري او مسلم ، او د مسلم په روايت كي دا الفاظ مختلف دي مثلا په مسلم كي : (من محمد رسول الله) او دويم لفظ (اليريسيين) او دريم لفظ (بدعاية الاسلام) دي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٣١ - ٣٢، رقم: ٧، ومسلم ١٣\١٣٩٣ رقم ٧٤ - ١٧٧٣.

د لغاتو حل: الاريسيين: اى الاتباع. (پيروان)

تشريح: د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ په وخت كي د روم حكومت د خپل طاقت او عظمت په لحاظ د دنيا يو لوی طاقت او د شان او شوكت حكومت وو ، د روم د حكومت پلازمينه

قسطنطنیه وه او هغه وخت د یورپ د مختلفو هیوادو څخه پرته شام، فلسطین او مصر هم د هغه تر حکومت لاندي وه، قیصر د روم د پاچا لقب وو لکه څرنګه چي د ایران د پاچا لقب کسری، د حبشې د پاچا لقب نجاشي، د ترک د پاچا لقب خاقان، د قبط د پاچا لقب فرعون، د مصر د پاچا لقب عزیز او د حمیر پاچا ته به يې تبع ویل.

د رسول الله ﷺ د پیغمبری په زمانه کي د روم قیصر ته رسول الله ﷺ چي دا خط لیکلی وو د هغه نوم هرقل وو، څرنګه چي هرقل په خپل شاهي شان او شوکت کي ممتاز ګڼل کیدی همدارنګه د مذهبي علومو یعني تورات او انجیل لوی عالم وو، دحیه کلبي رضي الله عنه یو صحابي وو د هغه تر ټولو لوی خصوصیت دا وو چي حضرت جبرائیل علیه السلام به اکثر وختونه د هغه په شکل کي راتلی.

بُصری د شام د یو ښار نوم وو چي یو ډیر پر مخ تللی او تجارتي مرکز وو، رسول الله ﷺ په خپل ابتدائي ژوند کي دوه تجارتي سفرونه کړي دي چي په هغو کي يې یو سفر بصری ته هم کړی دی.

دحیه کلبي رضي الله عنه پر سفارت باندي په مامور کېدو سره د قیصر په نامه د رسول الله ﷺ خط مبارک وړل د شپږم یا اووم هجري کال د شروع پېښه ده، د روایاتو او تاریخ څخه ثابته ده چي قیصر روم د دغه خط مبارک تر دې حده اثر قبول کړی وو چي د رسول الله ﷺ د نبوت تصدیق يې کړی وو او د هغه په زړه کي د اسلام نور خپور سوی وو مګر د رعیت او د دربار د خلکو د بیري څخه او د تخت او تاج د د مینې په وجه هغه ړنا مړه پاته سوه او مسلمان نه سو، نقل سوي دي چي د هغه خط د ویلو څخه وروسته د دربار خلک په غصه سول نو دحیه کلبي رضي الله عنه ته يې وویل که ما ته د خپلو خلکو څخه د خپل ځان بېره نه وای نو ما به خامخا ستاسو د نبي اتباع کړې وای هغه (محمد ﷺ) بېله شکه نبي دی کوم چي موږ يې په انتظار وو.

ابن مالک رحمه الله وایي چي د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي د خط لیکلو دغه غوره طریقه ده چي د لیکني شروع دي په بسم الله سره وي او د خط لیکونکي نوم دي هم مخکي ولیکل سي، ملا علي قاري رحمه الله وایي چي دا خبره یوازي د حدیث څخه ثابته نه ده بلکه د قرآن کریم د دغه آیت (انه من سلیمان وانه بسم الله الرحمن الرحیم) څخه هم ثابتیږي.

هرقل مسلمان نه وو ځکه رسول الله ﷺ په خپل خط مبارک کي هغه ته په خطاب کولو سره سلام علیک ونه لیکل بلکه دا بلیغ طرز يې اختیار کړ چي سلام علی من اتبع الهدی (یعني پر هغه چا دي سلام دي چا چي د هدایت پیروي وکړه) دلته دې ته اشاره سوې ده چي د غیر مسلم

سره د خبري کولو پر وخت کنایة سلام کول جائز دي.

رسول الله ﷺ تولو مشرانو ته د اسلام د دعوت لیک واستوی

﴿٣٧٥٢﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ خپل لیک مبارک کسری (د ایران پاچا) ته ولیږئ

مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ

د عبد الله بن حذافه سهمي په لاس او عبد الله ته يې حکم ورکړ چي لیک د بحرین حاکم ته

فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَدَعَا

ورسوئ (نو هغه د بحرین حاکم ته ورسوئ) او د بحرین حاکم کسری ته ولیږی، کسری چي لیک ووایه نو ټیري یې کړ، او وه یې غورځوی، ابن مسیب وایي رسول الله ﷺ کسری او د

عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ. رواه البخاري

هغه پیروانو ته دا ښیرا وکړه چي ټوټې ټوټې سئ نو هغوی ټول ټوټې ټوټې سول. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٨\١٢٦، رقم: ۴۴۲۴.

تشریح: د روم په ډول فارس (ایران) هم د پخوانیو شهنشاهیت ځای وو او د آسیا یو عظیمه پاچاهي وه هغه وخت د سلطنت حدودو یوې خوا ته تر سنده پوري خپور سوی وو او د بلي خوا څخه د عراق او عربو اکثرو برخي لکه یمن، بحرین او عمان هم د فارس تر واک لاندي وه، د هغوی اخلاقي حالت هم د شاوخوا هیواد په ډول ډېر خراب وو، یزدان او اهرمن د نیکۍ او بدۍ دوه خدایان ګڼل کېدل او د اور عبادت د هیواد عام مذهب وو، د سلطنت د پاچا لقب به خسرو وو چي د هغه عربي لفظ کسری وو، رسول الله ﷺ خسرو یا کسری ته خط واستوی چي د هغه نوم پرویز وو چي د هرمز ابن نوشېروان زوی وو، په تاریخي روایاتو کي راځي چي هغه وخت د ایران دا رواج وو چي پاچاهانو ته به کوم خطونه استول کېدل نو په هغو کي به تر ټولو مخکي د پاچا نوم وو مګر دغه خط مبارک د الله ﷻ په نامه (بسم الله) سره شروع سوی وو او بیا د رسول الله ﷺ مبارک نوم وو ځکه د خسرو پرویز په مخکي چي وویل سو نو هغه سخت په غصه سو او وه یې ویل چي زما غلام ته داسي جرئت پیدا سو چي ما ته دا ډول خط لیکي او بیا په غصه

کېدو سره هغه خط يې څيري کړ ، د رسول الله ﷺ قاصد په حاضرېدو سره دا واقعه بيان کړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل همدارنګه دده حکومت په هم ټوټې ټوټې سي ، د خط مبارک سره د خسرو پرويز دغه خرابه رويه او پر هغه باندې د رسول الله ﷺ د ښېرا دا نتيجه سوه چي څه وخت وروسته د طبري رحمه الله د روايت سره سم په ۱۳ جمادي الاول ۷م هجري کال (۶۲۹ع) په شپه پرويز خپل زوی شيرويه قتل کړی او بيا شپږ مياشتي وروسته د هغه زوی شيرويه هم مړ سو همدارنګه پر دغه حکومت او سلطنت باندي د هميشه لپاره داسي عذاب نازل سو چي لږ وخت وروسته د زرګونو کلونو دعظيم الشان سلطنت ټوټې ټوټې سو .

﴿۳۷۵۳﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى كِسْرَى وَإِلَى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ کسری (د فارس او ايران پاچا) ،

قَيْصَرَ وَإِلَى النَّجَاشِيِّ وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم

قيصر (د روم پاچا) ، نجاشي (د حبش پاچا) او د هر ظالم او سرکښ په نامه خطونه وليکل چي په هغو کي يې د اسلام قبلولو بلنه ورکړې وه او هغه نجاشي چي رسول الله ﷺ دا خط ورته ليږلی وو هغه نجاشي نه دئ چي پر هغه رسول الله ﷺ (غائبانه) د جنازې لمونځ کړی وو . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۳۹۷، رقم: ۷۵- ۱۷۷۴.

تشريح: د روايت د آخري برخي مقصد د هغه خلکو د خيال رد کول دي کوم چي د هغوی په نزد هغه نجاشي چي خط ور استول سوی وو د هغه نوم اصحمه وو چي د رسول الله ﷺ فرمانبردار او د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه وو ، کله چي مدينې ته د هغه د وفات خبر راغلی نو رسول الله ﷺ وفرمايل چي هغه صالح سړی او ستاسو ورور اصحمه په حق رسيدلی دی ولاړ سئ او د هغه د جنازې لمونځ وکړی نو رسول الله ﷺ د هغه غائبانه د جنازې لمونځ ورکړ مګر د ځينو محققينو په نزد ددغه ترديد ضرورت نه سته ځکه چي هغوی وايي چي رسول الله ﷺ دواړو نجاشيانو ته خطونه استولي دي مخکي يې د اصحمه په نامه استولی وو او بيا د اصحمه څخه وروسته چي کوم سړی نجاشي سو هغه ته هم رسول الله ﷺ خط واستوی .

اوس پاته سوه دا خبره چي څرنګه چي اول نجاشي يعني اصحمه مسلمان سوی وو ايا دوهم نجاشي هم مسلمان سوی وو که يا ؟ په دې باره کي مختلف روايات دي د ځينو په نزد هغه

هم مسلمان سوی وو مګر ځيني حضرات وايي چي هغه مسلمان سوی نه وو.
مخکي د قيصر او کسری په باره کي ذکر سوی دی ځکه د نجاشي په باره کي هم يو څو خبري ذکر کول ضروري دي، حبش د عربو جنوب خوا ته په ختيځه افريقه کي د يو هيواد نوم دی، د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ په وخت کي د دغه هيواد حکمران اصحمه وو، اصحمه او د هغه هيواد وال عيسايان وه، حبش په اصل کي عربي نوم دی او په يوناني کي دې ته اتهوپيا وايي او د دنيا په اوسنۍ نقشه کي هم د اتهوپيا په نامه مشهوره دی، په حبشي ژبه کي پاچا ته نجوس وايي نجاشي د دغه نجوس معرب دی.
په اسلامي تاريخ کي د هغه وخت د حبشيانو ذکر په ډېر عزت، احترام او شکر ګزارۍ سره کيدی ځکه چي رسول الله ﷺ د خپل پيغمبرۍ څخه سمدستي وروسته دنيا د الله ﷻ د آخري دين خوا ته راوبلل او د خپل رسالت اعلان کولو سره يې دنيا ته د خپل اطاعت دعوت ورکړ او په کراره کراره د مکې خلک د رسول الله ﷺ په اطاعت کي داخلېدل شروع سول او همدارنګه د الله ﷻ د نامه بېرغ لوړېدل شروع سول نو د مکې کفارو دا ونه زغمل او دهغوی له خوا د مکې مکرمې مځکه يې پر مسلمانانو باندي د يوه الله ﷻ د نامه اخيستلو په جرم کي تنګه کړل، هغه وخت کله چي د مکې د قريشو ظلمونه د انسانيت د حد څخه ووتل او د توحيد پر مؤمنانو باندي د ظلم او ستم انتهاء وسوه او رسول الله ﷺ مسلمانانو ته په د مکې څخه په هجرت کولو سره د تللو اجازه ورکړه نو دا حبش وو چي د خپل هيواد دروازې يې د مظلومو مسلمانانو لپاره په پراخ زړه سره خلاصي کړې او هغوی ته يې په خپل مځکه کي په ډېر عزت او احترام سره پناه ورکړه.
د مسلمانانو اولي قافلې چي د مکې مکرمې څخه هجرت وکړ د حضرت عثمان غني رضي الله عنه په مشرتابه کي حبشې ته ورسيدل د دې څخه وروسته دوهمه قافله حبشې ته ورسيدل او د هغو مشر د حضرت علي رضي الله عنه ورور حضرت جعفر طيار رضي الله عنه وو، په دغه دوهم وار رسول الله ﷺ د حبشې د پاچا په نامه يو خط واستوی او د ځينو تاريخ پوهانو د قول سره سم د نبي کريم ﷺ په خطونو کي دغه اول خط مبارک وو، په دې کي نجاشي ته يوازې د اسلام دعوت نه وو ورکړل سوی بلکه د دې نصيحت هم ورته سوی وو چي هغه د حکومت د غرور او تکبر په پرېښودو سره حبشې ته د پناه اخيستلو لپاره د ورتلونکو مظلوم مکې مسلمانانو سره تواضع وکړي، د مکې قريشو دا هم ونه زغمل چي مسلمان په حبشه کي د امن او سکون ژوند تېر کړي ځکه هغوی د مکې د معززو کسانو يو وفد د عمرو بن العاص په ډول موقع شناس او پوهانو په مشرتابه کي د

حبشې پاچا ته واستول چي هغه مهاجرين مسلمانان د حبشې څخه بېرته راواستوي او په مکي کي هغوی بیا د ظلم نښنه سي ، هغه وفد د حبشې د پاچا په مخکي د مسلمانانو پر خلاف شکايت وکړ او د نجاشي د غصې کولو لپاره يې دا وويل چي : دا خلک عجيب او غريب عقائد لري چي په هغه باندي نه موږ خبر يو او نه تاسو .

د حبشې پاچا نجاشي د وفد پر دغه شکايت باندي د مهاجرينو څخه د حقيقت معلومولو لپاره وويل او د هغوی څخه يې د هغه عقيدو پوښتنه وکړل ، په دغه وخت کي حضرت جعفر طيار رضي الله عنه يو په زړه پوري تقرير وکړ چي هغه د حق ويني او بې باکي او په يو شاهي دربار کي د اسلامي عقائدو او نظرياتو د جرئت څخه ډکه ذريعه کېدو په وجه يوازي په اسلامي تاريخ کي يو قيمتي سرمايه نه ده بلکه د دنيا د ادبي تاريخ يو زريني ورقي او د خطابت د فن او تقرير يو قيمتي شاهکار هم دی، هغه د حبشې پاچا ته وفرمايل : اې شاه ذي جاه: موږ ډېر جاهل قوم وو ، د مصنوعي او خپل په لاسو جوړو سوو بتانو عبادت زموږ مذهبي شعار وو ، مردار خوري، بد کاري او بې رحمتي زموږ د ټولني اهم جزء ګرځېدلی وو موږ نه د همسايه په حقوقو خبر وو او نه د آخرت او همدردی دجذبې سره اشنا وو ، هر طاقتو به زموږ د کمزوري پر هضم کولو فخر کوی دا زموږ د ژوند معيار وو ، زموږ د دغه تباهی حال د ډېره وخت څخه قائم وو چي ناڅاپه الله جل جلاله زموږ قسمت بدل کړ او موږ ته يې يو داسي پيغمبر راواستوی چي د هغه د نسب او حسب څخه موږ هم خبر يو چي د هغه د صداقت او امانت حال موږ ته معلوم دی او د هغه عفت او پاک لمني هر وخت زموږ په نظر کي ده ، هغه راغلی او موږ ته يې هدايت وکړ ، هغه ځلانده شمع راته وښوول چي هغه زموږ د سترګو څخه د بدکاري او جهالت د تياري پردې وشکولې .

دغه پيغمبر موږ ته وښوول چي تاسو يوازي د يوه الله جل جلاله عبادت کوئ او هغه خپل خالق او مالک وګڼئ ، د بتانو عبادت پرېږدئ دغه په خپل لاس جوړ سوي معبودان نه تاسو ته ګټه رسولای سي او نه تاوان ، په ياد ولرئ د ګمراهی بنياد د پلار او نيکه په پټو سترګو تقليد دی .

هغوی موږ ته تعليم راکړ چي همېشه رېښتيا واياست، په امانت کي هيڅکله خيانت مه کوئ ، د همسايه سره همېشه ښه چلن او همدردي خپل شعار وګرځوئ، وينه تويول او د الله جل جلاله حرام کړي شيانو څخه ځان وساتئ ، فحش او دروغ مه واياست ،د يتيم مال مه خورئ او پر پاک لمنو ښځو باندي تهمت مه واياست د يوه الله جل جلاله عبادت کوئ ، روژه نيسئ او د خپل مالو زکوٰة ورکوئ، اې پاچا ! دغه نبي موږ د داسي نورو ډېرو غوره کارو تعليم راکړی دی موږ د هغه تصديق وکړ او هغه مو د الله جل جلاله پيغمبر ومنی او ايمان مو پر راوړئ او څه چي هغه د الله جل جلاله

حکم موږ ته واوري موږ دهغه پیروي وکړه ، موږ الله ﷻ یو ومنی او د شرک څخه مو توبه وکښل ، حلال مو حلال وګڼل او حرام مو حرام وګڼل ، او همدا زموږ جرم دی چي موږ یې د خپل هیواد پرېښودو باندي مجبور کړو او موږ ستاسو هیواد ته په راتللو سره پناه اخیستې ده .

د حبشې پر پاچا باندي ددغه حقیقت او بصیرت څخه ډک تقریر ډېر اثر وسو ، هغه د قریشو وفد ته جواب ورکړ چي داسي د پاکو عقیدو لرونکي نیک خلک زه په بېرته استولو سره د ظالمانو دظلم او ستم ښکار کولای نه سم .

د شپږم هجري کال په پای کي رسول الله ﷺ د صلح حدیبیه څخه وروسته مدینې منورې ته بېرته راغلی او په اووم هجري کال د محرم په میاشت کي رسول الله ﷺ د نړۍ د پاچاهانو په نامه خطونه واستول . د حبشې پاچا ته یې بیا یو خط واستوی او حضرت عمرو ابن امیه ضمري رضي الله عنه د رسول الله ﷺ خط مبارک د حبشې دربار ته ورسوی اول خو هغه د نجاشي په مخکي د اثر څخه ډک یو تقریر وکړ چي په هغه کي د نجاشي د مشفقانه روې څخه د اطمینان اظهار وسو چي هغه د مکې د مظلومو مسلمانانو په باره کي اختیار کړې وه بیا د اسلامي عقائدو او د رسول الله ﷺ د پیروۍ اختیارو مؤثر تبلیغ کولو څخه وروسته هغه وویل چي :

د رسول الله ﷺ له خوا زما په ډول نور ډېر خلک مختلفو پاچاهانو ته د اسلام د دعوت لپاره استول سوي دي مګر د رسول الله ﷺ چي کوم امید ستاسو څخه دی د نورو څخه داسي امید نه سته ستاسو څخه په دې باره کي پوره اطمینان دی چي تاسو به د ځان او د الله ﷻ په مینځ کي د خپل مخکنۍ نیکۍ او د راتلونکي اجر او ثواب لحاظ وساتئ .

لږ وخت مخکي د حضرت جعفر طیار رضي الله عنه د معجز بیان څخه نجاشي د اسلام د دعوت څخه خبر سوی وو اوس د حضرت عمرو ابن امیه رضي الله عنه مؤثر تبلیغ د هغه په سینه کي د ایمان شمع روښانه کړه هغه د شاهي تخت څخه په راکښته کېدو سره پر مځکه کښېنستی خط مبارک یې په لاس کي په اخیستو سره مچ کړ او پر دواړو سترګو یې وموږی بیا یې ژباړونکی (ترجمان) را وغوښتی او دهغه د ترجمه کولو حکم یې ورکړ ، نجاشي د رسول الله ﷺ فرمان اوریدی او متاثر کیدی ، کله چي مضمون ختم سو او د هغه په مقصد خبر سو نو د ډېره شوق څخه یې د خط مبارک په مچولو سره پر سر کښېښودی او وه یې ویل (اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله) او بیا یې وویل که چیري زه خپله تللای سوای نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي به حاضر سوی وای ، بیا هغه خپل زوی ارها د تحفو سره د رسول الله ﷺ دربار ته واستوی مګر په بد قسمتۍ سره ارها په لاره کي وفات سو او د رسول الله ﷺ دربار ته ونه رسیدی .

ددې څخه وروسته بیا رسول الله ﷺ حضرت عمرو ابن امیه ضمري رضي الله عنه ته د نجاشي په نامه خپل یو بل خط واستوی ، نجاشي دغه مبارک خطونه په احتیاط سره د فیل د غانښ په یو صندوق کي په خوندي کولو سره په خپل خزانه کي اېښودل ، نجاشي وویل تر څو چي دغه فرمان موجود وي زما یقین دی چي د حبشې خلک به مامون او خوندي وي نو تر څو چي دغه مبارک خطونه د حبشې په خزانه کي موجود وي د سلطنت هر والي به ددغه خطو ډېر تعظیم او تکریم کوی او د ټول هیواد خلکو ته به ددغه خطو په ذریعه برکت تر لاسه کیږي .

د جهاد کونکو لپاره درې هدایات

﴿۳۷۵۴﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

حضرت سلیمان بن بریدة رضي الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چي کله به رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ أَوْ سَرِيَّةٍ أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللَّهِ

پر یو لوی لښکر یا کوچني لښکر یو څوک امیر و ټاکی نو هغه ته به یې په خاصه توګه دا نصیحت کوئ چي د الله جل جلاله څخه بیره کوئ

وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا ثُمَّ قَالَ اغْزُوا بِاسْمِ اللَّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَاتِلُوا

او کوم مسلمانان چي به د هغو سره تلل د هغوی په اړه یې دا وصیت فرمایه چي د هغوی سره غوره چلن کوئ او ددې وروسته به یې دا حکم ورکوی چي د الله جل جلاله په نامه د الله جل جلاله په لاره کي د هغه سړي سره وجنګیږي

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ اغْزُوا وَلَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تَمْثُلُوا وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا وَإِذَا

چي هغه د الله جل جلاله سره کفر وکړ، او جهاد کوئ او (غنیمت د مال په ویشلو کي) خیانت مه کوئ او مه ټګي کوئ ، او مه مثله (پزه یا غوږ پریکول) کوئ او کوچنیان مه وژنئ ، او اې امیره !

لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ أَوْ خِلَالٍ فَأَيَّتُهُنَّ مَا

هر کله چي ته د خپل دښمن مشرکانو سره مخامخ سې نو هغوی ته د درو خبرو دعوت ورکړه بیا په دې خبرو کي چي کومه خبره هغوئ

أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلَامِ فَإِنْ أَجَابُوكَ

قبوله کړي نو هغه منظوره کړه او جنګ بند کړه او تر ټولو وړاندي هغوی ته د اسلام دعوت ورکړه که هغوی اسلام قبول کړي

فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ

نو ته يې منظور کړه او بيا ورسره جنګ مه کوه او که هغوی اسلام قبول نه کړي نو بيا هغوی ته د دارالحرب (د کافرانو د وطن) څخه

الْمُهَاجِرِينَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذٰلِكَ فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا

دارالاسلام (د مسلمانانو حکومت) په لور د راتللو دعوت ورکړه او هغوی ته وښيه که هغوی دارالاسلام ته راسي نو د هغوی به هغه حقوق وي کوم چي

عَلَى الْمُهَاجِرِينَ فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ

د مهاجرينو وي او د هغوی پر ذمه به هغه فرائض وي کوم چي د مهاجرينو پر ذمه دي، که هغوی د دې څخه هم انکار وکړي نو هغوی خبردار کړئ چي د هغوی سره به د صحرايي

الْمُسْلِمِينَ يَجْرِي عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ الَّذِي يَجْرِي عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَكُونُ

مسلمانانو په ډول سلوک کيږي يعني پر هغوی به د الله تعالى هغه حکم جاري کيږي کوم چي پر ټولو مسلمانانو جاري دي (مثلا لمونځ، زکوة، قصاص او ديت وغيره)

لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ فَإِنْ هُمْ أَبَوْا

او مال غنيمت او د هغه مال څخه چي د کافرانو څخه تر لاسه سي هغوی ته به هيڅ حصه نه ورکول کيږي مګر کله چي هغوی د مسلمانانو سره جهاد کوي، نو د هغه څخه به هم حصه ورکول کيږي، که هغوی د دې څخه هم انکار وکړي

فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ فَإِنْ هُمْ أَبَوْا

نو د هغوی څخه جزيه (محصول) و غواړي، که هغوی جزيه قبوله کړي نو ته يې منظوره کړه او

د جنګ څخه لاس واخله او که هغوی جزیه هم قبوله نه کړي

فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَقَاتِلْهُمْ وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ

نو بيا د الله تعالى څخه مرسته و غواړه او د هغوی سره جګړه وکړه ، او کله چي ته د هغوی يوه قلعه محاصره کړې (يا يو آبادي ونيسې) او د هغه ځای خلک ستا سو څخه

ذِمَّةَ اللَّهِ وَذِمَّةَ نَبِيِّهِ فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللَّهِ وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهِ وَلَكِنْ اجْعَلْ لَهُمْ

د الله تعالى او د هغه د نبي ﷺ ذمه (عهد) و غواړي نو ته د الله تعالى او د هغه د نبي عهد هغوی ته مه ورکوه

ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ أَصْحَابِكَ فَإِنَّكُمْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَمَكُمْ وَذِمَمَ أَصْحَابِكُمْ أَهْوَنُ

بلکه خپل عهد او د خپلو ملګرو عهد ورکړه ، له دې کبله که ته خپل او د خپلو ملګرو عهد مات

مِنْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَّةَ اللَّهِ وَذِمَّةَ رَسُولِهِ وان حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ

کړې نو د الله تعالى او د هغه د رسول د عهد ماتولو څخه به دا غوره وي ، او هر کله چي ته د يوې قلعې خلک محاصره کړې او هغوی دا خواهش وکړي چي

تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ فَلَا تُنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِكَ

فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَتُصِيبُ حُكْمَ اللَّهِ فِيهِمْ أَمْ لَا . رواه مسلم .

د الله جل جلاله په حکم د هغوی محاصره پورته کړي نو ته د الله جل جلاله په حکم محاصره مه پورته کوه بلکه خپل رايه او په خپل حکم سره محاصره پورته کړه ځکه چي تا ته نه ده معلومه ده چي د الله جل جلاله حکم څه دئ .مسلم.

تخريج صحيح مسلم ۳\۱۳۵۷، رقم: ۳- ۱۷۳۱.

دلغاتو حل تخفروا: اى تنقضوا (مات کړئ).

تشريح په دغه حديث شريف کي د هغه قاعدې اظهار سوی دی کوم چي د اسلام د دښمنانو پر خلاف د جهاد کولو په باره کي شريعت جاري کړې ده او هغه قاعده داده چي کله د دښمن مخته راسي نو تر ټولو مخکي هغه ته د اسلام بلنه ورکړئ که هغه د اسلام بلنه قبوله نه کړي نو د هغه

ځخه دا غوښتنه وکړئ چي د محصول په ادا کولو سره د اسلامي هيواد وفادار اوسيدونكى جوړ سي او كه دې ته هم تيار نه سي نو بيا په آخري صورت كي د هغه پر خلاف جهاد كول دي.

ثم ادهم ...الخ: (بيا هغوى ته د اسلام دعوت وركړه) : ددغه جملې څخه د هغه درو شيانو اظهار شروع كيږي كوم چي د هغه تعلق د ذكر سوې قاعدې سره دى او لفظ د ثم په فرمايلو سره د لښكر امير ته خطاب كول مقصد دي چي كله تا دغه درې شيان په اجمالي توګه و پيژندل نو اوس ددغه درو شيانو تفصيلي حكم باندي هم پوه سه او هغه دا چي اول هغوى ته د اسلام دعوت وركړه بيا د محصول غوښتنه وكړه او كله چي هغوى په دغه دواړو كي هيڅ شى قبول نه كړي نو بيا دهغوى پر خلاف جهاد وكړه .

امام نووي رحمه الله وايي چي د مسلم په ټولو نسخو كي (ثم ادعهم) دى مګر قاضي عياض رحمه الله ويلي دي چي ددغه روايت زيات صحت په دې كي معلوميږي چي دا (ادعهم) وي يعني د ثم لفظ نه وي ، په كتاب ابوعبيد او سنن ابوداؤد او داسي نورو كي هم دغه لفظ د ثم څخه پرته نقل سوى دى ځكه چي ددغه جملې څخه په اصل كي د درو شيانو وضاحت بيانيږي نه دا چي د هغه درو شيانو څخه پرته د يو بل شي وضاحت كول مقصد وي ، مازري رحمه الله وايي چي دلته لفظ د ثم د معنى په اعتبار زيات دى مګر په جمله كي ددې استعمال د مخكي كېدونكي خبري د شروع په توګه دى او دا په هغه درو شيانو كي د اول شي د وضاحت او بيان لپاره دى او تر مع المسلمين پوري ددې تتمه ده ، ددې څخه وروسته دوهم شى يعني د محصول (جزيې) غوښتنه كول او بيا دريم شى جهاد كول دي .

رسول الله ﷺ چي دا حكم وفرمايه كه هغه خلک د اسلام د عوت قبول كړي نو هغوى ته د هجرت كولو دعوت وركړه، د ځينو حضراتو په نزد ددغه حكم بنياد دادى چي د مكې د فتح څخه مخكي هجرت كول د اسلام يو ركن وو .

هغوى ته به هغه حقونه تر لاسه كيږي ...الخ : يعني د مدينې مهاجرينو ته چي كوم ثواب او فضيلت او د فئ د مال كوم حق وركول كيږي دا ټول به تاسو ته هم حاصليږي نو د رسول الله ﷺ په زمانه كي مهاجرينو ته دغه حق په دې توګه حاصل وو چي هغوى ته د امام له خوا د جهاد پر حكم كېدو باندي د جهاد لپاره د وتلو په وخت كي به په هغوى باندي د فئ مال مصرف كيدى او د دښمن په مقابله كي د جنګ كونكو شمېر به زيات وو يا كم وو ، پر خلاف د غير مهاجرينو چي هغوى ته دا حق حاصل نه وو ځكه چي د دښمن په مقابله كي د جنګ كونكو مسلمانانو شمېر د كافي كېدو په صورت كي پر هغوى باندي د جهاد لپاره وتل واجب نه وه نو ددغه

ارشاد : (وعليهم ما على المهاجرين) او پر هغوی به هغه ذمه داري عائد کيږي ...الخ: ددې مطلب هم دادی ځکه چي د ذمه دارۍ څخه مراد جهاد دی.

د صحرائي مسلمانانو څخه مراد هغه مسلمانان دي کوم چي د دارالاسلام په صحرا او ځنګلو کي اوسيږي نه په دار الکفر کي او سيدونکي صحرائي مسلمانان.

د غنيمت او فئ يوه معنی ده يعني هغه مال چي د کفارو څخه مسلمانانو ته په لاس راسي مګر ځينو حضراتو په دواړو کي دا فرق کړی دی چي د غنيمت مال هغه مال ته وايي کوم چي د جنګ په ذريعه او په تکليف سره د کفارو څخه تر لاسه کيږي او فئ هغه مال ته وايي چي کوم د جنګ او تکليف څخه ماسوا د کفارو څخه په لاس راسي.

که ته خپل او د خپلو ملګرو د امان عهد مات کړې ...الخ : ددې مطلب دادی که چيري ته هغوی ته د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له خوا د امان عهد ورکړې او هغوی (کفار) هغه عهد او امان يو وخت مات کړي په دې توګه چي هغوی د شرطونو پوره کولو څخه انکار وکړي چي د هغه په بنياد د هغوی سره عهد سوی دی نو په دغه صورت کي ستا لپاره د هغوی په باره کي يو فيصله کول به مشکل وي تر دې چي تا ته د وحي يا د رسول الله ﷺ په ذريعه د هغوی په باره کي د يو فيصلې کولو اجازه وکړل سي چي هغه وخت به ممکن نه وي ځکه چي ته به د وحي نازلېدو د ځای يعني د رسالت د دربار څخه ليري يې ددې پر خلاف که ته هغوی ته خپل او د جهاد د ملګرو له خوا د امان عهد ورکړې او هغوی د شرطونو او معاهدې په خلاف ورزي کولو سره هغه عهد مات کړي نو په دغه صورت کي ستا لپاره د هغوی په باره کي فيصله کي به مشکل نه وي چي ته د هغوی د بيا محصرې کولو سره هغوی قتل کړې که دي خوښه وي نو د محصول غوښتنه ځيني وکړه او که دي خوښه وي بنديان يې کړه، يا ددې څخه ماسوا د هغوی پر خلاف د حکمت سره سم کوم اقدام کول چي وغواړې په هغه کي به تا ته پوره اختيار وي.

د زوال وروسته د جنګ شروع کولو حکمت

﴿٣٧٥٥﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَوْفٰى اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ

د حضرت عبد الله بن ابي اوفی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د جنګ په ورځو کي (يو

اَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا العدو انْتَظَرَ حَتّٰى مَالَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ

وار) انتظار وکړ (يعني د دښمن سره يې د ورځي په پيل کي جنګ ونه کړ) کله لمر پر زوال سو

نو رسول الله ﷺ د خلکو په منځ کې ودریدئ

فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللَّهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ

او وه يې فرمايل : اې خلکو ! د دښمن سره د جنګ کولو ارزو مه کوئ بلکه د الله ﷻ څخه امن او عافيت غواړئ او هر کله چې د دښمن سره جنګيږئ

فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ

نو د صبر څخه کار اخلئ او دا دې خبرې يقين ساتئ چې جنت د تورو تر سايې لاندې دئ . بيا رسول الله ﷺ دا دعاء وکړه : اې الله ! د کتاب نازل کونکې !

وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ . متفق عليه

د وريځې چلونکې ! د دښمن ډلې ته ماته ورکونکې ! اې الله دښمن ته ماته ورکړې او د کافرانو په مقابله کې زموږ مرسته وکړې . بخاري او مسلم .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٣٠، رقم: ٢٩٦٥، ومسلم ٣\١٣٦٢، رقم: ٢٠ - ١٧٤٢.

تشريح د لمر تر زواله پورې په جنګ نه کولو کې دا حکمت وو چې د غرمې څخه وروسته کله چې لمر زوال سي نو د ګرمۍ په تيزۍ کې کمې راځي او هوا چلېدل شروع سي چې فرحت رسوي او همدا رنګه هغه وخت د طبيعت د خوشحالۍ وي دوهم دا چې هغه د لمانځه او دعاء وخت هم وي . په حديث شريف کې راغلي دي چې هغه وخت د آسمان دروازې خلاصيږي او د انسانانو اعمال پورته کيږي نو په داسې وخت کې کله چې د انوارو او برکاتو او فتح او نصرت د نزول اميد کيداې سي . رسول الله ﷺ وغوښتل جهاد چې غوره عمل دې په دغه برکت ناکه وخت کې وکړل سي .

رسول الله ﷺ به تر سهار کېدو مخکې پر دښمن حمله نه کول

﴿٣٧٥٦﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ زموږ سره جهاد کوئ

يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ اليهم فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ وَإِنْ لَمْ

نو د سهار کېدو څخه مخکې به يې پر دښمن حمله نه کول . کله چې به سهار سو نو رسول الله ﷺ

به د دښمن پر ډلي نظر واچوئ كه د هغوى څخه به د آذان اواز راغلئ نو د جنګ څخه به منع سول

يَسْمَعُ أَذَانًا أَغَارَ عَلَيْهِمْ قَالَ فَخَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ لَيْلًا فَلَمَّا

او كه د اذان اواز به نه راغلى نو پر هغوى به يې حمله كول، د حضرت انس ﷺ بيان دئ چي موږ د خيبر په لور ولاړو او خيبر ته موږ د شپې په وخت كي ورسيدو ، كله چي

أَصْبَحَ وَلَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا رَكِبَ وَرَكِبْتُ خَلْفَ أَبِي طَلْحَةَ وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ

سهار سو او د آذان اواز نه واوريدل سو نو رسول الله ﷺ پر سپرلى سپور سو او زه د ابو طلحه سره د هغه پر سپرلى شاته كښېنستم زه د رسول الله ﷺ سپرلى ته دومره نږدې وم چي زما پښې

قَدَمَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَخَرَجُوا إِلَيْنَا بِمَكَاتِلِهِمْ وَمَسَاحِيهِمْ

د رسول الله ﷺ د قدم مبارك سره لګېدلې ، انس ﷺ وايي د سهار كېدو سره د خيبر خلك د ټوكرو او كودالو سره زموږ په لور راغلل (يعني خپلو مځكو ته چي هغوى زموږ د راتلو څخه نا

فَلَمَّا رَأَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ

خبره وه) كله چي هغوى نبي كريم ﷺ وليدئ نو وه يې ويل محمد (راغى) قسم په خداى محمد (راغلى) او د هغوى لښكر هم (په دې ويلو سره)

فَلَجَأُوا إِلَى الْحِصْنِ فَلَمَّا رَآهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ

هغوى وتښتېدل او په قلعه كي يې پناه واخيستل، رسول الله ﷺ چي هغه خلك په تښتېدو وليدل

أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ

الْمُنْذَرِينَ . متفق عليه

نو وه يې فرمايل الله جل جلاله ډير لوى دئ الله جل جلاله ډير لوى دئ خيبر خراب سو ، البته موږ (يعني مسلمانان) چي كله د يو قوم ميدان كي كښېنو نو د هغه بيري وهلى قوم سهار خراب سي . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\ ٨٩- ٩٠، رقم: ٦١٠، ومسلم ٣\ ١٤٢٦، رقم: ١٢٠- ١٣٦٥.

د لغاتو حل مکاتلهم: جمع مکتل وهو الزنبیل الکبیر. مساحیهم: جمع مسحاة وهي المجرفة من الحدید

تشریح په دغه حدیث شریف کي د رسول الله ﷺ د جنګ دا معمول بیان سوی دی چي کله به یې د دښمنانو پر سیمه باندي د حملې کولو اراده وکړه نو د صبح صادق ختلو څخه وروسته به یې د هغه سیمي په باره کي فکر کوی او د سیمي د اوسیدونکو حالات او د هغوی په ذریعه به یې د هغوی د عقېدو معلومات کوی چي دا کوم خلک دي ، که چیري رسول الله ﷺ ته به دا معلومه سوه چي دا د کفارو سیمه ده مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ به محض د دغه احتمال په فکر کولو سره چي کیدای سي په دغه سیمي کي مسلمانان هم وي ، که چیري رسول الله ﷺ به د هغه سیمي څخه د سهار اذان واوریدی نو دا به یې ګڼل چي یا خو دغه سیمه د مسلمانانو ده او یا په دغه سیمه کي مسلمانان هم دي ، رسول الله ﷺ به د حملې کولو اراده موقوف کړل او هغه سیمه به یې جنګي شغلو ته نه سپارل ، مګر کله چي به یې اذان نه واوریدی نو بیا به یې حمله پر کول او هغه به یې په جنګي میدان بدلول ځکه چي په هغه زمانه کي دا تصور هم نه سو کیدای چي مسلمانان دي اذان پریږدي ځکه چي د هغه سیمي له خوا د اذان اواز نه راتلل ددې خبري واضح دلیل وو چي دغه سیمه د الله ﷻ د نامه اخیستونکو څخه بالکل خالي ده او دلته یوازي د کفر هستوګنه ده، خطابي رحمه الله وایي چي دا ددې ټینګ دلیل دی چي آذان د اسلام د شعائرو څخه دی او ددې پرېښودل بالکل جائز نه دي بلکه که چیري د یو ښار خلک د اذان پر پرېښودو باندي اتفاق وکړي او آذان کول پریږدي نو په دغه صورت کي د وخت امام او د اسلامي هیواد پاچا باندي واجب دي چي د هغوی جنګ او قتال وکړي او هغوی د دغه عامي ګمراهۍ څخه وساتي .حنفي فقهاؤ هم داسي لیکلي دي .

په دې کي هیڅ شک نه سته چي کله موږ د یو قوم میدان ته ورځو ...الخ: دا مستانفه جمله ده چي د مخکنۍ خبري یعني د خیبر د بربادۍ وضاحت کول او د هغه وجه بیانول دي .

بېرول سوی قوم : ددې څخه مراد کفار دي ، ددغه جملې څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي پر هغوی باندي د قتل او سختي ګرمۍ په صورت کي د الله ﷻ له خوا د نازلېدونکي عذاب په وجه د هغوی سهار ډېر خوفناک سوی دی او رسول الله ﷺ دا خبره د قرآن کریم ددغه آیت کریمه څخه کړې ده چي :

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ أَفَرَأَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ ثُمَّ جَاءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ مَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ وَمَا أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ .

ژباړه : ایا دغه کفار زموږ د عذاب لپاره تلوار کوي کله چې د هغوی په میدان کې زموږ عذاب نازل سي نو د هغوی سهار به خراب وي څوک چې بېرول سوي وي .

امام نووي رحمة الله عليه وايي چې د دغه حديث څخه معلومه سوه چې د دښمن مقابلې ته د رسيدو په وخت کې د تکبير نعره (الله اکبر) ويل مستحب دي او د داسې وخت په ډول د حالاتو په محققه امورو کې د قرآن کريم په ذريعه استشهاد جائز دي نو ددې په ډول هغه صورت وو کله چې رسول الله ﷺ د مکې د فتح په وخت کې ويلي وه : (جاء الحق و زهق الباطل) : حق راغلی او باطل باطل سو .

علماؤ ويلي دي چې د قرآن کريم څخه داسې استشهاد کول چې په محاوراتو کې د ضرب المثل په توګه وي ايا د لغو او بې ګټې خبرو او کلام په دوران کې مکروه دي ، ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي زموږ ځينو علماؤ ددې وضاحت کړی دی چې د يو سړي د خپل يو مفهوم د ادا کولو لپاره د خپل الفاظو پر ځای د الله تعالی کلام يعني د قرآن کريم يو آيت يا يوه ټوټه استعمالول کفر دي لکه يو سړی خپل مخاطب ته چې د هغه نوم يحيی وي د يو کتاب يا بل شي ورکولو په وخت کې داسې ووايي : (يا يحيی خذ الکتاب بقوة) ، دا په اصل کې د آيت کريمه يوه ټوټه ده چې د هغه ترجمه داده : اې يحيی! دا کتاب په ټينګې سره ونيسه ، يا يو سړی خپل مخاطب د خوراک کولو لپاره يا د مخته ويلو لپاره ويل غواړي نو په خپل الفاظو سره چې ووايه يا وخوره ددې پر ځای بسم الله ووايي يا په داسې بل صورت کې د قرآن کريم الفاظ استعمالول .

ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي چې د رسول الله ﷺ (جاء الحق و زهق الباطل) ويل د استشهاد په توګه نه وو بلکه په اصل کې د امتثال امر په توګه وو چې الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم ورکړی وو (قل جاء الحق و زهق الباطل) يعني اې محمد ! (ﷺ) ووايه چې حق راغلی او باطل ولاړی .

خلاصه دا چې دا ډول څومره منقولات چې د رسول الله ﷺ ثابت دي هغه په اصل کې د الله تعالی د حکم اطاعت او پر ځای راوړل دي او دا مستحب دي .

د ماپښين په وخت کې د جنګ شروع

﴿٣٧٥٧﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ شَهِدْتُ الْقِتَالَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه څخه روايت دئ چې زه د رسول الله ﷺ سره په جنګ کې ملګری

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ انْتَظَرَ حَتّٰى تَهُبَّ الْأَرْوَاحُ وَتَحْضُرَ الصَّلٰوةَ. رواه البخاري.

و م. رسول الله ﷺ چي به په کومه ورځ د سهار په خت کي جنګ ونه کړي نو تر هغه وخته پوري به يې انتظار کوی چي بادونه به راوالوتل او د لمانځه (يعني ماپښين) وخت به راغلی. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥٨، رقم: ٣١٦٠.

د لغاتو حل الارواح: جمع ريح.

تشريح د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د ماپښين په وخت کي د جنګ شروع په هغه صورت کي کېدل کله چي به په يو وجه د سهار په وخت کي جنګ شروع نه سو، په ظاهره دا معلوميږي چي د جنګ شروع به د حالاتو او حکمت سره سم کېدل که چيري د حالاتو تقاضا به د سهار په وخت کي د جنګ کولو وه نو د سهار په وخت کي به جنګ کېدی او که چيري په يو وجه د سهار په وخت کي جنګ مناسب نه وو نو بيا د غرمې د زوال څخه وروسته به جنګ شروع کيدی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　(دوهم فصل)

د لمر د زوال څخه وروسته جنګ

﴿١٠-٣﴾: عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ أَوَّلَ النَّهَارِ اِنْتَظَرَ حَتّٰى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَهُبَّ الرِّيَاحُ وَيَنْزِلَ النَّصْرُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت نعمان بن مقرن ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره په غزاګانو کي شريک سوی وم. کله چي به رسول الله ﷺ د ورځي په لومړني برخه کي جنګ نه کوی نو انتظار به يې کوی کله چي به لمر زوال سو بادونه به راوالوتل او مرسته به نازله سوه نو جنګ به يې پيل کړ. ابو داؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\١١٣، رقم: ٢٦٥٥.

د رسول الله ﷺ د جنګ وختونه

﴿۳۷۵۹﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

حضرت قتادة رضي الله عنه د نعمان بن مقرن رضي الله عنه څخه روایت کوي چي هغه وویل ما د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کي جنګونه کړي دي ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ أَمْسَكَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتْ

کله چي به سهار سو نو تر لمر ختو مخکي به یې جنګ نه شروع کوی او چي لمر به راوختی نو

قَاتَلَ فَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ أَمْسَكَ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ

جنګ یې شروع کړ ، او کله چي به غرمه سول نو جنګ به یې بند کړ ، بیا چي به لمر پر زوال سو نو (ماپښین لمانځه وروسته)

قَاتَلَ حَتَّى الْعَصْرِ ثُمَّ أَمْسَكَ حَتَّى يُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ يُقَاتِلُ قَالَ وَكَانَ يُقَالُ

بیا به یې جنګ پیل کړ ، او تر مازدیګر پوري به دا لړۍ روانه وه ، بیا به یې جنګ بند کړ او د مازدیګر لمونځ به یې ادا کړي او د هغه وروسته به جنګیدل ، د قتادة بیان دئ چي

عِنْدَ ذَلِكَ تَهِيجُ رِيَاحُ النَّصْرِ وَيَدْعُو الْمُؤْمِنُونَ لِجُيُوشِهِمْ فِي صَلَاتِهِمْ. رواه الترمذي.

صحابه کرامو به ویل په دغه وختونو کي د فتح هواوي چلیږي او مسلمانان په لمنځونو کي د خپل لښکر د فتح دعاوي غواړي . ترمذي

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۳٦، رقم: ۱٦۱۲.

مجاهدینو ته یو خاص هدایت

﴿۳۷٦۰﴾: وَعَنْ عِصَامٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَقَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا . رواه

الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عصام بن مزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ موږ په يو کوچني لښکر کي وليږلو او دا حکم يې راکړ چي کله تاسو مسجد وويني يا د مؤذن اذان واورئ نو هلته جنګ مه کوئ او څوک مه وژنئ. ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۰۲، رقم: ۱۵۴۹، وابوداود ۳\۸۹، رقم: ۲۶۳۵.

تشريح: مطلب دا دی که چيري تاسو په يو ځای کي د اسلام د شعائرو څخه يو قولي يا فعلي نښه ووينئ نو تر هغه وخته پوري څوک مه وژنئ تر څو چي دا معلومه نه سي چي دا مؤمن دی او دا کافر دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خالد بن وليد ايران ته ليک لېږل

﴿۳۷۶۱﴾: عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ كَتَبَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ إِلٰى أَهْلِ فَارِسٍ بِسْمِ اللهِ

د حضرت ابو وائل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د فارس د سردارانو په نامه دا ليکلي وه: بسم الله

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ إِلٰى رُسْتَمَ وَمِهْرَانَ فِيْ مَلَأِ فَارِسٍ

الرحمن الرحيم، د خالد بن وليد د لوري د رستم او مهران په نامه چي د فارس په سردارانو کي

سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّا نَدْعُوْكُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَبَيْتُمْ

دي. پر هغه چا دي سلامتي وي چي د حق او هدايت پيروي کوي د دې څخه وروسته موږ تاسو ته د اسلام منلو دعوت درکوو که تاسو اسلام نه قبلوئ نو په خپل لاس سره ذليل کېدو سره

فَأَعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَّأَنْتُمْ صَاغِرُوْنَ فَإِنَّ مَعِيْ قَوْمًا يُّحِبُّوْنَ الْقَتْلَ فِيْ

جزيه راکړئ او که د دې څخه هم انکار کوئ نو زما سره داسي خلک دي چي د الله جل جلاله په لار کي

سَبِيْلِ اللهِ كَمَا يُحِبُّ فَارِسُ الْخَمْرَ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى. رواه في

شرح السنة.

جنګېدل يا قتلېدل داسي خوښوي لکه څرنګه چي د فارس خلک شراب خوښوي ، پر هغه چا دي سلام وي چي د هدايت او حق پيروي کوي . شرح السنة

تخريج: لم نجده في شرح السنة.

===========

بَابُ الْقِتَالِ فِي الْجِهَادِ

(په جهاد کي د جګړي بيان)

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کيږئ په کوم کي چي رسول الله ﷺ د جهاد ترغيب ورکړی دی او د جهاد فضيلتونه او ثوابونه يې بيان کړي دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د شهيد منزل جنت دی

﴿٣٧٦٢﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د اُحد په ورځ يو سړي رسول الله ﷺ ته وويل :

أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ . متفق عليه

که زه ووژل سم نو زما ځای به چيري وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : په جنت کي ، هغه سړي د خپل لاس څخه خرماوي و غورځولې بيا وجنګېدی تر څو چي شهيد سو . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٧\ ٣٥٤، رقم: ٤٠٤٦، ومسلم ١٣\ ١٥٠٩، رقم: ١٤٣ - ١٨٩٩.

د جهاد د اعلان لپاره د رسول الله ﷺ حکمت عملي

﴿٣٧٦٣﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د يو جنګ اراده كول نو

يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ تَبُوكَ غَزَاهَا رَسُولُ اللَّهِ

توريه به يې فرمايل، تر څو چي د تبوك د غزا موقع راغلل دا غزا رسول الله ﷺ د سختي ګرمۍ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا وَعَدُوًّا

په ورځو كي وكړه ددې لپاره يې د ليري سفر وكړ او بې اوبو او بې وښو ځنګلونه يې قطع كړل د دښمن شمير هم په دې كي زيات وو ، كله چي رسول الله ﷺ ددې اراده وكړل نو (توريه يې ونه

كَثِيرًا فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ. رواه البخاري.

كړه بلكه) په ډاګه ددې اظهار يې وكړ چي مسلمانان دجنګ لپاره په ښه ډول تيار سي او خپل سامان برابر كړي بيا رسول الله ﷺ صحابه كرام د خپلي هغه ارادې څخه خبر كړل كومه چي د رسول الله ﷺ په ذهن كي وه . بخاري .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٨\١١٣، رقم: ۴۴١٨.

تشريح توريه معنى خبره پټول ، په دې توګه چي اصلي خبره پټه كړل سي او بله خبره ظاهره كړل سي . رسول الله ﷺ به د جهاد د ارادې په وخت كي دا جنګي حكمت عملي اختياروى چي كوم ځاى ته به د جهاد لپاره تلل نو د هغه اعلان به يې نه كوى بلكه د يو بل ځاى په باره كي يې خبري كولې چي هلته د جهاد لپاره ځو ، دغه حكمت رسول الله ﷺ ددې لپاره اختياروى چي دښمن ته د رسول الله ﷺ د ارادې معلومات ونه سي او هغوى غافل وي ، داسي حكمت په اصل كي د جنګ ګټلو لپاره ضروري وي او ددنيا هر قانون دا روا ګڼي ځكه اسلام هم د (الحرب خدعة) يعني جنګ د مكر او فريب نوم دى. په ويلو سره داسي فريب او چم كول جائز ګرځولي دي. د رسول الله ﷺ دغه توريه كه څه هم د خدعة د ډول څخه وه مګر رسول الله ﷺ دا د صريح قول په ذريعه نه اختيارول بلكه د تعريض او كنايې په توګه يې اختيارول . كله چي به رسول الله ﷺ يو ځاى ته د جهاد لپاره د تلو اراده وفرمايل نو د خلكو څخه به يې د يو بل ځاى حالات او د هغه د لارو په باره كي پوښتني كولې . او يا داسي حكمت به يې اختياروى چي خلكو ته به د رسول الله ﷺ د حقيقي ارادې خبر نه كېدى ، رسول الله ﷺ به په صريحو الفاظو كي د يو بل

ځای د نامه په اخیستلو سره داسي نه ویل چي زه فلاني ځای ته د تلو اراده لرم تر څو د رواغ ویل لازم نه سي.

تر دې چي دغه غزا ...الخ: کعب ابن مالک رضي الله عنه د دې په ذریعه د تبوک غزا ته اشاره وکړه چي د هغه د ذات د تعلق سره مشهور وو ، حضرت کعب رضي الله عنه په خپله په دغه غزا کي نه وو . دا واقعه ډېره مشهوره ده چي په قرآن کریم کي هم ذکر سوې ده .

د لیري سفر یې وکړ : د جهاد لپاره تبوک ته تلل ځکه لیري سفر ویل سوي دي چي تبوک د دمشق او مدینې منورې په مینځ کي د خیبر او البلاد پر کربنه واقع د یو ځای نوم دی ، د مدینې منورې څخه د هغه زمانې د مسافت په اعتبار څوارلس منزله او وسنۍ زمانې د حساب مطابق تقریبا ۴۶۵ میله فاصله باندي واقع دی ، رسول الله ﷺ په خپل ژوند مبارک کي چي په کومو غزاوو کي په خپله ګډون فرمایلی وو په هغه کي د تبوک غزا هم وه چي د نهم هجري کال په آخر کي واقع سوې وه ، په دغه غزا کي صحابه کرامو ته ډېر سخت مشکلات پېښ سول او هغوی ډېر تکلیفونه وزغمل .

جنګ د مکر او فریب نوم دی

﴿٣٧٦٤﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَرْبُ خَدْعَةٌ. متفق عليه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : جنګ یو چم دئ . بخاري او مسلم .

تخریج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٥٨\٦، رقم: ٣٠٣٠، ومسلم ١٣٦١\٣، رقم: ١٧-١٧٣٩.

تشریح مطلب دا دی چي په جنګ کي د لښکر د زیات شمېر او ډېر جنګېدل دومره ګټور نه دي لکه څومره چي مکر او چم ګټور وي کوم چي د نن ورځي په مهذبو الفاظو کي حکمت عملي ورته وایي. د دغه مکر او چم ګټه دا وي چي ټول جنګ په یو وار ختم سي ، غوره قومندان هغه وي چي د جنګ په میدان کي په خپل تدبیر او حکمت سره د دښمن لوی لښکر پر ماتي خوړلو باندي مجبوره کړي .

که څه هم د اسلام علماؤ په اتفاق سره د کفارو سره په کیدونکي جنګ کي مکر او چم جائز ګرځولی دی مګر په دې باره کي یو حد هم ټاکلی دی چي پر اسلامي او اخلاقي تعلیماتو

باندي يو حرف را نه سي . هغوی وايي چي د مکر او چم د لاري اختيارولو په صورت کي اول بايد دا خبره په ذهن کي وي چي ښکاره درواغ ونه ويل سي او بل دا چي په هيڅ داسي صورت کي مکر او چم ونه کړل سي چي په هغه کي د مسلمان له خوا ورکړل سوی د امان عهد مات کړل سي ، علماؤ د مکر او چم کولو څو صورتونه ټاکلي دي د مثال په توګه داسي فريب ورکړل سي چي اسلامي لښکر د جنګ څخه تښتيدلی دي او بيا د دښمن ددغه غفلت څخه په ګټه پورته کولو سره پر هغوی په يو وار حمله وکړل سي ، همدارنګه داسي حکمت اختيار کړل سي چي په هغه کي د ذکر سوو دواړو امورو لحاظ وي .

په حديث کي لفظ د خدعة په اصل کي د خ په پيښ او د دال په جذم سره يعني خُدعة دی مګر زيات فصيح د خ په زبر سره يعني خِدعة دی ، ددې معنی داده چي جنګ په فريب او چم سره ختميږي مګر دغه لفظ د خ په زبر سره او د خ په پيښ سره او د دال په زبر سره يعني خِدعة هم نقل سوی دی، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي جنګ په ډېره دوکه کي اچونکی دي يعني کوم خلک چي د دښمن مقابلې ته ځي د هغوی په زړه کي ډول ډول خيالونه پيدا کيږي مګر کله چي د جنګ ميدان ته ورسيږي او جنګ کيږي نو د هغوی د خيالاتو برعکس نتيجې ظاهريږي ، يو سړی د فتح تر لاسه کولو او د دښمن د وژلو په خيال سره راځي مګر د جنګ په ميدان کي ماته خوري او خپله ووژل سي همدارنګه يو سړی د ماتي او ناکامۍ په خيال سره راځي مګر هلته د جنګ ميدان بدل سي او هغه کامياب سي ، غرض دا چي جنګ په دوکه او فريب کي اچونکی يو شی دی .

جهاد ته د ښځو بېولو مسئله

﴿۳۷۶۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا يَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى . رواه مسلم

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ چي به د يو جنګ لپاره تشريف وړئ نو ام سليم او د انصارو نوري ښځي به يې د ځان سره بيولې چي د جنګ په وخت کي خلکو ته اوبه ورکړي او د زخميانو تداوي وکړي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۴۳، رقم: ۱۳۵- ۱۸۱۰.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي مجاهدينو ته د اوبو وركولو، د زخميانو پټۍ او خدمت كولو په نيت د زيات عمر ښځي (سپين سري) د ځان سره بېول جائز دي او كه چيري د صحبت او كوروالي په نيت وي نو بيا د ازادو ښځو په نسبت د مينزو بېول غوره دي (دا حكم هغه وخت وو كله چي د داسي مينزو ساتل رواج وو چي د هغوی سره صحبت او كوروالي كول جائز وه).

﴿٣٧٦٦﴾: وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ وَأُدَاوِي الْجَرْحَى وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى. رواه مسلم.

د حضرت ام عطية ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره په اوو جنګو كي شريكه سوې يم، زه به د دوی په قرارګاه كي پاته كېدم د هغوی خوراك به مي تياروی د زخميانو درملنه به مي كول او د ناروغانو خدمت به مي كوی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١٤٤٧\٣، رقم: ١٤٢ - ١٨١٢.

په جهاد كي د ښځو او كوچنيانو د وژلو مسئله

﴿٣٧٦٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ. متفق عليه

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ښځو او كوچنيانو (په جهاد كي) د وژلو څخه منع فرمايلې ده. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٤٨\٦، رقم: ٣٠١٥، ومسلم ١٣٦٤\٣، رقم: ٢٥ - ١٧٤٤.

تشريح: په هدايه كي ليكلي دي چي ښځه، هلكان، ړوند او شيخ فاني دي نه وژل كيږي مګر كه يو هلك يا ليونی په جنګ كي شريك وي او جنګ كوي نو هغوی قتل كېدای سي، همدا رنګه ملكه ښځه هم وژل كېدای سي او د هغې زوی وژل هم جائز دي كوم چي د پاچا يا مشر ښځه وي ځكه چي د دښمن د پاچا او مشر په قتلېدو سره د هغوی شان او شوكت ختميږي.

﴿٣٧٦٨﴾: وَعَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت صعب بن جثامه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول که د

عَنْ أَهْلِ الدَّارِ يُبَيَّتُونَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَيُصَابُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ

قَالَ هُمْ مِنْهُمْ . وفي رواية هم من اباءهم . متفق عليه

كافرانو پر كور د شپې حمله وكړل سي او په هغه كي ښځو او كوچنيانو ته تاوان ورسېږي نو څه حكم دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغوى د هغوى څخه دي (يعني د شپې په حمله كي د ښځو او كوچنيانو وژل كېدل ګناه نه ده هغوى هم د كافرانو څخه دي مګر په قصد سره دي هغوى نه وژل كيږي) او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي هغوى د خپلو پلرونو تابع دي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٤٦\٦، رقم: ٣٠١٢، ومسلم ١٣٦٤\٣، رقم: ٢٦- ١٧٤٥.

تشريح: مطلب دادى چي په جهاد كي ښځي او كوچنيان دي په قصد سره نه وژل كيږي او كه چيري د شپې د حملې په صورت كي ووژل سي نو څه پروا نه سته ځكه چي د هغوى جنګ د كوم سړي سره وي په هغوى كي د فرق نه كېدو په وجه هغوى هم د قتل په حكم كي د خپلو مشرانو په ډول دي .

د دښمن د درختو پرېكولو مسئله

﴿٣٧٦٩﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ نَخْلَ بَنِي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يهودي قبيلې بني نضير د خرماوو د

النَّضِيرِ وَحَرَّقَ وَلَهَا يَقُولُ حَسَّانُ (شعر) وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ حَرِيقٌ

درختو پرېكولو او سوځلو حكم وكړ ، حسان په دې اړه دا شعر ووايه: (د بني لوئي پر سردارنو د مقام بويره كي د خرماوو د درختو پريكول او سوځل آسان وي) او د دې پېښي په اړه دا آيت

بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ وَفِي ذَلِكَ نَزَلَتْ {مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً

عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللهِ. متفق عليه

نازل سو : (ما قطعتم .....) (د خرماوو د درختو چي څه تاسو وهلي يا څه مو د هغه پر ريښو

ولاړې پرې ایښې دي دا ټول د الله په حکم سره دي). بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۳۲۹، رقم: ۴۰۳۱، ومسلم ۳\۱۳۶۵، رقم: ۳۰- ۱۷۴۶.

د لغاتو حل مستطير: اى منتشر. (خپاره سوي).

تشريح کله چې رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته په هجرت راغلی نو دلته يې د يهوديانو سره هم تعلق پيدا سو، هغه وخت په مدينه کې د هغه يهوديانو درې ډلې ابادي وې ۱: بنو نضير، ۲: بنو قريظه، ۳: بنو قينقاع، رسول الله ﷺ يو معاهده وکړه چې په هغه کې د مسلمانانو او يهودو په مينځ کې د ډېرو ټولنيزو او معاشرتي معاملاتو سره متعلق او په خپلو کې د تعلق په باره کې يو څو احکام هم فيصله سول چې په هغو کې يهوديانو ته د مسلمانانو سياسي او تمدني حقوقو کې په صراحت سره د مساوات په ورکولو سره پوره حقوق ورکړل سول او هغوی ته د مذهبي ازادۍ په ورکولو سره ډېره فياضانه رويه اختيار کړل سوه او د مسلمانانو له خوا پر هغه عمل هم وکړل سو مګر د يهوديانو له خوا د هغه معاهدې خلاف ورزي وکړل سول تر دې چې د بنو نضير يهوديانو له خوا تر دې حده د عهد ماتولو اظهار وسو چې د هغوی له خوا د رسول الله ﷺ د قتل فلان هم تيار کړل سو مګر الله جَلَّ جَلالُهُ د وحي په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه ناپاک فلان څخه خبر کړ نو هغه يهوديان د مدينې منورې څخه په جلا وطنه کولو سره خيبر ته وتښتېدل او د هغوی د خرماوو باغونه وسوځل سول او د هغوی سرايونه ونړول سول.

لؤیٔ: د لام په پېښ او د همزې په زور سره او د ياء په شد سره د نضر ابن کنانه د اولاد څخه د يو سړي نوم وو چې د رسول الله ﷺ د مشرانو نيکه ګانو څخه دی او د بني لؤي څخه مراد د قريشو اشراف دي چې د رسول الله ﷺ صحابه کرام او د رسول الله ﷺ سره په هجرت راغلي وه.

بويره د يو ځای نوم دی چې هلته د بنو نضير باغونه وه کوم چې صحابه کرامو سوځلي وه.

نقل سوي دي چې کله رسول الله ﷺ د بنو نضير د خرماوو د پرې کولو او سوځلو حکم وکړ نو هغوی وويل اې محمد! (ﷺ) تاسو خو پر مځکه باندې د فساد کولو څخه منع کول نو بيا تاسو زموږ د خرماوو درختې ولې پرې کړې او وسوځلې، نو ذکر سوی آيت نازل سو چې د رسول الله ﷺ د حکم تائيد يې وکړ او دايې واضحه کړه چې دغه يهوديانو ته کومه سزا ورکړل سوې ده هغه د الله تعالی د حکم مطابق ده او د اسلام د دښمنانو درختې پرې کول او سوځل جائز دي.

د دښمن د غفلت څخه ګټه اخيستل او د هغوی قتل جائز دی

﴿۲۷۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَوْنٍ اَنَّ نَافِعًا كَتَبَ اِلَيْهِ يُخْبِرُهُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ

د حضرت عبد الله بن عون رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نافع رضي الله عنه هغه ته وليکل چي ابن عمر رضي الله عنه هغه

اَخْبَرَهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَغَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ غَارِّيْنَ فِيْ نَعَمِهِمْ بِالْمُرَيْسِيْعِ فَقَتَلَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ. متفق عليه

ته دا وښودل چي نبي کريم ﷺ د بني مصطلق مقام مريسيع کي چي هغوی په خپلو حيوانانو کي بې خبره پراته وه لوټ کړل کومو خلکو چي د رسول الله ﷺ سره مقابله وکړه ، رسول الله ﷺ هغوی ووژل او د هغوی ښځي او کوچنيان يې ونيول. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۷۰، رقم: ۲۵۴۱، ومسلم ۳\۱۳۵۶، رقم: ۱- ۱۷۳۰.

د لغاتو حل غارين: اى غافلين. مريسيع: اسم ماء لبني مصطلق بالعصب.

تشريح بني مصطلق د خزاعه قبيلې يو ښاخ وو او مريسيع د يو ځای نوم دی چي د مکې او مدينې په مينځ کي د مدينې منورې څخه تقريبا پر اويا مېله فاصله واقع دی ، دلته د پرې اوبه وې چي پر هغو باندې د بني مصطلق واک وو .

د جنګ کونکو څخه هغه خلک مراد دي کوم چي د جنګ کولو صلاحيت او وړتيا يې درلودل يعني عاقل او بالغ نارينه، د ذريت څخه د هغوی ښځي او کوچنيان مراد دي.

د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د اسلام دښمنان که چيرې په غفلت کي وي نو د هغوی د غفلت څخه په ګټه اخيستلو سره ناڅاپه حمله کول او د هغوی د غفلت په حال کي د هغوی قتلول او د هغوی پر مال او سامان باندې قبضه کول جائز دي .

د جنګ په باره کي يو فوجي حکم

﴿۲۷۷۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُسَيْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَنَا يَوْمَ بَدْرٍ

د حضرت ابو اُسيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د غزا په ورځ چي موږ د قريشو

حِيْنَ صَفَفْنَا لِقُرَيْشٍ وَصَفُّوا لَنَا اِذَا اَكْثَبُوكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ وفي رواية اِذَا

په مقابله کي صفونه تړلي وه او قريشو موږ ته مخامخ صف بندي کړې وه موږ ته وفرمايل : کله

چي قريش تاسو ته نژدې سي نو تاسو غشي پر واوروئ، او په يوه روايت كي دي كله چي هغوى

أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ. رواه البخاري. و في حديث سعد

تاسو ته نژدې راسي نو پر هغوى غشي واوروئ او غشي هم د ځان سره وساتئ (يعني ټول غشي مه مصرفوئ)، بخاري او د سعيد حديث

هل تنصرون سنذكر في باب فضل الفقراء وحديث البراء بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم رهطا في باب المعجزات ان شاء الله تعالى.

(هل تنصرون) به د فضل فقراء په باب كي او د براء حديث: بعث رسول الله الخ. به د معجزات په باب كي بيان كړو.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٩١١٦، رقم: ٢٩٠٠.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جنګ په ميدان كي د لښكر برابرول

﴿٢-٣﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ عَبَّأَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَدْرٍ لَيْلًا. رواه الترمذي.

د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷛ څخه روايت دئ چي د بدر په غزا كي رسول الله ﷺ موږ د شپې تيار او برابر كړو. (يعني د شپې يې سره سم كړو تر څو د ورځي بيا هر سړى پر خپل ځاى ودرېږي). ترمذي

تخريج سنن الترمذي ١٦٧١٤، رقم: ١٦٧٧.

تشريح د تعبية معنى تيارول دي، د حديث مطلب دادى چي د بدر په غزا كي د جنګ شروع كولو څخه مخكي په شپه كي خپل لښكر يې داسي تيار او مرتب كړي د مجاهدينو پر بدن يې وسله وتړل د هغوى صفونه يې برابر كړل او هر مجاهد يې پر خپل ځاى ودروى يعني ثوک چي په كوم ځاى كي مناسب وو هلته درول يې ور وښوول چي كله د ورځي جنګ شروع سي نو هر سړى دي پر خپل خپل ځاى همداسي قائم وي.

د مجاهدینو لپاره امتیازي نښې

﴿۳۷۷۳﴾: وَعَنِ الْمُهَلَّبِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنْ بَيَّتَكُمُ الْعَدُوُّ فَلْيَكُنْ شِعَارُكُمْ حم لَا يُنْصَرُوْنَ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د مهلب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د خندق په غزا کي موږ ته وفرمایل: که دښمن پر تاسو د شپې حمله وکړي نو ستاسو علامه (حم لا ینصرون) الفاظ دي. ترمذي او ابوداؤد

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۷۰، رقم: ۱۶۸۲، وابوداود ۳\۷۴، رقم: ۲۵۹۷.

تشريح په فوجي او جنګي قواعدو کي په عامه توګه دا معمول دی چي د فوجیانو لپاره یو خاص نښه او علامه ټاکل کیږي چي په هغه سره د موافق او مخالف په مینځ کي فرق وکړل سي دغه نښې د غیر لفظي نښو په صورتو کي هم ټاکل کیږي چي د فوجیانو پر بدن او کالو باندي لګول کیږي او د لفظي اشارو په صورت کي هم وي چي هغه په ژبه ادا کولو سره د خپل حیثیت او حقیقت اظهار کیږي، د لښکر د قومندان له خوا خپل فوجیانو ته مخکي دا ښوول کیږي که چیري د جنګ په میدان کي یا په یو بل ځای کي پوښتنه در څخه وسي چي ته څوک یې؟ نو دغه لفظ په ژبه ادا کوه، که چیري پوښتنه کونکی د خپل لښکر سړی وي نو تا ته به څه تاوان نه رسوي په خاصه توګه دشپې د حملې په وخت کي چي د خپلو او پردیو په مینځ کي فرق کول مشکل وي او اکثر اشتباه کیږي د داسي علامو او اشاراتي الفاظو ډېر ضرورت وي، د نن سبا په رواجي اصطلاحاتو کي داسي اشاراتي الفاظو ته په انګریزي ژبه کي کوډ ورډ (Code word) وايي. نو د حنین د غزا په وخت کي کله چي رسول الله ﷺ ته د دښمن له خوا د شپې د حملې کولو خطره پیدا سوه نو رسول الله ﷺ مسلمانان خبردار کړل چي هغوی په داسي حال کي خپل علامه (حم لا ینصرون) الفاظ ووايي چي ددې په ذریعه دا و پيژندل سي چي مسلمان څوک دی او کافر څوک دی. ددغه الفاظو معنی ده اې د حم نازلونکې! دښمنانو ته دي هیڅوک د مرستي لپاره تر لاسه نه سي.

﴿۳۷۷۴﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ شِعَارُ الْمُهَاجِرِينَ عَبْدَ اللهِ وَشِعَارُ الْأَنْصَارِ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د مهاجرینو د پيژندني علامه په یوه غزا کي

(عبدالله) وه او د انصارو علامه (عبدالرحمن) وه. ابوداؤد.

تخريج سنن ابي داود ٣\٧٣، رقم: ٢٥٩٥.

﴿٣٧٧٥﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيَّتْنَاهُمْ نَقْتُلُهُمْ وَكَانَ شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةِ أَمِتْ أَمِتْ. رواه ابوداؤد

د سلمه بن اكوع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په ملگرتيا كي جهاد وكړ د رسول الله ﷺ په زمانه كي موږ پر كافرانو د شپې حمله وكړه او هغوی مو قتل كړل او په دغه شپه زموږ علامه يعني د مسلمانانو د پيژندني نښه د (اَمت اَمت) الفاظ وه. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\١٠٠، رقم: ٢٦٣٨.

صحابه كرامو د جنگ په وخت كي شور نه خوښوی

﴿٣٧٧٦﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ عِنْدَ الْقِتَالِ. رواه ابوداؤد

د حضرت قيس بن عباده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د نبي كريم ﷺ صحابه كرامو به د جنگ پر وخت شور يا آواز بد گڼی (او يوازي د الله ذكر به يې كاوه). ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\١١٣، رقم: ٢٦٥٦.

تشريح عام فوجيان وي چي هغوی د جنگ په ميدان كي چغي، نعرې، شور او بې مقصده نعرې وهي او د خپل مېړاني او شجاعت نعرې پورته كوي چي پر دښمن باندي هيبت او رعب ولوېږي مگر صحابه كرامو به داسي نه كول بلكه هغوی به يوازي د الله جل جلاله په نامه اخيستلو سره الله اكبر وايه.

او كه چيري د هغوی د خولې څخه به اواز پورته كېدی نو هغه به يوازي د الله جل جلاله پر ذكر مشتمل وو ځكه چي په حقيقت كي يوازي د الله جل جلاله په نامه اخيستلو كي د دنيا او آخرت مطلب تر لاسه كيږي.

د دښمن مشران وژنئ

﴿۳۷۷۷﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتُلُوا شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ وَاسْتَحْيُوا شَرْخَهُمْ اي صِبْيَانَهُمْ. رواه الترمذي وابوداؤد

د حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: په مشرکانو کي مشران وژنئ او کوچنیان ژوندي پريږدئ. ترمذي او ابوداؤد

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۲۳، رقم: ۱۵۸۳، وابوداود ۳\۱۲۲، رقم: ۲۶۷۰.

تشريح د زیات عمر والا څخه یا خو زلمیان مراد دي چي د کوچنیانو په مقابله کي لوی وي یا هغه سپین ږيري مراد دي چي د ټينګ قوت مالک وي ځکه چي شیخ فاني وژل صحیح نه دي مګر کوم شیخ فاني چي په جنګ کي د خپل عقل او رایه څخه کار اخلي او د دښمن په جنګ کي د هغه پر ښوول سوو تدبيرو عمل کوي نو هغه قتلول جائز دي.

د دښمن ښار او کښتونه سوځل جائز دي

﴿۳۷۷۸﴾: وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ أُسَامَةُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَهِدَ إِلَيْهِ قَالَ أَغِرْ عَلٰى أُبْنٰى صَبَاحًا وَحَرِّقْ. رواه أبو داود

د حضرت عروة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما ته اسامه رضی الله عنه بیان وکړ چي نبي کریم ﷺ هغه د ښنکر د مشر ټاکلو سره وليږئ نو تاکید سره يې ورته حکم ورکړ چي د ابناء پر ځای باندي (چي په شام کي دئ) سهار وختي حمله وکړه او هغه وسوځه (یعني د هغوی مځکي او درختي) تباه او برباد يې کړه. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ۳\۸۸، رقم: ۲۶۱۶.

تشريح ابنا د یو سیمي نوم دی چي په شام کي واقع ده او هلته حضرت اسامه ابن زید رضی الله عنه د مجاهدینو د امیر په توګه د جهاد لپاره استول سوی وو.

ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي د اسلام د دښمنانو ښارونه لوټ کول د هغوی کور، مځکي، درمن، درختي او باغونه سوځل جائز دي.

﴿۳۷۷۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ

إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَلَا تَسُلُّوا السُّيُوفَ حَتَّى يَغْشَوْكُمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو اسيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د غزا په ورځ وفرمايل: كله چي دښمنان تاسو ته نژدې راسي نو پر هغوی غشي و اورویئ او توري تر هغه وخته پوري د تيكو څخه مه كاږئ تر څو پوري چي مخامخ نه سئ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\١١٨، رقم: ٢٦٦٤.

د دښمن د مزدورانو قتل كولو څخه منع

﴿٣٧٨٠﴾: وَعَنْ رِبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت رباح بن الربيع ﷺ څخه روايت دئ چي موږ په يوې غزا كي د رسول الله ﷺ سره وو،

فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ انْظُرْ عَلَى مَا

رسول الله ﷺ وليدل چي خلك پر يو شي راجمع وه نو رسول الله ﷺ د حال معلومولو لپاره يو سړی وليږی كله چي هغه راغلی

اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ فَجَاءَ فَقَالَ عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ فَقَالَ مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ وَعَ

نو وه يې ويل چي يوه ښځه وژل سوې ده او پر هغې خلك جمع دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا خو جنگ والا نه وه؟ (يعني ښځه خو د جنگيانو څخه نه وه نو دا ولي وژل سوې ده)، پر

الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ قُلْ لِخَالِدٍ لَا تَقْتُلْ امْرَأَةً وَلَا

عَسِيفًا. رواه ابوداؤد.

مخكني فوج حضرت خالد بن وليد ﷺ سردار وو، رسول الله ﷺ يو سړی ور وليږی او ورته وه يې ويل چي خالد ته ووايه چي ښځه او مزدور مه وژنئ. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\١٢١، رقم: ٢٦٦٩.

د لغاتو حل عسيفا: اى اجيرا وتابعا للخدمة. (مزدور)

تشريح د مزدور څخه مراد هغه مزدور دی چي د جنگ په ميدان كي د جنگ لپاره نه وي راوستل سوی بلكه د خدمت او نورو كارو لپاره راوستل سوی وي.

مجاهدينو ته د ليږلو پر وخت هدايات

﴿٣٧٨١﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انْطَلِقُوا بِاسْمِ

د انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ليږلو پر وخت مجاهدينو ته وفرمايل: ځئ د

اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا طِفْلًا وَلَا صَغِيرًا

الله جل جلاله د نامه په بركت سره، د الله تعالى په توفيق سره او د رسول الله ﷺ پر دين، (خبردار!) چي شيخ فاني مه وژنئ، مه کوچنی وژنئ

وَلَا امْرَأَةً وَلَا تَغُلُّوا وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ. رواه ابوداؤد

او مه ښځه (وژنئ)، د غنيمت په مال كي خيانت مه كوئ د غنيمت مال يو ځای كړئ په خپلو كي صلح كوئ او د يو بل سره ښه چلن كوئ ځكه چي الله تعالى نيكي كونكي خوښوي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\٨٦، رقم: ٢٦١۴.

تشريح: شيخ فاني مه وژنئ مگر كه چيري يو سپين ږيری د جنگ كولو صلاحيت ولري يا د هغه رايه او د هغه د جنگي تدبير د دښمن لپاره گټور او مؤثر وي نو د هغه وژل جائز دي.

طفلا صغيرا: دلته لفظ د صغير بدل او بيان دی، طفل يعني هغه هلک چي بلوغ ته نه وي رسيدلی د دغه حكم څخه هغه هلک مستثنی دی كوم چي د دښمن د قوم پاچا او مشر وي يا په جنگ كي برخه لري همدا رنگه د هغه ښځي قتلول هم منع دي كوم چي په جنگ كي گډون نه لري او نه د قوم ملكه او نه په جنگي معاملاتو كي رايه او تدبير وركونكې وي.

د بدر د غزا يوه يادونه

﴿٣٧٨٢﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ تَقَدَّمَ عُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَتَبِعَهُ ابْنُهُ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بدر د غزا په ورځ د كفارو د لښكر څخه عتبه بن ربيعه را مخته سو او په هغه پسي ئ هغه زوی وليد

وَأَخُوهُ فَنَادَى مَنْ يُبَارِزُ فَانْتَدَبَ لَهُ شَابٌّ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ مَنْ أَنْتُمْ

او ورور (شيبه) راغلل او آواز يې وکړ څوک سته چې زموږ سره د جنګ لپاره ميدان ته را مخته سي؟ د اسلام د لښکر څخه يو څو انصاري زلميان مقابلې ته راووتل.

فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ لَا حَاجَةَ لَنَا فِيكُمْ إِنَّمَا أَرَدْنَا بَنِي عَمِّنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

عتبه پوښتنه وکړه تاسو څوک ياست؟ هغوی ورته وويل موږ انصاريو، عتبه ورته وويل: موږ ته ستاسو سره د جنګ ضرورت نسته، موږ خوخپل د اکا د زامنو سره جنګېدل غواړو. (يعني قريش او مهاجرينو سره) رسول الله ﷺ د عتبه د دې الفاظو په اورېدو سره وفرمايل:

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْ يَا حَمْزَةُ قُمْ يَا عَلِيُّ قُمْ يَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْحَارِثِ فَأَقْبَلَ

حمزه ودرېږه، علي ودرېږه، عبيده بن حارث ودرېږه، نو

حَمْزَةُ إِلَى عُتْبَةَ وَأَقْبَلْتُ إِلَى شَيْبَةَ وَاخْتُلِفَ بَيْنَ عُبَيْدَةَ وَالْوَلِيدِ ضَرْبَتَانِ

حمزه د عتبه مقابلې ته را وړاندې سو (او هغه يې ووژئ) او زه (علي) د شيبه په لور متوجه سوم او هغه مې ووژئ او عبيده او وليد دواړو پر يو بل د توري وار وکړ

فَأَثْخَنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ ثُمَّ مِلْنَا عَلَى الْوَلِيدِ فَقَتَلْنَاهُ وَاحْتَمَلْنَا عُبَيْدَةَ. رواه احمد وابوداؤد

او يو بل يې سخت زخمي کړل او دواړه بې هوشه سول، بيا موږ پر وليد حمله وکړه او هغه مو هم ووژئ او موږ عبيده د ميدان څخه را واخيستی. احمد او ابوداؤد.

تخريج مسند الامام احمد ١١٧/١، وابوداود ١١٩/٣، رقم: ٢٦٦٥،

د لغاتو حل اثخن: اى جرح و اضعف (ژوبل سو)

د يو مقصد په غرض د ميدان څخه تښتېدل جائز دي

﴿٣٧٨٣﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ موږ د يو کوچني لښکر سره وليږلو،

فَحَاصَ النَّاسُ حَيْصَةً فَأَتَيْنَا الْمَدِينَةَ فَاختفينا بِهَا وَقُلْنَا هَلَكْنَا ثُمَّ أَتَيْنَا

خلک د دښمن د مقابلې څخه و تښتېدل او مدينې ته په راتګ سره موږ (د شرمندګۍ له کبله)

پټ سوو ، او په خپل زړه کي مو وويل چي موږ هلاک سوو ، بيا موږ حاضر سو

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَحْنُ الْفَرَّارُونَ قَالَ بَلْ

د رسول الله ﷺ په خدمت کي او عرض مو وکړ اې د الله رسوله ! موږ تښتېدلي يو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : نه ، بلکه

أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ وَأَنَا فِئَتُكُمْ . رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد نحوه وَ قَالَ

تاسو د حملې سربيره حمله کونکي ياست او زه ستاسو جماعت يم ، ترمذي ، او په ابوداؤد کي هم دا ډول روايت دئ او د هغه اخري الفاظ دادي چي

لاَ بَلْ اَنْتُمُ الْعَكَّارُوْنَ قَالَ فَدَنَوْنَا فَقَبَّلْنَا يَدَهُ فَقَالَ اَنَا فِئَةُ الْمُسْلِمِيْنَ وَ

نه ، بلکه تاسو د حملې سربيره حمله کونکي ياست ، ابن عمر وايي (د رسول الله ﷺ د دې الفاظو په اوريدو سره) موږ را مخته سولو او د رسول الله ﷺ مبارک لاس ونه مو مچ کړل ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د مسلمانانو جماعت يم.

سَنَذْكُرُ حَدِيْثَ اُمَيَّةَ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ كَانَ يَسْتَفْتِحُ وَحَدِيْثَ اَبِي الدَّرْدَاءِ اَبْغُوْنِيْ فِيْ ضُعَفَائِكُمْ فِيْ بَابِ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .

او انشاء الله ډير ژر به د اميه بن عبدالله حديث كان يستفتح ، او د ابودرداء حديث ابغوني في ضعفائكم . د فضل فقراء په باب کي بيان کړو .

تخريج سنن الترمذي ١٨٦\٤، رقم: ١٧١٦، وسنن ابي داود ١٠٦\٣، رقم: ٢٦٤٧.

د لغاتو حل حاص: اى مال. (مائل سو). العكارون: اى الكرارون الى الحرب و العطافون نحوها.

تشريح د عکر معنی ستنيدل دي او په جنګ کي ستنېدل ، د دغه ارشاد مطلب دادی که چيري يو لښکر خپل کمزوري محسوس کړي او د دښمن د مقابلې څخه په دې نيت وتښتيږي چي د خپل مرکز څخه به په کومک او مرسته اخيستلو سره بيا د جنګ ميدان ته راسي نو دا ګناه نه ده او تاسو خلک په دې نيت سره د جنګ د ميدان څخه تښتيدلي ياست ځکه نو د پښيمانۍ او شرمندګۍ محسوس کولو کي څه خبره نه سته .

زه د مسلمانانو ډله يم : رسول الله ﷺ د خپل عظمت او برکت په وجه خپل ځان يو پوره ډله

وګرځوی لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي د حضرت ابراهیم علیه السلام په باره کي فرمایل سوي دي چي (ان ابراهيم كان امة) او رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه خپل مرکزيت ته هم اشاره وکړه چي زما ذات د مسلمانانو لپاره د قوت او طاقت منبع ده د کوم څخه چي هغوی ته مرسته او نصرت تر لاسه کيږي ، نو اې ابن عمر ! تاسو په دغه عارضي ماتي سره زړه مه ماتوئ زه ستاسو مرسته کونکی، حامي او ناصر يم.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د منجنيق استعمال

﴿٣٤٨٤﴾: عَنْ ثَوْبَانَ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى أَهْلِ الطَّائِفِ. رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت ثوبان بن يزيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د طائف په مقابله کي منجنيق ودروئ (منجنيق يوه آله ده چي په هغه سره ډبري ويشتل کيږي) ترمذي مرسلا

تخريج: سنن الترمذي ٥\٨٧- ٨٨، رقم: ٢٧٦٢.

د لغاتو حل: المنجنيق: آلة يرمي بها الحجارة. (د ډبري ويشتلو يوه آله.)

تشريح: په پخواني جنګي وسلو کي د منجنيق (مجلوغي) حيثيت د نن سبا د توپ په ډول وو. دا يو داسي مشين وو چي په هغه سره لوی لوی ډبري ويشتل کېدی په خاصه توګه کله چي به يو قلعه وغيره محاصره کېدل نو پر هغه به د منجنيق په ذريعه ډبري ويشتل کېدې.

طائف د حجاز يو لوی ښار دی چي د مکې مکرمې څخه تقريبا پر ۴۰ مېله فاصله جنوب لويديځ ته واقع دی مګر اوس تر څه وخته پوري هلته د رسېدو لپاره يو داسي سيده لار نه وه چي پر هغه باندي موټر وغيره ولاړ سي ، د مکې مکرمې څخه تر طائف پوري چي کوم سړی تللی وو هغه د غرونو په مينځ کي وو ځکه نو دغه لار به اوږدېدل پر دغه لاره د مکې مکرمې څخه تر طائف پوري ۸۵ مېله فاصله ښوول کيږي په دغه لاره کي منی او عرفات يو ځای کيږي او د محققينو په نزد دا هغه لار وه چي پر هغه رسول الله ﷺ په شروع کي د تبليغ لپاره طائف ته تشريف وړی وو. د اوسني طائف څخه پر دوه نيم مېله فاصله جنوب لويديځ ته يو کوچنی کلی (مثناة) دی او دا د طائف يوه برخه ګڼل کيږي دا کلی چي په هغه ځای کي دی چيري چي د رسول

الله ﷺ په زمانه کي اصل طائف اباد وو.
دلته په دوو باغو کي دوه کوچني کوچني مسجدونه جوړ سوي دي چي يوه ته مسجد علي او بل ته مسجد الجعثي وايي، د دغه دواړو مسجدو په مينځ کي يو شپله ده چي وادي اوج ورته وايي، د محققينو نظر دی چي رسول الله ﷺ د طائف په غزا کي د طائف محاصره وکړه او غالبا دا هغه ځای دی چيري چي رسول الله ﷺ منجنيق نصب کړی وو.

==========

بَابُ حُكْمِ الْأَسَرَاءِ (د بنديانو د حکم بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

هغه بنديان چي جنت ته داخليږي

﴿٣٧٨٥﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى پر هغه قوم تعجب کوي (يعني د هغو څخه خوشحاله وي)

قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ . و في رواية يُقَادُوْنَ اِلَى الْجَنَّةِ بِالسَّلَاسِلِ . رواه البخاري.

چي په زنځيرونو کي تړلي په جنت کي داخليږي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي الله تعالى پر هغه خلکو تعجب کوي چي په زنځيرونو تړلي جنت ته راوستل سي. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\١۴۵، رقم: ٣٠١٠.

تشريح مطلب دادی چي کفارو کوم خلک په جهاد وغيره کي بندي کړي وي او هغوی په زنځيرونو تړلي دارالاسلام ته راوستل سي او بيا الله تعالى د هغوی ايمان نصيب کړي نو هغوی به په جنت کي داخل کړل سي، په دې اعتبار سره که څه هم د هغوی د جنت د داخلېدو سبب به د هغوی د ايمان قبلول وي مګر په ظاهره کي هغوی به په زنځيرونو کي تړلي په جنت کي داخل کړل سي.

د دښمن د جاسوس وژلو حکم

﴿۲۷۸۶﴾ : وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنٌ مِنَ

د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په سفر کي وو چي د مشرکانو یو

الْمُشْرِكِينَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ ثُمَّ انْفَتَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ

جاسوس راغلئ او د صحابه کرامو سره کښېنستی خبري يې ورسره وکړې او بیرته ولاړئ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ فَقَتَلَهُ فَنَفَلَهُ سَلَبَهُ . متفق عليه.

(رسول الله ﷺ چي خبر سو) وه يې فرمایل : هغه پیدا کړئ او قتل يې کړئ نو ما هغه ووژئ، او رسول الله ﷺ د هغه ټول سامان ما ته راکړ

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٦٨، رقم: ٣٠٥١، ومسلم٣\ ١٣٧٤، رقم: ۴۵- ۱۷۵۴.

د لغاتو حل نفلني: ای اعطاني (ما ته يې راکړ).

﴿۲۷۸۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَوَازِنَ فَبَيْنَا

د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کي د قبیله هوازن سره جنګ وکړ ،

نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ

یوه ورځ موږ د څاښت ډوډۍ د رسول الله ﷺ سره وخوړل چي یو سړی پر سره اوښ سپور راغلئ

أَحْمَرَ فَأَنَاخَهُ وَجَعَلَ يَنْظُرُ وَفِينَا ضَعْفَةٌ وَرِقَّةٌ فِي الظَّهْرِ وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ إِذْ

هغه اوښ کښېنوئ او ځلورو خواوو ته يې کتل پیل کړل ، په موږ کي ډېر خلک د سپرلۍ د کموالي په سبب او پر پښو تللو په سبب کمزوري او سست وو ،

خَرَجَ يَشْتَدُّ فَأَتَى جَمَلَهُ فَأَثَارَهُ فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ فَخَرَجْتُ أَشْتَدُّ حَتَّى أَخَذْتُ

بیا هغه سړی په ځغاسته راغلئ پر اوښ سپور سو او هغه يې ودرولئ بیا يې وځغلوئ زه هم په هغه پسي ور وځغاستم تر څو چي ما د هغه د اوښ

بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَأَنَخْتُهُ ثُمَّ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي فَضَرَبْتُ رَأْسَ الرَّجُلِ ثُمَّ جِئْتُ

مهار ونیوئ هغه مي كښینوئ بیا مي توره د تیكي څخه راوكښل او د هغه سر مي پري كړ، ددې

بِالْجَمَلِ أَقُودُهُ عَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسِلَاحُهُ فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَالنَّاسُ

وروسته زه د اوښ سره راغلم ما د هغه كته چي د هغه سامان او وسله پكښي وه راكشوی مي او رسول الله ﷺ او نور خلك ما ته راغلل،

فَقَالَ مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ قَالُوا ابْنُ الْأَكْوَعِ قَالَ لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ. متفق عليه.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل هغه سړی چا ووژئ، صحابه كرامو عرض وكړ ابن اكوع، رسول الله ﷺ وفرمایل د هغه ټول سامان د هغه دئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\١٦٨، رقم: ٣٠٥١، ومسلم ٣\١٣٧٤، رقم: ٤٥- ١٧٥٤.

د لغاتو حل: تتضحى: اى تتغذي (د سهار ه وډ ی خوړل).

د مديني د عهد ماتونكي يهوديانو په اړه فيصله

﴿٣٧٨٨﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله بنو قريظه (د يهودو يو ډله) د سعد

ابْنِ مُعَاذٍ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا قَالَ

بن معاذ پر فيصله اماده سول نو رسول الله ﷺ سعد بن معاذ راوغوښتئ، سعد پر خره سپور راغلئ كله چي رسول الله ﷺ ته نژدې سو نو

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ فَجَاءَ فَجَلَسَ فقال إِلَى

رسول الله ﷺ خلكو ته وفرمایل: د خپل سردار د تعظيم لپاره ودريږئ، سعد بن معاذ راغلئ د رسول الله ﷺ سره كښېنستئ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل:

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ

دا خلك (يعني بنو قريظه) ستا پر فيصله راضي سوي دي؟ سعد بن معاذ عرض وكړ زه دا

أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ قَالَ لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ بِحُكْمِ اللهِ . متفق عليه

فيصله كوم چي په هغوی کي کوم خلک د جنگ وړ دي هغوی دي قتل کړل سي او کوچنيان او ښځي دي بنديان کړل سي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تا د هغوی په اړه د پاچا په ډول حکم وکړ ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي تا د هغوی لپاره د الله د حکم سره سم فيصله وکړه . بخاري او مسلم .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٦٥، رقم: ٣٠٤٣، ومسلم ٣\١٣٨٨، رقم: ٦٤- ١٧٦٩.

تشريح حضرت سعد ابن معاذ رضي الله عنه يو ستر صحابي او د مشهور انصارو څخه دی ، د مديني انصارو به هغه خپل مشر گڼي، بنو قريظه د مديني د يهوديانو يوه قبيله وه دا قبيله د سعد ابن معاذ رضي الله عنه حليف او د هغه يهوديانو په امان کي وه لکه څرنگه چي مخکي هم ذکر سوي دي چي رسول الله ﷺ مديني منوري ته په رسېدو سره د هغه ځای د يهودو سره يوه معاهده کړې وه چي په هغه کي د مسلمانانو او يهوديانو په مېنځ کي د يو تر بله تعلق او د يو بل د ښاري او سياسي حقوقو او مفاداتو تحفظ فيصله سوی وو مگر يهوديانو څو ورځي وروسته هغه فيصله ماته کړه او د مسلمانانو پر خلاف فلانونه او هغوی ته د تاوان رسولو اقدام يې شروع کړی ، د نورو يهودو قبيلو په ډول بنو قريظه هم هغه عهد مات کړ او رسول الله ﷺ په پنځم هجري کال کي د خندق د غزا څخه وروسته د الله تعالی په حکم سره د بنو قريظه پر خلاف د جهاد اراده وکړه او د هغوی محاصره يې وکړه او دا محاصره پنځه ويشت ورځو پوري جاري وه کله چي بنو قريظه بالکل مجبور سول نو هغوی وويل چي سعد ابن معاذ رضي الله عنه زموږ په باره کي کومه فيصله وکړي هغه موږ ته قبوله ده د دوی خيال وو چي موږ د سعد رضي الله عنه حليف او د هغه په امان کي يو ځکه نو هغه به زموږ رعايت وکړي او موږ ته به د دغه محاصرې څخه خلاصون راکړې مگر حضرت سعد رضي الله عنه د هغوی سره د تعلق د لحاظ کولو پرته هغه فيصله وکړه کوم چي د هغه يهوديانو د حال او حکمت سره عين مطابق وه .

تاسو د خپل مشر لپاره ودريږئ : د دغه حکم په باره کي امام نووي رحمه الله وايي چي د دې څخه معلومه سوه چي د صاحب فضل دي تعظيم او تکريم وکړل سي او د هغه پر راتلو باندي د تعظيم په توگه د رېدل پکار دي ، اکثر علماء په دغه مسئله کي د دغه حکم دليل گرځوي او ځيني

حضرات وايي چي د رسول الله ﷺ دغه حكم د حضرت سعد رضي الله عنه د تعظيم په وجه نه وو بلكه په دې وجه وو چي د سعد رضي الله عنه پر ورانه باندي د غشي زخم وو چي د خندق په غزا كي هغه ته لګيدلی وو او د هغه په وجه هغه د سپرلۍ څخه پر كښته كېدو مجبور وو نو رسول الله ﷺ خلكو ته حكم وركړ چي ورسئ او د سعد رضي الله عنه د سپرلۍ څخه په راكښته كېدو كي مرسته وكړئ.

د يمامه د اسلام راوړلو واقعه

﴿٣٧٨٩﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو لښكر وليږئ په لور

نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ

د نجد. د هغه لښكر خلكو د قبيله بنو حنيفه يو سړی نيولی راويستئ چي د هغه نوم ثمامه بن آثال وو، او د يمامه ښار د خلكو سردار وو،

فَرَبَطُوْهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

خلكو هغه د مسجد نبوي په يوې ستني پوري وتړئ، رسول الله ﷺ د هغه په لور تشريف راوړ

وَسَلَّمَ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ خَيْرٌ إِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا

پوښتنه يې ځيني وكړه: ثمامه! ستا سره څه شي دي (يعني زړه دي څه وايي)، ثمامه وويل زما سره مال او دولت سته كه ته ما قتل كړې نو يو داسي سړی به قتل كړې چي د خون كولو په سبب د قتل وړ دئ (يا كه ته ما قتل كړې) نو داسي سړی به قتل كړې چي زما

دَمٍ وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ

خون به ضائع كيږي نه، بلكه زما قوم به زما د خون بدله اخلي او كه بخښنه وكړې نو پر يو داسي سړي به يې وكړې چي شكر گزار او قدردان دئ. (يعني تا ته به د دې بدله دركړل سي) او كه ته د مال خواهش لرونكی يې نو څه چي غواړې در به كړل سي، (د دې په اوريدو سره)

فَتَرَكَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ له مَا عِنْدَكَ يَا

رسول الله ﷺ هغه پر خپل حال پرېښود دئ په دويمه ورځ بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه اې ثمامه

ثُمَامَةُ فقَالَ عندي مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا

څه حال دئ ؟ هغه وويل زه هغه وايم څه چي مي وړاندي ويلي دي يعني که انعام وکړې نو پر يو قدردان به انعام او احسان وکړې او که مي قتل کړې نو د ويني خاوند به قتل کړې

دَمٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او که د مال خواهش لرونکی يې نو څومره چي غواړې دربه کړل سي ، په دغه ورځ هم رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بعد الْغَدِ فَقَالَ له ما عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي مَا

ﷺ هغه پر خپل حال پرېښود ئ ، په دريمه ورځ بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې ثمامه ! څه خبره ده ، هغه وويل هغه خبره ده چي

قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ

ما تاسو ته کړې ده ، يعني که بخښنه وکړئ نو پر قدردان به بخښښ وکړئ او که قتل مي کړئ نو د ويني خاوند به قتل کړئ او که مال غواړئ

فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ

نو څومره چي غواړئ دربه کړل سي ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : ثمامه پرېږدئ ،

فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ أَشْهَدُ

نو هغه د ستني څخه خلاص کړل سو هغه د مسجد څخه راووتئ او د خرماوو هغه درختي ته ولاړئ چي د مسجد سره نژدې وه هلته يې غسل وکړ ، بيا مسجد ته راغلئ او وې يې ويل زه شاهدي اداکوم

أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ يَا مُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَا كَانَ عَلَى

چي د الله جل جلاله څخه ماسيوا بل د عبادت وړ نسته او شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول دئ . . اې محمد ! قسم په خدای !

وجه الْأَرْضِ وَجْهٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ أَصْبَحَ وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوهِ كُلِّهَا إِلَيَّ

د مخکې پر مخ ستا تر مخ زیات نفرت انگیز زما په نزد هیڅ مخ نه وو ، مگر نن ستاسو مخ ما ته د دنیا تر ټولو مخونو زیات محبوب دئ،

وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ دِينٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِينِكَ فَأَصْبَحَ دِينُكَ أَحَبَّ الدِّينِ كُلِّهِ إِلَيَّ و

په الله دي مي قسم وي چې زما په نزد ستا د دین څخه زیات نفرت کونکی شي هیڅ نه وو مگر اوس ستاسو دین ما ته تر ټولو زیات خوښ دئ ،

وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَأَصْبَحَ بَلَدُكَ أَحَبَّ الْبِلَادِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَإِنَّ

په الله تعالی دي مي قسم وي زما په خیال کي ستا د ښار څخه زیات نفرت کوونکی هیڅ ښار نه وو مگر اوس ستاسو ښار ما ته تر ټولو ښارونو زیات محبوب دئ،. (اې د الله رسوله)

خَيْلَكَ أَخَذَتْنِي وَأَنَا أُرِيدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرَى فَبَشَّرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

زه د عمرې اراده وه چې ستاسو لښکر زه ونیولم ، اوس تاسو ما ته څه حکم راکوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته زیری ورکړ (چې د اسلام قبلولو په سبب د هغه ټول گناهونه و بخښل سول)

وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَنْ يَعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهُ قَائِلٌ أَصَبَوْتَ فَقَالَ لَا وَلٰكِنِّي

بیا یې حکم ورکړ چې هغه عمره وکړي ، بیا چې ثمامه مکې ته راغلئ نو یو سړي هغه ته وویل ایا ته بې دینه سوی یې ؟ هغه ورته وویل : نه ، بلکي ما

أَسْلَمْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا وَاللّٰهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ

پر رسول الله ﷺ ایمان راوړي دئ (بې دینه سوی نه یم) قسم په الله ! اوس تر څو پوري چې رسول الله ﷺ اجازه رانه کړي د یمامه څخه به

حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ . رواه مسلم و اختصره البخاري

یوه دانه غنم هم نه سي در لیږل کېدلای . مسلم او بخاري په لنډه توگه بیان کړی دئ .

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ٨\٨٧، رقم: ٤٣٧٢، ومسلم ٣\١٣٨٦، رقم: ٥٩- ١٧٦٤.

د لغاتو حل اصبوت: ای اخرجت عن دینک. (ایا د دین څخه وتلی یې)

جبیر ابن مطعم ته د اسلام ترغیب

﴿۳۷۹۰﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ. رواه البخاري

د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د جنگ د بندیانو په اړه وفرمایل: که مطعم بن عدي نن ژوندی وای او ما ته یې د دغه بندیانو په اړه سفارش کړی وای نو ما به د هغه پر سفارش دوی پرې ایښی وای، (مطعم پر رسول الله ﷺ یو احسان کړی وو او د هغه زوی په خیبر کي اسلام قبول کړی وو پر دې خبره رسول الله ﷺ د جبیر د زړه مائل کولو لپاره دا الفاظ وفرمایل). بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٤٣، رقم: ٣١٣٩.

تشریح: حضرت جبیر رضی الله عنه د اسلام قبلولو څخه مخکي د بدر په غزا کي د مکې د کفارو سره وو او د مسلمانانو په مقابله کي یې جنگ کوی، د غزا څخه وروسته چي کوم کسان بندیان راوستل سول نو په هغوی کي حضرت جبیر رضی الله عنه هم وو همدا رنگه حضرت جبیر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه دغه حدیث د کفر په حالت کي واوریدی مگر د اسلام قبلولو څخه وروسته یې هغه بیان کړ.

مطعم ابن عدي د حضرت جبیر رضی الله عنه پلار وو او د نوفل ابن مناف د ملسي کېدو په وجه د رسول الله ﷺ قریب وو، د مطعم پر رسول الله ﷺ یو دا احسان وو چي کله رسول الله ﷺ طائف ته د اسلام د تبلیغ لپاره تشریف وړی وو نو د مکې مشرکینو رسول الله ﷺ ته تاوان رسول وغوښتل مگر معطم هغه مشرکین د رسول الله ﷺ څخه لیري کړل ځکه نو رسول الله ﷺ د حضرت جبیر رضی الله عنه په مخکي ذکر سوي الفاظ وفرمایل چي د هغه یو لوی مقصد د جبیر رضی الله عنه د زړه تالیف او د هغه اسلام ته راغب کول وو.

د حدیبیې یوه واقعه

﴿۳۷۹۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کفار د مکې څخه د اتیا مسلح کسانو سره جبل تنعیم

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ مُتَسَلِّحِينَ يُرِيدُونَ غِرَّةَ النَّبِيِّ

څخه په دې اراده راکښته سول چي رسول الله ﷺ او د هغوی صحابه به غافل تر لاسه کړي او

تاوان به ورته ورسوي مګر

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا فَاسْتَحْيَاهُمْ وَفِي رِوَايَةٍ

رسول الله ﷺ هغوی ذلیل او خوار ونیول او بیا یې ژوندي ایله کړل. او په یوه روایت کې داسي

اعتقهم فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ

عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ. رواه مسلم

[illegible] چي رسول الله ﷺ هغوی آزاد کړل، او دغه آیت په دې اړه نازل سو: (وهو الذي...) (و [illegible] [illegible] دئ چي هغه: هغوی لاسونه ستاسو څخه او ستاسو لاسونه: هغوی څخه په مکه [illegible] په [illegible] کي منع کړل.). مسلم

تخریج صحیح مسلم ۳/ ۱۴۴۲، رقم: ۱۳۳–۱۸۰۸.

د لغاتو حل [illegible]

د بدر د جنګ وروسته د مکي مقتولینو ته د رسول الله ﷺ خطاب

[illegible] وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ

[illegible] حضرت قتاده ﷺ څخه روایت دئ چي موږ ته انس بن مالک ﷺ بیان وکړ چي ابو طلحه ﷺ [illegible] بیان کړئ چي نبي کریم ﷺ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيدِ

[illegible]

قُرَيْشٍ فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيثٍ مُخْبِثٍ وَكَانَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى قَوْمٍ

[illegible]

أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ الْيَوْمَ الثَّالِثَ أَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ فَشُدَّ

[illegible]

عَلَيْهَا رَحْلُهَا ثُمَّ مَشَى وَاتَّبَعَهُ أَصْحَابُهُ حَتَّى قَامَ عَلَى شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ

د رسول الله ﷺ پر سپرلی دي کجاوه وتړل سي نو کجاوه وتړل سوه او رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو سره روان سوو، څه وخت چي هغه ځاى ته ورسيدل په کوم کي چي د قريشو سرداران غورځول سوي وه نو رسول الله ﷺ د هغه ځاى پر غاړه ودريدئ

يُنَادِيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِهِمْ يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ

او د هغوى او د هغوى د پلرونو نومان يې بلل پيل کړل يعني اې د فلاني زويه فلانيه او اې د فلاني زويه فلانيه!

أَيَسُرُّكُمْ أَنَّكُمْ أَطَعْتُمُ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ

اې تاسو ته دا ښه معلوميږي چي تاسو د الله تعالى او د هغه د رسول اطاعت کړى واى؟ البته موږ هغه شي تر لاسه کړ کوم چي د هغه زموږ سره زموږ رب وعده کړې وه نو ايا

وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا تُكَلِّمُ مِنْ أَجْسَادٍ لَا

تاسو هغه شي تر لاسه کړ د کوم چي ستاسو پروردګار ستاسو سره وعده کړې وه (يعني موږ ته خو فتح را کړل سوه ايا تاسو ته هم هغه عذاب درکړل سو) حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اې دا الله رسوله! ايا تاسو د هغه بدنو سره خبري کوئ

أَرْوَاحَ لَهَا قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا أَنْتُمْ

چي په هغه کي روح نه نسته، رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده! څه چي زه وايم تاسو

بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ. وَفِي رِوَايَةٍ مَّا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لَا تُجِيبُونَ.

ددې خلکو څخه زيات د هغه اوريدونکي نه ياست، مګر هغوى جواب نه ورکوي. بخاري او

متفق عليه و زاد البخاري قَالَ قَتَادَةُ أَحْيَاهُمُ اللّٰهُ حَتَّى أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ تَوْبِيخًا وَّتَصْغِيرًا وَّنِقْمَةً وَّحَسْرَةً وَّنَدَمًا.

مسلم . او د بخاري په روايت كي دا الفاظ زيات دي چي قتاده وويل چي الله تعالى هغه سرداران را ژوندي كړل چي د رسول الله ﷺ خبره واوريدل سي چي د هغوى زورونه وسي او هغوى خپل ذلت او خواري باندي پښيمان ، افسوس او عذاب محسوس كړي .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۳۰۰-۳۰۱، رقم: ۳۹۷۶، ومسلم ۴\ ۲۲۰۴، رقم: ۷۸- ۲۸۷۵.

د لغاتو حل طوِي: اى بئر (څاه). العرصة: كل موضع واسع لا بناء فيه (پراخ ځاى چي ابادي پكښې نه وي). شفة الركي: اى حافة البئر (د څاه پر غاړه).

تشريح شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله او داسي نورو علماؤ ددغه حديث په ذريعه د سمع موتى مسئله ثابته كړې ده حال دا چي اكثر حنفي علماء د سماع موتى څخه انكار كړى دى . د هغه علماؤ له خوا په مختلف انداز كي جواب وركړل سوى دى چي د هغه تفصيل د فقهي په كتبو كي لكه فتح القدير او داسي نورو كي كتلاى سئ .

د حنين د غزا د بنديانو ستنېدل

﴿۳۰۹۳﴾: وَعَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مروان او حضرت مسور ابن مخرمه (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په

قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ

خدمت كي د هوازن قوم يوه جركه حاضره سوه او خواست يې وكړ چي زموږ مال او بنديان بيرته راكړل سي (د هوازن قوم سره د مسلمانانو جنګ سوى وو چي د حنين د غزا په نامه مشهور دئ په دې جګړه كي د هغوى ډير مال لوټ سوى وو او په هغوى كي چي كوم خلك نيول سوى وه هغه بنديان كړل سول ددې پېښي څخه وروسته دا خلك مسلمانان سول او د خپل وفد ليږلو سره يې د مال او بنديانو د بيرته راكولو غوښتنه وكړه)

فَقَالَ فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ قَالُوا فَإِنَّا نَخْتَارُ

رسول الله ﷺ د وفد پر مطالبه وفرمايل په دغه دوو خبرو كي يوه غوره كړئ ، يا خو بنديان واخلئ يا مال، د وفد خلكو عرض وكړ موږ

سَبْيَنَا فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُسْلِمِينَ فَأَثْنَى عَلَى اللّٰهِ بِمَا

بنديان اخيستل خوښوو ، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ ولاړ سو او د خلكو په وړاندي

يې خطبه وفرمايل لومړی يې د الله ﷻ حمد او ثناء په هغه الفاظو كې بيان كړه

هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُونَا تَائِبِينَ وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ

چې د هغه مستحق دئ، بيا يې وفرمايل: (اې خلكو!) دوی تاسو ته توبه كړې راغلي دي او ما دا كار مناسب وګڼئ چې

أُرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ بِذَلِكَ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ

د دوی بنديان بيرته وركړم، په تاسو كې چې څوک په خوشحالۍ سره داسې كولای سې نو وه دې يې كړي او څوک چې دا خبره خوښوي چې

مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ

پر خپله برخه قائم پاته سي تر څو چې هغه ته به تر ټولو وړاندې راتلونكی (د غنيمت) په مال كې د هغه معاوضه وركړل سي نو هغه دې داسې وكړي،

فَقَالَ النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ

خلكو عرض وكړ اې د الله رسوله! موږ په خوشحالۍ سره په وركولو تيار يو، رسول الله ﷺ

اللهِ ﷺ إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعُوا

وفرمايل: ما ته دا معلومه نه سوه چې په تاسو كې چا اجازه وركړه او چا ورنه كړه، نو تاسو (خپلو ځايو ته) ستانه سئ او ستاسو مشران به

إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى

موږ ته ستاسو خيالات راورسوي، نو خلک ستانه سول، خپلو مشرانو د هغوی سره خبرې وكړې، بيا مشران رسول الله ﷺ ته راغلل او

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا. رواه البخاري

رسول الله ﷺ ته يې خبر وركړ چې خلكو په خپله خوښه (د بنديانو وركولو) اجازه وركړه. بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۴۸۳. رقم: ۲۳۰۷.

تشریح د مکې مکرمې څخه شمال لویدیځ ته چې د طائف کومه لاره ده پر هغه باندي یو پراخ میدان دی چې د هغه شاخوا غرونه دي او د هغه څخه د تېرېدو وروسته یو کوچنی کلی راځي ، د دغه میدان په باره کي ویل کیږي چې د هغه په شاوخوا کي د هوازن قبیلې خلک پراته وه او دلته د مکې د فتح څخه وروسته هغه غزا سوې ده کوم ته چې د حنین یا هوازن غزا وایي ، په دغه غزا کي مسلمانانو ته ډېر د غنیمت مال په لاس ورغلی او د دښمن بې شمېره خلک یې بندیان کړل او مدینې منورې ته یې راوستل چې د صحابه کرامو په مینځ کي وویشل سول ، کله چې د دغه غزا څخه وروسته د هوازن قبیلې خلک په اسلام مشرف سول نو هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او د خپل مال او بندیانو د بېرته ورکولو درخواست یې وکړ د هغوی مال او بندیان د مجاهدینو (صحابه کرامو) ملکیت سوی وو او د هغوی د اجازې څخه پرته د هغوی ملکیت بېرته اخیستل جائز نه وه ځکه رسول الله ﷺ په دې باره کي د صحابه کرامو په وړاندي ذکر سوی ارشاد وفرمایه او د هغوی څخه یې اجازه وغوښتل .

د بندیانو په بدله سره ایله کول

﴿۳۷۹۴﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كَانَ ثَقِيفُ حَلِيفًا لِبَنِي عُقَيْلٍ فَأَسَرَتْ

د عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د ثقیف قبیله د بني عقیل حلیف (ملګري) وه ،

ثَقِيفُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَسَرَ أَصْحَابُ

ثقیف د رسول الله ﷺ دوه صحابه کرام ونیول ، او د رسول الله ﷺ صحابوو د

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ فَأَوْثَقُوْهُ فَطَرَحُوْهُ فِي

بني عقیل یو سړی ونیوئ او وه یې تړئ او په ډبرینه مځکه کي یې وغورځوی ،

الْحَرَّةِ فَمَرَّ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فِيمَ

رسول الله ﷺ د هغه پر خوا تیریدئ نو هغه بندي اواز ورته وکړ اې محمد ! اې محمد ! زه مو

أُخِذْتُ قَالَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكَ ثَقِيفَ فَتَرَكَهُ وَمَضَى فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ يَا

ولي نیولی یم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ستاسو د حلیف د جرم په سبب چې ثقیف دي ، په دې ویلو سره رسول الله ﷺ هغه پر خپل حال پرېښودئ او وړاندي یې تشریف یوړ ، هغه بندي

بيا آواز ورته وکړ اې محمد ! اې محمد !

مُحَمَّدُ فَرَحِمَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَجَعَ قَالَ مَا شَأْنُكَ قَالَ إِنِّي

رسول الله ﷺ ته پر هغه رحم راغلئ او بيرته ورغلئ او وه يې فرمايل : ستا څه حال دئ ؟ هغه

مُسْلِمٌ فَقَالَ لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ قَالَ فَفَدَاهُ

عرض وکړ زه مسلمان يم . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که تا دا کلمه په داسي حالت کي ويلې واى چي ستا پر خپل ځان اختيار وو نو تا ته به پوره خلاصون ترلاسه سوى واى، د راوي بيان

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالرَّجُلَيْنِ الَّذِيْنَ اَسَرَتْهُمَا ثَقِيْفٌ . رواه مسلم

دئ دي وروسته رسول الله ﷺ د دوو بنديانو په بدله کي چي د ثقيف سره بنديان وه هغه پرېښودئ . مسلم

تخريج صحيح مسلم ۳\۱۲۶۲، رقم: ۸- ۱۶۴۱.

تشريح ثقيف د عربو د يو لوى او مشهوري قبيلې نوم دى چي د بنو هوازن يو ښاخ ده او په طائف کي پرته وه ، همدارنګه بنو عقيل هم يوه قبيله وه دغه دواړي قبيلې د يو بل مرسته کونکي وې ، د جاهليت په زمانه کي د عربو دا رواج وو چي په قبائلو کي د يو بل په مينځ کي په حلف او قسم سره دا عهد کيدى چي موږ به د يو بل په ښه او بد کي ملګري يو نو په موږ کي به د يوه دښمن د دوهم هم دښمن وي او د يوه دوست به د دوهم هم دوست وي مګر کله چي د اسلام زمانه راغله نو د جاهليت د زمانې هغه رواج خو جائز وو چي د هغه تعلق د حق او جائز خبرو سره وي مګر د کوم کار تعلق چي د ناحق او ناجائز سره وي هغه ختم کړل سو او حکم وکړل سو چي د اسلام کوم حلف دى هغه کافي دى .

د بنو عقيل يو سړى بندي کړل سو : يعني د ثقيف د قبيلې خلکو چي کوم دوه صحابه کرامو ونيول او د ځان سره يې بوتله نو د هغوى په بدله کي مسلمانانو د بنو عقيل يو سړى ونيوى او هغه يې دځان سره بندي کړى ځکه چي هغه وخت د قبيلو دا رواج وو چي د يوه حليف په جرم کي د دوهم حليف سړى به نيول کيدى مسلمانانو هم ددغه رواج سره سم عمل وکړ او په ظاهره په دې کي مصلحت هم وو .

حره د مدينې په شاوخوا کي د غرنۍ سيمي هغه تړتې ته ويل کيږي چي د هغه مځکه توره او ډبرينه وي .

زه مسلمان يم : ددغه الفاظو په ذريعه هغه سړي دا ښوول وغوښتل چي زه د مخکي څخه مسلمان يم ، ددې څخه معلومه سوه چي کوم غير مسلم د مسلمانانو په بند کي وي او هغه دا دعوه وکړي چي زه مسلمان يم نو د هغه خبره دي تر هغه وخته پوري نه منل کيږي تر څو چي د هغه دعوه د شاهدی په ذريعه ثابته نه سي مگر دا احتمال هم کېدای سي چي ددغه الفاظو په ذريعه د هغه سړي دا مراد وي چي زه اوس اسلام قبلوم ، په هر حال رسول الله ﷺ د هغه د اسلام دعوه قبوله نه کړه ځکه چي رسول الله ﷺ وليدل چي هغه يا خو د نفاق له مخي د خپل اسلام دعوه کوي يا د مجبوری په حالت کي هغه د اسلام دعوه کوي ځکه نو رسول الله ﷺ هغه درواغجن کړ او دارالحرب ته يې پرېښودی ، په دې اعتبار د هغه سړي سره د رسول الله ﷺ دا سي معامله گويا د رسول الله ﷺ د خصائصو څخه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ابوالعاص د ابله کېدو واقعه

﴿٢٧٩٥﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا بَعَثَ أَهْلُ مَكَّةَ فِي فِدَاءِ أَسْرَاهُمْ بَعَثَتْ زَيْنَبُ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دئ چي د بدر د غزا څخه وروسته چي د مکې کفارو رسول الله ﷺ ته د خپلو بنديانو د خلاصون معاوضه وليږل نو بي بي زينب

فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ بِمَالٍ وَبَعَثَتْ فِيهِ بِقِلَادَةٍ لَهَا كَانَتْ عِنْدَ خَدِيجَةَ أَدْخَلَتْهَا

د خپل خاوند ابوالعاص د خلاصون لپاره هم مال وليږئ چي په هغه کي ددې اميل وو ، کوم چي د بي بي خُديجې سره وو ، او هغه يې

بِهَا عَلَى أَبِي الْعَاصِ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَّ لَهَا رِقَّةً

بي بي زينب ته د نکاح پر وخت په مهر کي ورکړی وو ، رسول الله ﷺ چي هغه اميل وليدئ نو زړه مبارک يې نرم سو

شَدِيدَةً وَقَالَ إِنْ رَأَيْتُمْ أَنْ تُطْلِقُوا لَهَا أَسِيرَهَا وَتَرُدُّوا عَلَيْهَا الَّذِي لَهَا فَقَالُوا

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل که ستاسو خوښه وي نو د زينب بندي پرته د معاوضې پرېږدئ او زينب چي کوم مال رالېږلی دئ هغې ته يې بېرته ورکړئ ، صحابه کرامو عرض وکړ

نَعَمْ وَكَانَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ عَلَيْهِ ان يخلى سَبِيلَ زَيْنَبَ إِلَيْهِ

ډیره ښه ده، نو ابو العاص خلاص کړل سو او کله چي هغه مکې ته تلئ نو د هغه څخه يې عهد واخيست چي هغه به بي بي زينب مدينې ته راوليږي،

وَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ وَرَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ

رسول الله ﷺ زيد بن حارثه او يو انصاري د ابو العاص سره کړل او هغوى ته يې دا هدايت وکړ

فَقَالَ كُونَا بِبَطْنِ يَأْجَجَ حَتَّى تَمُرَّ بِكُمَا زَيْنَبُ فَتَصْحَبَاهَا حَتَّى تَأْتِيَا بِهَا. رواه احمد وابوداؤد

چي تاسو پر بطن يا جج (د ځايو نومان دي) باندي تم سئ کله چي زينب هلته را ورسيږي نو تاسو ورسره سئ او مدينې ته يې راولئ. احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ٦\٢٧٦، وابوداؤد ٣\١٤٠، رقم: ٢٦٩٢.

تشريح: بي بي زينب ﷺ د رسول الله ﷺ تر ټولو مشره لور ده او ابو العاص ابن ربيع چي د عبدالعزى ابن عبد شمس ابن عبدمناف ملسى وو د ام المؤمنين بي بي خديجې ﷺ خوريى وو او د بي بي زينب ﷺ د خاوند کېدو په وجه يې زوم هم وو.

بي بي خديجة ﷺ د رسول الله ﷺ تر ټولو مخکنۍ بي بي مبارکه وه، د رسول الله ﷺ ټول اولاد پرته د ابراهيم ﷺ څخه د بي بي خديجې ﷺ څخه پيدا سوي وه، ابراهيم ﷺ کوم چي په کم عمر کي وفات سوى وو د بي بي ماريه قبطيه ﷺ څخه پيدا سوى وو.

بي بي زينب ﷺ د يو کافر يعني ابو العاص په نکاح کي وه نو ددې سبب دا وو چي هغه وخت د مسلماني ښځي نکاح د کافر سړي سره جائز وه او د مکې څخه د بي بي زينب ﷺ د راوستلو لپاره د رسول الله ﷺ له خو د داسي دوو کسانو استول کوم چي د بي بي زينب ﷺ د شرعي محارمو څخه وه دا بالکل يو خاص ډول معامله وه او هغه يو داسي صورت وو چي د آمن صورت ورته ويل کيږي، بي بي زينب ﷺ د رسول الله ﷺ لور وه ځکه د هغې سره د يو غير محرم کېدل د يو ډول شک او شبهې څخه لوړ وو او د يو بيري او خطرې پيدا کېدو سوال هم نه وو. دا يوه عامه مسئله ده چي ښځي ته د نامحرم سره سفر کول جائز نه دي.

بطن يا جج د يو ځاى نوم دى چي د مکې مکرمې څخه تقريبا پر اته ميله فاصله باندي واقع

دی ، دغه لفظ (جج) په قاموس کې په یا او دوو جیمو سره (یاجج) هم نقل کړی دی ، د مشکوة او مصابیح په اکثرو پخوانیو نسخو کې دغه لفظ په ناجج سره ذکر سوی دی .

کله چې بي بي زینب ﷺ د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته راغلل نو ابو العاص په مکه کې پاته سو او پر کفر باندې قائم وو ، څو ورځې وروسته هغه د تجارت لپاره شام ته سفر وکړی ، کله چې د مدینې مسلمانانو ته معلومه سوه چې ابو العاص په دغه سفر کې مدینې ته نژدې تېرېږي نو هغوی دا فلان جوړ کړی چې کله ابو العاص د مدینې په سیمه کې داخل سي نو د هغه سامان دې لوټ کړل سي، کله چې د دغه فلان خبر بي بي زینب ﷺ ته ورسېدی نو د هغې زړه د خپل خاوند په مینه کې بې تابه سو او سمدستي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او ورته وه یې ویل چې اې دالله رسوله ! ایا په مسلمانانو کې د یو چا د عهد او امان اعتبار نه سته ؟ یعني کله چې یو مسلمان یو کافر ته د امان عهد ورکړي نو بیا دا د ټولو مسلمانانو ذمه داري ده چې هغه کافر ته امان او پناه ورکړي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو د یو مسلمان د عهد امان اعتبا روي نو بي بي زینب ﷺ وویل بیا تاسو شاهد اوسئ چې زه ابو العاص ته د امان عهد ورکوم. صحابه کرامو چې دا حال ولیدی نو د هغوی لپاره پر خپل فلان باندې عمل کول نه ممکن سول مګر بیا هم هغوی بېله اسلحې مدینې ته نژدې د ابو العاص لارې ته ورسیدل او د هغه سره یو ځای سول او ورته وه یې ویل چې اې ابو العاص! ته د قریشو یو عزتمند ، شریف او د حیثیت خاوند سړی یې او د پیغمبر ﷺ د اکا زوی هم یې نو په دې نسبت سره ستا په باره کې تر دې غوره بله لار نه سته چې ته مسلمان سې تر څو د آخرت فلاح او خلاصون تر لاسه کړې او ستا دغه مال به هم ستا سره وي ، ابو العاص وویل تاسو چې دا ویلي دي چې د مسلمان کېدو په وجه به ستا مال هم خوندي سي نو دا بالکل یو نامناسبه خبره ده زه ددې څخه پناه غواړم چې خپل اسلام په مال او دولت سره چټل کړم ، ددې څخه وروسته ابو العاص مکې ته روان سو او هلته په رسیدو سره د خلکو مالونه هغوی ته وسپارل او بیا یې ټولو ته وویل اې د مکې د اوسیدونکو ! ستاسو مالونه تاسو ته ورسېدل ؟ هغوی وویل هو موږ ته راورسېدل ، بیا ابو العاص د هغوی په مخکې اعلان وکړ چې تاسو ټول شاهد اوسئ چې زه مسلمان سوی یم : اشهد ان لااله الاالله واشهد ان محمدا رسول الله .

ددې څخه وروسته حضرت ابو العاص ﷺ په مکه مکرمه کې د خپل کور، قریبان، مال او سامان هر څه په پرېښودو سره د هجرت لار اختیاره کړه او مدینې ته په رسېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو ، رسول الله ﷺ د ډېرې مینې او الفت څخه ورته ښه راغلاست

ووايه او بي بي زينب ﷺ يې هغه ته وسپارل .

په دې باره کي اختلاف دی چي رسول الله ﷺ د ابو العاص مدينې ته په رسېدو سره د بي بي زينب ﷺ سره د هغه دوهم وار نکاح کړې وي او که په مخکنۍ نکاح کي يې ساتلې وه .

د رسول الله ﷺ د ابو العاص ﷺ سره ډېر زيات تعلق وو په خاصه توګه د هغه د مسلمان کېدو څخه وروسته يې د هغه سره ډېره مينه درلودل او د هغه څخه ډېر زيات خوشحاله وو ، نوموړی د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د خلافت په زمانه کي د يمامه په جګړه کي شهيد سو .

په جنګ بدر کي د بنديانو وژنه

﴿٣٧٩٦﴾: وَعَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَسَرَ أَهْلَ بَدْرٍ قَتَلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِيْ مُعِيْطٍ وَّالنَّضْرَ بْنَ الْحَارِثِ وَمَنَّ عَلٰى أَبِيْ عَزَّةَ الْجُمَحِيِّ . رواه في شرح السنة

د عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ چي د بدر خلک بنديان کړل نو عقبه بن ابي معيط او نضر بن حارث يې ووژل او په ابي عزة جمحي يې احسان وکړ (پرې يې ښودی) . شرح السنه

تخريج البغوي في شرح السنة ١١\٧٨، رقم: ٢٧١١.

تشريح د وخت امير او پاچا ته دا اختيار حاصل دی چي کوم کافران د هغه په بند کي وي او هغوی اسلام قبول نه کړي نو که امير وغواړي هغوی دي قتل کړي او که وغواړي غلامان دي يې کړي او که وغواړي د مسلمانانو د امان په وجه دي هغوی ازاد کړي البته د هغوی مشکور کول يعني بېله معاوضې اېله کول جائز نه دي ځکه چي د دې جواز منسوخ سوی دی .

﴿٣٧٩٧﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ قَتْلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِيْ مُعِيْطٍ قَالَ مَنْ لِلصِّبْيَةِ قَالَ النَّارُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ د عقبه بن ابي معيط د قتل اراده وکړه نو هغه وويل کوچنيان به څوک پالي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اور . (يعني ته او رته د تللو فکر کوه کوچنيان به الله ساتي) . ابو داؤد .

تخريج سنن ابي داود ٣\١٣٥، رقم: ٢٦٨٦.

تشريح د رسول الله ﷺ دا ويل چي کوچنيان به يې اور پالي، دا د هغه کوچنيانو د ضائع کېدو د مفهوم حامل دی يعني که اور ددې صلاحيت ولري چي هغه د يو شي مرسته کونکی او غم خوار سي نو يقينا هغه به د کوچنيانو هم مرسته کونکی او کفيل کيدای مگر هغه داسي صلاحيت نه لري ځکه د کوچنيانو د بل مرسته کونکي او کفيل نه کېدو په وجه د هغوی تباهي لازمه ده.

او يا د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي ته اوس خپل فکر کوه چي د دوږخ اور ستا هستوګنځای دی د کوچنيانو په فکر کي مه اخته کيږې چي د هغوی روزنه نه پر تا منحصر ده او نه پر بل چا باندي د هغوی مرسته کونکی او کفيل د الله جل جلاله ذات دی هغه به يې روزنه کوي.

د بدر د غزا د بنديانو په باره کي اختيار

﴿۳۷۹۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ جِبْرَائِيْلَ هَبَطَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بدر د غزا وروسته حضرت جبرائيل عليه السلام

عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ خَيِّرْهُمْ يَعْنِي أَصْحَابَكَ فِي أُسَارٰى بَدْرٍ الْقَتْلَ أَوِ الْفِدَاءَ عَلٰى

رسول الله ﷺ ته تشريف راوړ او وه يې فرمايل: خپلو اصحابو ته د بدر د بنديانو په اړه اختيار ورکړئ که هغه وژني او که په معاوضه يې ايله کوي،

أَنْ يُقْتَلَ مِنْهُمْ قَابِلًا مِثْلُهُمْ قَالُوا الْفِدَاءَ وَيُقْتَلُ مِنَّا. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

که هغوی معاوضه واخلئ نو راتلونکی کال به د هغوی اويا کسان ووژل سي (نو همداسي وسول او د احد په غزا کي اويا کسان ووژل سول) صحابه کرامو په دې اختيار اوريدو سره وويل موږ معاوضه اخيستل او اويا زموږ څخه وژل کيدل قبلوو. ترمذي.

تخريج سنن الترمذي ۴\ ۱۱۴، رقم: ۱۵۶۷.

تشريح د بدر په غزا کي چي کوم کفار د مسلمانانو مقابلې ته راغلی وه په هغوی کي اويا د قريشو کفار قتل سوي وه او اويا کسان يې په نېولو سره مدينې ته راوستل، کله چي يې اويا بنديان مدينې ته راوستل نو رسول الله ﷺ د هغوی په باره کي د صاحب الرايه صحابه کرامو سره مشوره وکړل چي د دوی سره څه وکړل سي ايا ووژل سي او که د مال په بدله کي ايله کړل

سي ؟ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ دا مشوره ورکړه که چیري و نه وژل سي بلکه ژوندي پرېښودل سي نو څه عجیبه نه ده چي الله تعالی د کفر څخه د توبې توفیق ورکړي او مسلمانان سي البته د دوی څخه فدیه واخلئ او د دوی څخه د فدیې په توګه چي کوم مال واخیستل سي هغه دي ستاسو د ملګرو یعني مسلمانانو د تقویت او د دیني او دنیوي اړتیاوو لپاره استعمال کړل سي.

حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ وویل چي زما رایه داده چي تاسو د دوی ټولو سرونه پرې کړئ ځکه چي دوی د کفر او شرک مشران او پېشوا دي او کوم چي د دوی د اہله کېدو په ذریعه د مالي ګټې سوال دی نو الله تعالی تاسو د مال تر لاسه کولو څخه مستغني او بې نیازه کړي یاست، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو د اختلاف په لېدو سره د حضرت جبرائیل علیہ السلام په مشوره صحابه کرامو ته اختیار ورکړل چي تاسو په دغه دواړو کارو کي یو وټاکئ که وغواړئ نو د خپلو بندیانو سرونه پرې کړئ او که وغواړئ نو د فدیې په اخیستلو سره هغوی ازاد کړئ مګر دا دي څرګنده وي چي د فدیې اخیستلو په صورت کي دا مقدر سوي دي چي په راتلونکي کال به ستاسو څخه اویا کسان شهیدان کیږي او کفارو ته به فتح حاصلیږي.

صحابه کرامو د دغه خبرتیا سربېره فدیه اخیستل اختیار کړل، په راتلونکي کال چي کله د اُحد غزا وسوه نو د جنګ په مېدان کي مسلمانانو ته سخته مقابله رامنځته سول تر دې چي پر یو موقع باندي د ماتي خوړلو صورت هم اختیار کړل سو نو رسول الله ﷺ چي یو کال مخکي د کومو شیانو څخه خبر کړي وه هغه مخته راغلل یعني په دغه غزا کي د مسلمانانو اویا قیمتي کسان شهیدان سول او په دغه اویا شهیدانو کي حضرت حمزه رضی اللہ عنہ ابن عبد المطلب او حضرت معصب رضی اللہ عنہ ابن عمیر په ډول ستر صحابه کرامو هم شامل وه.

د جنګ څخه وروسته حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو وه یې لېدل چي رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ دواړه ژاړي، حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ پوښتنه وکړه چي تاسو ولي ژاړئ ما ته هم وښیاست چي زه هم وژاړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل زه ستا پر ملګرو ژاړم چي هغوی فدیه اخیستل اختیار کړي وه او د رسول الله ﷺ سره نژدې یوه درخته ولاړه وه او هغه ته په اشاره کولو سره یې وفرمایل چي ما ته د دغه درختي څخه هم زیات نژدې د دوی عذاب ښوول سوی دي او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل که پر هغوی عذاب نازل سوی وای نو د هغه عذاب څخه به د عمر او سعد ابن معاذ څخه پرته بل هیچا ته خلاصون تر لاسه سوی نه وای.

په هر حال کله چي صحابه کرامو فدیه اخیستل اختیار کړل نو د دې بنیاد د هغه بندیانو په

باره کي د هغه صحابه کرامو د رحم جذبه هم د هغه متقاضي سوه چي هغه بنديان دي قتل نه کړل سي ، دلته يو اشکال پيدا کيږي چي کله مسلمانانو ته په دوو شيانو کي د يوه شي اختيار ورکړل سوی وو او د هغه اختيار په وجه يې يو شی خوښ کړ نو بيا پر هغوی عتاب ولي نازل سو ، اې دغه عتاب ددې خلاف نه دی ؟ ددې جواب دادی چي دغه اختيار ورکول په اصل کي د امتحان او ازموينې په توګه وو چي ايا مسلمانان هغه شي اختياري کوم چي خوښ او حق دی يا هغه شی اختياروي کوم چي د هغوی د خواهش مطابق دی، په دې اعتبار سره ګويا هغوی په امتحان کي کامياب نه سول ځکه چي هغوی هغه شی اختيار کړی کوم چي د هغوی زړه غوښتی نو په دې وجه پر هغوی عتاب نازل سو .

علامه توريشتي رحمه الله دغه حديث بعيد ګڼلی دی ځکه چي دا په ظاهره د هغه خبري مخالف دی کوم چي د قرآن کريم څخه مفهوم کيږي او په ترمذي کي پر دغه روايت کي د غرابت حکم لګول سوی دی مګر ويل سوي دي چي د غريب روايت په ذريعه يو خبره ثابتول د طعن سبب نه دی ځکه چي غريب روايت کله صحيح هم وي .

د بنديانو پلټنه

﴿۳۷۹۹﴾: وَعَنْ عَطِيَّةَ الْقُرَظِيِّ قَالَ كُنْتُ فِيْ سَبْيِ قُرَيْظَةَ عُرِضْنَا عَلَى النَّبِيِّ

د حضرت عطيه قرظي رضی الله عنه څخه روايت دئ چي زه د بنو قريظه په بنديانو کي وم ، موږ د نبي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعْرَ قُتِلَ وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ

کريم ﷺ په خدمت کي وړاندي کړل سوو د صحابه کرامو دا عادت وو چي د بنديانو تر نامه لاندي ځای به يې خلاص کړ او کتل به يې چي د چا وربېښتان به راغلي وه هغه به يې وژل او د چا

لَمْ يُقْتَلْ فَكَشَفُوا عَانَتِي فَوَجَدُوهَا لَمْ تُنْبِتْ فَجَعَلُونِي مِنَ السَّبْيِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

چي به وربېښتان نه وه نو هغه به يې پرېښودل . زما تر نامه لاندي وربېښتان نه وه نو زه يې بندي کړم . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي .

تخريج سنن ابي داود ۱۴\ ۵۶۱، رقم: ۴۴۰۴، وابن ماجه ۱۲\ ۸۴۹، رقم: ۲۵۴۱، والدارمي ۱۲\ ۲۹۴، رقم: ۲۴۶۴.

تشریح علامه توربشتي رحمة الله عليه وايي چي د نامه لاندي وېښتانو را ختل د بلوغ علامه ګرځول د ضروري حکمت په وجه وو ځکه که د هغه بنديانو څخه د بلوغ د علامو يعني احتلام او د بلوغ د عمر پوښتنه سوې واى نو هغوى به د خپل هلاکت د بيري څخه صحيح خبره نه کولاى.

د مسلمان سوو غلامانو د بیرته ورکولو څخه انکار

﴿۳۸۰۰﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ خَرَجَ عِبْدَانٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د حديبې په ورځ د صلح څخه مخکي د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو څو غلامان پيش کړل سول (چي د خپلو مالکانو څخه راغلي وه)

يَعْنِي يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ الصُّلْحِ فَكَتَبَ إِلَيْهِ مَوَالِيهِمْ فَقَالُوا يَا مُحَمَّدُ وَاللَّهِ

د غلامانو مالكانو رسول الله ﷺ ته وليكل چي اې محمد ! قسم په الله!

مَا خَرَجُوا إِلَيْكَ رَغْبَةً فِي دِينِكَ وَإِنَّمَا خَرَجُوا هَرَبًا مِنَ الرِّقِّ فَقَالَ نَاسٌ

دا غلامان تاسو ته ددې لپاره نه دي راغلي چي ستاسو دين ته شوق لري بلكه دا خلک تښتېدلي دي او د غلامۍ څخه خلاصيدل غواړي، په صحابه کرامو کي يو څو کسانو وويل:

صَدَقُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ رُدَّهُمْ إِلَيْهِمْ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اې دالله رسوله ! د دوى مالکانو صحيح ويلي دي دا غلامان بيرته ورکړئ، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ په غصه سو

وَقَالَ مَا أُرَاكُمْ تَنْتَهُونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ حَتَّى يَبْعَثَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ

او وه يې فرمايل: قريشو ! زه وينم چي تاسو د خپلي سرکښۍ او نافرمانۍ څخه نه منع کيږئ تر څو پوري چي الله تعالى هغه سړى را ونه ليږي چي ستاسو پر دې تجويز ستاسو

رِقَابَكُمْ عَلَى هَذَا وَأَبَى أَنْ يَرُدَّهُمْ وَقَالَ هُمْ عُتَقَاءُ اللَّهِ. رواه ابوداؤد.

غاړې ووهئ، ددې څخه وروسته يې د غلامانو د بيرته ورکولو څخه انکار وکړ او وه يې فرمايل: دوى د الله تعالى ازاد کړل سوي دي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۴۸، رقم: ۲۷۰۰.

تشریح: رسول الله ﷺ ځکه په غصه سو چي صحابه کرامو د هغه غلامانو په باره کي خپل ذاتي رايه د شرعي حکم مقابل کړل او ګويا د هغوی د مالکانو د دعوې شاهدي يې ورکړل نو د هغه غلامانو په باره کي شرعي حکم دا وو چي هغوی د دارالحرب څخه د راوتلو په سبب محض د اسلام قبلولو په وجه معصوم او ازاد سوي وه او د هغوي مالکانو ته دار الحرب ته ورکول جائز نه وه نو د صحابه کرامو د هغوی د بيرته ورکولو د مطالبې تائيد کول پر جبر او زياتوب باندي د هغوی د مالکانو د مرسته کولو مترادف وو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د حضرت خالد رضي الله عنه له خوا د احتياط يوه واقعه

﴿۳۸۰۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ولېږی خالد بن وليد،

إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا أَسْلَمْنَا فَجَعَلُوا

جذيمې قبيلې ته ، خالد هغوی ته د اسلام بلنه ورکړه ، هغوی د پريشانۍ په حالت کي دا جمله هم په ښه ډول ادا نه کړلای سوه چي (اسلمنا) (يعني موږ اسلام راوړ) او دا ويل يې پيل کړل

يَقُولُونَ صَبَأْنَا صَبَأْنَا فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ وَيَأْسِرُ وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ

چي (صبانا) (يعني موږ د خپل دين څخه ووتو) د دې په اوريدو سره خالد د هغوی قتلول او نيول پيل کړل او زموږ په خلکو کي هر يو ه ته د هغه نيول سوی بندي ورکړ

حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ خَالِدٌ أَنْ يَقْتُلَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا

بيا يوه ورځ خالد بن وليد دا حکم جاري کړ چي په موږ کي دي هر يو سړی خپل بندي مړ کړي، ما وويل قسم په الله!

أَقْتُلُ أَسِيرِي وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي أَسِيرَهُ حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى

زه خپل بندي نه مړ کوم او نه به په موږ کي بل سړی بندي مړ کوي، غرض دا چي موږ ټول د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ

او پېښه مو ورته بيان کړه، رسول الله ﷺ خپل مبارک لاسونه د دعاء لپاره پورته کړل او وه يې

إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري.

ويل اې الله ! زه د هغه کار څخه چې خالد کړی دئ تا ته بيزاري ښکاره کوم دوه واره يې وويل، (يعني د خالد د غلطۍ څخه د بيزارۍ اظهار کوم). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٣\١٨١، رقم: ٧١٨٩.

تشريح: خطابي رحمة الله عليه وايي چې رسول الله ﷺ د الله تعالى په دربار کې د حضرت خالد رضي الله عنه د عمل څخه ځکه د بېزارۍ اظهار وکړ چې خالد رضي الله عنه په هغه وخت کې د احتياط لار اختيار نه کړل او په دې خبره کې يې غور او فکر ونه کړ چې هغه خلکو د صبانا څخه څه مراد اخيستی ځکه چې دغه لفظ (صبانا) د اسلام اختيارولو د مفهوم احتمال هم درلودی مگر خالد رضي الله عنه محض په دې لېدو سره چې هغه خلکو د اسلام د قبوليت مفهوم په واضحه توگه د ظاهرو الفاظو (اسلمنا) استعمالولو څخه غاړه اړولې ده ځکه يې د هغه خلکو خبره ونه منل او د هغوی ويل سوي الفاظ يې د هغوی پر بې دينه کېدو باندې محمول کړل او د هغوی وژل او بندي کول يې شروع کړل.

==========

بَابُ الْاَمَانِ (د امان ورکولو بيان)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د ام هانی له خوا د خپل يو قريب د امان ورکولو واقعه

﴿٣٨٠٢﴾: عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ قَالَتْ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ام هانئ بن ابي طالب (رض) څخه روايت دئ چې د مکې د فتح په کال زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوم،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ فَسَلَّمْتُ

رسول الله ﷺ دغه وخت غسل کوئ او د هغوی لور بي بي فاطمې پرده کړې وه، ما سلام ادا کړ،

فَقَالَ مَنْ هَذِهِ قُلْتُ أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ فَلَمَّا

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څوک؟ ما عرض وکړ زه د ابو طالب لور ام هاني یم، رسول الله ﷺ وفرمایل: ام هاني ته دې ښه راغلاست وي، بیا کله چې

فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُلْتُ

رسول الله ﷺ غسل وکړنو پر بدن مبارک یې جامه کې نغښتې وو د څاښت اته رکعته لمونځ یې وکړ، (کله چې دلمانځه څخه فارغ سو) نو ما عرض وکړ

يَا رَسُولَ اللَّهِ زَعَمَ ابْنُ أُمِّي عَلِيٌّ أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلًا أَجَرْتُهُ فُلَانُ ابْنُ هُبَيْرَةَ

اې د الله رسوله! زما د مور زوی (حضرت علي) ویلي دي چې هغه د داسړي وژونکي دئ چا ته چې ما خپل په کور کې پناه ورکړې ده یعني د هبیره زوی ته،

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ قَالَتْ

رسول الله ﷺ وفرمایل: اې ام هانئ! چا ته چې تا پناه ورکړې ده هغه ته مونږ هم پناه ورکړې ده،

أُمُّ هَانِئٍ وَذَلِكَ ضُحًى. متفق عليه، وفي رواية للترمذي قَالَتْ اَجَرْتُ رَجُلَيْنِ

ام هانئ وایي دا پېښه د څاښت د وخت ده، بخاري او مسلم. او د ترمذي په روایت کې دا الفاظ

مِنْ اَحْمَائِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اٰمَنَّا مَنْ اٰمَنْتِ.

دي چې ام هانئ دا عرض وکړ چې ما دوو کسانو ته پناه ورکړې ده چې زما د خاوند قریبان دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: مونږ هم هغوی ته امان ورکړ چا ته چې تا امان ورکړ.

تخریج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٢٧٣، رقم: ٣١٧١، ومسلم ١\ ٤٩٨، رقم: ٨٢- ٣٣٦، والترمذي ٤\ ١٢٠، رقم: ١٥٧٩.

د لغاتو حل احمائي: جمع حمو وهو قريب الزوج (د خاوند خپل لکه لېور)

تشریح د بي بي ام هاني رضي الله عنها اصل نوم فاخته وو، او ځينو عاتکه بیان کړی دی، نو موږې د ابو طالب لور او د حضرت علي رضي الله عنه سکه خور وه، هبیره د هغې د خاوند نوم دی، کله چې ام هاني رضي الله عنها د مکې د فتح په کال اسلام قبول کړنو د هبیره څخه د هغې جلاوالی واقع سو ځکه چې

هغه مسلمان نه سو .

كوم سړي ته چي بي بي ام هاني ﷞ پناه وركړې وه هغه سړى د دې د خاوند د اولاد څخه وو ، غالبه داده چي هغه د ام هاني ﷞ څخه پرته د هبيره د بلي ښځي د نس څخه وو ، حضرت علي ﷜ د هغې د پناه په نه قبلولو سره د هغه سړي وژل وغوښتل، ام هاني ﷞ د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او واقعه يې ورته بيان كړه نو رسول الله ﷺ د هغې پناه قبوله كړه او هغه سړى د حضرت علي ﷜ دلاسه د وژل كېدو څخه وساتل سو .

ترمذي چي كوم روايت نقل كړى دى د هغه څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ هغه وخت د ام هاني ﷞ په كور كي غسل كوى مگر دلته چي د بخاري او مسلم كوم روايت نقل سوى دى د هغه د ظاهري مفهوم څخه دا واضحه كيږي چي رسول الله ﷺ په خپل سراى كي يا د بي بي فاطمې ﷞ په كور كي غسل كوى ، په دغه صورت كي به د دواړو روايتو په مينځ كي داسي مطابقت وي چي د بخاري او مسلم په روايت كي دغه عبارت مقدر دى چي رسول الله ﷺزما په كور كي غسل كوى او يا دا به ويل كيږي چي د ترمذي په روايت كي كومه واقعه بيان سوې ده هغه د بل وخت واقعه ده او د بخاري او مسلم په روايت كي د بل وخت واقعه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ښځي امان وركول

﴿۳۸۰۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَرْأَةَ لَتَأْخُذُ لِلْقَوْمِ يَعْنِي تُجِيرُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريرة ﷜ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : ښځه د مسلمانانو په باور قوم ته پناه وركوي يعني ښځه چي چا ته امان وركړي هغه د ټول قوم امان دئ . ترمذي

تخريج سنن الترمذي ١٢٠/٤، رقم: ١٥٧٩.

تشريح مطلب دادى كه يو مسلمانه ښځه يو كافر ته يا د كافرانو يو ډلي ته امان وركړي نو دا به د ټولو مسلمانانو ذمه داري وي چي هغوى د ښځي د امان لحاظ وساتي او هغه كافر يا هغه ډلي ته امان او پناه وركړي او د هغې د امان عهد مات نه كړي.

د عهد ماتونکي په اړه وعيد

﴿٣٨٠٤﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَمِقِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَمَنَ رَجُلاً عَلٰى نَفْسِهِ فَقَتَلَهُ أُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عمرو بن حمق رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي چا ته امان ورکړي او بيا هغه ووژني هغه ته به د قيامت په ورځ د بد عهدۍ (بې قولۍ) او ټګۍ بيرغ ورکړل سي. شرح السنة

تخريج البغوي في شرح السنة ١١\٩١، رقم: ٢٧١٧.

تشريح هغه ته به د بې قولۍ نښه ورکړل سي : ددغه جملې په ذريعه کنايةً دا بيان سوي دي چي هغه سړی به د حشر په ميدان کي د ټولو مخلوقاتو په مخکښي ذليل او رسوا کړل سي، په نورو حديثو کي دا بيان سوی دی چي د قيامت په ورځ به قول ماتونکی ته داسي نښه ورکړل سي چي د هغه په ذريعه به هغه پېژندل کيږي چي دا هغه سړی دی کوم چي عهد يې مات کړی وو.

د معاهدې پوره پابندي کول پکار دي

﴿٣٨٠٥﴾: وَعَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ كَانَ بَيْنَ مُعَاوِيَةَ وَبَيْنَ أَهْلِ الرُّوْمِ عَهْدٌ

د حضرت سليم بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د معاويه رضي الله عنه او د روميانو په منځ کي دا عهد

وَكَانَ يَسِيْرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ حَتّٰى إِذَا انْقَضَى الْعَهْدُ أَغَارَ عَلَيْهِمْ فَجَاءَ رَجُلٌ عَلٰى

سوی وو (چي هغوی به تر ټاکلي وخت پوري جنګ نه کوي) معاويه به د دغه عهد په زمانه کي د روم په ښارونو کي تګ کوئ کله چي د عهد وخت ختم سو نو هغه به ناڅاپه پر روميانو حمله وکړي او لوټ به يې کړي، (په دغه ورځو کي) يو سړی

فَرَسٍ أَوْ بِرْذَوْنٍ وَهُوَ يَقُوْلُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ فَنَظَرُوْا فَإِذَا هُوَ

پر عربي يا ترکي آس باندي سپور راغلئ او وه يې ويل د الله اکبر الله اکبر عهد دي پوره کړل سي، بد عهدي دي نه کيږي، (د هغه مطلب دا وو چي د عهد او صلح په ورځو کي تاسو خلک د روم په ښارونو کي تګ کوئ نو دا بد عهدي ده) خلکو وليدل چي دا سړی

عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ فَسَأَلَهُ مُعَاوِيَةُ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عمرو بن عبسه صحابي وو ، معاويه د هغه څخه پښتنه وپوښتل هغه ورته وويل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ عَهْدًا وَلَا يَشُدَّنَّهُ

څوک چي د يو قوم سره عهد وکړي نو هغه ته پکار ده چي هغه عهد مات نه کړي او وه يې نه تړي (د تړلو څخه مراد د عهد بدلون دئ)

حَتّٰى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَاءٍ قَالَ فَرَجَعَ مُعَاوِيَةُ بِالنَّاسِ . رواه الترمذي وابوداؤد

تر څو پوري چي د هغه عهد وخت تير نسي ، يا عهد دواړي ډلي مات نه کړي ، د سليم بن عامر روايت دئ چي د عمرو بن عبسه په دې خبره اوريدو سره معاويه د خپلو کسانو سره بيرته ولاړئ . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج سنن الترمذي ١٢١\٤، رقم: ١٥٨٠، وابوداؤد ١٩٠\٣، رقم: ٢٧٥٩.

د لغاتو حل برذون: التركي من الخيل (تركي آس)

تشريح د نه تړلو مطلب دادی چي په خپل هيڅ فعل سره د معاهدې په مقصد کي تغير او تبديلي ونه کړئ ګويا ددغه جملې مراد د وعدې په پوره کولو کي هيڅ ډول تغير نه کول دي ، د شد نه معنی د خپل عهد ټينګ او مستحکم کول دي او دا د شريعت په نظر کي مستحسن او مطلوب دی.

د عهد دوفا او د قاصد د احترام اهميت

﴿٣٨٠٦﴾: وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ بَعَثَتْنِي قُرَيْشٌ إِلٰى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دئ چي د صلح حديبې پر وخت قريشو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وليږلم .

فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُلْقِيَ فِي قَلْبِي الْإِسْلَامُ فَقُلْتُ يَا

کله چي زما نظر پر رسول الله ﷺ ولګیدئ نو زما په زړه کي اسلام صداقت او عظمت ځای وکړ ، ما عرض وکړ اې

رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي وَاللّٰهِ لَا أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا قَالَ إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ وَلَا أَحْبِسُ

دالله رسوله ! اوس زه هیځکله قریشو ته نه ورځم ، رسول الله ﷺ وفرمایل زه نه عهد ماتوم او نه قاصدان بندي کوم ،

الْبُرُدَ وَلٰكِنْ ارْجِعْ فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ قَالَ فَذَهَبْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمْتُ . رواه ابوداؤد

ته بیرته ولاړ سه که ستا په زړه کي هغه شی قائم او باقي پاته سيَ کوم چي دې په دغه.وخت کي تر لاسه کړی دئ نو بیا به راسې ، د ابو رافع بیان دئ چي زه مکې ته ولاړم ، بیا د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او اسلام مي قبول کړ . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۱۸۹\۳، رقم: ۲۷۵۷.

د لغاتو حل: البرد: جمع برید وهو الرسول (استازی)

تشريح: ابو رافع ﷺ د مکې د کفارو له خوا یو پیغام راوړی وو ځکه رسول الله ﷺ هغه د ځان سره تم نه کړ چي هغه مکې ته په بېرته تللو سره د قریشو کفارو ته د هغوی د پیغام جواب ورکړي نو رسول الله ﷺ چي هغه ته کوم حکم ورکړ د هغه مطلب دا وو چي اسلام ستا په زړه کي ځای نیولی دی او اوس تا د مسلمان کېدو ښخه هیڅوک منع کولای نه سي مګر د احتیاط او وعدې پوره کولو غوښتنه داده چي ته اوس د خپل اسلام اظهار او اعلان مه کوه بلکه مکې ته ولاړ سه او د قریشو کفارو چي کومه ذمه داري تا ته سپارلې ده د هغه په پوره کولو سره راسه یعني هغوی چي ته د کومي خبري د جواب راوړلو لپاره استولی یې هغوی ته جواب ورسوه او بیا موږ ته په راتللو سره د خپل اسلام اظهار او اعلان وکړه .

﴿۳۸۰۷﴾: وَعَنْ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلَيْنِ جَاءَ مِنْ عِنْدَ مُسَيْلِمَةَ أَمَا وَاللّٰهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ

أَعْنَاقَكُمَا. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت نعیم بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه دوو کسانو ته چي د مسیلمه کذاب (د نبوت دعوه کونکي) د لوري راغلي وه وفرمایل: قسم په الله که په شریعت کي د قاصد وژل منع نه وای نو ما به ستاسو غاړي وهلي وای. احمد او ابوداؤد

تخریج: مسند الامام احمد ۱۳\۴۸۷، وابوداؤد ۱۳\۱۹۱، رقم: ۲۷۶۱.

تشریح: مسیلمه د یو سړي نوم وو چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي یې د خپل نبوت درواغجنه دعوه کړې وه ځکه هغه ته مسیلمه کذاب ویل کیږي، هغه دوه کسان چي د مسیلمه کذاب له خوا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوي وه په هغوی کي د یوه نوم عبدالله ابن نواحه او د بل نوم ابن اثال وو، دوی دواړو رسول الله ﷺ ته دا ویلي وه چي نشهد ان مسیلمه رسول الله، یعني زموږ شاهدي ادا کوو چي مسیلمه د الله رسول دئ، ځکه رسول الله ﷺ په پټه خوله ذکر سوي الفاظ وفرمایل.

د جاهلیت د زماني معاهدې پوره کول

﴿۳۸۰۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي خُطْبَتِهِ أَوْفُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُهُ يَعْنِي

ﷺ په یوه خطبه کي وفرمایل: د جاهلیت قسم پوره کړئ، ځکه چي اسلام د قسم قوت زیاتوي،

الْإِسْلَامَ إِلَّا شِدَّةً وَلَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الْإِسْلَامِ. رواه الترمذي مِنْ طَرِيقِ

او په اسلام کي قسم مه پیدا کوئ (یعني د جاهلیت په ډول قسمونه مه رواج کوئ)، ترمذي دا

حُسَيْنِ بْنِ ذَكْوَانَ عَنْ عَمْرٍو وَقَالَ حَسَنٌ وَ ذُكِرَ حَدِيثُ عَلِيٍّ الْمُسْلِمُوْنَ تَتَكَافَأُ دِمَائُهُمْ فِيْ كِتَابِ الْقِصَاصِ.

د حسین بن ذکوان او د عمرو په لړۍ سره روايت کړ او دغه حديث ته یې حسن ویلي دي، او د حضرت علی رضي الله عنه حديث المسلمون تتکافا الخ. په کتاب القصاص کي بیان سوی دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۲۴، رقم: ۱۵۸۵.

تشريح: قسم پوره کوئ: ددې مطلب دادی که تاسو د اسلام څخه مخکي د جاهليت په زمانه کي د يو بل د مرستي کولو عهد او قول کړی وي يا قسم مو کړی وي نو د الله ﷻ د دغه حکم (اوفو بالعقود) يعني خپل معاهدې پوره کوئ، ددغه آيت سره سم هغه عهد او قسمونه پوره کړئ کوم چي د اسلام د تعليماتو او عقائدو خلاف او د دين په تاوان کي نه وي ځکه چي الله تعالی دا هم فرمايلي دي:

وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ.

ژباړه: او مرسته کوئ د يو بل په نېکۍ او تقوا کي او مرسته مه کوئ د يو بل په ګناه او زياتی کي.

خلاصه دا چي د اسلام راوړلو څخه وروسته د جاهليت د زمانې هغه عهدونه او قسمونه پوره کول منع دي کوم چي د فتنې، فساد او وينې تويولو سبب وي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (لا حلف في الاسلام) او د جاهليت د زمانې د کوم عهد او قسم تعلق چي د مظلوم او بې چاره خلکو د مرستي او اعانت سره وي نو اسلام د هغه تاکيد کونکی دی لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي (ايما حلف كان في الجاهلية لم يزده الاسلام الا شدة).

په اسلام کي حلف يعني قسم کول مه رواجوئ ځکه چي پر مسلمانانو باندي د يو بل مرسته او ښه چلن واجب کېدو لپاره د هغوی د اسلام تعليم او تلقين کافي دی.

طيبي رحمه الله وايي چي په اسلام کي حلف (قسم) ته رواج مه ورکوئ په دې کي چي کوم منعه سوې ده د هغه په باره کي دوه احتماله دي يو خو دا چي دغه منع د جنس لپاره هم کېدای سي يعني په اسلام کي هيڅ ډول قسم مه رواجوئ او دوهم احتمال دادی چي دغه منع د حلف د يو ډول لپاره وي مګر ملا علي قاري رحمه الله وايي زما په نزد احتمال زيات قوي او صحيح دی، د مظهر دا قول هم ددې خبري تائيد کوي چي ذکر سوی حديث د وضاحت په توګه دی چي ددغه ارشاد مقصد دا واضح کول دي که تاسو د جاهليت په زمانه کي يعني د مسلمان کېدو څخه مخکي دا قسم کړی وي چي موږ به په خپلو کي د يو بل مرسته کوو نو هغه قسم پوره کوئ يعني خپل په مينځ کي د معاهدې او قسم سره سم د يو بل مرسته کوئ په شرط ددې چي د چا مرسته کيږي هغه پر حق وي مګر په اسلام کي دا ډول قسم مه رواجوئ چي د هغه تعلق د يو بل وارث کېدو سره وي (لکه څرنګه چي د جاهليت په زمانه کي رواج وو چي دوو کسانو به په خپل مينځ کي د يو بل سره په قسم کولو دا عهد وکړ که زه مخکي مړ سوم نو ته به زما وارث يې او که ته

مخکي مړ سوي نو زه به ستا وارث يم).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

قاصد نه وژل کيږي

﴿٣٨٠٩﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ جَاءَ ابْنُ النَّوَّاحَةِ وَابْنُ أُثَالٍ رَسُولَا مُسَيْلِمَةَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د مسيلمه كذاب (د نبوت دعوه كونكي) دوه قاصدان ابن النواحه او ابن آثال

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمَا أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ قَالَا

د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سول، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل: ايا تاسو دواړه ددې خبري اقرار كوئ چي زه د الله رسوله يم؟ هغوی دواړو وويل:

نَشْهَدُ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمَنْتُ بِاللَّهِ

موږ ددې خبري اقرار كوو چي مسيلمه د الله رسول دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل، ما پر الله جل جلاله

وَرُسُلِهِ لَوْ كُنْتُ قَاتِلًا رَسُولًا لَقَتَلْتُكُمَا قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَالَ فَمَضَتِ السُّنَّةُ أَنَّ الرَّسُولَ لَا يُقْتَلُ. رواه احمد

او د هغه پر رسولانو ايمان راوړ كه زه د قاصدانو قتلونكى واى نو ما به تاسو دواړه قتل كړي واى، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي د هغه وخت څخه دا طريقه جاري سوه چي قاصد دي نه وژل كيږي. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ١\٣٩٠–٣٩١.

تشريح: استازو چي كوم جواب وركړ د هغه په ذريعه د رسول الله ﷺ د رسالت انكار او د مسيلمه كذاب د دروغو د رسالت اقرار يې وكړ او بيا رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي ما پر الله جل جلاله او د هغه پر رسول ايمان راوړ نو ددې په ذريعه گويا رسول الله ﷺ د خپل حق كېدو د جذبې، د حلم او زغم او د هغوی د الله جل جلاله په عذاب كي د ژر اخته كېدو اظهار وكړ او ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه لعين د نبوت انكار او د هغه د دعوې دروغ كېدو ته اشاره وفرمايل.

بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا

(د غنيمت د ويشلو او په هغه کي د خيانت بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غنيمت مال د مسلمانانو لپاره حلال دی

﴿٣٨١٠﴾: عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَلَمْ تَحِلَّ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: تر موږ مخکي د غنيمت

الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى رَأٰى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَطَيَّبَهَا لَنَا. متفق عليه

مال چا ته جائز نه وو هر کله چي الله تعالی زموږ کمزوري وليدل نو دا يې زموږ لپاره حلال کړ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٢٠، رقم: ٣١٢٤، ومسلم ٣\١٣٦٦، رقم: ٣٢ – ١٧٤٧.

تشريح: علامه طيبي رحمه الله وايي چي په (فلم تحل) کي د فاء حرف عاطفه دی چي د هغه په ذريعه ارشاد پر هغه جملو باندي عطف سوی دی کوم چي ددې څخه مخکي فرمايل سوی وو، خلاصه دا چي دلته کوم حديث نقل سوی دی هغه په اصل کي د هغه ارشاد تتمه ده کوم چي دلته نقل سوی نه دی بلکه ددغه باب په دريم فصل کي د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په روايت کي نقل سوی دی.

د مقتول څخه اخيستل سوی مال د قاتل دی

﴿٣٨١١﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره د جنګ لپاره ووتلو

عَامَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ

د حنين په کال (يعني د مکې د فتح څخه وروسته)، کله چي زموږ د کافرانو سره مقابله سول نو

مسلمانانو ته د ماتي په ډول صورت ښکاره سو ، ما وليدل چي يو کافر

قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ

پر مسلمان واک تر لاسه کړی دئ ما د شا څخه هغه کافر په توره ووهئ چي د هغه غاړه پر رگ

فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ وَأَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ أَدْرَكَهُ

پريوتل د هغه زغره يې پريکړه هغه پر ما حمله وکړه هغه زه ونيولم او په دومره زور يې ونيولم
چي د مرگ حالت را باندي تير سو بيا مرگ هغه ونيوئ

الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ مَا بَالُ النَّاسِ قَالَ أَمْرُ اللَّهِ

او هغه زه پرېښودلم ، بيا زما ملاقات د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه سره وسو ، ما وويل د خلکو
څه حال دئ (چي د ښمن څخه تښتي) هغه وويل د الله تعالى دغه حکم دئ ،

ثُمَّ رَجَعُوا وَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ

ددې وروسته مسلمانان (په ماته خوړلو سره) ستانه سول، او پر يو ځای ناسته باندي رسول الله
صلی الله علیه وسلم وفرمايل : چا چي يو کافر قتل کړی وي او پر هغه شاهد لري د هغه د سامان د هغه دئ

بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

نو ما وويل چي زما شاهدي به څوک ورکوي (چي ما دا مشرک قتل کړی دئ) آخر زه پټه خوله
کښېنستم، رسول الله صلی الله علیه وسلم بيا دا الفاظ و فرمايل :

وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ما وويل زما شاهدي به څوک وکړي زه بيا کښېنستم، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دريم وار دغه الفاظ

وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقَالَ مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَجُلٌ صَدَقَ

وفرمايل : نو زه سمدستي ولاړ سوم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زما څخه پوښتنه وکړه : ابو قتاده څه دي ؟
ما پېښه عرض کړه يوه زما د بيان تصديق وکړ

وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنِّي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَاهَا اللَّهِ إِذًا

او وه يې ويل چي د هغه مشرک سامان زما سره دئ، بيا هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړ تاسو په دې اړه ابو قتاده راضي کړئ (يعني ددې مشرک د سامان په بدله کي ما ته بل څه راکړئ يا پر سامان باندي د دواړو په منځ کي مصالحت وکړئ) حضرت ابوبکر ﷛ وويل: نه داسي نه ده

لَا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللَّهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قسم په الله، رسول الله ﷺ به هيڅکله د الله ﷻ ددې زمري (يعني ابو قتاده) په اړه (دده د مرضی خلاف) څه اراده نه کوي، ابو قتاده د الله د زمرو څخه يو زمری دئ او د الله او رسول د

فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَأَعْطِهِ فَأَعْطَانِيهِ

خوشحاله کولو لپاره جنګيږي، په داسي حالت کي څنګه ممکن ده چي دده سامان تا ته درکړل سي، رسول الله ﷺ وفرمايل: ابوبکر ﷛ رښتيا وويل ته ددې مشرک سامان ابو قتاده ته ورکړه نو هغه سړي د هغه مشرک سامان ما ته راکړ،

فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ. متفق عليه

چي په هغه کي ما يو باغ رانيوی چي په قبيله سلمه کي واقع دئ او دا لومړنی مال وو چي ما د اسلام راوړلو څخه وروسته جمع کړی وو

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٨\ ٣٤، رقم: ٤٣٢١، ومسلم ٣\ ١٣٧٠، رقم: ٤١- ١٧٥١.

د لغاتو حل: جولة: اى هزيمة قليلة. عاتقه: هو مابين العنق والكتف. مخرفا: اى بستانا.

تشريح: په دغه غزا کي مسلمانانو ته د لږ وخت لپاره ماتي رامنځته سوه ځکه چي د اسلامي لښکر ځينو خلکو پر يو موقع باندي ماته خوړل اختيار کړل چي په هغه سره د دښمن لښکر ته په ظاهري د حاوې کېدو موقع تر لاسه سوه مګر رسول الله ﷺ د جنګ په ميدان کي پر خپل ځای قائم وو، رسول الله ﷺ پر غاتري سپور وو چي د هغه قيزه د حضرت عباس ابن عبد المطلب او حضرت ابو سفيان بن الحارث نيولې وه، ددغه عارضي ماتي په وخت کي کله چي په اسلامي لښکر کي تقريبا تزلزل رامنځته سو نو رسول الله ﷺ نه يوازي دا چي په مېړانه سره د دښمن مقابلې ته ټينګ وو بلکه په مخته کېدو سره د دښمن پر لښکر باندي يوازي د حملې کولو اراده يې کول او دا يې فرمايل (انا النبي لا کذب انا ابن عبد المطلب) يعني زه نبي يم او دروغ نه يم او زه د عبد المطلب زوی يم.

دغه دواړو حضراتو د رسول الله ﷺ غاتري قيزې نيولي وې چي په پای کي الله ﷻ اسلامي لښکر ته ثابت قدمي ورکړه او دوهم وار پر دښمن باندي په حمله کولو سره هغه لښکر يې پاش پاش کړ او فتح يې تر لاسه کړه.

د غنيمت د مال تقسيم

﴿۳۸۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْهَمَ لِرَجُلٍ وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ سَهْمًا لَّهُ وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ (د غنيمت د مال څخه) د يو سړي او د هغه د آس لپاره درې برخې ورکړې، يوه برخه د سړي او دوې برخې د هغه د آس. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦٧، رقم: ٢٨٦٣، ومسلم ٣\١٣٨٢، رقم: ٥٧- ١٧٦٢.

تشريح: د اکثرو علماؤ مذهب د دغه حديث مطابق دی حال دا چي د ځينو علماؤ په نزد د غنيمت په مال کي د سپاره مجاهد دوې برخې وي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مذهب هم دا دی ځکه چي رسول الله ﷺ سپاره مجاهد ته دوې برخې ورکولې لکه څرنګه چي د دغه باب په دوهم فصل کي د روايت سوي حديث څخه واضحه کيږي او د حضرت علي او ابوموسی اشعري رضي الله عنهما څخه هم دا منقول دي بلکه په هدايه کي د ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهما څخه دا هم نقل سوي دي او ليکلي يې دي چي کله په دې باره کي د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه دوه روايتونه د يو بل مختلف دي نو په دغه صورت کي ظاهره داده چي هغه روايت ته ترجيح ورکړل سي کوم چي د ده څخه ماسوا نورو نقل کړي دي.

د غنيمت په مال کي د ښځو او غلامانو برخه نه سته

﴿۳۸۱۳﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ

د يزيد بن هرمز رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نجده حروري حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته ليک وليکئ

يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ يَحْضُرَانِ الْمَغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا فَقَالَ لِيَزِيدَ

او دا پوښتنه يې ځيني وکړه چي غلام او مينځي ته هم د غنيمت په مال کي څه ورکول پکار دي يا نه؟ ابن عباس رضي الله عنهما يزيد ته وويل:

اُكْتُبْ إِلَيْهِ اَنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا سهم إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا ، و في رواية كَتَبَ إِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ

ددې په جواب کي دا وليکه چي د غلام او مينځي د غنيمت په مال کي هيڅ برخه ټاکلې نه ده ، هغوی ته دي څه ورکړل سي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابن عباس په جواب کي

اِنَّكَ كَتَبْتَ الي تَسْأَلُنِي هَلْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِالنِّسَاءِ

وليکل چي ته زما څخه دا پوښتنه کوې چي ايا رسول الله ﷺ به په جهاد کي د ګډون لپاره ښځي

وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ فَقَدْ كَانَ يَغْزُو بِهِنَّ فَيُدَاوِينَ الْمَرْضَى

بيولې ، او ايا (د غنيمت په مال کي) د هغوی څه برخه ټاکلې وه ؟ رسول الله ﷺ به ښځي جهاد

وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيمَةِ وَأَمَّا السَّهْمَ فَلَمْ يُضْرَبْ لَهُنَّ بِسَهْمٍ . رواه مسلم

ته بيولې هغوی به د ناروغانو درملنه کول او د غنيمت د مال څخه به هغوی ته ورکول کېدل ، مګر رسول الله ﷺ د هغه څه برخه ټاکلې نه وه . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۴۵، رقم: ۱۳۹– ۱۸۱۲.

تشريح: نجد د يو سړي نوم دی چي د خوارجو يعني د حضرت علي رضی الله عنه د مخالفينو مشر وو ، حروري په اصل کي حروراء ته منسوب دی کوم چي د کوفې په شاوخوا کي د يو سيمي نوم وو ، ويل کيږي چي د خوارجو تر ټولو اوله غونډه په دغه سيمه کي سوې وه .

د اکثرو علماؤ دا مذهب دی چي غلامانو ، کوچنيانو او ښځو ته دي د غنيمت د مال څخه همدغسي يو څه ورکړل سي يعني د برخي څخه کم دي ورکړل سي پوره برخه دي نه ورکول کيږي د حنفيه مذهب هم دا دی او په هدايه کي ليکلي دي چي غلام ته دي د غنيمت د مال څخه يو څه په هغه صورت کي ورکړل سي کله چي هغه په جنګ کي ګډون کړی وي او د ښمن سره يې جنګ کړی وي همدارنګه ښځي ته دي هم په هغه صورت کي ورکړل سي کله چي هغې د ناروغ او زخمي مجاهد پوښتنه کړې وي او د هغوی درملنه يې کړې وي .

په خاصه توګه ځينو مجاهدينو ته د خپلي برخي څخه زياته ورکول کيدای سي

﴿۳۸۱۴﴾ : وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِظَهْرِهِ

د حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپل غلام رباح سره د خپلي

مَعَ رَبَاحٍ غُلَامِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا إِذَا عَبْدُ

سپرلی اوښان وليږل زه هم د رباح سره وم، کله چي سهار سو نو

الرَّحْمَنِ الْفَزَارِيُّ قَدْ أَغَارَ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْتُ عَلَى

عبدالرحمن فزاري د رسول الله ﷺ اوښان لوټ کړل ، زه پر يوې

أَكَمَةٍ فَاسْتَقْبَلْتُ الْمَدِينَةَ فَنَادَيْتُ ثَلَاثًا يَا صَبَاحَاهُ ثُمَّ خَرَجْتُ فِي آثَارِ الْقَوْمِ

غونډۍ وختم ، د مدينې په لور مي مخ کړ او درې واره مي په لوړ آواز دا الفاظ ويل خبردار سئ !
ياصباحاه دښمن لوټ کړلو ، ددې وروسته زه پسې سوم

أَرْمِيهِمْ بِالنَّبْلِ وَأَرْتَجِزُ أَقُولُ وَأَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ فَمَا زِلْتُ

په عبدالرحمن او د هغه په ملګرو غشي مي ويشتل ، شعري الفاظ ويل مي شروع کړل ما ويل زه د اکوع
زوی يم او نن ورځ د خرابو خلکو د هلاکت ورځ ده ،

أَرْمِيهِمْ وَأَعْقِرُ بِهِمْ حَتَّى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ بَعِيرٍ مِنْ ظَهْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ما پر له پسې غشي ويشتل او د دښمن کومي سپرلۍ چي به مي لاندي کولې د هغه پښې به مي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا خَلَّفْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي ثُمَّ اتَّبَعْتُهُمْ أَرْمِيهِمْ حَتَّى أَلْقَوْا أَكْثَرَ مِنْ

شلي کولې کوم اوښ چي به مي په لار کي تر لاسه کړ هغه به مي هلته پرېښود او پر مخ به تلم ،
غرض دا چي د رسول الله ﷺ يو يو اوښ ما تر ځان وروسته پرېښودل زه مخ پر وړاندي ولاړم په
هغوی پسي ، او غشي مي ويشتل

ثَلَاثِينَ بُرْدَةً وَثَلَاثِينَ رُمْحًا يَسْتَخِفُّونَ وَلَا يَطْرَحُونَ شَيْئًا إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ

، بيا دښمنانو څادرونه او ديرش نيزې وغورځولې ما به پر هغه څادرونو او نيزو باندي

آرَامًا مِنَ الْحِجَارَةِ يَعْرِفُهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه حتى رايت

د کاڼي نښه ايښودل، چي د رسول الله ﷺ صحابه تشريف راوړي نو وه به يې پيژني لنډه دا چي

فوارس رسول الله صلى الله عليه وسلم وَلَحِقَ أَبُو قَتَادَةَ فَارِسُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

تر ليري پوري زه په هغوی پسي ولاړم تر دي چي زما نظر د رسول الله ﷺ پر سپرلو پريوتی او د رسول الله ﷺ خاص سپور ابو قتاده

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَقَتَلَهُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ

د عبد الرحمن سره يو ځای سو او هغه يې قتل کړ، او رسول الله ﷺ ددې پېښې په اړه وفرمايل:

فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ أَبُو قَتَادَةَ وَخَيْرُ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ قَالَ ثُمَّ أَعْطَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

نن ورځ زموږ په سپرو کي غوره سپور ابو قتاده دئ او په پياده کي غوره پياده سلمه بن اکوع دئ، د راوي بيان دئ بيا رسول الله ﷺ ما ته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَيْنِ سَهْمَ الْفَارِسِ وَسَهْمَ الرَّاجِلِ فَجَمَعَهُمَا لِي جَمِيعًا ثُمَّ

دوې برخي راکړي يعني يوه برخه سپور او يوه برخه د پياده او دواړي برخي يې زما لپاره جمع

أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ عَلَى الْعَضْبَاءِ رَاجِعِينَ إِلَى الْمَدِينَةِ. رواه مسلم.

کړې . بيا رسول الله ﷺ زه پر خپله اوښه د ځان سره سپور کړم چي د هغې نوم غضباء وو او د مديني په لور راوګرزيدو . مسلم

تخريج صحيح مسلم ۳\۱۴۳۳، رقم: ۱۳۲- ۱۸۰۷.

د لغاتو حل بظهره: ای ابله ومرکوبه. رجالتنا: جمع راجل بمعنی الماشي.

تشريح رضع په اصل کي د راضع جمع ده لکه څرنګه چي راکع د رکع جمع ده، راضع خراب سړي ته وايي. ارام د ارم جمع ده لکه څرنګه چي اعناب د عنب جمع ده ، ارم هغه ډبري ته وايي چي په يو ځنګل. ميدان او يا لاره کي د نښې لپاره درول سوي وي ، د عربو دا عادت وو چي هغوی به په لاره کي يو شی پيدا کړ او د ځان سره به يې نه سو وړلای نو پر هغه به يې د نښې په توګه يو ډبره کښېښودل او يا د ډبرو په اېښودلو سره به يې هغه شي پکښې پټ کړ او بيا په راتلو سره به يې هغه شی راوکښی .

حضرت سلمه رضی الله عنه که څه هم پر پښو وو مګر رسول الله ﷺ هغه ته د پياده د برخي په ورکولو سره د سپاره برخه هم ورکړه ځکه چي دا ټول جنګ د هغه د هڅو په وجه سرته رسيدلی وو او

گویا هغه د دغه غزا یو لوی منتظم هم وو، د دې څخه معلومه سوه چې د وخت امام لپاره دا جائز دي چې هغه د غنیمت د مال څخه یو مجاهد ته د هغه د برخې څخه زیات ورکړي کوم چې په جهاد کې زیات محنت او کوښښ کړی وي تر څو خلک په جهاد کې زیات محنت او کوښښ کولو ته راغب سي.

﴿۳۸۱۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوَى قَسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ. متفق علیه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به ځیني خلکو ته چې هغه به په لښکر کې لیږل سوي وه په خاصه توګه سره د عامې برخې څخه یو څه زیات ورکول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٣٧، رقم: ٣١٣٥، و مسلم ١٣٦٩\١٣، رقم: ٤٠- ١٧٥٠.

تشریح: مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د غنیمت د مال د ویشلو پر وخت یعنې مجاهدینو ته د هغوی د ټاکلو برخو څخه پر ته هم څه زیات ورکړل چې هغوی ته د دښمنانو په مقابله کې د جنګ کولو ترغیب وي.

﴿۳۸۱۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَفَّلَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَلًا سِوَى نَصِيبِنَا مِنَ الْخُمُسِ فَأَصَابَنِي شَارِفٌ وَالشَّارِفُ الْمُسِنُّ الْكَبِيرُ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې یو وار رسول الله ﷺ زموږ د برخې څخه پر ته چې په خمس (پنځمه) کې به موږ ته تر لاسه کېدل یو څه زیات راکړل او ما ته یو زوړ اوښ را ورسیدل. بخاري او مسلم

تخریج: لم نجده عند البخاري، و صحیح مسلم ١٣٦٩\١٣، رقم: ٣٨- ١٧٥٠.

د مسلمانان مال چې بیرته په غنیمت راسي

﴿۳۸۱۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ ذَهَبَتْ فَرَسٌ لَهُ فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې یو وار زما آس و تښتېدئ او د دښمنانو و نیوئ، کله چې مسلمانانو پر کافرانو غلبه تر لاسه کړه

فَرُدَّ عَلَيْهِ فِيْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَبَقَ عَبْدٌ لَّهُ

نو هغه آس ابن عمر رضي الله عنه ته ورکړل سو ، دا د رسول الله ﷺ د زماني پېښه ده او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د ابن عمر رضي الله عنه مريي وتښتېدئ

فَلَحِقَ بِالرُّوْمِ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُوْنَ فَرَدَّ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري

او روم ته ولاړی بيا مسلمانانو پر روم فتح تر لاسه کړه نو خالد بن وليد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه وروسته هغه غلام ابن عمر رضي الله عنه ته ورکړ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٨٢، رقم: ٣٠٦٧،

تشريح: ابن مالک رحمه الله وايي چي د دغه حديث څخه دا ثابته سوه که کافر د مسلمانانو څخه تښتيدلی غلام ونيسي نو هغوی د هغه نه مالک کيږي پر هغه کافرانو باندي د مسلمانانو د غلبې تر لاسه کولو په صورت کي که چيري هغه غلام د غنيمت په مال کي د مسلمانانو په واک کي راسي نو دا واجب ده چي هغه غلام د هغه مالک ته بېرته ورکړل سي که څه هم دا ستنېدل د غنيمت د مال د وېشتلو څخه مخکي په عمل کي راسي يا د وېشلو څخه وروسته بېرته ورکول وي . ابن همام رحمه الله وايي که د يو مسلمان يا ذمي غلام وتښتيږي او دارالحرب ته ولاړ سي او د هغه ځای يو کافر يې ونيسي نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد هغه کافر د هغه نه مالک کيږي او د امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهما په نزد هغه کافر به د هغه مالک سي ، د امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهما قول هم دادی مګر هغه غلام که چيري په مرتد کېدو سره تښتيدلی وي او کافران يې ونيسي نو په دغه صورت کي د ټولو امامانو په نزد هغه به دده مالک وي همدارنګه که د يو مسلمان يا ذمي يو اوښ وتښتيږي او کافران هغه ونيسي نو هغوی به د اوښ مالکان سي .

د خيبر په غنيمت کي د بنو عبد شمس او بنو نوفل محرومي

﴿٣٨١٨﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ

د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه او عثمان بن عفان د رسول الله ﷺ په خدمت

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ وَتَرَكْتَنَا

كي حاضر سو او عرض مو وكړ چي تاسو د خيبر په خمس كي بني مطلب ته څه وركړه او موږ ته مو رانه كړل، حال دا چي تر څو پوري چي ستاسو د ذات مبارك (يعني بني هاشم) تعلق دئ

وَنَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْكَ فَقَالَ إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ

موږ او هغوی دواړه د يوې مرتبې يو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : بېشكه بنو مطلب او بنو هاشم

قَالَ جُبَيْرٌ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَبَنِي نَوْفَلٍ شَيْئًا. رواه البخاري.

يو دي ، جبير ويلي دي چي رسول الله ﷺ بنو عبد الشمس او بنو نوفل ته په ويش كي هيڅ ور نه كړل . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۴۸۴، رقم: ۴۲۲۹.

تشريح: موږ ټول د يوې مرتبې يو : ددې مطلب دا وو چي زه حضرت عثمان، بنوهاشم او بنو مطلب ستاسو په اعتبار د يوې درجې يو په دې توګه چي موږ ټول د يوه نيكه يعني عبد مناف اولاده يو او هغه داسي چي هاشم، مطلب، نوفل او عبد شمس دا څلور سره د عبد مناف زامن وه چي زموږ او ستاسو څلورم نيكه دی ، زه جبير ابن مطعم ابن عدي ابن نوفل ابن عبد مناف يم ، حضرت عثمان ابن عفان ابن ابو العاص ابن اميه ابن عبد شمس ابن عبد مناف دی او تاسو (ﷺ) محمد ابن عبد الله ابن عبد المطلب ابن هاشم ابن عبد مناف ياست، همدارنګه موږ ټول د يوې لړۍ د نسب كړۍ يو نو بيا موږ نه پوهيږو چي تاسو د خيبر څخه د راغلي مال د پنځمي برخي څخه ددغه لړۍ يو ښاخ بنو مطلب ته خو برخه وركړل مګ موږ يعني عبد شمس او بنوفل مو ولي ولي محروم كړو . ددې په جواب كي رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي ددې څخه ماسوا نور هيڅ نه سته چي بنوهاشم او بنو مطلب يو دي نو ددې خلاصه دا وه چي كه څه هم دغه څلور كسان د يوه نسب دي او د يوه جد اعلى (لوړ نيكه) عبد مناف د اولاد كېدو په وجه د يوې كورنۍ كسان دي مګر دا حقيقت هيرول نه دي پكار چي د تعلقاتو او معاملاتو په اعتبار په اصل كي يوازي بنو هاشم او بنو مطلب د يوې مرتبې په ډول دي ځكه چي هغوی دواړه د يو بل ممد، مرسته كونكي او غمخوار دي د دغه دواړو په مينځ كي نه د جاهليت په زمانه كي

مخالفت او منافرت وو او نه اوس د اسلام په زمانه کي څه اختلاف او انتشار دی حال دا چي تاسو دواړه يعني بنو عبد شمس او بنو نوفل د جاهليت په زمانه کي د بنوهاشم او بنو مطلب مخالف وه ، ددې تفصيل داډی چي رسول الله ﷺ د نبوت څخه وروسته د اسلام تبليغ شروع کړی او د قريشو کفار يې د الله ﷻ وحدانيت او خپل رسالت ته راوبلل نو د بنو عبد شمس خلکو د رسول الله ﷺ د دعوت او تبليغ نه يوازي په سخته مخالفت وکړ بلکه رسول الله ﷺ ته يې ازار رسول هم شروع کړل تر دې چي دغه دواړو يعني بنو عبد شمس او بنو نوفل د هغه مخالفت او عداوت په وجه په خپلو کي د يو بل سره دا عهد وکړ چي تر څو پوري د بنو هاشم خلک محمد ﷺ موږ ته ونه سپاري نو تر هغه وخته پوري به موږ د بنو هاشم سره واده، راکړه ورکړه او د رانيولو او پلورلو هيڅ معامله نه کوو، هغه وخت بنو مطلب د بنو هاشم سره پوره مرسته وکړه او د هغوی سره متفق او متحد وه نو رسول الله ﷺ بنو عبد شمس (يعني حضرت عثمان رضي الله عنه او داسي نور) او بنو نوفل (يعني حضرت جبير رضي الله عنه او داسي نورو) ته د خيبر د مال د پنځمي برخي څخه هيڅ برخه ور نه کړل سره ددې چي هغوی د رسول الله ﷺ د ذوي القربی څخه وه ځکه چي د هغوی او د بنوهاشم په مينځ کي اتفاق او اتحاد نه وو او د دواړو په مينځ کي مخالفت او منافرت وو.

د فئ د مال حکم

﴿٣١١٩﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا قَرْيَةٍ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم ځای ته چي تاسو ولاړ

اَتَيْتُمُوهَا وَأَقَمْتُمْ فِيهَا فَسَهْمُكُمْ فِيهَا وَاَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتْ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ . رواه مسلم .

سئ او هلته قيام وکړئ (او د هغه ځای خلک د صلح څخه وروسته هغه ابادي خالي کړي) نو څه چي په دې آبادي کي د ننه وي هغه ستاسو برخه ده او کومي آبادي چي د الله ﷻ او رسول ﷺ نافرماني وکړه (او ستاسو سره په جنګ کولو سره) پر هغه قبضه وکړه نو د هغه د مال څخه پنځمه برخه د الله ﷻ او رسول ﷺ لپاره ده بيا چي څه پاته سي هغه ستاسو ده . مسلم

تخريج صحيح مسلم ١٣٧٦/٣، رقم: ٤٧- ١٧٥٦.

تشريح او هلته قيام وكړي : ددې مطلب دادی چې د جهاد لپاره يو كلي ته ورغلی او د هغوی سره يې جنګ وكړ او بيا د هغه ځای په پرېښودو سره وتښتيدی يا هغوی ستاسو سره د مصالحت كولو سره هغه كلی او خپل ځان تاسو ته حواله كړ او تاسو په هغه كي قيام وكړ.

نو په هغه كي ستاسو برخه ده : ددې په ذريعه دا واضحه سوې ده چې د ذكر سوې كلي څخه كوم مال او سامان تاسو ته په لاس درسي هغه يوازي ستاسو حق نه دی بلكه ستاسو او د هغه مجاهدينو په مينځ كي به مشترک وي كوم چې ستاسو سره جهاد ته نه دي تللي بلكه په خپلو كورو كي پاته سوي دي ځكه چې داسي مال ته فئ ويل كيږي او د فئ حكم دادی چې هغه يوازي د هغه مجاهدينو لپاره خاص نه وي كوم چې په جنګ كي د ګډون كولو لپاره د خپل كورو څخه وتلي وي.

كوم كلی چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وكړي. . . : ددې مطلب دادی چې د كوم كلي خلک د اسلام دعوت قبول نه كړي او نه د صلح په ذريعه خپل ځان تاسو ته وسپاري بلكه د سركښۍ لار اختيار كړي او ستاسو سره جنګ وكړي او تاسو د جنګ او زور په ذريعه پر هغوی غلبه تر لاسه كړئ نو په دغه صورت كي د هغه كلي څخه چې كوم مال او سامان په لاس راسي نو هغه ته د غنيمت مال ويل كيږي د هغه مال څخه به خمس يعني پنځمه برخه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره جلا كړل سي او بيا چې څه پاته سي هغه به په جنګ كي د ګډون كونكو په مينځ كي وويشل سي.

ددې څخه معلومه سوه چې خمس (پنځمه برخه) يوازي د غنيمت د مال څخه ايستل كيږي د فئ د مال څخه نه ايستل كيږي مګر د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چې څرنګه چې د غنيمت د مال څخه پنځمه برخه ايستل كيږي همدارنګه د فئ د مال څخه هم پنځمه برخه ايستل كيږي په دې اعتبار سره دغه حديث د امام شافعي رحمه الله د مذهب دليل دی.

ځينو حنفي علماؤ ددغه حديث تشريح داسي كړې ده چې د اولي برخي څخه مراد هغه صورت دی چې په هغه كي مسلمانان يو كلي او علاقه په داسي حال كي فتح كړې وي چې د هغوی سره رسول الله ﷺ نه وي او د دوهمي برخي څخه مراد هغه صورت دی چې په هغه كي مسلمانانو يو كلی يا يو ښار په داسي حال كي فتح كړی وي چې رسول الله ﷺ په خپله په هغه جهاد كي ګډون كړی وي نو په دغه دوهم صورت كي به رسول الله ﷺ پنځمه برخه اخيستل او پاته برخه به يې د لښكر د خلكو په مينځ كي ويشل.

د غنيمت په مال كي د خيانت كونكو وعيد

﴿٣٨٢٠﴾: وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خوله انصاريه ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي

يَقُولُ إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

رواه البخاري.

ځيني خلک د الله تعالى په مال كي په ناحقه تصرف كوي نو د قيامت په ورځ د هغوى لپاره د دوږخ اور دئ. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢١٧، رقم: ٣١١٨.

د لغاتو حل يتخوضون: اى يسرعون ويدخلون ويتصرفون.

تشريح يعني كه چيري هغوى په حلال ګڼلو سره ناحقه تصرف كړي وي نو د همېشه لپاره به د دوږخ په اور كي سوځي او كه چيري هغوى د دغه ګناه كول په حلال ګڼلو سره نه وي كړي نو بيا الله تعالى چي تر څو مره وخته پوري وغواړي هغوى به د دوږخ په اور كي واچوي.

﴿٣٨٢١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته نصيحت وكړى او په

يَوْمٍ فَذَكَرَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ ثُمَّ قَالَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ

مال غنيمت كي يې د خيانت ذكر وكړ، رسول الله ﷺ هغه سخته ګناه وګڼل او هغه يې لوى كار وګڼى او بيا يې وفرمايل: زه په تاسو كي هيڅوک د قيامت په ورځ په داسي حال كي و نه وينم

الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ

چي د هغه پر څټ دي اوښ سپور وي او بيا هغه ما ته وايي اې د الله رسوله! زما فرياد رسونه وكړئ، او زه د هغه په جواب كي دا ووايم چي زه تا لره مالک نه يم د هيڅ شي.

شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ

زما چي څه فرض وه ما په دنيا كي تاسو ته ورسول، زه دي تاسو په قيامت كي په داسى كى حال

کي ونه نیم چي د هغه پر څټ دي آس زرېږي

حَمْحَمَةٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا

او هغه دي ووايي اې د الله رسوله ! زما فرياد رسونه وکړئ، (يعني زما سفارش وکړئ) او زه ورته دا ووايم چي زه ستا لپاره د هيڅ شي مالک نه يم ما تاسو ته د شريعت احکام رسولي وه،

أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ

او زه دي په تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ په داسي حال کي ونه وينم چي د هغه پر څټ پسه سپور وي او چغي وهي او دا وايي اې د الله رسوله !

أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

زما مرسته وکړئ، او زه ورته دا ووايم چي زه اوس ستا لپاره د هيڅ شي مالک نه يم ما خپل پيغام تاسو ته رسولی دئ، او زه دي د قيامت په ورځ

عَلَى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا

په تاسو کي څوک په دې کي حال کي ونه وينم چي د هغه پر غاړه مريی وي، او هغه چغي وهي چي اې د الله رسوله ! ما وژغورئ او زما فرياد واورئ او زه به ورته وايم چي زه ستا لپاره د هيڅ شي مالک نه يم

قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ

ما تاسو ته د شريعت احکام رسولي وه او زه دي په تاسو کي د قيامت په ورځ هيڅوک په داسي حال کي ونه وينم چي د هغه پر غاړه دي جامې وي او حرکت دي کوي

فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ

او هغه ما ته ووايي اې د الله رسوله ! زما سفارش وکړئ او زه دا ورته ووايم چي زه ستا لپاره هيڅ نه سم کولای ما تاسو ته شريعت رسولی وه، او زه دي په تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ

أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي

په داسي حال کي ونه وينم چي د هغه پر غاړه د سرو يا سپينو زرو (بار) وي او هغه ووايي اې د

الله رسوله ! زما مرسته وكړئ

فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ . متفق عليه و هذا لفظ مسلم و هو اتم .

او زه دا ووايم چي زه ستا لپاره هيڅ نه سم كولاى ما تاسو ته د شريعت احكام رسولي وه . بخاري او مسلم ، دا د مسلم الفاظ دي چي زيات پوره دي .

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ١٨٥، رقم: ٣٠٧٣، ومسلم ٣\ ١٤٦١، رقم: ٢٤- ١٨٣١.

د لغاتو حل: رُغا: صوت الابل (د اوبښ رمباړى). حمحمة: صوت الفرس دون الصهيل (د شيشني پرته د آس پرغ. صامت: اى ذهب وفضة وما في معناهما.)

په مال كي د ناحق تصرف كولو وعيد

﴿٣٨٢٢﴾: وَعَنْهُ قَالَ اَهْدٰى رَجُلٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا يُقَالُ لَهُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي په تحفه كي وركړ رسول الله ﷺ ته يو غلام

مِدْعَمٌ فَبَيْنَمَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ رَحْلًا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اصابه

چي د هغه نوم مدعم وو يوه ورځ مدعم د رسول الله ﷺ كجاوه كښته كول چي پر هغه يو غشي

سَهْمٌ عَائِرٌ فَقَتَلَهُ فَقَالَ النَّاسُ هَنِيئًا لَهُ الْجَنَّةُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ولګيدئ چي هغه د ويشتونكي معلومات ونه سو او هغه مړ سو ، خلكو وويل مدعم ته دي جنت مبارك وي، رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ

نه. قسم په هغه ذات چي د هغه په لاس كي زما ساه ده هغه څادر چي مدعم د خيبر په ورځ د

الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ النَّاسُ جَاءَ

غنيمت د مال د ويشلو څخه تر مخه اخيستى وو د اور شعلې جوړي سوي دي او پر مدعم بليږي ، خلكو چي د رسول الله ﷺ دا الفاظ واوريدل نو سمدستي يو سړي

رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ

يوه يا دوې تسمې رسول الله ﷺ ته راوړلې چې هغه (په معمولي شي ګڼلو سره) د غنيمت د مال څخه اخيستی وې، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا تسمه يا تسمې د اور دي، بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٥٩٢، رقم: ٦٧٠٧، ومسلم ١\١٠٨، رقم: ١٨٣-١١٥.

د لغاتو حل عائر: ای لايدري من رماه.

تشريح په دغه حديث کې د هغه سړي لپاره سخته خبرتيا او سخت وعيد دی چې هغه د يو داسې مال څخه شی وخوري د کوم سره چې د مسلمانانو حقوق متعلق وي لکه اوقاف، بيت المال او داسې نور، ځکه چې د يو سړي حق خو ادا کيدای سي مګر د ډېرو خلکو د حقوقو بېرته ورکول او د هغوی د حق تلاف کول نه يوازې دا چې مشکل ده بلکه ناممکن هم ده.

﴿٣٨٢٣﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چې په يوه غزا کې د رسول الله ﷺ پر اسباب

وَسَلَّمَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ

باندې يو ساتونکی وو چې د هغه نوم کرکره وو، هغه مړ سو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه

فِي النَّارِ فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ فَوَجَدُوا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا. رواه البخاري.

په دوږخ کې دئ، خلکو د هغه اسباب وکتل نو په هغه کې يې يو کمبل پيدا کړې چې د غنيمت په مال کې يې خيانت کړی وو. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٨٧، رقم: ٣٠٧٤.

تشريح يحيی رحمه الله وايي چې په (فذهبوا) کې د فا حرف عاطفه دی، يعني د دغه لفظ څخه مخکې دا مفهوم محذوف دی چې صحابه کرامو د رسول الله ﷺ ارشاد واوريدی نو هغوی ته معلومه سوه چې د کرکره په باره کې دا وعيد ځکه دی چې هغه د غنيمت په مال کې خيانت کړی وو نو هغوی سامان کتل شروع کړل... الخ.

د غنيمت په مال کې د تقسيم څخه مخکې د خوراکي شيانو د استعمال اجازت

﴿٣٨٢٤﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نُصِيبُ فِي مَغَازِينَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ فَنَأْكُلُهُ وَلَا نَرْفَعُهُ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ به په غزاوو کي شات او انګور تر لاسه کول، نو هغه به مو خوړل مګر د ځان سره مو نه وړل، (يعني د خوراک شيان د ضرورت په اندازه د جنګ په ميدان کي خوړل جائز دي). بخاري

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥٥، رقم: ٣١٥٤.

تشريح يعني موږ به هغه عسل او انګور د وېشلو لپاره رسول الله ﷺ ته نه وړل، يعني په دې سره دا څرګندول دي چي رسول الله ﷺ زموږ د غه کار جائز ګڼي نو پر دغه مسئله باندي د علماؤ اتفاق دی چي مجاهدين تر څو پوري په دارالحرب يعني د جنګ په مېدان کي وي تر هغه وخته د غنيمت د مال څخه د خوراک او څښناک شيان د وېشلو څخه مخکي د اړتيا او ضرورت په اندازه مصرفول جائز دي.

﴿٣٨٢٥﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ

د حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د خيبر په ورځ ما ته د وازګو څخه ډکه يوه

فَالْتَزَمْتُهُ فَقُلْتُ لَا أُعْطِي الْيَوْمَ أَحَدًا مِنْ هَذَا شَيْئًا فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُولُ

کڅوړه په لاس راغلل، ما هغه پورته کړه او ما وويل چي نن به د دې وازګو څخه هيچا ته شی نه ورکوم، ما چي وکتل نو

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَسَّمُ إِلَيَّ. متفق عليه و ذكر حديث ابي هريرة ما اعطيكم في باب رزق الولاة.

رسول الله ﷺ ولاړ وو او خندل يې، (يعني زما پر دغه کار خندا ورغلل). بخاري او مسلم، د ابو هريرة حديث (ما اعطيكم) د رزق الولاة په باب کي بيان سوی دئ.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥٥، رقم: ٣١٥٣، ومسلم ٣\١٣٩٣، رقم: ٧٢- ١٧٧٢.

تشريح لکه څرنګه چي د مخکني حديث په تشريح کي بيان سوی دی د دغه روايت څخه هم دا معلومه سوه چي مجاهدينو ته د غنيمت د مال څخه د ضرورت په اندازه د خوراک او څښناک شيان اخيستل جائز دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دامت محمدي پر نورو امتو فضيلت

﴿٣٨٢٦﴾: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ فَضَّلَنِي عَلَى الْأَنْبِيَاءِ أَوْ قَالَ أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ وَأَحَلَّ لِيَ الْغَنَائِمَ. رواه الترمذي

د حضرت ابوامامه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ما ته پر انبیاؤو فضیلت راکړی دئ، یا رسول الله ﷺ داسي وفرمایل چي الله تعالی زما امت ته پر نورو امتونو فضیلت ورکړی دئ چي د غنیمت مال یې زموږ لپاره حلال ګرځولی دئ. ترمذي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): سنن الترمذي ٤\١٠٤، رقم: ١٥٥٣.

تشريح: د حديث آخري جمله د ذكر سوي فضيلت د وضاحت په توګه ده يعني الله تعالی زموږ لپاره د غنيمت مال په خاصه توګه حلال ګرځولی دی او موږ ته يې پر نورو امتو فضيلت او بزرګي راکړې ده، يا دا مراد دی چي الله تعالی موږ پر نورو امتو باندي ډېر فضيلتونه راکړي دي چي په هغو کي يو فضيلت دا هم دی چي زموږ لپاره يې د غنيمت مال حلال ګرځولی دی.

د مقتول مال د قاتل دی

﴿٣٨٢٧﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِي يَوْمَ حُنَيْنٍ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ فَقَتَلَ أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِينَ رَجُلاً وَأَخَذَ أَسْلَابَهُمْ. رواه الدارمي

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د حنین په ورځ وفرمایل: څوک چي یو کافر مړ کړي نو د هغه سامان د هغه دئ، ابو طلحه په هغه ورځ شل کسان (کافران) ووژل او د هغوی سامان یې واخیست. دارمي

تخريج سنن الدارمي ٢\٣٠١، رقم: ٢٨٨٤.

﴿٣٨٢٨﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ

ﷺ قَضٰى فِي السَّلَبِ لِلْقَاتِلِ وَلَمْ يَخْمِسِ السَّلَبَ. رواه أبو داود

د حضرت عوف بن مالک اشجعي او خالد بن وليد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مقتول د سامان په اړه دا حکم وکړ چي هغه د قاتل لپاره دئ او په هغه مال کي يې خمس (پنځمه برخه) ونه ايستل. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٦٥، رقم: ٢٧٢١.

﴿٣٨٢٩﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ نَفَّلَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ سَيْفَ أَبِي جَهْلٍ كَانَ قَتَلَهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ زما د برخي څخه زيات ما ته د ابوجهل توره راکړه او ابوجهل هغه قتل کړی وو. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٦٦، رقم: ٢٧٢٢.

تشريح: د بدر په غزا کي ابوجهل د مديني منورې د انصارو څخه دوو کم عمره کوچنيانو قتل کړی وو مګر ابن مسعود رضي الله عنه د هغه په وژلو کي د هغوی سره شريک وو په دې توګه چي د هغه سر يې د بدن څخه جلا کړی وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه د سامان څخه يو شی يعني توره عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ته ورکړه.

غلام ته د غنيمت د مال څخه لږ څه ورکول کيداې سي

﴿٣٨٣٠﴾: وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ شَهِدْتُ خَيْبَرَ مَعَ سَادَتِي فَكَلَّمُوا

د حضرت عمير رضي الله عنه څخه چي د حضرت ابي اللحم رضي الله عنه آزاد کړل سوی غلام دئ روايت دئ چي زه د خپلو مالکانو سره د خيبر په جنګ کي شريک سوم، زما مالکانو زما په اړه

فِيَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَلَّمُوهُ أَنِّي مَمْلُوكٌ قَالَ فَأَمَرَ بِي فَقُلِّدْتُ

د رسول الله ﷺ سره خبري وکړې او وه يې ښودل چي زه د هغوی غلام يم، رسول الله ﷺ ما ته

السَّيْفَ فَإِذَا أَنَا أَجُرُّهُ فَأَمَرَ لِي بِشَيْءٍ مِنْ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ وَعَرَضْتُ عَلَيْهِ رُقْيَةً

حکم راکړ چي زه توره واخلم او د مجاهدينو سره سم، زما پر بدن توره وتړل سوه (زما قد کوچنی وو) نو له دي کبله ما هغه توره په کشولو سره د ځان سره وړل، او د غنيمت د مال د ويشلو پر

كُنْتُ أُرَقِي بِهَا الْمَجَانِينَ فَأَمَرَنِي بِطَرْحِ بَعْضِهَا وَحَبْسِ بَعْضِهَا . رواه الترمذي و ابوداؤد الا ان روايته انتهت عند قوله الْمتاع

وخت رسول الله ﷺ حکم وکړ چي لږ مال ده ته هم ورکړئ، او ما د رسول الله ﷺ يو دم وواېه چي ما به پر ليونيانو چف کوئ، رسول الله ﷺ ما ته حکم وکړ چي ددې (دم) دومره برخه موقوف کړه او دومره پاته وساته. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج سنن الترمذي ۴\۱۰۷، رقم: ۱۵۵۷، وابوداؤد ۳\۱۷۱، رقم: ۲۷۳۰.

د لغاتو حل خرثي: اى اثاث البيت (د کور سامان)

تشريح په ظاهره دا معلومېږي چي عمير رضي الله عنه په کوم منتر (جادو) پوهېدی د هغه ځيني کلمې د اسلامي عقائدو او تعليماتو خلاف وې نو رسول الله ﷺ دهغه کلمو د پرېښودو حکم ورکړ البته کومي کلمې چي د اسلامي عقائدو او تعليماتو خلاف نه وې د هغو اجازه يې ورکړه.

د خيبر د مال تقسيم

﴿۳۸۳۱﴾: وَعَنْ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ قَالَ قُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ

د حضرت مجمع بن جارية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د خيبر د غنيمت مال او ځمکه په هغه کسانو

فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا وَكَانَ الْجَيْشُ

وويشل سوه چي د حديبيې په صلح کي شريک وه، رسول الله ﷺ د هغه اتلس برخي کړې او د

أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُ مِائَةِ فَارِسٍ فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ والرَّاجِلَ

لښکر شمير پنځلس سوه وو، چي په هغه کي درې سوه سپاره وه، سپرو ته رسول الله ﷺ دوې برخي ورکړې او پيادوو ته يې

سَهْمًا. رواه ابوداؤد وقال حديث ابن عمر اصح والعمل عليه و اتي الوهم مجمع انه قال ثلاث مائة فارس وانما كانوا مائتي فارس.

يوه برخه ورکړه. ابوداؤد ويلي دي چي د ابن عمر ﷛ حديث زيات صحيح دئ او پر دې د اکثره امامانو عمل دئ او د حضرت مجمع ابن جاريه په حديث کي ګمان دئ چي هغه وويل درې سوه سپاره وه حال دا چي دوه سوه سپاره وه.

تخريج سنن ابي داود ۲\ ۱۷۴، رقم: ۲۷۳۶.

تشريح کوم حضرات چي دا وايي چي د غنيمت په مال کي د اسلامي لښکر د سپرو مجاهدينو دوې برخي دي لکه څرنګه چي د امام اعظم ابوحنيفة ﷬ مذهب دی نو هغوی دغه حديث د خپل مذهب دليل ګرځوي ځکه چي د اتلس برخو څخه په درې سوه ۳۰۰ سپرو کسانو کي هر سل سل سپرو کسانو ته دوې دوې برخي ورکړل سوې نو شپږ برخي ولاړې او دوولس برخي پاته سوې او هغه دوولس برخي د دوولس سوه ۱۲۰۰ پياده کسانو په منځ کي داسي ووېشل سوې چي هر سل سپرو کسانو ته يوه برخه تر لاسه سوه، او کوم حضرات چي وايي چي د غنيمت په مال کي د سپرو مجاهدينو درې برخي دي د هغوی په اعتبار دا حساب صحيح نه دی ځکه چي په دغه صورت کي پر سپرو کسانو باندي د نهه برخو ويشل لازميږي او دوولس برخي د پياده کسانو سوې په دې حساب سره د هغه برخو مجموعي شمېر يويشت کيږي حال دا چي په حديث کي مجموعي شمېر اتلس بيان سوی دی، دوهم دا چي د ابن عباس ﷛ او خپله د حضرت ابن عمر ﷛ څخه هم د حضرت مجمع ﷛ په ډول روايت نقل سوی دی چي د هغه څخه هم دا ثابتيږي چي سپرو کسانو ته دوې دوې برخي ورکړل سوې او د کومو حضراتو په نزد چي د سپرو کسانو درې برخي وي هغوی دا وايي چي په دغه مسئله کي د ابن عمر ﷛ روايت زيات صحيح او فيصله کونکی دی، او کوم چي د حنفيه تعلق دی نو هغوی د ابن عمر ﷛ په دغه روايت باندي په کومه وجه چي عمل نه کوي هغه د دغه روايت په تشريح کي بيان سوی دی.

د روايت په آخر کي چي د کومي واهمه ذکر سوی دی د هغه بنياد د رواياتو پر اختلاف باندي دی په دې باره کي مختلف روايتونه نقل سوي دي چي د حديبيې د صلح په وخت کي د اسلامي لښکر شمېر څومره وو، په يوه روايت کي دا دي کوم چي حضرت مجمع ﷛ نقل کړی دی چي پنځلس سوه ۱۵۰۰ شمېر وو او په هغو کي درې سوه کسان سپاره وه مګر په يوه روايت کي دغه شمېر څوارلس سوه بيان سوی دی چي دوولس سوه پر پښو وه او دوه سوه پر سپرليو باندي وه.

په جهاد کي د زيات کوښښ کونکو خاص برخه

﴿٣٨٣٢﴾: وَعَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَّلَ الرُّبُعَ فِي الْبَدْأَةِ وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ. رواه ابوداؤد

د حبيب بن مسلمه الفهري ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم، رسول الله ﷺ هغه خلکو ته چي هغوی په جنګ کي تر ټولو اول برخه اخيستې وه څلورمه برخه د غنيمت مال زيات ورکړ او هغه خلکو ته چي د لښکر شاته د دښمن په مقابله کي وه دريمه برخه زيات ورکړ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٨٢، رقم: ٢٧٥٠.

د لغاتو حل: البداة: اى ابتداء سفر الغزو. (د غزا د سفر پيل)

تشريح: په دغه حديث کي د غنيمت د مال د وېشلو په باره کي يوې خاص معاملې ته اشاره سوې ده چي د هغه وضاحت دادی که چيري د جنګ په ميدان کي د جهاد شروع په وخت کي د اسلامي لښکر يو ډله د خپل لښکر څخه په مخکي تللو سره د دښمن مقابلې ته ورسيږي او د خپل پوره لښکر د رسيدو څخه مخکي د دښمن سره په جنګ کي بوخت سول نو رسول الله ﷺ به هغه ډلي ته په خاصه توګه د غنيمت د مال څلورمه برخه ورکول (او پاته درې برخي به يې ويشلې) نو په دې کي هم د ټول لښکر سره هغه ډله به يې ګډول همدارنګه د جنګ په ميدان کي د دښمن د مقابلې څخه د اسلامي لښکر د بېرته راتلو څخه وروسته که د مجاهدينو يوه ډله په جنګ کي بوخت وه نو رسول الله ﷺ به هغه ډلي ته هم په خاصه توګه د غنيمت د مال دريمه برخه ورکول او بيا پاته دوې برخي به يې ويشلې او په دغه ويش کي به يې هم هغه ډله ګډول او هغه ډلي ته به يې دريمه برخه ورکول کوم چي د ټول لښکر د ستنېدو څخه وروسته يوازي يو څو مجاهدينو د دښمن په مقابله کي ودرېدل او جنګ جاري ساتل يو سخت پړاو او ډېر خطرناک اقدام دی، حال دا چي په شروع کي به دومره سخت پړاو نه وو ځکه چي هغه وخت به ټول لښکر را روان وو او د هغه مجاهدينو مرسته به يې کول، ددې پر خلاف د لښکر د ستنېدو په صورت کي چي کله ټول مجاهدين به ستانه سول نو هغه وخت به جنګ کول او د دښمن مقابله کول مشکل او سخت کار وو. په هر حال هغه مجاهدينو ته د غنيمت د مال څخه د هغوی د برخي څخه زيات ورکول په جنګ کي د هغوی د مېړاني او حوصلې د امتيازي کارنامې په توګه وو.

﴿۳۸۳۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ إِذَا قَفَلَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت حبيب بن مسلمه الفهري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د پنځمي برخي ايستلو څخه وروسته تر تهولو اول جنګ کونکو ته څلورمه برخه زياته ورکړه او د ستنېدو څخه وروسته جنګ کونکو ته يې دريمه برخه زياته ورکړه. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ۳\۱۸۲، رقم: ۲۷۴۹.

تشريح په مخکني حديث کي خو دا بيان سوي وه چي د جنګ په شروع کي جنګ کونکو مجاهدينو ته به څلورمه برخه او د لښکر د ستنېدو څخه وروسته جنګ کونکو مجاهدينو ته دريمه برخه ورکول کيږي مګر دا وضاحت نه وو سوی چي دغه څلورمه يا دريمه برخه به د پنځمه برخي د ايستلو څخه وروسته ورکول کيږي که مخکي، نو په دغه حديث کي دا وضاحت سوی دی چي رسول الله ﷺ به د غنيمت د مال څخه اول خمس (پنځمه برخه) و ايستل او د هغه څخه وروسته به يې څلورمه يا دريمه برخه ورکول او بيا به يې هغه په ټول لښکر کي ويشل.

د فئ په مال کي هيڅ خاص برخه نه سته

﴿۳۸۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ الْجَرْمِيِّ قَالَ أَصَبْتُ بِأَرْضِ الرُّومِ جَرَّةً حَمْرَاءَ

د حضرت ابو الجويرية الجرمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د امير معاويه رضي الله عنه د خلافت په ورځو کي د روم په مځکه کي يو سور منګی پيدا کړ

فِيهَا دَنَانِيرُ فِي إِمْرَةِ مُعَاوِيَةَ وَعَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چي د دنيارو څخه ډک وو او زموږ مشر د رسول الله ﷺ د صحابوو څخه يو سړی وو چي د بنو

وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ يُقَالُ لَهُ مَعْنُ بْنُ يَزِيدَ فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَسَمَهَا بَيْنَ

سليم د قبيلې څخه وو چي نوم يې معن بن يزيد وو، ما هغه منګی خپل مشر ته راوړ، مشر هغه

الْمُسْلِمِينَ وَأَعْطَانِي مِنْهَا مِثْلَ مَا أَعْطَى رَجُلًا مِنْهُمْ ثُمَّ قَالَ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ

دينارونه پر مسلمانانو وويشتل او ما ته يې هم هغومره راکړل څومره چي يې نورو ته ورکړل،

نورو صحابه کرامو هم د مکې څخه هجرت کړی وو ، کله چې دغه ټولو خلکو په حبشه کې دا خبره واورېدل چې رسول الله ﷺ هم د مکې څخه هجرت کړی دی او مدینې منورې ته تللی دی نو دا خلک هم د حبشې څخه د کښتیو په ذریعه مدینې منورې ته روان سول او رسول الله ﷺ ته هغه وخت ورسیدل کله چې رسول الله ﷺ خیبر فتح کړی وو .

ځیني حضرات وایي چې د حبشې څخه راتلونکو کسانو ته د خیبر د غنیمت د مال څخه ځکه برخه ورکړل سول چې د هغوی راتلل د جنګ څخه وروسته سوي وه مګر هغوی د غنیمت د مال د جمع کولو او د هغه د وېشلو څخه مخکې را رسیدلي وه ، دا تاویل د هغه علماؤ له خوا کیږي کوم چې ددې خبري قائل دي که یو مجاهد په جنګ کې ګډون ونه کړای سي مګر د غنیمت د مال د جمع کېدو پر وخت او د هغه د وېشلو پر وخت موجود وي نو هغه ته به د غنیمت د مال څخه برخه ورکول کیږي لکه څرنګه چې د امام شافعي رحمة الله علیه یو قول دی مګر کوم علماء چې ددې قائل نه دي هغوی وایي چې دغه کسانو ته د خیبر د غنیمت د مال څخه برخه ورکول د رسول الله ﷺ له خوا د یو خاص تحفې په توګه وو چې د خیبر په غزا کې د ګډون کونکو مجاهدینو په رضامندۍ سره ورکړل سوې وو او دا قول زیات صحیح دی .

د غنیمت په مال کې د خیانت کونکو د جنازې څخه انکار

﴿۳۸۳۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى

د حضرت زید بن خالد جهني رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کې یو

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سړی د خیبر د فتح په ورځ مړ سو ، رسول الله ﷺ ته ددې یادونه وسول نو رسول الله ﷺ

فَقَالَ صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَتَغَيَّرَتْ وُجُوهُ النَّاسِ لِذَلِكَ فَقَالَ إِنَّ صَاحِبَكُمْ

وفرمایل : تاسو پر خپل ملګري باندي د جنازې لمونځ وکړئ ، په دې اورېدو سره (د بیري څخه) د خلکو د مخونو رنګ بدل سو ، په دې تغیر لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو

غَلَّ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُودَ لَا يُسَاوِي دِرْهَمَيْنِ . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي.

ملګري د الله جل جلاله په لار کي (د غنيمت په مال کي خيانت کړی دئ موږ د هغه د سامان تلاشي واخيستل نو په هغه کي د يهودو ښځو (ملغلري تر لاسه سوې چي د هغه بيه تر دوو درهمو زياته نه وه. مالک، ابوداؤد او نسائي.

تخريج موطا الامام مالک ٢\ ٤٥٨، رقم: ٢٣، وابوداود ٣\ ١٥٥، رقم: ٢٧١٠، والنسائي ٤\ ٦٤، رقم: ١٩٥٩

د غنيمت د مال په جمع کولو کي د ځنډ کولو په باره کي وعيد

﴿٣٨٣٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله د غنيمت د مال د

إِذَا أَصَابَ غَنِيمَةً أَمَرَ بِلَالًا فَنَادَى فِي النَّاسِ فَيَجِيئُونَ بِغَنَائِمِهِمْ فَيُخَمِّسُهُ

ويشلو اراده وکړل نو بلال رضي الله عنه ته به يې حکم کوئ چي هغه به په خلکو کي اعلان وکړ (چي غنيمتونه يو ځای کړئ) نو خلکو به غنيمتونه راوړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ټول مال څخه پنځمه

وَيُقَسِّمُهُ فَجَاءَ رَجُلٌ يومٍ بَعْدَ ذٰلِكَ بِزِمَامٍ مِنْ شَعَرٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هٰذَا

برخه وايستل بيا به يې ويش وکړ، يو وار يو سړي د پنځمي برخي ايستلو او ويشلو څخه وروسته د وريښتانو جوړه سوې يوه رسۍ راوړل او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! دا

فِيمَا كُنَّا أَصَبْنَاهُ مِنَ الْغَنِيمَةِ فَقَالَ أَسَمِعْتَ بِلَالًا يُنَادِي ثَلَاثًا قَالَ نَعَمْ قَالَ

د غنيمت شی دئ چي موږ تر لاسه کړی وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه ايا تا د بلال رضي الله عنه اعلان اوريدلی وو، چي هغه درې واره کړی وو، هغه وويل چي هو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل:

فَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَجِيءَ بِهِ فَاعْتَذَرَ فَقَالَ كُنْ أَنْتَ تَجِيءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَنْ أَقْبَلَهُ عَنْكَ. رواه ابوداؤد.

بيا هغه وخت دي ولي نه راوړ، هغه يو عذر وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: ته به د قيامت په ورځ د همدې سره راځې، زه هيڅکله ستا څخه دا رسۍ نه اخلم. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\ ١٥٦، رقم: ٢٧١٢.

تشریح: رسول الله ﷺ مهار ځکه قبول نه کړ چې په هغه کې د ټولو مجاهدینو حق وو او هغه وخت ټول مجاهدین آخوا دې خوا سوې وه ځکه د هغه شخه د هر یوه برخه هغه ته رسول مشکل وه.

د غنیمت په مال کې د خیانت کونکې سزا

﴿۳۸۳۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ حَرَّقُوا مَتَاعَ الْغَالِّ وَضَرَبُوهُ. رواه ابوداؤد.

عمرو بن شعیب رضی الله عنه د خپل پلار شخه او هغه د خپل پلار شخه روایت کوې چې د خیانت کونکې مال رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه وسوځئ او هغه یې ووهئ. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۳\۱۵۸، رقم: ۲۷۱۵.

تشریح: د هغه خیانت سزا یې دا ورکړه چې د هغه سامان یې وسوځوی او د تعزیر په توګه یې هغه ووهی، ځینې علماؤ لکه امام احمد ابن حنبل رحمه الله او داسې نورو د دغه حدیث په ظاهری مفهوم باندې عمل کړی دی او وایی چې کوم سړی د غنیمت په مال کې خیانت وکړی د هغه سزا داده چې د هغه د کور ټول سامان دې وسوځول سې ماسیوا د حیوانانو او قرآن کریم شخه، او هغه شیان دې نه سوځل کیږې کوم چې د غنیمت د مال شخه په خیانت اخیستل سوې وې، امام اعظم ابوحنیفة، امام مالک او امام شافعي رحمة الله علیهم وایی چې د هغه سامان دې نه سوځل کیږې بلکه هغه ته دې یو بل تعزیر ورکړل سې کوم چې قاضي یې مناسب وګڼي، دغه حضراتو دا حدیث پر سخت خبرداري او وعید باندې محمول کړی دی.

د خائن حال نه ویونکی هم خائن دی

﴿۳۸۳۹﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ يَكْتُمْ غَالًّا فَإِنَّهُ مِثْلُهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه شخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمایل څوک چې خیانت کونکی پټوي (پرده یې کوی) هغه د هغه په ډول دئ. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۱۵۸، رقم: ۲۷۱٦.

د غنيمت د مال د وېشلو څخه مخکي رانيول او پلورل منع دي

﴿۳۸۴۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شِرِيِ الْغَنَائِمِ حَتّٰى تُقَسَّمَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعيد رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دغنيمت د مال د ويش څخه ترمخه رانيول منع کړي دي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۱۲، رقم: ۱۵۶۳.

﴿۳۸۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰى اَنْ تُبَاعَ السِّهَامُ حَتّٰى تُقْسَمَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو امامه رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د غنيمت مال د ويشلو څخه مخکي د هغه د برخي د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده . ترمذي

تخريج: سنن الدارمي ۲\۹۸، رقم: ۲۴۷۶.

تشريح: مطلب دادی که چيري يو سړی د غنيمت د مال څخه خپل برخه د ويشلو څخه مخکي خرڅوي نو دا جائز نه دي ، په دې وجه چي کومه برخه هغه خرڅول غواړي تر اوسه هغه دده په ملکيت کي نه ده راغلې لکه څرنګه چي د ځينو علماؤ قول دی چي د وېشلو څخه مخکي د يو برخي ملکيت موقوف وي ، دوهم په دې وجه که چيري برخه لرونکی د وېشلو څخه مخکي مالک ومنل سي نو خپله هغه مالک ته د وېشلو څخه مخکي دا معلومه نه ده چي د هغه په برخه کي څه شي راځي او هغه شی به څرنګه وي نو په دغه صورت کي د هغه خرڅول ګويا د يو داسي شي خرڅول دي کوم چيئ غير معلوم او غير متعين دي او دا ناجائز دي .

د غنيمت په مال کي په ناحقه تصرف کونکی

﴿۳۸۴۲﴾: وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خوله بنت قيس (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي

يَقُوْلُ إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ مَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُوْرِكَ لَهُ فِيْهِ وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ

چي دا مال شين او خوږ دئ (يعني د غنيمت مال خوښ شي دئ) چا ته چي دا د حق په توګه تر لاسه سي د هغه لپاره په هغه كي بركت اچول كيږي،

فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللهِ وَرَسُولِهِ لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا النَّارُ.

رواه الترمذي.

ډير خلك دي چي د الله جل جلاله او رسول ﷺ د مال څخه (يعني د غنيمت د مال څخه) كوم شى چي د هغو زړه غواړي په خپل تصرف كي راولي، د قيامت په ورځ د داسي خلكو لپاره يوازي د دوږخ اور دئ. ترمذي.

تخريج سنن الترمذي ۴\۵۰۷، رقم: ۲۳۷۴.

ذوالفقار

﴿۳۸۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَفَّلَ سَيْفَهُ ذَا الْفَقَارِ يَوْمَ بَدْرٍ. رواه ابن ماجة. وزاد الترمذي وهو الذي راى فيه الرءيا يوم احد

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ (خپله توره) چي د هغه نوم ذوالفقار وو د خپلي برخي څخه زياته اخيستې وه. ابن ماجه، او ترمذي ليكلي دي چي دا هغه توره وه كومه چي رسول الله ﷺ د اُحد په ورځ په خوب كي ليدلې وه.

تخريج سنن ابن ماجه ۲\۹۳۹، رقم: ۲۸۰۸، والترمذي ۴\۱۱۰، رقم: ۱۵۶۱.

تشريح د برخي څخه يې زياته اخيستې وه: ددې مطلب دادى چي د بدر په غزا كي د غنيمت مال چي لاس ته راغلى وو په هغه كي دغه توره هم وه كوم چي رسول الله ﷺ په خوښولو سره د خپل برخي څخه زياته اخيستې وه، دا يوازي د رسول الله ﷺ لپاره جائز دي د بل چا لپاره جائز نه دي لكه څرنګه چي د حديث څخه معلومه سوه چي ددغه توري نوم (ذو الفقار) وو چي د يو كافر منبه ابن حجاج په ملكيت كي وه او د بدر په غزا كي د مسلمانانو په لاس قتل سوى وو، د رسول الله ﷺ دغه توره خوښه سول نو رسول الله ﷺ د غنيمت د مال د وېشلو په وخت كي هغه د خپل برخي څخه زيات واخيستل، په ډېرو جنګو كي د نورو تورو سره دغه توره هم د رسول الله ﷺ سره وه او په قاموس كي ليكلي دي چي دغه توره د منبه د زوى عاص وه چي د بدر په غزا

کي د حضرت علي رضي الله عنه په لاس وو ژل سو او بیا رسول الله ﷺ هغه توره حضرت علي رضي الله عنه ته ورکړه.

ددغه توري نوم ذوالفقار په دې وجه ایښودل سوی وو چي په اصل کي فقار د ملا تیر ته وایي او ددغه توري پر شا باندي کوچني کوچني بنکلې ټاکۍ وې او یا د ملا د تیر په ډول جوړه سوې وه څکه نو دې ته ذوالفقار وویل سول.

د اُحد په غزا کي د ذوالفقار په باره کي د خوب لیدو قصه داده چي رسول الله ﷺ په خوب کي ولیدل چي رسول الله ﷺ هغه توره وښورول نو هغه پر مینځ ماته سوه او بیا دوهم وار یې وښوروله نو هغه تر مخکي هم زیاته ښه سول او د اُحد د غزا په ورځ ددغه خوب تعبیر داسي سو چي مخکي خو مسلمانانو ماته وخوړل مګر په پای کي یې فتح او کامیابي په برخه سول.

د تقسیم څخه مخکي د غنیمت د مال د استعمال څخه منع

﴿٣٨٤٣﴾: وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ

د حضرت رویفع بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا

پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ایمان لري نو هغه دي د غنیمت په ګډ مال کي پر هیڅ حیوان نه

أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ. رواه ابوداؤد.

سپریږي نو چي هغه کمزوري سي نو هغه د غنیمت مال بیرته ورکړي او څوک چي پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ایمان لري هغه دي د مشترک مال څخه جامه نه اغوندي نو هر کله چي هغه زړه سي نو بیرته یې ورکړي. ابوداؤد.

تخریج سنن ابي داود ٦١٦/٢، رقم: ٢١٥٩.

د لغاتو حل اخلقه: ابلاه.

تشریح ددغه حدیث د ظاهري مفهوم څخه دا نتیجه اخیستل سوې ده که د خپل سپرلۍ په مصرف کي د راوستلو په وجه هغه حیوان کمزوری نه وي نو په دغه صورت کي پر هغه سپرېدل څه پروا نه لري مګر په حقیقت کي دا مفهوم مراد نه دی او نه دا نتیجه اخیستل کیدای سي بلکه دا خبره محض د محاورې په توګه فرمایل سوې ده چي په عامه توګه حیوانان په سپرلۍ سره

کمزوري کيږي .

د غنيمت په مال کي د خوراک د شيانو حکم

﴿۳۸۴۵﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْمُجَاهِدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ قُلْتُ

محمد بن ابو المجاهد رحمه الله د عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه څخه روايت کوي چي ما پوښتنه وکړه

هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ الطَّعَامَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

آيا تاسو به د رسول الله ﷺ په زمانه کي د خوراک په شيانو کي پنځمه برخه ايستل ، هغه وويل :

أَصَبْنَا طَعَامًا يَوْمَ خَيْبَرَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ فَيَأْخُذُ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا يَكْفِيهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ . رواه ابوداؤد.

د خيبر په ورځ موږ ته د خوراک شيان تر لاسه سول نو هر سړی به راتلئ او د هغه څخه به يې د ضرورت په اندازه اخيستل . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۵۱، رقم: ۲۷۴۰.

تشريح: د سوال مطلب دا وو چي ايا د دغه شيانو څخه هم خمس (پنځمه برخه) ايستل کيږي او يا کوم شيان چي د خوراک لپاره وي نو هغه د وېشلو څخه مستثنی دي چي کوم چا به غوښتل هغه به يې په خپل مصرف کي راوستل، د جواب خلاصه دا وه چي د خوراک او څښاک د شيانو څخه خمس ايستل نه دي پکار مګر دديږ لحاظ ساتل هم ضروري دي چي د داسي شيانو څخه که څه واخيستل سي نو هغه دي په دومره اندازه کي وي په کوم سره چي حاجت او ضرورت پوره سي.

﴿۳۸۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا وَعَسَلًا فَلَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُمُ الْخُمُسُ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي يو لښکر د غنيمت په مال کي د خوراک شيان او شات د خوراک لپاره واخستل چي د هغه څخه پنځمه برخه نه واخستل (چي دوی خوړلي وه په قدر د حاجت). ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۱۵۱، رقم: ۲۷۰۱.

﴿۳۸۴۷﴾: وَعَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى

حضرت قاسم د عبدالرحمن بادار د رسول الله ﷺ د یو څو صحابوو څخه روایت کوي چي موږ به

اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنَّا نَأْكُلُ الْجَزَرَ فِي الْغَزْوِ وَلَا نَقْسِمُهُ حَتَّى إِنْ كُنَّا لَنَرْجِعُ إِلَى رِحَالِنَا وَأَخْرِجَتُنَا مِنْهُ مُمْلَأَةٌ. رواه ابوداؤد.

په غزا کي د اوښانو غوښه خوړل او ویشل به مو نه، تر څو چي موږ به خپلو خیمو ته بیرته راتلو نو زموږ خورجین به د غوښو څخه ډک وو. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۱۵۲، رقم: ۲۷۰۶.

تشریح: ابن همام رحمه الله وايي چي کله مسلمانان د جهاد څخه وروسته دارالاسلام ته په راتلو سره د دارالحرب د سرحد و سره تېر سي نو ددې څخه وروسته د هغوی لپاره دا جائز نه دي چي هغوی په خپلو حیوانانو باندي د غنیمت د مال څخه واښه او دانه وخوري یا د غنیمت د مال څخه د خوراک او څښاک شیان استعمال کړي ځکه چي په دغه صورت کي هغه ضرورت پاته نه سو چي د هغه په وجه په دارالحرب کي د غنیمت د مال د خوراک او څښاک مصرفول د مجاهدینو لپاره جائز وه او د چا سره چي په دارالحرب کي د غنیمت د مال څخه داسي د خوراک او څښاک شیان وي چي هغه وېشل سوي نه وي او د هغه د ضرورت او حاجت څخه زیات وي نو هغه دي د غنیمت په مال کي واچوي.

خیانت کونکی به د قیامت په ورځ بې عزته وي

﴿۳۸۴۸﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

أَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ وَإِيَّاكُمْ وَالْغُلُولَ فَإِنَّهُ عَارٌ عَلَى أَهْلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الدارمي ورواه النسائي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده.

د غنیمت په مال کي ستن او تار هم ادا کوئ او د خیانت څخه ځان وساتئ ځکه چي خیانت کول به د قیامت په ورځ د خیانت کونکو لپاره د شرم سبب وي، دارمي، او نسائي دا د عمرو بن

شعیب د هغه د پلار او د هغه د نیکه په روایت نقل کړی دئ.

تخریج سنن الدارمي ٢\٣٠٢، رقم: ٢٤٨٧.

د غنیمت په مال کي د ډېر کم شي خیانت د مؤخذې سبب دی

﴿٣٨٤٩﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ دَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روایت کوي چي یوه ورځ نبي کریم ﷺ یو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعِيرٍ فَأَخَذَ وَبَرَةً مِنْ سَنَامِهِ ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ

اوښ ته نژدې سو او د هغه قب څخه یې لږ وریښتان واخیستل بیا یې وفرمایل ای خلکو! د

لَيْسَ لِي مِنْ هَذَا الْفَيْءِ شَيْءٌ وَلَا هَذَا وَرَفَعَ أُصْبُعَيْهِ إِلَّا الْخُمُسَ وَالْخُمُسُ

غنیمت په مال کي زما لپاره د پنځمي برخي څخه زیات هیڅ نسته او په دې ویلو سره یې د قب وریښتان ونښودل چي د رسول الله ﷺ په مبارکو ګوتو کي وه او دا پنځمه برخه هم

مَرْدُودٌ عَلَيْكُمْ فَأَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ فَقَامَ رَجُلٌ فِي يَدِهِ كُبَّةٌ مِنْ شَعْرٍ

پر تاسو مصرف کیږي نو تاسو (د غنیمت د مال څخه چي ویشل سوی نه وي) ستن او تار هم مه اخلئ ددې په اورېدو سره یو سړي ودریدئ د هغه په لاس کي د وریښتانو د رسۍ یوه ټوټه وه

فَقَالَ أَخَذْتُ هَذِهِ لِأُصْلِحَ بِهَا بَرْدَعَةً لِي فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه عرض وکړ ما د رسۍ دا ټوټه ددې لپاره د ځان سره ایښې ده چي په دې سره زه د خپل پالان لاندي کمبل سم کړم، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل:

أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكَ فَقَالَ أَمَّا إِذْ بَلَغَتْ مَا أَرَى فَلَا أَرَبَ لِي فِيهَا وَنَبَذَهَا. رواه ابوداؤد.

په دې رسۍ کي چي څومره زما او د بنو عبدالمطلب برخه وه هغه ما ستا لپاره معاف کړه (مطلب دا چي که مجاهدین یې درته وبخښي او که یې نه بخښي)، هغه سړي عرض وکړ هر کله چي دا رسۍ دې حد ته رسیدلې ده (یعني د ګناه درجې ته) نو ما ته ددې ضرورت نسته، په دې

ويلو سره هغه رسي، وغور څول . ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\١٤٢، رقم: ٢٦٩٤.

د لغاتو حل بردعة: الحلس، كساء الذي تحت رحل البعير . الكبة: قطعة مكبكبة من غزل شعر.

رسول الله ﷺ به پنځمه برخه مال هم د مسلمانانو په اجتماعي ګټه کې مصرف کوي

﴿٣٨٥٠﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن عبسة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته د غنيمت د مال د يو

إِلَى بَعِيرٍ مِنَ الْمَغْنَمِ فَلَمَّا سَلَّمَ أَخَذَ وَبَرَةً مِنْ جَنْبِ الْبَعِيرِ ثُمَّ قَالَ وَلَا يَحِلُّ

وښ (يعني د ستري په توګه کښېښولو سره) لمونځ راکړ، کله چي رسول الله ﷺ سلام وګرځوئ نو د اوښ د بغل څخه يې لږ وړي را وکښلې او خلکو ته يې وښودل چي ستاسو د غنيمتونو

لِي مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلَّا الْخُمُسُ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ . رواه ابوداؤد

څخه زما لپاره دومره شي هم حلال نه دئ، مګر پنځمه برخه او هغه هم ستاسو پر ضرورتونو مصرف کيږي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٣\١٨٨، رقم: ٢٧٥٥.

تشريح: که د اړخ څخه مراد دا وي چي رسول الله ﷺ د هغه اوښ د بوک له خوا څخه وښتان راکښل نو په دغه صورت کي به هغه واقعه وي کوم چي په ذکر شوي حديث کي راغلي دي او که ظاهري مفهوم يعني د اوښ اړخ مراد واخيستل سي نو په هغه صورت کي به دا بله واقعه وي

په قريبانو کي د خمس د تقسيم پر محال د حضرت عثمان وغيره محرومي

﴿٣٨٥١﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ لَمَّا قَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ د غنيمت د مال څخه د خپلوانو برخه

سَهْمَ ذَوِي الْقُرْبَى بَيْنَ بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ أَتَيْتُهُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ

په بنوهاشم او بنو مطلب کي وويشل نو زه (جبير راوي) او عثمان بن عفان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ

فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَؤُلَاءِ إِخْوَانُنَا مِنْ بَنِي هَاشِمٍ لَا نُنْكِرُ فَضْلَهُمْ لِمَكَانِكَ

په خدمت کي حاضر سوو او عرض مو وکړ اې دالله رسوله! موږ د خپلو بني هاشمو ورونو د فضيلت څخه منکر نه یو

الَّذِي وَضَعَكَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ارَايْتَ إِخْوَانِنَا مِنْ بَنِي الْمُطَّلِبِ أَعْطَيْتَهُمْ وَتَرَكْتَنَا

چي تاسو په هغوی کي پیدا اسوي یاست مګر دا راته وفرمایاست چي تاسو زموږ ورونو بنو مطلب ته پنځمه برخه خو ورکړل او موږ ته مو نه راکړل،

وَانَّمَا قَرَابَتُنَا وَ قَرَابَتُهُمْ وَاحِدَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا

حال دا موږ او دوی د یوه نیکه اولاد یو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

بَنُو هَاشِمٍ وَّ بَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ . رواه الشافعي

بنو هاشم او بنو مطلب یو شی دئ ، په دې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د یوه لاس ګوتي په دویم لاس کي کښېښودلې (یعني څرنګه چي د ګوتي په خپلو کي یو ځای دي همداسي) د دواړو کورنۍ یو دي . شافعي ،

و في رواية ابي داؤد والنسائي نَحْوَهُ وَ فِيهِ إِنَّا وَبَنِي الْمُطَّلِبِ لَا نَفْتَرِقُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ وَإِنَّمَا نَحْنُ وَهُمْ شَيْءٌ وَاحِدٌ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ .

او دا بوداؤد او نسائي په روایت کي دا الفاظ هم دي چي زه او بنو مطلب بیل نه یو ، نه د جاهلیت په ورځو کي او نه د اسلام په ورځو کي ، یعني موږ (بنوهاشم) او هغوی (بنو مطلب) یو شی یو . په دې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د دواړو لاسونو ګوتي په یو بل کي داخلي کړې . بخاري

تخريج سنن ابي داود ۳\۳۸۳، رقم: ۲۹۸۰، والنسائي ۷\۱۳۰، رقم: ۴۱۳۷.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

دابوجهل د قتل واقعه

﴿۳۸۵۲﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ

د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د بدر د غزا په ورځ زه په صف کي ولاړ وم چي

نَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَشِمَالِي فَإِذَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا

زما راسته او چپه خوا ته دوه انصاري هلكان ولېدل چي بالكل د لږ عمر وه ،

فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ اَيْ عَمِّ هَلْ

ما په خپل زړه كي وويل كاش چي زه د دوو طاقتورو او تجربه كارو خلكو په مينځ كي واى (يعني دا هلكان مي معمولي وګڼل چي دوى به څنګه جنګ وكولاى سي) ناڅاپه په هغوى كي يو كس ما ته رانژدې سو او پوښتنه يې وكړه كاكا جانه ! آيا

تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ قُلْتُ نَعَمْ فَمَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ أُخْبِرْتُ أَنَّهُ

تاسو ابوجهل پېژنئ ! ما ورته وويل هو ، مګر ته يې ولي پوښتنه كوې ، هغه وويل ما ته معلومه سوې ده چي هغه

يَسُبُّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا

رسول الله ﷺ ته ښكنځل كوي زما دې په هغه ذات قسم وي چي د هغه په لاس كي زما ساه ده كه زه هغه ووينم نو

يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا قَالَ فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ قَالَ

زما بدن به تر هغه وخته پوري د هغه د بدن څخه بېل نسي تر څو پوري چي په موږ دواړو كي ژر راتلونكى مرګ يو د بل څخه بېل نه كړي ، (عبدالرحمن راوي) وايي ددې هلک د دې الفاظو په اوريدو سره زه حيران پاته سوم

وَغَمَزَنِي الْآخَرُ فَقَالَ لِي مِثْلَهَا فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي

بيا هغه دويم هلک زه وښورولم او ما ته يې هغه الفاظ وويل كوم چي لومړني هلک ويلي وه ، ما سمدستي د دښمن په ډله كي ابوجهل وليدئ چي د خلكو په منځ كي ګرځيدئ

النَّاسِ قُلْتُ أَلَا تريان إِنَّ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي عنه قال فَابْتَدَرَاهُ

او هغه هلكانو ته مي وويل تاسو وينئ ستاسو مطلوب د چا چي پوښتنه كوئ هغه دئ ګرځي،

عبد الرحمن وايي د دې په اوريدو سره هغه دواړو هلكانو خپل توري راوكښلې

بِسَيْفَيْهِمَا فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د ابو جهل په لوريې ور منډې كړې او هغه يې ووهئ تر دې چې مړيې كړ، بيا هغه دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سول

فَأَخْبَرَاهُ فَقَالَ أَيُّكُمَا قَتَلَهُ فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَا قَتَلْتُهُ فَقَالَ هَلْ

او د پيښې څخه يې خبر كړل، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه په تاسو كې كوم يوه هغه قتل كړى دئ. په هغوى كې هر يوه وويل چې ما قتل كړى دئ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا

مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا فَقَالَا لَا فَنَظَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّيْفَيْنِ

تاسو توري وچې كړې دي هغوى عرض وكړ چې يا، رسول الله ﷺ د دواړو توري وكتلې او وه

فَقَالَ كِلَاكُمَا قَتَلَهُ وَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَلَبِهِ لِمُعَاذِ بْنِ

يې فرمايل: تاسو دواړو قتل كړى دئ، بيا رسول الله ﷺ د ابو جهل سامان معاذ بن عمرو بن

عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَالرَّجُلَانِ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَمُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ.

متفق عليه.

جموح ته وركړ او هغه دواړه هلكان چې هغوى ابو جهل قتل كړى وو معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفراء دي. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٤٦، رقم: ٣١٤١، ومسلم ٣\١٣٧٢، رقم: ٤٢- ١٧٥٢.

د لغاتو حلل اضلع: اى بين رجلين اقوى من الرجلين اللذين كنت بينهما. الاعجل: اى الاقرب اجلا. انشب: اى البث وامكث.

تشريح د صحيح بخاري په روايت كې د معاذ ابن عفراء پر ځاى معوذ ابن عفراء دى او مخته چې كوم روايت راځي په هغه كې دا بيان سوى دى چې ابو جهل د عفراء زامنو قتل كړ حال دا چې مخكې كوم روايت نقل سوى دى د هغه څخه معلوميږي چې په هغه دواړو وړونكو كې يوازي يو د عفراء زوى وو، همدارنګه په دواړو روايتو كې په ظاهره تضاد معلوميږي مګر محققينو

علماؤ دغه تضاد د دغه توجیه په ذریعه لیري کړی دی چي هغه دواړه د یوې مور زامن وه مګر د هغوی پلار جلا جلا وو.

په دې اعتبار سره هغه دواړه د مور له خوا سکه وړونه وه او د پلار له خوا میریزي وړونه وه ، د هغوی د مور نوم بي بي عفراء وو ، په هغوی کي او د یوه د پلار نوم عمرو ابن جموح او د بل د پلار نوم د قسطلاني د قول مطابق حارث وو ، په هغوی کي یوه ته د هغه د پلار په نسبت معاذ ابن عمرو ابن جموع ویل کیږي او بل ته د مور په نسبت کولو سره معاذ ابن عفراء یا (معوذ ابن عفراء) ویل کیږي .

دلته دوه سوالونه نور هم پیدا کیږي یو خو دا چي رسول الله ﷺ وفرمایل چي ابو جهل په تاسو دواړو کي چا قتل کړی دی نو بیا رسول الله ﷺ د ابو جهل سامان هغه دواړو ته د ورکولو پر ځای په هغوی کي یوه ته د ورکولو حکم ولي وکړ ؟ ددې جواب دادی چي د ابو جهل په وژلو کي دواړه شریک وه مګر په اصل کي چا چي مخکي پر ابو جهل په حمله کولو سره هغه د تښتېدو او ګرځېدو څخه مجبور او بې آرامه کړی وو هغه به یو وو او بیا وروسته دوهم هم پر هغه باندي د حملې په کولو سره هغه زیات زخمي کړ ، په دې اعتبار سره هغه د سامان مستحق وګرځول سو چا چي مخکي په حمله کولو سره د هغه تښتېدل یا دفاع کول بېکاره کړي وه مګر رسول الله ﷺ د دوهم د خوشحاله کولو لپاره دا هم وفرمایل چي تاسو دواړو هغه قتل کړی دی .

دوهم سوال هغه دی کوم چي په دوهم فصل کي د ابن مسعود رضي الله عنه د روایت په تشریح کي هم ذکر سوی دی چي رسول الله ﷺ د ابو جهل توره زما د برخي څخه زیاته ما ته راکړه ، په دغه روایت کي هم دا بیان سوی وو چي ابو جهل حضرت ابن مسعود رضي الله عنه قتل کړ (یعني د ابن مسعود رضي الله عنه په لاس قتل سو ،) په دې اعتبار سره په دواړو روایتو کي تضاد واقع سو ؟ ددې جواب دادی چي هغه دواړه کوچنیانو ابو جهل په زخمي کولو سره پر مځکه را اېله کړی کله چي ابن مسعود رضي الله عنه هغه ولیدی چي په هغه کي ساه پاته ده نو د هغه سر یې جلا کړی همدارنګه د ابن مسعود رضي الله عنه دغه عمل د ابو جهل په قتل سره تعبیر کړل سو او رسول الله ﷺ په دې وجه چي د هغه په قتل کي په هر حال د ابن مسعود رضي الله عنه څه ناڅه برخه وه ځکه هغه ته هم د هغه سامان څخه یو شی (توره) ورکړه . دا خبره هم باید په ذهن کي وي چي د امام مالک رحمه الله د ځینو پیروانو دا قول دی چي په دې باره کي امام او مشر ته اختیار دی چي هغه څرنګه غواړي فیصله وکړي او د مقتول سامان چا ته چي ورکول غواړي ور یې کړي ، په دغه صورت کي د ذکر سوو دواړو سوالو پیدا کېدو موقع نه پاته کیږي .

﴿۳۸۵۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَنْظُرُ لَنَا مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ قَالَ فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ فَقَالَ أَنْتَ أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ وفي رواية قَالَ فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ قَتَلَنِي. متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ وفرمايل: څوک سته چي دا معلومه کړي چي ابوجهل څه وکړل (يعني هغه څنګه سو وژل سوی دی که ژوندی دئ) نو ابن مسعود ولاړی او په ميدان کي يې وليدل چي د عفراء دواړو زامنو هغه زخمي کړی دئ او د قبر پر غاړه دئ، ابن مسعود هغه تر ږيري ونيوئ او ورته وه يې ويل ايا ته ابوجهل يې، هغه وويل هو، ايا په مرتبه کي دده څخه زيات څوک نسته چي هغه تاسو قتل کړئ (يعني ته په خپل لاس سره ما قتل کړه په قريشو کي به زما درجه لوړه سي)، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابوجهل وويل کاش چي زه بېله زميندار څخه بل چا وژلی وای. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۲۱\۷، رقم: ۴۰۲۰، ومسلم ۱۴۲۴\۳، رقم: ۱۱۸- ۱۸۰۰.

د لغاتو حل برد: اى قرب من الموت. (مرګ ته نژدې سو). اكار: اى زراع.

تشريح کاش چي زه بېله زميندار څخه بل چا وژلی وای: ددغه جملې څخه د ابوجهل مطلب دا وو چي ما ته په دې کي پيغور نه دی چي تاسو خلکو زه قتل کړی يم مګر پر دې باندي افسوس دی چي زه هغه سړي وژلی يم کوم چي کښت کونکی دی کاش چي زه دده څخه پرته نورو خلکو قتل کړی وای نو زما په نزد به دا زياته غوره وای، ګويا ابوجهل د عفراء زامنو ته اشاره وکړه چي هغوی دی قتل کړی وو، د هغو تعلق د انصارو سره وو او انصارو به کرنه کول په دې توګه چي د هغوی سره مځکي هم وې او د خرماوو باغونه هم وه.

يو چا ته د مال په ورکولو سره د هغه ديني فضيلت نه لازميږي

﴿۳۸۵۴﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ أَعْطَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه ناست وم چي رسول الله ﷺ

رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ فَتَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ رَجُلًا هُوَ

يوې ډلي ته يو څه مال ورکړ، په هغه ډلي کي يو ازې يوه سړي ته رسول الله ﷺ څه ورنه کړل.

أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ وَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ

چي زما په نزد تر هغو ټولو غوره وو، (د دې په ليدو سره) زه ولاړ سوم او عرض مي وکړې په ده څه سوي دي ؟(چي تاسو ده ته نه ورکړل) قسم په الله زه خو دی مؤمن او صادق ګڼم، رسول الله

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمًا ذَكَرَ ذَالِكَ سَعْدٌ ثَلْثًا وَاَجَابَهُ بِمِثْلِ

ﷺ وفرمايل: داسي وايه چي زه دی مسلمان ګڼم، سعد درې واره د رسول الله ﷺ په وړاندي

ذَالِكَ ثُمَّ قَالَ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي

دغه خبره وکړه او رسول الله ﷺ هم هر وار دغه جواب ورکړ، او بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چي زه يو سړي ته مال ورکوم حال دا چي دويم سړي ما ته تر هغه زيات خوښ وي او دا يوازې دد ې

النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ. متفق عليه و في رواية لهما قَالَ الزُّهْرِيُّ فَنَرٰى اَنَّ الْاِسْلَامَ اَلْكَلِمَةُ وَالْاِيْمَانَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ.

اند يښني څخه داسي کوم چي چيري هغه پوړموخي په دوږخ کي ونه لوېږي. بخاري او مسلم. او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي داسي دي چي زهري وايي اسلام يوه کلمه ده او ايمان د صالح عمل نوم دئ.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١\ ٧٩، رقم: ٢٧، ومسلم ١\ ١٣٣، رقم: ٢٣٧- ١٥٠.

تشريح بلکه داسي ووايه ...الخ: د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دا واضحه کړل چي حقيقي ايمان چي د هغه تعلق د زړه د ژوروالي او باطني صدق سره دی د ډېري لوړي مرتبې دی او دا يو ظاهري شی نه دی ځکه چي په دې باندي خبرېدل ممکن نه دي، د دې پر خلاف اسلام يو لېدونکی شی دی ځکه چي اسلام نوم دی د ظاهري اطاعت او فرمانبرداری ځکه که ستا په نظر کي د دغه سړي ظاهري اعمال ډېر ښه وي نو ته د هغه په باره کي په يقين سره دا ويلای سې چي زه هغه ښه مسلمان ګڼم مګر په يقين سره دا نه سې ويلای چي زه هغه صادق مؤمن ګڼم، يعني د

رسول الله ﷺ مقصد د سعد رضي الله عنه د غير مناسب خبري كولو خبرداري وركول وو چي هغه د رسول الله ﷺ په مخكي د هغه سړي د مال مستحق كېدو په خپل دليل سره بيان وكړ او د رسول الله ﷺ له خوا يې هغه سړي ته د مال نه وركول د حقيقت څخه ليري وګڼل او د هغه سړي د حقيقي ايمان دعوه يې وكړه.

ځكه نو دا اندېښنه وي ...الخ : ددې څخه دا معلومه سوې ده چي يو سړي ته د مال په وركولو سره هغه غوره ګڼل يا هغه افضل ګڼل نه لازمېږي او نه دا ضروري دي چي د مال وركول د فضيلت او امتياز په اعتبار وي بلكه ډېر واره داسي هم كيږي چي د كوم سړي ايمان كمزوري وي د هغه د زړه د مائلولو لپاره مال وركول كيږي چي هغه د مال نه تر لاسه كولو په وجه د نااميدۍ او غصې ښكار نه سي او د كفر تيارو ته ولاړ نه سي او بيا په دوږخ كي واچول سي، نو اې سعد! هغه سړي ته د مال وركولو غوښتنه په دومره لوی دعوې سره مه كوه چي هغه كامل الايمان مؤمن دی حال دا چي د هغه د حقيقي او كامل يقين كول ستا لپاره ناممكن دي.

اسلام د كلمې نوم دی : څرګنده دي وي چي په اصل كي زهري رحمه الله ته داسي ويل پكار وه چي اسلام د عمل صالح او د شريعت د احكامو د اطاعت او پيروۍ څخه عبارت دی او ايمان د زړه د تصديق نوم دی مګر هغه ددغه مشهور تعريف پر ځای اسلام په كلمې سره او ايمان په عمل صالح سره تعبير كړ ددې وجه داده چي د اسلام د اقرار تعلق د كلمه شهادت په ژبه ادا كولو سره دی كوم څوک چي كلمه شهادت ووايي هغه د خپل اسلام اقرار وكړ او دا اقرار ددې لپاره كافي دی چي هغه په ظاهري توګه مسلمان ومنل سي، رسول الله ﷺ حضرت سعد رضي الله عنه ته دا فرمايلي وه چي ته د هغه سړي د مسلمان كېدو يقين كولای سې ځكه چي هغه په خپل ژبه د شهادت د كلمې په ويلو سره د اسلام اقرار كړی دی او د هغه دغه اقرار د هغه په ظاهره د مسلمان كېدو لپاره كافي دی، دا خبره زهري رحمه الله په دې سره تعبير كړه چي اسلام د كلمې نوم دی چي كوم څوک كلمه شهادت ووايي پر هغه د مسلمان كېدو حكم كيږي اوس پاته سو د ايمان د عمل صالح سره د تعبير كولو خبره نو په دې داسي پوه سئ چي د صالح عمل د صادرېدو بنياد څه شي وي، دا بالكل معلومه خبره ده چي ددغه بنياد تصديق په زړه سره ايمان راوړل وي كوم څوک چي په اخلاص سره عمل صالح كوي نو هغه دا خبره ظاهروي چي د هغه په زړه كي ايمان ځای سوی دی او د هغه څخه د عمل صالح صادرېدل د تصديق قلبي او د كمال دين په وجه دي په دې اعتبار سره زهري رحمه الله د ايمان وضاحت په عمل صالح سره وكړ.

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ برخه

﴿٣٨٥٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَعْنِي يَوْمَ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ ولاړ سو

بَدْرٍ فَقَالَ إِنَّ عُثْمَانَ انْطَلَقَ فِي حَاجَةِ اللّٰهِ وَحَاجَةِ رَسُولِ اللّٰهِ وَإِنِّي أُبَايِعُ لَهُ

او وه يې فرمايل: عثمان رضی اللہ عنہ د الله جل جلاله او رسول ﷺ په کار پسي تللی دئ او زه د هغه (لپاره) بيعت کوم،

فَضَرَبَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمٍ وَلَمْ يَضْرِبْ لِأَحَدٍ غَابَ

غَيْرَهُ. رواه ابوداؤد

بيا د غنيمت په مال کي يې د هغه برخه وايستل او د هغه څخه پرته د بل سړي چي په جنګ کي شريک نه وو برخه ونه ايستل. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ١٣/١٦٨، رقم: ٢٧٢٦.

تشريح: کله چي رسول الله ﷺ د خپل صحابه کرامو سره بدر ته ورسيدی نو هغه وخت د رسول الله ﷺ لور بي بي رقيه رضی اللہ عنہا چي د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په نکاح کي وه سخته ناروغه وه، رسول الله ﷺ حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مديني منورې ته واستوی چي د بي بي رقيه رضی اللہ عنہا درملنه وکړي او بيا کله چي د غنيمت د مال د وېشلو وخت راغلی نو رسول الله ﷺ وفرمايل چي په دغه جنګ کي پر حضرت عثمان رضی اللہ عنہ باندي کومه ذمه دارې عائد سوې وه هغه پوره کړه او هغه په جنګ کي د ګډون کولو لپاره دلته راغلی وو مګر د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ دا حکم وسو چي هغه مديني ته بېرته ولاړ سي او د بي بي رقيه رضی اللہ عنہا درملنه او پاملرنه وکړي، په دې اعتبار سره هغه د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ په کار پسي تللی دی نو زه خپله د هغه له خوا بيعت کوم، په دې ويلو سره رسول الله ﷺ خپل راسته لاس پر خپل چپه لاس باندي ووهی او وه يې فرمايل چي دا د عثمان رضی اللہ عنہ لاس دی او بيا رسول الله ﷺ د غنيمت په مال کي د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ برخه هم ورکړل.

يو اوښ د لسو پسو برابر دی

﴿٣٨٥٦﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَجْعَلُ فِي قَسْمِ الْغَنَائِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيرٍ. رواه النسائي.

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د غنيمت د مال په ويشلو کي لس پسونه او يو اوښ برابر کړي. نسائي.

تخريج سنن النسائي ٧\٢٢١، رقم: ٤٣٩١.

په مخکنيو امتو کي د غنيمت مال اسماني اور سوځي

﴿٣٨٥٧﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا نَبِيٌّ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په انبياؤو کي يو نبي (يعني يوشع بن نون) د جهاد اراده وکړه

مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَقَالَ لِقَوْمِهِ لَا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ

او خپل قوم ته يې وويل: هغه سړي دي زما سره نه ځي چي هغه اوس نکاح کړې وي او د خپلي

يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا وَلَا أَحَدٌ بَنَى بُيُوتًا وَلَمْ يَرْفَعْ سُقُوفَهَا وَلَا أَجل اشْتَرَى

ښځي سره يې جماع نه وي کړې او هغه سړی دي هم زما سره نه ځي چي هغه کور جوړ کړی وي او پر هغه يې بام نه وي اچولی، او هغه سړی دي هم زما سره نه ځي چي هغه رانيولي وي

غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ يَنْتَظِرُ وِلَادَهَا فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ صَلَاةَ الْعَصْرِ أَوْ

بلاربي ميږي او اوښي او هغه د هغو د لنګېدو په انتظار کي وي، بيا دا نبي د جهاد لپاره روان سو او مازديګر هغه ابادي ته نژدې سو چي په هغه کي د جهاد يا حملي کولو اراده يې وه

قَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ اللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا

او ويل يې اې لمره! ته هم د الله جل جلاله مامور يې او زه هم د الله جل جلاله مامور يم، اې الله! ته دا لمر بند

فَحُبِسَتْ حَتَّى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فجمع الْغَنَائِمَ فَجَاءَتْ يَعْنِي النَّارَ لِتَأْكُلَهَا

کړې، نو الله تعالى لمر بند کړ تر څو چي الله تعالى هغه نبي ته فتح ورکړه، بيا يې د غنيمت مال جمع کړ، او ور راغلئ

فَلَمْ تَطْعَمْهَا فَقَالَ إِنَّ فِيكُمْ غُلُولًا فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ فَلَزِقَتْ

مگر د غنیمت مال یې ونه سوځی (په پخوانیو امتونو کي دا رواج وو چي د غنیمت مال به یې جمع کړ په ځنګل کي به یې کښېښود د آسمان د لوري به اور راغلی او هغه به یې وسوځئ او دا د قبولیت نښه وه) هغه نبي خلکو ته وفرمایل: په تاسو کي چا د غنیمت په مال کي خیانت کړی دئ، تاسو ته پکار ده چي د هري قبیلې څخه یو یو سړي زما څخه بیعت وکړي (بیعت پیل سو)

يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ فَجَاءُوا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ

او د یوه سړي لاس د هغه نبي دلاس سره ومونښتی، هغه نبي ورته وفرمایل: ستا په قبیله کي خیانت دئ بیا د هغه قبیلې خلکو د سروزرو یو سر راوړ چي د غوایي د سر په ډول وو

الذَّهَبِ فَوَضَعُوهَا فَجَاءَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهَا. وفي رواية فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ

او هغه یې کښېښود، اور راغلئ او هغه یې وسوځئ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زموږ څخه وړاندي د هیڅ امت لپاره د غنیمت مال حلال نه وو

قَبْلَنَا ثُمَّ أَحَلَّ اللَّهُ لَنَا الْغَنَائِمَ رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا. متفق عليه

بیا الله تعالی زموږ لپاره غنیمتونه حلال کړل ځکه چي الله تعالی زموږ کمزوري او عاجزي ته وکتل نو د غنیمت مال یې زموږ لپاره حلال کړ. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٢٢٠، رقم: ٣١٢٤، ومسلم ٣\ ١٣٦٦، رقم: ٣٢- ١٧٤٧.

د لغاتو حل خلفات: جمع الخلفة وهي الحامل من النوق.

تشريح حضرت یوشع علیه السلام د جهاد لپاره د تلو په وخت کي هغه څو کسان د ځان سره د بېولو څخه ځکه منع کړي وه چي کله زړه په یو بل شي کي لګیدلی وي نو د هغه شي څخه ماسو طبیعت په بل کي نه لګیږي، که ذکر سوي خلک په لښکر کي شریک سوي وای نو هغوی به په پوره جوش او جذبې سره د دښمن مقابله نه وای کړې، ظاهره ده چي په دغه صورت کي هغه مقصد تر لاسه نه سو د کوم مقصد لپاره چي هغوی بېول کېدل. د دې څخه معلومه سوه چي د جنګ په وخت کي د خپل ټولو ضروري کارو او معاملو څخه فراغت او جلاوالی حاصلول پکار دي تر څو د کوم کار لپاره روان وي هغه په ښه ډول سرته ورسیږي.

لمر ودرول سو ... الخ : په مواهب لدنيه كي ليكلي دي چي په حديث كي راغلي دي چي د شمسي نظام په ټول عمر كي د حضرت يوشع ابن نون عليه السلام څخه ماسوا د بل هيچا لپاره لمر هيڅكله نه دی درول سوی ، د دې څخه دا خبره ثابته سوه چي د لمر درېدل يوازي د حضرت يوشع عليه السلام د خصائصو څخه دی حال دا چي د رسول الله ﷺ لپاره هم د لمر درېدل ثابت دي همدارنګه په دغه دواړو خبرو كي چي كوم تضاد دی نو هغه د دغه توجيه په ذريعه ليري كيدای سي چي د حضرت يوشع عليه السلام په باره كي چي د رسول الله ﷺ كوم ارشاد دی چي د يوشع عليه السلام څخه ماسوا د بل چا لپاره لمر نه دی درول سوی نو د دې څخه د رسول الله ﷺ دا مراد وو چي په پيغمبرانو كي د حضرت يوشع عليه السلام څخه ماسوا بل داسي پيغمبر نه سته چي د هغه لپاره لمر درول سوی وي ما سوا زما څخه ، دا احتمال هم كيدای سي چي د رسول الله ﷺ لپاره كوم وخت لمر درول سوی وي د هغه څخه مخكي رسول الله ﷺ دغه ارشاد فرمايلی وي ، د مواهب لدنيه د روايت مطابق د رسول الله ﷺ لپاره د لمر درولو واقعه دوه واره پېښه سوې ده يو وار د معراج د شپې په دوهمه ورځ او دوهم وار د خندق د غزا په ورځ چي كفارو د رسول الله ﷺ په جنګ كي اخته كولو سره د مازديګر لمونځ څخه منع كړي وه تر دې چي لمر ولويدی نو الله تعالی د رسول الله ﷺ لپاره لمر بېرته راوګرځوی او رسول الله ﷺ د مازديګر لمونځ وكړ ، همدارنګه يو وار د رسول الله ﷺ په حكم سره حضرت علي رضي الله عنه ته هم لمر بېرته راغلی دی هغه داسي چي رسول الله ﷺ د هغه پر زنګنو باندي خپل سر مبارك ايښی پروت وو چي په هغه حالت كي پر رسول الله ﷺ باندي د وحي نازلېدل شروع سول په دغه صورت كي حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سر مبارك د خپل زنګنو څخه پورته نه كړای سو تر دې چي د مازديګر وخت ختم سو او هغه لمونځ ونه كړ. رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء وكړه نو الله تعالی لمر بېرته راوخيژوی او هغه د مازديګر لمونځ پر وخت ادا كړی ، په مواهب لدنيه كي دا واقعه هم په تفصيل سره نقل سوې ده مګر علماؤ په دغه واقعه كي كلام كړی دی .

د هغه د سوځلو لپاره اور راغلی ... : لكه څرنګه چي مخكي هم معلومه سوې ده چي دا يوازي د دغه امت خاصيت دی چي د دوی لپاره د غنيمت مال حلال ګرځول سوی دی مخكنيو امتونو ته د غنيمت د مال په خپل مصرف كي راوستلو اجازه نه وه بلكه د الله جل جلاله د حكم سره سم دا رواج وو چي د جنګ څخه وروسته د غنيمت ټول مال به جمع كيدی او هغه به په ځنګل كي اېښودل كېدی او د هغه وروسته به د آسمان څخه اور راغلی او هغه به يې وسوځی چي دا به د قبلېدو نښه وه .

د غنيمت په مال كي خيانت كونكى دوږخي دى

﴿٣٨٥٨﴾: وَعَنِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ أَقْبَلَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه ما ته دا واقعه بيان كړل چي د خيبر د فتح په ورځ

نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ وَّ فُلَانٌ

يو څو صحابه كرام راغلل او هغوى ويل پيل كړل چي فلانى سړى شهيد دئ او فلانى سړى

شَهِيدٌ حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

شهيد دئ (يعني نن فلانى او فلانى سړى شهيد) تر څو چي هغوى د يو سړي د مړي سره تير سول او وه يې ويل : فلانى سړى شهيد دئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم (د دې په اوريدو سره) وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

هيڅكله نه ، ما دا سړى په دوږخ كي ليدلى دئ ، ده د غنيمت د مال څخه يو څادر او يوه كمبله پټه كړې ده ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ

اې د خطاب زويه ! ولاړ سه او د خلكو په منځ كي درې واره اعلان وكړ چي په جنت كي به

الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلَاثًا قَالَ فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلَاثًا. رواه مسلم

يوازي پوره ايمان والا داخليږي ، عمر بن خطاب رضي الله عنه وايي زه ولاړم او درې واره مي اعلان وكړ چي په جنت كي به يوازي پوره ايمان والا داخليږي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١\١٠٧، رقم: ١٨٢- ١١٤.

تشريح: په جنت كي به يوازي مؤمن داخليږي : ابن مالك رحمه الله وايي چي په شرعي اصطلاح كي او په عام رواج كي مؤمن هغه سړي ته وايي چي پر رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه پر شريعت ايمان

راوړي په دې اعتبار سره کوم سړی چې خيانت وکړي هغه د رسول الله ﷺ د رسالت او شريعت د تصديق څخه انکار وکړ په دې توګه چې د دغه تصديق په نتيجه کي پر هغه چې کوم احکام جاري کيږي په هغه باندي ده عمل ونه کړ مګر د هغه دا مطلب نه سي کيدای چې کوم سړی خيانت وکړي هغه د رسول الله ﷺ د تصديق خلاف عمل وکړ او هغه مؤمن نه سو نو د دغه اعلان په ذريعه چې په جنت کي يوازي مؤمن داخليږي د رسول الله ﷺ د هغه سړي په ظاهره د مؤمنانو د ډلي څخه خارجول د سخت زجر او خبرداري په توګه وو ، يا دا ويل کيږي چې په دغه اشارد کي د مؤمن څخه متقي او پرهيزګار مؤمن مراد دی او د داخلېدو څخه مراد بېله عذابه داخلېدل دي همداراز په دغه ارشاد مطلب به دا وي چې کوم مؤمن د تقوا او پرهيزګاری پر لار روان وي هغه به په جنت کي بېله عذابه داخليږي مګر کوم مؤمن چې متقي او پرهيزګار نه وي او ګناه کوي نو هغه به اول په عذاب کي اخته کړل سي کله چې د خپلو ګناهو سزا وڅکي نو بيا وروسته به هغوی هم په جنت کي داخل کړل سي .

ما هغه په دوږخ کي وليدی : دا په ظاهره د هغه نصوصو خلاف دی کوم چې پر دې باندي دلالت کوي چې د يو چاحقيقتا په دوږخ کي اچول به د حشر څخه وروسته واقع کيږي نو د غه ارشد به پر تمثيل باندي محمول وي يعني رسول الله ﷺ د دغه ډول بيان په ذريعه په حقيقت کي دې ته اشاره وکړه چې دا سړی به په دوږخ کي اچول کيږي لکه څرنګه چې پر يو موقع باندي رسول الله ﷺ د حضرت بلال رضي الله عنه د وفات څخه مخکي د هغه په جنت کي داخلېدل د مثال په توګه فرمايلي وه .

دا احتمال هم دی چې دغه ارشاد د مجازي اسلوب بيان په توګه مظهر وي يعني د رسول الله ﷺ مراد دا وي چې زه يو سړی د داسي ګناه کونکی پېژنم چې د دوږخ عذاب واجبونکی دی لکه څرنګه چې په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي چې (ان الابرار لفي نعيم) يعني بېشکه نيک خلک به په جنت کي وي ، ظاهره ده چې د دغه آيت دا مطلب نه دی چې نيک خلک د اوس څخه جنت ته رسيدلي دي بلکه دا مراد دی چې نيک خلک د هغه حميده صفتو خاوندان دي چې هغه به جنت بوځي .

===========

بَابُ الْجِـــزْيَـــةِ (د جزيې بيان)

جزيه څه شي ته وايي ؟: جزيه د اسلامي قانون يو خاص اصطلاح ده ، ددې اطلاق پر هغه خاص محصول باندې کيږي کوم چې په اسلامي هيواد کې د غير مسلم کسانو څخه د هغوی د فيصله سوي خوښې مطابق اخيستل کيږي .

جزيه په اصل کې د جزاء څخه دی چې د هغه لغوي معنی د بدلې ده ، د غه خاص محصول ته جزيه ځکه ويل کيږي چې هغه په اسلامي هيواد کې د اسلام پر پاته کېدو باندې منکر او پر کفر باندې د قائم پاته کېدو يو بدل او عوض دی چې د هغه د مال ، جائيداد ، عزت او آبرو د ساتنې لپاره اخيستل کيږي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مجوسيانو څخه جزيه اخيستل کيداى سي

﴿۳۸۵۹﴾: عَنْ بَجَالَةَ قَالَ كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الْاَحْنَفِ فَأَتَانَا

د حضرت بجاله رضي الله عنه څخه روايت دئ چې زه د جزء بن معاويه منشي وم چې د احنف اکا دئ ، موږ

كِتَابُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنْ

ته د حضرت عمر رضي الله عنه يو ليک د هغه د وفات څخه يو کال ترمخه راغلئ چې په هغه کې ليکلي وه د مجوسيانو څخه ذي محرم بيل کړئ (په مجوسيانو کې ذي محرم يعني مور ، لور وغيره هغه تولي ښځي حلالي وې چې هغه په اسلام کې حرامي دي او مجوسيانو به نکاح د محارمو رواه ګڼل ، حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په ورځو کې دا حکم جاري کړ چې کومي محرمي ښځي د مجوسيانو په نکاح کې وي هغه بيلي کړئ ،

الْمَجُوسِ وَلَمْ يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ

بجاله وايي حضرت عمر رضي الله عنه به د مجوسيانو جزيه نه اخيستل ، کله چې عبد الرحمن بن عوف دا شاهدي ورکړه

بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرَ .

چي رسول الله ﷺ د هجر (د يو ځاى نوم) د مجوسيانو څخه جزيه اخيستې ده ، نو حضرت عمر رضي الله عنه هم جزيه ځيني واخيستل .

رواه البخاري و ذكر حديث بريدة اذا امر اميرا على جيش في باب الكتاب الى الكفار

بخاري او د بريدة حديث اذا مر امير على اجش ، د كتاب الي الكفار په باب كي بيان سوى دئ

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥٧، رقم: ٣١٥٦

د لغاتو حل: هجر: بلدة في البحرين. (په بحرين كي يوه سيمه)

تشريح: محرم هغه قريب ته وايي چي د هغه سره د مور، لور او خور وغيره نكاح كول جائز نه وي ، په مجوسيانو كي دا رواج وو چي هغوى به د خپل محرم سره واده كوى نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا حكم واستوى چي كومو مجوسيانود خپلو محارمو سره واده كړى وي د هغو ښځو او خاوندانو په مينځ كي جلاوالى راولئ يعني د هغوى واده فسخ كړئ كه څه هم د اسلامي قانون دا قاعده ده چي كوم غير مسلم د اسلامي هيواد په ذمه دارۍ اوساتنه كي وي د هغه په مذهبي معاملاتو كي مداخلت نه كيږي بلكه هغوى ته دي پر خپل مذهب باندي د عمل كولو پوره ازادي وركړل سي او داخبره (يعني د خپل محرم سره واده كول) د هغوى په مذهب كي جائز وه ځكه د حضرت عمر رضي الله عنه دا حكم په ظاهره يو سوال دى، ددې جواب دادى چي كه څه هم د اسلامي هيواد له خوا ذميانو ته په خپل مذهبي معاملاتو كي پوره ازادي حاصله وي مګر دا هم يو حقيقت دى چي د وخت امام ته دا اختيار حاصل دى چي هغه په خپل اسلامي پاچاهۍ كي چيري چي يوازي د الله جل جلاله نازل سوى قانون جاري وي هر داسي عمل منع كړي كوم چي په ښكاره د اسلامي شعائرو او د دين د بنيادي اصولو او د حكومت د قانون مخالف وي ، د مجوسيانو د خپل محرم سره واده كول هم د اسلامي شعائرو خلاف وو بلكه په اخلاقي او ټولنيزه توګه هم يو بد او مذموم عمل وو ځكه حضرت عمر رضي الله عنه د داسي ودو ختمولو حكم وكړ.

د مجوسيانو په باره كي د جمهورو علماؤ پر دې اتفاق دى چي د هغوى څخه دي جزيه واخيستل سي بلكه د حنفيه په نزد د عجمي بت پرستو څخه هم جزيه اخيستل پكار دي مګر په دې كي د امام شافعي رحمة الله عليه اختلاف دى .

هجر د يو ځاى نوم دى د ځينو حضراتو په نزد په يمن كي بحرين ته نژدې يو ښار وو مګر د

اوسني محققينو د قول مطابق د عربو د جزيرې مشرقي ساحل چې احساء ورته ويل کيږي مخکې په هجر سره نوميدی . او دې ته بحرين هم ويل کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جزيې اندازه

﴿٣٨٦٠﴾: عَنْ مُعَاذٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ هغه يمن ته وليږئ نو دا حکم يې ورکړ

أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي مُحْتَلِمًا دِينَارًا أَوْ عَدْلَهُ مِنَ الْمُعَافِرِيِّ ثِيَابٌ تَكُوْنُ بِالْيَمَنِ . رواه ابوداؤد.

چې د هر بالغ سړي څخه به په جزيه کې يو دنيار اخلې يا د يو دينار تو کر چې په يمن کې تيارېږي . ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود ٣\٤٢٨، رقم: ٣٠٣٨.

تشريح ابن همام رحمه الله وايي چې جزيه پر ښځو باندې نه عائد کيږي او نه پر کوچنيانو باندې عائد کيږي . همدارنګه پر ليوني، ګوډ، شل، او فلج وهلي باندې هم جزيه نه واجبيږي او سپين ږيري چې پر جنګ کولو او ګټې کولو باندې قادر نه وي او هغه محتاج چې پر يو کار کولو باندې قادر نه وي د جزيې څخه مستثنی دي .

دغه حديث په ظاهره د امام شافعي رحمه الله د مذهب دليل دی چې د هغه په نزد د جزيې د اندازې تاکلو په باره کې غني او فقير برابر دی ځکه چې په دغه حديث کې تخصيص نه دی ذکر سوی مګر د حنفيه په نزد پر غني باندې هر کال اته څلويښت ٤٨ درهمه واجب دي چې هره مياشت د څلور درهمو په حساب ادا کيږي ، پر درميانه درجې والا باندې هر کال څليرويشت ٢٤ درهمه واجب دي چې د هغه څخه به هره مياشت دوه درهمه ادا کوي او پر فقير باندې هر کال دوولس درهمه واجب دي چې هغه به يې هره مياشت يو يو درهم ادا کوي .

د حنفي مذهب په باره کې په هدايه کې ليکلي دي چې دا مذهب د حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله عنهم څخه نقل سوی دی او د انصارو او مهاجرينو څخه هيڅا ددې خلاف نقل سوي نه دي ، او کوم چې د حديث سوال دی چې په هغه کې د هر بالغ څخه يو يو

دينار اخيستل روايت سوي دي نو دا دصلح پر صورت محمول دی چي يمن د جنګ په ذريعه فتح سوی نه وو بلکه د صلح په ذريعه د يمن اوسيدونکو خپل ځان د مسلمانانو په واک کي ورکړی وو نو دجزيې په باره کي هم د هغوی سره پر ذکر سوي مقدار باندي مصالحت وسو ، يا دا چي د يمن اوسيدونکي په مالي توګه سره ډېر کمزوري وه ځکه د هغوی دجزيې مقدار هغه وټاکل سو کوم چي پر فقيريانو باندي واجب دی .

پر مسلمانانو جذيه واجب نه ده

﴿٣٨٦١﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ واحدة وَلَيْسَ عَلَى مُسْلِمٍ جِزْيَةٌ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په يوه مځکه کي دوې قبيلې صحيح نه دي (يعني په يوه ځای کي د دوو مذهبو خلکو اوسيدل صحيح نه دي) او پر مسلمانانو جزيه واجب نه ده . احمد، ترمذي او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ١\٢٢٣، رقم: ٦٣٣، وابوداود ٣\٤٣٨، رقم: ٣٠٥٣.

تشريح: په يوه مځکه کي دوې قبيلې : ددې مطلب دادی چي په يوه سيمه کي دوه مذهبونه د برابرۍ پر بنياد کېدل نه دي پکار ، يعني ددې په ذريعه مسلمانان خبردار کيږي چي هغوی د کافرانو يعني د خپل دين د دښمنانو په مينځ (دارالحرب)کي هستوګنه اختيار نه کړي او نه ددې په ذريعه خپل ځان ذليل او رسوا کړي ، همدارنګه اسلامي پاچاهۍ ته پکار دي چي هغوی په خپلو حدودو کي کافران يعني د دين دښمنان بېله جزيې هستوګني اختيارولو ته نه پرېږدي او دهغوی د جزيې ورکولو په صورت کي هم هغوی ته داسي د سرپورته کولو موقع ور نه کړي چي هغوی په ډاګه د اسلامي هيواد د بنيادي اصولو او قوانينو او ديني عقائدو او نظرياتو خلاف کارونه کوي ، او دا خبرتيا له دې کبله وه چي په دغه دواړو صورتو کي د اسلام او کفر مساوي کېدل لازميږي حال دا چي د اسلام په نظر کي ددې هيڅ ځای نه سته بلکه اسلام ددې متقاضي دی چي مسلمانان چيري اوسيږي په قوت، شوکت او عزت سره وي او د اسلام دښمنان ضعيف او کمزوري وي .

ځينو علماؤ دا ويلي دي چي په دغه حديث کي يهوديانو او عيسايانو ته د جزيرة العرب څخه د جلا وطنه کولو ته اشاره ده چي د اهل کتاب کېدو په وجه اهل قبله هم دي او د دوی

دوارو جلاجلا قبله ده چې د اسلام د قبلې خلاف ده چې په دې کې د دوو قبلو منونکو وجود پاته نه سي بلکه يوازې د يوې حقيقي قبلې منونکي يعني مسلمانان پاته سي.

پر مسلمان باندې جزيه نه سي عائد کيدای: دلته هغه صورت ته اشاره سوې ده چې د مثال په توګه يو غير مسلم د ذمي کېدو په حيثيت کې په اسلامي هيواد کې هستوګنه اختيار کړل مګر هغه د جزيې ادا کولو څخه مخکې مسلمان سو نو اوس د هغه څخه د جزيې غوښتنه نه سي کيدای ځکه چې هغه مسلمان دی او پر مسلمان باندې جزيه نه عائد کيږي.

پر جزيه صلح

﴿۳۸۶۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ فَأُخِذَ فَأَتَوْهُ بِهِ فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ.

رواه ابوداؤد

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه د دومه پاچا اکېدر ته وليږئ، خالد او د هغه ملګرو اکېدر ونيوئ او رسول الله ﷺ ته يې راويستئ، رسول الله ﷺ د هغه وينه توی نه کړه (معاف يې کړی) او پر جزيه يې د هغه سره صلح وکړه. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\۴۲۷، رقم: ۳۰۳۷.

د لغاتو حل: اکيدر: قلعة من بلاد الشام قريب تبوک. (د يوې کلا نوم.)

تشريح أکيدر د الف په پېښ او د کاف په زبر يا جزم او د دال په زبر سره د دُومه ښار پاچا وو، دومه په شام کې د تبوک سره نژدې واقع وو، اکيدر يو نصراني (عيسائي) وو، د هغه په باره کې رسول الله ﷺ دا حکم کړی وو چې هغه دې نه قتل کيږي بلکه ژوندی دې ونيول سي او ما ته دې راوستل سي. کله چې هغه حاضر کړل سو نو رسول الله ﷺ پر هغه جزيه و ټاکل، بيا وروسته الله تعالی هغه ته هدايت وکړ او هغه کامل مسلمان سو.

د يهود او نصارا څخه د تجارت پر مال باندې د محصول اخيستو مسئله

﴿۳۸۶۳﴾: وَعَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ جَدِّهِ أَبِي أُمِّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ

حضرت حرب بن عبيد الله د خپل نيکه څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارٰی وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ. رواه احمد و ابوداؤد.

ﷺ وفرمايل: لسمه برخه (په مال او تجارت كي) پر يهودو واجب ده، او پر مسلمانانو نسته. احمد او ابوداؤد

تخريج مسند الامام احمد ٣\٤٧٤، وابوداؤد ٣\٤٣٥، رقم: ٣٠٤٨.

تشريح دلته د عشر يعني لسمي برخي تعلق د تجارت د مال سره دی د واجب صدقو عشر مراد نه دی ځكه چي پر مسلمانانو باندي د كښت د حاصلاتو عُشر واجب دی.

خطابي رحمة الله عليه وايي چي پر يهودو او نصارا باندي چي كوم عُشر واجب دی دا هغه دی چي په هغه باندي د دوی سره د ذمي جوړېدو پر وخت صلح سوې وي او د هغه سره معاهده سوې وي، او كه چيري هغوی د ذمي كېدو پر وخت د هغوی سره پر يو شي باندي صلح نه وي سوې نو په دغه صورت كي به پر هغوی باندي د جزيې څخه ماسوا نور هيڅ نه واجبېږي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب هم دادی.

په دې باره كي د حنفيه مذهب دادی كه يهود او نصارا په خپلو ښارو كي د مسلمانانو د داخلېدو پر وخت د هغوی پر تجارتي مال باندي محصول وغيره اخلي نو مسلمانانو ته هم دا حق حاصل دی چي كله د هغوی ښارو ته يهود او نصارا راسي نو د هغوی پر تجارت باندي د هغوی څخه محصول واخيستل سي او كه هغوی د مسلمانانو څخه محصول نه اخلي نو بيا مسلمانان هم بايد د هغوی څخه محصول نه واخلي.

پر ذميانو د معاهدې شرائط په زور پوره كيدای سي

﴿٣٨٦٤﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نَمُرُّ بِقَوْمٍ فَلَا هُمْ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما عرض وكړ اې د الله رسوله! موږ (جهاد ته د تللو په وخت كي) پر داسي خلكو تيرېږو چي نه خو

يُضَيِّفُونَا وَلَا هُمْ يُؤَدُّونَ مَا لَنَا عَلَيْهِمْ مِنَ الْحَقِّ وَلَا نَحْنُ نَأْخُذُ مِنْهُمْ

زموږ مېلمستيا كوي او نه هغه حق ادا كوي چي زموږ لپاره پر هغوی واجب دئ او موږ يې په زور نه ځيني اخلو،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِنْ اَبَوْا إِلَّا أَنْ تَأْخُذُوا كَرْهًا فَخُذُوا . رواه الترمذي

رسول الله ﷺ وفرمايل: كه هغوى د وركړي څخه انكار وكړي يا ستاسو مرسته ونه كړي نو تاسو په زور د هغوى څخه خپل حق تر لاسه كولاى سئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۲۵، رقم: ۱۵۸۹.

تشريح: د كومو كسانو په باره كي چي ذكر سوى دى هغوى په اصل كي ذميان وه چي اسلام يې نه وو قبول كړى بلكه د جزيې په ادا كولو سره په اسلامي سلطنت كي هستوګن وه او د هغوى د ذمي كېدو پر وخت د هغوى سره چي كومه معاهده سوې وه په هغه كي پر دوى باندي دا شرط لګول سوى وو چي كوم مسلمان د جهاد لپاره راځي او د دوى په كلي كي تيرېږي نو د هغوى مېلمستيا به كوي مګر هغوى ددغه شرط څخه مخ واړوى او كوم مسلمانان چي به د جهاد لپاره د هغوى سره پاته كېدل نو هغوى به د دوى مېلمستيا نه كول بلكه پر هغوى به يې غله هم نه پلورل، مسلمانان چي ددغه حال څخه تنګ سول نو رسول الله ﷺ ته يې وويل او رسول الله ﷺ ذكر سوى ارشاد وفرمايه.

دا خبره بايد په ذهن كي وي چي پر هغه ذميانو باندي چي پر هغوى مخكي داسي يو شرط لګول سوى نه وي نو په دغه صورت كي د هغوى سره پاته كېدونكو مسلمانانو لپاره چي غير مضطر وي دا جائز نه دي چي د هغوى مال او سامان د هغوى د خوښي څخه پرته واخلي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

پر ذميانو باندي د محصول سربيره د مسلمانانو مېلمستيا هم لازمه ده

﴿۳۸۶۵﴾: عَنْ اَسْلَمَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ضَرَبَ الْجِزْيَةَ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ

د حضرت اسلم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه پر هغه خلكو چي سره زر يې

أَرْبَعَةَ دَنَانِيرَ وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا مَعَ ذٰلِكَ أَرْزَاقُ الْمُسْلِمِينَ وَضِيَافَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ . رواه مالك.

درلودل څلور دينار جزيه وټاكل، او د كومو خلكو سره چي سپين زر وه نو څلوېښت درهمه يې ورته وټاكل، ددې څخه پرته پر هغوى يې دا هم واجب كړى وه چي هغوى د مسلمانانو

مېلمستيا كوي . مالك

تخريج موطا الامام مالک ۱\ ۲۷۹، رقم: ۴۳.

تشريح او د درو ورځو مېلمستيا: دا په اصل كي د خوراک او څښاک وضاحت دی يعني هغه غير مسلم د ذمي كېدو په وخت كي پرهغوی باندي د جزيې كوم ذكر سوې اندازه چي تاكل سوې وه د هغه سره دا هم ضروري وه چي كله هغوی ته يو څوک ورسي نو هغوی دي كم ازكم تر درو ورځو پوري د هغوی مېلمستيا كوي.
په شرح السنه كي ليكلي دي چي د ذميانو څخه د يوه دينار زيات اندازه باندي مصالحت كول او پر هغوی دا شرط لګول كه مسلمانان هغوی ته ورسي نو د هغوی مېلمستيا دي كوي دا جائز دي او د هغه مېلمستيا مصرف به د اصل جزيې څخه نه ټاكي بلكه هغه به د جزيې د ټاكل سوې اندازې څخه زيات وركوي ، د دغه مسئلې نور تفصيل په مرقاة او نورو كتابو كي كتلای سئ.

===========

بَابُ الصّلْـــحِ (د صلحي بيان)

صلح په اصل كي د صلاح او صلوح نوم دی چي د فساد په معنی د تباهی په مقابل كي استعمالیږي، د اسلامي هيواد امير ته دا اختيار حاصل وي چي هغه د توحيد مطابق د نړيوال امن ذمه داريو پوره كولو لپاره د اسلام د تبليغ د انساني سلامتی او ازادی د ساتني او د سياسي او جنګي مصالحو سره سم د دښمن سره معاهده ، صلح او امن وكړي، رسول الله ﷺ په شپږم هجري كال كي تر ټولو لوی دښمن د مكې د كفارو سره صلح وكړه چي د حديبيې د صلح په نامه مشهوره ده ، د دغه صلح د معاهدې وخت لس كاله ټاكل سوی وو او د حديث او تاريخ د دغه متفقه فيصلې سره سم چي د حديبيه د هغه صلح معاهده ده چي په هغه كي نه يوازي دا چي د اسلام په تبليغ او خپرېدو كي ډيري اسانی پيدا سوې بلكه دنيا ته معلومه سوه چي اسلام د انسانيت او امن د قيامت حقيقي پلوی دی او مسلمانان په دغه لاره كي تر دې حده صادق دي چي د جنګېدونكو عربو په خاصه توګه د مكې د كفارو د وحشيانه تشدد او عيارانه فلانونو سربېره د دغه معاهدې پوره پابندي يې كول مګر د دغه صلح د معاهدې پر وخت دري كاله تېر سوي وه چي د مكې كفارو د رسول الله ﷺ حليف بنو خزاعه په مقابله كي د جنګ كونكو بنو بكر د مرستي لپاره هغه معاهده ماته كړه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حديبيې صلح

﴿٣٨٦٦﴾: عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ ابْنِ الْحَكَمِ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

د مسور بن مخرمه او مروان بن حكم (رض) څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ روان سو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِيْ بِضْعِ عَشَرَةَ مِائَةٍ مِّنْ اَصْحَابِهٖ فَلَمَّا اَتٰى ذَا الْحُلَيْفَةِ

د حديبې په كال تقريبا د زرو صحابه كرامو سره ، كله چي ذوالخليفه ته ورسيدل نو د خپلي

قَلَّدَ الْهَدْيَ وَ اَشْعَرَ وَ اَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ وَّسَارَ حَتّٰى إِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ الَّتِي يُهْبَطُ

قرباني د حيوانانو په غاړه كي يې پټې وتړل اشعار (يعني قوب زخمي كول چي دا د قرباني نښه ده) دا يې وكړل ، او د ذوالحليفه څخه يې د عمرې احرام وتړئ ، او بيا مخ ته روان سول ، كله چي ثنيه نامي ځاى ته ورسيدل

عَلَيْهِمْ مِنْهَا بَرَكَتْ بِهٖ رَاحِلَتُهُ فَقَالَ النَّاسُ حَلْ حَلْ خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ خَلَأَتْ

نو د رسول الله ﷺ اوښه كښېنستل خلكو چغي كړې حل حل (دا د اوښ د پورته كولو لپاره الفاظ دئ) قصوا اړي كوي قصوا اړي كوي ،

الْقَصْوَاءُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ

رسول الله ﷺ وفرمايل : قصوا اړي نه كوي او نه د هغې د اړي كولو عادت دئ ،

وَلٰكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ لَا يَسْأَلُوْنِي خُطَّةً

د فيل راګرځوونكي وګرځول ، (ابرهه چي كوم وخت د كعبې ورانولو اراده وكړه نو د لښكر سره روان سو كله چي د غه ځاى يعني ذالمحارمين ته راورسيدل نو د هغه فيل ودرول سو ، او د مكې په لور نه تلئ بيا چي فيل يې بل لوري ته وګرځوئ نو روان سو د دې پېښې په لور دا اشاره ده) بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دې مي قسم وي چي د هغه په واک كي زما ساه ده ، قريش كه زما څخه داسي خبره و غواړي

يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللهِ إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ إِيَّاهَا ثُمَّ زَجَرَهَا فَوَثَبَتْ فَعَدَلَ عَنْهُمْ

چي په هغه کي د الله تعالى د حرم عظمت وي نو زه به هغه قبوله کړم ، د دې ځخه وروسته رسول الله ﷺ او ښه کښېښول، او د مکې لارې پرېښودل پر بل لور روان سول ،

حَتَّى نَزَلَ بِأَقْصَى الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَمَدٍ قَلِيلِ الْمَاءِ يَتَبَرَّضُهُ النَّاسُ تَبَرُّضًا فَلَمْ

تر څو چي د حديبيه آخري غاړي ته د رسيدو سره چي هلته لږ او به ولاړي وې و دربدل ، خلکو د

يُلَبِّثْهُ النَّاسُ حَتَّى نَزَحُوهُ وَشُكِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَطَشُ

هغه ډم ځخه لږ لږ او به اخيستل پيل کړل تر څو چي په لږ وخت کي ډم خالي سو ، بيا يې رسول الله ﷺ ته د تندي شکايت وکړ ،

فَانْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهُ فِيهِ فَوَاللهِ مَا زَالَ يَجِيشُ لَهُمْ

رسول الله ﷺ د خپل ترکش (د غشو د کڅوړي) ځخه يو غشي راوکښي او صحابه کرامو ته يې حکم وکړ چي غشي په اوبو کي وغورځوي ، قسم په الله! او به په ډم کي په جوش راغلې

بِالرِّيِّ حَتَّى صَدَرُوا عَنْهُ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ جَاءَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ الْخُزَاعِيُّ فِي

او ټول يې په اوبو او به کړل تر څو چي په اوبو اخيستلو اخيستلو سره ټول خلک ولاړل غرض دا چي صحابه کرام په دې حال کي وه چي د قريشو د کفارو د لوري د صلح پيغام سره بديل بن ورقاء خزاعي د خپل قوم د خلکو سره راغلئ ،

نَفَرٍ مِنْ خُزَاعَةَ ثُمَّ اتَاهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ إِلَى أَنْ قَالَ إِذْ جَاءَ

بيا عروه بن مسعود د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، د دې ځخه وروسته بخاري شريف اوږد حديث بيان کړی دئ چي په هغه کي د قريشو د نمائندګانو خبري درج دي ، بيا يې بيان

سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْتُبْ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ

کړی دئ چي سهيل بن عمرو (د مکې نمائنده) د رسول الله ﷺ په خدمت کي د معاهدې ليکلو لپاره حاضر سو ، نو رسول الله ﷺ (حضرت علي ته) وفرمايل : وليکه ، دا هغه معاهده ده چي

مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ سُهَيْلٌ وَاللّٰهِ لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ مَا صَدَدْنَاكَ

په هغه کي محمد رسول الله ﷺ صلح کړې ده ، سهيل وويل : قسم په الله! که مو ږ ته د الله ﷻ رسول ګڼلای نو موږ به نه منعه کولای

عَنِ الْبَيْتِ وَلَا قَاتَلْنَاكَ وَلٰكِنْ اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

د بيت الله څخه او نه به د رسره جنګيدلای ، مګر محمد بن عبد الله وليکه ، نبي کريم ﷺ وفرمايل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ إِنِّي لَرَسُولُ اللّٰهِ وَإِنْ كَذَّبْتُمُونِي اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ

قسم په الله! زه د الله ﷻ رسول يم ، که څه هم تاسو ما د روا غجن ګڼئ ، ښه دئ اې علي ته محمد بن عبد الله وليکه ،

فَقَالَ سُهَيْلٌ وَعَلَى أَنْ لَا يَأْتِيكَ مِنَّا رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ عَلَيْنَا

سهيل وويل : په دې معاهده کي دا هم وليکئ چي په موږ کي کوم کس تاسو ته راسي که څه هم هغه ستاسو په دين وي ستاسو فرض ده چي هغه سمدستي موږ ته بيرته راکړئ ،

فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قَضِيَّةِ الْكِتَابِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ قُومُوا

رسول الله ﷺ دا (شرط) هم قبول کړ بيا چي معاهده وليکل سوه ، نو رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ته وفرمايل ولاړ سئ

فَانْحَرُوا ثُمَّ احْلِقُوا ثُمَّ جَاءَهُ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

او د خپلي قرباني حيوانان حلال کړئ ، او بيا سرونه وخرياست ، د دې څخه وروسته څو مسلماني ښځي راغلي او دا آيت نازل سو : (ياايها الذين .....) (اې مؤمنانو !

آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ الاية فَنَهَاهُمُ اللّٰهُ تَعَالَى أَنْ يَرُدُّوهُنَّ

کله چي تاسو ته مسلماني ښځي په هجرت راسي ... تر پايه. يعني الله تعالى د هغه ښځو د بيرته استولو څخه منع وفرمايل

وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرُدُّوا الصِّدَاقَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ

او مسلمانانو ته يې دا حكم وركړ كه دد غه ښځو كافر خاوندانو د هغوی مهر ادا كړی وي نو د هغوی مهر دي بيرته وركړل سي ، دد ې ځخه وروسته رسول الله ﷺ مدينې ته ولاړی په لږ ورځو كي د قريشو يو سړی ابو بصير

قُرَيْشٍ وَهُوَ مُسْلِمٌ فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ رَجُلَيْنِ فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ فَخَرَجَا بِهِ

چي مسلمان سوی وو رسول الله ﷺ ته راغلی ، قريشو د هغه په غوښتنه كي دده خلك راوليږل ، رسول الله ﷺ ابو بصير هغه دوو سړو ته وركړ ، هغوی دواړه د ابو بصير سره مكې ته روان سول

حَتَّى إِذَا بَلَغَا ذَا الْحُلَيْفَةِ نَزَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ

كله چي ذوالحليفه ته راورسيدل نو د خپلو خرماوو خوړلو لپاره يې قيام وكړ او ابو بصير په هغوی كي يو سړي مخاطب كړ

وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلَانُ جَيِّدًا ارني أَنْظُرْ إِلَيْهِ فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ فَضَرَبَهُ

او ورته وه يې ويل قسم په الله! اې فلانی سړيه ! زما په خيال كي ستا دا توره ډيره خوښه ده ما ته يې راښكاره كړه چي زه يې هم وګورم ، هغه سړي ابو بصير ته د توري كتلو موقع وركړه ، ابو بصير په هغه توري سره وار وكړ

حَتَّى بَرَدَ وَفَرَّ الْآخَرُ حَتَّى أَتَى الْمَدِينَةَ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ يَعْدُو فقَالَ النبي صَلَّى

او يخ يې كړ دويم سړي چي وليدل نو وتښتېدئ او مدينې ته په رسيدو سره مسجد نبوي ته په منډه داخل سو ، نبي كريم ﷺ د هغه په ليدو سره وفرمايل:

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا فقَالَ قُتِلَ وَاللَّهِ صَاحِبِي وَإِنِّي لَمَقْتُولٌ فَجَاءَ

دی بيري وهلی دئ ، هغه عرض وكړ قسم په الله! زما ملګری قتل كړل سو او زه به هم ووژل سم ،

أَبُو بَصِيرٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلُ أُمِّهِ مِسْعَرَ حَرْبٍ لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ

په دغه وخت كي ابو بصير هم راورسيدئ نو نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل: ستا پر مور افسوس دئ ته دد ې جنګ اور تودونكی يې ،

فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِكَ عَرَفَ أَنَّهُ سَيَرُدُّهُ إِلَيْهِمْ فَخَرَجَ حَتَّى أَتَى سِيفَ الْبَحْرِ قال

د دې الفاظو په اوريدو سره ابو بصير ته يقين وسو چي رسول الله ﷺ ما بيا مشركانو ته وركوي، نو هغه د مدينې څخه ووتئ او د درياب په لور روان سو تر څو چي د درياب غاړې ته ورسيدئ، د راوي بيان دئ چي

وَانْفَلَتَ أَبُو جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلٍ فَلَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ فَجَعَلَ لَا يَخْرُجُ مِنْ قُرَيْشٍ

ابو جندل بن سهيل هم د کافرانو څخه راتښتېدلي وو او د ابو بصير سره يو ځای سو، غرض دا چي د مکې څخه به کوم مسلمان د قريشو د لاسه خلاصيدئ

رَجُلٌ قَدْ أَسْلَمَ إِلَّا لَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ حَتَّى اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ فَوَاللَّهِ مَا يَسْمَعُونَ

نو د ابو بصير سره به يو ځای کيدی تر څو چي په يو ځو ورځو کي د هغوی څخه يوه ډله جوړه سوه، کله چي به دې ډلي وا وريدل چي

بِعِيرٍ خَرَجَتْ لِقُرَيْشٍ إِلَى الشَّأْمِ إِلَّا اعْتَرَضُوا لَهَا فَقَتَلُوهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ

د قريشو يو قافله شام ته ځي نو په هغه به پسې سول هغوی به يې قتلول او د هغوی مال به يې لوټ کړ،

فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُنَاشِدُهُ اللَّهَ وَالرَّحِمِ لَمَّا أَرْسَلَ

آخر قريشو يو سړی را وليږئ رسول الله ﷺ ته يې د خپل خپلوۍ واسطه ورکولو سره دا خواست وکړ چي هغوی ابو بصير را وغواړي او په مدينه کي يې وساتي او (د دې څخه وروسته) زموږ د

إِلَيْهِمْ فَمَنْ أَتَاهُ فَهُوَ آمِنٌ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ ﷺ إِلَيْهِمْ. رواه البخاري.

لوري چي کوم سړی تاسو ته راسي هغه په امن کي دی او موږ ته د هغه بيرته راکولو ضرورت نسته (لکه څرنګه چي وړاندي په صلح نامه کي ليکلي وه)، نو نبي کريم ﷺ خلک وليږل او ابو بصير او د هغه ملګري يې را وغوښتل چي مدينې ته راسئ. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٣\٥٤٢، رقم: ١٦٩٤.

د لغاتو حل خلات: ای برکت من غير علة. ثمد: ای ياخذونه ماء قليل. يتبرضه: ای ياخذونه قليلا قليلا (لږ لږ اخلي). مسعر حرب: ای يحمی الحرب ويهيج القتال. سيف البحر: ای ساحله

تشريح حديبيه د مکې مکرمې څخه ختيځ خوا ته تقريبا پر پنځلس يا شپاړس ميله فاصله باندي واقع د يو ځای نوم دی، دلته د جبل الشميسي په نامه غر هم دی چي د هغه په وجه اوس

هغه ته شميسيه وايي، د حرم د حدود د دغه ځای څخه هم تيرېږي بلکه د دغه ځای زياته برخه په حرم کي داخله ده.

تقريبا د زرو صحابه کرامو سره ...الخ: دلته د بضع لفظ اطلاق د درو څخه تر نهه پوري شمېر باندي کيږي، دلته د شمېر متعين کولو پر ځای مبهم ځکه ذکر سوی دی چي په دغه وخت کي د صحابه کرامو کوم شمېر چي د رسول الله ﷺ سره ملګري وه د هغه په باره کي مختلف روايتونه دي، په ځينو روايتو کي څوارلس سوه شمېر بيان سوی دی، په ځينو کي پنځلس سوه او په ځينو روايتو کي يو زر او څلور سوه يا تر دې هم زيات الفاظ راغلي دي، علماؤ په دغه روايتو کي داسي مطابقت پيدا کړی دی چي په شروع کي خو رسول الله ﷺ د څوارلس سوه صحابه کرامو سره روان سوی وو مګر وروسته په مختلفو مرحلو کي په شمېر کي زياتوب کېدی نو کوم راوي چي تر تېولو مخکي شمېر کړی وو هغه د څوارلس سوه شمير روايت کړی بيا وروسته چي د کوم خلکو زياتوب وسو هغه دوی ونه لېدل نو هغه په خپل روايت کي د څورلس سوه شمېر بيان کړ مګر کوم راوي چي وروسته راتلونکي خلک هم ولېدل هغه د پنځلس سوه شمېر ذکر وکړ او کوم راوي چي د شمېر تعين او تحقيق ونه کړ هغه په خپل روايت کي د يو زر او څوارلس سوه يا تر دې زيات بيان کړ.

ذبح وکړئ او بيا سرونه وخروئ: احصار يعني د حج يا عمرې د احرام تړلو څخه وروسته د هغه حج يا عمرې د ادا کولو څخه د منع کولو په صورت کي دا حکم دی، امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي کوم سړی د حج يا عمرې د احرام تړلو څخه وروسته د هغه حج يا عمرې څخه منع سي چي هغه ته محصر وايي نو هغه دي خپله هدي په هغه ځای کي ذبح کړي چيري چي هغه منع سوی وي که څه هم هغه ځای د حرم په حدودو کي واقع نه وي، هغه د خپل په دليل کي دا خبره کوي چي رسول الله ﷺ د حديبيه په موقع کي د هدي ذبح کولو حکم ورکړی وو حال دا چي حديبيه په حرم کي نه ده مګر د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد د هدي ذبح کول د حرم په حدودو کي شرط دی ځکه د هغه له خوا دا ويل کيږي چي د حديبيه ټوله سيمه د حرام د حدودو څخه وتلې نه ده بلکه د هغه ځيني برخي د حرم په حدودو کي داخلي دي او ظاهره ده چي په دغه وخت کي هدي په هغه ځای کي ذبح سوي وي کوم چي د حرم په حدودو کي دي.

د هغوی مهر بېرته ورکړئ: د دغه حکم مطلب دا وو که د مسلمانانو ښځو کافر خاوندان د اخيستلو لپاره راسي او هغوی د دوی مهر ادا کړی وي نو هغه مهر دي هغوی ته بېرته ورکړل سي، د تفسير مدرک او نورو څخه معلومېږي چي د مهر بېرته ورکولو دغه حکم د هغه وخت

لپاره خاص وو بیا وروسته منسوخ کړل سو .

دا خبره باید په ذهن کي وي چي د صلح د معاهدې دغه شرط چي د مکې څخه کوم څوک تاسو ته راسي که څه هم هغه په مسلمان کېدو سره راسي نو هغه به د مکې کفارو ته حواله کول ضروري وي دغه حکم یوازي د خلکو سره متعلق وو ځکه د مکې دغه ښځي چي په مسلمان کېدو سره رسول الله ﷺ ته راغلې نو الله تعالی حکم نازل کړ چي په صلح کي یوازي سړي بېرته ورکول فیصله سوي وه نه ښځي ، ځکه چي هغه ښځو خپل ځان په سخت تکلیف کي اچولو سره راغلي وې نو هغوی دي بېرته نه استول کیږي .

که د هغه یو څوک مرسته کونکی وي ...: ددې یو مطلب خو هغه دی کوم چي په ترجمه کي واضح سوی دی او یو مطلب یې دادی چي کاش دا وخت یو خیرخواه د ابوبصیر رضی الله عنه سره وای چي هغه ته یې ښوولي وای چي هغه دي اوس ما ته نه راځي چي زه هغه بېرته ورنه کړم ، د حدیث د سیاق مطابق دا مطلب زیات مناسب دی .

کله چي ابوبصیر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ دا خبره واوریدل : یعني رسول الله ﷺ چي کله دا وفرمایل چي ابوبصیر رضی الله عنه د جنګ اور تیزوي نو هغه پوه سو چي دلته په مدینه کي ما ته پناه نه سي تر لاسه کیدای بلکه زه به بېرته کفارو ته سپارل کېږم ځکه چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد صریحا دې ته اشاره کوي چي رسول الله ﷺ په هر حالت کي د صلح پابندي کوي نه به ابوبصیر د ځان سره وساتي او نه به د هغه مرسته کوي .

حضرت ابو جندل رضی الله عنه د هغه سهیل زوی وو کوم چي د حدیبیې د صلح په وخت کي د مکې د قریشو سفر او نمائنده وو او د رسول الله ﷺ سره یې معاهده کړې وه ، ابو جندل په مکه کي اسلام قبول کړی وو چي د هغه په نتیجه کي د هغه پلار سهیل هغه بندي کړی وو مخکي هغه په یو طریقه سره د مکې د کفارو څخه په تښتېدو سره حدیبیه ته راغلی وو مګر رسول الله ﷺ د صلح د معاهدې د ذکر سوي شرط مطابق هغه ته په تسلي ورکولو سره او د ډېر بحث څخه وروسته مکې ته بېرته واستوی مګر هغه بیا د مکې څخه وتښتیدی او په راتلو سره د ابوبصیر رضی الله عنه سره یو ځای سو .

د حدیبیې د صلح درې شرطونه

﴿۳۸٦٧﴾ : وَعَنِ الْبَرَّاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ په ورځ د حدیبیه کي د مشرکانو

يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ

سره پر دري خبرو صلح کړې وه: يو خو دا چي په مشرکانو کي کوم سړي مسلمانانو ته راسي هغه به بيرته استوي،

وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيمَ بِهَا

دويم دا چي په مسلمانانو کي کوم سړی مشرکانو ته ولاړ سي هغه به نه استول کيږي، دريم دا چي راتلونکی کال چي مسلمانان مکې ته داخل سي صرف

ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَا يَدْخُلَهَا إِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ السَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجُلُ فِي قُيُودِهِ فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ. متفق عليه

دري ورځي په مکه کي اوسيږي او خپل ټوله وسله توري، ليندۍ وغيره به بند ساتي، په دغه ورځو کي ابوجندل په زولنو کي تړلی راغلی نو رسول الله ﷺ هغه بيرته ورکړی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥\٣٠٣، رقم: ٢٦٩٨، ومسلم ٣\١٤١٠، رقم: ٩٢- ١٧٨٣.

د لغاتو حل: يجلبان: هو جراب من ادم، اى من جلد يوضع فيه السيف. (د توري پوښ). يحجل: اى يمشي كما يمشي الحجل.

تشريح: جلبان د پوست څخه جوړه سوې يو کڅوړه وه چي کله به خلکو سفر کوی نو خپل وسله او نور شيان به يې په هغه کي اېښودل او د ځين د شا خوا ته به يې زړول، دلته جلبان يعني په پوښ کي د وسلې اېښودو سره د راوړلو د شرط څخه د مشرکينو دا مراد وو چي راتلونکی کال مسلمانان کله مکې ته راځي نو خپل وسله به د پوښ څخه په اېستلو ښار ته نه داخليږي بلکه هغه دي په پوښ کي ايږدي چي په داسي کولو سره د مسلمانانو د غلبې د هغوی دطاقت او فوقيت او د جنګي ارادو اظهار ونه سي.

ابوجندل رضي الله عنه ابن سهيل چي د هغه په باره کي په مخکني حديث کي هم بيان سوی دی، نوموړي په مکه کي اسلام قبول کړی وو او په کومو ورځو کي چي د حديبيه صلح سوې وه هغه د مکې د مشرکينو په بند کي وو هغه په يو طريقه سره د مکې څخه په تښتېدو سره رسول الله ﷺ ته حديبيه ته ورسيدی مګر رسول الله ﷺ د صلح د معاهدې سره سم هغه مشرکينو ته وسپاری او هغه ته يې د صبر او استقامت په تلقين کولو سره وفرمايل چي اې ابوجندل! د صبر او

استقامت لار اختيار کړه او د آخرت د اجر او ثواب اميد لره، الله تعالى به ستا لپاره هم او د نورو ضعيفو او لاچارو خلکو لپاره هم د خلاصون، نجات او خوشحالۍ وخت راولي.

علماء کرام ليکي چي د رسول الله ﷺ د اهل مکه د دغه شرطونه قبلول په ظاهره د مسلمانانو لپاره تکليف او د هغوی د ملي جمعيت او وقار خلاف وو مګر هغه وخت مسلمانان کمزوري او ضعيف وه او په هغوی کي دومره مادي طاقت او د هغوی سره دومره وسائل نه وه چي د هغه په ذريعه هغوی د اهل مکه مقابله کړې وای، دوهم دا چي رسول الله ﷺ هم د مدينې څخه د جنګ په اراده نه وو تلی بلکه د عمرې لپاره روان سوی وو او د هغه لپاره يې احرام تړلی وو، او بلې خوا ته د حرم شريف د حدودو عظمت او د هغه د شرعي تقاضا په لحاظ هم ضروري وه او د الله تعالى له خوا د جنګ کولو حکم هم نه وو نازل سوی.

د دې څخه ماسوا نور هم ډېر حکمتونه وه کوم چي د رسول الله ﷺ په نظر کي وه او د کار په پای کي د دغه صلح او معاهدې ډېري ګټې ظاهري سوې چي د اسلام د خپرېدو او د اسلام د حق آواز په څلور کونجه دنيا کي خپور سو او بيا الله تعالى د مکې مکرمې عظيمه فتحه ورکړه او د هغه ځای خلک يې د اسلام غېږ ته راوستل او داسي ثابته سوه چي په دغه وخت کي رسول الله ﷺ اهل مکه ته پر وړاندي سوو شرطونو باندي د صلح کولو سره نه يوازي دا چي د خپل امن غوښتني د جذبې او د انسانيت اظهار يې وکړ بلکه د خپل بې مثاله سياسي بصيرت، بالغ نظرۍ او دور بينۍ نمونه يې هم وړانده کړه او تر ټولو زيات يې د الله تعالى د منشاء او د الله تعالى د حکم د فرمانبردارۍ او د کمال عبوديت اظهار يې هم وکړ.

﴿۳۸۶۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَرَطُوا

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي قريشو د نبي کريم ﷺ سره صلح وکړه او دا شرطونه يې

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَنْ جَاءَ مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكُمْ وَمَنْ

کښېښودل چي که څوک ستاسي راسي موږ ته بيا به يې نه درکوو او که په موږ کي کوم سړی

جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَكْتُبُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ إِنَّهُ

تاسو ته درسي تاسو به هغه موږ ته بيرته راکوئ، (د دې شرط په اورېدو سره) صحابه کرامو وويل اې د الله رسوله! ايا دا شرطونه موږ وليکو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو البته کوم

مَنْ ذَهَبَ مِنَّا إِلَيْهِمْ فَأَبْعَدَهُ اللّٰهُ وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ سَيَجْعَلُ اللّٰهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا. رواه مسلم

سړی چي زموږ څخه وتښتي هغه به الله تعالی د خپل رحمت څخه ليري کړي او کوم سړی چي د دوی څخه موږ ته راسي کيدای سي الله تعالی پر هغه د پراختيا او خلاصون لار خلاصه کړي .مسلم

تخريج صحيح مسلم ۳\۱۴۱۰، رقم: ۹۲- ۱۷۸۳.

د ښځو بيعت

﴿۳۸۶۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فِيْ بَيْعَةِ النِّسَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي د ښځو د بيعت په اړه چي د بيعت لپاره به راتلې نو رسول الله

وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُهُنَّ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ

ﷺ به په دې آيت سره د هغوی امتحان اخيستئ : (يا ايها النبي ...) (اې نبي هر کله چي تاسو ته مؤمناني ښځي د بيعت لپاره حاضري سي .... الخ)

فَمَنْ أَقَرَّتْ بِهٰذَا الشَّرْطِ مِنْهُنَّ قَالَ لَهَا قَدْ بَايَعْتُكِ كَلَامًا يُكَلِّمُهَا بِهِ وَاللّٰهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ. متفق عليه

په هغوی کي هغه ښځي چي ددغه شرطونو کوم چي په دې آيت کي ذکر دي اقرار به وکړ نو رسول الله ﷺ به هغوی ته وفرمايل : ما ستا سره بيعت وکړ او رسول الله ﷺ به د هغوی سره خبري فرمايلې او په الله ﷻ دي مي قسم وي رسول الله ﷺ هيڅکله د يوې ښځي لاس په بيعت کي نه دی مسه کړی . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۳۱۲، رقم: ۲۷۱۳، ومسلم ۳\ ۱۴۸۹، رقم: ۸۸- ۱۸۶۶.

تشريح ددغه آيت کريمه په رڼا کي به يې ازمويل : يعني په دغه آيت کي د ښځو لپاره چي د کومو احکامو پابندي د بيعت شرط اېښودل سوی وو رسول الله ﷺ به هغه د ښځو څخه پر هغه احکامو د عمل کولو اقرار کوی هغوی چي به عهد او اقرار وکړ نو رسول الله ﷺ به د هغوی

سره بيعت كوى نو ددغه پوره آيت مفهوم او مضمون دادى چي مسلماني ښځي په دغه شرطو (يعني په دغه احكامو باندي د عمل كولو) بيعت وكړي چي هغه ښځي به يو ذات يا يو شى د الله تعالى سره نه شريكوي ، غلا به نه كوي، زنا به نه كوي ، خپل اولاد به نه قتلوي، پر چا به تهمت نه وايي او عصيان به نه كوي يعني د الله ﷻ او د رسول ﷺ د احكامو څخه به مخ نه اړوي، په دې اعتبار سره دغه آيت كريمه د هغه آيت تفسير او وضاحت دى كوم چي په مخكي حديث كي تېر سوى دى يعني :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ....

د حديث د آخري برخي مطلب دادى چي كه څه هم بيعت لاس په لاس كي نيولو سره اخيستل كيږئ مگر رسول الله ﷺ به د ښځو څخه زباني (په ژبه) بيعت اخيستى يعني هغوى ته به يې داسي فرمايل چي ما ستاسو بيعت قبول كړ ، ددې څخه معلومه سوه چي ځيني مشائخ د ښځو څخه د بيعت اخيستلو پر وخت دا طريقه اختياروي چي د هغو د مُريد كولو په وخت كي په يو لوښي كي اچول سوو اوبو كي خپل لاس اچوي او هغه ښځه هم په هغه اوبو كي خپل لاس اچوي يا ځيني حضرات دا كوي چي د يو جامې څوكه په خپل لاس كي ونيسي او دوهمه څوكه هغه ښځه په لاس كي ونيسي نو د داسي تكلفاتو هيڅ ضرورت نه سته بلكه كومه طريقه چي د رسول الله ﷺ څخه ثابته ده په هغه باندي اكتفاء كول غوره او احسن دي .

د كتاب مؤلف د بيعت سره اړوند دغه حديث دلته د صلح په باب كي ځكه نقل كړى دى چي د حديبيه د صلح په وخت كي د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو څخه د بيعت اخيستلو مرحله هم راغلې وه چي د بيعت الرضوان په نامه مشهوره ده او هغه د قرآن كريم په دغه آيت كريمه كي هم بيان سوې ده : لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ ... ددغه مناسبت سره اړوند دغه حديث هم دلته نقل سوى دى كه څه هم د حديبيه د صلح په وخت كي د ښځو څخه بيعت نه وو اخيستل سوى .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د حديبيې د صلح يو څو نور شرطونه

﴿٣٨٧٠﴾: عَنِ الْمِسْوَرِ وَمَرْوَانَ أَنَّهُمْ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا

إِغْلَالَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت مسور او مروان (رض) څخه روايت دئ چي قريشو پر لس كاله جنگ نه كولو باندي صلح وكړه چي په دغه وخت كي به خلك په امان سره وي او دا شرط يې وكړ چي زموږ زړونه دي د چم، فريب او فساد څخه پاک وي، او د وفا او صلح به هر وخت خيال ساتي او دا چي زموږ په منځ كي به غلا نه په پټه وي او نه په ښكاره. ابوداؤد.

تخريج سنن ابي داود ١٣\٢١٠، رقم: ٢٧٦٦.

د لغاتو حل عيبة مكفوفة: ما يجعل فيه الثياب والمعنى صدر مطويا على حسن العهد. اسلال: اى سرقة خفية. (پټه غلا). اغلال: اى خيانة. (خيانت)

تشريح (عيبة مكفوفة): ددې مراد دادى چي موږ به په خپلو كي د يو بل لپاره خپل سينې د مكر، چم، كينه، عداوت، شر او فساد څخه پاكي ساتو او د صلح او وفا به هر وخت خيال ساتو نه به په پټه غلا كوو او نه خيانت: ددې مطلب دادى چي هره ډله دي ددې خيال وساتي چي د هغه هيڅ كس د بل كس مال او د هغه شي څخه نه په غلطۍ سره شى واخلي او نه په ښكاره سره غصب كړي.

د غير مسلمانو سره د معاهدې پر پابندي نه كولو تنبيه

﴿٣٨٧١﴾: وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ عِدَّةٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ

حضرت صفوان بن سليم رحمه الله د رسول الله ﷺ د څو اصحابو د زامنو څخه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ آبَائِهِمْ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

او هغوى د خپلو پلرونو څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي :

أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوْ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد.

خبردار! چا چي پر هغه چا ظلم وكړ پر ذمي يا مستامن باندي يا نقصان وكړي د هغه يا د هغه د طاقت څخه زيات تكليف وركړ يا د هغه د خوښۍ څخه پرته يې د هغه څخه يو شى واخيست نو زه به د قيامت په ورځ دده سره دعوه كونكى يم . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\٤٣٧، رقم: ٣٠٥٢.

د ښځو د اجتماعي بيعت طريقه

﴿٣٨٤٢﴾: وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتَ رُقَيْقَةَ قَالَتْ بَايَعْتُ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د اميمة بنت رقيقه (رض) څخه روايت دئ چي ما د څو ښځو سره د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړ

فِي نِسْوَةٍ فَقَالَ لَنَا فِيمَا اسْتَطَعْتُنَّ وَأَطَقْتُنَّ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَرْحَمُ بِنَا مِنَّا

، رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل : (ما ستاسو څخه بيعت واخيست) د دې شي چي تاسو د هغه توان او استطاعت لرئ ، ما عرض وکړ الله او د هغه رسول زموږ په حق کي تر دې زيات رحم کونکي دي څو مره چي موږ

بِأَنْفُسِنَا قُلْتُ يَارَسُولَ اللَّهِ بَايِعْنَا تَعْنِي صَافِحْنَا قَالَ إِنَّمَا قَوْلِي لِمِائَةِ امْرَأَةٍ

پر خپلو ځانونو يو ، ما بيا عرض وکړ اې د الله رسوله ! زموږ څخه بيعت واخلئ ، يعني زموږ سره لاس نيونه يا لاس ورکول وکړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زما خبري د سلو ښځو لپاره هم هغه

كَقَوْلِي لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ .رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه ومالك في الموطأ

دي کومي چي د يوې ښځي لپاره دي (يعني زما کلام هم د بيعت لپاره کافي دي) ترمذي، نسائي ، ابن ماجه او مالک

تخريج: سنن الترمذي ٤\١٢٩، رقم: ١٥٩٧.

تشريح: د مشکوة شريف په اصل نسخه کي د رواه څخه وروسته خالي ځای دی ، د دې مطلب دادی چي د مشکوة مؤلف ته د دغه حديث د ماخذ تحقيق نه دی سوی مګر په حاشيه کي ځينو شارحينو دا عبارت ليکلی دی چي رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه ومالک في المؤطا کلهم من حديث محمد بن المنکدر انه سمع من ائمة الحديث وقال الترمذي حديث حسن صحيح لا يعرف الا من حديث ابن المنکدر .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د حدیبیې د معاهدې کتابت د رسول الله ﷺ په قلم

﴿۳۸۷۳﴾: عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اعْتَمَرَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د عمرې لپاره تشریف یوووړ د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتَّى قَاضَاهُمْ

ذي القعده په میاشت کي، د مکې خلکو رسول الله ﷺ مکې ته د داخلېدو څخه منع کړ، رسول الله ﷺ پر دې امر مصالحت (صلح) وکړه چي

عَلَى أَنْ يَدْخُلَ يَعْنِي مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ يُقِيمُ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا كَتَبُوا

هغوی به راتلونکی کال مکې ته راځي او یوازې درې ورځي به تېروي، بیا چي د معاهدې تحریر ولیکل سو

الْكِتَابَ كَتَبُوا هٰذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالُوا لَا نُقِرُّ بِهَا فَلَوْ

نو په هغه کي د رسول الله ﷺ مبارک نوم داسي ولیکل سو: هذا ما قاضی علیه محمد رسول الله (دا هغه صلحنامه ده چي محمد ﷺ پر صلح کړې ده) مشرکانو وویل: موږ ستاسو د

نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ مَا مَنَعْنَاكَ وَلٰكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ أَنَا

رسالت اقرار نه کوو، که موږ دا عقیده درلودلای چي تاسو د الله جل جلاله رسول یاست نو تاسو به موږ د مکې څخه نه منع کولای، تاسو د عبدالله زوی محمد (ﷺ) یاست، رسول الله ﷺ ورته

رَسُولُ اللّٰهِ وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ بن ابي طالب امْحُ رَسُولُ

وفرمایل: زه د الله جل جلاله رسول یم او د عبدالله زوی محمد هم یم، بیا رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل: د رسول الله لفظ ایسته کړه،

اللّٰهِ قَالَ لَا وَاللّٰهِ لَا أَمْحُوكَ أَبَدًا فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت علي رضي الله عنه عرض وکړ: نه زه ستاسو نوم مبارک په خپل لاس سره هیڅکله نه سم خرابولای

، نو رسول الله ﷺ صلح نامه د حضرت علي رضي الله عنه د لاس څخه واخيستل

وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ لَا

او که څه هم چې رسول الله ﷺ ښه ليکل نسواى کولاى داسي وليکل دا معاهده چې محمد بن عبدالله صلح پر کړې ده. (او ددې شرائط دادي) :

يَدْخُلُ مَكَّةَ بِالسِلَاحِ إِلَّا السَّيْفَ فِي الْقِرَابِ وَأَنْ لَا يَخْرُجَ مِنْ أَهْلِهَا بِأَحَدٍ

مکې ته چې راتلونکی کال راځئ نو پرته د توري څخه هغه هم په تيکي کي بنده بل هيڅ وسله به نه راوړئ، (٢) مکې ته د داخلېدو څخه وروسته که د مکې يو سړى د هغوى سره د يو ځاى کېدو

إِنْ أَرَادَ أَنْ يَتَّبِعَهُ وَأَنْ لَا يَمْنَعَ مِنْ أَصْحَابِهِ أَحَدًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ بِهَا فَلَمَّا

اراده وکړي نو هغه به د ځان سره نه بيايي ، (٣) که د هغوى په ملګرو کي يو څوک په مکه کي د پاته کېدو اراده وکړي نو هغه به نه منع کوي، راتلونکی کال چې

دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ أَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوا قُلْ لِصَاحِبِكَ اخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَى الْأَجَلُ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه

رسول الله ﷺ مکې ته تشريف راوړ او درې ورځي تيري سوې نو د قريشو کفار حضرت علي رضي الله عنه ته راغلل او ورته وه يې ويل : خپل ملګري (يعني رسول الله ﷺ) ته ووايه چې اوس زموږ د ښار څخه ولاړ سي ځکه چې وخت تير سو ، نو رسول الله ﷺ د مکې څخه روان سو . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥\٣٠٣، رقم: ٢٦٩٩، ومسلم ٣\١٤٠٩، رقم: ٩٠- ١٧٨٣.

تشريح: حضرت علي رضي الله عنه چې کله د رسول الله ﷺ د لفظ خرابولو څخه انکار وکړ نو ګويا هغه دا وګڼل چې دغه حکم د وجوب په توګه نه دى کنه نو هغه به هيڅکله انکار نه واى کړى، او حقيقت دادى چې د هغه داسي کول انکار نه وو بلکه د عين اتباع د درجي شى وو ځکه چې د دغه انکار بنياد د رسول الله ﷺ سره زياته مينه او عقيدت وو چې د حضرت علي رضي الله عنه يوازيني سرمايه د روح او ځان هم وو نو هغه به څرنګه دا زغملاى سول چې په خپل لاس سره تر ټولو لوى حقيقت خراب کړي کوم چې د هميشتني صداقت د ټولي نړۍ په زړه او ذهن کي راسخ کول د هغه د ايمان خلاصه هم وه او د ژوند مقصد هم .

دا خبره د علماؤ په مینځ کي اختلافي ده چي دغه صلح نامه خپله رسول الله ﷺ لیکلې وه لکه څرنګه چي د حدیث څخه معلومیږي ، اکثر حضرات دا وایي چي دغه صلح نامه رسول الله ﷺ نه وه لیکلې او نه رسول الله ﷺ لیکلای سول ځکه چي الله تعالی رسول الله ﷺ ته امي فرمایلي دي او امي هغه سړی وي چي لیک او لوست نه سي کولای ، ځیني نور حضرات وایي چي د رسول الله ﷺ دغه صلح نامه لیکل یو حقیقت دی که څه هم رسول الله ﷺ ته امي فرمایل سوي دي مګر کله چي د رسول الله ﷺ په نبوت او رسالت کي پیدا کیدونکي شکونه او شبهې ختمي سوې او د رسول الله ﷺ د رسول کېدو دلیلونه د روښانه ورځي په ډول څرګند سول نو الله تعالی رسول الله ﷺ پر لیکلو قادر کړ ، داهم ویل کیږي چي هغه وخت د رسول الله ﷺ لیکل د معجزې په توګه وه ، ددغه حدیث ظاهري مفهوم د دغه حضراتو دلیل دی مګر د اول الذکر حضراتو له خوا ددغه حدیث تاویل دا کیږي چي رسول الله ﷺ ولیکل : ددې څخه مراد دادی چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته د لیکلو حکم ورکړ او دا جمله بالکل داسي ده لکه چي وویل سي چي پاچا فلانی ښار جوړ کړی ظاهره ده چي ددغه جملې مطلب دا نه دی چي پاچا په خپل لاس سره ښار جوړ کړی بلکه ددې مطلب دادی چي پاچا د هغه ښار د جوړولو حکم ورکړ .

==========

بَابُ اِخْرَاجِ الْيَهُوْدِ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ

(د جزیره عرب څخه د یهودو د شړلو بیان)

جزیره د وچي مځکي هغه ټوټې ته وایي چي څلور خواوو ته یې اوبه وي ، او جزیرة العرب هغه سیمي ته وایي کوم چي بحر هند ، بحر شام ، دجله او فرات د څلورو خواوو څخه راچاپیره کړې دي او په نورو لفظو کي داسي ویل کیدای سي چي د جزیرة اطلاق د عربي دنیا پر هغه خطه باندي کیږي کوم چي په اوږدوالي کي د عدن څخه د شام تر سرحد پوري او په پلنوالي کي د جدې څخه تر عراق پوري مشتملې دي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د جزیرة العرب څخه د یهودو ایستل

﴿٣٨٧٤﴾ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ خَرَجَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ په مسجد كي ناست وو چي رسول الله ﷺ

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ فَخَرَجْنَا حَتَّى جِئْنَا بَيْنَ

تشريف راوړ او وه يې فرمايل : د يهودو په لور ولاړ سئ ، موږ د رسول الله ﷺ سره روان سوو او

الْمِدْرَاسِ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا

د يهودو مِدراس ته ورسېدو ، نبي كريم ﷺ د هغوی په منځ كي ودريدئ او وه يې فرمايل : اې د يهودو ډلي ! تاسو مسلمانان سئ چي سلامت سئ

وَاعْلَمُوا أَنَّ الْأَرْضَ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هَذِهِ الْأَرْضِ فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ . متفق عليه.

واضحه دي وي چي ځمكه د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ ده او ما دا اراده كړې ده چي زه تاسو ددې ځمكي څخه وشړم ، نو تاسو د خپل مال څخه چي هر څومره خرڅ كول غواړئ خرڅ كړئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٧٠، رقم: ٣١٦٧، ومسلم ٣\١٣٨٧، رقم: ٦١- ١٧٦٥.

د لغاتو حل: بيت المدراس: الموضع الذي يقرا فيه اهل الكتاب كتبهم ويدرسونها.

﴿٣٨٧٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَامَ عُمَرُ خَطِيبًا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه خطبه وفرمايل او وه يې ويل : رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَامَلَ يَهُودَ خَيْبَرَ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَقَالَ نُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ

ﷺ د خيبر د يهوديانو سره معامله كړې وه يعني داسي چي د هغوی ځمكي به د هغوی سره وي او د پيداوار څخه به نيمه د هغوی څخه اخيستل كيږئ او پر هغوی يې جزيه هم ټاكلې وه ، او دا يې فرمايلي وه موږ تاسو تر هغه وخته پوري پاته ساتو تر څو پوري چي الله تعالى تاسو پاته ساتي (يعني تر څو پوري چي ستاسو د ايستلو موږ ته حكم را نه كړي)

اللّٰهُ وَقَدْ رَأَيْتُ إِجْلَاءَهُمْ فَلَمَّا أَجْمَعَ عُمَرُ عَلَى ذَلِكَ أَتَاهُ أَحَدُ بَنِي أَبِي الْحُقَيْقِ

اوس زه د هغوی د وطن څخه ایستل مناسب گڼم، بیا چي حضرت عمر رضي الله عنه د یهودیانو د ایستلو اراده وکړه نو د قبیله ابو الحقیقي یو سړی د هغوی په خدمت کي حاضر سو.

فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَتُخْرِجُنَا وَقَدْ أَقَرَّنَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او عرض یې وکړ اې امیر المؤمنین! ایا تاسو موږ باسئ؟ حال دا چي رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ پر

وَعَامَلَنَا عَلَى الْأَمْوَالِ فَقَالَ عُمَرُ أَظَنَنْتَ أَنِّي نَسِيتُ قَوْلَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

اینبي یو او پر مال یې زموږ سره معامله کړې وه، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل: ایا ته دا خیال کوې چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول هیر کړ چي تا ته یې فرمایلي وه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ بِكَ إِذَا أُخْرِجْتَ مِنْ خَيْبَرَ تَعْدُو بِكَ قَلُوصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ

یعني دا چي هغه وخت به ستا څه حال وي کوم وخت چي ته د خیبر څخه شپه په شپه وایستل سې، او ستا اوښه به ستا سره ځغلي،

لَيْلَةٍ فَقَالَ كَانَتْ هَذِهِ هُزَيْلَةً مِنْ أَبِي الْقَاسِمِ فَقَالَ كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللّٰهِ

هغه یهودي ووېل چي ابو القاسم (رسول الله صلی الله علیه وسلم) دا خبره د مسخرو په توگه کړې وه، حضرت عمر رضي الله عنه ورته ووېل د الله دښمنه! ته دروغجن یې،

فَأَجْلَاهُمْ عُمَرُ وَأَعْطَاهُمْ قِيمَةَ مَا كَانَ لَهُمْ مِنَ الثَّمَرِ مَالًا وَإِبِلًا وَعُرُوضًا مِنْ أَقْتَابٍ وَحِبَالٍ ذَلِكَ. رواه البخاري.

بیا حضرت عمر رضي الله عنه یهود د وطن څخه وایستل او د هغوی د میوو وغیره په قیمت کي یې مال، اوښان او اسباب یعني رسۍ وغیره ورکړې. بخاري

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري)، ٥\٣٢٧، رقم: ٢٧٣٠.

د لغاتو حل تلوصک: ای ناقتک الشابة. (ځوانه اوښه). هزیلة: تصغیر هزلة نقیض الجد. (خراب). اقتاب: جمع قتب. ای رجل البعیر. (د اوښ خاوند)

د مشركانو د جزيره عرب ځخه د ايستلو د رسول الله ﷺ وصيت

﴿٣٨٧٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْصَى بِثَلَاثَةٍ

د ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ (د وفات پر وخت) د درو خبرو وصيت

قَالَ اَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَاَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ

وفرمايه: (١) يو خو دا چي يهوديان د جزيره عرب ځخه وايستل سي (٢) دويم دا چي د قاصدانو سره داسي چلن كوئ

اُجِيزُهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ اَوْ قَالَ نَسِيتُهَا. متفق عليه.

نكه ځرنګه چي ما كوئ ابن عباس وويل او په دريمه خبره كي هغوى ﷺ پټه خوله سو، يا ابن عباس وويل چي دريمه خبره زما ځخه هيره سوه. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\١٧٠، رقم: ٣٠٥٣، ومسلم ٣\١٢٥٧، رقم: ٢٠- ١٦٣٧.

تشريح قاضي عياض رحمه الله وايي چي دا احتمال دی چي هغه دريمه برخه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد وي: (لا تتخذوا قبري وثنا يعبد) يعني زما قبر د بت په ډول مه ګرځوئ چي د هغه عبادت كيږي، دغه ارشاد امام مالك رحمه الله په خپل كتاب مؤطا كي نقل كړی دی.

د جزيره عرب ځخه د يهود او نصارا جلاوطني

﴿٣٨٠٠﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ اَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ اَنَّهُ سَمِعَ

د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ما ته بيان وكړ

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَاُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى مِنْ جَزِيرَةِ

چي هغه د رسول الله ﷺ ځخه دا اوريدلي دي چي زه به خامخا يهود او نصارا د جزيره عرب ځخه

الْعَرَبِ حَتّٰى لَا اَدَعَ فِيهَا اِلَّا مُسْلِمًا. رواه مسلم، وفي رواية لَئِنْ عِشْتُ اِنْشَاءَ اللّٰهِ لَاُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ.

باسم تر دې چي د مسلمان ځخه پرته به هيڅوک نه پريږدم. مسلم. او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل: كه زه ژوندی پاته سوم ان شاء الله يهود او نصارا به د جزيره عرب ځخه باسم

تخریج صحیح مسلم ١٣٨٨/٣، رقم: ٦٣- ١٧٦٧.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

لَيسَ فِيهِ إلاَّ حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ " لاَ تَكُونُ قِبلَتَانِ " وَقَدْ مَرَّ فِيْ بَابِ الْجِزْيَةِ.

په دې فصل کې يوازې يو حديث د ابن عباس رضي الله عنه وو چې هغه (لا تکون قبلتان) دی او هغه موږ په باب الجزية کې بيان کړی دئ

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حضرت عمر رضي الله عنه په لاس د حجاز څخه د يهود او نصارا وو ايستل

﴿٣٨٧٨﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې عمر بن خطاب رضي الله عنه يهود او نصارا د حجاز د مځکې

أَرْضِ الْحِجَازِ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى اهل خَيْبَرَ

يعني جزيره عرب څخه و ايستل او کله چې رسول الله ﷺ پر خيبر غلبه تر لاسه کړه نو د خيبر

أَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ مِنْهَا وَكَانَتْ الأَرْضُ لَمَّا ظَهَرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ

څخه د يهودو د ايستلو اراده يې وکړه، ځکه چې پر خيبر باندې د قبضې راويستلو څخه وروسته اوس هغه د الله، د هغه د رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِلْمُسْلِمِينَ فَسَأَلَ الْيَهُودُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

او د ټولو مسلمانانو وو. يهودو (د رسول الله ﷺ د ارادې معلومولو لپاره) عرض وکړ که په

يَتْرُكَهُمْ عَلَى أَنْ يَكْفُوا الْعَمَلَ وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

دې شرط هغوی ته د پاته کېدو اجازه ورکړل سي نو غوره به وي چې د زراعت کار به هغوی کوي

او حاصلات به نيم رسول الله ﷺ ته ورکوي. (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُقِرُّكُمْ عَلَى ذَلِكَ مَا شِئْنَا فَاُقِرُّوا حَتَّى أَجْلَاهُمْ عُمَرُ فِي إِمَارَتِهِ إِلَى تَيْمَاءَ وَأَرِيحَاءَ. متفق عليه

موږ د دې شرط سره سم تر څو پورې چې زموږ زړه غواړي تاسو پريږدو نو هغوی ته اجازه ورکړل سوه، بيا حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په دور کي هغوی د تيما او اريحا په لور جلا وطنه کړل. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥٢، رقم: ٣١٥٢، ومسلم ٣\١١٨٧، رقم: ٦ – ١٥٥١.

د لغاتو حل: اريحاء قرية بقرب بيت المقدس (بيت المقدس ته نژدې يو کلی)

==========

بَابُ الْفَيْءِ

د کفارو څخه د جنګ پرته د تر لاسه سوي مال بيان

فئ څه شي ته وايي؟: فئ هغه مال ته وايي چې مسلمانانو ته د کفارو څخه بېله جنګ او جګړې په لاس ورسي، ددغه مال حکم دادی چې هغه د ټولو مسلمانانو حق دی د هغه څخه نه خمس (پنځمه برخه) ايستل کيږي او نه د مجاهدينو په مينځ کي ويشل کيږي، د رسول الله ﷺ په زمانه کي چې کله به يو لښکر د فئ مال راوړی نو پر هغه به رسول الله ﷺ ته پوره اختيار حاصل وو چې د هغه څخه چا ته وغواړي ور يې کړي او چا ته چې وغواړي نه يې ورکړي، همدارنګه چا ته چې به يې غوښتل زيات به يې ورکول او چا ته چې به يې غوښتل کم به يې ورکول.

کوم مال چې د جنګ په ذريعه پر کفارو باندې د غالب کېدو څخه وروسته مسلمانانو ته تر لاسه سي هغه ته د غنيمت مال وايي ددغه مال حکم دادی چې مخکي د هغه څخه خمس ايستل کيږي بيا پاته د مجاهدينو په مينځ کي داسي ويشل کيږي چې پياده مجاهدينو ته يوه برخه او سپرو مجاهدينو ته دوې برخي ورکول کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د فئ د مال مصرف

﴿۳۸۷۹﴾: عَنْ مَالِكِ بْنِ اَوْسِ بْنِ الْحَدْثَانِ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت مالک بن اوس بن حدثان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي عمر بن خطاب رضي الله عنه و فرمايل : الله

قَدْ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْئِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا

تعالی د غنيمت څخه يو خاص شی د خپل رسول لپاره ټاکلی وو چي هغه بل چا ته نه وو ورکړل

غَيْرَهُ ثُمَّ قَرَءَ مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ اِلٰى قَوْلِهِ قَدِيْرٌ فَكَانَتْ هَذِهِ

سوی . بيا حضرت عمر رضي الله عنه دا آيت تلاوت کړ (ما افاء الله علی رسوله منهم ...الی قدير.) نو

خَالِصَةً لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللّٰهِ . متفق عليه .

دا مال يوازي د پيغمبر لپاره وو ، رسول الله ﷺ به دا پر خپل کورنی مصرف کوئ ، او د کال خرڅ به يې د دې مال څخه ايستئ ، بيا چي څو مره به پاته سول هغه به يې د الله تعالی مال ګرځولو سره د مسلمانانو په مصلحتونو کي خرڅ کوئ . بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٩٨، رقم: ٣٠٩٤، ومسلم ٣\١٣٧٨، رقم: ٤٩ - ١٧٥٧.

تشريح په حديث کي ذکر سوی آيت کريمه د سورة حشر آيت دی چي پوره داسي دئ :

وما أفاء الله علی رسوله منهم فما أوجفتم عليه من خيل ولا ركاب ولكن الله يسلط رسله علی من يشاء والله علی كل شيء قدير . سورة حشر .

ژباړه : او کوم مال چي الله تعالی خپل رسول ته د هغوی څخه ورکړی دی هغه د رسول لپاره خاص سوی دی ځکه چي تاسو پر هغه نه آسونه ځغلولي دي او نه اوښان (يعني تاسو د هغه تر لاسه کولو لپاره جنګ او تکليف نه دی زغملی بلکه تاسو پر پښو تللي واست مګر د الله تعالی عادت دی چي خپل رسولان پر چا چي غواړي) مسلط کوي او الله پر هر شي پوره قادر دی.

د دغه آيت کريمه په ذريعه مسلمانانو ته دا واضحه سوې ده چي الله تعالی رسول الله ﷺ د

يهوديانو د قبيلې بنو نضير د مال او جائيداد چې مالک او متصرف کړی دی نو هغه داسې مال دی چې تاسو د جنګ او جګړې په ذريعه پر بنو نضير باندې د غلبې تر لاسه کولو او د ليرې ليرې د سفر تکليف زغملو سره نه دی حاصل کړی دی بلکه بېله کوښښ په لاس درغلی دی ، ددې تفصيل دادی چې کله بنو نضير ته د مدينې منورې څخه د جلاوطنه کېدو حکم ورکړل سو او بنو نضير ددغه حکم په تعميل کې وروسته والی او مخته والی وکړ نو رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو سره هغه ځای ته روان سو چېرې چې د بنو نضير کورونه، قلعې او جائيداد وو، هغه ځای د مدينې منورې څخه پر دوه مېله فاصله باندې وو ځکه د رسول الله ﷺ څخه ماسوا نور ټول خلک پر پښو وه او هلته په رسېدو سره د جنګ نوبت نه راغلی تر څه وخته محاصرې څخه وروسته بنو نضير وسله وغورځول او هغوی چې کوم سامان د ځان سره ورلای سو هغه يې پر اوښانو باندې په اچولو سره خيبر ته روان سول همدارنګه الله تعالی رسول الله ﷺ ته پر هغوی غلبه او تسلط ورکړ لکه څرنګه چې د الله تعالی عادت دی چې هغه خپلو رسولانو او ددين پيروانو ته پر دښمن باندې غلبه او تسلط ورکوي ،نو د هغوی ټول جائيداد ، مځکې او نور شيان رسول الله ﷺ ضبط کړل او د هغه ځای ټول مال د فئ په حکم کېدو په وجه د رسول الله ﷺ په تصرف او اختيار کې راغلی ځکه مسلمانانو چې ددغه مال د وېشلو غوښتنه وکړه نو ذکر سوی آيت نازل سو او د هغه مال دا حکم وښوول سو چې داسې مال د غنيمت د مال په ډول نه ويشل کيږي بلکه د هغه تصرف او مصرف ټول اختيار رسول الله ﷺ ته وي چې هغه څرنګه غواړي هم هغسې يې مصرف کړي او چا ته چې غواړي د هغه څخه يې ورکړي، په حديثو کې ددغه مال مصرف هم بيان سوی دی چې رسول الله ﷺ به د هغه مال څخه خپلو بيبيانو ته د هغوی د کال مصرف ورکوئ او څه چې پاته سول هغه به يې د مسلمانانو په ټولنيزو ګټو او مصالحو کې مصرف کول او کومو فقيرانو او مسکينانو ته چې به يې غوښتل هغوی ته به يې ورکول .

د فئ د مال په باره کې د حنفيه مذهب هم هغه دی کوم چې لوړ بيان سو ، مګر طيبي رحمة الله عليه د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب داسې بيان کړی دی چې د فئ په مال کې به د څلور خمس او يو خمس پنځمه برخه باندې د رسول الله ﷺ حق وو يعنې هغه مال به په پنځه ويشت برخه کې ويشل کيدی يو وشت برخې به د رسول الله ﷺ په ذاتي مصرف او اختيار کې وې او پاته څلور برخې به رسول الله ﷺ خپلو قريبانو ، يتيمانو ، مسکينانو او مسافرو باندې مصرف کولې .

په تفسير معالم التنزيل کې ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته د فئ د مال په باره کې د علماؤ اختلاف دی ، د يوې ډلې قول دادی چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته د فئ مال د

اسلامي هيواد امير او خليفه حق دى چي د هغوى په مينځ كي دي وويشل سي او دوهم قول دادى چي هغه مال دي د عامو مسلمانانو په ټولنيز ګټي او مصالحو كي استعمال كړل سي.

د كال مصرف به يې وركوى: دلته دا سوال پيدا كيداى سي چي په حديثو كي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ به د سبا لپاره هيڅ شى نه ساتى نو بيا د كال د مصرف په جمع كولو سره به يې څرنګه ايښودى؟ ددې جواب دادى چي په كومو حديثو كي دا بيان سوى دى چي رسول الله ﷺ به د سبا لپاره هيڅ شى نه ايښودى نو ددې تعلق د رسول الله ﷺ د ذات مبارك سره دى چي رسول الله ﷺ به د خپل ذات لپاره هيڅ شى نه ساتى او نه به يې په جمع كولو سره ايښودى او دلته چي كومي خبري ذكر سوي دي د هغو تعلق د رسول الله ﷺ د كورنۍ سره دى.

څركنده دي وي چي رسول الله ﷺ خپلو بيبيانو مباركانو ته د كال مصرف كله كله وركوى په مستقله توګه يې دا معمول نه وو بيا هم امام نووي رحمه الله وايي چي ددې څخه معلومه سوه چي د كال لپاره د ژوند د ضرورت شيان برابرول او ايښودل جائز دي او دا د توكل خلاف نه دى.

﴿٣٨٨٠﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بني نضير يهودو مال ددې ډول څخه وو چي هغه الله جل جلاله

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوجِفِ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ

خپل رسول ته وركړى وو، ددې لپاره مسلمانانو نه آسان ځغلولي وه نه اوښان (يعني دا مال بېله تكليفه په لاس ورغلى)، له دې كبله دا مال

لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ. متفق عليه.

د رسول الله ﷺ لپاره خاص سو، چي رسول الله ﷺ به د كال لپاره پر خپلي كورنۍ مصرف كوئ او څه چي به پاته سول هغه به يې د وسلې او حيوانانو په رانيولو مصرف كول چي د الله تعالى په لار كي په تياري او سامان كي پكار راسي. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٩٣، رقم: ٢٩٠٤، ومسلم ٣\١٣٧٨، رقم: ٤٨- ١٧٥٧.

د لغاتو حل الكراع: الخيل والبغال والحمير.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ له خوا د فئ د مال تقسيم

﴿٣٨٨١﴾: عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَاهُ

د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته به د يو ځای څخه د فئ مال

الْفَيْءُ قَسَمَهُ فِي يَوْمِهِ فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ وَأَعْطَى الْعَزَبَ حَظًّا فَدُعِيتُ

(بې جنګه د غنيمت مال) راغلئ نو رسول الله ﷺ به هغه په هغه ورځ کور داره يعني د ښځي

خاوند ته به يې دوې برخي ورکولې او بې واده ته به يې يوه برخه ورکول، يو وار زه را وغوښتل

فَأَعْطَانِي حَظَّيْنِ وَكَانَ لِي أَهْلٌ ثُمَّ دُعِيَ بَعْدِي عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ فَأَعْطَى حَظًّا

وَاحِدًا. رواه ابوداؤد.

سوم او ما ته يې دوې برخي راکړې ځکه چي زما ښځه وه، زما څخه وروسته عمار بن ياسر را

وغوښتل سو او هغه ته يې يوه برخه ورکړه (ځکه چي هغه واده نه وو کړی). ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٥٩، رقم: ٢٩٥٣.

﴿٣٨٨٢﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ مَا

جَاءَهُ فَيْءٌ بَدَأَ بِالْمُحَرَّرِينَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما وليدل چي رسول الله ﷺ ته د فئ مال راغلئ نو

رسول الله ﷺ به تر ټولو مخکي هغه خلکو ته ورکوئ چي هغوی به د غلامۍ څخه ازاد کړل

سوي وه. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ٣\٣٥٨، رقم: ٢٩٥١.

تشريح: د فئ مال څخه تر ټولو مخکي د غلامۍ څخه د خلاصون لپاره خلکو ته ځکه ورکول

کېدل چي هغوی به بې ځايه او بې چاري وه او ځيني حضرات وايي چي د ازاد سوو خلکو څخه

مکاتب مراد دي او د ځينو حضراتو په نزد منفردين لطاعة الله مراد دي.

﴿٣٨٨٣﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته يوه کڅوړه راوړل سوه چي د غميانو

بِظَبْيَةٍ فِيهَا خَرَزٌ فَقَسَمَهَا لِلْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ أَبِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ . رواه ابوداؤد

څخه ډکه وه ، رسول الله ﷺ هغه غميان په آزادو او مينځو باندي وويشل ، د بي بي عائشي ﷺ

بيان دئ چي زما پلار (ابوبکر صديق ﷺ) به په آزاد او غلامانو دواړو باندي ويشل . ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود: ٣\٣٥٩، رقم: ٢٩٥٢.

تشريح که څه هم رسول الله ﷺ به د غميانو ويش يوازي تر ښځو پوري محدود کوی مګر د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د عمل څخه ښکاره سوه چي د غميانو ويش يوازي د ښځو سره خاص نه وو بلکه په نارينوو کي به يې هم ويشل .

د فئ د مال په وېشلو کي د مرتبو لحاظ

﴿٣٨٨٤﴾: وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَوْمًا

د حضرت مالک بن اوس بن حدثان ﷺ څخه روايت دئ چي يو وار حضرت عمر ﷺ د فئ د مال

الْفَيْءَ فَقَالَ مَا أَنَا أَحَقَّ بِهٰذَا الْفَيْءِ مِنْكُمْ وَمَا أَحَدٌ مِنَّا بِأَحَقَّ بِهِ مِنْ أَحَدٍ

ذکر وفرمايه او وه يې ويل چي زه د فئ د مال تر تاسو زيات حقدار نه يم او نه په موږ کي يو سړی

إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَقَسْمِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

ددې مال تر بل زيات مستحق دئ بلکه د کتاب الله او د رسول الله ﷺ د ويش سره سم زموږ درجې او مرتبې دي ، يو سړی دي او د هغه قدامت يو سړی دئ او د هغه ميړانه ، کوښښ يو

وَسَلَّمَ فَالرَّجُلُ وَقِدَمُهُ وَالرَّجُلُ وَبَلَاؤُهُ وَالرَّجُلُ وَعِيَالُهُ وَالرَّجُلُ وَحَاجَتُهُ .

رواه ابوداؤد.

سړی وي او د هغه کورنۍ دي يو سړی وي او د هغه ضرورت او حاجت دئ (يعني هر سړي ته د

هغه د مرتبې او ضرورت سره سم ورکول کیږي). ابو داؤد.

تخریج سنن ابي داود ۳\۳۵۸، رقم: ۱۹۵۰.

تشریح زه ستاسو څخه زیات مستحق نه یم: حضرت عمر رضی الله عنه دا خبره ددغه وهم او ګمان لیرې کولو لپاره وفرمایل چې هغه د رسول خلیفه دی ځکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د هغه مال تر ټولو زیات حق درلودی کېداې سي چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته اوس هغه ددې تر ټولو زیات مستحق وي، حضرت عمر رضی الله عنه ددې نفي وکړه چې د یو بل مسلمان په ډول زه هم ددغه مال تر ټولو زیات مستحق نه یم بیا هغه دده مال تر ټولو زیات حق لرونکي نفي د عمومیت په توګه وفرمایل چې په موږ کي هیڅ سړی هم د بل سړي څخه زیات حقدار نه دی بلکه ددغه مال د استحقاق اصل بنیاد پر فرق مرتب دی چې په کتاب الله کي ددغه ارشاد څخه څرګنده ده:

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ... ، او : وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ...

دغه آیاتونه پر دې دلالت کوي چې د مسلمانانو په مرتبو کي فرق دی چې هر سړي ته د هغه د مرتبې سره سم کم او زیات ورکول کیږي.

د الله جل جلاله په کتاب او د هغه د رسول ﷺ په وېش کي: د رسول الله ﷺ د وېش عطف پر کتاب الله باندي سوی دی یعني څرنګه چې د کتاب الله د ذکر سوو آیاتو څخه د مسلمانانو د مرتبو اظهار کیږئ همدارنګه د رسول الله ﷺ په وېش سره هم په مرتبو کي فرق معلومیږي چې رسول الله ﷺ ددغه مال د ویشلو په وخت کي دنورو مسلمانانو په نسبت د بدر په جنګ کي ګډون کونکو صحابه کرامو ته زیاته برخه ورکول، همدارنګه کوم صحابه کرام چې د حدیبیه د صلح پر وخت په بیعت الرضوان کي شامل وه د هغوی لحاظ یې د عامو مسلمانانو څخه زیات کړیا کوم څوک چې به کورنۍ والا وو هغه ته به یې د مجرد (بې کوره) سړي څخه زیات ورکول.

یو هغه سړی ....: حضرت عمر رضی الله عنه د خپل ارشاد په ذریعه د ذکر سوي خبري نور وضاحت وکړ چې د فئ د مال د ویشلو په وخت کي د هر سړي مرتبه او د هغه د حیثیت لحاظ ساتل ضروري دي که یو سړی پخوا مسلمان سوی وي نو د هغه دغه ځانګړتیا ته کتل پکار دي که یو سړی د الله جل جلاله په لار کي د میړاني او شجاعت کارونه کړي وي او د دین په خپرولو کي یې سخت کوښښونه او تکلیفونه زغملي وي نو د هغه دغه صفت مخته ایښودل پکار دي، همدارنګه که یو سړی کورنۍ والا وي او زیات اړ وي نو د هغه ددغه حیثیت او حال خیال ساتل پکار دي، مطلب دا چې هر سړي ته چې څومره اړتیا او احتیاج وي هغه ته د هغه مطابق ورکول پکار دي.

﴿۳۸۸۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَرَأَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِيْنِ

د حضرت مالک بن اوس بن حدثان ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ دا آيت تلاوت کړ (انما الصدقات للفقراء .....)

حَتّٰى بَلَغَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ فَقَالَ هٰذِهِ لِهٰؤُلَاءِ ثُمَّ قَرَأَ وَاعْلَمُوْا أَنَّ مَا غَنِمْتُمْ مِنْ

او تر (عليم حکيم) پوري يې تلاوت کړ، بيا يې دا آيت تلاوت کړ (واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه ...... ابن السبيل) پوري ، او وه يې فرمايل :

شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ حَتّٰى بَلَغَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ثُمَّ قَالَ هٰذِهِ لِهٰؤُلَاءِ

د غنيمت مال دا پنځمه برخه چي کوم په آيت کي ذکر ده د قريبانو لپاره ده ، بيا يې دا آيت

ثُمَّ قَرَأَ مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى حَتّٰى بَلَغَ لِلْفُقَرَاءِ ثُمَّ قَرَأَ

وفرمايه : (ما افاه الله على رسوله ... والذين جاءوا من بعدهم) پوري، او وه يې فرمايل دغه

وَالَّذِيْنَ جَاؤُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ ثُمَّ قَالَ هٰذِهِ اسْتَوْعَبَتِ الْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً فَلَئِنْ

آيت ټول مسلمانان پوره کړل که زه ژوندی پاته سوم نو شپون ته به هم د هغه برخه ورسيږي چي په

عِشْتُ فَلَيَأْتِيَنَّ الرَّاعِيَ وَهُوَ بِسَرْوِ حِمْيَرَ نَصِيْبُهُ مِنْهَا لَمْ يَعْرَقْ فِيْهَا جَبِيْنُهُ .رواه في شرح السنة

بسر او حمير کي دي ، د في د مال څخه چي د هغه لپاره به د هغه پر تندي خوله نوي راغلي . شرح السنه

تخريج البغوي في شرح السنة ١١\١٣٨، رقم: ٢٧٥٤١.

تشريح دغه آيت ټول مسلمانان پوره کړل : ددې مطلب دادی چي په دغه آيت کريمه کي کومو خلکو ته د ورکولو ذکر سوی دی په هغه کي ټول مسلمانان راځي پر خلاف د اولو دوو آياتو چي په هغه کي يوازي د زکوۃ د مستحقينو ذکر سوی دی او په دوهم کي د خمس د مستحقينو ذکر هم سوی دی.

حضرت عمر ﷺ د فئ په مال کي د خمس ایستلو قائل نه وو لکه څرنګه چي د غنیمت په مال کي خمس ایستل کیږي د هغه په نزد ټول د فئ مال د مسلمانانو د اجتماعي ګټي او مصالحو او د هغوی د فلاح او مرستي لپاره مصرفول پکار دي کوم چي په قرآن کریم او حدیثو کي ذکر سوی فرق د مراتبو سره د هغوی حق دئ ، د امام شافعي رحمه الله څخه ماسوا د اکثرو امامانو مذهب دادی او حضرت عمر ﷺ ددې هم قائل وو چي د فئ د مال د وېشلو په باره کي د مسلمانانو د درجو او مرتبو لحاظ ساتل ضروري دي حال دا چي حضرت ابوبکر صدیق ﷺ به برابري برخي ورکولې هغه به د اسلام د قدامت او د نسب لحاظ کول ضروري نه ګڼل بلکه فرمایل به یې چي ددغه شي تعلق د آخرت سره دی که یو سړی مخکي مسلمان سوی وي او یو سړي د دین په لار کي میړانه او شجاعت او زیات کوښښ کړی وي نو د هغوی دغه عمل د الله ﷻ لپاره دی او د هغوی اجر به په الله ﷻ پوري موقوف وي، دغه شیان د زیات مال د استحقاق بنیاد جوړول نه دي پکار مګر حضرت عمر ﷺ د مرتبو د فرق لحاظ ساتی ځکه چي هغه به کله مال ویشی نو بي بي عائشې ﷺ ته به یې زیات ورکوی او بي بي حفصې ﷺ ته به یې کم ورکوي او هغې ته به یې فرمایل چي اې لوري! ستا په نسبت بي بي عائشې ﷺ ته د هغې د خصوصیت په وجه زیات ورکوم چي د رسول الله ﷺ په نزد عائشه ﷺ زیاته خوږه وه او رسول الله ﷺ ته ستا د پلار (یعني زما) په نسبت د عائشې ﷺ پلار (یعني حضرت ابوبکر صدیق ﷺ) سره زیات تعلق وو. همدارنګه حضرت عمر ﷺ د خپل زوی ابن عمر ﷺ په نسبت د حضرت اسامه ابن زید ﷺ برخه زیاته ورکول او ابن عمر ﷺ ته به یې دا وفرمایل چي اسامه ﷺ ته پر تا دا فضیلت حاصل دی چي د رسول الله ﷺ ستا په نسبت د اسامه ﷺ سره زیات تعلق وو او ستا د پلار څخه زیات د هغه پلار د رسول الله ﷺ په نظر کي خوښ وو.

حمیر د یمن د یو سیمي نوم دی چیري چي د یمن د مشهوري قبیلي حمیر خلک پراته وه، همدارنګه بسر هم د یو ځای نوم دی چي د حمیر په سیمي کي وو.

د روایت په پای کي د حضرت عمر ﷺ د ارشاد مطلب دا وو که الله تعالی زه ژوندی وساتلم او زما د خلافت په زمانه کي اسلام پر زیاتو ښارو او هیوادو باندي تسلط تر لاسه کړ او د هغه په نتیجه کي د فئ مال هم ډېر په لاس راغلی نو د هغه څخه به ټولو مسلمانانو ته د هغه برخي ورسیږي که څه هم هغوی په لوی لوی ښارو او کلیو کي اوسیږي او ددې سربېره چي هغوی د مال په تر لاسه کولو کي هیڅ تکلیف او ستړیا نه وي زغملې.

د حضرت عمر ﷛ د فدک په قضیه کي استدلال

﴿۳۸۸٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ فِيمَا احْتَجَّ بِهِ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنْ قَالَ كَانَتْ

د مالک بن اوس بن حدثان ﷛ څخه روایت دئ چي د فدک په قبضه کي حضرت عمر ﷛ د دي

لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا بَنُو النَّضِيرِ وَخَيْبَرُ وَفَدَكُ

خبري دلیل ووایه چي د رسول الله ﷺ سره دري صفایا وې یعني درې داسي شیان وه چي رسول الله ﷺ د غنیمت څخه خاص کړي وه: یو خو د نبي کریم ﷺ نضیر املاک، ، دویم د خیبر مځکه،

فَأَمَّا بَنُو النَّضِيرِ فَكَانَتْ حُبُسًا لِنَوَائِبِهِ وَأَمَّا فَدَكُ فَكَانَتْ حُبُسًا لِأَبْنَاءِ

دریم په فدک کي د بني نضیر د مځکي حاصلات به د رسول الله ﷺ پر ذات خاص مصرف کېدل یعني د رسول الله ﷺ پر میلمنو، وسلو، حیوانانو وغیره په رانیولو د فدک حاصلات د مسافر د

السَّبِيلِ وَأَمَّا خَيْبَرُ فَجَزَّأَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ

مرستي لپاره خاص وه او د خیبر حاصلات رسول الله ﷺ درې برخي کړي وه دوې برخي پر

جُزْأَيْنِ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ وَجُزْءًا نَفَقَةً لِأَهْلِهِ فَمَا فَضَلَ عَنْ نَفَقَةِ أَهْلِهِ جَعَلَهُ بَيْنَ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ. رواه ابوداؤد

مسلمانانو مصرف کېدل او یوه برخه د کورنۍ لپاره خاص وه، او د بیبیانو د مصارفو څخه چي به څومره پاته سول هغه به د فقراؤو مهاجرینو لپاره وه. ابوداؤد. (صفایا : هغه فئ مال ته وایي چي رسول الله ﷺ د ځان لپاره چن کړي او خاص کړي وه).

تخریج سنن ابي داود ۳\۳۷۵، رقم: ۲۹٦۷.

د لغاتو حل صفایا: جمع صفية ما يصطفى ويختار. نوائبه اى لحوائجه.

تشریح د کومي خبري څخه چي یې استدلال وکړ ....: یعني کله چي حضرت عباس ﷛ او حضرت علي ﷛ د فدک د مال په باره کي د خپل غوښتني لپاره حضرت عمر ﷛ ته راغلل نو حضرت عمر ﷛ د هغوی د غوښتني منلو څخه انکار وکړ او پر کوم جائیداد او مځکو باندي چي د رسول الله ﷺ ذاتي حق وو (لکه بنو نضیر، خیبر، فدک) نو د هغه په باره کي یې ذکر

سوی تفصیل بیان کړ او د دغه تفصیل بیانولو په وخت کي نور صحابه کرام هم موجود وه چي په هغو کي هیچا د حضرت عمر ﷜ د بیان سوي تفصیل تردید ونه کړ ځکه دا خبره د هغه د فیصلې دلیل وګرځیدی ، ددې څخه وروسته حضرت عمر ﷜ دا ضروري وګڼل چي حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما یې د فدک د محاصل متولي وګرځول چي هغه دواړه محاصل داسي مصرف کړي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ مصرفول.

صفایا د صفیه جمع ده او صفیه دې ته وایي چي د وخت امام د غنیمت د مال ویشلو څخه مخکي یو شي په چڼ کولو سره د ځان لپاره خاص کړي ، دا خبره یوازي د رسول الله ﷺ سره خاص وه چي رسول الله ﷺ به د غنیمت دمال څخه د خمس څخه ماسوا نور هم کوم شی لکه مینزه، غلام ، توره ، آس او داسي نور شیان غوښتل د هغه د اخیستلو حق یې درلودی ، مګرد رسول الله ﷺ څخه وروسته بل چا ته دا جائز نه دي.

فدک د یو کلي نوم وو چي د خیبر د شاوخوا څخه وو او د مدینې منورې څخه د دوو ورځو پر فاصله واقع وو، دا یو ښین او ښکلی ځای وو چي هلته زیات د خرماوو او نورو میوو باغونه وه ، رسول الله ﷺ ته پر فدک باندي د صٗلح کولو په ذریعه تسلط حاصل سوی وو او د صلح بنیاد دا معاهده وه چي د هغه ځای نیمه مځکه به دفدک د اوسیدونکو وي او نیمه به د رسول الله ﷺ حق وي نو د فدک هغه نیمه مځکه د رسول الله ﷺ ذاتي ملکیت وو چي د هغه د حاصلاتو څخه به رسول الله ﷺ ددغه حدیث سره سم د اړو مسافرو مرسته او اعانت کوی.

د خیبر حاصلات به رسول الله ﷺ په درو برخو کي ځکه ویشل چي د خیبر سیمه په اصل کي پر درو ځایو او کلیو باندي شامل وه په هغه کي ځیني کلي د طاقت په زور فتح سوي وه چي د هغه څخه تر لاسه کیدونکي مال د غنیمت مال وو ځکه د هغه څخه به رسول الله ﷺ خمس اخیستی او کوم کلی چي به د صلح په ذریعه په واک کي راغلی وو د هغه څخه تر لاسه کیدونکي مال د فئ مال وو ځکه هغه ټول به د رسول الله ﷺ ذاتي ملکیت وو چي رسول الله ﷺ به هغه د خپل اړتیاوو او د خپل کورنی د مصرف او عامو مسلمانانو د ټولنیزو ګټو لپاره چیري چي به یې مناسب وګڼل مصرفول، په دې وجه د وېش او مساوات تقاضا دا وه چي د خیبر ټول مال خپل او د مسلمانانو په مینځ کي د وېشلو لپاره په درو برخو کي په ویشلو سره دوې برخي مسلمانانو ته ورکړي او یوه برخه یې د ځان لپاره وساتل.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د قضیه فدک تفصیل

﴿۳۸۸۷﴾: عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ اَنَّ عُمَرَ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ جَمَعَ بَنِي مَرْوَانَ حِينَ

د مغیره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي کله عمر بن عبدالعزیز خلیفه سو نو هغه د مروان زامن راجمع

اسْتُخْلِفَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ فَدَكُ فَكَانَ يُنْفِقُ

کړل او ورته وه یې ویل: د رسول الله ﷺ سره فدک وو چي د هغه د آمدنی څخه هغوی پر خپل

مِنْهَا ويعون منها عَلَى صَغِيرِ بَنِي هَاشِمٍ وَيُزَوِّجُ مِنْهَا أَيِّمَهُمْ وَإِنَّ فَاطِمَةَ

کورنۍ خرڅ کوئ او د بنوهاشم کوچنیانو ته به یې ورکولو او د مجرد (بې وداه) نر او ښځي نکاح به یې کول، یو وار بي بي فاطمې رسول الله ﷺ ته خواست وکړ

سَأَلَتْهُ أَنْ يَجْعَلَهَا لَهَا فَأَبَى فَكَانَتْ كَذٰلِكَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

چي فدک دي هغې ته ورکړل سي مګر رسول الله ﷺ انکار ور څخه وکړ، د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي پر دې عمل کېدی

وَسَلَّمَ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ فَلَمَّا أَنْ وُلِّيَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَمِلَ فِيهَا بِمَا

تر څو چي رسول الله ﷺ وفات سو بیا حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه سو او هغه هم پر هغه طریقه عمل وکړ کومه چي

عَمِلَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَيَاتِهِ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ فَلَمَّا أَنْ

رسول الله ﷺ اختیار کړې وه په خپل ژوند کي تر څو چي هغه هم وفات سو نو کله چي حضرت

وُلِّيَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَمِلَ فِيهَا بِمِثْلِ مَا عَمِلَا حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ ثُمَّ

عمر بن خطاب رضي الله عنه خلیفه سو نو هغه هم پر دې عمل وکړ څرنګه چي هغوی دواړو کړی وو، تر څو چي هغه هم وفات سو بیا

أَقْطَعَهَا مَرْوَانُ ثُمَّ صَارَتْ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَرَأَيْتُ أَمْرًا مَنَعَهُ رَسُولُ

مروان فدک خپل ملک جوړ کړ ، او بیا فدک ما عمر بن عبدالعزیز ته راغلئ ما ولیدل چي کوم شی رسول الله ﷺ خپل لور بي بي فاطمي ته نه وو ورکړی

اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام لَيْسَ لِي بِحَقٍّ وَأَنَا أُشْهِدُكُمْ

هغه هیڅکله زما حق نسي کیدلای زه تاسو شاهدان کوم چي ما بیا فدک په هغه طریقه کړ پر

أَنِّي قَدْ رَدَدْتُهَا عَلَى مَا كَانَتْ يَعْنِي عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَبِي بَكْرٍ وَّعُمَرَ . رواه ابوداؤد.

کومه طریقه چي هغه مخکي وو ، یعني څرنګه چي د رسول الله ﷺ په عهد کي ، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کي او د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کي ددې حاصلات مصرف کېدل. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ١٣\٣٧٨، رقم: ٢٩٧٢.

تشریح: لکه څرنګه چي مخکي ښوول سوي دي چي د بنونضیر، فدک او خیبر مځکه او جائیداد د رسول الله ﷺ ذاتي ملکیت وو او هغه مځکه او جائیداد د رسول الله ﷺ څخه وروسته هم پاته وه ځکه د رسول الله ﷺ اهل بیت او د کورنۍ ځینو کسانو په هغه د خپل میراث دعوه وکړه او د خلافت څخه یې د هغه غوښتنه وکړل او بیا په هغوی کي خپل منځي اختلافات هم پیدا سول همدارنګه د هغه مځکي او جائیداد قصه ډېره عجیبه سوه که څه هم یوه یو وقتي قضیه وه چي د هغه بنیاد پر یو غلطي جذبې باندي نه وو مګر بیا هم په وروسته زمانو کي کم فهمه خلکو د هغه څخه غلط نتائج اخذ کول شروع کړل او داسي افسانې یې وتراشلې چي په هغه سره د نورو خلکو ذهنونه هم فاسد سول ، دلته مناسب دي چي د صحاح کتابو څخه څه تفصیل او په دې باره کي څه خبري نقل کړل سي :

په صحیح بخاري کي د حضرت مالک ابن اوس ابن حدثان څخه نقل سوي دي چي یو وار امیر المؤمنین حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه زه ځان ته را وغوښتلم ، زه د هغه سره ناست وم چي د هغه غلام یرفاء راغلی او وه یې ویل اې امیر المؤمنین! حضرت عثمان ابن عفان، حضرت عبدالرحمن ابن عوف، حضرت زبیر ابن عوام او حضرت سعد ابن ابووقاص رضي الله عنهم په

دروازه کي ناست دي او د حاضرېدو اجازه غواړي، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل چي را دي سي، هغوى ټول راغلل او لږ وخت وروسته يرفاء راغلى او وه يې ويل چي حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما د حاضرېدو اجازه غواړي كه اجازه وي نو را دي سي، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: را دي سي، كله چي هغوى راغلل نو حضرت عباس رضي الله عنه وويل: اې امير المؤمنين! زما او د دوى په مينځ كي فيصله وكړئ، (يعني زما او د علي په مينځ كي فيصله وكړئ) دوى د بنو نضير د هغه مال او جائيداد په باره كي جګړه كوي كوم چي الله تعالى د خپل رسول په حق كي فئ ګرځولى دى، بيا حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما په خپلو كي يو بل ته بد او رد ويل شروع كړل، هلته موجود نورو خلكو هم وويل چي هو اې امير المؤمنين! ددغه دواړو معامله فيصله كړئ او دوى د يو بل د جګړې څخه خلاص كړئ، د دې په اورېدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چي د لږ صبر او سكون څخه كار واخلئ زه تاسو ته د هغه خداى جل جلاله په قسم دركولو سره پوښتنه كوم چي د هغه په حكم سره آسمانونه او مځكه قائم دي ايا تاسو ته معلومه ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به دا فرمايل چي موږ انبياء مېراث نه پرېږدو يعني زموږ پرې ايښى مال د چا مېراث نه وي موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده، حاضرينو كسانو وويل هو موږ ته دا ياد دي بېشكه رسول الله صلى الله عليه وسلم دا فرمايلي دي، بيا حضرت عمر رضي الله عنه حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما ته په متوجه كېدو سره وفرمايل چي زه تاسو دواړو ته د خداى جل جلاله په قسم دركولو سره پوښتنه كوم چي ايا تاسو ته معلومه نه ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا فرمايلي دي، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل هو موږ ته دا په ياد دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا فرمايلي دي. نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل زه تاسو په دې خبره هم شاهدان كوم چي الله جل جلاله ددغه فئ مال په باره كي خپل رسول ته هغه خاص خصوصيت وركړى وو كوم چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ماسوا بل چا ته يې نه دى وركړى، بيا حضرت عمر رضي الله عنه دغه آيت: (ما افاء الله على رسوله) تر پايه پوري ووايه او وه يې فرمايل: دغه ټول مال د رسول الله صلى الله عليه وسلم خاص وو مګر قسم په خداى رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه مال ستاسو سره جمع نه كړ او نه يې ددې په ذريعه پر تاسو څه قرباني وكړه بلكه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغه څخه په خپل كورنى مصرف كوى، ددې څخه وروسته چي به څه پاته سول هغه به رسول الله صلى الله عليه وسلم په نېكو كارو او د عامو مسلمانانو په ګټه او مصالحو كي مصرف كوى، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ژوند تر پايه پوري دا معمول وو، بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات څخه وروسته حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په دې ويلو سره زه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم خليفه يم هغه مال په خپل قبضه كي واخيستى او د هغه د مصرف هغه نظام يې باقي وساتى كوم چي

رسول الله ﷺ كوی .

حضرت عمر رضی اللہ عنہ حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما ته متوجه سو او وه يې فرمایل تاسو هغه وخت د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ذکر په بدی سره کوی او ویل مو چې په دې باره کې ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ پر صحیح لاره نه دی حال دا چې تاسو څه ویل هغه صحیح نه وه او الله جل جلاله ښه پوهیږي چې ابوبکر رضی اللہ عنہ په خپل دغه عمل کې صادق ، نېک ، هدایت یافته او د حق تابع وو ، بیا چې کله حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ وفات سو نو زه خلیفه سوم او ما ویل چې زه د رسول الله ﷺ خلیفه او حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ولي یم ځکه نو دغه مال او جائیداد تر دوو کالو پوري زه په خپل واک او قبضه کې اخلم او د هغه د مصرف او تصرف مې هغه طریقه اختیار کړل کوم چې د رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ وه ، او الله جل جلاله ښه پوهیږي چې زه په خپل دغه عمل کې صادق، نېک، هدایت یافته او د حق تابع یم ، بیا د دوو کالو څخه وروسته تاسو دواړه (حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما) ما ته راغلاست او تاسو یوه خبره وکړه چې د رسول الله ﷺ مال موږ ته راکړل سي ، ما ستاسو د غوښتني په جواب کې تاسو ته ویلي وه چې د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی چې موږ انبیاء مېراث نه پرېږدو بلکه موږ چې څه پرېږدو هغه صدقه ده مګر کله چې زما په پوهه کې دا خبره راغلل چې زه باید دغه مال او جائیداد تاسو ته وسپارم نو ما تاسو ته وویل که تاسو غواړئ نو زه دغه مال او جائیداد تاسو ته په دې شرط درکولای سم چې تاسو ددې خبري عهد وکړئ چې ددغه مال د مصرف کولو به هغه نظم او طریقه باقي ساتئ کوم چې رسول الله ﷺ جاري کړې وه او په هغه باندي حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ او ما هم عمل کړی وو ، او که تاسو ته دا شرط قبول نه وي نو بیا د راتلونکي لپاره زما سره د څه خبري کولو ضرورت نه سته تاسو دا شرط قبول کړ او وه مو ویل چې تاسو دغه مال او جائیداد په دې شرط موږ ته حواله کړی نو ما تاسو ته وسپارئ ، نو ایا تاسو اوس زما څخه دا غواړئ چې په دې باره کې کومه خبره زما او ستاسو په مینځ کې فیصله سوې ده زه د هغه خلاف فیصله وکړم . په خدای دې مې قسم وي چې د هغه په حکم سره مځکه او آسمان قائم دي زه به تر قیامته پوري هم د هغه خلاف فیصله ونه کړم هو که تاسو ددغه مال او جائیداد د انتظام څخه عاجزه یاست نو دا بېرته ما ته راکړئ زه به تاسو ددغه انتظام د جنجال څخه بې پروا کړم او په خپله به په تکلیف کولو سره ددې انتظام وکړم .

ددغه روایت راوي امام زهري رحمۃ اللہ علیہ وایي چې ما ددغه حدیث په باره کې د حضرت عروه ابن زبیر رضی اللہ عنہ سره خبري وکړې نو هغه وویل چې مالک رضی اللہ عنہ ابن اوس بالکل صحیح بیان کړی دی

ما د بي بي عائشې ﷺ څخه اوریدلي دي چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته ځینو بیبیانو مبارکانو حضرت عثمان رضی الله عنه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته واستوی او د دغه مال او جائیداد د خپل میراث کېدو غوښتنه یې وکړه چي الله تعالی خپل رسول ته دغه مال د فئ په توګه ورکړی وو کله چي ما ته معلومه سوه نو د هغوی مخالفت مي وکړ او هغوی ته مي وویل چي تاسو د الله ﷻ څخه نه بیریږئ ایا د رسول الله ﷺ دغه ارشاد ستاسو په علم کي نه دی چي موږ انبیاء میراث نه پرېږدو بلکه موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده او د محمد ﷺ کورني به د هغه څخه څه نه خوري ، بیا بیبیاني مبارکاني د رسول الله ﷺ د میراث د غوښتني څخه منع سوې او زما د بیان سوي حدیث په وجه هغوی رجوع وکړه .

حضرت عروه رحمة الله علیه وایي چي حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ هغه صدقه یعني د بنو نضیر هغه مال چي په مدینه کي وو او دهغه په باره کي ذکر سوې قضیه وه د حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما په تولیت کي ورکړې وه ، ددې څخه وروسته د حضرت حسن ابن علي رضی الله عنه په قبضه کي راغلل ، د حضرت حسن رضی الله عنه څخه وروسته د حضرت حسین رضی الله عنه په قبضه کي وه او د دوی څخه وروسته د علي ابن حسین او حسن ابن حسین په قبضه کي وه چي دواړو به په وار وار ساتل ، د دوی څخه وروسته زید ابن حسن ته راغلی .

دا د بخاري د حدیث لنډیز دی چي هغه په کتاب المغازي کي د بنو نضیر په واقع کي نقل کړی دی . په کتاب الخمس کي هم د ځینو الفاظو په فرق سره داسي حدیث بیان سوی دی .

دغه روایت هم د بخاري دی چي بي بي عائشې ﷺ بیان کړی دی چي د رسول الله ﷺ لور بي بي فاطمه ﷺ او عباس رضی الله عنه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته د فدک د ځمکي او جائیداد او د خیبر د برخي د میراث غوښتنه وکړه ، حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه هغوی ته وفرمایل چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي موږ انبیاء یو ثوک د خپل میراث نه وارث کوو بلکه موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده او ددغه مال څخه د محمد ﷺ کورني خوراک کوي، قسم په خدای زما په نزد د رسول الله ﷺ د قریبانو د حقوقو ساتنه د هغوی سره ښه چلن او د خیر معامله کول د خپلو قریبانو سره د ښه چلن کولو څخه زیات غوره او محبوبه ده .

وروسته چي کوم اوږد حدیث نقل سوی دی او په هغه کي د حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کي حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما خپله قضیه راوړې وه دا صاحب جامع الاصول هم په خپل کتاب کي د بخاري ، مسلم، ترمذي، ابوداؤد او نسائي په حواله سره نقل کړې ده او ویلي یې دي چي ددغه حدیث په باره کي ابوداؤد دا وضاحت کړی دی چي حضرت عباس او

حضرت علي رضي الله عنهما چي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه کومه غوښتنه کړې وه د هغه مقصد يوازې دا خواست کول وو چي تاسو کوم مال او جائيداد په مشترکه توګه زموږ دواړو په توليت کي راکړى وو اوس هغه نيم په نيم وېشلو سره زموږ دواړو توليت او سپارلو کي جلا جلا برخي راکړې نه دا چي هغوى دواړو د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد چي موږ انبياء مېراث نه پرېږدو څخه غافل او بې خبره وه او په واقعت کي د هغوى مقصد هغه مال او جائيداد خپل مېراث جوړول نه وو د هغه دواړو نيت هم صادق وو او د هغوى غوښتنه هم يو صحيح عمل وو، بيا هم د دې سربېره حضرت عمر رضي الله عنه د هغوى غوښتنه پوره نه کړل بلکه هغوى ته يې واضحه کړل چي زه دا زغملاى نه سم چي په کوم صورت کي د دغه مال او جائيداد د ويشلو نوم راسي بلکه دا هم داسي ساتل زما په نزد زيات ضروري دي.

بخاري په کتاب الخمس کي د حضرت عروه رضي الله عنه دا روايت نقل کړى دى چي عروه ته بي بي عائشې رضي الله عنها دا بيان وکړ چي د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته د رسول الله ﷺ لور بي بي فاطمې رضي الله عنها د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه دا غوښتنه وکړه چي هغې ته مېراث ورکړل سي کوم چي رسول الله ﷺ د خپل مال او جائيداد څخه پرې ايښى دى چي الله تعالى رسول الله ﷺ ته د فئ د مال په توګه ورکړى وو، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هغې ته دا جواب ورکړ چي د رسول الله ﷺ ارشاد دى چي: (لا نورث ما ترکناه صدقة) يعني موږ انبياء مېراث نه پرېږدو موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده.

په يوه روايت کي دا هم دي چي هغه د دغه حديث بيانولو څخه وروسته وفرمايل چي هغه مال زما په قبضه او اختيار کي دى او کله چي زه مړ سم نو د هغه چا په واک او قبضه کي وي کوم چي زما څخه وروسته د خلافت او امارت ذمه وار وي، بي بي فاطمې رضي الله عنها ته دا خبره ناخوښه سول تر دې چي هغې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره ترک سلام او ترک کلام وکړ او تر خپل وفات پوري پر ترک سلام او ترک کلام باندي قائمه وه، واضحه دي وي چي بي بي فاطمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته شپږ مياشتي ژوندۍ وه.

په يو بل روايت کي دي چي بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل: بي بي فاطمې رضي الله عنها به د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه په هغه مال او جائيداد کي د خپل مال او برخي غوښتنه کول کوم چي رسول الله ﷺ د خيبر او فدک مځکه او باغونه او په مدينه کي خپله صدقه (يعني د بنو نضير د مال او جائيداد) په صورت کي پرې ايښى وه مګر حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به د هغې غوښتنه نه منل او فرمايل به يې چي زه هيڅ داسي شى نه پرېږدم جي په هغه د رسول الله ﷺ

معمولي راغلي وي ددغه مال او جائيداد په باره كي به زما هغه عمل وي كوم چي د رسول الله وو، زه بېړېړم كه زه پر يو داسي شي باندي دعمل كولو څخه منع سم كوم چي د رسول الله ﷺ د حكم او منشاء مطابق وي نو يقينا زما دغه كار به د حق د لاري څخه دمخ اړولو برابر وي.

حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه تر پايه پوري پر خپل دغه فيصلې قائم وو او بيا د هغه د وفات څخه وروسته حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دغه صورت اختيار كړ چي رسول الله ﷺ په مدينه كي كومه صدقه پرې ايښې وه هغه يې حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما ته وسپارل چي هغوى دواړه په ګډه د هغه د توليت فرض سرته ورسوي او د خيبر او فدك مځكه او جائيداد يې په خپل توليت كي وساتي او وه يې فرمايل دا د رسول الله ﷺ پرې ايښې صدقه ده چي د هغه سره د رسول الله ﷺ حقوق متعلق وه او هغه ددغه مځكي او جائيداد متولي او نګران هغه سړى وګرځوى كوم چي د خلافت او امارت ذمه داري تر سره كوي نو هغه تر اوسه پوري د هغه صورت حال مطابق دى.

په هر حال په دې باره كي چي كوم حديثونه نقل سوي دي يا هغه حديثونه چي ددغه مفهوم او مضمون سره متعلق په صحاح ستة كي په ډېرو طريقو او سندو منقول دي د هغه ټولو څخه چي كومه خبره واضحه كيږي هغه داده چي د (لا نورث ما تركناه صدقة) صحيح معمول به كيدى.

رسول الله ﷺ چي كوم مال او جائيداد پرې ايښى وو د هغه د ټولو مسلمانانو په مينځ كي مشترك كېدل او د هغه په اجتماعي ګټو كي مصرف كېدل او د هغه سړي په واك او اختيار كي كېدل كوم چي د خلافت او امارت عهده تر لاسه كړې وي دا د ټولو صحابه كرامو تر دې چي د حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما په نزد هم يو اتفاقي مسئله وه.

مګر دلته يو سوال پيدا كيږي كه چيري هغه مال او جائيداد د حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما په توليت كي وركول يو صحيح عمل او غوره طريقه واى نو حضرت عمر رضي الله عنه په شروع كي دغه صورت ولي اختيار نه كړ او كه چيري هغه صحيح عمل او غوره طريقه نه وه نو بيا د هغه وروسته دغه مال او جائيداد د هغه خلكو په توليت كي يې ولي وركړ؟.

ددې جواب دادى چي په شروع كي د هغو دواړو غوښتنه دا وه چي هغه مال او جائيداد دي د هغوى په ملكيت كي وركړل سي ځكه حضرت عمر رضي الله عنه دا غوښتنه ونه منل او بيا وروسته چي كله يې دغه خلكو ته وركړل نو د هغه بنياد دا وو چي دا خلك يې د هغه مال او جائيداد مالكان ونه ګرځول بلكه يوازي هغوى يې متولي او منتظم وګرځول او دا شرط يې عائد كړى وو چي په هغه مصارفو كي مصرف كړل سي كوم چي به رسول الله ﷺ مصرفول، مګر خبره دلته نه روښانه

كيږي بلكه څرنګه چي خطابي رحمه الله ويلي دي چي په دغه مسئله كي د يو بلي خوا څخه ربط پيدا كيږي او هغه دا سوال دی چي كله حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما ته هغه مال او جائيداد په ذكر سوي شرط سره وركړل سو او هغه خلكو دا اعتراض هم كړی وو چي دغه مال او جائيداد د رسول الله ﷺ ورثه نه ده او جليل القدر مهاجر صحابه كرامو ددې خبري تصديق هم كړی وو نو بيا ددغه خلكو په مينځ كي دغه اختلاف ولي پيدا سو ؟

د دې جواب دادی چي په دغه توليت كي شركت پر دواړو باندي سخت سو نو هغوی دا خواست وكړ چي دغه مال او جائيداد دي وويشل سي او هر يو دې د خپل برخي متولي او منتظم جوړ كړل سي چي دواړه د يو بل سره د څه تعلق ساتلو ماسوا د خپل برخي څارنه او د هغه د مصرف انتظام په ازادۍ او يوازيوالي سره وكړي ، مګر حضرت عمر رضي الله عنه د هغوی دا درخواست ځكه قبول نه كړ چي داسي نه دغه تقسيم د ملكيت د صورت مشابه سي ځكه ويشل په املاك كي داسي كيږي، دوهم دا چي في الوقت خو نه مګر د زيات وخت تېرېدو څخه وروسته به په دې كي د ملكيت شک كېدل پيدا سي .

د حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنهما څخه زياته مسئله د بي بي فاطمې رضي الله عنها وه ځكه كه چيري د هغې د غوښتني په باره كي دا وويل سي چي هغه د رسول الله ﷺ ددغه حديث او د رسول الله ﷺ ددغه عمل څخه بې خبره وه نو دا خبره به د حقيقت څخه ليري وي او كه چيري دا وويل سي چي دا په هر حال ممكنه ده چي هغې د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نه وي اوريدلی نو بيا دا سوال پيدا كيږي چي كله حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه هغې ته د رسول الله ﷺ دغه ارشاد بيان كړ او نورو صحابه كرامو هم دهغه تصديق وكړ نو بيا هغې د دغه خبري قبلولو څخه انكار ولي وكړ او د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه سره يې د دومره ناخوښۍ صورت ولي اختيار كړ او كه چيري د ناخوښۍ صورت ددغه حديث اورېدو څخه مخكي پيدا سوي وي نو د اورېدو څخه وروسته هغې خپل ناخوښي ولي ختمه نه كړه چي د هغې د ژوند تر آخري وخت پوري يې د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه سره پر ترک كلام او ترک سلام قائمه وه .

كرماني رحمه الله د بخاري په تشريح كي ددې جواب دا ليكلی دی چي د بي بي فاطمې رضي الله عنها ناراضي په اصل كي يو داسي صورت وو چي په هغه كي د بشريت تقاضا پيدا سوې وه او د هجران څخه هجران محرم يعني د سلام او كلام ترک كول مراد نه دي بلكه په طبيعت كي د تعلق انقباض پيدا كېدل مراد دي .

د دې څخه ماسوا په ځينو روايتو کي نقل سوي دي چي کله د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او بي بي فاطمې رضي الله عنها په مينځ کي دغه صورت پيدا سو چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د بي بي فاطمې رضي الله عنها د غوښتني نه منلو په وجه بي بي فاطمه رضي الله عنها د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه ناراضه سول نو يوه ورځ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه بي بي فاطمې رضي الله عنها ته راغلی او د لمر د سختۍ سربېره د هغې په دروازه کي ولاړ وو او هغې ته يې عذر کوی او دا يې فرمايل چي قسم په خدای! د رسول الله ﷺ د قريبانو د حقوقو رعايت او ساتنه کول ما ته د خپل قريبانو څخه هم زيات محبوب او خوښ دي مګر زه څه وکړم ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي او نور صحابه کرام پر دې شاهدان دي نو بيا د بي بي فاطمې رضي الله عنها زړه صفا سو او د هغې ناراضګي پای ته ورسېده.

==============